فتاوی عثمانی

په قندهاری پښتو

تالیف:

حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مدظلہ

پښتو مترجم

استاد المولوی القاری عبد الاحد الحقانی

ناشر

مکتبة العلوم الدینیة

کانسی روډ کوټه

پنځه څلويښت کلنه خودنويس فتاوىٰ مجموعه

فتاوىٰ عثماني

په قندهارۍ پښتو

اول جلد

کِتابُ الايمان والعقائد، کِتابُ السنّة والبدعة، کتابُ العلم والتاريخ کتاب التفسير، کتاب الحديث کتاب الدّعوة والتبليغ، کتاب التصوّف، کتاب الذکر والدّعاء، کتاب حقوق المعاشرة، کتاب السير والمناقب کتاب الطهارات، کتاب الصّلوٰة، کتاب الجنائز،

تاليف

حضرت مولانامُفتی مُحمّد تقی عُثمانی صَاحب مدظلّه

ترتيب وتخريج
مولانا مُحمّد زبير حق نواز

پښتو مترجم
استاد المولوي القارى عبدالاحد الحقاني
03218000671

ناشر
مکتبة العلوم الدينية
کاسي روډ کويټه
03218113028

زير صدارت ونګراني
شيخ الحديث والتفسير والطريقت الحاج
حضرت مولانا عبدالقادر (حفظه الله)

ټول حقوق محفوظ دي

دکتاب نوم..................فتاوٰی عثماني

تالیف..................حضرت مولانا مُفتی مُحمدؐ تقی عُثمانی مدظله

ترتیب و تخریج..................مولانا محمّد زبیر حق نواز

تصحیح کونکی..................مولوي عنایت الله آخندزاده صاحب

پښتوترجمه تحقیق و تصحیح..................استاد المولوي القاري عبدالاحد الحقاني غفره له

کمپوزر..................استاد المولوي الحافظ نوراحمد الحقاني

په زړه پوري کمپوز او ډزاین اداره
اسلامي کمپیوټرز کوټه بلوچستان
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

ناشر

مکتبة العلوم الدينية

فهرست موضوعات فتاوٰی عثماني اول جلد / دصفحي نمبر

بسم الله الرحمٰن الرحيم

فهرست موضوعات فتاوٰی عثمانی اول جلد

کتاب الایمان والعقائد

د ایمان او عقائدو بیان

فصل فی المتفرقات

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فى كلمات الكفر وافعال الكفر ومايكون كفراً وَمَا لايكون كُفراً

(دكفريه او غيركفيه كلماتو او افعالو سره د متعلق مسائلو بيان)

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فى الفرق والاحزاب الاسلامية والباطلة والاشخاص المتعلقين بها

كتاب السنة والبدعة

د سنت او بدعت سره د متعلق مسائلو بيان

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

کتاب العلم والتاریخ والطب

فصل فی المتفرقات

د علم، تاریخ او د طب متعلق د متفرقه مسائلو بیان

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فی تعلیم القرآن وتعظیمه وتلاوته

(د قرآنکریم تعلیم، تعظم، تلاوت او آدابو سره متعلق مسائلو په بیان کی)

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

كتاب التفسير ومايتعلق بالقرآن

(د قرآن كريم ترجمي او تفسير سره د متعلق مسائلو بيان)

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

كتاب الحديث ومايتعلق به

(حديث او د هغه سره د متعلق مسائلو بيان)

فهرست موضوعات فتاوئ عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

كتاب مايتعلق بالدعوة والتبليغ

(د دعوة او تبليغ مسائل)

كتاب التصوف والكشف والالهام والرؤياء

(تصوف، كشف، الهام اوخوبونو متعلق د مسائلو بيان)

كتاب الذكر والدعاء والتعويذات

(ذكر، دعاء او د تعويذونو په بيان كى)

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

فصل فی احکام الماء

فصل فی احکام الجنب والمعذور

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

فصل فی الاستنجاء

فصل فی المسح علی الخفين

کتاب الصلوٰة

د لمانځه مسائل

فصل فی مواقيت الصلوٰة

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فی الاذان

فصل فی شروط الصلوٰة وارکانها وواجباتها وسننها و آدابها

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فی الامامة والجماعة

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — د صفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — د صفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فی السنن والنوافل

(د سنن او نوافلو لمونځونو په بیان کی)

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد — دصفحي نمبر

فصل فی التراویح

د تراویحو او شبینه سره متعلق مسائل ٤٨٥

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

د صفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاوىٰ عثماني اول جلد

د صفحي نمبر

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — د صفحي نمبر

فصل في العيدين

فهرست موضوعات فتاویٰ عثماني اول جلد — د صفحي نمبر

فصل فی مسائل الجديدة والمتفرقة المتعلقة بالصلوٰة

كتاب الجنائز

فهرست موضوعات فتاوی عثماني اول جلد

دصفحي نمبر

دفتاوی عثماني د اول جلد فهرست ختم سو

بسم الله الرحمن الرحيم

عرضِ مرتب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَکَفٰی وسَلاَمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِينَ اصطَفٰی

امابعد:

داستاد محترم حضرت مولانامفتی محمد تقي عثمانی صاحب دامت برکاتهم العاليه ذات گرامی د تعريف محتاج نه دی، الله تعالی چه دوی دعلم او فضل تقویٰ اوطهارت په کم رنګ مقام سره نازولي دی، په عصر حاضر کی د دی مثال نه پيدا کيږی، په جديد اوقديم علومو کی مهارت چی چيری دوی لره د اکابرو د پاره قابل صدرشکؒ شخصيت جوړ کړی دی هلته علم، تواضع او سادګی، حسين امتزاج دوی د عوامو د پاره د هرعزيز اوپُرکشش علمی او روحانی شخصيت جوړ کړی دی، دوی په تصوف او دعوت او ارشاد کې د حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمة الله عليه اوعارف بالله حضرت ډاکټر عبدالحئ عارفی رحمة الله عليه د علومو او معارفو ترجمان او په علم فقه. تفسير اوعلوم القرآن کې د خپل عظيم اوجليل القدر والد ماجد مفتي اعظم پا سرېتان حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه صاحب رحمة الله عليه جانشين اوپه علم حديث کې د محدث العصر علامه ظفر احمد عثماني رحمة الله عليه او د شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثماني رحمة الله عليه دعلمي رواياتو حامل او امين دی، د نورو علومو او فنونو په شان په فقه او د فتویٰ په ميدان کې هم الله تعالی د دوی ځخه ډيرلوی کار اخستی دی پدې سلسله کې تکمله فتح اعلم، فقهی مباحث، بُحوث قضايا فقهيه معاصر فقهی مقالات احکام الاوراق النقديه، عدالتي فيصلې، د محکې د ملکيت تجديد، وغيره، په فقهی ميدان کې د دوی نهايت اهم اوګران قدرعلی او تحقيق کتابونه دی، په جديدو مسائلو کې د دوی رايه په عالم اسلام کې انتهايي مستند ګڼل کيږی او په فقهی مجالسو او محاضراتو کې د دوی رايی صرف په پاک اوهند کی نه بلکی عرب دنيا کې هم خصوصي وزن محسوس کولی سی، د معاشياتو په هغه يوځو د شمير شخصياتو کې سرفهرست دی چې هغه په وجه نن الحمد الله په دنيا کې يوّ

د الله تعالی په فضل سره چه په هغه کې د اسلامی بینکنګ بلاك وجود کي راروان دی سره مسلسل ترقی اوپیشرفت کیږی، په فقهی میدان کې د دوی د خدماتو لویه حصه دزراوو په تعداد کې د دوی لیکل سوی فتویٰ ده چې دوی تیرو پنځه څلویښتو کالو کې لیکلی ده، مګر د حضرت والا د اعظیم الشان علمی، تحقیقی او فقهی خدمت څخه شائع کیدلو د وجی د نظرونو څخه پټ دی، او تراوسه پوری په منظر عام باندی. نه دی راغلی، اګر که دوی د خپل اعلی علمی صلاحیت په وجه د طالبی د زمانی څخه فتویٰ لیکل شروع کړی دی، چه په هغه کې په رمضان د نفل جماعت سره متعلق مفصل یوه تحقیقی فتویٰ هغه ده چه دوی صرف د شپاړلسو {۱۲} کالو په عمر کې لیکلی وه، هرکله چه دوی لا تراوسه د ضابطی موافق فارغ التحصیل سوی هم نه وو، بلکی موقف علیه کې سبق ویلو} مګر درجه تخصیص او د هغه څخه د فراغت څخه وروسته دوی د خپل والد ماجد په زیرنګرانی کې باقعده فتویٰ لیکل شروع کړل} او د هغه وخت څخه تراوسه پوری بحمده تعالی داسلسله چلیږی، د دی ټولې مودي تقریباً ټولې فتاوی د دار الا فتاء د دارالعلوم کراچی د نقل فتاوی په قدیم اوجدید رجسټرو کې محفوظ دی. مګر بالکل په ابتداء کې په دار الافتاء کې د فتاواوو د محفوظ ساتلو باقاعده او منظم انتظام نه وو، د دی وجې څخه د دارالافتاء د نورو او فتاوو په شان د حضرت دامت برکاتُهم د شروع فتوی هم محفوظ پاته نه سوه.

به هرحال د دی باوجود د حضرت په زرګونو خود نوشته فتاوی د نقل فتاوی په مختلفو رجسټرو کې خوری دی.

د بنده په زړه کې د حضرت د فتاوو د جمع کولو او ترتیب ورکولو خیال داسی پیداسو چې په یوڅو اهم عنواناتو باندی مشتمل داسی فتوی چه مفصل او مدلل دی او د هغه نشاندهی د دار الافتاء د نوی نظام مطابق د تبویب په رجسټرو کې سوی دی، یووار احقر دایو څو فتوی جمع کړی او د حضرت په خدمت کې پیش کړی، که دا شائع سی نو مناسب به وی، حضرت والا دافتوی وکتلی، او وی فرمایل که ټولی فتوی جمع سی نوبنه به وی، احقر هم په هغه وخت د حضرت په مخکی په زړه کې داعزم وکی چه انشاء الله بنده داخدمت ضرور کوی، نو د نن څخه څلور کاله مخکی می د الله نوم اخستلو سره داکار شروع کی. کله چه می د رجسټر څخه دافتوی جمع کول شروع کړل نو ډیر مشکلات پیښ سول مګر د دی سره سره خوندوره خبره دا وسوه چه د دی فتوی جمع کولو داعیه هم مضبوطی وه ابتدایی طور باندی خو مشکلات پیښ سول، څلویښت

کاله مخکی بعضی رجسټر دومره زاړه سوی وه چې د هغه یوه یوه صفحه اړول کتل او بیاد هغه څخه فوټو اخستل تقریباً ناممکن معلومیدل، جلدونو باندی وینه لګیدلی وه، په مینځ کې یی څوځو صفحات شلیدلی وی او بعضی بالکل غائبی وی، پاته کم مواد چه د زمانی دست برد څخه محفوظ پاته وو هغه ډیر زاړه سوی وه داسی خراب رجسټر به بنده پخپله د فوټوسټیټ والا خواته وړل او په ګینټو ګینټو په دکان کې ولاړ وه، اوپه ډیر احتیاط سره یوه یوه صفحه اړول او فوټو سټیټ به می که وی خودی خبری سره چه کومه حیرت انګیز خبره مخ ته راغله هغه دا چې همدغه خرابو او زړو رجسټرو کې د حضرت امت برکاتهم داسی مفصل فتویٰ موجود وه چه په خپله موضوع باندی جامع کیدو سره سره ډیری محقق اومدللی دی اوپه یوڅو داسی موضوعاتو باندی هم د حضرت تحقیقی فتوی مخ ته راغله چې په هغه باندی دارالافتاء دارالعلوم کراچی څو ملګرو فتویٰ لیکلو وخت کې ورته د تحقیق ضرورت پیښ سو او هغه ملګر په هفتو بلکی په میاشتو په دی سلسله کې پریشانه وه هرکله چه د حضرت امت برکاتهم په دی ذخیره کې په دی موضوعاتو باندی د مخکی څخه تیاری سوی محقق فتویٰ موجود وی خو د خطاء په پرده کې د کیدلو د وجی هغه څخه استفاده ممکن نه وه. کله چې دارنګه څو فتویٰ وخت په وخت راغلی نوپه زړه کې دا داعیه شدید تر سوه چه دا اهم فقهی ذخیره پوره طور په منظر عام راوتل پکار دی، لهٰذا حتیٰ المقدور زر د {سنه ۱۳۸۲} ھ څخه تراوسه پوره فتویٰ جمع کړی او صرف هم هغه فتویٰ موجمع کړی چې حضرت دامت برکاتهم خپله لیکل سوی دی ورنه هغه فتویٰ چې په هغه باندی د حضرت تصدیق دستخط دی هغه د دی مجموعی څخه څوچنده زیاتی دی.

د حضرت امت برکاتهم دفتوو اقسام

په اصل کې د حضرت امت برکاتهم فتویٰ په لاندی څلور قسمونو باندی تقسیم کیږی چه په هغه کې اولنی دری{۳} قسمه فتویٰ په دی مجموعه کې شامل سوی دی:

{۱} یو هغه فتویٰ چه د دارالعلوم کراچی د دارالا فتا څخه باقعده جاری سوی وی او د دارالافتاء په نقل فتوی رجسټر کې د هغه فتوو اندراج دی.

{۲} د سنه ۱۳۸۷ھ په زمانه کې البلاغ کې د حضرت دامت برکاتهم یوه خوندوره علی سلسله ستاسو سوال په عنوان سره چلېدلی وه چې په هغه کې به ډیرو خلګو البلاغ په معرفت دوی ته به یی سوالات رالیږل او حضرت به په «البلاغ» کې د هغه جوابونه

فتاوی عثمانیه اول جلد په هغه کې بعضي ډیر مفصل او محقق جوابونه هم دی، د « البلاغ » هغه ټولی ورکول، په هغه کې بعضي ډیر مفصل او محقق جوابونه هم دی، د « البلاغ » هغه ټولی
ورکول، په هغه کې بعضي ... دار الافتاء په رجسټر
فتوی په دی مجموعه کې شامل سوی دی او چونکه د دي فتوو، دار الافتاء په رجسټر
کې باقاعده اندارج نه وو سوی ځکه چې د دی فتوو څه نمبرو موجود نه وو چه لیکل
سوی وی بیا هم په حاشیه کې د داسې فتوو نشاندهی سوی ده.

{۳} په حُسن اتفاق سره د دی فتوو د جمع او ترتیب په دوران کې حضرت امت برکاتهم
ته یوه ورځ د خپل کور څخه د درجی تخصیص په زمانه کې د « تمرین افتاء » کاپی
ورکول سوه چې حضرت هغه احقرته ورکړله په دی کاپی کې د حضرت تحریر فرموده
ټولی فتوی د دوی د والد ماجد حضرت مولاناتقی محمّد شفیع صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ څخه
تصحیح او تصدیق سوی دی په دی کې بعضي مفصل اومدلل فتوی هم دی، مثلاً په
دی مخکی جلدکې د اشیاوو د تطیر د طریقو تعداد او تفصیل په عنوان کومه فتوی ده
هغه هم دی کاپی څخه اخستل سوی ده دغه شان په دوهم جلد کې « حج ضروره » سره
متعلق یوه تفصیلې فتوی راتلونکې ده د دی کاپی ټولی فتوی هم په دی مجموعه کې
شاملی دی.

{۴} حضرت دخپلو ګنو متعلقینو د هغوی د خطونو جوابونه هم د حسابو فقهی
سوالونو ځوابونه ورکړی دی خو د حضرت د ذاتی نوعیت د خطونو اندراج په دار الا
فتا کې نه کیږی لهذا داسي فتوی په دی مجموعه کې شامله نسوه مذکوره څلورو
قسمونو کې ظاهره ده چه حساب تعداد د اولنی قسم فتوو دی چې د دارالافتاء څخه
جاری کړی دی داټولی په دی مجموعه کې د شاملولو څخه وروسته هم دا حساب به
صحیح نه وی چې دا د حضرت ټولی فتوی دی، ځکه چې د رجسټرو څخه دافتوی جمع
کولو په دوران یوه افسوز ناکه خبره دامخ ته راغله چې سنه ۱۳۸۴ھ او سنه ۱۳۸۵ھ
زمانه چه د حضرت دفتوو د عروج دور دوره اوپه هغه وخت کې دارالا فتاء دار العلوم
کې د فتوو د نقل انتظام هم موجود وو، مګر د دی با وجود بعضي ناقلینو د فتوو په
ځوغات رجسټرو کې د فتوی نقل کولو په وخت د فتوی په آخره کې د مجیب نوم د سره
څخه لیکلی نه دی، عجیبه خبره خو داده چه د هر سوال څخه وروسته سائل اومستفتی
نوم یی بالا التزام لیکلی دی مګر د فتوی په آخره کې د مجیب نوم په دی رجسټرو کې
خوطویل اومفصل محقق فتوی موجو دی خو د مجیب تعین او تمیز نه کیدلو وجی
اوس دانسی معلومیدلی چې په دی کې کومه فتوی د کم شخصیت ده؟ د دی فتوو د
مجیب د تعین او تمیز هیڅ لاره هم نسته، حضرت دامت برکاتهم د پاره د خپل بې پناه

علمي خدماتو د مصروفیت په بناه باندی د دی رجسټرو یوه یوه صفحه کتل تقریباً
ناممکن ده او د فتوو نقل کونکو متخصصینو مقالی هم وکتل سوی دی حضراتو هم
دمجیب د تعین څخه بغیر په دی باندی کار کړی دی. لهذا مجبوراً په داسی رجسټرو
کې ډیری نامعلومی فتوی هم په دی مجموعه کې شاملی نه اوس چې کله د دارالعلوم د
دارلافتاء ټولی فتوی شائع سی، نوشاید چې په هغه کې دافتوی هم شائع سی او مخته
ته راسه، لهذا بعضي فتوی په شروع کې د نقل انتظام نه کیدلو په وجه او بعضي
دمذکوره صورتحال په وجه په دی مجموعه کې شامل نه کړی، ځکه په داحساب صحیح
نه وی چې دا د حضرت دامت برکاتهم ټولی فتوی دی.

دکار طریقه: په اوله مرحله کې د حضرت د دستیاب ټولی فتوی جمع سوی په
دوهمه مرحله کې داټولی فتوی د هغه د موضوعاتو په اعتبار سره بیلی بیلی د فقهی
بابونو په ترتیب موافق کنبیښنول سوی او په دی کې چه کومه فتوی کې صرف یو سوال
او ځواب دی هغه خو متعلقه موضوع او باب کې ایښنول آسان وو خوډیرشی فتوی
داسی دی چې په هغه کې مستفتی ځان ته ځان ته موضوعاتو باندی مختلف سوالونه
کړی دی او په هغه کې د هر سوال ځواب باب او موضع جلاده چونکه په یوکاغذ باندی
د کیدو د وجی دا جلا جلا ایښنول ممکن نه وو، لهذا داسی ډیری فتوی په لاس سره
جلا ولیکل سوی او د جمع او ترتیب څخه وروسته په دریمه مرحله کې د دی خبری
ضرورت محسوس سو چې په دی فتوو کې د موجودو حوالو تخریج وسی ځکه چې د
سنه ۱۳۸۷ھ وغیره په زمانه کې د فتاوی شامیه څه استنبولی نسخه رائج وه او نن
سبا. ایچ. ایم سعید. نسخه متداول ده. لهذا د همدی نسخی مطابق د شامی د عبارتونو
تخریج وسو نو په هغه ځایونو کې ایچ ایم سعید پوره لفظ اوچیری صرف «سعید»
لفظ لیکل سوی دی چې د هغه څخه هم د امراد دی، دغه شان د تفسیر حدیث او د فقه
دتنورو کتابونو هم دا مامله ده، لهذا د هغه کتابونو د دی نسخو مطابق تخریج سوی
دی، چې که می نسخی زموږ په علاقه کې رائج او متداول دی، چنانچه د هر عبارت په
شروع یا په آخر کې د کتاب د نوم سره سره د مطبع وغیره هم نښانه سوی ده ورسره د
علمی فائدی پیش نظر د دی په تائید کې مزید حوالجات هم لګول سوی دی کم ځای
کې عبارتونه اوکم ځای کې صرف د نورو فقهی کتابونه د صفحی نمبر وغیره نښانه
سوی دی.

په ځلورمه مرحله کې داکار سوی دی چې چیرې په فتویٰ کې کومه حواله موجوده نه وه، هلته په حاشیه کې د هغه فتویٰ حوالی ولیکل سوی او د تخریج او تعلیق او اضافه حوالجاتو داټول کار د متعلقه فتویٰ لاندی حاشیی کې وسو، او ترتیب مو دا ایښی دی چه د ټولو څخه اول سوال، بیا ځواب او ځواب کې چې چیرې ضرورت وو هلته حاشیه نمبر ورکولی سو، بیا د دی فتویٰ لاندی کرښه کو سره حاشیه کې حوالی او عبارتونه درج کړی دی، او د هری فتویٰ په آخر کې تاریخ هم درج سوی دی اوپه کومه فتویٰ باندی چې په اکابرو کې د چا دستخط وو هلته د هغه حضراتو نوم هم درج سوی دی، او د مصدق دستخط هم چې عموماً په هغه تاریخ یا د هغه څخه یوه نیمه ورځ وروسته وی، لهذا د مصدق د نوم د لاندی د تاریخ لیکلو ضرورت نه وو، د دی وجي څخه صرف د حضرت دامت برکاتهم د نوم د لاندی تاریخ درج وسو، بیاهم داټولی فتویٰ د پخوانیو رجسټرونه فوټو سټیټ سوی دی او د فوټو سټیټ په وخت اصل توجه په فتویٰ ده او تاریخ په بعضي اوقات د صفحی یوطرفته رسته او یاچپه حصه کې به درج وو، د دی وجی څخه د بعضو فتویٰ په فوټو سټیټ کې تاریخ پاته سو، لهذا په داسې فتوو کې په اندازی سره تاریخ لیکل سوی دی لیکن د داسی فتوو تعداد ډیرکم دی د هری فتویٰ په آخر کې د تاریخ څخه لاندی لیکل سوی دی، لیکن د داسې فتوو تعداد ډیرکم دی د هری فتویٰ په آخر کې د تاریخ څخه لاندی «د فتویٰ نمبر» هم لیکل سوی دی د دی فتویٰ د نمبر څخه د دار الافتاء دار العلوم کراچی د نقل فتوو رجسټرو نبر مراد دی او د دی نمبر د لیکل غرض دادی، که کله د دارِ الفتاء ملګری اصل طرف ته مراجعت کول غواړی نو د ضرورت په وخت دا مراجعت ممکن وی بیاهم د بعضو فتوو په فوټو سټیټ کې « فتویٰ نمبر » نه راتلی په وجه د داسې فتوو په آخر کې د فتویٰ نه دی ورکول سوی خو د داسې فتوو تعداد ډیر کم دی.

خصوصیات: چونکه حضرت د خپل مزاج اومذاق په بناء باندی حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی، علامه شبیر احمد عثمانی، مولانا ظفر احمد عثمانی حضرت مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه د علمی روایاتو امین دی، لهذا د دی حضراتو په شان د حضرت د فتویٰ هم د ټولو څخه لوی خصوصیت دادی حضراتو په شان د حضرت او اعتدال وصف ښکاره دی.

په دی مجموعه کی په جدیدو مسائلو باندی هم څو فتویٰ سته په مخکې جلد کې

نسبتاً کمی دی، په وروستنی جلدونو کې «خاصتاً فقه المعاملات» چې په هغه باندی حضرت ته خصوصی دسترس حاصل دی په دی سره متعلق څو جدید فتویٰ دی.

هسی خو د عوامو وخواصو په نز د حضرت رائه ډیره محققه او مدلله حساب کیږی او د یوی فتویٰ د مستند کیدلو د پاره د حضرت تصدیق کافی حساب کیږی خو د دی فتاوٰو یوزائد خصوصیت دادی چې په دی کې په ډیرو فتاوٰو باندی د مفتی اعظم پا سړیتان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه حضرت مولانا عاشق الهی صاحب رحمة الله علیه حضرت مولانا مفتی سبحان محمود صاحب رحمة الله علیه حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب دامت برکاتهم العالیه تصدیق دستخط موجود دی، چې په دی سره د دی فتوو په درجه استناد کې مزید تقویت پیداکیږی.

په فتویٰ کې د حضرت دامت برکاتهم العالیه لیکل سوی حوالجات او د دی سره سره چې حواشی کې ذکر سوی عبارتونه او د حوالو په وجه د عوامو څخه علاوه اهل علم او خصوصاً د اهل فتویٰ د پاره هم د دی ذخیری څخه ښه علمی او محققی استفاده اسانه سوه.

داحق د سوچ او اندازی مطابق داکار ډیر مخکی په منظر عام باندی راتلل پکار وو. د دی د ترتیب تخریج او اضافه حوالجاتو کار به هم ډیر مخکې سوی وو، خو په کمپوزنګ کې دغلطیانو کثرت او دبار بار تصحیح وغیره په بناء باندی داکار موخر کیدو بالآخره ډیره موده خپله د کمپوزر سره کښنی نستم تصحیح مې تقریباً دوه کاله په تأخیر سره په منظر عام باندی راځی.

د دی با وجود په دی کې چیرې د نفس مضمون چیرې د حوالی او عبارت او چیرې د کمپوزنګ د غلطیانو امکان موجود دی دغه شان د ټولو غلطیانو ذمه واری په احقر باندی ده، د حضرت امت برکاتهم ذات د دی څخه بری دی ویونکی ته درخواست دی چې په داسې غلطیانو احقر خبر کی چې راروانو اډیشنونو کې د دی تصحیح وکړی.

دعاء ده چې الله تعالی حضرت دامت برکاتهم ته د هغو په مقاصد حسنه کې کامیابی وکړی او هغو ته عافیت سره اوږد عمر ورکړی، د هغو سایې دی تر ډیره وخته پوره په موږ باندی قائم وی. آمین.

آخره کې احقر وادینو او استادانو د پاره د دعاء ګانو درخواست دی چې الله تعالی دی موږ ته د دارینو عافیت راته وکی، او الله تعالی دی داکتاب په خپل دربار کې د شرف قبولیت سره او نوازی او زموږ د پاره دا د آخـرت ذخیره جوړه کړی آمـین. انه علی مایشآءُ قدیر وبالاجابة جدیر.

۲۷۱۱۰۱۱۴۲۵

احقر محمد زبیر حقنواز

استاد ورفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچی

سمون او تصحیح او تعلیق

المولوي القاري عبدالاحد الاحقاني غفرالله

اسلامي ګرافکس کویټه بلوچستان

۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

«سریزه»

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ اَمَّا بَعْدُ:

کله چې مې سترګې وغوړیدی والد ماجد حضرت مولانا مفتی شفیع صاحب قدس سره د فیض څخه مې په کور کې د فتوی او استفتاءِ چیری چې ولیدله او د همدی نتیجه وه چې ډیری فقهی مسائل د کور د دی تذکرو په بناء یاد سول لیکن چاته مسئله ښولو یالیکلو سره ورکولو څخه مې همیشه زړه بیریدو او په مدرسه کې د ویلو په زمانه کې چېرې داخیال هم راته نه وو راغلی چې په کم وخت به د لیکلو ذمه واری په سرباندی راتلونکی ده «۱۳۷۷ھ کې کله چې ماپه دارالعلوم کراچی کې هدایه اولین وغیره ویله او زماعمر په «قمری حساب سره» پنځه لس ۱۵ کاله وو، د شعبان او رمضان د تعطیلاتو په زمانه کې استاد مکرم حضرت مولانا مفتی ولی حسن صاحب رحمة الله علیه به روزانه زموږ کورته تشریف راوړلو او د فتوو کار به یې کوی، زه به د هغه سره ډیر زیات کښې نستم او د هغو لیکلی‌سوی فتوی به مې ویلی، یوه ورځ حضرت یوه استفتاء ماته راکړله چې ووایه! د دی سوال ځواب به څه وی؟ مسئله د طلاق وه او سیده ساده وه ما صحیح ځواب ورکی حضرت وفرمایل چې بس همدا ځواب اوس په دی استفتاء ولیکه، کله چې د نوم لیکلو وخت رالی نو زما زړه وبیریدلو لیکن حضرت استاد همت راکی، ما ځواب او دستخط ځای مې پریښوولو حضرت د دی تحریمی ځواب تصویب وکی او پخپله یې دستخط وکی.

د دی څخه وروسته «سنه ۱۳۷۹ھ مطابق سنه ۱۹۵۸ء» کې د حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب قدس سرہ سره مې مشکاة شریف ویل شروع کړل نو حضرت ترغیب راکی چې زه او زما مکرم ورور حضرت مولانا محمد رفیع صاحب مدظلهم د کتابونو څخه د مسائلو ځوابونه را وکښل مشق اوعمرونو په همدغه زمانه کې به حضرت چی څه سوالونه راکول او د فقهی د کتابونو څخه د دی ځوابونه د راکښلو حکم به یې کوی. موږ د کتابونو څخه ځوابونه تلاش کولو سره اکثره زبانی او کله تحریری طور باندی به مو د حضرت په حضور کې پیش کول او هغه به د هغه تصویب یا اصلاح کوله، په همدی کال د شعبان او رمضان کی د تهجد او د جماعت په جواز او عدم جواز متعلق

یوه استفتاء راغلی وه، او حضرت والد صاحب په تفصیل سره جواب لیکلی غوښتی هغو ماته حکم وکړی چی د دی مسئلی په باره کی د فقهی کتابونوته مراجعت وکم او متعلقه عبارتونه جمع کم ماداعبارتونه جمع کړل او حضرت ته می عرض وکی، که اجازت وی نو د دی عبارتونو په رڼاکی چی کومه کومه مسئله په پوهه کی راځی هغه د تعویز په طور ولیکم بیابه تاسی د هغه اصلاح وکی، حضرت اجازت راکی او ما د خپل بساط مطابق ځواب ولیکی او د حضرت په خدمت کی می پیش کی چی په هغه باندی حضرت د معمولی ترمیم او اصلاح څخه وروسته تصدیق وکی او دامخکی باقاعده فتوی وه، چی بنده ولیکله او وروسته بیا شائع هم سوه.

د دوره حدیث په کال هم حضرت مفتی رشید احمد صاحب قدس سره خواته د مسائلو د استخراج مشق جاری وو ترڅو چی د دوره حدیث څخه وروسته باقاعده تخصیص فی الافتاء کی د حضرت والد صاحب وروسته خواته د فتوی نویسی مشق شروع کو په هغه وخت راته دا اِندازه هم وسوه، چی د فتوی کار صرف جزئیات یادول یا دکتابونو د مراجعت نوم نه دی، بلکی په دی کی نور اصول هم د نظر لاندی ساتل وی او په دی کی ډیری خبری داسی دی چی هغه د قواعدو څخه علاوه د مفتی پخپله ملکه فقیه او د هغه د مزاج او مذاق سره تعلق ساتی چی صرف د کتابونو ویلو سره نه حاصلیږی بلکی د دی د پاره د کم ماهر مفتی د طویل صحبت هم ضرورت دی.

د تخصص څخه وروسته په دار العلوم کی تدریسی خدماتوسره تقریباً روزانه څه وخت په دارالافتاء کی د فتوی نویسی د پاره مخصوص وو دغه شان د الله تعالی په فضل سره د حضرت والد صاحب په نګرانی اوسرپستی کی سنه ۱۳۹۲ھ پوری د فتوی د خدمت داسلسله دغه شان جاری وه چی د دارالافتاء مستقله ذمه داری خو نورو مفتیانوته حواله وه لیکن څه وخت به می خپل هم لګیدو او کله چی به ډاک زیات جمع سو، او یابه د فتوی د لیکلو والاو کم وه، نو حضرت والد صاحب قدس سره به بنده د څه وخت د پاره د تدریس څخه علاوه څه کارونه به ئی راباندی پریښنول او د فتوی په خدمت کی به ئی ولګولم، د حضرت والد صاحب قدس سره د وفات څخه وروسته حضرت مولانامحمد عاشق الهی صاحب مدینی منوری ته هجرت وکی او ورور مکرم حضرت مولانا مفتی محمد رفیع صاحب عثمانی مدظلهم باندی د دارالعلوم د انتظام امورو ذمه داریانی رالی او د دارالافتاء بعضی نور ملګری هم د خپلو مجبوریانو د وجی مستعفی سول په دی اوږده موده کی د دارالافتاء او درجه تخصیص د نګرانی کار

بنده ته حواله سو او خپله فتوی لیکلو څخه علاوه درجه تخصیص د طالبانو لیکل سوو فتوو باندی د نظر ثانی او اصلاح سلسله هم جاری وه.

دغه شان په مختلفو زمانو کی د بنده لیکل سوی فتوی د دارلعلوم نقل فتاوی په ډیرو رجسترو کی خپری دی زما کله هم دا خیال نه وو چی زه دی فتوی څه مجموعه مرتب کولوسره شائع کم، خیال می دا وو چی د دار العلوم کراچی څخه جاری کیدونکی د فتاوی مجموعه چی د ترتیب لاندی ده هم په هغه کی به دافتاوی هم راسی لیکن عزیز ګرامی مولانا زبیر حق نواز صاحب د دارالعلوم کراچی فاضل او متخصص او اوس ماشاء الله استاد او د دارالافتاء رفیق دی د خپل طرف څخه زما لیکل سوی فتوی د مختلیفو رجسترونه جمع کول شروع کړل او د دی کار یو معتد به حصّه مکمل کولو څخه وروسته یی بنده خبرکی، مادا د الله تعالی له طرفه ګڼلوسره هغه ته د کار د تکمیل کولو اجازت ورکی.

ماشاء الله مولانا زبیر صاحب پخپله یوذی استعداد عالم دی او هغوی په ډیر محنت سره د دارالعلوم کراچی د زړو رجسترونه چی په هغه کی بعضی ډیری زړی سوی وی فتوی را وکښلی او نه یی صرف د دی انتخاب کولو سره هغه په بابونو کی مرتب کړی ده بلکی د هغه د حوالو د تخریج کار یی هم په ډیره خواری اوسلیقی سره وکی چی په هغه سره د دی مجموعی احادیث ډیر زیات سو، د زړه می دعاء ده چی الله تعالی دی د عزیز موصوف د دی محنت ته پخپل دربار کی شرف قبولیت عطاء کړی او د هغوی په عمر او عمل کی دی برکت عطاً کړی او دوی ته دی د مزید علمی او دینی خدماتو د پاره موافق وفرمایی. امین.

ماته د خپلو موجوده مصروفیاتو او اسفارو کثرت په وجه ډیر دقت سره په دی فتوو باندی د نظر ثانی موقع پیدا نه سوه لیکن د دی اکثرت حصه ما په سرسری نظر سره کتلی ده، او د الله تعالی د رحمت څخه امید لرم چی انشاء الله د دی اشاعت به د فائدی څخه خالی نه وی، د خپلو مشائخو د هدایت مطابق د فتوی لیکلو په وخت د دی ذمه داری د پاکی اوسنګینی احساس راته دی او د خپل بساط مطابق می د احتیاط کوشش هم وی لیکن دا ذمه داری هم داسی ده، چی هروخت راته بیره وی چی څه غلطی د ګرفت قابل ونسی د الله تعالی څخه دعاده که د دی ذمه داری په پوره کولو کی څه غلطی را څخه سوی وی نو په خپل فضل او کرم سره دی راته معافی وکی او دی

خدمت ته دی پخپل بارگاه کې شرف قبولیت عطاء کی او دا دی د ویلو د پاره نافع وگرځوی. آمین.

د اهل علمو څخه هم درخواست دی چی کومه غلطی مخ ته راسی نوبنده دی پری خبردار کړی، انشاء الله د حق واضح کیدو څخه وروسته د هغه په قبلولو کی به تامل نه وی البته د فقه نصوص په تعبیر او تشریح کی اختلاف رایی جلا شان دی چی په هر دور کی وی، په داسی مواقعو باندی د الله تعالی په فضل سره خپل ذهن لره د قوت دلیل قبلولو دپاره هروخت تیار پیداکوم. او دا دعاء کم چی: اَللّٰهُمَّ اَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَّارْزُقْنَا اتِّبَاعَهٗ وَاَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلاً وَّارْزُقْنَا اِجْتِنَابَهٗ، اٰمین.

بنده محمد تقی عثمانی عفٰی عنه

جامعه دارالعلوم کراچی

سمون او تصحیح و تعلیق

استاد المولوي القاری عبدالاحد الحقانی غفرالله

اسلامي کمپیوترز گرافکس

۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

كتاب الايمان و العقائد

د ایمان او عقائدو بیان

كتاب الايمان و العقائد

د ایمان اوعقائدو بیان

فصل فی المتفرقات

«دایمان اوعقائدو سره د متعلق مسائلو بیان»

د حضور ﷺ د څپلې مبارکې نقش مچول د هغې پشان څپلې اچول او د هغه د احترام حکم:

سوال: محترم اومکرم جناب مفتي صاحب دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته امابعد:

{۱} کم شان چې د سرور کاینات ﷺ د جسد اطهر سره متصل سو د هغه د برکاتو انکار به څوك جاهل یاملحد کوی، خوکه د هغه شان مثل په لاس سره تیار کولی سی نو آیا په هغه کې هم هغه برکت راځی؟ په نورو الفاظو سره د متبرك شان تصویر به هم متبرك وی؟

{۲} نن صبا د سرور کاینات د څپلو مبارکه نقشه ډیره عامه سوې ده خلگ دامچوی او د برکت د پاره یې په سربانډی ایږدی د دی څه حیثیت دی د دی نقشې دا حیثیت خو مسلم دی چې په دی سره د حضور ﷺ د نعل مبارك صورت معلوم سو. په روایاتو کې په مذکوره نعل «نقش قدم» باندی پوهیدل آسان سول.

{۳} ایا د هغی نقشې مطابق نعل جوړول او استعمالول ئی جائز دی اوکه نه؟ هرکله چې د سرور کائنات ﷺ هره اداء زموږ د پاره نمونه ده د حضور د لنګوټی په شان لنګوټه د قمیص په شان قمیص جوړول او اغوستل ټول د سعادت باعث دی او د محبت تقاضاده، آیا د حضور ﷺ د څپلی په شان څپلی په پښو کول هم د محبت تقاضاده اوکه نه؟

{۴} داهم د معلوملو قابل خبره ده چه دانقشه هغه وخت عام مروجه وه! یا د خصوص ﷺ سره خاص وه؟ د حضور ﷺ نعل مبارك د اصحاب کرامو رضوان الله علیهم [illegible]ین په زمانه کې موجود وه؟ د نورو مستعمل کپړو او لوښو په شان په انبار کې

کنبي ښوول د کومو حضراتو سره چې داموجود نه وه د کم یو دروایت څخه ثابت ده چی هغه خلګو به په کاغذ باندی د دی صورت جوړولو اوبرکت به یی تری حاصلوی؟ که ثابت نه دی نو دا د ثواب باعث ګڼل په سفر کی یی ځان سره اینبول د برکت د پاره په دکانونو او کورونو باندی لګول به بدعت نه وی؟

{۵} د روضه اقدس صحیح تصویر یعنی فوټو د بیت الله صحیح تصویر هم د برکت باعث دی اوکه نه؟ اوس خلګ په هغه کپړو او غالیوکی باندی لمونځ کول بی ادبی ده په کومو چی د روضه اقدس تصویر وی د دی څه حیثیت دی؟

{۶} اوس د خاتم نقش هم شائع سو، خلګو د دی تصویر د انوارو او برکاتو باعث ګڼلی دی د دی څه شرعی حیثیت دی؟ ماته خطره ده چی د غالی خلګو له اړخه ډیر ژر د حضور ﷺ دا اوښی، بغل او حمار مثل شائع کیدو سره د هغه احترام هم شروع نسی زما غیر مرتب الفاظ د خپل مرتب الفاظو څخه منتقل کولو سره سوال او ځواب خپله ماهنامه «البلاغ» کی شائع کړی نو زما په شان د ډیرو متحیرو خلګو راهنمائی به وسی والسلام. عبدالحمید غفرله، باب العلوم کهروړ پکا.

بخدمت اقدس مولانا عبدالمجید صاحب مدظلهم العالی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! امید دی چی مزاج ګرامی به په خیرسره وی ستاسو مفصل استفتاء د نعل مبارك د نقشی په باره کی ډیره موده مخکی پیداسوی وه هغه تر ډیر وخته د غور لاندی وه، په اخر کی د مشوری د پاره حضرت مولانا محمد تقی عثمانی مدظلهم العالی په خدمت ګران کی پیش کړه زموږ خوش قسمتی وه چی حضرت پخپله د ځواب لیکلو د پاره تیار سو نو دا ځواب د حضرت مولانا محمد تقی عثمانی مدظلهم العالی لیکل سوی دی والسلام.

{بنده عبدالرؤوف سکهروی. ۱۴۱۶\۷\۲۰}

مخدوم ګرامی قدر حضرت مولانا عبد المجید صاحب مدظلهم العالی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسی ګران نامه د مولانا مفتی عبدالروف په نامه راغلی ده. هغوی احقرته د مشوری د پاره را ولیږله احقرته چی څه په پوهه کی راغلل وی لیکل او ستاسی خدمت ته یی د دی د پاره را استوم که څه غلطی وی نو تاسی پری ما خبر دار کړی. والسلام. احقر محمد تقی عثمانی. «۱۴۱۶\۶\۲۰هـ»

ځواب: ۲,۱ شاید چی ستاسی په علم کی به وی چی حکیم الامت مولانا اشرف علی

تهانوی صاحب رحمة الله علیه په خپله رساله زاد السعید، کی د حضور اقدس ﷺ د نعل مبارك
نقشه شائع کړی دی او دابی په سرباندی اینبولو سره د دعاء کولو هم فی جمله ترغیب ورکړی
وو او په دی سلسله کی یی یوه رساله هم لیکلی وه، وروسته بیا حضرت مولانامفتی کفایت الله
صاحب رحمة الله علیه په دی موضوع باندی د حضرت سره خط او کتابت وکی چی کفایت المفتی د
جلد ۲ ص ۲۱ څخه ترص ۲۹ (۱) پوره او امداد الفتاوی جلد ۴ ص ۳۲۸ څخه تر (۲) ص
۳۳۴ پوره} کی مکمل شائع سوی دی، د دی خط او کتابت د مطالعی سره د مسئلی شرعی حد
تر ډیره حده پوری حل کیږی او د هغه خلاصه داده: چی ترڅو د حضور ﷺ د هغه اثار متبرکه
تعلق دی چی د حضور ﷺ د استعمال لاندی پاته سوی دی یا د حضور ﷺ د جسم اطهر سره
لګیدلی وی د هغه سره تبرك یا هغه مچول یائی په سرباندی اینبوول دا دګنو صحابه کرامو او د
متقدمینو علماء وو څخه ثابت دی، لکه چی تاسی پخپله ذکر کړی دی هغه محل د اشکال نه دی
البته که د حضور ﷺ د دی متبرکه اثارو تصویر څوك جوړ کړی یا د هغه څه نقشه څوك جوړه
کړی نو هغه خوبه اگر چه د اصل اثارو مساوی نه وی لیکن د اصل سره مشابهت او مشاکلت د
وجی یی مچ هم کړی یایی د سترګو سره لګوی، نو فی نفسه د دی په ممانعت کی د څه دلیل
نسته لهذا فی نفسیه به داسی کول مباح وی، بلکی د کم محبت د داعیی د وجی چی داسی کیږی
هغه محبت به انشاء الله دا جرمو جیږ هم وی په دی شرط چی د اخاص عمل بذاته عبادت
او نه ګڼیږ څکه چی د عبادت د پاره شرعی ثبوت پکار وی، البته د جواز د پاره د مستقل
دلیل ضرورت نسته څکه چی د دی د پاره د ممانعت دلیل نه کیدل هم کافی دی، او په دی
تفصیل کی صورتونه شامل دی برابره خبره ده که نقش د اصل سره یا بالکلیه مطابق وی،
یابلکلیه مطابق نه وی څکه چی د مشابهت د وجی فی الجمله نسبت دواړوته حاصل دی، داخو
د مسئلی اصل حقیقت وو، لیکن چونکه دا نازك حدودو باندی پوهیدل او د دی نزاکت
ملحوظ ساتل عوامو د پاره مشکل معلومیږی او د دی خبری خطره ده چی په دی کی د
حدود څخه تجاوز ونسی مثلاً چه دا اعمال بذاته عبادت وګڼل سی یاد ادب او تعظیم د
حدودو څخه تجاوز سره مشرکانو افعال یا اعتقادات ورسره شامل نسی، د دی وجی

(۱) کفایة المفتی ج ۲ ص ۹۱ {طبع جدید دارالا شاعت}
امداد الفتاوی ج ۴ ص ۳۷۴، ص ۵۳۳ ترص ۵۳۶ {طبع مکتبه دار العلوم کراچی}

څخه مناسب داده چی د دی نقشونو حضرت حکیم الامة قدس الله سره د خپلی رسالی
څخه نیل الشفاء بنعل المصطفی ﷺ} وروسته رجوع وکړل، خلاصه داده چی د تشهیر
همت افزائی کول پکارنه دی} لیکن که څوك په حدودو کی دننه دننه دا افعال کوی
نوپه هغه باندی نکیرهم درست نه دی.

{۳} د حضور ﷺ د نعل شریف په شان نعل جوړول او د پښنو کولو د جواز یا عدم
جواز په باره کی د فقهاء کرامو هیڅ تصریح خومی نه ده کتلی البته داخبره په ذهن کی
راځی چی دامعامله د ذوق ده او مذاق مختلف کیدی سی، یو مذاق دادی چی کم شان
ته د حضور ﷺ په اثار متبرکه کی د یوشی سره مشابهت حاصل وی نو هغه خو په سر
او سترګو باندی اینبوول سوی دی نه دا چی هغه په پښنو کی استعمال سی لهذا که
څوك سړی د دی مذاق د لاندی د اچولو څخه احتراز کوی خو دا د هغه مذاق تعظیم او
محبت تقاضاء ده چی هغه باندی هغه د ملامتی قائل نه دی لکه چی د حضرت
ګنګوهی رحمة الله علیه په باره کی منقول دی چی شین رنګ څپلی به یی څکه نه اچولی چی
د ګمبتی خضراء رنګ هم شین دی، او دوهم مذاق دادی چی انسان پخپل هر عمل او
اداء کی حتی الامکان د حضور اقدس ﷺ د اداء ګانو نقل کول کوشش وکی او د
حضور ﷺ د لباس په شان لباس اغوندی او د دی نقطه نظر سره د حضور ﷺ د نعل
مبارك په شان نعل جوړ کړی او په پښنویی کړی او مقصود اتباع وی نو په ظاهره په دی
باندی هم د ممانعت څه دلیل بلکی داهم د محبت تقاضا ده، چونکه د دی مقصود اتباع
ده څکه په ظاهره په دی کی د اهانت څه اړخ نسته اصحابو او تابعینو څخه دا چیری هم
منقول نه دی چی هغه د حضور ﷺ د څپلیو په شان څپلیو د پښنو کولو څخه د احتراز
اهتمام کړی وو بالخصوص چی په هغه درو کی د څپلیو په اوضاعو کی دومره تنوع هم
نه وه. لهذا څنګه چی عرض سوی دی دا د ذوق خبره ده او هیڅ ذوق د ملامت قابل نه
دی.

{۴} داخبره د لټولو باوجود پیدانه سو چی ایا دا نقشه عام مروج وه یا د حضور ﷺ
سره خاص وه؟

۲.۵: د روضه اقدس یا د بیت الله د صحیح تصویر حکم هم نزدی هم داسی دی چی دی
نه د اصل سره د تشابه یونسبت قویه حاصل دی او همدارنګه په دی لیدلو سره
استحضار قوی کیږی لهذا د دی احترام کول پکار دی یعنی داکم د اهانت ځای کی
استعمالول درست نه دی. ترکومی چی د دی د برکت باعث کیدو تعلق دی داخبره

واضحه ده چې په کم ځای کې د دې د لګولو سره د دې شعائرو بار بار استحضار کیږي او د استحضار یقینا د برکت باعث دې په جاینمازونو باندې هیڅ قِسمه نقش خوښ سوی نه دی خو که په کم جاینماز باندې د حرمینو شریفینو کې د یو تصویر داسې جوړ وي چې هغه د پښو لاندې نه راځي نو په دې کې هم د اهانت څه اړخ نسته، البته د سجدې په ځای کې د بیت الله څخه سِوا د یوبل شي تصویر بالخصوص د روضه اقدس په شیبه کې چونکه خلاف مقصود ایهام کیدې سي د دې وجې څخه د دې څخه احتراز مناسب معلومیږي.

{۷} د خاتم په نقش کې هم هغه تفصیل دی چې د نقش نعلین په باره کې مې عرض کې البته ظاهره ده چې د دې غیر ذی روح اشیاء په نقوشو باندې د ذی روح نقوش هیڅکله نسي قیاس کولی چې د دې روح تصویر یانقش په هرصورت کې ممنوع دی.

{والله سبحانه اعلم}.

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

الجواب الصحیح

۲۰[۲][۱۴۱۶]ھ

محمد رفیع عثمانی عفاالله عنه «فتوی نمبر ۱۰۰[۳ ۲۰۳]»

دارالافتاء دارالعلوم کراچی ۱۴۲۱/۱/ ۱۴۱۶/۲ھ

دکافرانو دنابلغه کوشنیانو څه حکم دی؟

سوال: یو ماشوم د کافر په کور کې پیداسو او په کوشنی والی کې مړسو، آیا داماشوم به جنت ته ځي، او که نه؟

ځواب: د کافرانو په کور کې پیدا کیدونکی ماشوم چې د هغه مور او پلار دواړه کافران وي د دنیاوي احکامو په لحاظ سره هم د کافرانو په حکم کې وي لیکن د آخرت د احکامو په لحاظ سره به څه وي؟ جنت ته به ځي یا جهنم؟ په دې باره کې د عالمانو اختلاف دی. (۱) صحیح علم الله تعالی سره دی او په دې مسئلې باندې د دین څه علمي مسئله موقوف نه ده، لهذا دې پسی لګیدل صحیح نه دي «مَنْ حسن اسلام المرء ترکه

(۱) دتفصیل لپاره توګوره فتاوی شامیه، مطلبٌ فی اطفال المشرکین. ج ۲ {طبع ایچ ایم سعید}.

مالا یَعنیه. (۱) والله اعلم ۱۱[۱۱][۱۳۹۶]ھ.

{د سوشلیزم د حمایت کونکي حکم}

سوال: د سو شلیزم حمایت کونکی {سو شلیزم معاشره چه د اسلام خلاف ده}د شریعت د مخه یې څه مقام دی؟

ځواب: که د سو شلیزم حمایت په دې وجه وسي چې د سو شلیزم معاشي پروګرام {معاذ الله} د اسلام د معاشي تعلیماتو څخه افضل دی، نو دا صریح کفردی او که په دې لحاظ، سره وکي چې د اسلام احکام صرف د عباداتو وغیره سره متعلق دي او په معیشت کې د اسلام احکام واجب التعمیل نه دي نو داهم صریح کفر دی او که د دې غلط فهمي په وجه وسي چې د اسلام معاشي احکام {د سوشلیزم د معاشي احکامو {معاذ الله} موافق دي، نودا بیاسخته ګمراهي ده} داټول عقائد په هر صورت باطل او واجب الترک دي، د دې څخه توبه واجب ده.

{۲} د حضور ﷺ راوړل سوي دین او احکامو باندې قربانیدل د ډیر اجر او فضیلت موجب او لوی سعادت دی او د دې مخالفت کفر او بدترین شقاوت دی. {د الله سبحانه اعلم} «۱۳۹۷/۱۲/۱۷ھ»

په اسماء الحسنیٰ کې کم اسماء دبنده ګانو دپاره استعمالولی سی؟

سوال: نن صبا عموماً د باري تعالی اسماء الحسنیٰ سره «دعبد» اضافي سره نوم ایښوولی سی خو عموماً د غفلت د وجې مسمیٰ بغیر {د عبد} څخه رابللی سی حالانکې بعضي اسماء باري تعالی لره مخصوص دي، مثلاً عبدالرزاق وغیره، په دې احوالو کې د خپل لټون مطابق د فیض الباری ج۴ ص۴۲۳ څخه اسماء حسنیٰ درج کم تحقیق وکړی چې کم اسماء باري تعالی سره مخصوص دي دابغیر د عبد څخه د مخلوق د پاره استعمالول لویه ګناه ده، که د دې څخه علاوه نور اسماء هم وي هغه هم درج کې سره د تحقیق څخه او همدارنګه د اسماء په شروع یا آخر کې «محمد» یا «احمد» یا الله اضافه څنګه ده؟ مثلاً محمد متکبّر، خالق احمد، محمد الله، احمد رزاق.

اَلْبَارِئُ اَلْخَالِقُ اَلْجَبَّارُ اَلْمُتَکَبِّرُ اَلْعَزِیْزُ اَلْمُهَیْمِنُ اَلسَّلَامُ اَلْمُؤْمِنُ اَلْقُدُّوسُ الله الرحمٰن اَلرَّحِیْمُ اَلْمَلِكُ
اَلْمُعِزُّ اَلرَّافِعُ اَلْبَاسِطُ اَلْخَافِضُ اَلْقَابِضُ اَلْعَلِیْمُ اَلرَّزَّاقُ اَلْفَتَّاحُ اَلْوَهَّابُ اَلْقَهَّارُ اَلْمُصَوِّرُ اَلْغَفَّارُ
اَلْعَلِیُّ اَلشَّکُوْرُ اَلْعَظِیْمُ اَلْغَفُوْرُ اَلْحَلِیْمُ اَلْخَبِیْرُ اَلْعَدْلُ اَللَّطِیْفُ اَلْحَکَمُ اَلْبَصِیْرُ اَلْمُذِلُّ اَلسَّمِیْعُ

(۱) جامع الترمذی ابواب الزاهد عن رسول الله ﷺ ج ۲: ص ۵۵. {طبع فاروقی کتب خانه}

الکبیر الحفیظ المقیت الحسیب الجلیل الکریم الرقیب المجیب الواسع الحکیم الودود المجید
الباعث الشهید الحق الوکیل القوی المتین الولی الحمید المحصی المبدئ المعید المحیی
الممیت الحی القیوم الواجد الماجد الواحد الاحد الصمد القادر المقتدر المقدم المؤخر
الاول الآخر الظاهر الباطن الوالی المتعالی البر التواب المنعم المنتقم العفو مالك
الملك الرؤوف ذوالجلال والاکرام الرب المقسط الجامع الغنی المغنی المعطی المانع الضار
النافع النور الهادی البدیع الباقی الوارث الرشید الصبور الذی لیس ،
الحد، الصمد، الذی لم یلد، ولم یولد، ولم یکن له کفواً احد.

ځواب: کوم کتاب کی خو داتفصیل د نظر څخه نه دی تیر سوی چی کوم کوم اسمایی حسنیٰ صرف د الله تعالی د پاره مخصوص دی او د کومو اسماءُ اطلاق په نورو باندی کیدی سی، لیکن لاندی درج سوی عبارتونو څخه یو اصل معلو میږی.

تفسیر روح المعانی علامه الوسی رحمة الله علیه لیکی: وذکر غیر واحد من العلماء انّ هذاه الاسماء... تنقسم قسمة اخریٰ الی مالا یجوز اطلاقه علی غیره سبحانه وتعالی کا لله والرحمن وما یجوز کالرحیم والکریم. {روح المعانی ج ۹: ص۱۲۳ طبع مکتب رشیدیه لاهور}.

اوپه درمختار کی دی: وجاز التسمیة بعليّ ورشید من الأسماء المشترکة ویراد في حقنا غیر ما یُراد في حق الله تعالی، وفی ردالمختار: الذی فی تاتارخانیة عن سراجیة التسمیة باسم یوجد فی کتاب الله تعالی: کالعلی، والکبیر والرشید والبدیع جائزة .... الخ}. {شامی جلد۵. ص: ۲۲۸} [1]

التَّسْمِیَةُ بِاسْمٍ لم یَذْکُرْهُ اللَّهُ تَعَالَی في عِبَادِهِ وَلَا ذَکَرَهُ رسول اللَّهِ صلی اللَّهُ علیه وسلم وَلَا اسْتَعْمَلَهُ الْمُسْلِمُونَ تَکَلَّمُوا فیه وَالْأَوْلَی أَنْ لَا یَفْعَلَ کَذَا في الْمُحِیطِ. {فتاوای عالمگیریه من: ۳۶۲حظر واباحت باب ۲۲} [2]

اوحضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه لیکی:
په اسماء حسنیٰ کی بعضی نومان داسی هم دی چی هغه پخله قرآن اوحدیث کی د نورو خلکو د پاره استعمال سوی دی او بعضی هغه دی چی هغه د الله تعالی څخه ماسِوا د بل چا د پاره استعمال یی د قرآن او حدیث څخه ثابت نه دی، نو د کومو نومو استعمال

---

[1] الدرالمختار مع ردّ المختار { الحظر الاباحة} ج۲. ص : ۴۱۷ {طبع سعید}
[2] ج: ۵، ص: ۳۶۲ {طبع مکتبه رشیدیه کویته}

چی د قرآن او حدیث څخه ثابت دی هغه نوم خو د نور دپاره هم استعمالیدی سی لکه رحیم، رشید، علی، کریم، عزیز، وغیره او په اسماء حسنیٰ کی هغه نوم چی د هغه د غیر الله د پاره استعمالول د قرآن او حدیث څخه ثابت نه دی، هغه صرف د الله تعالی د پاره مخصوص دی، هغه د غیر الله د پاره استعمالول په الحاد مذکور کی داخل او ناجائز اوحرام دی. {معارف القرآن ج:۴. ص: ۱۳۲. سورهٔ اعراف: ۱۸۰}

ددی عبارتونو څخه په دی باره کی دا اصول استنباط کیږی.

نمبر{۱}: هغه اسمایی حسنیٰ چی د باری تعالی اسم ذات وی، یاصرف د باری تعالی په صفات مخصوصه کی استعمالیږی، نو د هغه استعمال د غیرالله د پاره په هیڅ حال کی جائز نه دی. مثلا: الله، الرحمٰن، القدوس، الجبّارُ، المُتَکَبِّرُ، الخَالِقُ، البَارِئُ، المُصَوِّرُ، الرّزاق، الغفار، القهار، التواب، اوهاب، الخلاق، الفتاح، القیوم، الرّب، المحیط، الملیك، الغفور، الاحد، الصمد، القادر، المحی.

{۲} هغه اسماء الحسنیٰ چی د باری تعالی د خاصو صفاتو څخه علاوه په بله معنیٰ کی هم استعمال لیږی او د بلی معنیٰ په لحاظ سره د هغه اطلاق په غیرالله باندی کیدی سی، په هغه کی تفصیل دادی: که د قرآن او حدیث او تعامل امت یاعرف عام کی په دی اسماء سره د غیرالله نوم ایښودل ثابت وی نوپه داسی نوم ایښو ولوکی څخه خبره نسته، مثلاً: عزیز، علی، کریم، رحیم، عظیم، رشید، کبیر، بدیع، کفیل، هادی، واسع، حکیم، وغیره او د کمو اسماء الحُسنیٰ سره چی نوم ایښول د قرآن اوحدیث څخه ثابت نه وی اونه په مسلمانانو کی معمول پاته سوی وی غیرالله ته د داسی نوم ورکولو څخه پرهیز لازم دی.

{۳} د مذکوره دوو اصول پخپله را ووته چی د کمو اسماؤ په باره کی داتحقیق نه وی چی د قرآن او حدیث تعامل امت یاعرف کی هغه د غیرالله د پاره استعمال سوی دی او که نه؟ نو د داسی نوم ایښوولو څخه هم پرهیز لازم دی ځکه چی اصل په اسماء حسنیٰ کی دادی چی په دی سره د غیرالله نوم ایښوول جائز نه دی د جواز د پاره یی د دلیل ضرورت دی په دغه اصولو دی په ټولو آسماء الحسنیٰ باندی عمل وکی بیا همدا جواب چونکه د قواعدو څخه لیکل سوی دی او هر یو نوم په باره کی احقرته څه تصریح نه ده معلومه، ځکه که په دی کی د نورو اهل علمونه هم استصواب طلب کړی، نو بهتر به وی.

والله سبحانه اعلم.

{۱۳۹۷/۶/۲۷هـ}

{فتوىٰ نمبر: ۲۸/۲۲۴ب}

د حضور ﷺ دپاره د يا محمدّ الفاظ ليکل

سوال: څه فرمايي د دين عالمان او د شرعي مفتيان په دې مسئله کې چې يو جومات چې هغه د نن څخه پنځه ويشت کاله مخکې جوړ کړې دی د جوړولو په وخت په هغه کې د يا الله او يا محمدّ الفاظ هم وليکل سول او د پنځه ويشت کالو څخه مسلسل موجود وو، ليکن د بد اتفاق څخه يونوی امام هلته جومات ته رالی او هغه د يالفظ خراب کی، اوس ځواب: طلب امر دادی چې ايا په جومات کې ليکل سوی لفظ يا د جومات کومه حصّه خرابه ولې سی؟ ايا شرعا داسی کول جائز دی؟ که يا الله يا محمد الفاظ بعينه په خپل ځای پريښنو ول سی په دې کې څه بدوالی موجود وو؟ د مهربانی د مخه د پورتني ذکر سوی استفتاء مستند او معتبر ځواب: راکی، ورسره ورسره په دې باره کې هم راته ووایاست چې د دې ناخوښه حرکت او بې ادبی ده؟

ځواب: د حضور ﷺ دپاره د يا محمدّ، الفاظ ليکل بې ادبي ده په دې نوم سره د حضور ﷺ په مخکې د بعضو کافرانو او مشرکانو څخه علاوه حضور ﷺ ته به بې رغ نه کوی، او کافرانو به هم د حضور ﷺ داګستاخی نه براشت کوله بلکې په کنيت سره به يې ورته آواز کوی د دې څخه علاوه په دې آواز کې د فاسدی عقيدی ايهام دی ځکه دالفظ داسی ليکل صحيح نه دی (۱) که کوم څوك د حضور ﷺ د تعظيم په خيال د هغه څخه د «يا» لفظ وران کی، نو دی ته د جومات بې ادبی يا ګستاخی نسی ويلی بلکې داخو د رسول الله ﷺ د تعظيم او محبت تقاضا ده چې هغه پوره کړله البته که د دې وجې څخه په جومات کې بدرنګی پيداسوه يا د مرمت ضرورت پيداسو نو هغه سړی ته پکار دی چې د جومات مرمت وکی؟ او که هغه تنګدسته وی نو نورو مسلمانانو ته په دې معامله کې د هغه مدد کول پکار دی.

{والله سبحانه وتعالی اعلم}

۱۳۸۸/۹/۲۸هـ

{دفتوىٰ نمبر ۳۰/۱۲۵۸.}

---

(۱) لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا . الايه {سورة النور :۶۳} د تفصيل د پاره وګورئ تفسير معارف القرآن ج: ۲، ص ۴۵۵ {محمد زبير حق نواز}

که چاته شپږ کلمې یادې نه وي نود هغه څه حکم دی؟

سوال: کله چې يو سړی کلمه توحيد ووايي نو هغه مسلمان سو بياعام طور چې مشهوره ده او لمونځ او وظائفو په کوشنيو کوشنيو رسالو کې چې که مې شپږ کلمې ليکل سوی دی او عام طور ماشومانو باندی يادولی سی آيا دا کلمې هم د اسلام کې به فرق وی او که نه؟ او د پنځمې کلمې په الفاظو کې فرق دی په بعضو رسالو کې «استغفر الله ربّی من کلّ ذنب اذنبته..... الخ» او په بعضو کې «استغفرالله ربی وانا عَبْدُكَ... الخ» دی، دوهم قسم الفاظ عام نه دی د دی وجې څخه د دوو۲ سړیانو په مينځ کې جنګ دی مهربانی د دی وضاحت وکی؟

ځواب: د اسلام بنياد په اصل کې په هغه عقائدو باندی دی چې ايمان مفصل کې بيان سوی دی، لهذا په دی عقائدو باندی ايمان لرل خو د مسلمانيدو د پاره ضروری دی. (۱) دغه شان کلمه توحيد او کلمه شهادت چونکه د خپلو عقائدو اجمالی اعلان دی لهذا هرمسلمان ته يې يادول پکار دی باقی کم کلمات چې د لمونځ وغيره په کتابونو کې ليکلې دی هغه ماشومانو ته د تعليم د اسانتيا د پاره ليکل سوی دی کنی د دی په حقيقت کې هغه مقام نه دی کم مقام چې د کلمه توحيد کلمه شهادت يا د ايمان مفصل دی که داکلمې چاته يادې نه وی نو په دی سره ايمان کې هيڅ خلل نه پيداکيږی خو

---

(۱) {۲} د ايمان مجمل او ايمان مفصل ماخذ د قرآن کريم بعضی آيتونه او حديث دی چې په هغه کې يو حديث ترمذی ج ۲ص ۸۵ طبع مکتبه فاروقي، کې موجود دی: قَالَ « أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ » الحديث وكذا فی حديث علی ﷺ فی الترمذی، او د مشهورو شپږو کلمو د ماخذ لاندی درج د احاديثو کتابونه دی {۱} کلمه طيبه کنزالعمال فصل شهادتين رقم الحديث ۱۷۴ ج:۱ ص ۵۵. {طبع مؤسسه الرسالة بيروت} ومشکوة المصابيح کتاب الايمان الفصل الاول ج ۱ ص۱۲ حديث نمبر {قديمی کتبخانه} دکلمې طيبی الفاظ متفرقاً په قرآنکريم کې هم راغلی دی د تفصيل د پاره فتاوی محموديه ج۲ص ۴۳ وګوری {۲} کلمه شهادت الصحيح البخاری. باب مايتخير من من الدعاء بعد التشهد. ج۱ص ۱۱۵ {طبع قديمی کتب خانه. ۳، کلمه تمجيد: الصحيح المسلم باب فصل الهليل والتسليم والدعاء ج ۲: جب ۳۴۵. {۴} کلمه توحيد: جامع قديمی کتب خانه} {۲} ردکفر {مسند احمد ج ۵ ص ۴۵۱ {طبع المکتب الاسلامی بيروت} د دی خ علاوه دَدی کلمو الفاظ متفرقه طور په نورو بې شماره احاديثو کې راغلی دی د دی ترتيب اسماء او نمبر د اسانتيا د پاره دی په حقيقت کې د دی کلمو په معنی باندی ايمان راوړل ضروری او مطلوب دی، {محمد زبير}

چونکه د دی کلمو ویل ډیر د اجر او ثواب کار دی، او مسلمانانو ته د دی ورد ساتل پکار دی، نو ځکه ماشومانو ته د دی کلمو زده کول پکار دی، اوپه کلمه استغفار کی د اختلاف وجه داده چی په احادیثو کی د استغفار مختلفی صیغی راغلی دی په دی کی چی کومه صیغه هم ویلی مقصود حاصل دی ځکه چی د معنی په لحاظ سره څه خاص فرق نسته او دا داسی دی لکه د درود شریف مختلفی صیغی د احادثو څخه ثابت دی، لهذا په دی باندی جنګ جګړی کول ډیره غلطه خبره ده، مسلمانانو ته د داسی قسم جګړو څخه پرهیز کول پکار دی.

{والله سبحانه اعلم}

{۱۳۹۲\۱۱\۱۷ھ}

فتوی نمبر ۲۷\۲۵۵۳و}

دکلمی طیبی سره ﷺ ویل

سوال: ایا د کلمی طیبی سره ﷺ ویل جائز دی یا کلمه طیبه صرف. لآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ، ده، بنده دکلمی سره زیاتی د وجی خلګ د ﷺ څخه منع کوی، صرف په دی خدشه چی کلمی کی اضافه جائز نه ده ایا زما دامنع کول جائز دی اوکه ناجائز؟

ځواب: کلمه خو (لآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) ده، لیکن چونکی د حضور ﷺ نوم چی کله هم اخستلی سی نو په هغه سړی باندی د درود شریف ویل د احادیثو څخه ثابت دی د دی وجی څخه د کلمی طیبی څخه وروسته کی ﷺ او وایی نوځه خبره نه ده، خو په دی کی دا احتیاط کول پکار دی چی په کلمی باندی د اضافی کولو شُبه نه وی.

{والله اعلم}

۱۳۹۷\۲\۱۳

{دفتوی نمبر ۲۸\۸۰ الف}

دشاعرانو په خپل کلام کی غیرالله ته خطاب کول

سوال: په یوځای کی دوه سړیان په خبره کی لګیاوه د یوسړی وینا وه چی شاعری برابره خبره ده که مجازی وی یا حقیقی د دی دواړو اثر د شاعر په عقائدو باندی کیږی لکه د نن صبا عام شاعران چی د هغو شاعری بالکل غیر سنجیده او د اخلاقو څخه

پریوتلی ده تردی چی د شاعر خپله فرضی محبوبه د خدای ﷻ سره برابر ګرځول یا موسم یا نورو موضوعاتو باندی مبالغانه انداز کی خپل خیال پیش کول د شاعر عقائد د هغه په زد کی راځی، په دی باندی ډیر لوی اثر پریوځی، تردی چی شاعر خپل خیال په غلط انداز کی د بیانولو د وجی ګناه او ډیر واره د لویی ګناه مرتکب کیږی داخبره ترکومی درسته ده؟

{۲} د دی برع سړی د دوهم سړی وینا ده: چی شاعری که مجازی وی یاحقیقی محض تخیل دی او د تخیل د حقیقت سره بلا واسطه یا بالواسطه څه ربط نسته، مهربانی او ګرمی او د دی سوال ځواب راکی چی مذکوره سړیانو کی څوك په غلطی باندی دی؟ او څوك صحیح دی؟ عام فهم، مدلل، جامع، مفصل او که چیری د عربی عبارت وی نو د هغه څخه وروسته ترجمی سره داسی زر ترزره ولیکی چی حجت تام سی عین عین نوازش به وی.

ځواب: محترم اومکرمه! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسی خط وصولی څو میاشتی تیری سوی، لیکن ما مسلسل سفرونو او مصروفیاتو په وجه ځواب درنکړل سو اوس می په مشکله دومره وخت کی کنبلی دی چی جواب درکړو تاسی خاص د دوو صاحبانو خبری اتری نقل کړی دی په دی کی د یوه خبره هم علی الاطلاق صحیح نه ده بلکی په دی کی څه تفصیل دی او هغه دا که شاعر په خپل کلام کی داسی مجاز یا استعاری استعمالوی چی د هغه مثالونه په اهل زبان کی معروف او مشهور وی او د نورو قرائنو او شواهدو څخه داهم معلوم وی چی شاعر داخبره د مجاز او استعاری په طور کړی ده حقیقت ګڼلو سره یی نه ده کړی نو بیا خوداسی مجاز او استعاره جائزده او د دی په بنیاد انسان ته بد عقیده نسی ویلی.

د دی په خلاف کی مجاز او استعاره د دی نوعیت ده چی په اهل زبان کی د دی مثالونه مشهور نه دی یا د نورو شواهدو او قرائنو څخه معلومه ده چی شاعر داخبره د مجاز په طور نه ده کړی بلکی حقیقت ګڼلو سره یی کړی ده نو د دی په بنیاد داویلی سی چه د ده عقیده همداده.

مثلاً د حضرت حاجی امداد الله صاحب مهاجر مکی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ طرف ته دا اشعار منسوب دی: چی، یارسوالله! انظر حالنا یارسوالله! اسمع قالنا! حالانکی داخبره د حضرت حاجی صاحب د حالاتو او د هغو د کتابونو څخه معلومه ده چی هغو حضور ﷺ د الله تعالی په شان حاضر اوناظر نه ګڼل د دی وجی څخه به دا ویل کیږی چی په

دی اشعارو کی حضور ﷺ ته چی کم خطاب سوی دی، هغه مجاز سوی دی او دا یو
معروف شاعرانه روایت دی چی شاعر ډیر غیرموجوده شانو څخه په خیال کی موجود
فرض کولوسره هغه ته خطاب کوی، بلکی بعضی اوقات دریابونو ته غرونو اوښارونوته
هم خطاب کوی، گوانکی د حضرت حاجی صاحب دامعجاز داسی دی چی د اهل زبان
په کلام کی د دی مثالونه هم موجود دی. لهذا په دی سره د عقیدی فساد نه لازمیږی
هو! که څوک داسی سړی داخبره وکړی چی د هغه په باره کی دامعلوم وی چی هغه د
مجاز په طور داخبره نه کوی. بلکی د هغه په نیز حقیقی عقیده همداده نو بیابه فساد د
عقیدی لازم سی. (۱)

د دی په خلاف بعضی مبالغی یامجاز داسی وی چی د اهل زبان کی د هغه معروف
مثالونه نه دی. مثلاً کله یو مخلوق ته خالق سره تشبیه ورکول یا د یو مخلوق اوصاف
زیاتولوسره هغه داخالق سره ملاوول دغه شان مبالغی او استعار چونکه مشهوری نه
دی او د دین او مذهب خیال ساتونکی خلگ دی له همیشه بی ادبی اوغلط گڼلی دی،
ځکه د داسی مبالغو څخه او استعارو څخه دعقیدی د فساد شبه کیږی او هغه ناجائز
ده.

چونکی په دی کی د مجاز او مبالغی احتمال وی ځکه محض د دی په وجه چاته کافر
ویلو کی احتیاط کول پکار دی، ترڅو چه هغه د خپلی عقیدی پخپله وضاحت ونکړی.

هذا ماعندی والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۳۲۴/۴/۱۵هـ

{فتوی نمبر ۱۳۸۹/۲۹ الف}

«په کپړو کی د انبیاء علیهم السلام تصویر جوړول»

سوال: محترم جناب مفتی جسٹس تقی عثمانی صاحب {دار العلوم کورنگی کراچی
جناب عالی! محمد فاروق ټي سړي ټائل ملز لمیټیډ کورنګی کراچی کی یو ډیزائن کپړی
باندی د چهائی/ پرنټنګ د پاره د سپرز ټاولز پرائیویټ لمیټیډ کراچی د طرفه راغلی
او د سپرټاولز ډیزائن عین مطابق چهاپ کولو سره ور کول سو عام طور موږ د
ټیکنیکل امورو څخه علاوه {مثلا کلر میچنګ} دپ ارټیانو د مطلوب ډیزاینز د نورو

(۱) دمذکوری مسئلی دتفصیل دپاره وگوری فتاوی رشیدیه ص: ۱۰۴ او امداد الفتاوی ج:۵ ص ۳۸۵

امورو سره واسطه نه لرو، او د څه غور او خوض څخه بغیر دا ډرتکمیل کوو. نا دا
نسته طور باندی د دی ډیزائن د چهاپ کیدلو څخه وروسته شکوک او شبهات
پیداسول په هغه ډیزائن کی مرغان، کارغان د اوبو حیوان او د انسانانو کرتون په انداز
کی د دوی انسانانو موشادی هم دی او په دی ډیزائن بی په انګلش کی لیکلی دی دا
ډیزاین ستاسی په مخکی پیش کولو څخه وروسته تاسی په دی فتوی صادره کړی که
چیری توهین او گستاخی سوی ده نو چی څه هم کفاره وی چی اداء کول سی او موږ په
ښکاره د خپلی نادانسته غلطی د صدق دلنه اعتراف کولو سره د الله تعالی په بارگاه
کی توبه وکاړو او عهد کوو چی آینده به هرممکن احتیاط سره کار کوو.
تابعدار محمد احمد علی خان {ډپټی ملز منیجر}

ځواب: د کم جاندار تصویر جوړول په خپل ذات کی یو ناجائز کار دی، بالخوص د کوم
پیغمبر خیالی تصویر جوړول خو ډیره زیاته بی ادبی ده چی د هغه څخه هر مسلمان ته
پناه غوښتل پکار دی او په داسی بی ادبی باندی مشتمل تصویرونه شائع کول او
خلگو کی خپره ول مزید دوبال سبب دی خو که تا واقعتاً داتصویرونه نادانستگی کی
داسی چاپ کړل، چی تاته اندازه نه ده سوی چی په دی کی څه دی توبه تاباندی
دالاندینی امور فوراً واجب دی:

{۱} د ټولو څخه اول د زړه په اخلاص سره په دی عمل توبه او استغفار ووایه او آینده
د پاره داسی قسم معاملاتو کی د بیداری مغزنه د کار کولو عهد او اهتمام وکړه.

{۲} د دی کپړی چی څومره سټاک موجود وی د هغه سپلائی مه کوه د هغه څخه
تصویرونه خراب که او که خرابولی په نسی نو هغه وسوزه.

{۳} که کپړه هغه کمپنی ته رسیدلی وی، چه چی په تاباندی چهاپ کړی ده، نو هغه د
داسی کپړی د سپلائی کولو څخه د منع کولو د پاره پوره اثر او رسوخ استعمال که، که
هغه د دی د سپلائی څخه منع نسی نوته د هغه څخه د برات اظهار او اعلان وکړه.

{۴}د دی کپړی د چپهائی څومره اجرت چه تا اخستی دی هغه مکمل صدقه که
والله اعلم. «۱۴۱۴/۹/۱۶هـ

« په شعر کی غیرالله ته خطاب کول »

سوال:

لے جلد خبر کہ ہاں ابھی تک
سینے میں ایک آگ سی دبی ہے

کشتی یہ بھنور میں آ پھنی ہے　　　لے جلد خبر مریض غم کی

آب اس کا یہ سانس آخری ہے

زید وایي چې داسې کلمات دغیرالله دپاره نه دي استعمالول پکار چې د هغه څخه په عقائدو کې د خلل پیدا کیدلو بیره وي مذکوره اشعار هم داسې دي لیکن عمر د خپلو عقائدو په وجه دا اشعار درست ګڼلی څکه چې عمر د خپل مرشد د مرګ څخه وروسته دا اشعار ویلي دي اوس په دې دواړو کې څوك په حق باندې دی! او د باطل د پاره شرعي حکم څه دی؟ برای مهرباني ځواب راکئ؟

ځواب: په شعرکې په کثرت سره مجاز او استعاره استعمالیږي او شاعر ډیر واره هغه شانو ته هم مخاطب کوي چې د اوریدلو او ځواب ورکولو اهلیت نه لري لکه سیند، غر وغیره، او دا خطاب تخیلي وي حقیقي نه وي، لهذا که کم سړی په دې انداز سره شعر کې غیر الله ته خطاب وکې او مقصد حقیقتً د هغه د مشکل کشایا د فریاد اوریدونکې عقیده نه وي بلکې تخیلي طور باندې مجازاً او استعارتاً خطاب کول وي نو په داسې شعرونو کې څه حرج نسته، خو که مشرکانه عقیدې سره داسې اشعار د دې په حقیقي معنی باندې اعتقاد ساتلو سره ووایي نو داحرام دي نو پورتنی مندرج اشعار که صحیح العقیده سړی ویلي وي، نو په دې کې څه حرج نسته دی او که فاسدې عقیدې سره یې ووایي نو حرام دي او په عوامو کې داسې اشعارو تشهیر منع دي، چې د عقیدې د فساد بیرده. (۱)

---

(۱) حکیم الامت حضرت مولانامحمد اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه لیکلي دي چې با اراده استعانت واستعانت باعتقاد حاضر او ناظر کیدو منهي عنه وي او د دې اعتقاد څخه محض شوقاً او استلذاذاً ماذون فیه وي چونکه د استعاره ویلو غرض محض د شوق اظهار او ستلذاذ وي څکه په نقل کې وسعت وسو که په کم ځایي کې د دې خلاف و کتل سي نو منع به سي {وګوری امداد الفتاوی ج:۵ ص: ۳۸۵} او په فتاوی رشیدیه ص ۱۰۴ کې دي: یارسول الله کبر یافریاد ہے...... یا محمد مصطفیٰ فریاد ہے» که داسې الفاظ په محبت او خلوت کې ووایي په دې خیال چې الله تعالی به د حضور ﷺ ذات خبرکړي نو محض د محبت د وجې بغیر د څه خیال څخه جائز دي او په عقیده د علم الغیب اوفریادرس کیدو شرك دي او په مجمو کې منع دي. څکه چې د عوامو عقیدې خرابوي لهذا په داسې حالت کې به مکروه وي. الخ {محمد زبیر حق نواز}

یارسول کبریا فریاد ہے

یا محمد مصطفیٰ فریاد ہے

سخت مشکل میں پھنا ہوں آج کل

ای میری مشکل کشا فریاد ہے

زید دا اشعار درست ګڼي او عمر دا شرك ګرځوي د چا قول درست دی؟ او د شعر ویونکي دپاره څه حکم دی؟

ځواب: په دې اشعارو کې هم هغه تفصیل دی کم چې پورته بیان (۱) سو

{والله سبحانه وتعالی اعلم}

{۲۴ رمضان ۱۴۰۰}

{فتوی نمبر {۱۱۲۸۶/ ۳۱و}

«د قاد یانیانو عبادتګاه ته د جومات ویلو ممانعت»

سوال: د قادیاني جماعت په باره کې څه حکم دی؟ او آیا قادیانیان خپل جومات جوړ ولی سي او که نه؟ او خپلې عبادتګاه ته جومات ویلي سي او که نه؟

قانوناً او شرعاً څه حکم دی او ایا دداسې فیصلو قانون جوړول صحیح دی چې په هغه کې قادیانیان خپله عبادتګاه د جومات په نوم جوړولو اجازت ورکړي ورکول سو؟

{سائل امام مسجد سبیل نیو ټاون}

ځواب: د میرزا غلام احمد قادیاني پیرو کاران خواه که قادیانیان وي او که لاهوریان دامت په اجماع سره د اسلام د دائرې څخه خارج دي، د دوی د دین اسلام سره هیڅ تعلق نسته دی، دا واقعي حقیقت ستمبر سنهٔ ۱۹۷۴ھ کې اینې طور باندې تسلیم سوی دی او د دې غرض د پاره د پاکستان په دستور کې داسې ترمیم سوی دی چې په هغې باندې د ملك تمام مسلمانان متفق دي.

---

(۱) ایضاً.

د دی ترمیم لازمی او منطقی نتیجه داده چی میرزایان دی د اسلام او مسلمانانو شعائر اختیارولو څخه منع سی، خاص طور د هر یو مذهب عبادت گاه دی د هغه مذهب امتیاز نښه وی، چی په هغه سره د هغه مذهب په شناخت کی مدد پیداکیږی نو «جومات» د مسلمانانو د هغه عبادتگاه نوم دی چی صرف او صرف د مسلمانانو سره مخصوص دی د یوبل مذهب د پیرو کارانوته دا اجازت نسی ورکولی چی هغه خپلی عبادتگاه ته د جومات نوم ورکولو سره خلگ په مغالطه کی واچوی او د هغوی د گمراهی باعث وی خاصکر د میرزایانو معامله داده چی د یوی ډیری مودی څخه خپل ځان مسلمان ظاهرولوسره،ناواقفه خلگوته دهوکه ورکو په داسی حالاتو کی که هغه ته جومات په نوم سره د خپلی عبادتگاه تعمیر کولو یا په دی نوم برقرار پرینښوولو اجازت ورکول سی نو د دی ښکاره نتیجه به د عام مسلمانانو د پاره په سخت دهوکه کی د مبتلا کیدو څخه ماسوا نور هیڅ نسی کیدلی او د پا سرېتان په شان اسلامی مملکت کی داسی دهوکه نسی برداشت کیدی، لهذا د احقر په رایه باندی هغه ټولی فیصلی چی په هغه کی قادینیانو یا دا لاهور یاته «جومات» په نوم سره د عبادتگاه جوړلو اجازت سوی دی، قرآن او سنت شریعت اسلامی او د مسلمانانو د مصلحتونو ي سرېر خلاف دی، احقر د دی تصدیق کوی.

{والله سبحانه اعلم}

محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه
۱۳۹۹\۱۹\۱۸هـ

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳۹۹\۱۰\۱۸هـ

{فتوی نمبر ۳۰\۱۷۳۳ر}

دانبیاء علیهم السلام ژوند او د حضرت عیسیٰ علیه السلام د ژوند او دسماع موتیٰ پحقله مختلف سوالونه

{۱} سوال: د انبیاء علیهم السلام د حیات پحقله صحیح احادیثو څه فرمایلی دی؟ ایا انبیاء په قبرونوکی په دی دنیوی حیات سره ژوندی دی او روح یی په مقام رفیق اعلی کی دی؟ یا د جسد سره د انبیاؤ په قبرونو کی لمونځ کول راغلی دی، آیا په دی جسد سره یی کوی یاپه جسد مثالی سره؟ همدارنگه د انبیاء علیهم السلام د ژوندمنکر په شریعت کی څه حکم لری؟

ځواب: ستا د سوالونو مختصر جوابونه [۱] لاندی درج دی، لیکن د دی مسائلو په تدقیقاتو کی پریوتل صحیح نه وی، د دی سوالونو په جوابونو باندی د دین څه عملی حکم موقوف نه دی اونه یی موږ د دی د تحقیق مکلف کړی یو لهذا خپل وختونه د هغه مسائلو په معلومولو کی لگول پکار دی چی د هغه براه راست تعلق د علمی ژوند سره دی، په حدیث کی د حضور ﷺ ارشاد دی من حسن اسلام المرء ترکه مالا یعنیه [۲] دي تمهیدنه وروسته مختصراً جوابونه لیکل کیږی خوپه دی سره دی د بحث او تمحیص دروازه خلاصه نه سی.

{۱}:- د انبیاء علیهم السلام حیات هغه برزخی [۳] ژوند دی خودا حیات برزخی د عامو مسلمانانو په مقابله کی زیات قوی دی، په دی کی د روح رشته د جسد سره دومره زیاته قوی وی چی هغه ته دنیوی حیات سره ډیر قرب دی د دی په وجه په دی باندی مطلقاً د احیا اعلان کول کیږی د دی وجی څخه خونه د انبیا کرامو میراث تقسیمیږی اونه د هغوی ازواجو سره څوك نکاح کولی سی اوس داقوت د کومی درجی دی؟ د دی

---

[۱] دامختلف سوالونه او د دی جوابونه مخکی را روان دی.

[۲] جامع الترمذی ابواب الزهد من رسول الله ﷺ ج:۲ ص: ۵۵ {طبع فاروقی کتب خانه}

[۳] ایضاً.

[۴] وفی شفاء السقام للسیکی ص: ۱۸۰ {طبع مکتبه نوریه رضویه} والحیاة الائنبیا بعد موتهم شواهد من الاحادیث الصحیحة وفی الصحیح للامام المسلم ج:۲ص: ۲۸۶ {طبع قدیمی کتبخانه} عن انس بن مالك ان رسوالله ﷺ قال: اتیت وفی روایت هداب. مررت علی موسیٰ لیلة اسری بی عندالکثیب الاحمرو هوقائم یصلی فی قبره وفی قول البدیع للسخاوی: السادسة رسوالله حی علی الدوام من: ۱۲۷ {طبع مکتبه علمیه مدینه منوره} یؤخد منِ هذه الاحادیث انه ﷺ حیّ علی الدواُ وذالك انه محال عاده ان یخلوا الوجود کله من واحد یسلم علیه فی اللیل ونهار ونحن نؤمِنُ ونتصدق بانه ﷺ حی یرزق فی قبره وان جسدُ الشریف لاتاکله الارض واللجماع علی هذا..... وقدجمع البیهقی جزآ فی حیاة الأنبیا علیهم السلام فی قبورهم واستدل یغالب ماتقدم ویحدیث انس رضی الله عنه: الانبیا احیا فی قبورهم یصلون .... الخ قال العلامة السبکی رحمة الله علیه فی شفاء ص ۱۹۱ {طبع مکتبه نوریه رضویه} وهی ثابته المروح بلا اشکال والجسد.... فان الصلوة تستدعی جسداً حیاً وکذالك صفاة المذکورة فی الانبیاء لیلة الاسرار کلها صفات الاجسام ولایلزُ من کونها حیاةٌ حقیقیَة ان تکون ألابدان معها کما کانت فی الدنیا مع الاحتیاج الی الطعام والشراب .... وغیر ذالك من صفات الاجسام التی نشاهد هابل قدیکون لها حکم آخر فلیس فی العقل مایضع اثبات الحیاة الحقیقیة لهم، وکذافی احکام القران للعلامة تهانوی رحمة الله علیه {ج ۳ ص ۱۷۰} ورد المختار ج۴، ص ۱۵۱}

صحیح علم الله ته دی ددی په حقیقت باندی پو هیدلو کوشش اوفضولو تحقیقاتو ضرورت نسته اود انبیا کرامو په قبر کی لمونځ کول په ظاهره داجسا دوسره دی (١).

{٢}سوال: دمعراج په شپه د حضور ﷺ ملاقات او د لمونځ د تخفیف په باره کی خبری اتری صرف دروح سره سوی وی یادروح مع الجسد سره؟

{٢} ځواب: په احادیثو کی د دی تصریح نسته لیکن د اطلاقاتو څخه ظاهراً دا معلومیږی چی دجسد سره سوی دی.

{٣}سوال: دمعراج په شپه د حضور ﷺ د امامت معامله د تولو انبیاؤ دپاره په مسجد اقصیٰ کی صرف دروحونو سوی وه یادروح مع الاجساد سره؟

ځواب: ددی تصریح د دی تصریح عیسیٰ علیه السلام چی ژوندی دی ایا په ظاهره د اجسادوسره وه. {والله اعلم}.

{۴} سوال: حضرت عیسیٰ علیه السلام چی ژوندی دی ایا په دی لمونځ کی مع الجسد شریك سوی دی یایی صرف روح شریك کړی وو؟

ځواب: دحضرت علیه السلام دجسد او روح دواړو سره ژوندی کیدل په قرانکریم کی مفرح دی (٢) د دی وجی څخه د حضور علیه السلام سره ملاقات روح مع الجسد سوی دی.

{۵} سوال: عام مسلمانان چی په قبر کی ښخکي دهغه څخه وروسته په هغه باندی فاتحه ویل کیږی آیا هغه اوری؟ دنفي په صورت کی به دهغه احادیثو څخه جواب وی چی په هغه کی ثبوت دی؟

ځواب: اصل دادی چی په مړوکی د مرګ څخه وروسته د اوریدلو طاقت نسته لکه چی قرآنکریم کی تصریح ده (٣) لیکن په کم وخت کی چی الله تعالی د څه مصلحت دپاره په هغو څه آواز اورول غواړی نواوری یی ورته. (۴) په حدیث کی چی دخپلوانو د آواز

---

(٢) إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ} الایه {آلعمران: ۵۵} وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ الایه {النساء: ١۵٧} د تفصیل دپاره وګوری معارف القرآن ج٢ ص٧٢}

(٣) قال الله تعالی: فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ الایه {سورة الروم: ۵٢}

(۴) ایضاً

(۴) إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ {سورة فاطر: ٢٢} وفی احکام القران ج: ٣ص: ١٢٣ فانه تعالی بقدرته یسمع الاموات اصواة الاحیاء اذایشآء وصل من یشاء ..... الخ وفی الصحیح للبخاری باب المیت یسمع خفق النعال ج: ١ ص: ٧٨ (طبع قدیمی کتبخانه) عن انس رضی الله عنه عن النبی

اوریدو ذکر دی (۴) هغه هم په دی باندی محمول دی چی الله تعالی دعبرت د پاره هغوی ته آواز اور وی.

{٦} سوال: دقبر څخه څه مراد دی؟ ایاهم خپل لحد یاشق چی په هغه کی میت ښخ سی یاڅه بل څه؟ عذاب قبر چیری وی؟ د ملکینو سوال او ځواب چیری وی؟

ځواب: د قبر څخه هم هغه قبر مراد دی چی په هغه کی مړی ښخولی سی، د ملکینو دسوال په وخت روح دوباره په جسد کی داخلول کیږی (١) او پوره حقیقت د حال د الله تعالی څخه سوابل څوك نسی پیژندی.

{٧} سوال: په سماع موتٰی کی د صحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف دی، د جمهورو صحابوو رایه په اثبات کی ده یا په نفی کی؟ د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه رایه څه ده؟

ځواب: دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه رایی د صحیح قول مطابق هم هغه ده چی پنځم نمبر کی ولیکل سوه.

{٨} سوال: دعامو مسلمانانو په قبر باندی قرآن خوانی بغیر د معاوضی څخه جائزده او که نه؟ جائز کیدو په صورت کی د حضور ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم څه عمل چی دهغه ذکر په حدیث کی وی؟

ځواب: دایصال ثواب د پاره په قبر باندی قرآن خوانی جائز ده خو په دی شرط چی دزوځی تخصیص پکی نه وی او نه ورباندی څه معاوضه طی کولی سی.

ﷺ قال العبد اذا وضع فی قبره وتولی وذهب اصحابه حتی انه لیسمع قرع نعالهم اتاه ملکان الحدیث وفیه ایضاً ج:١ ص ١٨٣) طبیع مذکور قال نافع ان ابن عمر اخبره قال: اطلع النبی ﷺ علی اهل القلیب فقال: وجدتم ما وعد ربك حقا؟ فقیل له تدعوا امواتاً؟ فقال: مانتم باسمع منهم ولکن لایجیبون، وعن عایشة رضی الله عنها قالت: انما قال النبی ﷺ: انهم لیعلمون الان ان ماکنت اقول لهم حق، وقد قال الله تعال: إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وفی احکام القرآن للعلامة التهانوی رحمة الله علیه {ج: ٣، ص: ١٢٣}. قوله ان مسئله سماع الموتی وعدمه من المسائل التی وقع الخلاف فیها..... وفیه ایضاً {ج٣، ص ١٢۵} قال العبد الضعیف {المفتی الاعظم باکستان قدس الله سره} والذی ذکر مغی الروح من طوئف اهل العلم وذکر ابن عبدالبران الاکثرین علی ذالك یعنی سماعهم فی الحیملة هوالحق الحقیق بالقبول. والیه یرشد صیغة القرآن وشان النزول وبه تت افق الروایات من الصحابة والرسول ﷺ وهو مختار مشا بخنا وامت برکاتهم ماهیت الدبور والقبول....الخ.

(١) وفیه ایضاً ج٣.ص ١٨١مذهب اهل السنت والجماعت ان ارواح الموتی تردفی بعضی الا وقات من العلیین اومن سجین الی اجسادهم فی قبورهم عند ارادة الله تعالی وخصوصاً لیلة الجمعة ویجلسون و یتحدثون وینعم اهل النعیم ویعذب اهل العذاب {محمد زبیر حقنواز}

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا لله عنه.

احقر محمدتقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸\۱\۲۳

فتوی نمبر: ۱۱۹\۱۴۹\الف

«داسلامی سو شلزم څه څه مراد دی؟ او د دی شرعی حیثیت»

سوال: اسلامی سؤشلزم څه دی؟ او په موجوده حالاتو کی د دی قبلول زموږ دپاره درست دی؟ {قاضی نذیر احمد سوند اضلع تهته}

ځواب: دڅه مودی څه زموږ په معاشره کی دا وبا چلیدلی ده چی د مغرب څخه راغلی هری صحیح یاغلطی نظریی سره صرف د «اسلامی» نوم په لګیدلو په خپل خیال کی اسلام سره مشرف کولی سی، بیا د دی تبلیغ شروع کولی سی، داسلام سو شلزم نعره هم همداسی ده، ورنه حقیقت دادی چی اسلام اوس شلزم د ژوند دوه بالکل مختلف نظامونه دی چی په دی کی مطابقت نسته دی، سوشلزم په حقیقت کی دسرمایه دارانه نظام د هدایت د آخرنیو یوجذباتی ردعمل دی چی په خپل ځای باندی دومره مضر او خطرناك دی څومره چی سرمایه دارانه نظام او د سو شلیزم بنیاد انفرادی ملکیت په انکار باندی دی، سرمایه دارانه نظام کی د غریبانانو د وینوچښلو کومه ظالمانه لوبه کولی سی. د هغه څخه متاثر کیدوسره شلزم علمبردارانو د انفرادی ملکیت د سره څخه انکار وکی، حالانکه د دی نتیجه د دی څخه سِوا هیڅ ونه سوه چی لږ لږ سرمایه دار ختم سول او ددی تولو په ځای یولوی سرمایه دار وجود ته راغلی چی پوره استبداد سره د دولت یوی لوی ذخیری سره لوبی کوی، پاته سو مزدور خوار نوهغه سوشلزم کی همدومره بی وسه دی څومره چی په سرمایه دارانه نظام کی دی، د اسلامی نقطه نظر کی د سرمایه داری د خرابیانو علاج د انفرادی ملکیت په خاتمه کی نه دی بلکي د انفرادی ملکیت خو د غرضی اوبی لګامی ختمول دی، چنانچه په اسلام کی انفرادی ملکیت تسلیم کول سوی دی خو د سود حرمت او زکوة، صدقات، نفقات، کفارت، عشر، خراج او وراثت نورو احکامو په ذریعه هغه د ملکیت د حدودو پابندی جوړکړی دی. اسلام هغه بنیاد نه منی. د دی وجی څخه په دواړو کی نظریاتی مصالحت څه امکان نسته. اسلام سو شلزم نسی جوړیدی اسو شلزم ته اسلام نسی ویل کیدی، لهذا

اسلامی سو شلزم، نعره یوه مهمله نعره ده، چی د دواړو معاش نظامونو یاکم ازکم د اسلامی نظام معیشت څخه ناوافقیت بندی مبنی ده پا سړیتان کی زموږ ضرورت اسلام دی سوشلزم نه دی. {والله اعلم} (۱)

ایاجنت ته کافران داخلیدی سی؟

سوال: نن صبا د بعضو خلګو ذهن دی خبری منلوته تیارنه دی چی صرف مسلمان به جنت ته ځی، هغوی وایی چی هرڅوك چی د هرمذهب سره تعلق لری خو که ښه کار کوی نو د جنت مستحق دی، واضحه دی وی چی داخیالات زما په عقیده کی شامل نه دی زه صرف اسلام ریښتونی مذهب منم لیکن بهتره به وی چی د داسی قِسم خلګو د شبهاتو ازاله د «البلاغ» په ذریعه کولی سی.

ځواب: ددی خلګو داشهبه په حقیقت کی یو بُنیادی خبره په ذهن کی دنه اینښوولو نتیجه ده دا چی په دی کائنات کی د انسان مقام څه دی؟ او د جنت او جهنم د تخلیق مقصدڅه دی؟ قرآنکریم تعلیم دادی چی دادنیا د امتحان یوکور دی جنت ددی امتحان کامیابی بدله ده دوزخ د ناکامی سزا ایمان په دی امتحان کی د کامیابی بنیادی شرط دی او هغه لازمی سوال دی چی د هغه د حل کولو څخه بغیر کم سړی کامیابیدی نسی ځکه د جنت حصول د ایمان څخه بغیر ممکن نه دی په دنیا کی هروخت چی کومو امتحانونو سره زموږ مخ وی که په دی هم ته غُور وکړی نو واضح طور سره په نظر کی راځی چی په هر امتحان کی څه سوالونه بنیادی حیثیت لری، او ممتحن دغه سوالونه د کامیابی مدار ګڼلی او په دی سوال سره څه داسی سوالونه نورهم وی چی د هغه د نه حل کولو له وجی د کامیابی په درجه کی کمی خو کیږی لیکن هغه دکامیابی او ناکامی د پاره فیصله کن نه وی اوس که څوك اول قِسم سوالونه بالکل پریږدی یاهغه بالکل په غلطی طریقی سره حل کړی او دوهم قِسم ضمنیٌ سوالونه صحیح طریقی سره حل کړی نو ته پخپله سوچ وکړه چی هغه سړی به کامیاب وی اوکه ناکام؟ ظاهره ده چه څوك معقولیت پسند انسان داسی سړی کامیابی نسی ګرځولی، ځکه چی د اصل او بنیادی سوالونه بالکل حل کړی نه دی، کم سړی چی د اسلام بنیادي عقائد: توحید رسالت، آخرت وغیره باندی ایمان نه لری او ورسره څه ښه کارونه هم کوی. د هغه مثال هم

(۱) دافتوی د ماهنامه «ابلاغ» د شماری ذی قعده ۱۳۸۷ هـ څخه اخستل سویده. {مرتب} ۲۰\اشوال ۱۳۸۷ هـ.

په دنیا کی ډیر شانو دخپل بالکل داشان دی په همدی خبره هم په بله طریقه ښه پوه سه، په دنیا کی ډیر شانو دخپل ذات په لحاظ سره مفیدوی، خوځه بل خراب شان د هغه ښه شانو سره ملاوسی او د هغه په ټولو خوبیانو باندی اوبه تویی کړی، شیدی غوړی او کچ د خپل ذات په اعتبار سره ځومره مقوی غذاګانی دی، خوکه په دی سره زهر ګډسی نو همداشان مهلك جوړیږی، د انسان د اعمالو او افعالو هم همدا حال دی د یوغریب په روپی پیسی سره امداد ځومره مستحسن کاردی خوکه په دی سره مقصد صرف ښوونه وی او نام نمودوی نو دانیکی د دنیا نقطه نظر سره هم ضائع کیږی.

د قرآنکریم همدا ارشاد دی چی «کفر» هغه زهردی چی د انسان ټول نیك اعمال برباده وی که دا اعمال خیر د ایمان سره وی نو دانسان په درجاتو کی دترقی سبب جوړیږی په دی سره د هغه آخرت ښه کیږی خوکه په دی سره کفر پیداسی نو هغه د همداسی بیکاره کوی لکه چی زهریی او غوړی. کوم سړی چی خدای یا د هغه د وحدانیت ځخه منګهرت وایی د هغه ښو ول سوی د ژوند نظام ځخه بالکل انکار کوی او د داسی سنګینو جرائمو ځخه وروسته هغه څه نیك کار هم وکړی نو هغه لره د انعام په مستحق جوړولو کی څه معقولیت دی؟ فرض کړه یو ډیر خوش اخلاقه محنتی اوذهن سړی دی چی د ځپل مبنی برانصاف حکومت خلاف د بغاوت سازش کوی د هغه دښمنانو سره په یو ځای کیدلو د هغو مدد کوی، د هغه د قانون په ښکاره توهین کوی نو ایا د ده خوش اخلاقی ده لره د دی خطر ناکو جرائمو ځخه بری کولی سی؟ اوکه حکومت ده ته دمرګ سزا ورکوی نو آیا ځوك انصاف پسند انسان د حکومت دی فیصلی ته ظلم ویلی سی؟ ظاهره ده چه نه دده جرم دومره خطرناك دی چه د دی په موجودګی کی دده د خوش اخلاقی هیڅ حیثیت نسته اوس ته پخپله سوچ وکړه چی کوم سړی د خدای او د هغه درسولانو او دهغه د کتابونو او د هغه دقوانینو باغی وی نو هغه لره محض د هغه دخوش اخلاقی په بناء باندی دجنت مستحق ځنګه جوړ ولی سی؟ (۱)

{والله سبحانه اعلم}

۲۲[شوال ۱۳۸۷هـ (۲)

(۱) د تفصیل د پاره وګوری معارف القرآن ج۴ص: ۱۳۷.

(۲) دافتوی دماهنامه «البلاغ» شماره ذیقعده ۱۳۸۷هـ نه اخستلی سویده.

«د وحدت الوجود مطلب»

سوال: دوحدت الوجود څه مطلب دی اوداعقیده ترکه می صحیح ده؟

ځواب: دوحدت الوجود صحیح مطلب دادی چی په دی کائنات کی حقیقی او مکمل وجود صرف د ذات باری تعالی دی د هغه ځخه سِوا هر وجود بی ثباته دی، فانی او نامکمل دی یو خو ځکه چی هغه به یوه ځخه یوه ورځ فناسی، دوهم ځکه چی هریو شی په خپل وجود کی د ذات باری تعالی محتاج دی لهذا ځومره اشیاء چی په دی کائنات کی موږته په نظر راځی، هغه ته که څه هم وجود حاصل دی لیکن د الله تعالی د وجود مخکی د هغه د وجود هیڅ حقیقت نسته ځکه هغه کالعدم دی ددی نظیر باندی داسی پوه سه لکه چی د ورځی په آسمان باندی د نور دوجی ستوری په نظرنه راځی، هغه اګر که موجود دی لیکن د نمبر وجود په هغه باندی دومره غالب وی چی د هغو وجود په نظر نه راځی هغه اګر که مو جود دی لیکن د نمبرو وجود په هغه باندی دومره غالب وی چی د هغو وجود په نظر نه راځی دغه شان چی الله تعالی چاته حقیقت شناسی سترګی ورکړی وی، هغه چه کله په دی کائنات کی د الله تعالی دوجود معرفت حاصلوی نوټول وجود هغه ته هیڅ ماند بلکی کالعدم ښکاری په قول د حضرت مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ

جب مہر نمایاں ہوا سب چھپ گئے تار
تو مجھ کو بھری بزم میں تنہا نظر آیا

«د» وحدت الوجود» دامطلب صفا او واضح او درست دی دی ځخه مخکی چی د دی فلسفیانه تعبیرات سوی دی هغه ډیر خطرناك دی که په هغه کی غلا وسی، نو ددی سرحدونه کفر سره ملاویږی ځکه د یومسلمان د پاره سیده ساده داعقیده ساتل پکاردی چی په کائنات کی حقیقی او مکمل وجود دالله تعالی دی باقی هر وجود نامکمل اوفانی دی. (۱)

{والله سبحانه اعلم}

۱۲۰ جمادی الاولی ۱۳۸۷هـ (۲)

(۱) د تفصیل دپاره وګوری شریعت وطریقت ص۱۰ ۱۲ مؤلف حکیم الامت حضرت تهانوی قدس سِره.

(۲) دافتوی ماهنامة البلاغه شماره جمادی الثانی ۱۳۸۷هـ ځخه اخستل سویده.

« دانبیاء علیهم السلام دعصمت مسئله »

سوال: عصمت دانبیاء علیهم السلام د ذات دلوازمو څخه دی او که نه؟

۲سوال: ایا انبیاء علیهم السلام ته دنبوت څخه مخکی هم هغه عصمت حاصل وی کم چی دنبی جوړیدو څخه وروسته وی؟

ځواب: عصمت د انبیاء عليهم السلام دپاره لازم دی او دوی څخه په هیڅ وخت کی داصفت جلا کیدلی نسی [1] د دوی چی د کومو خطاګانو ذکر په قرآنکریم کی راغلی دی هغه ټولی خلاف اولی خبری دی چی شرعًا معصیت نه دی خوانبیاء عليهم السلام ته د هغوی د جلالت قدر له وجی په هغه باندی تنبیه وکړی. [2]

۲ ځواب: صحیح داده چی دنبوت څخه مخکی هم دانبیاؤ څخه څه ګناه نه ده سوی [3] الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفی عنه)

احقر محمد عثمانی عفی عنه ۲۳ / ۱ / ۱۳۸۸

{فتویٰ نمبر ۳۰۰[۱۹ الف}

بغیر دتحقیق څخه مسئله بیانول

سوال: که یو سړی بغیر د تحقیق څخه مسئله بیان کړی اومسئله شرعیه نه منی او الله تعالی چی کومه حصه د وارثانو د پاره په قرآن مجید کی مقرر کړی ده هغه نه منی او وایی چی دا دنیا مسئله ده او یو عالم ته کافر وایی او د هغه عالم هرقسم بی عزتی کوی غیبت کوی او هغه سره دښمنی او بغض ساتی او په خاندان کی تفرقه اچوی اوپه قوم کی فرقه بندی کوی، اوپه جوماتِ کی فساد کوی. فسق او فجور کوی د

---

[1] قال فی شرح فقه الاکبر ص: ۷۲. والمختار عند جمهوری اهل السنة العصمة عنها ای عن الصغائر والکبائر غیر المنفردة خطأ او سهواً {الی} والحاصل ان احداً من اهل السنة لم یجوز ارتکاب المنهی منهم عن قصد ولکن بطریق السهو والنسیان ویُسمّی ذالك قوله وفیه ایضًا ص: ۷۱ وفی عصمتهم عن الکبائر عند الجمهور. همدارنګه د تفصیل د پاره وګوری معارف القرآن ج: ۱ ص: ۱۹۵ مسئله عصمت انبیاء او امداد الفتاوی ج: ۵ ص: ۴۰۳. {محمد زبیر}

[2] ایضًا

[3] ایضًا

داسی سړی د پاره په شریعت کی څه حکم دی؟ او هغه جومات ته داخلیدی سی او څوک چی د چاحق تلفی کوی د داسی سړی څه حکم دی؟

ځواب: داسی سړی فاسق دی مسلمانانو ته پکاردی چی هغه په نرمی سره پوه کړی اوکه نه منی نو د هغه دی د بیزاری اظهار وکړی د فرائضو په باره کی چی دا وایی: {دنوی مسئله ده} نو ددی په مطلب پوه نه سوم او د هغه جومات ته داخلیدل یانه داخلیدل د دی جملی په مطلب باندی موقوف دی.

{والله سبحانه اعلم}

الجواب الصحیح
بنده محمد شفیع عفاالله عنه

احقرمحمد تقی عثامنی عفی عنه
۱۳۸۸۱۱۱۲۱هـ

دیو انجمن په رکنیت فارم کی دالله تعالی سره د رسول الله ﷺ

« شاهد جوړولو حکم »

سوال: د یوانجمن دغریتوب فارم عبارت د مندرجه ذیل دی آیا په دی کی څه شق څخه پوره کیدو باندی په ممبر ګنهګار وی او که نه ؟ او ګناه به کومه یوه وی؟ صغیره یاکبیره؟ زه الله رب العزت او د هغه رسول مقبول ﷺ شاهد جوړولو سره اقرار کوم چی ماته دی بزم سره پوره پوره اتفاق دی او زه به د بزم فیس مستقل اداء کوم نورو ته به درکنیت ورکوم او دا بزم مستحکم جوړول به خپل فرض عین ګنم، دردرهائش دتبدیل څخه به دی خبروم الله تعالی دی ماته د دی عهد د پوره کولو توفیق راکی.

ځواب: اول خوپه دی ځان پوه کړه چی الله تعالی شاهد جوړول او څه عهد کول خو صحیح دی لیکن سرکار دو عالم ﷺ شاهد جوړول اوعهد کول صحیح نه دی، ځکه چی په هرځای کی حاضر او ناظر کیدل د الله تعالی صفت دی [1] او هیڅوک ولی یا نبی د الله تعالی شریك نه دی لهذا د پورتنی معاهدی په الفاظو کی ترمیم کول ضروری دی، د دی څخه وروسته څوك که دا معاهده کولوسره فارم ډك کړی په هغه باندی دعهد پابندی ترهغه وخته پوری لازمه ده ترڅو چی هغه د دی عهد څخه واضح طور باندی د

---

[1] وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ {الایه: الحدید:۴} مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا... {المجادله:۷}

دست برداره کیدو اعلان ونکړی په دی دوران کی که هغه په هغه کی د څه خبری خلاف ورزی کوی نودکبیره گناه مرتکب به وی ځکه چی عهدکول او هغه نه پوره کول لوی گناه ده. لقوله تعالی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ (١)

{والله سبحانه اعلم}

۱۳۹۲\۱۰\۵هـ

{فتوی نمبر ۲۳۵۴\۵۲۷}

آیاد قیامت په ورځ به دځنا ورو هم محاسبه وی؟ ایاپه جنت کی به ښځوته روئیت باری کیږی؟

سوال: دقیامت په ورځ کله چه انسانانو لره د حساب کتاب د پاره ولاړه ولی سی نو آیا د انس او جن څخه علاوه نور حیوان به هم ولاړولی سی؟ په حدیث کی د ښکر والا چپلۍ څخه د گنجی بزی بدله اخستو ذکر راځی د یو ملگری خیال دی چی د قیامت په ورځ به ټولو حیوانانو لره د حساب کتاب وغیره دپاره ولاړه ولی سی یو ملگری چی عالم او فاضل دی وایی چی قرآن اوسنت ته صرف دانسان مکلف کیدل معلومیږی ځکه ددوی څخه ښه دیو بل مخلوق دحساب اوکتاب دپاره د ولاړولو سوال نسی پیداکیدی او دا حدیث قابل د تاؤیل دی؟

ځواب: د حیوانانو د یوبل څخه بدله اخستل د بعضو احادیثو څخه ثابت دی اودا دغیر مکلف کیدو خلاف نه دی (٢) بلکی صرف د مظالمو حساب به واخلی نو داهم لری نه ده

(١) سورة المائده}

(٢) وفی تفسیر روح المعانی {ج.١٠ ص٥١} وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ولا يحضر في القيامة غير الثقلين وقيل بعثت للقصاص فيحشر كل شيء حتى الذباب وروي ذلك عن ابن عباس أيضاً وعن قتادة وجماعة وفي رواية عن الحبر تحشر الوحوش حتى يقتص من بعضها لبعض فيقتص للجماء من القرناء ثم يقال لها :موتي: فتموت وقيل إذا قضى بينها ردّت تراباً وفيه ايضا بعد ايظهر ج:٣{ص٥٢-٥١} فقد اخرج مسلم والترمذی عن ابی هريره فی هذه الاية قال: قال رسول الله ﷺ: لَتودنّ الحقوق الى اهلها يوم القيامة حتى يقادللشاة الجماء من الشات القرناء. اومفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا آیت لاندی معارف القران ج:٨} ص ٢٥٩. لیکی د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چی دقیامت په روځ به ټوله مځکه سره برابره سی چی په هغه کی انسانان، جنات او مځکه لغری گرځیدونکی حیوانان ټول به جمع سی

خو حقیقی علم الله تعالی ته دی او د دی مسئلی تعلق دانسان دعمل سره نه دی، نو ددی په بحث او تدقیق کی پریوتل فضول دی.

٢سوال: په جنت کی چه څنگه سړوته رویت دباری تعالی کیږی نودغه شان به ښځوته هم کیږی؟ ددی په ضمن کی د یوصاحب رایی داده: چی خلگ اوښځوته به یوځای رویت نصیب کیږی او د پردی حکم به هلته نه وی ځکه چی پرده صرف د دنیا دپاره ده، د دوهم صاحب رایه داده چی په جنة کی به هم پرده وی اوښځوته به تعالی رویت نه نصیب کیږی اوکه نصیب هم سی نو سړو سره به نه وی.

ځواب٢: د اکثرو حضراتو عقیده داده چی ښځوته به هم رویت وی (١) لکه چی شیخ عدالحق محدث دهلوی رحمة الله علیه تصریح کړی ده نور د دی تفصیلات الله تعالی پیژنی دی قسم بحثونو کی د پریوتلو په ځای عملی مسائلو معلوملو کی وخت صرف کول پکار دی. فقط

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح — احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

بنده محمد شفیع عفاالله عنه — ۱۳۸۸\۵\۲۷ {فتوی نمبر ۲۳۱\۱۹ الف}

د حیاة النبی ﷺ عقیده

سوال: محترم مولانا محمد تقی عثمانی صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

مایوخط تاسی ته درلیږلی وو د ځواب: څخه محروم پاته یم په هغه خط کی دامذکور وه چه د قرآن دمطالعی څخه ماته داسی محسوس سوه چی مسلمان عام طور باندی په دینی معاملاتو کی د قرآن د احکامو خلاف عمل کوی داسی ولی دی؟ په دی پوه نه سوم، په قرآن کی واضحه ښولی دی چی هر سړی ته به مرگ راځی او بیابه هغه د قیامت په ورځ بیرته دوباره ولاړیږی حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه د حضور ﷺ دوفات په ورځ

اوکه په حیوانانو کی یوپربل ظلم کړی وی نو انتقام به تری اخستل سی تردی که چیری دمتکبرو والا بزه بغیر ښکرونو بزه وهلی وی نونن به د هغه بدله هم واخستل سی کله چی د دوی فرغت وسی نوټولو حیوانانو ته به حکم وسی چی خاوری سی نو هغه ټول به خاوری سی په دغه وخت کی به کافر خلگ تمنا کوی چی های کشکی موږ هم حیوانان وای او اوس خاوری سوی وای حساب کتاب او د جهنم سزا څخه بچ سوی وای وکذافی روح المعانی ج:٣، ص: ٢٢.

(١) دتفصیل دپاره وگوری: اعتقاد اهل السنة والجماعة للامام ابن الحسن منصور البری اللانکا رحمة الله علیه ص ٥٠٣ الی ٥٧٨}

دی بنه وضاحت کړی وو، خوعام مسلمانان د حیاة النبی ﷺ او حیاة الولیاء قائل دی
او د هغوی د تصرفاتو عجیب او غریب واقعات بیانوی.

ځواب: مکرم او محترم! اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ستاسی مخکی خط ملاویدل ماته په یادنه دی لیکن ستاسی دسوال ځواب په لاندی
ډول عرض دی:

انبیاء کرامو علیهم الصلوة والسلام سره ټولو مخلوقاتوته مرګ راځی، البته دمرګ
څخه وروسته هرانسان ته دبرزخی ژوند سره واسطه پریوځی دبرزخی ژوند مطلب صرف
دادی چی د انسان دروح دجسم سره څومره تعلق پاته کیږی داتعلق دعامو انسانانو سره
هم وی خو دومره کم چی د هغه اثرات نه محسوسیږی، د شهداؤ د ارواحو تعلق د هغوی
دجسم سره د عامو انسانانو په مقابله کی زیات وی ځکه قرآنکریم هغوی احیاء ثابت
کړی دی. (۱) او د انبیاء کرامو علیهم السلام درجه د شهیدانو څخه هم لوړه ده د دی وجی څخه د
احادیثو مطابق د هغو د ارواحو تعلق د جسم سره د ټولو څخه زیات دی تردی چی د
هغوی میراث هم نه تقسیمیږی او د هغوی د ازواجو نکاح هم بله نسی کیدلی لکه چی
په قرآنکریم کی دی (۲) ځونکه د دوی د ارواحو تعلق د ټولو څخه زیات وی، ځکه
دشهیدانو په شان یی دوی هم احیاء ګرځولی دی خو داحیات داشان نه دی چی دمرګ
څخه مخکی ورته حاصل وو همدارنګه په قرآن اوسنتو کی د دی هم څه دلیل نسته چی
په دی حالت کی انبیاء کرامو علیهم السلام ته په نورو باندی دتصرف څه اختیار حاصل دی که
چاهم داسی واقعه لیدلی وی نو د هغه د الله تعالی د اړخه دهغوی صورت مثال کیدی
سی چی دهغه هغوته علم کیدل ضرورنه دی.

والله اعلم ۱۴۲۲/۸/۱۴هـ

{فتوی نمبر ۵۰۵/۱۰}

«دشیخ احمد دمروجه وصیت نامی حکم»

سوال: کوم اشتهار چی خلک کله کله شائع کوی یعنی هغه معروف وصیت نامه چی د
حضور ﷺ دروضه اطهر خادم طرف ته منسوب وی په هغه کی چی څه لیکلی دی هغه
صحیح دی اوکه نه؟ مثلاً څوک چی دا ووایی هغه دی شائع کړی که داسی ونکړی نو

(۱) لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ط بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ ط {البقره: ۱۵۴}

(۲) وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا {الاحزاب: ۵۳}

نقصان به پورته کوی انکار کوونکی به په سخت عذاب کی مبتلاکیږی څوک چی یی
ووایی اوشائع یی نکړی مسلمان نه پاته کیږی.

ځواب: په منسلکه وصیتنامه کی بنیادی طور سره چی کومه خبره کول سوی ده مسلمان
دی خپلو ګناهونو څخه توبه وکاږی او داسلامی احکامو مطابق دی ژوند تیروی هغه
بالکل صحیح او درسته ده د دی چه څومره زیات څخه زیات اشاعت وکړی نو بهتره ده.
لیکن د ویونکی په ذمه خاص تعداد کی بعینه همدا وصیتنامه شایع کول لازمی
ګرځول، اوڅوک چه ونه کولی سی د نقصان د مکی ورکول، نوشرعًا د دی څه اصلیت
نسته.

{والله سبحانه اعلم}

{احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه}

۱۳۸۷/۱۲/۳هـ

{فتوی نمبر ۱۸/۱۳۹۰ الف}

دا وصیتنامه دڅوکالو څخه شائع کیږی تقریبًا {۸۰} اتیا کاله یی وسول کوم سړی
پخپله جوړه کړی ده، دروضه اطهر کم خادم شیخ احمد څخه اوس سته او نه هغه وخت
کی وو دا وصیان ورکول د دمکی څه پرواه مه کوی.

{محمد عاشق الهی بلند شهری عفی عنه}

هرکله چی شیطان جنت ته نسی داخلیدلی نو بیایی حضرت ادم علیه السلام ته څنګه دوکه ورکړه؟

سوال: جنت ته خو شیطان نسی تللی نو حضرت ادم علیه السلام ته یی دوکه څنګه ورکړله؟ او
یا دوکه یی حضرت ادم علیه السلام ته ورکړله اوکه حضرت ادم علیه السلام او حوا رضی الله عنها دواړوته یی
ورکړل؟ او اول یی چاته دوکه ورکړله؟

ځواب: په قرآنکریم کی صراحت دی چی شیطان وسوسه واچوله (۱) او ددی کار د پاره
جنت ته تلل څه ضروری وو؟

{والله اعلم}

۱۳۹۷/۶/۱۴هـ

(۱) فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ .الایه {سورة الاعراف: ۲۰}

{فتوی نمبر ۲۸۱۲۰۳ب}

فصل فی کلمات الکفر وافعال الکفر ومایکون کفراً ومالا یکون کفراً

{د کفریه اوغیره کفریه کلمات او افعال سره دمتعلق مسئلو بیان}

« موسیقی اوریدونکی ته کفرویل »

سوال: ایا میراسی سندری ویونکی کافردی؟ {۲} که نه وی نو زموږ خواته یو سړی هغه ته کافر وایي، ایا دا صحیح ده؟

ځواب: دموسیقی په آلاتو کی مشغولیدل سخته گناه ده په احادیثو کی په دی باندی سخت عذاب راغلی دی، لهذا د هر مسلمان د پاره د دی څخه بچ کیدل پکار دی (۱) خو د دی گناه کبیره مرتکب کافر نه دی، ترڅو چی د هغه عقائد کفریه نه دی نه وی.

{۲} کومو صاحبانو چه میراثیانوته کافر ویلی دی، هغوی سخته غلطی کړی ده، هغوی ته توبه او استغفار کول پکار دی (۲)

{والله اعلم}

الجواب الصحیح — احقر تقی عثمانی عفی عنه

محمد عاشق الهی عفی عنه — ۱۳۸۷۱۱۲۱۳۰

دیو کافر ملک ویزه حاصلولو دپاره د ویزی په فارم کی خپل ځانته دقادیانی لیکلو حکم

سوال: الله تعالی دی وکړی چی حضرت په عافیت کامله وی په دی ورځو کی دا مسئله

---

(۱) تفصیل دپاره وگوره دمفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره کتاب اسلام او موسیقی.

(۲) وفی مشکوة المصابیح باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ج:۲ ص۴۱۱ رقم الحدیث۴۸۱۴ {طبع قدیمی کتب خانه} سباب المسلم فسوق وقتاله کفر وفی جامع الترمذی ج:۲، ص۸۸ {فاروقی کتب خانه} عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال: ایما رجل قال لا خیه کافر، فقد باءبها احدهما، هذا حدیث صحیح.

دغور لاندی ده چی بعضی مسلمانان دکوم کافر ملك ویزه په اسنتیاسره حاصلولو د پاره یا یوبل دنیوی مصلحت دپاره په پاسپورټ اود ویزی په فارم کی خپل ځان ته قادنی لیکلی، دومره خبره خوسمه سوی ده چی دا ډیر قبیح حرکت او لویه گناه ده خو سوال دادی چی ددی سړی به څوك تکفیر کوی اوکه نه؟ دلته په دارالافتاء کی استفتاء هم راغلی ده په دی سلسله کی په غور کولو سره که مه نقطه نظر مخ ته راغلی دی دهغه خلاصه په خدمت کی پیش ده په اخره کی یو څو مستقله عبارتونه هم ذکر سوی دی. تاسی ته درخواست دی چی دخپلی رایی گرامی څخه موخبر کړئ.

{۱}:- دیوی کلمی په موجب دکفر کیدو نه کیدو کی اختلاف وی نو احتیاط په عدم تکفیر کی وی.

{۲} کومه کلمه چی موجب د کفروی دهغه دتلفظ او تکلم څو صورتونه دی:

{۱}:- که ناسیاً یاخطاء تکلم وی په دی صورت کی په اتفاق سره تکفیر نسی کولی

{۲}:- که عامدا تکلم وی نو معلومیږی چی دعمد څخه مراد دادی چی دتکلم قصد یی هم وی د دی کلمی دموجب کفر کیدو علم هم ورته وی او د کفر اراده یی هم وی، په دی صورت کی په اتفاق سره تکفیر کولی سی.

{۳}:- جهالت سره تکلم وی یعنی تکلم خوپه ارادی سره وی خوداورته معلوم نه وی چی په دی سره سړی کافر کیږی په دی صورت کی اختلاف دی د تکفیر او عدم تکفیر دواړه قولونه دی.

{۴}هازلاً تکلم وی یعنی تکلم خویی په ارادی سره وی او ددی موجب کفر هم ورته علم وو خو ایقاع حکم یعنی د کفر اراده یی نه وه په دی صورت کی به تکفیر کول کیږی.

{۵}:- لاعباً تکلم وی یعنی د استهزاء په توگه د کفر کلمه وویلی سی دا استخفاف په ایمان کی دی او د ده به هم تکفیر کول کیږی.

د دی تفصیل تقاضاداده چی خپل ځانته د قادیانی لیکلو په وخت کی علم وی چی داجماعت دکفردی خو اعتقاد دکفر نه وی نو دابه لاعباً یا هازلاً کفر شمیرل کیږی په دی صورت کی به تکفیروی اوکه موجب کفر کیدو علم نه کمیدو د دی وجی یی و لیکل سول نو د اختلاف د وجی احتیاط په دی کی دی چی تکفیر ونه سی څو عبارتو نه دادی:

فی البحر: وفی فتح القدیر: ومن هزل بلفظ کفر ارتد وإن لم یعتقده للاستخفاف فهو ککفر العناد والالفاظ التي یکفر بها تعرف في الفتاوی اه {ج: ۵ ص ۱۲۰ طبع ایچ ایم

سعید} وفی الفتاوی الخیریه: وفی الفتاوی اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمداً لکنه لم یعتقد الکفر وقال بعضهم: یکفر: وهوالصحیح عندی لانه استخفف بذنبه اه وفی الخلاصة: اذاکان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنع التکفیر فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینًا المظن بالمسلم: زاد فی البزایة الا اذا خرج بارادته موجب الکفر فلاینفعه التاؤیل للظن بالمسلم: زاد فی البزازیة الا اذا خرج بارادته موجب الکفر نهایة فی العقوبة فیتدعیٰ نهایة فی الجنایة، ومع الاحتمال لا نهایة اه قال فی البحر: والحال ان من تکلم بکلمة الکفر هازلاً او لاعباً کفر عند الکل والاعتبار باعتقاده کما صرح به قاضی خان فی الفتاوی، ومن تکلم بها خطأ او مکرهًا لایکفر عندالکل ومن تکلم بها عامدا عالمًا کفر بها عند الکل ومن تکلم بها اختیاراً جاهلاً بانها کفر ففیه اختلاف والذی تحرران لایفتی بتکفیر مسلم امکن حمل کلامه علی محمد حسن او کان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة فعلی هذا فاکثر الفاظ الکفیر المذکورة لایفتی بالتکفیر بها، ولقد الزمت نفسی ان الافتی بشیء منها والله اعلم (الخیریه علی هامش الفتاوی تنقیح الحامدیة:۱ ص۱۷۷) (۱)

وفی احکام القرآن للجصاص: ولان الفرق بین الجَد والهزل ان الجاد قاصد الی اللفظ والی ایقاع حکمه والهازل قاصد الی اللفظ غیر مرید لایقاع حُکمه. ج: ۳ ص۱۹۳. (۲)

وفی التفسیرات الاحمدیه: وکذا غیره المکره اذا اجری علی لسانه کلمة الکفر استهزاء اوجهلاً یکون کافراً. فیکون الایة دلیلاً علی ان رکن الایمان التصدیق والاقرار جمیعاً ولکن التصدیق لایحتمل سقوط بحال والاقرار یحتمل سقوط بحال والاقرار یحتمله فی الحالة الاکراه {ص۵۰۱} (۳)

بیادوی خبری نوری هم قابل د غوردی چی دعامو خلګو دینی ګرفت دومره کمزوری سوی دی چی دتکفیر دفتوی معلومیدلو باوجود هم ډیره دنیاوی مفادوته ترجیح ورکوی او داحرکت به نه پریږدی او د تکفیر د فتوی دعلم کیدو څخه وروسته به دا جرئت په هر حال کفروی، نو د تکفیر د فتوی ورکولو په صورت کی دغه مضائقه ده چی دتکفیر څخه دېچ کیدلو یوه لاره ده هغه به هم بنده سی.

(۱) طبع مکتبه رشیدیه الکویته.
(۲) [illegible]بع سهیل اکیډ می لاهور.
(۳) [illegible]بع کریمی بمبئی.

دوهمه خبره داده: که تکفیر ونکړی توخطره ده چی تکفیر نه کول به دد ی حرکت حوصله افزائی باعث وی په دی دواړو خبرو باندی غور کولو سره دمصلحت تقاضا دامعلومیږی چی دمسئلی ښوولی دی اویا د لیکلو په وخت کی صفا تکفیر خودی و نکړی چی اول حرج لازم نسی، خو د مذمت او وعید الفاظ دی سخت ورته و ښو ول سی، خو دابه هلته صحیح وی چی فقهی طور باندی ددی ګنجائش وی.

ځواب: دکوم کافر ملك د ویزی حاصلولو دپاره یادځه بل څه دنیوی مصلحت دپاره په پاسپورټ او ویزه فارم کی د مذهب په خانه کی دکوم مسلمان دیده دانسته خپل ځانته قادیانی لیکلی صراحتاً د کافر مذهب په خانه طرفته خپل نسبت کول دی چی سراسر موجب د کفردی که څوك داسی وکړی نوپه داسی سړی واجب دی چی فوراً دصدق دزړه سره توبه وکاږی او د ایمان تجدید وکړی او د بیا دپاره د داسی کولو څخه بالکل پرهیز وکړی، تاسی چی په خط کی کوم عبارتونه لیکلی وه د هغه مذکوره مسئلی سره تعلق نسته او د کم دنیوی غرض د پاره خپل ځان غیر مسلم ظاهرولو په باره کی د ډیر تلاش باوجود څه واضح تصریح پیدانه سو البته درجه ذیل جزئیاتو سره دبیان سوی حکم تائید کیږی.

فی الهندیة: مُسلِمٌ قال أنا مُلحِدٌ یَکفُرُ ولَو قال ما عَلِمتُ أنّهُ کُفرٌ ولَایُعذَرُ بهذا...... وفی الیتمة سالیت والدی عن رَجل قال: انافرعون او ابلیس، فحینئذٍ یکفر کذا فی التاتار خانیة. (۱)

وفی الهندیة: مسلم رآی نصرانیة سمینة فتمنٰی ان یکون هو نصرانیا حتی یتزوجها یکفر. کذافی المحیط ج: ۲، ص۲۷۷ (۲) والله اعلم.

{بنده عبدالروف سکهروی} ۱۴۱۴\۲\۲۱هـ

دا ځواب د احقر په هدایت باندی لیکل سوی دی په اصل کی کومه کلمه دکفر ویل بیله خبره ده، او خپل ځان د یو معروف کفر مذهب ته منسوب کول بیله خبره ده کم عبادتونه چی لیکل سوی دی هغه د اول الذکر صورت سره متعلق دی ثانی الذکر سره نه دی لهذا په داسی صورت کی د احقر رجحان دی طرفته دی چی پاسپورټ باندی د مذهب په خانه کی خپل ځانته د «مسلمان» په ځای قادیانی یا د یوبل مذهب پیروکار لیکل چی

(۱) الفتاوی الهندیه:ج:۲، ص ۲۷۹. {طبع مکتبه رشیدیه}
(۲) الفتاوی الهندیه. ج:۲. ص۲۸۰. {طبع مکتبه رشیدیه}

یو مستقل حیثیت لری موجب د کفر دی چی دهغه څخه توبه او تجدید د ایمان ضروری دی. {والله اعلم}

احقرمحمد تقی عثمانی عفی عنه. ۲۱\۴\۱۴۱۲هـ {فتوی نمبر ۲۵\۱۲۳}

دقادیانیت څخه برائت او کوم یو مسلمان ته دقادیانی لیکلو حکم

سوال: السلا علیکم ورحمة الله وبرکاته مسمّیٰ بشیر احمد شاه ولد سید محمد اسماعیل شاه سکنه سمارو شهر ضلع نوپاکر سنده.په لاندی ډول عقیده لرم، زه په الله تعالی او د هغه په ټولو فرشتو او د الله تعالی په ټولو کتابونو او د هغه په ټولو رسولانو او د قیامت په ورځ باندی او د تقدیر په ښه او بد باندی اوړ مرګ څخه وروسته دوباره ژوندی کیدو باندی کامل ایمان لرم، په ایمان مجمل او مفصل باندی ښه پوره یقین ساتم زه حلفیه اقرار کوم چی زه د خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ په ختم نبوت باندی مکمل اوغیره مشروط طور باندی ایمان لرم او داچی زه داسی شخص پیروکر نه یم چی د حضرت محمد ﷺ څخه وروسته د دی لفظ د هرڅنګه مفهوم یا د هرڅنګه تشریح په لحاظ سره د پیغمبر کیدو دعویدار وی او نه داسی دعویدار پیغمبر یا مذهبی مصلح منم، نه د قادیانی ګروپ سره او نه د لاهوری ګروپ سره متعلق لرم یا خپل ځانته احمدی وایم، که د حضور ﷺ کم سړی د هری معنیٰ په لحاض یا اعتبار سره نبی یامذهبی مصلح کیدو دعویٰ کوی نو هغه او د هغه منونکی لره مرتد او کافر ګنم، دغه شان میرزا غلام احمد قادیانی او د هغه منونکی احمدیٰ او لاهوری ګروپ په ټولو غیر مسلم او د اِسلام څخه خارج کیدو باندی ایمان لرم، زما دابیان حلفیه دی اوزه د کلمه طیبه ویلو سره لآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ، او الله تعالی حاضر او ناظر ګڼلوسره بالکل صحیح او درست لیکم ستاسی څخه داخواست دی چی پورته ذکر سوی عقیده مدنظر ساتلو سره فتویٰ صادره کړی:

{۱} دعقیدی په اعتبار سره زه شریعت محمدیٰ مطابق مسلمان یم او که نه؟

{۲} ایا ماته قادیانی ویل درست دی؟

{۳} که کم سړی ماته قادیانی وایی نو په شریعت محمدیه کی د هغه د پاره حکم

ځواب: که ستاهم هغه عقائد وی چی په سوال کی مذکوردی او د دی څخه علاوه کومه فاسده عقیده نه لری نو ته بغیر د شبهی څخه مسلمان یی.

{۲} مندرجه سوال د عقائد وحامل سړی قادیانی نسی کیدی اوده ته قادیانی ویل هیڅښله صحیح نه دی.

{۳}: یو مسلمان ته بغیر دڅۀ وجی قادیانی ویل سخته ګناه ده (۱) که نا واقفیت یابی احتیاطی د وجی ورته ویلی وی نو هغه غلط فهمی د لری کولو کوشش کول پکاردی.

والله سبحانه اعلم

۱۷\۸\۱۴۰۳هـ

{فتوی نمبر ۱۴۴۴\۳۴ح}

« علماوو ته دبد رد ویونکی حکم »

سوال: یوسړی علمادین ته لوطی وایی او وایی چی دین خرڅول ددوی پیشه ده، اوعلم دین ښولو سره خلګ ګمراه کوی ددین عالمان بد معاش دی مدارس عربیه دګمراهی اډی دی، او جوماتونه اصطیل وګرځوی اِو د مزید لغویاتو اوبی هوده خبرو ویل په دی وخت کی مذکوره سړی پیشه جوړه سوی ده، او موصوف عاقل، بالغ او ذی فهم سړی دی اوس شرعًا د دی سړی څه حکم دی؟

ځواب: مذکوره کلمات سخت ګستاخانه دی او د تحقیق څخه بغیر دعلماوو پوره جماعت ته داشان قبیح او شنیع کلمات ویل نه صرف بد ترین فسق او ګمراهی ده، بلکی ددی کلماتو د کلمات کفر کیدو به اندیښنه وی. (۲) په ذکر سوی سړی بلکی هغه ته احتیاطاً د ایمان تجدید او د نکاح تجدید کول هم پکاردی، او ترڅو چی هغه دخپل

---

(۱) وفی مشکوة المصابیح {باب حفظ اللسان واغیبة والشتم ج۲، ص۴۱۱. رقم الحدیث ۴۸۱۴ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر. وفی الهدایه ج:۲، ص ۵۳۵ {طبع مکتبه شرکة العلمیه} وکذا اذا قذف مسلمابغیر زنا، فقال یافاسق یاکافر فوجب التعذیر.

(۲) وفی خلاصة الفتاوی ج:۴، ص ۳۸۸ {مکتبه رشیدیه کویته} دا الفاظ الکفر من اغض عالمًا بغیر سبب ظاهر خیف علیه الکفر: وراجع ایضًا شرح فقه الاکبر لملاعلی القاری ص ۴۷۰ {طبع دار الاشاعت الا سلامیه بیروت}.

دی عمل څخه توبه ونه باسي نو د هغه سره دوستانه تعلقات مه ساتی (۱).

والله إعلم

۱۴۰۰.۱۳۲۳ه

{فتوی نمبره ۳۱۱۴۰۵ب}

«د حدیث ناقابل اعتبار کیدلو د جهنم دائمی نه کیدلو عقیده ساتل»

سوال: څه فرمایی علمایی دین او مفتیان د شرع مندرجه مسئلی کی چی:

{۱} زموږ د علاقی د بعضو حضراتو عقیده ده چی په موجوده وخت کی د احادیثو کومه ذخیره ده هغه غیر معتبر او د سوزولو قابل ده {معاذ الله}

{۲}: یو بل داعقیده ساتی چی جنت دائمی او غیر فانی دی خوجهنم دائمی او ابدی نه دی یعنی جهنم به دیوی مدی څخه وروسته فانی او غیر ابدی وی او وایی چی ددی دانتها څخه وروسته انسانان ټول په ټوله یعنی مشرك او کافر به {رحمت یعنی جنت ته} ځی د دی حدیث څخه استدلال کوی: «ان رحمتی سبقت علی غضبی» او وسره ورسره دمولانا شبلی نعمانی رحمة الله علیه کتاب سیرت النبی څلورم کی د دوزخ د انتها مبحث خلګوته ښولو ښولو سره د خلګو ذهنونه خراپوی اوس تاسی ووایاست چی ددی خلګو عقیده شریعت محمدی مطابق ده او که نه؟

ځواب: مذکوره عقائد سخت ګمراهانه عقائد دی مخکنی عقیده چی د احدیثو ټوله ذخیره {معاذ الله} د اعتبار قابل نه ده، کفریه عقیده ده چی د دی څخه وروسته انسان داسلام ددائری څخه خارجیږی (۲) او درئمه عقیده هم د کفر اندیښنه ده، د داسی

---

(۱) دتفصیل دپاره وګوری: فتاوی رشیدیه ص: ۲۸. او امداد الفتاوی. ج: ۵. ص ۳۹۳ او امداد الاحکام ا ص ۱۲۵}

(۲) وفی البزایه علی هامش الهندیه ج: ۲. ص ۳۲۸ {طبع حقانیه پشاور} اذا استخف بسنة او حدیث من احدیثه ﷺ کفر وفی الهندیه. ج:۲ ص: ۱۵:۲ {طبع مکتبه رشیدیه کویته} {الباب التاسع احکام المرتدین} من انکز امتواتر فقد کفرو من انکر المشهور یکفر عند البعض، وقال عیسی ابن ابان: یضلل ولایکفرو هو الصحیح ومن انکر خبر الواحد لایکفر غیرانه یأثم بترك القبول وفی شرح فقه الاکبر ص ۴۷۳.

عقائدو سړی سره چی ترڅو هغه توبه ونه باسی دوستانه خصوصی تعلقات ساتل پکارنه دی.

{والله اعلم}. ۱۴۰۰.۱۹۱۲۴ هـ. {فتوی نمبر ۳۱۱۱۲۷۲.}

«مسلمان ته دکافر ویونکی حُکم»

سوال: څه فرمایی علمایی دین چی مسمیٰ مولانا ذاکر الله سواتی حال ساکن لوند خورده اده په دی باره کی فتوی جاری کړی ده، د انجمن اشاعت التوحید والسنت ټول افراد کافر او د هغو د ښځوسره نکاح ناجائز ده، او محمد بن عبدالوهاب نجدی او ابن تیمیه او اسماعیل شهید او دیوبندیانو ته هم کافر وایی، ایامولانا موصوف ددی فتوی په رڼا کی کافر دی او که نه؟

ځواب: کم مسلمان ته کافر ویل سخته ګناه او څوك چی داسی وایی هغه فاسق (۱) دی خو د دی غلطی په وجه هغه ته مطلقًا کافر نسی ویلی (۲) ترڅو چی د هغه نورو بنیادی قعائد خراب نه وی، خو د کفر د خطری څخه خالی نه دی.

{والله سبحانه اعلم}

الجواب الصحیح
بنده محمد شفیع عفاالله عنه.

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۴۰۱۱۷۱۵هـ

{طبع دار لبشائر الاسلامیة بیروت فصل فی العلم والعلما} من قال الفقه یذکر شیاً من الطمَ او یروی حدیثًا صحیحًا او ثابتًا لا موضوعًا، هذا لیس بشیء. کفر. الخ.

(۱) وفی مشکوة المصابیح باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ج: ۲، ص۴۱۱ رقم احدیث ۴۸۱۴ (طبع قدیمی کتب خانه) سباب المسلم فسوق وقتاله کفر.

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: ایمارجل قال لِا خیه: کافر: فقد باء بها احدهما هذا حدیث صحیح جمع الترمذی ج۲ ص ۸۸ {طبع فاروقی کتب خانه} وفی اللمعات والطیبی: انه محمول علی المستحل لذالك ..... او لانه فعل مثل فعل الکافر. {حواله مذکوره} وفی الدرالمختار ج:۴ ص ۲۲۹. ۲۳۰. واعلم انه لایفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره خلاف ولوکان ذالك روایة ضعیفة وقال الشامی تحت مطلب فی حکم من شتم دین مسلم {ج۴ ص ۲۳۰} ثم ان مقتضی کلامهم ایضًا انه لا یکفر بشتم دین مسلم الا یحکم بکفره لامکان التاویل ثم رایته فی جامع الفصولین حیث قال بعد کلام اقول وعلی هذا ینبغی ان یکفرمن شتم دین مسلم ولکن یمکن التاویل بان مراده اخلاقه الردیئة ومعاملته القبیحة للحقیقة دین الاسلام فینبغی ان لایکفر حینئذٍ. {والله تعالی اعلم}

«{که فلانی کار وکړم نو کافر دی سم ویلو حکم}»

سوال: که ښځی خوواری وویل: اوس می هم لمونځ نه دی کړی نو «من ترك الصلوة متعمداً فقد کفر» یاکه ښځی وویل: که فلانی کار وکم نو کافره دی سم او هغه کاریی وکی یایی په هیره څه کفریه فقره وویله {د کفر حاصلولو په غرض نه} نو ایا په دی صورت کی به هغه کافره سی؟

ځواب: قصداً لمونځ پریښول سخته شدید ګناه ده لیکن په دی سره انسان نه کافر کیږی [1] دغه شان که څوك دا ووایی: که زه فلانی کار وکم نو کافر دی سم، نودومره ویلو سره هم نه کافر کیږی اوکه هغه کار هم وکی نوبیاهم نه کافر کیږی الاّ دا چی هغه پوهیږی چی په دی کار کولو سره به زه واقعی کافر سم، او بیاهم په کفر راضی کیدلو سره هغه کار وکړی.

لمافی الدرالمختار وان فعل کذافهو کافر، والاصح ان الحالف لم یکفر علقه بماض او آت ان کان عنده فی اعتقاده انه یمین، وان کان عنده انه یکفر فی الحلف یکفر فیها.؟ {شامی ج: ۳. ص: ۵۵} ([2]) والله اعلم. ۱۳۹۷\۲\۱۲هـ} {فتوی نمبر ۲۸\۲۰۶ ب}

{زه هندوهم دویلو حکم}

سوال: د هغه سړی په باره کی څه حکم دی چی هغه ته وویل سی چی درمضان میاشت ده دقرآن پاك تلاوت ولی نه کوی؟ او د دی ځواب دا ورکړی، چی زه مسلمان نه یم زه خو هندو یا سکه یم، ایا هغه مسلمان پاته کیږی؟ او آیا د هغه نکاح باقی پاته کیږی؟

ځواب: دا کلمه چی هو زه مسلمان نه یم هندو یاسکه د کفر کلمه ده او که ددی هم هغه مطلب مراد دی چی د الفاظو څخه په ذهن کی راځی نو انسان د دی کلماتو په ویلو سره

---

[1] وفی درالمختار ج:۱. ص ۲۳۵ وتارکها عمداً مجانتاً ای تکاسلاً فاسق..... الخ وکذا فی شرح العلم النوی جلد۱ ص ۲۱؛

[2] الدرالمختار ج: ۳ ص: ۷۱۷، ۷۱۸ وفی بزازیة علی هامش الهندیه ج: ۲ ص ۳۲۲ (طبع رشدیه کویټه) ان فعل کذا فهو یهودی ثم اتی بالشرط وان کان عنده من اتیٰ بهذا الشرط لا یکفر کانت عله کفارة الحلف، وان حلف بهذه اعنی بقوله هویهودی اونصرانی او مجوسی ان کان فعل کذا وقد کان فعله هو عالم بفعله لایلزم الکفارة لانه غموس وقد اختلف الاجوبة فی کفره والمختار ماقال السرخی ویکفرانه ان کان کفراً عنده والحلف بهذا فهو کافر لانه رضی بکفر نفسه، والرضا بکفر نفسه بلانزاع ...الخ

کافر کیږی ([1]) داسی سړی ته دتوبی څخه وروسته دایمان تجدید اود نکاح تجدید کول لازم دی اوکه مقصد یی څه بل څه وی نو هغه دی او لیکی او دوباره دی سوال وکی تجدید دایمان او نکاح په هر صورت کی کول پکار دی ځکه چی دا لویه خطرناکه او سنګینه جمله ده الله تعالی دی هر مسلمان دداسی خبری کولو څخه اوساتی. امین. والله اعلم. {۲۶- ۱۴۰۰\۱\۱۰هـ {فتوی نمبر ۳۳\۱۲۱۲ج}

{د اذان سره بی ادبی حکم}

سوال: یوسړی دمؤذن متعلق چی پنځه وخته په جامع مسجد کی اذان کوی پنځه شپږ واری یی زما په مخکی وویل: دامؤذن د سهار په وخت زیات بکواس کوی چی په هغه سره زماپه خوب کی خلل راځی دامنع کړی چی د سهار په وخت دی اذان نه کوی، یوبل سړی نو هغه سړی ته یو ناجوړی ته دانجکشن لګولو وویل: نو هغه وویل چی ترڅو په موږ باندی اذان بند نه کړی، بیمارته به انجکشن نه وهم، ددی سړی شرعی حکم څه دی؟

ځواب: کم سړی چی داذان فجر په باره کی داسی ګستاخانه کلمات ویلی دی هغه ډیر زیات بد عقیده معلومیږی داکلمات دکفر دی ([2]) دی سړی ته پکاردی چی فوراً ددی کلماتو څخه توبه وباسی دایمان تجدید وکړی ترڅو چی هغه داسی ونکړی مسلمانانو د هغه سره خصوصی تعلقان ساتل پکارنه دی. {والله سبحانه اعلم} ۱۳۹۷\۹\۱۸هـ {فتوی نمبر ۲۸\۱۹۷۶ج}

زه دی کافرسم دکافرو عبادت به کوم الله تعالی سره به جنګ کوم وغیره الفاظ ویلو حکم

---

[1] وفی الهندیة ج۲ ۲: ۲۷۹ مسلم قال: انا ملحد یکفر ولو قال: ماعلت انه کفر لایعذر بهذا..... وفی التیمة: ساست والذی عن رجل قال: انافرعون وابلیس وحینئذِ یکفر کذا فی تتار خانیة وفی جامع العصرلین ج۲ ص ۳۰۱ (طبع اسلامی کتب خانه) قال: هویودی او نصرانی ..... کفر .... لانه رضا بالکفر وهو کفرو علیه کفرو الفتوی وفی الهندیة ج۲ ص ۲۵۷ {احکام المرتدین} ومن یرضی بکفر نفسه فقد کفر و کذافی تتار خانیه ج .۵ ص ۴۲۰

[2] وفی الهندیه ج: ۲ ص: ۲۶۹ (مکتبه رشیدیه کویټه) فی التخیر مؤذن آذن فقال رجل این بانك غوغا است یکفران قال علی وجه الا نکار، وفی الفصول ولوسمع الاذان فقال: هذا صوت الجرس یکفر کذافی التتارخانیه وراجع ایضاً البحر الرائق ج: ۵: ص ۱۲۲ احکام المرتدین {محمد زبیر عفی عنه}

سوال: يو سړی دځو سړيانو په مخکی دا الفاظ ويلی دی چی زه به کافرسم دکانو عبادت به کوم او الله تعالی سره به جنګ کوم ډيره به خريم کله چی يی خلګو ګرفت وکړی نوهغه دځو سړيانوپه مخکي کلمه ويلو سره دروغ وويل چې ماداسی نه دی ويلی هرکله چې دده ددغه قول دتولی محلی والا شاهد دی اود تصديق کولو څخه بغير هغه الزام تراشنې هم کړی ده تصديق کولو باندی د محلی څو سړيانو په مخکی دا اقرار وکي چې زما څخه غلطی سويده اوس هغه معافی غواړی، د دی شرعی فتویٰ څه ده او اوس هغه دخپل الفاظو کافر به سم څخه توبه وباسی نود دی دتوبی څه صورت اختيار سی؟

جواب: په مسئوله صورت کې ذکرسوی سړی د دی الفاظو ويلوسره دسنګينې غلطی ارتکاب کړی دی هغه ته فوراً دزړه په اخلاص سره دالله تعالی څخه توبه او استغفار کول پکاردی د توبی صورت دادی چې د زړه په صدق سره دالله تعالی په دربارکی عرض وکړی چې ياالله ما ذکرسوی کلمات ويلوسره سخت د ګمراهی ارتکاب وکړی زه په هغی باندی بی حده پښيمانه او شرمنده يم د بيا دپاره د داسی کلماتو څخه او د هرقسمه کفريه کلماتو او اعمالو څخه دبرائت اظهار کوم، يا الله ماپه خپل فضل سره معاف کړی، په دی سره دی احتياطاً دايمان مفصل دشهادت او داسلام څخه سِوا دهر دين څخه د خپل مکمل برائت اظهار او اعلان دی دخلګو په مخکی وکړی.

{والله اعلم}

۱۳۹۷/۲۱/۲ھ

{فتویٰ نمبر۲۲۴/۲۸ الف}

په قرانکريم کی دلفظی تحريف عقيده ساتلو لوپه استدلال کی دحضرت کشميری عبارت پيش کول.

سوال: باسمه سبحانه وتعالی علمائی کرام حضرات او مفتيان عظام! دلاندی مسئلی په باره کی څه فرمائی.

(۱) زموږ دعلاقی يو مولوی صاحب په خپل بيان کی وائی چې په قرآن کی لفظی او معنوی دواړه قِسمه تحريفونه موجود دی او هغه مولوی صاحب د خپل قول د تأئيد د پاره لاندی عبارت نقل کوی او وايی چې داخبره علامه انورشاه کشميری په خپل کتاب کی ليکلی دی، د کتاب نوم يی نه دی ښوولی عبارت لاندی دی:

واعلم ان فی التحريف ثلاثة مذاهب، ذهب جماعة الی ان التحريف فی الکتب السماويه قدوقع بکل نحو فی اللفظ والمعنی جميعًا، وهوالذی مال اليه ابن جزم ...... وذهب جماعة انکار التحريف ثلاثة مذاهب، ذهب جماعة انکار التحريف الفظی رآساً فالتحريف المعنوی غير قليل فيه ايضًا، والذی تحقيق عندی ان الحريف فيه لفظی ايضًا محرفا فان التحريف المعنوی غير قليل فيه ايضًا، والذی تحقيق عندی ان التحريف فيه لفظی ايضًا اما انه عن عمد منهم او لمغلطه.

د دی عبارت څخه څه مطلب دی؟

{۲} دبيان کوونکی مولوی صاحب شرعی حکم څه دی؟ د امامت قابل دی او که نه؟ اود ده داعقيده دقرآن مجيد آيت: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ط.{الايه} څخه مخالف ده اوکه نه؟ او ورسره د کوم مصنف کتاب او حواله چې جواب راکړی او احسان مندمی کی.

«نوټ» شيخ الحديث حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب مدظلهم زموږ دعلاقی علماء او عوامو ستاسی په فتویٰ اعتبار او يقين دی لهذا تاسی په خپل مبارك لاس سره جواب وليکی عين نوازش به مووی بينوا توجروا (فضل جاويد حنفی باجوړی)

جواب: په قرانکريم کی د تحريف عقيده ساتل کفردی، حضرت علامه انور شاه کشميری صاحب په مذکوره عبارت کی دا فرمايلی دی چې د وړاندی اسمانی کتابونو په باره کی، (يعنی د تورات. انجيل، زبور په باره کی) کوم خلګ دا وايی چې په هغه کی صرف تحريف معنوی کوشش کړی دی، لهذا حضرت (رح) فرمايی چې زما په نز او په مخکی اسمانی کتابونو کی لفظی تحريف هم سوی دی د حضرت دا عبارت [۱] د

---

[۱] دحضرت علامه انورشاه کشميری (رح) مذکوره عبارت د فيض الباری ج۲ ص۲۲۵دی حضرت کشميری (رح) داعبارت د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه منقول دی د بخاری شريف ..باب لايسال اهل الشرك عن الشهادة وغيرها ج:۱ص ۳۶۹. (طبع قديمی کتب خانه) د دی روايت په تشريح کی ذکر کړی دی: قال يا معشر المسلمين ، کيف تسألون أهل الکتاب ، وکتابکم الذی أنزل علی نبيه صلی الله عليه وسلم - أحدث الأخبار بالله ، تقرءونه لم يشب وقد حدثکم الله أن أهل الکتاب بدلوا ماکتب الله وغيروا بأيديهم الکتاب، فقالوا هو من عند الله ليشتروا به ثمنا قليلا أفلا ينهاکم ما جاءکم من العلم عن مسئلتهم ولا والله مارأينا منهم رجلا قط يسألکم عن الذی أنزل عليکم ، په دی روايت کی د اهل کتابود تحريف ذکر دی او حضرت کشميری (رح) هم په خپل مذکوره عبارت کی د اول اسمانی

مخکنی اسماني کتابونو متعلق دی (۱) لهذا د دی عبارت څخه د قرانکریم د تحریف لفظی قائل وی راویستل قطعی د ګمراهی خبره ده او کوم سړی چې په قرانکریم کی د تحریف لفظی قائل وی هغه مسلمان نه دی کافر، داسی سړی پسی لمونځ نه کیږی.

(والله سبحانه اعلم) ۱۴۲۱/۳/۳هـ (فتوی نمبر ۴۱۸/۷۳)

په یو طنزیه مضمون کی د الله تعالی په شان کی د نامناسبو الفاظو استعمالولو حکم

سوال: دفتوی حاصلولو مقصد دادی چې یو مصنف په خپل مضمون کی دخدای ﷻ په شان کی ګستاخی کړی ده. هغه خلاف مقدمه چلول دی، مندرجه ذیل عبارتونه رساله «الف لیلی» ډایجسټ په صفو ۹۳-۹۰۱) باندی لیکلی دی چې د هغه خلاصه داده: چې څو ورځی سوی وی ما په خوب کی ولیدل ماته داسی ولګیدل چې په خوب کی می را کتبینوی، چې سرمی راپورته کی نو ګورمه چې یوه فرشته ده، وی ویل چې بنه جر ناسټ یی دخدای تعالی په دربار کی هنګامه ده اوته دلته پروت یی ماروته وویل: چې زما ډیر خو وائی چې صرف دوزیرانو او زراعتی ناخدایانو خواته ځه خوته وایی چې ته نن خدای سره په هم ګوری دلته نسته چې د ده داقصه اخبار والا قبلوی اوکه نه؟ ځکه چې هغه زموږ د پارټی څخه دی، که ابلیس وی نو بیله خبره به وه، به هرحال ما خپله ډائری اوکمیره را واخستله او روان سوم، هلته چې ورسیدم نو واقعی هنګامه وه، الله میاں په تخت باندی ناست دی د نورو روح پروره رڼراده څلور طرفونوته فرشتی په سجدو پرتی دی، وروسته منظر کی د حمد او ثناء موسیقی ده، لړ لړ د خوشبو چپی پورته کیږی، خو په مینځ کی څه مغربی ساینسدانان ولاړ ګستاخانه طریقی سره شور کوی، هغه فرشتی راته په غوږ کی وویل چې د خدای څخه بغاوت کولوسره د خپلی

کتابونو کی د اهل کتاب دتحریف ذکر کړیدی لکه چی په دی عبارت کی: انَ التحریف فی الکتاب السماویه، دالفاظو څخه واضح دی ددی څخه وروسته آخر کی ان التحریف فیه لفظی، د فیه ضمیر دابن عباس ﷺ په حدیث، ماکتب الله، طرفته راجع دی قران طرفته ندی راجع ځکه چی حضرت شاصاحب وړاندینی آسمانی کتابونو کی اختلافی مذهبونه بیانوی او بیا والذی تحقیق عندی، سره مخکی کتابونه په تحریف کی په اختلافی مذهبو کی محقق قول ذکر کوی او ددی څخه مخکی عبارت، آنه ان عندمنهم، کی منهم ضمیر غائب مرجع هم په حدیث د ابن عباس کی اهل الکتاب کیدل واضح دی. (محمد زبیر عفی عنه) تصحیح وتعلیق القاری عبدالاحد الحقانی عفاالله عنه.
(۱) ایضاً

خود مختاری نوټس ورکولو دپاره راغلی یی؟ ماچې په غور واوریدل نویو بوډا ساینسدان چغی وهی چې موږ ولی ومنو ستا خدای څه دی ستاسره چې موږ سره نسته؟ ستا د خدائی بنیاد صرف په دوو شیانو باندی دی یو تخریب چې قبر او عذاب جوړیدو سره راځی، او دوهم تخلیق زموږ سره هم دا دواړه شیان موجود دی زموږ ایتم ستا د دنیا په داسی انداز کی خاتمه کولی سی چې دومره په لویه پیمانه باندی به ترننه پوری تاهم تخریب نه وی کړی، تا دنیاته دقیامت دورځی حشر شروع کولو سره دهمکی ور کولو سره لاندی کړی دی، او هغوی دی دمذهب په زنجیرونو کی تړلی دی، هم هغه حشر موږ په خپلو یمونو سره کولی سی (الخ... تا ص ۹۳- از ناقل)

دتول صفحاتو د عبارتونو سره د الله تعالی تحقیر، توهین او تذلیل کیږی او که نه؟ دمسلمانانو په عقیده کی خلل پریوځی اوکه نه؟

نمبر۲،۳: ایا په دی عبارت سره کفر لازمیږی او که نه چې لوړ په (قوسینو) کی نقل سو؟ نمبر۴: ایا ماغلط وویل ای خدایه: ما جرأت کولو سره پوښتنه وکړه، الله میاں زماطرفته وکتل، او بیایی په تخلیق باندی شرم کولوسره ټیټ کی، نو عرقی میاں د مغرب ساینسدان د خپلو دصدیو ساینسی ترقی سره د خدای ﷻ سرکښته نه سو موږ مخکی یو اوکه نه؟

نمبر۲،۵: آیا داسی مسلمان چې په پاسرېتان کی د رعایا په حیثیت سره مقیم وی دهغو دعام مسلمانانو زړه ازارول او دباری تعالی سره ددومره ګستاخی په وجه که دملك پا سرېتان ددستور په بنیاد باندی ضرب کاری لګی نو هغه د دستور اساسی منکر تصور کول پکار دی اوکه نه، او د ملك او د خدای دښمن د ملك دښمن ګڼل پکار دی اوکه نه؟

جواب: اګر چې منسلکه مضمون یو طنزیه مضمون دی چې په هغه کی د الفاظو حقیقت مرادنه وی، خوپه طنزیه انداز کی هم د الله تعالی په شان کی داسی ګستاخی کول او د هغه اړخ ته داسی فرضی خبری منسوب کول سخته ګستاخی ده چې په هغه باندی د کفر خوف دی، لهذا داسی مضمون لیکونکی لره فوراً د زړه په صدق سره توبه کول پکار دی، د داسی مضامینو نشر او اشاعت بالکل ناجائز دی د الله تبارك وتعالی تخلیق او د هغه د قدرت کارخانه دطنز او مزاح موضوع جوړول ډیره خطرناکه ګناه ده، که یوسړی داسی الفاظ خطرناك ګڼلی یی نو د هغه په کفر کی څه مشبه نسته لمافی العالمګیریه: یکفر إذا وصف الله تعالی بما لایلیق به او سخر باسم من أسمائه أو بأمر

من أوامره أو نكر وعده ووعيده أو جعل له شريكا أو ولدا أو زوجة أو نسبه إلى الجهل أو العجز أو النقص ويكفر بقوله يجوز أن يفعل الله تعالى فعلا لاحكمة فيه (عالمگیریه ج۲ص ۲۵۸) (۱) اوکه د الفاظو حقیقت يې مقصود نه وی، بلکې صرف په موجوده دور د انسانانو باندی طنز مقصود وی نو چونکه دمسلمان د تکفیر معامله یوه سنګینه معامله ده، نو د دی وجې څخه به د تکفیر څخه ژبه بنده سی (۲) خو د دی دسنګینی ګناه او سختی ګناه کیدوکی څه شك نسته، ددی مضمون مصنف او ناشر دواړو لره د آخرت د مؤاخذی فکر کولوسره فوراً توبه کول پکار دی، او حکومت څخه د داسی مضامینو د اشاعت اجازه ورکول بالکل پکارنه دی.

(۳) والله سبحانه اعلم.

۱۳۹۷/۲/۶ھ

دقادنیانو دلاهوری ګروپ سره تعلق ساتونکی سړی یوڅو کفریه عقائدو حکم

سوال:- یوسړی ترڅو کالو پوری دلاهوری احمدیانو دیوی تبلیغی رسالی ایډیټر پاته کیږی: او د هغه عقائد دادی:

الف: یو غیر عرب مسلمان (چې په عربی نه پوهیږی) په لمانځه کی پخپله مورنی ژبه کی دقرآن ترجمه چې لفظاوی ویلو اجازت ورکول سوی دی.

ب:- امام ابو حنیفه دافتوی ورکړی وه چې یوغیر عرب مسلمان چې په عربی نه پوهیږی په لمونځ کی دقرآن فارسی ترجمه ویلی سی.

ج:- محنت کشه طبقه (زمیندار مرزدور) دپاره روژه نیول ضروری نه ده او درمضان روژو دپاره دوخت او میاشتی پابندی هم لازم نه ده، ایا داسی سړی مسلمان شمارل پکاردی؟ او ایا داسی سړی ته دیوی اسلامی اداری نګرانی ذمه واری سپارلی سی هرکله چې هغه د خپلو عقائدو تحریری او تقدیری اظهار کوی؟

---

(۱) الباب التاسع فی احکام المرتدین (طبع مکتبه حقانیه پشاور)

(۲) وفی الدر المختار ج: ۴، ص: ۲۲۹ (طبع ایچ ایم سعید) و اعلم انه لایفتی یکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن.

(۳) وګوری امداد الفتاوی ج: ۵، ص: ۳۹۳.

جواب:- که دا صاحب اوس هم دلاهوری مرزایانو د عقائدو سره متفق دی، نوبیا خو د ده په کفر کی څه شك نسته او که د هغه عقائدو څخه توبه ګار سویدی بیاهم دده داعقیده چې دروژو دپاره دوخت او میاشتی پابندی لازم نه ده، یوه کفریه عقیده ده (۱) او غیر عربوته پخپله مورنی کی دلمونځ کولو اجازت هم ګمراهی ده امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته چې هغه کوم خبره منسپ کړی ده هغه هم په دی اطلاق سره درسته نه ده دامام صاحب رحمة الله علیه مطلب نور څه دی (۲) او داسی سړی ته د یوی اسلامی اداری ذمه وار سپارل هیڅنبله درست نه دی (والله سبحانه اعلم) ۱۳۹۷/۱۰/۳ ه

فتوا نمبر ۱۰۰۸ (۲۸ج)

فصل فی الفرَق والاحزاب الاسلامیة والباطلة والاشخاص المتعلقین بها

دمختلیفو اسلامی او غیراسلامی فرقو او د هغه سره معلقه اشخاصو په

بیان کی الهدی انټرنشنل د افکارو او عقایدو حکم

سوال:- حضرت جناب مفتی صاحب! زیدت معالیهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! سوال کوونکی د اسلام اباد د یوی اداری {الهدی} انټرنشنل یوکال ډیپلومه کورس اِن اسلامك اسټډیز {oneyeay Diploma Cduyse in I.S} کړی دی نسائله اداری ته د علم په طلب کی تللی وه او د هغو حنفیه عقایدو څخه نا واقعه وه د یوکال کورس څخه وروسته د هغو عقائد راته څه صحیح معلوم نه سول نو سوچ می وکړي چې د علماء کراموته فتوی طلب کول پکار دی چې د امت مسلمه لونو ته صحیحه او سمه عقیده ورسول سی او هغو د ګمراهی څخه وژغورل سی زموږ د استاد او د الهدی انټرنشنل د نګرانی محترمه ډاکټر فرحت هاشمی صاحب د نظریاتو خلاصه ستاسو په خدمت کی پیش دی.

۱- داجماع امت څخه اخواکیدوسره یوه نوی لاره اختیارول.
۲- دغیر مسلم او د اسلام څخه د بی زاره طاقتونو د نظریاتو سره هم خیال.

---

(۱) أَيَّامًا مَعْدُودَةً (البقرة ۱۸۴) فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ الایة (البقرة: ۱۸۵).

(۲) د تفصیل دپاره وګوری رد المختار مطلب فی حکم القراة بالفارسیة ج: ۱. ص ۴۸۵ (طبع سعید)

۳. د حق او باطل تلبیس.
۴. د فقهی اختلافاتو په ذریعه په دین کی شك او شبهات پیداکول.
۵. آسان دین.
۶. اداب او مستحبات نظر اندازکول اوس د دی بُنیادی نکاتو څه تفصیل لاندی دول سره درج دی.

سره نوی لاره اختیارول:-

۱. د اجماع امت څخه اخواکیدو سره نوی لاره اختیارول:-
۱. د اجماع امت څخه اخواکیدو سره نوی لاره اختیارول. صرف توبه کول پکار دی د قضا اداء کولو او قضائی عمری د سنت څخه ثابت نه ده، ضرورت نسته.
۲:- دري طلاقه یو شمیرل،
۳:- په نفلي لمونځونو کی صلاة التسبیح، په رمضان کی په طاق شپو کی خصوصا (۲۷) شپه کی د اجتماعی عبادت اهتمام او د ښځو په جمع کیدو باندی زور ورکول.
۲:- غیر مسلم، د اسلام څخه بیزاره طاقتونو د خیالاتو هم خیالی کول:-
(۱) مولیان (عالم) مدارس او عربي ژبی څخه لری دی.
(۲) علماء دین ګرانه وی چي په خپل مینځ کی جنګیږی، عوام په فقهی بحثونو کی راګیر کول- بلکی په یوه موقعه و فرمایل: که تاته په یوی مسئلی کی صحیح حدیث ترلاسه نسی نو ضعیف واخله، خو د علماوو خبره مه اخله.
۳:- په مداریسو کی ګرامر، ژبی زده کولو، او فقهی نظریات ورښوولو کی ډیر وخت ضائع کیږی قوم ته د عربی ژبی زده کولو ضرورت نسته بلکی خلګو ته دی صرف قرآن په ترجمی سره وښوول سی، په یوه موقع کی یی وویل (چی په دی مدرسو کی ۷،۷ کاله یا ۸ اته، ۸ اته ۸ کاله کورس کول کیږی دا د دین روح څخه نه پیداکوی او خپله نقه د صحیح ثابتولو کوشش کوی) اشاره یی درس نظامی طرف ته ده.
۴- د وحید الزمان کتابونه دطالبعلمانو ترتیب د پاره بهترین وی، په نصاب کی هم شامل دی اوپه ستایلز باندی هم ایښودل کیږی، چا ورته احساس وکی چي د دوی په باره کی دعلماو څه رایه ده؟ نو وی ویل چي حکمت د هغو ورك سوی میراث دی.

۳:- د حق او باطل تلبیس:

۱- تقلید شرك دی (خو کوم یو په حق دی او کوم وخت غلط دی دا کله هم نه دی ښوولی)

۲- په ضعیف حدیث باندی عمل کول دا ګناه ګنل دی (هرکله چي بخاری کی د صحیح ترین احادیثو مجموعه ده نوضعیف ولی قبول کیږی)

۳- دفقهی اختلافاتو په ذریعه په دین کی شکوک پیداکول

(۱) خپل پیغام، مقصد او متفق علیه خبرو باندی د زر څخه زیات د نورو مدارسو او علماء باندی طعن او تشنیع.
۲:- د ایمان لمونځ روژه زکوة، حج، بنیادی فرائض، سنتونو، مستحباتو او مکروهاتو ښوولو څخه زیات په اختلافی مسئلو کی ومښلول سوه (دا پروپراګنده ده چي موږ دڅه تعصب ښکار څخه یو اوصحیح احادیث خواره وو.
۳- د لمونځ اختلافی مسائل، رفع یدین، فاتحه خلف الامام، یو وتر، ښځوته جوماتونو ته د تللو ترغیب، د ښځو جماعت، په دی تولو باندی د صحیح احادیثو په حوالی سره زور ورکول کیږی.
۴- په زکوة کی غلطی مسئلی بیانول کیږی ښځوته د تملیك هیڅ علم نسته.

۵- اسان دین:

۱. دین مشکل نه دی مولیانو مشکل کړی دی، د دین مسئله د هر امام څخه اخستل داسی هم موږ د دین په دائره کي پاته کیږو.
۲- حدیث کی راغی چي آسانی پیداکړی تنګی مه کوی، لهذا د کوم امام رایه چي آسانه معلومیږی هغه واخلی.
۳- روزانه یاسین شریف ویل د صحیح حدیث څخه ثابت نه دی، په نوافلو کی اصل څانبت او تهجد دی او د اشراق او وابینو څه حیثیت نسته.
۴- دین اسانه دی دوریښتوکټ کولو څه ممانعت نسته چي امهات المؤمنین کی د یوه وریښته کټ سوی وو.
۵- د دین د تعلیم سره سره پکنك، پارټیانی، ښه لباس، د زیوراتو شوق، محبت مَنْ حَرَّمَ زینة الله.
۶- ښځی دی د دین خپرولو دپاره ضرور د کور څخه وزی.
۷- د محترم خپل عملي د طالبانو د پاره حجت دی، د محرم څخه بغیر په تبلغی دورو باندی تلل د قیام اللیل د پاره د شپی وتل د میډیا په ذریعه تبلیغ (ریډیو، ټی وی اډیو).

۸- د ادابو مستحباتو رعايت نسته، ښځې دې دناپاکی په حالت کې هم قرآن ته لاس وروړي ايتونه دي وايي- دقرآن په کلاس کی دقرآن لاندی باندی کيدوڅه احساس نسته.

۹:- **متفرقات:** په هره معامله کی خپله د اجتهاد ترغيب ورکول.

۱- دقرآن ترجمه وربنو ولوسره په هره دپاره په اکابرو علماء کرامو د کومو علومو زده کولو شرائط

۲- دقرآن او حديث د فهم دپاره په اکابرو علماء کرامو د کومو علومو زده کولو شرائط ايښی دی، هغه بيکاره جاهلانه خبری او سازش گرځول.

۳- د فارغ التحصيل طالبی په مخکی د دين څه مسئله ياحکم کښيښوول سی نو د هغه سوال داوی چي د صحيح احاديث څخه ثابت دی اوکه نه؟ د دی ټولو خبرو نتيجه داده چي کوڅه په کوڅه، محله په محله د (الهدیٰ) برانچوته خلاص کړی دی او هرشان طالبه چي د هغی تجويد هم صحيح نه وی، مخکی خلگوته سبق وايی، او خلگ برابره خبره ده که د هغی تجويد هم صحيح نه وی، مخکی خلگوته سبق وايی، او خلگ په مسائلو کی هم انبلوی، دکور د خلگو عموماً تعلق دجومات سره دی (چي هلته د لمونځ طريقه د فقه حنفی مطابق ده) د کور ښځو د خلگو سره منبنلی چي موږ ته د جوماتونو په موليان هيڅ اعتبار نسته.

مطلوبه سوالونه:

۱- د مذکوره پورتنيو ټولو مسئلو شرعی نقطه نظر سره وضاحت وکړی او مشکور موکی،

۲- د محترم ډاکټر فرحت هاشمی د دی طريقه کار شرعی حيثيت او د محترمی دگلاسکو يونيورستی څخه دپی،ايچ، ډی، شرعی حيثيت څه دی؟

۳- د دوی په دی کورس کی شرکت کول، خلگوته د دی دعوت ورکول او د هغوی سره تعاون کول په شرعه نقطه نظرسره وضاحت وکړی: جزاکم الله خيراً احسن الجزاء،

(مستفتيه مسزسيما افتخار)

One yeav Diploma HoLgay Fyom
AL- Huda InteyniationaL
Islamabad.

جواب:- په سوال کی چي د کومو نظرياتو ذکر وکی، هغه چي د هرچا نظريات هم وی په هغه کی اکثره غلط دی، بعضی واضح طور باندی گمراهانه دی مثلاً د امت اجماع لره اهميت نه ورکول تقليدلره علی الاطلاق شرك گرځول چي د هغه مطلب دادی چي د

څوارلس سوه کالو په تاريخ کی امت مسلمه اکثريت چي د ائمه مجتهدنيو کی دچاڅخه چاتقليد کولو هغو مشرك وو، يا داويل چي قضايی عمری فوت سوی لمونځو دقضا راگرځولو ضرورت نسته. (۱) اوصرف توبه کافی ده، بعضی نظريات يی د جمهور امت خلاف دی- مثلاً دري طلاقونه يوگرځول بدعت دی- مثلاً د صلوٰة تسبيح جماعت يا د قيام الليل د پاره د شپږو په اهتمام سره خلگو لره را وباسل يابښځوته دجمعی سره دلمونځ کولو ترغيب ورکول، بعضی ډير گمراه کوونکی دی- مثلاً قرآنکريم صرف په ترجمه باندی ويل او وينکوته د اجتهاد دعوت يا په دی خبره باندی خلگ اماده کول چي هغوی په کم مذهب کی اسانی بيا پيداکی د خپلو خواهشاتو مطابق دی هغه اختيار کړی يا د چا خپل عمل حجت گرځول، اوپه دی کی بعضی نظريات فتنه انگيز دی- مثلاً د علماء او فقهاوو څخه بدظنه کول د دينی تعليم اداری چي د اسلامی علومو وسيع او عميق تعليم فريضه اداء کوی، د دی اهميت د ذهنونو څخه د قرآن او حديث څخه ژوړ علم په بنياد باندی مستنبط کړی دی، هغه لره باطل گرځول او هغه دقرآن او حديث خلاف گرځول او په هغه باندی اصرارکول.

کوم سړی يا اداره چي پورته ذکر سوی نظريات ساتی او د دی تعليم او تبليغ کوی هغه څخه صرف د ډيری گمراهانه او گمراه کن يافتنه انگيز نظرياتو حامله دی، بلکی د هغه څخه به مسلمانانو کی افتراق او انتشار پيداکيدلو قوی انديښنه ده او که يو سړی د سهولتونو په لالچ کی په داسی قسم کوششونو سره دين ته نژدی هم راسی نو د ذکر سوو برنی نظرياتو په نتيجه کی به هغه دگمراهی ښکار کيږی، لهذا کومه اداره ياسړی چي د دی نظرياتو حامل مبلغ وی او خپلو درسونو کی داشان ذهن سازی کوی د هغه په دين کی شرکت کوی او د هغه دعوت ورکول د دی نظرياتو تائيد دی چي هيڅ شان سره جائزنه دي که څه هم که د هغه سره هرشان ډگری وی او د گلاسکو ډگری بذات خود د اسلامی علومو په لحاظ سره هيڅ قيمت نه لری بلکی د غيرمسلم ملکونو په يونيورستيانو کی مستشرقينو د اسلامی تحقيق په نوم په اسلامی احکامو کی دشکوك او شبهاتو پيداکولو دپاره او د دين د تحريف په سلسله کی د ډيری مودی څخه شروع کړي ده، دغه غير مسلمو مستشرقينو چي هغوی ته د ايمان ټوری توفيق نه دی سوی.

---

(۱) دقضايی عمری متعلق د حضرت دامت برکاتهم العاليه تفصيلی فتوىٰ مخکی کتاب الصلوٰة باب قضاء الفوايت کی ملاحظه کړی (محمد زبير عفی عنه) نظر وتحقيق المولوی نوراحمد الحقانی.

ته چې په اسلامي كې تحريف كونكو افراداتو د تيارولو دغه شان اكثره اداري په تحقيق كې په داسې اندازه سره مرتب كړې دي د پاره قائمې كړې دي او د هغه نصاب او نظام يې په داسې اندازه سره مرتب كړې دي چې د هغه لاندې تعليم حاصلوونكي الا ماشاء الله اكثر او بيش دجل او فريب ښكاره كيدو سره په عالم اسلام كې فتنه پورته كوي لهذا دګلاسكو د يونيورستي ښځه د اسلامي علومو هره يوه ډيګرې ښځه صرف داچې د يوسړي دمستند عالم كيدوځه دليل نه دي- بلكې په هغه سره د هغه په ديني فهم باره كې شكوك پيداكيدل هم بې ځايه نه دي.

بل اړخ ته هغه د الله تعالىٰ بنده ګانو داسې هم دي چې هغوى دغه يو نيورستيانو ته ډګرې هم حاصل كړې دي او د عقائدو دفاسده د زهرو ښځه محفوظ پاته دي، اګرچې د هغوى تعداد كم دي، لهذا دا ډګرې خونه د چا دمستند عالم كيدلو علامت دي اونه صرف په دې ډګرې سره څوك مطعون كولى سى په دې شرط چې د هغه عقائد او اعمال درست وي، پورتنى ذكر سوى جواب په هغه نظرياتو باندې مبنې دي چې سائلي په خپله استفتاء كې ذكر كړې دي، اوس چې كوم سړې د دې نظرياتو تركومه حده پورې قائل دي؟ د دې ذمه وارى په جواب وركونكي باندې نه ده،

والله سبحانه أعلم،

۱۴۲۲/۴/۲۱

(فتوىٰ نمبر ۱/ ۴۸۲)

د بريلوى فرقې تعارف او حُكم عربى فتوىٰ

سوال: الحمد لله رب العالمين والصلوٰة والسلام على رسوله الله واله وصحبه اجمعين.

شيخ الكريم العلامة محمد تقى العثماني حفظه الله !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

كل عام وانتم بخير، وتقبل الله منكم الطاعات واعا دالله هذا العيد عليكم وعلينا وعلى المسلمين باليمن والبركات: ارجوا وان تكون واسرتك وجميع احبابك فى خير وعافية كما ارجو المعذرة فى تآخر امراسلة فقد انشغلت بالدراسة والامور الاسره والله المستعان!

ارسلت اليك رسالة وبطاقة معايدة فى عيد الفطر، فهل وصلاك؟

فهمت اشارتك وارجو التوفيق، وهوشرف ان اقوم بترجمة كتاب لك لكنى مشغول بالاعداد للدكتوراه فى حقوق التاليف ومن اهم مراجعى كتابك (قضايا فقهية معاصرة) وساقوم ان شاء الله بترجمة بعض كلامك وارسل اليك ماترجمة فى حينه.

مايقول الشيخ ايده اللهُ فى الطريقة البريلوية، اذ لاتوجد هذ، الطريقة فى بلادنا، ولم اجد كتابًا بالعربية يتحدث عنها سوى كتاب الاحد علماء نجد، وقدرايته غير منصف مع غير البريلوية فلم اثق فى حكمه او نقله، فالرجاء بيان حالهم، فالناس بين محب غال او مبغض- قال والله الهادى للصواب- والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

(محمد على محمداحداش)

جواب: الى فضليته الاخ الكريم العلامة محمّد على محمد احداش حفظه الله تعالى ودعاالسلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد!

فقد تسلمت بسرور رسالتك الكريمة ودعوت لك بالتوفيق والنجاح وان يوفقك الله تعالى لاتمام عملك كمايحبه ويرضاه وقد سالتنى عن امرين (١):

الاول: بالنسبة للطريقة البريلوية وان هؤلاء يتميزون عن جمهورالمسلمين فى بعض العقائد والاعمال البدعة، فمن عقائدهم ان رسول الله ﷺ عالم للغيب ومطلع على جميع ماكان ومايكون وان روحه الشريفة التكفير ضد علماء ديوبند، حتى قال: من لم يكفرهم فهو كافر، وذالك لانهم نقدوا هذه العقائد وقالو! ان علم الغيب صفة الله سبحانه وتعالى لايشاركه احدفيها- ولكنه سبحانه وتعالى يطلع رسله على مايشاءُ من اتباء الغيب ومن اعمالهم المبتدعة انهم يختلفون باعياد لم تثبت من القرآن والسنة ومع ذالك يعقد وانها مستحبة بل قد تعاملونها معاملة الواجبات من النكير الشديد على من لايشاركهم فيها وكذالك اخترعوا تقاليد عندموت احد، مثل ان يقوم اهل ميت بدعوة الناس فى اليوم الثالث والعاشر والاربعين بعد وفات مورثهم وان يصنع لهم طعامًا ومن لم يفعل ذالك فانه يلام اشد الملامة، وما الى ذالك من البدعات الكثيرة والحديث عن هذه الطريقة يطول ولكن ماذكرته هو تصور جملى عن عقايدهم واعمالهم ويوجد فيه من يفرط فيها ويلغو ويتعصب ومن هو معتدل بالنسبة للاخرين.

والله سبحانه اعلم

محمد تقي العثمانى عفى عنه

(١) والسوال الثانى يتعلق بعقد الاجارة وسيجى فى بابه انشاء الله. (محمدزبير)

د غلام احمد پرویز د پیروکارو حکم

سوال:- استفتاء از علمائی شریعت محمد ﷺ په دی مسئله کی چی مشهور منکر حدیث غلام احمد پرویز چی هغه جمهور علماء امت کافر گرځولی دی د هغه پیرو کارهم عقیده هم مسلك بلکی دمسلك پرویز مبلغ مرسوی دی اوجمهور علمائی امت د پرویز متبعین هم داسلام څخه خارج گرځولی دی په دغه پرویزی باندی د اهل السنت والجماعت دمسلمانانو یوپیش امام د جنازی لمونځ ورکړی د امام مذکور څه حکم دی؟ او د غلام احمد پرویز څه حکم دی؟ اوپه څه وجه په هغه باندی د کفر فتوی لګول سوی ده ؟او آیا د دی امام اقتداء صحیح ده؟

جواب: په غلام احمد پرویز باندی د کفر فتوی د هغه د عقائدو اونظریاتو په بنیاد لګول سوی ده (١) لهذا کوم سړی چی د هغه د نظریاتو اوعقائدو سره متفق وی هغه هم د هغه په حکم کی دی او د کافر کیدو له وجی په هغه باندی د جنازی لمونځ کول جائز نه دی که کوم امام صاحب د غلط فهمی یانا واقفیت له وجی د هغه د جنازی لمونځ کړی دی نوهغه ته پکار دی چی استغفار وکړی په داسی صورت کی نور مسلمانان په خپلو عامو لمونځونو کی د هغه اقتداء کولی سی لیکن که هغه میت پریوزی منلو باوجود په دی عمل د صحت اقرار کوی نو هغه پسی لمونځ کول صحیح نه دی . فقط

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

محمد عاشق الهی عفی عنه ٣. ١٢١١/١٣٨٧ هـ (فتوی غبر ٣ ١٨١١٤٢ الف) :

دفکر ولی اللهی دتحریک حکم

پس دسلام څخه عرض دی چی مونږ په خیرت سره یو او دکریم خدای ﷻ څخه ستاسو خیریت نیك مطلوب غواړو.

پس دسلام څخه عرض دی چی مایوه عرض نامه مخکی هم درلیږلی وه خو دهغه خط جواب تراوسه پوری معلوم نسو عرض دادی چی مونږ د تنظیم فکر ولی الهی په باره کی پوښتنه کول غواړو چی د دی فتوی حقیقت څه دی چی د دی خط لاندی ده ؟ اومونږ

(١) تفصیل دپاره رساله دامت دعلماء متفقه فتوی پرویز کافردی (ملاحظه کړی).

مولانا شیخ الحدیث مغزالحق صاحب ته عریضه ولیکله هغوی داخبری مونږته لیکلی راکړی مونږ د دی ځای مفتی رشید احمد صاحب ته وویل هغوی وویل چی علماء کرام مشاورت عظمی او د مفتیانو صاحبانو د مشوری څخه وروسته به درته وایو دا پوښتنه کول دی چی چونکه د دی نظیم ګره زمونږ نوښار کی جومات در زیان دی او د هغه امام هم دلته مقرر سوی دی مونږته وښیه چی هغی پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟ اوداڅنګه خلک دی ؟ او د هغوی سره څنګه معامله کول پکاردی شکریه اهل مسجد درزیان.

مزاج گرامی!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

عرض دادی چی په تیره سوی زمانه کی زمونږ په مدرسه کی یوعالم مسمی په مولوی خالد محمود چی خپل ځان فکر ولی اللهی تنظیم طرف ته منسوب کوی او د شاه ولی الله صاحب ترجمان ځان معرفی کومی حسب ذیل نوعیت خبری کوی:

١: اصل مقصود دخلافت قیام دی ترڅو چی د خلافت قیام نه وی نوترهغه وخته پوری ایمان اعمال عبادت ټول بیکاره دی.

٢: مقصود د اصل په اتباع د رسالت کی مقصد خصوصاً ایت: په موجب د سپر پاورز خاتمه ګنل دی باقی انفرادی عاداتو اواطوارو او وضع قطع ناسته پاسته کی اتباع درسالت بېکاره ده د دی هیڅ فائده نسته.

٣: اعمال لمونځ روژه حج او زکوة سره مقصد د همه جهتی تربیت د فرد او د معاشری دی خوزیات زور په اجتماعی سیاسی او د حکومتی ذمه واریانو د سنبالولو په تربیت باندی دی که د دی اعمالو صرف روحانی حلقه اثر تسلیم کولی سی نو د نورو مذهبونو د عباداتو څخه به د اسلامی عباداتو توفیق څنګه ثابت کولی سی؟ ځکه چی روحانی اثرات خو د یوګ (Mysticism) او د تصوف اوداحسان اوسلوك کی یوشان دی.

٤: دجزاء اوسزاء داتصور صرف د متوسطو اذهانو دپاره قابل دقبول دی داعلی اذهانو دپاره قابل قبول او د قبولو لائق نه دی.

٥: قرآن د مولیانو دسلوک د وجی دماشومانو لوبه جوړه سوی وی، دالفاظ اومعانی دتعلیم څخه ماسیوا مخکی څه تعلیم اوتربیت نسته، ذهن سازی نسته، کله چی نظام اسلامی نه وی نو د الفاظو په رټاکولو څه فائده ؟ دغه رقم د قرآن حفظ دوخت ضائع دی:

۷: د عصر علماء د وخت د تقاضو ښخه ناواقف دي لهذا په قول د امام محمد (من لم يعرف احوال زمانه فهو جاهل) جاهل دي په مدرسو كې ددوى حلقه اثر واردات خولوى او وسيع دي ليكن د مدرسي ښخه بغير د بينك په يو چوكيدار او د بس په يو معمولي غوندې ډرائيور باندې هم د دوى وس نه رسيږي دغه رقم د دې علماؤ په معاشره كې ځا د قدر قابل كردار نسته دا علماؤ د معاشرى معطل غړي دي.

د جنت علم او معروف تصور دكم فهمي نتيجه ده اصل كې جنت ددنيا مستقبل دى دنيا ددې اساس ده نود كوم بوټي چي تخم كمزوري وي هغه بوټي طاقتور جوړيدلى نسي ځوك چي په دنياكي په درد تكاليفو اومصائبو اوغربت كى پروت وى هغه ته په آخرت كي ښكه كامياب اوخوشحاله ويلى سي؟

۸: د جنت متعلق عام احاديث صرف خوشفهمي ده ګله چي بنده هيڅ ونكړي نوبيا به لازماً هغه ته د جنت انتظار كول وى كافرته خود حوري اوبنګلي وركول سي اومؤمن ته فقط دحورو وعدې.

۹: د امام مهدي تصور اوعقيده هم صرف دمړو قومونو تخيل دى.

۱۰: ياجوج اوماجوج چيني اوروسي عوام دي د هغوى په حقله معروف تصور ټيك نه دى.

۱۱: زيره د حضور ﷺ يوبشرى عادت وو دومره اهميت ولى وركول كيږي؟

۱۲: دعلمائي عصر پاسرېتاني تنظيمونه د امريكي دمفاداتو د تحفظ د پاره استعماليږي.

۱۳: دتبليغي جماعت د محنت په نتيجه كي چي كوم اسلام په دنيا كي راځي په هغه باندې امريكي چاپ او يورپي به وى اوداسي به مغربي دنيا ددى مدد اخستو سره خپل معاشي سياسي سامراجي اهداف به حاصل كړي.

۱۴: په جهاد افغانستان كي امريكي اوميا ده قسمه مولايانو ته د جهاد فريب ښخه ډكه دهوكه وركولو سره ئې اسلام دخپلو مفاداتو دپاره استعمال كړى دى.

۱۵: موجوده اسلامي تصور د امريكي د خواهش زير اثر پمپ سوى دى كه مسلمان دروس سره ملګرتيا وكړى نوروس به ددوى دپاره نسبتاً زيات لرى وو ليكن مسلمان همېشه جذباتي دي دمسلم جماعتونو ميدان امريكي ارخ ته دى.

۱۶: د تقدير موجود او معروف تصورهم غلط دى حضور ﷺ هم هغه په زور حالت باندې پرېښوولي دي ځكه چي دابتدائي مسلمانانو (اصحابو ﷺ) كي په هغه باندې د

پوهيدو استعداد نه وو لهذا حضور ﷺ دامسئله د نه شړلو سره د عمل د طاقت په وجه باندې د انقلاب لارى هوارى كړى.

۱۷: د تهانوى لائن علماء هميشه د حكومتي خواهشاتو د پاره استعماليږي په نتيجه كي هغوى د سركار د طرفه نوازل كيږي او د مدنى لاين علماء د خپل حريت پسند جذباتو په وجه هميشه د قيد اوبند صعوبتونه برداشت كوى.

۱۸: اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰہُ لَكُمْ قِيٰمًا، اومِنَ الذنوب ذنوب لايكفرها الا اللهم فى معيشة، په شان استدلالاتونه عموماً دا باور كول كيږي چي ترڅو معاشي مساوات نه وى، د معاشرى اصلاح نسى كيدلى د قبض اوبسط تشريح هم په مختلف انداز سره كوى.

۱۹: د ذاتي ملكيت تريوحده پورى جواز دى خو د انقلاب دلارى هوارولو په وخت ذاتي ملكيت نسى ثابت كيدى ځكه چي په ابتداء كى د حضرت عثمان ﷺ اوعبد الرحمٰن بن عوف ﷺ مال او اسباب د خپل ذات ښخه زيات د انقلاب په لاره كي خرڅ كيدل.

۲۰: د خميني انقلاب دامت مسلمه دپاره خوش ايند دى.

۲۱: طالبان د افغانستان ساده قسمه خلګ دى دا دحكومتي مزاج ته ناواقف دى او فرمايي چي د دى عقائدو حامل تحريك فكر ولى اللهى څه حكم دى؟

جواب: فكر ولى الهى خالص يوه دهوكه ده عام طور داخلګ د حضرت شاه صاحب دنوم په اړكي د اشتراكى نظام پر چار كوى.

والله اعلم

(فتوى نمبر ۲۵ \ ۳۱۹):

ګروپ آف لبرل مسلمز تحريک په قيام باندې د حضرت د امت بركا تهم رايه

سوال:- السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

دعاء د صحت اوږد عمر لوړ ايمان سره د جناب والا په خدمت عاليه كي مودبانه عرض دى چي د وطن عزيز د قيام د مقاصدو تكميل په دوو پنځوس كالوكي د نه كيدلو اصل سبب زموږ د قرآني تعليماتو ښخه عدم توجهي اوغفلت اوكوتاهي ده اګر كه هرسابق حكومت د اسلام په نوم باندې ئې قوم ته دهوكه وركړې ده خو د قرآني تعليماتو ښخه نا

آشنائی اوعدم توجهی زموږ د مذهبی راهنماګانو کوتاهی اوغفلت هم دی چې بنیا...
حقیقت هم دی همدا زموږ پخپل مینځ کې دنفرتونو او اختلافاتو اصل سبب هم د...
الحمد لله نوجوان نسل کې مینه او د رغبت بیداره کولو اونفرتونه ورانولو او ورسره...
وحدت اسلامی نیکو مقاصدو دتکمیل دپاره دګروپ اف لبرل مسلم تحریك قیام...
وجود کې راغلی دی زموږ مقصد داصلاح ځخه سوا هیڅ نه دی یوه معتدله معاشره...
اخوت اسلامی بیداره کولو او د قرآن کریم فهم د نوجوان نسل خاصکر مسلمان...
حافظانی انجونی اوهلکانو ته د قرآن کریم معانی ایزده کولو دعوت اوپه هغه باندی...
عمل ترغیب زموږ مقصد دی ځکه چې ذهن انقلاب او د اسلامی تعلیماتو بیدا...
ځخه بغیر د اسلام عملی صورت په نظر نه راځی د مشن د کامیابی دپاره د د...
درخواست دی په عقیدت او احترام سره به د جواب انتظار وی.

جواب: د کوم مقصد د پاره چې تادا تنظیم قایم کړی دی هغه مقصد لوئې اومبارک د...
تاته دالله تعالی دخپلی رضا مطابق دملك اوملت دخدمت توفیق درکړی آمین، خو...
ګذارش دادی چې تاپه خپل نوم کې لبرل (Liberal) کومه اضافه کړی ده د دی په با...
کې داطی کول پکار دی چې د دی څه مقصد دی؟ کومو خلګو لره په دی لفظ...
(Exclude) خارج کول مقصود دی د دی سوال صحیح جواب متعین کولو ځخه مخ...
د یورپ دلبر لیزم د تاریخ مطالعه به هم مفید وی چې د دغه لبر لیزم تحریك په وج...
کې د راتلو څه اسباب وو؟ هغه اسباب زموږ خواته موجود دی؟ دوهم ددی لبر لیز...
څه نتائج راوځی؟ او آیا هغه نتائج به موږ ته مطلوب وی؟ امید دی چې په دی سوالو...
باندی به مغروضی معاطلی په ذریعه غور اوفکر وکړی. والسلام

(احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

ازطیاره براه لاهور)

(فتوی نمبر ۲۹ ۴۰۰)

...ی لیکم ځکه می په بیل کاغذ ونه لیکی معذرت خواه یم)

...صولره علی الاطلاق دکافرن نه ګرځولو وجه

...حی (بینات) والو دوه نمبری د رافضو په باره کې شایع کړی دی...
...ی د علماؤ په متفقه فیصله کې شیعه کافر دی په هغه کې...
...ر پاک ... اؤ دستخط موجود دی ستاسو دستخط د نظر ځخه نه...

تیرسوی او زموږ د یودوست ویناده چې مولانا محمد رفیع صاحب ته دشیعه روافضو دتکفیر په باره کې ترد ددی برای مهربانی تاسو د خپلی رائی اظهار وکړی چې آیاواقعی داسی دی چې تاسو شیعه ګان کافرنه ګڼی فقط والسلام.

ستاسو مخلص احقر حافظ مشتاق احمد

جواب: کوم شیعه چې کفری عقائد ساتی مثلاً په قرآن کریم کې د تحریف قایل وی یاداعقیده ساتی چې حضرت جبرایل ﷺ نه په وحی راوړلو کې غلطی سوی ده یاپه حضرت عائشه ﵂ باندی تهمت لګوی نو د هغوی په کفرکی شك نسته خو داخبره چې ټول شیعه ګان یاداشان کافرنه عقائد ساتی تحقیق سره ثابته نه ده او ډیر شیعه ګان دا وایې چې په الکافی یااصول الکافی وغیره کې چې څومره خبری لیکلی دی موږ هغه ټولی صحیح نه ګڼو دوهم اړخ ته چاته کافر ګرځول ډیره سنګینه معامله ده د دی وجې ځخه په دی کې بی حده احتیاط ضروری دی بالفرض که څوك تقیه هم وکړی نوهغه به دخپلو باطینی عقائدو له وجی به دخدای ﷻ په نزد کافروی خوفتوی به د هغه په ظاهری اقوالو باندی ورکول کیږي د دی وجې ځخه څوارلس سوه کالو کې د علماء اهل سنت اکثریت شیعه ګانو ته د علی الاطلاق کافر ویلو په ځای دا وایې اورا روان وی چې کوم شیعه داسی کافرانه عقائد لری هغه کافر دی او همدا طریقه د ډیرو اکابرو علماء دیوبند هم پای ده اوچونکه د جمهور علماء په دی طریقه کې د تبدیلی راوړلو د پاره کافی دلائل محقق سوی نه دی ځکه دارالعلوم کراچی حضرت مفتی اعظم مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره د وخت ځخه د اکابرو هم ددی طریقی موافق فتوی ورکوی چې کوم شیعه ګان د دی کافرنه عقائد وقائل وی هغه کافردی خو علی الاطلاق هرشیعه خواه چې د هغه عقائد هرځنګه وی د کافر ګرځولو ځخه د جمهورو علماء امت دمسلك مطابق نئ احتیاط کړی دی خو د دی مطلب دانه دی چې د شیعه ګانو په ګمراهی کې څه شبه ده دکومو شیعه ګانو د کافر ګرځولو ځخه چې احتیاط سوی دی بغیر د شبهی ځخه هغوی هم په سخت ضلالت او ګمراهی کې دی الله تعالی دی د دی ګمراهو ځخه هرمسلمان په حفاظت کې کړی امین والسلام.

د سرسید احمد خان نظریات او د تبلیغی جماعت په باره کې حکم

سوال:- زید اکثر د دوستانو یاعام مجلسونوکې دسرسید تعریف کوی اودا وایې چې سرسید قوم بیداره کړو مسلمانانوته ازادی هم دهغوی دتعلیماتو ځخه وسوه بکر وایې

چې شعور اوبیداری مسلمانانوته دقرآن اوسنت نبوی څخه کیدی سی اودا ازادی خالص وجه دعلماء حق قرانیانی وی همدارنګه بکر داهم وایې چې سرسید د فرښتو اوجناتو دوجود څخه انکار کړی دی او داعقل صریح کفردی د سرسید په ځای دعلماء حق چې څومره تعریف هم وسی نوکم دی.

د مسلمانانو زوال اوکمزورتیا د انګریزی تعلیم څخه محرومه کیدل دی او داهم وایې چې بکر د دی قائل نه دی د زوال وجه د حضور ﷺ په احادیثو باندی عمل نه کول دی ورسره زید تبلیغی جماعت ته ډیرسست وایې چې ددوی طریقه دسنتو خلاف ده اوبکر وایې چې تبلیغی جماعت په صحیح لاری باندی روان دی د دوی هرقول اوفعل د حضور ﷺ دطریقو مطابق دی همدا وجه ده چې په کثرت سره غیر مسلم په اسلام سره مشرف سوی دی همدارنګه دظاهری شکل اوصورت هم قائل نه دی مسلم ږیره اولباس وغیره فراږ دی لازمی نه ده، تاسو زموږ د ډیرو پاسرېتیانو راه نمائې وکړی (طالب الحق ریاض سعودی عرب)

جواب: د بکر خبری صحیح دی د سرسید احمد خان صاحب دینی نظریات چې هغوی په خپل تفسیر کی بیان کړی دی انتهایې ګمراهانه دی (۱) او تبلیغی جماعت ماشاء الله ښه دینی خدمات ورکوی د دی د افرادو په څه عمل یاکار باندی تنقید کیدی سی لیکن په مجموعی توګه دی جماعت ته بدرد ویل ډیر بدکار دی (۲) والله سبحانه اعلم (۲۸/ ۱۰/ ۱۴۰۱ ھ) (فتوی نمبر ۱۲۳۷/ ۳۲ ج)

(۱) دسرسید او دهغه دنظریاتو متعلق دتفصیلی حکم دپاره امداد الفتاوی ج ۲ ص ۲۲، تر ۵۸ پوری ملاحظه کړئ.

(۲) دتبلیغی جماعت دحضرت دامت برکاتهم تفصیلی فتوی هم په دی جلد کی فصل الدعوة والتبلیغ کی وګورئ؟ (محمد زبیر عفی عنه)

کتاب السنة والبدعة

(دسنت اوبدعت سره دمتعلق مسایلو بیان)

دفرض لمانځه څخه وروسته (انّ اللهَ وملٰئکته یُصَلُّوْنَ عَلَی النبیّ) ویل

سوال:- که د فرض لمونځ څخه وروسته (انَّ اللهَ وَمَلٰئِکَتَهُ.....الخ) والا ایت وویل سی نو په شریعت کی ئې څه حکم دی؟ او ایا دابدعت حسنه هم کیدلی سی ؟

جواب: نن صبا چې څنګه د دی آیت د ویلو التزام کولی سی چې د دی په پرینښودونکی باندی داسی بد رد ویلی سی لکه د فرائضو په پرینښوولو چې کول کیږي نو دابدعت سیئه وی، حسنه نه وی د حضور ﷺ دقول له وجی [۱] (کل بدعة ضلالة) (والله سبحانه اعلم) (۲۵/ ۲/ ۱۳۹۷ ھ) (فتوی نمبر ۲۸/۲۵۴ ب)

د نیاز د فاتحی حکم

سوال:- که چاڅه پاخه کړل نیاز فاتحه یې ورکړله نوترڅوچی نیاز فاتحه ونه سی تقسیمول یې ممکن نه دی؟

جواب: د نیاز فاتحی مروجه طریقه د سره څخه دشریعت په رڼاکی صحیح نه ده هو! که دکوم بزرګ روح ته ایصال ثواب کول وی نوخوراك دی پوخ سی او صدقه دی سی او دا دعاء دی ووایی چی الله تعالی دی ددی صدقی ثواب فلانی ته ورسوی او داجازه ده اوپه دی نیت کولو دپاره د نیاز فاتحی ضرورت نسته دی (والله اعلم ۲/ ۵/ ۱۳۸۸ ھ)

دکوم بزرګ په مزارباندی اجتماعی قرآن خوانی کول

سوال:- دکوم بزرګ په مزار باندی په اجتماعی حیثیت سره په نیت د ایصال ثواب قرآن خوانی کیدی سی اوکه نه؟

---

(۱) رواه احمد وابوداؤد والترمذی وابن ماجه راجع الی مشکوة المصابیح الاعتصام بالکتاب والسنه ج۱ ص ۳۰ (طبع قدیمی کتب خانه) وفی مرعاة المفاتیح لابی الحسن المبارکپوری الهندی ج ۱ ص ۲۲۴ (طبع بنارس هند) والمردا بالبدعة ما احدث فی الدین مالا اصل له فی الشرعیة یدل علیه واما ماکان له اصل من الشرع یدل علیه فلیس ببدعة شرعًا وان کان بدعة نعة واما ماوقع فی کلام السلف من استحسان بعض البدع فانما ذالك فی البدع اللغویه لا الشرعیة فالبدع الشرعیة کلها مذمومة لانها موجبة للضلال والغوایة وفی تعلیق الصبیح علی مشکوة المصابیح للشیخ محمد ادریس الکاندهلوی ج :۱ ص ۸۸ (طبع دار الاحیاء التراث العربی بیروت) فالبدعة فی عرف الشرع مذمومة بخلاف اللغة فان کل شیئ احدث علی مثال یسمی بدعة سواء کان محمودا اومذمومًا الخ اوهمدارنګه وګوری فتاوی رشیدیه ص : ۱۳۷ (طبع اداره اسلامیات) (محمد زبیر حق نواز)

جواب: ایصال ثواب جائز دی اوهغه هرځای او هروخت کیدی سی خو دچا په قبر باندی اجتماعی طور سره سره قران خوانی کول ایصال کولو د پاره دصحابه کرامو ﷺ څخه هیڅ ثبوت نسته لهذ د دی طریقی څخه اجتناب بهتر دی. والله سبحانه اعلم الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۲/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

د قرآن دختم په موقع باندی څراغان کول اوشیرینی تقسیمول

سوال:- درمضان په میاشت کی د قرآن په ختم باندی جومات ښایسته کول رڼا کول او دقرائت مقابله وغیره کولو څخه وروسته شیرینی تقسیمول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په جومات کی څراغان کول اسراف دی اوپه هیڅ حال کی جائز نه دی [۱] د قرائت مقابله که په ماشومانوکی د قرآن کریم د ترغیب په غرض سره وی نو د دی ګنجائش سته خونن صبانوم اونمود او د فخر په غرض سره چی کومی مقابلی کیږي د هغه څخه احتراز لازم دی څنګه چی دشیرینی دتقسیمولو خبره ده د دی مسئله داده چی دجوماتو په پیسو شیرینی بیشل جائز نه دی هو که څوك کوم سړی په خپله خوښه شیرینی تقسیموی اوهغه مسنون اولازم نه ګڼی نو ددی ګنجائش سته. والله سبحانه اعلم (۱۱/۲۵/ ۱۴۰۱ ھ) (فتوی نمبر ۱۲۰۰/ ۳۲ج)

سفر کولوسره د بزرګ د مزار زیارت کول

سوال:- زید کله کله اتیا۸ نوی ۹۰ کیلو متره سفر کولوسره د کوم بزرګ قبرته ځی خیال یې داوی چی په دی مقام باندی الله تعالی دعاقبلوی په هغه مقبره کی بعضی مشرکانه افعال هم کیږي ایا داسی تلل جائزدی؟

---

(۱) وقال العلامه الشاطبی فی العتصام ج ۲ص ۲۷۳ (طبع دارالمعرفة بیروت) ان النار لیس ایقاد ها فی المساجد من شان السلف الصالح ولاکانت مماتزین بها المساجد البتة ثم احدث التزین بها حتی صارت من جملة مایعظم به رمضان واعتقد العامة هذا...... وبعد اسطر.... ومثله ایقاد الشمع بعرفة اللیلة الثامن ذکر النوری ﷺ انها من البدع القبیحة وانها ضلالة فاحشة جمیع فیها انواع من القبائح منها اضاعة المال فی غیر و وجهه و منها الظهار شعائر المجسوس وقد ذکر الطرطوسی فی ایقاد المساجد فی رمضان بعض هذه الامور وذکر ایضًا فی قبائح سواها .(مرتب عفی عنه)

جواب: که زید د شرك او بدعاتو د مسائلو څخه ښه واقف وی او هغه ته اعتماد وی چی هلته به شرك او بدعاتو کی نه مبتلاکیږم نو بیابه ده لره تګ جائز وی ورنه نه به وی.

قال ابن حجر فی فتاویه: ولاتترك (ای الزيارة) لما يحصل عندها من منكرات ومفاسد لان القربات لاتترك لمثل ذالك بل على الانسان فعلها وانكار البداع وازالتها ان امكن. اه (شامی ج ۱ص : ۸۴۳) (۱) (والله سبحانه اعلم) (۲۰/۱۱/۱۳۸۷ هـ) (۲)

د فرض لمونځ او اخترونو څخه وروسته دمصافحی اومعانقی حکم

سوال: عموماً داخترونو (عید الفطر اوعید الاضحیٰ) دلمونځ څخه وروسته لمونځ ګذاره په جومات کی دننه د خطبی اودعاء څخه وروسته یوبل ته د اختر مبارکی وايي مصافحه اومعانقه کوی څه خلګ داضروری ګڼی څه درسم دپوره کولو په عرض باندی او څه د سنت په غرض باندی مصافحه اومعانقه کوی په لمونځ ګذارو کی څه حضرات بزرګان وی د هغوی متعلق د الله والا کیدو حسن ظن خلګ لری چی د دوی سره به په داسی کولوکی فیض حاصل سی اونیکیانوکی به مدد درکول سی هغوی څخه دارسم ګڼلو سره کوی اونه یې ضروری ګڼی بلکی د نیکو خلګو سره د عقیدی په وجه معانقه کوی ایا دا فعل د رسول ﷺ سنت څخه یاد اثار صحابه کرامو څخه رضی الله عنهم یا د ائمه اربعه د فتاوو څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: د دوو مسلمانانو دیوځای کیدو په وخت کی مصافحه مسنون ده اوکه څوك دسفر څخه راسی نوهغه سره معانقه کول هم د سنت څخه ثابته ده د دی دوو مواقعو څخه علاوه سنت نه ده څوکه دسنت ګڼلوڅخه بغیریې اتفاقا څوك وکړی نوګناه هم نه ده اوکه سنت ګڼلو سره یې کوی نوبیا بدعت دی زموږ په زمانه کی د فرض لمونځونو څخه وروسته مصافحه او د اخترونو وروسته معانقه سنت ګڼل کیږي حالانکه دا د حضور ﷺ څخه ثابت نه دی څکه علماؤ دی ته بدعت ویلی دی او ددی څخه دبچ کیدو تاکیدیې فرمایلی دی څوکه چیری د سنت دعقیدی داعلت نه وی نوبیا مباح ده.

(۱)شامی ج ۲ ص ۲۴۲ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲)دافتوی د البلاغ ذی قعدی کال ۱۳۸۷ هـ رسالی څخه اخستل سوی ده (مرتب).

فی رد المختار قد يقال: ان المواظبة عليها بعد الصلوة خاصتاً قد يودی الجهلة الى اعتقاد سنيتها فی خصوص هذه المواضع وان لها خصوصية زائدة على غيرها مع ان ظاهر كلامهم انه لم يفعلها احد من السلف فی هذه المواضع ونقل فی تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعد اداء الصلوة ولانها من سنن الروافض اه ثم نقل عن ابن حجر عن الشافعية انها بدعة مكروهة لا اصل لها فی الشرع وانه ينبه فاعلها اولا ويعزر ثانياً الخ (رد المختار باب الاستبراء وغيره من كتاب الحظر والابحه) (۱)
ومثله فی عزيز الفتاوی (۲) والله اعلم (۱۲/۱۱/۱۳۹۷ هـ) (فتوی نمبر ۷۰/۲۸ الف)

د لمانځه څخه وروسته یامیلمه سره د ملاقات په وخت مصافحه کول

سوال: د فرض لمونځ څخه وروسته خصوصاً اودمازیګر دلمونځ څخه وروسته ددعاء څخه فارغیدو سره مصافحه کول څپل مینځ کی یوبل سره لاس نیول او د امام صاحب په مصلی باندی دریدلوسره لاس نیول لازمی دی اوکه نه ؟ که کوم میلمه د لمونځ څخه وروسته مصافحه کول غواړی نو د هغه سره مصافحه کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: هیڅ کله لازم نه دی بلکی لازم یا ثواب اوسنت ګڼلو سره مصافحه کول بدعت دی او د دی پریښوول واجب دی (۳) د میلمه سره په اول ملاقات کی مصافحه کول مسنون دی (۴) په دی نیت سره مصافحه صحیح ده. (والله اعلم) (۲۹/۸/۱۳۹۷ هـ) (فتوی نمبر ۸۸۴/۲۸ ج)

د مړی سرته ګښینستل یا ادیری ته د وړولو په وخت کی کلمه ویل

سوال: دمړی د کټ خواته په ناسته یاپه ولاړه کلمه طیبه په لوړ آواز سره ویل یادمړی ادیری ته د وړولو په وخت کلمه طیبه ویل څنګه دی؟

(۱) فتاوی شامیه ج۶ص ۳۸۱ همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج ۵ص ۲۲۰، امداد الاحکام ج ص: ۱۹۵ .

(۲) عزیز الفتاویٰ ص: ۱۲۸ .

(۳) وفی شامیه ج۶ص ، ۳۸۱ (طبع سعید) ونقل فی تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعد اداء الصلوة بكل حال لان الصحابة رضی الله عنهم ماصافحوا بعد اداء الصلوة ولانها من سنن الروافض (الى ان قال) فيز جر فاعله لناتی به من خلاف السنة همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج۵ ص ۲۲۰

(۴) وفی الشامية ايضًا وموضع المصافحة فی الشرع انماهو عند لقاء المسلم لاخيه لافی ادبار الصلوة.

جواب: په دوارو وختوکی کلمه طیبه ویل صحیح دی خودا لازم اوضروری گڼل نه دی پکار اوپه لوړ آواز سره دی ونه ویل سی. (۱) والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

بنده محمد شفیع عفی الله عنه ۱۳۸۸/۲/۱۲ هـ) (فتوی نمبر ۱۸/۲۴۸ الف)

په کفن باندی کلمه طیبه لیکل:

سوال: په کفن باندی کلمه طیبه لیکل ستاسو په خیال څنگه دی؟

جواب: جائز دی خو دصحابه کرامو ﷺ اوسلف صالحینو څخه منقول نه ده د دی وجی څخه نه لیکل بهتر دی. (۲) الجواب الصحیح عفا الله عنه فقط والله سبحانه اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۳۸۸/۲/۱۲) (فتوی نمبر ۱۸/۲۴۸ الف)

جشن میلاد النبی ﷺ شرعی حیثیت

سوال:- څه فرمایي علمائی دین چی یوه جمعه په جومات کی د اعلان وکړی چی په فلانی تاریخ به جشن عید میلاد النبی ﷺ وی اوبیا وروسته د یوسړی په وینا فلانی مولا هغه جومات ته د تقریر کولو د پاره رانسی ځکه چی هغه زما څخه خوابدی دی بیا یوڅو سړیان هغه سره په یوځای کیدو جلسی د ملتوی کولو اعلان وکړی دباقی عوامو خیال ونه ساتی د شریعت په رڼاکی دمسئلی حل را واستوی. والسلام

جواب: د جشن عید میلاد په شریعت کی هیڅ اصل نسته (۱) البته د حضور ﷺ ذکر مبارک او د حضور ﷺ سیرت مبارک اوریدو او اورولو دپاره څه مجلس دڅه خاص

(۱) فی الدر المختار ج۲ صـ ۲۳۳ کره فیها رفع صوت بذکر اوقراءة فتح وفی الشامیة (قوله کماکره) قبل تحریما وقیل تنزیها کما فی البحر عن الغایه وفیه عنها وینبغی لمن تبع الجنازة ان یطیل الصمت وفیه عن الظهریة فان اراد ان یذکر الله تعالی یذکره نفسه لقوله تعالی انه لایحب المعتدین او الجاهرین بالدعاء وعن ابراهیم انه کان یقرأ ان یقول الرجل وهویمشی معها استغفروله غفرالله لکم قلت واذاکان هذا فی الدعاء والذکر فماظنك بالغناء الحادیث فی هذا الزمان وفی الفتاوئ الخانیة علی هامش الهندیة صـ ۱۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) ویکره رفع الصوت بالذکر فان اراد ان یذکر الله یذکره في نفسه وعن ابراهیم کانوا یکرهون ان یقول الرجل وهو یمشی معها استغفرو الله یغفر الله لکم: الخ

(۲) دتفصیل دپاره وگوری عزیز الفتاوی صـ ۹۹.

ورځ یاتاریخ قید څخه بغیر که منعقد کړی نوصحیح ده په دی شرط چی ددی مقصد دحضور ﷺ دذکر مبارك څخه برکن حاصلول اوپه سیرت طیبه باندی د عقل کولو جذبه پیداکول وی دنوم اونمود مقصد نه وی په صورت مسؤله کی که محفل ددی غرض دپاره منعقد سوی وی نوصحیح دی.

خوکه د څه مصلحت له وجی هغه ملتوی سو نوپه دی کی هم څه شرعی قباحت نسته مثلاً څوك عالم د سیرت دبیانولو دپاره موجود نه وی یادڅه فتنی اوفساد خطره وی هو که دڅه عذر څخه بغیر جلسه ملتوی سوه نوپه دیکی حاضرینوته خامخا دتکلیف رسولو گناه به وی (والله اعلم)

۱۴۰۰/۲/۱۳ هـ (فتوی نمبر ۳۱/۷۳۲ ج)

د واده په موقعه باندی خلکوته سپینی لنگوټی ورکول اودسنت (ختنه) په موقع خلک جمع کول.

(۱) وفی الابداع فی مضار الابتداع صـ ۱۲۲ طبع مکتبه علمیة مدینة المنورة قیل اول من احدثها بالقاهرة الخلفاء الفاطمیون فی القرن الرابع فابتدعوا ستة موالد......... ثم اعیدت فی خلافت الحاکم بامرالله فی سنة اربع وعشرین وخمسمئاته بعد ماکاد الناس ینسونها واول من احدث المولد النبی ﷺ مدینة اربل الملك المظفر ابوسعید فی القرآن السابع وقد استمر العمل بالموالد الی یومنا هذا وتوسع الناس یومنا هذا وتوسع الناس فیها وابتدعوا بکل ماتهواه انفسهم ویوحیه الهیم الشیطان دجشن میلاد النبی تاریخی شرعی حیثیت متعلق دمکمل تفصیلاتو دپاره لاندی کتابونه وگوری فتاوئ میلاد شریف مجموعه افاضات حضرت مولانا احمد علی سهارنپوری حضرت گنگوهی حضرت تهانوی رحمة الله علیه رحمهم الله ۲ فیصله هفت مسئله حضرت حاجی امداد الله مهاجر مکی رحمت الله علیه . ۳ التحذیر من البدع عبد العزیز بن عبد الله بن باز رحمهم الله علیه .

۴ الانصاف فیماقیل فی المولد ابوبکر جابر الجزائری .

۵ جواهر الفقه (جلد ۱ ص : ۲۰۵) مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله .

۶ راه سنت (ص : ۱۲۵ حضرت مولانا سرفراز خان صاحب صفدر دامت برکاتهم

۷ تاریخ میلاد : حکیم مولاناعبد الشکور صاحب مرزاپوری. (محمد زبیر حق نواز)

سوال:- زموږ خواته چې کله خلګ دواده د کور څخه رخصت کیږي نوسپینی لنګوټی ورکوی دغه خلګ دالنګوټی وترې یابې په لاس کی ونیسی او خپلو کورونوته ځی اودالویه د عزت خبره ګڼل کیږي ایا داطریقه جائزده اوکه رسم دی؟
۲ اود سنت (ختنه) په موقع خلګ جمع کول سنت دی اوکه بدعت ؟

جواب: دارسم که دسنت ګڼلو سره ترسره کیږي نوبدعت او واجب الترك دی اوکه سنت نه ګڼل کیږي خو ددی داسی پابندی کیږي لکه د فرائضو او واجباتو چې کیږي اوکه وبې نه کړی نودا بد ګڼل کیږي نوبیا خودا ناجائزده اوکه ددی خبرو څخه پرهیز کولوسره دخوشدلی په خاطر بغیر د دباؤ څخه ورکول سی او د خفګان هم څه توقع نه وی نوجائزدی.
۲ سنت ګڼلو سره جمع کول یا د دی د سنتو په شان پابندی کول اونه کوونکی لره بدګڼل بدعت او واجب الترك دی (۱) والله سبحانه اعلم ۱۸۰/ ۱/ ۱۴۱۲هـ (فتوی نمبر ۵۸/۷۲)

د لمانځه څخه وروسته د مصافحی کولو حکم

سوال: دلمونځ څخه وروسته چې خلګ مصافحه کوی داجائزده اوکه نه ؟
جواب: دلمونځ څخه وروسته چې مصافحه څنګه لازمه اودلمونځ جزء ګڼل سوی ده هغه بدعت او واجب الترك ده (۲) هو! که دکوم سړی سره هم هغه وخت ملاقات وسو نو د ملاقات دمصافحی په نیت سره مصافحه دی وکړی (۳) د لمونځ څخه وروسته نیت سره نه. (والله سبحانه اعلم) ۱/ ۱۰/ ۱۳۹۹ هـ (فتوی نمبر ۳۰۱۱۲۸۰)

---

(۱) وفی مسند احمد ج: ۴. ص: ۲۱۷. (طبع مؤسسه قرطبه مصر) عن الحسن قال دعی عثمان بن ابی العاص الی ختان فابی ان یجیب فقیل له: فقال انا کنا لانأتی الختان الی عهد رسول الله ﷺ ولاندعی له وکذافی المعجم الکبیر للطبرانی رحمه الله رقم الحدیث ۸۳۸۲ جلد ۹ ص ۵۷۱ (طبع مکتبه العلوم موصل) همدارنګه وګوری امداد المفتیین ص: (۲۰۱).
(۲) وفی الشامیة ج: ۷۲ ص: ۳۸۱ (طبع سعید) ونقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلوٰة بکل حال لان الصحابة رضی الله عنهم ماصافحوا بعد اداء الصلوٰة ولانها من سنن الروافض الی ان قال ویزجر فاعله لما اتی به من خلاف السنة. (دتفصیل دپاره وګوری امداد الفتاوی صـ ۲۲ عزیز الفتاوی: صـ ۱۲۸ امداد الاحکام ج ۱۹۵ وګوری.
(۳) وفی الشامیة: ج۲ صـ ۳۸۱ (طبع سعید) وموضع المصافحه فی الشرع انماهو عند لقاء المسلم لاحیه لافی ادبار الصلوٰة.

د بزرګ یاپیر دمنښتی او د میت د مختلفو رسو ماتو حکم

سوال: اکثره خلګ وایې چې نن د فلانی پیر یابزرګ منښته ده ددی څه مطلب دی اودا جائزدی اوکه نه ؟
۲ میت او د هغه سره دمختلفو رسوماتو چې زموږ خواته رائج دی په دی سلسله کی شرعی احکام څه دی؟

جواب: نن صباچې دمنښتی په نوم کوم رسمونه رائج دی په قرآن اوسنت اوشریعت مطهره کی د هغه هیڅ ثبوت نسته دابدعات پرېښول واجب دی (۱) البته د کوم بزرګ د ایصال ثواب طریقه داده چې څومره توفیق وی نقدی روپی یاخوراك کپړه صدقه کولوسره د هغه ثواب په خاموشی سره دی هغه بزرګ ته ورسول سی د دی غرض د پاره دا دعوتونه او اجتماعات کول شرعًا ناجائز او بدعت دی.
۲ په جنتی کالی اوبهشتی ګوهرکی دجنازی اودمیت احکام په تفصیل سره موجود دی دهغه مطالعه وکړی (والله سبحانه اعلم) ۱۱۷/ ۱۲/ ۱۴۰۰ هـ) (فتوی نمبر ۱۲۵۲/ ۳۸ هـ)

دعرس اوکلیزی شرعی حیثیت

سوال:- دعرس اوکلیزي په شریعت کی څه حیثیت دی ؟
جواب: دعرس اوکلیزی په شریعت کی هیڅ حیثیت نسته داټول د انسانانو ایجاد سوی بدعتونه دی چې د هغه څخه پرهیز لازم دی (۲) (والله سبحانه اعلم ۱۱۵/ ۱۱/ ۱۴۰ هـ) (فتوی نمبر ۱۷۱۲/ ۳۲ج)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ صـ ۴۳۹ (طبع سعید) واعلم ان النذر یقع للاموات ومن اکثر العوام ومایوخذ من الداراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربًا الیهم فهو فی الاجماع باطل وحرام مالم یقصد واصرفهالافقرا الاقام وقد ابتلی الناس بذالك وکذا فی البحر الرائق ج: ۲ صـ ۲۹۸ (طبع سعیه) (محمد زبیر حقنواز)
(۲) فی التفسیر سورة العمران صـ ۲۵ (طبع بلو چستان بك ډپو) لایجوز مایفعله الجهال بقبود الاولیاء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السرج والمساجد علیها ومن الاجتماع بعد الحول کالاعیاد ویسمونه عرسًا همدارنګه فتاوی رشیدیه صـ ۱۲۸ ۱۲۵.

د جنازې لمونځ څخه وروسته لاس لوړولو سره دعا غوښتل

سوال:- حضور اکرم ﷺ د کوم صحابي د جنازې لمونځ کولو څخه وروسته لاس لوړولو سره دعاء غوښتې ده او که نه؟ دجنازې د لمونځ څخه وروسته لاس لوړولو سره دعاکول څنګه دی؟

جواب: دجنازې دلمونځ څخه وروسته لاس لوړولو سره دعا غوښتل نه د نبي ﷺ څخه ثابت دي اونه دنورو صحابه کرامو ﷺ لهذا نن صبا چې کوم رواج شروع دی اوداشان ضروري ګڼي او د دې په پرېښوولو باندې بد وايي هغه بدعت او واجب الترک دی (۱) والله سبحانه اعلم

۱۲/۹/۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۲۸/۱۹۵۷ ج)

د نکاح په وخت د واده ځلمي ته سهره تړل

سوال:- دنکاح څخه مخکې د ځلمي په سرسهره تړل د کوم روایت څخه ثابت دی؟

جواب: سهره تړل د هندوانو رسم دی مسلمانانو لره ددې څخه پرهیز کول پکار دی. والله سبحانه اعلم ۱۲/۹/۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۲۸/۱۹۵۷ ج)

د خوراک مخ ته ایښوولو سره فاتحه ویل

سوال:- خوراک مخ ته ایښوول لاس لوړول او فاتحه پر ویل د کوم حدیث یا روایت څخه ثابت دي او که نه؟ او فاتحه لازمي ګڼل څنګه دی؟ حضور اکرم ﷺ به د مرحوم د پاره ایصال ثواب څنګه کوی؟

جواب: د هیڅ روایت یا حدیث څخه ثابت نه دی او دا لازم ګڼل بدعت شنیعه دی د ایصال ثواب صحیح طریقه داده چې هر یونیک عمل په صدق او اخلاص سره د نام اولموډ څخه بچ کیدلو سره دا دعاء وواياست چې یا الله ددې ثواب فلانکي ته ورکړې او ددې غرض د پاره خلک جمع کول یا په خاصو ورځوکې جمع کیدلو سره

(۱) وفی مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ص ۲۴ (طبع مکتبه امدادیه ملتان) ولا يدعوا للميت بعد صلوٰة الجنازة لانه يشبه الزيادة فی صلوٰة الجنازة وفی بزازیه (علی الهندیه ص ۸۰ لایقوم بالدعاء بعد صلوٰة الجنازة لانه دعامرة لان اکثرها دعاء وفی خلاصة الفتاوی ص ۲۲۵ • طبع امجد اکیډمی لاهور) ولایقوم بالدعاء فقی قرائت القران لاجل المیت بعد صلوة الجنازة وقبلها وفی البحر المرائق ص ۱۸۳ (طبع سعید) لایدعوا بعد التسلیم . وفی الفتاوی سراجیة علی قاضیخان ص ۱۴۵ اذا فرغ من الصلوٰة لایقوم داعیاله وفی جامع.

اجتماعي طور باندې تلاوت کول، خوراک کول وغیره داټول امور بدعت دي او د دې څخه پرهیز کول پکار دی. والله سبحانه اعلم

۱۲/۹/۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۲۷/۱۹۵۷ ج)

په قبرکې د عهدنامې د ایښوولو حکم

سوال:- په قبرکې عهدنامه ایښوول څنګه دی؟

جواب: دمړي سره په قبرکې دهیڅ قسمه عهدنامې ایښوولو په شریعت کې څه اصل نسته. (۱) والله سبحانه اعلم (۱۱/۲/۱۳۸۸ ھ) (فتوی نمبر ۲۳۲/۱۹۱ الف)

په قبر باندې د تلقین حکم

سوال:- په قبر باندې د تلقین څه کیفیت دی؟

جواب: په قبر باندې په شریعت کې د تلقین هیڅ اصل نسته. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱/۱۱/۱۳۹۷ ھ

په جوماتکې په لوړ آواز سره درود اوسلام نعت اومیلاد منعقد کول

سوال: په جومات کې په لوړ آواز سره درود اوسلام اونعت ویل پکار دي او که نه؟ په جومات کې میلاد شریف پکار دی او که نه؟

جواب: دلمونځ په وختونو کې کله چې خلک فرض سنت اونوافل کوي په جومات کې په لوړ آواز سره ذکر یا وعظ او خطبه کول درست نه دي (۳) البته کله چې خلک په لمونځ

(۱) دتیری صفحی حاشیه الرموز فصل فی الجنائز ص ۲۸۳ (طبع ایچ ایم سعید) لایقوم داعیاله، وفی نفع المفتی والسائل ص ۱۴۳ (طبع کتب خانه رحیمیه دیوبند یوپی) الدعاء الجنازة مکروه همدارنګه مزید وګوری امداد الاحکام ج ص ۱۹۴ وامداد المتقین ص ۱۷۲ (محمد زبیر) وګوری فتاوی دارالعلوم دیوبند عزیز الفتاوی ص: ۹۹)

(۲) وګورئ فتاویٰ دار العلوم دیوبند (عزیز الفتاویٰ ص: ۹۹).

(۳) وفی الفتاوی البزازیه علی الهندیة ص ۳۷۸ وقد صح عن ابن مسعود ﷺ انه سمع قوماً اجتمعو فی المسجد یهللون ویصلون علیه، علیه الصلوة والسلام جهراً فراح الیهم فقال: ماعهدنا ذالك علی عهد علیه السلام ومارایکم الا مبتدعین فماذال یذکر ذالك حتی اخرجهم عن المسجد کذا فی ردالمختار ص ۳۹۸ وفی الشامیة ۳۴۹ (طبع سعید) وفی الملتقی وعن النبي ﷺ انه کره رفع

کی مشغول نه وی نو په جهر ذکر او وعظ کول جائزدی البته درود شریف چی څنګه نن صبا په ولاړه باند اجتماعی شکل کې په لوړ اواز سره ویل لازم ګڼل سوی دی هغه بدعت دی اوحضور ﷺ د سیرت طیبه بیان ډیر دسعادت او د خیر اوبرکت مؤجب دی خو دا د یوی خاصی ورځی سره مخصوص کول صحیح نه دی اوپه دی کی د حاضری مقصد د سنتو د اتباع جذبه کیدل پکار دی نمود ونمایش نه. والله سبحانه اعلم
۱۲|۲|۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۲۹|۱۲۱۹ب)

په قبر باندی د آذان کولو حکم

سوال:- یو سړی مړ سو دهغه جسم دښځو دپاره ادیری ته یوړلی سو او دښځو څخه وروسته د هغه په قبر باندی یو سړی اذان کوی په قبر باندی اذان کول صحیح دی ؟

جواب: په قبر باندی مذکوری طریقی سره اذان کول بالکل بی اصله دی په قرآن اوحدیث کی د دی هیڅ ثبوت نسته ددی څخه اجتناب لازم دی. (۱)
والله سبحانه اعلم ۷|۱۲|۱۳۹۶ھ (فتوی نمبر ۲۷|۲۷۷۲و)

د اذان څخه مخکی د صلوة وسلام ویلو حکم

سوال: د اذان څخه مخکی الصلوة والسلام ویل جائز دی اوکه نه؟ په کومو جوماتونوکی چی د دیر ۳۰ شو کالو څخه ویل کیدو اوس په ویلو او نه ویلو باندی په لمونځ ګذاروکی سخت اختلاف پیداکیږي د حدیث او فقه په رڼاکی په دلائلو سره ولیکی ؟

الصوت قرآت القران والجنازة والذحف والتذكير فماظنك به عند الغناء الذى يسمونه وجد اومحبة فانه مكروه لا اصل له فى الدين وفبها ص: ۳۹۸: فالاسرار افضل حيث خيف الرياء اوتأذى المصلين ... الخ.

(۱) وفى رد المختار صـ ۲۳۵ تنبيه فى الاقتصار على ذكر من الوارد اشارة الى انه لايسن الاذان عند ادخال الميت فى قبره كماهو المعتاد الان وقد صرح ابن حجر فى فتاويه بانه بدعة وقال: ومن ظن انه سنت قياساً على ندبهما للمولود الحاقا لخاتمة الاهر بابتدآيه فلم يصب وفى حاشية البحر الرائق باب الاذان صـ ۲۵۲ (طبع مكتبة ماجدية كويته قيل وعند انزال الميت القبر قياسا على اول خروجه للدنيا لكن رده ابن حجر فى شرح العبان الخ وفى رد البحار من بدع التى شاعت فى بلاد الهند الاذان على قبر بعد الدفن بحواله فتاوى رشيديه صـ ۱۳۲ د زيات تفصيل د پاره وګورى امداد الفتاوى صـ ۳۰۱ اوعزيز الفتاوى صـ ۱۰۲|۱۰۰).

جواب: درود شریف ویل ډیر د فضلیت عمل دی کوم مسلمان ته چی الله تعالی څومره توفیق ورکړی نو درود دی ووایي او خپله عملنامه دی د نیکو څخه ډکه کړی ددی څه خاص وخت دشریعت له اړخه مقررنه دی انسان چی کوم وخت وغواړی په اخلاص سره دی د نمود اونمائش څخه بغیر درود شریف ویلی سی نوزموږ په زمانه کی په بعضو مقاماتو باندی اذان څخه مخکی څنګه چی په اجتماع حیثیت سره په لوړ آواز باندی د صلوة والسلام ویلو رواج سوی دی اوڅنګه چی دافرض یاواجب یاد اذان لازمی جزګڼل سوی دی دا درود شریف نه دی بلکی د هغه نمائش دی چی د هغه هیڅ ثبوت په قران او سنت یا د صحابه کرامو او تابعینو په عهد مبارك کی نه ورکول کیږي څکه دابدعت دی (۱) مسلمانانوته پکاردی چی د دی طریقی په ځای په اخلاص او ادب سره د درود شریف د ویلو طریقه اختیار کړی. والله سبحانه اعلم ۲۷|۱۲|۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۲۹|۱۸۵۸ب)

د لمانځه څخه وروسته په لوړ آواز سره د صلوة والسلام ویلو حکم

سوال: دلمانځه څخه وروسته الصلوة والسلام په لوړ آواز سره په هیبت اجتماعی ویل فرض یاواجب یامستحب یابدعت دی ؟

جواب: درود ویل ډیر ثواب دی لیکن ددی طریقه چی نن صبا کومه شروع سوی ده چی ودریږي په اجتماعی شکل بې ویل ضروری ګڼی اوڅوك چی داسی نه کوی هغه بد ګڼی دابدعت دی. (۲) والله اعلم

---

(۱) وفى الفتاوى الكبرى لابن حجر الهيتمى صـ ۱۲۹، ۱۳۰ (طبع مكتبه اسلاميه) وسئل هل الصلوة على نبى ﷺ مسنونة قبل الاذان كماهى بعده ؟ وهله نهى عنه وعن الصلوة على النبى ﷺ قبل الاذان اولاً ؟ (فاجاب) بعد اسطر... اما الصلوة والسلام على النبى ﷺ بعد الاذان والاقامة فانها مندوبان كماصرح به اصحابنا وماجاء بذالك خبر مسلم والاربعة الا ابن ماجة وفيه ابضا ج ۱: صـ ۱۳۱ فمن اتى ... معتقدا سنيته فى ذالك المحل المخصوص نهى عنه ومنع منه لانه تشريع بغير دليل ومن شرع بلادليل يزجر عن ذالك وينهى عنه فائده قد احدث مؤذنون الصلوة والسلام على رسول الله ﷺ عقب الاذان وكان ابتداء حدوث ذالك فى ايام السلطان الناصر صلاح الدين ابن ايوب وبامره فى مصر ـــــ اعمالها ولقد استفتى مشأخنا وغيرهم فى الصلوة والسلام عليه بعد الاذان على الكيفية التى يفعلها المؤذنون فافتوا بان الاصل سنة والكيفية بدعة وفى الابداع فى مضار الا بتداع صـ ۷۷، ۷۸ (طبع مكتبه علمية المدينة المنورة) لاكلام فى ان الصلاة والسلام على النبى ﷺ عقب الاذان مطلوبان شرعا لورود الاحاديث الصحيحة انما الخلاف

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه محمد عاشق الهی عفی عنه
۱۳۸۸\۱۲\۱۸ه (فتوی نمبر ۱۹۱\۲۲۳ الف):

دلمونځ اودرس څخه وروسته مصافحه کول

سوال: زموږ په جومات کی هره ورځ د سهار لمونځ څخه وروسته د قرآن درس کیږي د درس قرآن څخه وروسته کله چی مولوی صاحب ودریږي نو د مصافحی د پاره ورته خلګ ودریږي په دی کی کله هم ناغه نه کیږي داشان پابندی بدعت نه ده؟

جواب: که د سهار وی او که دماپښین څخه وروسته یا د درس قرآن څخه وروسته د ثواب ګڼلو سره مصافحه کول بدعت دی که په دی باندی داشان پابندی وکړی چی څوک مصافحه ونکړی نو هغه بدګڼی نو بیا هم بدعت دی (۱) څوکه دا د ثواب ګڼلو څخه بغیر او څوک چی مصافحه ونکړی هغه بد ګڼلو څخه پرهیز وکړی نو څه خبره نسته.

والله اعلم ۳\۲\۱۳۸۸ه (فتوی نمبر ۱۹۰\۱۹ الف)

د امام صاحب د جنازی دلمانځه څخه وروسته دعا نه کول

سوال: دجنازی لمونځ کی د تکبیرونو څخه وروسته سلام ګرځولو سره امام مروجی طریقی باندی دعاء ونکړله او ولاړی څه خلګو اعتراض وکړی چی د دعاء څخه بغیر

فی الجهر بهما علی الکیفیة المعروفة والصواب انها بدعة مذمومة بهذه الکیفیة الی جرت بها عادة المؤذنین من رفع الصوت بهما کالاذان والتمطیط والتغنی فان ذالك احداث شعار دینی علی خلافت ماعهد عن رسول الله ﷺ واصحابه والسلف الصالح من ائمة المسلمین ولیس لاحد بعدهم ذالك ومن ثم قال العلامة ابن حجر فی فتاویة الکبری من صل علی النبی ﷺ قبل الاذان اوقال محمد رسول ﷺ بعده معتقدا سنیة فی ذالك المحل ینهی ویمنع منه لانه تشریع بغیر دلیل ومن شرع بغیر دلیل یزجر ویمنع انتهی وهذا العلامة ابن حجر حکم علی من ﷺ قیل الاذان او قال محمد رسول الله ﷺ بعده بانه شرع فی دین الله تعالی وانه یمنع من ذالك ویزجرو ماذاك الا القبح مافعل الخ. وګوری ص ۱۱۴ اول نمبر حاشیه.

(۱) وفی الشامیه ص ۲۸۱ (طبع سعید) ونقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد ادا الصلوة بکل حال لان الصحابة ماصافحو بعد اداء الصلوة وانها من سنن الروافض قال ابن الحاج من المالکیه فی المدل انها من البدع وموضع المصافحه فی الشرع انماهو عند لقاء المسلم لاخیه لافی ادبار الصلوة فحیثت وضعها الشارع یضعها فینهی عن ذالك ویزجر فاعله لما اتی به من خلاف السنة وکذافی الفتاوی رشیدیه ص ۴۲۴ همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ص ۲۶۰ عزیز الفتاوی ص ۱۲۸ امداد الاحکام ص ۱۹۵.

لمونځ مکمل نه دی څه خلګو وویل چی د جنازی لمونځ پخپله د مړی په حق کی دعاء ده لمونځ مکمل سو کوم عمل صحیح دی؟

جواب: د جنازی لمونځ پخپله دعاء ده او د دی څخه وروسته بیا لاس پورته او دعاء کول د سنت څخه ثابت نه دی (۱) لهذ د امام صاحب عمل صحیح دی کوم خلګ چی د ده په دی عمل اعتراض کوی د هغوی اعتراض صحیح نه دی.

والله سبحانه اعلم (۱۳۹۶\۱۰\۲۲ ه) (فتوی نمبر ۲۷\۲۴۲۲ه)

د دفن څخه وروسته پرقبر باندی داذان کولو حکم

سوال: د دفن کولو څخه وروسته پرقبر باندی چی په ولاړه کوم اذان کیږي شریعت کی د دی څه اصل سته او که نه؟

جواب: دفن څخه وروسته داذان کولو څه حکم نسته د دی څخه احتراز کول لازم دی ځکه چی دا بدعت دی. (۲) والله اعلم.

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه محمد عاشق الهی عفی عنه
۱۳۸۸\۹\۱۲ (فتوی نمبر ۲۳۰ ۱۹ الف).

د دعاء په آخرکی صلوا علیه وسلمو تسلیما ویل په لوړ آواز سره د درود شریف دویلو حکم

سوال: نن صبا په بعضو جوماتونوکی د دعاء په اخرکی صلوا علیه وسلمو تسلیما ویلو سره امام اومقتدیان په زوره باندی درود شریف وایې که امام یې منع کړی نو فساد جوړیږي څه حکم یې دی؟

جواب: مذکوره عمل په کوم اهتمام اوالتزام سره کیږي او څنګه چی د دی په پرینښوولو باندی بدرد ویل کیږي هغه بدعت دی (۳) د دی څخه پرهیز لازم دی کوم خلګ چی په دی

---

(۱) وګوری ص ۱۰۸ حاشیة نمبر ۲.
(۲) وګوری د ص ۱۱۱ اول نمبر حاشیه.
(۳) وفی الفتاوی البزازیه علی الهندیه ص ۳۷۸ (طبع رشیدیه کویته وقدصح عن ابن مسعود ﵁ نه سمع قوما اجتمعوافی مسجد یهللون ویصلون علیه علیه الصلوة والسلام جهر فراح الیهم فقال ماعهدنا ذالك علی عهده علیه الصلوة والسلام ومااراکم الامبتدعین فماذال یذکر ذالك حتی

باندی عمل كونكی وی هغوی ته د اهل علم فتوی بنوولو سره په نرمی باندی پوهی ی
كی خود دی وجی څخه فتنه اوفساد جوړول واقعًا صحيح نه دی.
والله سبحانه اعلم ١١١١٠١١١٣٩٧هـ) (فتوى نمبر ٢١ ١٠ ٢٨ ج)

ماحكم قراءة الصلوٰة والسلام جهراً بعد صلوٰة الجمعة

د جمعی څخه وروسته په لوړ اوازسره دصلوٰة والسلام ويلو باندی په عربی كی مفصل فتوىٰ

هل يجوز بكلام الله وسنة الرسول ﷺ ان تؤدى الصلوٰة والسلام جهرا بعد الصلوٰة الجمعة امام المنصة والمحراب للجامع اهتماما والتزما شرفونا بالجواب الصائب ماجورين عند الله مشكورين عند الناس.

الجواب : ليعلم اولاً ان الصحابة رضوان الله عليهم فمن بعدهم من التابعين واتباعهم كانو سباقين الى الخير حريصين فى كل ماهو خير فى نظر الشرعية الغراء اذ عملو بكلما رأوه سنة بنبيهم الكريم ﷺ وبكلما حسنا شرعيا فدل على انه لم يبق بعدهم شيئ واجب ولامندوب الامام اوجب القرآن الكريم واحاديث رسول الله ﷺ احسن الصلوٰة والتسليم وان اخترع بعدهم فكر احد شياءً يمكن ان يكون مباحا ولكنه لايجوز ان يهتم به اهتماما ليبغاويدعى اليه الناس ويلام على من يتركه.

فاذا بحثنا عن فعل الصحابة واتباعهم فى مسئلتنا هذه رأينا انهم كانو يباشرون الصلوٰة على النبى ﷺ ويتعبرونه عملاً مهما مثابًا عليه غيران طريق مباشرتها عندهم غيره الطريق المذكور فى السوال، اذاكانوا يصلون منفردين خاشعين ولم يكونوا يؤدونها زرافات مجتمعين عند المناص والمحاريب، ولم يثبت فى شيئ من الروايات اجتماعهم لهذا المقصد واعلامهم به كما يعلمون الاذان.

فظهران الصلوٰة على النبى ﷺ حسن مثاب عليه والطريق المذكور غير مستحسن اذلوكان ذالك حسنا لفعله الصحابة بوجه احسن واهتمام بليغ.

اخرجهم عن المسجد كذافى رد المختار صـ ٣٩٨ وفى الشامية صـ ٣٤٩ وفى الملتقى وعن النبى ﷺ انه كره رفع الصوق عند قرآت القران والنجازة والزحف والتذكير فماظنك به عند الغناء الذى يسمونه وجد اومحبة فانه مكروه لااصل له فى الدين وفيها صـ ٣٩٨ فالا سرار افضل حيثت خيف الرياء اوتاذى المصلين الخ وفى المرقات شرح مشكوة صـ ٣٥٧ قوله تعالى ولاتجهر بصلوتك الخ ويسنالاسرار فى سائر الاذكار ايضا الا فى التلبية وراجع ايضًا الدرا المختار صـ ٥٢٣٥١٠ :

ثم فى هذا الفصل مفاسد اخرى عديدة:

١: ان الصلوٰة دعاء فى حضرة الحق جل وعلى مجده وقد تقرر فى موضعه ان الدعاء بالسر اولى قال الله تبارك وتعالى ﴿اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً﴾ (١)

٢: انه يشبه الرياء ولاينبغى دخول مواضع التهم (٢)

٣: غاية مافى الباب انه مباح وسفهاء زماننا يلتزمون التزاما ولاكالتزامهم الجماعة ويهتمون به ويلومون على تاركيه حتى ان بعضهم يزعمه فرضًا وقد تقرر فى الفقه ان التزام مالايلزم لايجوز فانه خلاف للاية الشرفيه ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِىْ﴾ (٣).

٤: بعضهم يباشره قائما ويعتقد ان الرسول ﷺ حاضرفى كل مكان ناظرالى كل شيئ وهذه العقيدة نخشى عليها الكفر كمالا يخفى على مسلم فان احاطة الاشياء كلها بالعلم ووجوده فى كل مكان من اخص صفات الله وسبحانه واشرال احد فيه شرك بالله تعالى نعوذ بالله منه.

وبالجملة فهذا الطريق لم يثبت فى القران المشهود لها يالخير لاسيما اذا ضمت معها استطاع (٤) والله سبحانه وتعالى اعلم الجواب الصحيح الاحقر محمد تقى العثمانى العبد محمد شفيع عفالله عنه ١٣٧٩١٦١١٣هـ (٥) :

---

(١) سورة الاعراف : ٥٥

(٢) وفى كشف الحفاء للعجلونى ج: ١ صـ ٤٥ رقم ٨٨ (طبع مؤسسة الرسالة بيروت) قول عمر من سلك مسالك الظمن انهم رواه الخرائطى فى مكارم الاخلاق مرفوعًا بلفظ من اقام نفسه مقام التهم فلا يلومن من انساالظن به وراجع ايضا سنن الكبرى للبيهقى صـ ٣٢٤ (طبع مكتبة دارالباز مكة المكرمة وفتح: البارى اجتناب مواضع التهم وكراهة الخ صـ ٣٣٦ (طبع دارا المعرفة بيروت)

(٣) سورة المائدة : ٣ :

(٤) وګورى سابقه حواله صـ ١١٤ حاشيه نمبر.

(٥) دافتوى حضرت والا دامت بركاتهم ديتمرين افتاء دكاپى نه اخستل سوى دى . وګورى سابقه حواله حاشيه نمبر صفحه ١١٤:

د لمانځه ښخه وروسته د درود شریف دویلو حکم

سوال:- لمونځ ښخه وروسته د درود شریف په لوړ اواز سره ویل پکار دی او که نه ؟
یا په مزه اواز سره ویل پکاردی ؟
جواب: په مزه ویل پکار دی زموږ په زمانه کی په لوړ اواز سره درود ویلو چی کوم رواج سوی دی او د دی دفرائضو په شان پابندی کیږي او ښنگه چی د دی په خلاف باندی ملامت اونکیر کیږي هغه بدعت دی. (۱) والله سبحانه اعلم
۱۳۹۲\۱۰\۱۵هـ
(فتوی نمبر ۲۷\۲۳۴۲هـ)

د جنازی د لمانځه ښخه وروسته لاس پورته اودعاء کول

سوال: دجنازی دلمانځه ښخه وروسته لاس پورته کولو سره دعاء کول جائز دی او که نه؟
جواب: دجنازی لمونځ پخپله دعاء ده د دی ښخه وروسته ددعاء دپاره اجتماعی اهتمام لکه چی نن صبا په بعضو خلگوکی مروج دی ددی دقرآن اوسنت اوبزرگان سلف دتعامل نه هیڅ ثبوت نسته اوداشان اهتمام اواصرار بدعت دی لهذ واجب الترک دی (۲). والله سبحانه اعلم ۲۰\۱۱\۱۳۹۷هـ (فتوی نمبر ۲۸\۱۲۵ الف)

د حیله اسقاط حکم

سوال: دحیله اسقاط په باره کی څه حکم دی؟
جواب: د حیله اسقاط مروجه روژی چی د میت په ذمه باندی پاته وی د هغه فدیه دی اداء کړی که میت وصیت کړی وی او د هغه د پاره یې مال هم پریښی وی نو وارثانو لره داسی کول واجب دی ورنه واجب نه دی خو بهتردی کذا فی عزیز الفتاوی (ج ۲ ص ۳۷۰ (۳). والله سبحانه اعلم ۲۰\۱۱\۱۳۹۷هـ (فتوی نمبر ۲۸\۱۲۵ الف)

---

(۱) ....
(۲) وګوری سابقه حواله ص ۱۰۸ حاشیه نمبر ۲ :
(۳) عزیز الفتاوی ص ۷۳ وبه ظهر حاله وصایا اهل زماننا فان الواحد منهم یکون فی ذمة الصلوة کثیرة وغیرها من زکوٰة واضاح وایمان ویوصی لذالك بدارهم یسیرة ویجعل معظم وصیة القرائة الختمات والتهالیل التی نص علماؤنا علی عدم الصحة الوصیة بها وراجع ایضاً الی الرسالة الثامنة الجلیل ص ۲۲۵ من رسائل ابن عابدین رحمه الله وامداد الاحکام ص ۱۸۳ .

د مړی سره تر ادیری پوری قرآن مجید وړل

سوال: مړی سره تر ادیری پوری قرآن مجید وړل ښنگه دی ؟
جواب: ددی هیڅ اصل نسته. والله سبحانه اعلم ۲۰\۱۱\۱۳۹۷هـ (فتوی نمبر ۲۸\۱۲۵ الف)

جنازی دلمانځه ښخه وروسته دعا غوښتل

سوال: دجنازی دلمانځه ښخه وروسته دعاء کول جائزدی اوکه نه؟
جواب: دجنازی لمونځ پخپله دعاء ده ددی ښخه وروسته ددعاء اهتمام دڅه قسم حدیث یاصحابه کرامو ﷺ اوتابعینو دعمل ښخه ثابت نه دی لهٰذانن صباچی په بعضو خلکو کی په کوم اهتمام سره داعمل کیږي هغه بدعت دی (کذافی عزیز الفتاوی (ج ص ۳۸۹ (۱) والله اعلم ۱۳۹۷\۱۱\۲۸\۱۰هـ (فتوی نمبر ۲۸\۱۵۲ الف) :

دمړی دښخولوښخه وروسته پرقبر باندی اذان کول.

سوال: اذان القبر- د مړی ښخولوښخه وروسته دهغه سرته د دریدوسره اذان کول جائز اوکه نه ؟
جواب: ددی صحابه کرامو ﷺ اوتابعینو ښخه هیڅ ثبوت نسته لهذا دابدعت دی (۲) والله سبحانه اعلم.
۱۳۸۸\۲\۲هـ (فتوی نمبر ۱۹\۱۸۴ الف) :

---

(۱) فتاوی دارالعلوم دیوبند ص ۲۸۹ مرقات المفاتیح ص ۲۴ (مکتبه امدادیه ملتان) بزازیه مع الهندیة ص ۸۰ (رسیدیه کتبخانه کویټه) خلاصة الفتاوی ص ۲۲۵ (امجد کیډمی لاهور) البحر الرائق ص ۱۸۳ جامع الرموز ص ۲۸۳ طبع سعید نفع المفتی والسائل ص ۱۴۳ طبع کتبخانه رحیمیه دیوبند یوپی امداد الحکام ص ۹۴ امداد المفتین ص ۱۷۲ عبارت سابقه ص ۱۸۰ په حاشیه نمبر (۲) باندی وګوری .
(۲) تنبیه فی القتصار علی ماذکر من الوارد اشاره الی انه لایسن الاذان عند ادخال المیت فی قبره محمد زبیر کما هو المعتاد الان وقد صرح ابن حجر فی فتاویه بانه بدعة وقال من ظن انه سنة قیاساً علی ندبهما للمولود الحاقًا لخاتمة الامر بابتدائه فلم یصب (ردالمختار ص ۲۳۵ کتاب الجنائز وفی درالبحار من البدع التی شاعت فی البلاد الهند الاذان علی قبر بعد الدفن بحواله فتاوی رشیدیه ص ۱۳۲ وامداد الفتاوی ص ۳۰۱ عزیز الفتاوی ص ۱۰۰ ، ص ۱۰۲ .

حیله اسقاط حکم: سوال: حیله اسقاط چی نن صبا مشهوره ده او خلک یې کوی دمروجه حیله اسقاط ثبوت ستا اوکه نه؟
ایا شریعت کی ددی څه ثبوت سته اوکه نه؟

جواب: د اسقاط مروجه هیله په شریعت کی هیڅ ثبوت نسته (۱) د مړی دګناه معاف کولو صحیح طریقه داده چی د هغه دپاره دمغفرت دعا وکړی اوکوم لمونځونه او روژی چی پری پاته دی د هغی دی فدیه اداء کړی اومړی ته دی ایصال ثواب وکړی. والله اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
بنده محمد عاشق الهی بلند شهری ۱۳۸۸\۲\۲ھ (فتوی نمبر ۱۸۴\۱۹ الف)

د رمضان په ۲۳ تاریخ د تراویحوڅخه وروسته سورة روم او عنکبوت ویل

سوال: درمضان ۲۳ باندی دجومات امام د تراویحوڅخه وروسته سورة عنکبوت اوسورت روم وایی خلک یې اوری اونذرانی پیش کوی داطریقه څنګه ده دفضائل قرآن دروایت حواله ورکوی داڅنګه دی؟ سائل (مولانا) محمدافضل خان شاپورکانا، سوات صوبه سرحد:

جواب: د قران کریم تلاوت باعث د اجر اوثواب دی خو په دی التزام سره ویل زموږ په علم کی بی اصل دی د کوم روایت چی هغه صاحب ذکرکوی دغه مفصل حواله ولیکه اورا ویې لیږه د هغه په باره کی څه ویلی سی. والله اعلم ۱۳۹۷\۱\۱۲ھ
(فتوی نمبر ۲۸\۲۷ الف)

د حیله اسقاط اومړی دپاره دری ورځی خیرات کولو حکم

سوال: دمړی په فدیه کی پیسی اوقرآن دور اسقاط ګرځوی داڅنګه دی؟
د مړی دپاره اولی دری شپی خیرات کوی اودری سهاره د قرآن تلاوت په قبر باندی کوی هغه ته پیسی او ډوډی ورکوی داڅنګه دی؟ سائل مولانا افضل خان شاه پور کانا سوات صوبه سرحد.

جواب: دحیله اسقاط په شریعت کی بالکل اصل نسته ددی په ځای مشروع طریقه داده چی څومره لمونځونه او روژی چی د مړی په قضاء سویدی په هم هغه اندازه لمونځونه

(۱) وفی الشامیة ج: ۲ ص ۳۷ وبه ظهر حال یااهل زماننا فان الواحد منهم یکون فی ذمة صلوة کثیرة وغیرها من زکوة واضاح وایمان ویوصی لذالك بدراهم یسیرة معظم وصیة لقرائة الختمات والتهالیل التی نص علماؤنا علی عدم صحة الوصیة بها.

اوروژو فدیه دی غریبانانو ته ورکړی اوڅومره چی کیدلی سی په مشروع طریقی دی هغه ته ایصال ثواب وکړی (۱).

۲: داقسم پابندیانی بدعت دی او د دی څخه اجتناب لازم دی هر د دی پابندیانوڅخه بچ کیدوسره مړی ته چی څومره ایصال ثواب په اخلاص سره وکړی نو د خیر اوبرکت باعث دی. والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷\۱\۱۲ھ (فتوی نمبر ۲۸\۲۷ الف)

ادیری ته د قرآن مجید وړل او ویل

سوال: ایا ادیری ته دقران شریف وړل او ویل جائزدی؟ او ایا په جواز باندی یې ددی حدیث څخه استدلال کول چی نورو قبور موتاکم بالقران صحیح دی یانه؟ (عبد السلاچاټ ګامی (جامعة العلوم اسلامیه بنوری ټاون)

جواب: ادیری ته قران مجید وړل اوویل صحیح دی خونوروا قبور موتاکم بالقران الفاظ د څه روایت څخه موږته پیدانسوه دموضاعاتو په مجموعه کی هم ددی څه ذکر پیدانسو. والله اعلم الجواب الصحیح احقرمحمد تقی عثمانی عفی عنه
بنده محمدشفیع عفا الله عنه ۱۳۸۸\۱\۱۴ (فتوی نمبر ۱۹\۵۲ الف)

د اهل قبور سره توسل نیول

سوال: ایا اهل قبور سره توسل نیول جائزدی؟ او د دی د جواز د پاره داحدیث اذا تحیرتم فی المور فاستعینوا باهل القبور په استدلال کی پیش کول څنګه دی؟ والسلام مفتی عبد السلام چاټګامی سابق مفتی جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون.

جواب: توسل کیدی سی خوپخپله د هغوی څخه د حاجت طلب کول حرام دی استعینو باهل القبور د الفاظو څه حدیث پیدانسو. (۲) والله اعلم الجواب الصحیح احقر محمد

(۱) وګوری سابقه حواله ص ۱۱۷ حاشیه.

(۲) په سوال کی سائل موصوف مفتی عبد السلام چاټګامی صاحب زید مجده فاستعینو باهل القبور الفاظ لیکلی دی او په مجموعة الفتاوی علامه لکهنوی په یو سوال کی فاستفتو! باهل القبور الفاظ لکیلی دی چی دهغه په جواب کی علامه عبد الحی لکهنوی فرمایلی دی چی داحدیث نه دی دچامقوله مخکی علامه لکهنوی فاستفتو الفاظو سره د دی مفهوم داسی لیکلی دی چی کله تاسوته دیو شی دحرامیدو اوحلالیدو کی شبه وه نوپه خپل اجتهاد باندی دعمل کولو په ځای دهغی قد ذاوتقلید وکړی چی اوس په قبرونوکی بیده دی یایې دامعنی ده چی کله تاسوپه دنبوی امروکی پریشانه یې نواصحاب قبورو باندی نظر وکړی چی هغوئ دنیا پریښي ده او د آخرت سفر یې اختیار کړی دی او تاسوته هم داسفرکول دی اوکه داستعینو الفاظ وی نوبیایې مفهوم دادی چی داصحاب

تقی عثمانی عفی عنه بنده محمدشفیع عفالله عنه ۱۴ ۱۱\۱۳۸۸ه(فتوی نمبر۵۲ ۱۹۱\الف).

د جمعی څخه وروسته د امام سره مصافحه کول

سوال: دجمعی اودعاء کولوڅخه وروسته امام سره مصافحه کول پکاردی اوکه نه ؟

جواب: دلمانځه څخه وروسته دامام سره مصافحه بعضی خلګ مسنون ګڼی ددی په شریعت کی هیڅ اصل نسته خاص طور باندی دلمانځه-څخه وروسته مصافحه سنت ګڼل صحیح نه دی هو البته دامام صاحب سره که ملاقات مقصودوی نومصافحه کی څه خبره نسته ([1]) والله اعلم ۱۳۹۶\۱۰\۲۵ه (فتوی نمبر ۲۷\۲۳۳۸ه)

د درس قرآن په شروع کی په چاباندی درود شریف ویل بدعت دی؟

جواب: که دالازم اوضروری اونه ګڼی اودواجباتو په شان لترام یې ونسی نوبدعت نه دی والله اعلم الجواب الصحیح احقر محمد تقی عث+انی عفی عنه ۱۲\۱۴\۱۳۸۷ه (فتوی نمبر ۱۸\۱۳۹۲ الف).

په جومات کی دڅراغان کولو حکم .

سوال: زموږ په جومات عزت الاسلام کی درمضان شورع کیدونه دوی ورځی مخکی دمحلی دوی دری سړیان راغلل او ویې ویل چی زموږ اراده ده چی په رمضان کی زموږ په خپله خرچه باندی تریوی میاشتی پوری دخپل جیب څخه جومات دبجلی په بل۲ونو ښائسته کړو تقریبا ټوله میاشت کی به دوه زره روپی خرچه سی زید وایې چی دافضول خرچی دهٔ چی الله تعالی ته ناخوښه ده ددی شرعی حکم وښایست چی څه دی.

جواب : د جومات دچندی څخه دضرورت څخه زیات رڼاکول بالکل ناجائزدی خوکه څوك سړی د خپل ځان څخه خرڅ کولو سره رڼاکوی بیاهم په دی کی یوخو داسراف ګناه

قبور په وسیله دالله تعالی څخه دعاء وغواړی دانه جی هغوی په مستقل طور باندی دمشکلاتو په حل کی اودعالم په تدبیرونوکی شریك وګڼی نودانبکاره شرك دی وګوری دعلامه عبد الحی لکهنوی کتاب مجموعة الفتاوی اردو کتاب العلم والعلماء ص ۱۵۹ (طبع میر محمد کتب خانه) (محمد زبیر حق نواز).

([1]) وګوری سابقه ص: حاشیه نمبر ۲. ۳..

ده کفارده دریم دادزیات ثواب کار ګڼل اوکول بدعت دی چی څوك چراغان کوی هغوی ته ددی څخه اجتناب لازم دی ([1]) والله اعلم ۱۳۹۷\۹\۲۶ه (فتوی نمبر ۲۸\۱۹۹۵ج).

د کربلا د شهیدانو د مزارا توشبیه جوړول

سوال: د شهادت د ذکر په دوران کی یومولانا وفرمایل چی رائج الوخت ټولی تعزیې ناجائز دی خوکه د سید الشهداء د روضی مبارکی شکل او نقل جوړ سی نوجائز دی ایا داویل صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: د تعزیه داری هرصورت چی رائج دی بدعت دی د دی جوړول جائز نه دی ([2]) د شهدای کربلا د مزاراتو شبیه ثواب ګڼلو سره جوړسی نوبدعت به وی.

والله اعلم الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

محمد عاشق الهی عفی عنه ۱۳۸۸\۲\۱۱ه) (فتوی نمبر ۲۰۰/ ۱۹ الف)

د تعزیه سازی سبیل لګولو تعزیه سوزولو وغیره حکم

سوال: آیا تعزیه جوړول جائز ده ؟ د دی څه وعیدونه دی ؟

جواب: تعزیه جوړول بدعت دی اوپه دی کی څوقسمه ګناهونه دی.

سوال: د سبیل متعلق دشریعت څه حکم دی ؟

جواب: دخلګو دپاره داوبو انتظام کول په لاروکی سبیل لګول دلوی ثواب کار دی خوداثواب صرف دمحرم میاشتی سره خاص کول اوپه دی میاشت کی سبیل لګول دزیات اجراوثواب موجب ګڼل بدعت اوناجائز دی.

سوال: خلګ عام طور سره داوایې چی امام حسین رضي الله عنه ته داووم محرم څخه وروسته اوبه نه وی پیدا سوی آیا دا صحیح دی ؟ یاهغوی ته ترآخره پوری اوبه میسروی ؟

جواب: د اووم تاریخ څخه وروسته حضرت امام حسین رضي الله عنه د دریایې فرات څخه د اوبو راوړلو څخه منع سوی وو داخبره د تاریخی روایاتو څخه ثابته ده ([3]).

([1]) د۱۰۲ صفحی اول نمبر حاشیه وګوری.

([2]) حاشیه نمبر په بله صفحه کی وګوری.

([3]) دتیری صفحی ۲ حاشیه : ۱,۲: تعزیه سازی وغیره بدعادت دمحرم متعلق دزیات تفصیل دپاره وګوری فتاوی رشیدیه ص: ۷۵. امداد الفتاوی ج: ۵ص: ۲۸۶، ۲۸۷ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۱۸۱ ، ۱۸۲ فتاوی دارالعلوم دیوبند امداد المفتیین ص: ۱۵۴.

سوال: یو سړی زیر تعمیر تعزیه موقع پیداکیدو سره وسوزوله په دی فعل باندی ستاسو څه رایه ده ؟

جواب: دیو سړی د بدی څخه د منع کولو داطریقه صحیح نه ده په نرمی سره یې پوهه کړی که هغه نه منی نو دهغه په حق کی دعاء وکړی. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفی الله عنه
۱۳۸۸\۱۱\۱۷هـ (فتوی نمبر ۷۹\۱۹ الف) .

د ماختستن دلمانځه څخه وروسته حلقه جوړول او درود پکښی ویل اوپه جوماتکی د څراغان کولو حکم

سوال: څه خلگ دماختستن دلمانځه څخه وروسته حلقه جوړولو سره درود شریف وایې او د زیارت په ورځ شیرینی هم بیشی د مجوزینو اسراردی چی حلقه جوړولوسره درود شریف په لوړ آواز سره د ویلو اجازت پکار دی او هغه خلگ داهم غواړی چی د میلو په ورځوکی په جوماتونوکی څراغان کول هم پکاردی ایا داپورتنی ذکر سوی مسائل همداسی دی څنګه چی د مجوزینو خیال دی ؟

جواب: په سرور کونین ﷺ دورد شریف لیږل ډیر داجر اوفضلیت شی دی خودرود او اسلام په یوهیئت سره خاص کول یایو داسی هیئت د زیارت ثواب ګڼل چی د اصحاب کرامو رضي الله عنهم څخه منقول نه وی او کم سړی چی داهیئت اختیار نه کړی هغه بدګڼل دابدعت دی چی د دی څخه احتراز کول پکار دی اوکله کله په اجتماعی طور حلقه جوړول او درود ویل اصلاً مباح دی خوداصحاب کرامو رضي الله عنهم څخه داطریقه منقوله نه ده څکه دانسی ویل کیدی چی په دی کی ثواب زیات دی او کم سړی چی په دی طریقه درود ونه وایې هغه دملامتی قابل نه دی نوځکه داجتماعی صورت کی زیات ثواب ګڼل اختیار سی اوکم سړی داهیئت اختیار نه کړی هغه بدګڼلی کیږي نودابه بدعت وی اونن صبادا اجتماعی هیئت په دی نبت سره کول کیږي اوپه سوال کی هم ددی تصریح

تفصیل دپاره وګوری دمفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رساله شهید کربلا ص: ۲۸ (محمد زبیر)

ده لهذا داطریقه ترك کول پکاردی (۱) د شیرینی د بیشلوهم داحال دی چی اصلاً مباح ده خودا د کومی ورځی په مخصوص کولو ثواب ګڼل او په تارك باندی نکیو کول بدعت دی.

۲ سوال: د ماختستن د لمانځه څخه وروسته حلقه جوړول او درود شریف ویل اوپه جومات کی څراغان کول څنګه دی ؟

۲جواب: په جومات کی دڅراغان کول بغیر دشك اوشبه څخه اسراف دی فقهائی کرامو د دی ذکری څخه منع کړی ده. (۲) فقط والله اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفاالله عنه
۱۳۸۸\۱۲\۱۴هـ (فتوی نمبر ۱۹\۲۵۱ الف)

۱: دتعزیې چپ کول د حجر اسود په چپ کولو باندی قیاس کول

۲: مختلفو مقاماتوکی دقمری تقویم د مختلف کیدو په بناء باندی دلیلة القدر په هرمقام باندی د خپل مطلع په لحاظ سره به وی

سوال: اوس اوس دلکهنوو څخه راغلی یوشیعه عالم جناب ډاکټر کلب صادق صاحب د خطاب اوریدلو اتفاق وسو د خطاب په دوران کی هغوی د تعزیې علم او دغه شان دنورو مراسمو دجواز بیانولو سره یې وویل چی که لمونځ څلورو دیوالونو والا کعبی طرف ته مخ کولو سره وکړی نوداهم د غیر خدایې تعظیم وکړی که حجر اسود مچ سی د قران مجید تعظیم او توقیروی نوداهم عین خدای نه دی خو د دی ادب او احترام چپ کول اوتعظیم عین عبادت او د دین حصه ده صرف په دی وجه چی ددی نسبت دخدای جل جلاله سره دی دغه شان که تعزیه علم صریح او دغه شان د نورو شیانو ادب او احترام کیږي نوداهم دالله تعالی او درسول الله ﷺ په نسبت اوتعلق سره کیږي نوبیا داشرك اوګناه څنګه کیدی سی ؟ داهم عین دین دی اوعبادت دی.

ددوی دی توجیه په دین کی یواشکال پیداکړی دی په دی سلسله کی زموږ راهنمایې وکړی دوهم ګذارش د لیلة القدر په حوالی سره دی یا سړېتان کی دقمری تقویم په روی باندی د لیلة القدر شپه به بله وی او په سعودی عرب کی به بله وی اوپه یورپ

(۱) وګوری (۱): ۱۰۳ حاشیه نمبر ۱) .
(۲) وګوری سابقه حواله : ۱۴ حاشیه نمبر.

اوامریکاکی به داشپه مختلفه وی نو آیا په کال کی مختلف لیلة القدر کیدی سی ؟ په
دی حوالی سره خپل نقطه نظر بیان کړی.

جواب: محترمی او مکرمی !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

ستاسو خط راکول سو زما په پته اونوم وو خو د ننه خط د جاوید الغامدی صاحب په
نوم باندی وو شاید چی تاسو سوال دواړوته لیږلی وی او وخطونه بدل سوی وی په
هرصورت جواب درج ذیل دی تعزیه علم اوصریح په بیت الله اوحجر اسود باندی قیاس
کول څکه بداهةً غلط دی چی بیت الله ته مخ کولو او د حجر اسود د تقبیل حکم الله او د
هغه رسول الله ﷺ صراحتاً ورکړی دی همدا وجه ده چی د کعبی بل کانی مچول جائز نه
دی د تعزیه علم او صریح په باره کی کوم یونص دی؟ په نورو الفاظو سره په لمونځ کی
مخ گرځول یانښکلول اوبل څه تعظیمی عمل دعبادت مشابه وی کول اصلاً د غیر الله د
پاره حرام دی خوکه چیری دنصوصو څخه د کم غیر الله د پاره ثابت وی نوصرف دهغه
حده پوری به اجازت وی چیری چی نص نه دی هلته به داصل حرمت حکم را وگرځوی
دلیلة القدر فضلیت په هرمقام باندی دهغه ځای د خپل مطلع په لحاظ سره به حاصلیږي
لهذا په بیلو بیلو شپوکی د دی فضلیت حصول ممکن دی. (١) والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفي الله عنه ٢٠ رمضان المبارك ١٤١٩ هـ (فتوی نمبر ١١٣
٣٤٢).

د غیرالله په نوم د نذر او منبتی حکم

سوال : په قرآن کی ددی خبری صراحت دی که په کم شی باندی دالله ﷻ څخه علاوه د
بل چانوم واخستل سی نو هغه به حرام سی خو مسلمانان د نذر اومنبتی متهیاني
اوخوراکونه متبرك گڼلو سره استعمالوی آیا دا د قرآن خلاف نه دی ؟

جواب: هغه نذر اومنبتته چی د غیر الله په نوم باندی وی واقعًا د قرآن کریم خلاف دی.
(٢) والله اعلم

---

(١) د تفصیل د پاره وگوری امداد الفتاوی ج٢ ص ١٢٩ (طبع مکتبه دارالعلوم کراچی) اوتفسیر معارف القرآن ص ٧٩٤ ج: ٨ سورة القدر ط.

(٢) وگوری سابقه حواله ص ١٠٧ حاشیه نمبر ۴.

١٤٢٢/٨/١٤ هـ (فتوی نمبر ٥٠٥/١٠)

د پنځلسم شعبان یا د معراج په موقعه په جوماتکی دڅراغان حکم

سوال: پنځلسم شعبان په دوران یا دمعراج په موقعه باندی جوماتونوکی دڅراغان کولو
څه حکم دی ؟

٢ : بعضی جوماتونوکی پنځلسم شعبان یادمعراج په موقعه باندی کمیټی څراغان نه
کوی بعضی خلگ داوایې که څوك انفرادی طور باندی څراغان وکړی نوموږ اعتراض
نسته ایاداسی څراغان کول جائز دی ؟

جواب: د څومره رڼا چی فی الواقعه په جومات کی ضرورت وی د هغه څخه زیات
څراغان کول صحیح نه دی .

که یوسړی د خپل مال څخه څراغان کوی نوپه دی سره دجومات مال په غیر مصرف کی
دخرڅ کولو گناه خوبه نه وی خود اسراف اوتشبیه بالکفاره گناه به بیاهم وی، لهذای
دانا جائزده . (١) والله اعلم

١٣٩٧/٨/٢٩هـ (فتوی نمبر ٢٨/٨٨٢ ج).

د یو ولسمی د ختم اومنبتی حکم

سوال: دیوولسمی ختم اودمنبتی څه حکم دی؟ اومړوته دایصال ثواب دپاره څه وسی؟

جواب: دیوولسمی اومنبتی وغیره شرعًا څه ثبوت نسته دی دابدعتونه دی چی دهغه
داصل په شرع کی وجود نسته په دی کی شرکت کول پکار نه دی مړوته د ایصال ثواب
نیت صدقه خیرات هروخت کولی سی. والله اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه محمد رفیع عثمانی عفی عنه
١٣٩١/١٢/٢٥ هـ (فتوی نمبر ٢٢/١٢٩٣ الف).

---

(١) وگوری سابقه حواله ص: ١٠٢ حاشیه نمبر.

کتاب العلم والتاریخ والطلب

(د علم تاریخ او د طب د متفرقو مسائلو بیان)

فصل فی المتفرقات

دعلم تاریخ اوطب متعلق دمتفرقه مسائلو بیان

ایا کنعان د حضرت نوح علیه السلام حقیقی ځوی وو؟

سوال: کنعان نام فرزند حقیقی حضرت نوح علیه السلام بود یاغیر حقیقی؟

جواب: پسر حضرت نوح که در طوفان غرق شده بود اسم اورا بعضی مؤرخین کنعان گفته اند، حافظ ابن کثیر در تاریخ خود مینویسد: وهذا الابن هو یام اخو سام وحام ویافث، وقیل اسمه کنعان وکان کافرا عمل عملاً غیرصالح (البدایه والنهایه جلد اول ص: ۱۱۳) ([۱]) واین پسر بود چنانکه ظاهر آیت دلالت میکند (وَنَادٰی نُوحٌ ابْنَهُ) ([۲]) البته کنعان دیگری پسرحام پسر نوح علیه السلام بود وسکن او درشام باسم کنعان مشهور گشت. (کمافی الکامل لابن اثیر ج: ۱ ص: ۲۸) ([۳])

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

(فتوئ نمبر ۳۲۲/ ۱۹ الف)

د اجماع اوباب اجتهاد نوم کتاب حکم او ورسره داجماع حقیقت څه دی

سوال: اسلام کی داجتهاد دستور ضائطه اودائمه اربعه د اجتهاد دستوری پوزیشن محترم مفتی محمد شفیع صاحب ذقرآن ایت النساء (۴:۱۵) او دحدیث لاتجتمع تفسیر کولو سره فرمایي چی د اجماع حق په مجموعی حیثیت سره ټول امت مسلمه ته حاصل دی نه دامت یوی خاصی طبقی یاډلی ته د استدلال په طور.

([۱]) البدایه والنهایه قصة نوح علیه السلام ج: ۱ ص: ۱۷۰ (طبع دار الفکر بیروت)

([۲]) سورة هود: ۴۲.

([۳]) وفی التاریخ الکامل لابن اثیر ج: ۱، ص: ۲۸ (طبع قدیم) وامام الحام فولد له کوش ومصرایم لوقوط وکنعان وامام الکنعانیون فالحق بعضهم بالشام ...... الخ.

دا امر تسليم كولى سى چې خواه مسئله زير بحث هريوه وى كه دامت سواد اعظم د فقهاؤ د اجماع مخالف وى نوهيڅ يوه اجماع په اصطلاحى معنوكى يا به تكميل ته نسى رسيدى خودا امكان په ټول اسلامى تاريخ كى هيڅښله واقع سوى نه دى بلكى عملاً د دى وقوع ناممكن هم وى ځكه چې اجماع يواسلامى فن اوفقهى عمل دى چې دهغه دپاره به هميشه امت مسلمه په دى اهل علم باندى اعتماد كول وى چې په دى شعبه كى ضرورى قابليت اواختصاصى مهارت لرى.

اجماع اوباب اجتهاد (مصنف كمال فاروقى) ترجمه مظهرالدين صديقى ص ١٥) تفسير د تجزيې څخه لاندينى نتائج راوځى.

اصولى طورباندى د اجماع حق ټول امت مسلمه ته حاصل دى نه كومى خاص طبقى ياډلى ته.

خو اجتماع يوفنى (Technical) اوفقهى عمل دى لهٰذا داعمل دمسلم معاشرى صرف فقهى اوعالم طبقه كولى سى چې د قرآن اوسنت اونورو ماخذونوڅخه فقهى اوقانونى تعبيرات داخذ كولو ماهردى.

چونكه مسلم معاشره په مجموعى حيثيت سره د دى فن ماهردى اونه داعمل كولى سى لهٰذا امت مسلمه دقانون سازى دافن دعلماؤ اوفقهاؤ طبقى ته (تفويض) كړى دى ددى (طبقه ماهرين) دانتخاب په نامردګى څه خصوصى طريقه په مسلم معاشره كى متعين اومروج نه دى زيات نه زيات دخلافت راشده د دور نظائر يومثال ضرور جوړيدى سى ليكن حجت نه.

لهٰذا د علماؤ اوفقهاؤ طبقى په تعبيراتو او اجماع باندى د مسلم معاشرى اجماع ضرورى (منطقى طور باندى) او واجب ده.

خوددى باوجودهم كه بالفرض دامت سواد اعظم د فقهاؤ د طبقى برخلاف (يعنى د علماؤ داجماع برخلاف په كم تعبير يافيصلى باندى متفق سى چې هغه ته دعلماؤ اوفقهاؤ تائيد حاصل نه وى نوداجماع به هم منعقد اومكمل نه وى اوپه دواړو صورتونو كى به نمبره نمبره كى چونكه اجماع به منعقد يامكمل به نه وى نو لهٰذا حجت به هم نه وى، لهٰذا نمبر ٥ اونمبر ٦ د تجزيې څخه داظاهرسول چې دعلماؤ اوفقهاؤ طبقه او امت مسلمه دواړوته (قوت تنفيذ) حاصل دى يعنى هغوى ته دخپلى فيصلى د نفاذ حق حاصل كيدل ضرورى دى (اګر چې داحق صرف هم په هغه صورت كى حاصليږي چې هركله دواړى طبقى علماء اوسوادا اعظم متفق وى) او د دواړو طبقو

حيثيت د مشاورتى كونسل هيڅښله نه دى چې د هغوى خونه امت منتخب كړى اونه يې نامزد كړى دى بلكى هغه يې صرف د سياسې غلبى له وجى مجبوراً قبول كړى وى.

لهٰذا د قرآن اوسنت دستورى تعبير او دستورى اجماع هغه ده چې په هغه وخت كى منعقدوى د امت مسلمه منتخب يانامزد د طبقه علماء اوفقهاء موجود وى چې دهغوى تعبير او رايې ته دامت تائيد سره قوت نافهه هم حاصلوى (لكه چې موجوده لچستيوته حاصل وى).

٢: امت مسلمه ته دعلماؤ اوفقهاؤ دطبقى اجماع قبلول يامستردكول او د قبلولو په صورت كى دغه قبول سوى اجماع څخه نافذوو قوت هم حاصل وى.

٣: يعنى كم حكمران ته داحق حاصل نه دى چې د خپل يا د كم فرد واحد خواه كه هغه پخپله امام ولى نه وى يادكومى ډلى فقهى رايې تعبير لره دامت دمرضى خلاف په هغه باندى نافذه كړى.

٤: لهٰذا دستورى اجماع به هم هغه وى چې په هغه كى مندرجه بالا دواړه شرطونه نمبر (١-٢) پيداسى چې د هغه بهترين مثال د خلافت راشده د دور فيصلى او تعبيرات دى چې په هغه كى پورتنى دواړه صورتونه پيداكيږي اوس په داسى دوركى مثلاً بنى اميه اوبنى عباس دور او د پاسړيتان موجوده دورهم د هغه څخه مختلف نه دى كله چې:

الف د امت دمرضى خلاف او د اسلام دسياسى نظام قطعى طور خلاف محض په غلبه او د طاقت په بناء باندى يوفرد خاندان ياجماعت دملك په سياسى نظام باندى په مكمل طور سره مسلط سوى وى (دلته مستفتى يوه حاشيه هم ليكلى ده چې لاندى ډول سره يې ملاحظه كړى ([1]) (محمد زبير عفى عنه)

([1]) كله چې امام مالك دخليفه منصور رايې مسترد كړى وه چې ټول عالم اسلام دى په يوامام او يوكتاب باندى جمع سى ځكه چې ظاهر داجمع كول به د خليفه دسياسى قوت په بنا باندى وو، چې دامت په حق كى به قبول وو او د مسترد به يې سلب كولو چې هغه امام خوښ نه كړى امام صاحب د علماؤ او فقهاؤ ديوجماعت په تعاون سره او نورو ائمه وو په انفرادى اجتهاد سره د قرآن اوسنت چې كوم فقهى تعبيرات او فيصلى كړى وى د هغه پوزيشن هم دادى چې دا ديوجماعت يا يو فرد واحد ذاتى اجتهاد دى د امت منتخب سوى يا نامزد سوى علماؤ د طبقى اجتهاد نه دى په دى باندى پوره امت مسلمه بلكه دامت يولوى ګروپ اهل السنت مختصر ډلو اجماع كړى په دى سلسه كى په اهلسنتوكى جنفيان په اكثرت كتبى دى او مالكى شافعى او حنبلى په اقليت كى واضح دى چې دلته سوال غلط ياصحيح اجتهاد دقطعى نه دى دا دستورى اوغير دستورى دى د اجتهادات اوتعبيرات د قرآن اوسنت اونورو اصول فقيه عين مطابق اوبالكل صحيح دى، اوكه د اسلام سياسى نظام قايم وى

طبقه دفقهاؤ اوعلماؤ موجوده نه وی یاکه موجودهم وی نو: دل دامامت منتخب شده
یانامزد شده نه وی.
که دخپل علمی حیثیت اودسیرت اوکردار په وجه امت کی یومقام هم لری بیاهم دهغه
فیصلو اوتعبیراتونه دنفا دقوت حاصل نه دی.
یادحکمران جماعت اوخاندان حیثیت زیات وی اودهغه حیثیت صرف دمشاورتی
کونسل وی چی دهغه دفیصلو اوتعبیراتو قبلولو یامسترد کولو اختیار حکمران فرد
یاخاندان ته حاصل وی.
اوامت مسلمه ته دځه فیصلی یااجماع قبلولو یامسترد کولو اونافد کولو قوت حاصل
نه وی.
(ب) په پورتنی ذکر سوی صورت کی دعلماؤ اوفقهاؤ یوجماعت (چی دهغه علمی
حیثیت سیرت اوکردار باندی باوجود دمسلم کیدو دامت غیر منتخب شده یاغیر نامزد
شده دی یادفرد واحد ذاتی طور باندی اجتهاد کوی اودهغه په اجتهاد باندی سوا
داعظم یادسوا داعظم مختصر ډله جمع کیږي.
نوآیا دا اجماع داسلام دسیاسی نظام ددستوری ضابطی لحاظ سره چی دهغی مثال
خلافت علی منها النبوت یعنی خلافت راشده دی دستوری دی، یعنی په دی مکی د
نکته نمبر دواړه شرطونه نمبر پیداکیږي.
د: که دا دستوری نه ده نو د دی حیثیت عبوری دی اولکه چی د اسلام سیاسی نظام
خلافت علی منهاج النبوت په بنیاد قائم وی چی په هغه کی هغه دواړه شرطونه پیدا
کیږي چی نکته ۸ کی بیان سوی دی نودا تعبیر او اجتهاد به امت مسلمه اوطبقه
دعلماؤ اوفقهاؤ باضابطه طور باندی به اختیاروی نودهغوی حیثیت به دستوری لحاظ
سره مسلم وسی انشاء الله.
خوکه نکات الف ب. ج، دا نکته نمبر ۸ ټول نکات غلط دی یا د اسلام سیاسی نظام
دپاره ضروری نه دی.
ګوانکی په اسلام کی د اجماع او اجتهاد هیڅ دستوری ضابطه متعینه نه ده، اوهرهغه
اجتهاد داجماع حاصلوی چی په هغه باندی د امت کومه ډله جمع سی د اجماع او

بیابه هم هغه اجتهاد اوهم هغه تعبیربه امت همدغه شان قبلولو لکه چی اوس دی خودیو شی صحیح
یاغلط کیدل بل شی دی اودستوری اوغیر دستوری کیدل ځانته شی دلته هم سوال د دستوری اوغیر
دستوری دی.

اجتهاد دپاره علماء اوفقهاء او د امت قوت تنفیذ ضروری نه دی، په مسلم معاشره کی
د اجماع او اجتهاد تاریخ او د قرآن اوسنت فقهی تعبیرات دادی چی هراجتهاد اوتعبیر
دعلماؤ اوفقهاؤ ذاتی اجتهاد دی چی په هغه باندی وروسته د امت یوه ډله یاطبقه جمع
کیږي آیا پورتنی تجزیه صحیح ده؟

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!:
دټولوڅخه اول خو زه ددی مکتوب په جواب کی د تاخیر کیدو دزړه له کومی څخه
معذرت غواړم خوزه چی په کومو مصروفیاتوکی همیشه ګرفتاریم که هغه ته په خپلو
سترګو وګوری نویقیناً معذور به می کړی تاسو چی کوم سوالونه راپورته کړی دی د
هغه د تشریح د پاره کافی تفصیل پکاردی خوبیاهم یوڅو نکات عرض کوم خدای دی
وکړی چی ستاسو څه په کار درسی.
اجماع اوباب اجتهاد نوم کتاب چی د کمال فاروقی صاحب تصنیف دی څه معتبر
کتاب نه دی اوپه دی کتاب کی د احقر دوالد ماجد حضرت مولانا مفتی محمد شفیع
صاحب نقطه نظر بیانولوکی هم د احتیاط څخه کارنه دی اخستی لهذا د حضرت والد
څه خبره نقل کولو دپاره د دی حواله مستندنه ده.
اجماع په باره کی د اکثرو مستندو فقهاؤ موقف دادی چی هغه د یوی زمانی ټول
داجتهاد اهل علماؤ په یوه شرعی مسئلی باندی متفق کیدلو ترواییِ یعنی اجماع په
اصل کی د اهل اجتهاد علماؤ د اتفاق نوم دی د عوامو اختلاف او اتفاق په دی کی
معتبرنه دی چنانچه صدر الشریعة اوعلامه تفتازانی لیکی چی: (وفی الاصطلاح اتفاق
المجتهدین من امة محمد علیه الصلوٰة والسلام فی عمر علی حکم شرعی وقید
بالمجتهدین اذلا عبرة باتفاق العوام) (ملاخظه کړی التلویح مع التوضیح ج: ۲، ص ۴۱
طبع مصر) [۱] اجماع اصطلاحی طور باندی د امت محمدیه علی صاحبها السلام
دمجتهدینوپه یوی زمانه کی په کوم شرعی حکم باندی د متفق کیدلو نوم دی اوپه دی
تعریف کی د مجتهدینو قید ځکه ولګول سو چی د عوامو د متفق کیدو هیڅ اعتبار
نسته البته کومو حضراتو چی د اجماع په تعریف کی داهل اجتهاد قیدنه دی لګولی
چی دهغه څخه په ظاهره دامعلومیږي چی د عام مسلمانانو رایه هم په اجتهاد کی موثره
ده نوپه حقیقت کی د دی وجه داده چی دعوامو فریضه هم داده چی هغوی دمجتهدینو

---

[۱] توضیح التلویح ص: ۴۹۴ (طبع نور محمد کتبخانه کراچی)

کله د مجتهدینو په یوی مسئلی باندی اتفاق وسی اتباع وکړی اوعملاً کیږي همداچی نوهغوی هم د دوی په قول باندی عمل کوی چنانچه داسلام په تاریخ کی هیچنبله داسی نه دی سوی چی عام مسلمانانو دامت دمجتهدینو دفیصلی سره اختلاف کړی وی لهذا کله چی مجتهدین په یوی مسئلی باندی اتفاق کوی نو د امت د ټولو افرادو پخپله اتفاق کیږي لهذا د عملی اعتبار سره هغه ته د ټولو مسلمانانو اجماع هم ویلی سی خو د دی مطلب دانه دی چی غیر اهل اجتهادته دمجتهدینو داجماع خلاف دڅه لاری اختیارولو حق حاصل دی.

۳: مجتهدین دامت تعین د اسلام په تاریخ کی هیچنبله هم نه دی سوی تردی چی دخلافت راشده په دورکی هم انتخاب اوپه نامزدګی په مروجه طریقو سره نه ده سوی بلکی په قبولیت عام سره د هغه فیصله سوی ده لکه په قدیم زمانه کی د طبیب کیدلو دپاره د کوم انتخاب یانامزدګی ضرورت نه وو بلکی د قبول عام په بنیاد به د هغه فیصله کیدله دغه شان د کوم مجتهدکیدلو فیصله هم په همدغه بنیاد باندی کیدله او په دی کی څه عملی مشکل نه وو که په کومی مسئلی کی د کوم عالم هم څه اختلاف نسته بیا خو د اجماع تحقق ثابت سو اوکه د چا اختلاف دی نوصرف د هغه په باره کی به دافیصله کیدله چی دا سړی د اجتهاد اهل دی اوکه نه؟ او د نورو مجتهدینو داکثریت فیصله په دی باره کی کافی وه مندرجه لوړ نکات چی په ذهن کی راسی نوپه هغه سره ستا د اکثرو سوالونو جوابونه فیصله راوځی ځکه چی هغه په دی تصور مبنی دی چی د اهل اجتهاد د اجماع خلاف دعام مسلمانانو رایه هم مؤثر اومعتبره ده چی د هغه تردید احقر په نکته نمبر ۲ کی کړی دی که د دی دری نکاتو په بنیاد باندی څه ابهامی باقی وی نوهغه دوباره ولیکی اومعلوم یې کړی. والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷\۲\۱۷هـ (فتوی نمبر ۲۴۵\۲۸ ب)

آیا د روژی حکمت هم هغه دی کوم چی د لمانځه دی

سوال: مندرجه ذیل الفاظ دیومضمون دی چی دسیرت اوکردار دسانچی په عنوان سره ورځپاڼه حریت مؤرخه ۱۲ دسمبر ۱۹۷ په صفحه نمبر ۳ باندی شائع سوی دی دزکوٰة اوحج په شان روژه یومستقل بیل نوعیت لرونکی رکن نه دی بلکی په اصل کی ددی مزاج قریب قریب هم هغه دی چی کوم د رکن الصلوٰة دی او دا درکن الصلوٰة د مددګار اومعاون په حیثیت لګول سوی دی د دی کارهم هغه اثرات زیات تیزولی اومستحکم

کول دی چی په لمونځ سره په انسانی ژوند باندی مرتب کیږي د لمونځ روژی معمول نظام تربیت دی د لمونځ معمول د لږلږ وخت د پاره سړی خپل اثرکی اخلی او د تعلیم او تربیت سپك غوندی خوراکونه ورکوی اوپریږدی یې اوروژه په ټول کال کی یوه میاشت غیر معمولی نظام تربیت دی چی سړی لره تقریباً (۷۲) ګینټو پوری په خپل مظبوط دسپلین په شکنجه کی تړلی ساتی د پاره ددی چی روزانه په معمولی تربیت کی چی کوم اثرات وو هغه سخت سی د دی څخه وروسته د روژی د اثراتو په عنوان سره نوی پیراګراف شروع کیږي د خپل طرف څخه د مفهوم په حقله څه لیکل بد دیانتی ګنم خو په جواب کی تحریر سوی دی چی د عبارت مفهوم مجمل دی لهذا څه عرض کول ضرورګنم.

دعبارت ابتدایې جمله (نه ده) سره په ختمیدو باندی د روژی مستقل جداګانه نوعیت چی مستقل رکن روژه ځکه وګڼل سوه چی ددی مزاج د یومستقل رکن په شان دی کنی حقیقت دادی چی دا دلمونځ د مددګار اومعاون په حیث لګول سوی ده لفظ هم دا د روژی حیثیت محدود او معین کوی د عبارت باقی حصه د دی محدود حیثیت په ثبوت کی پیش سوی په هرحال په ابتداء کی قطعی نفی او د هغه څخه وروسته په وضاحت کی همدا لفظ کم ترکمه همدا ظاهروی.

جواب: په مذکوره عبارت کی د لمونځ او روژی دحکمت بیانولو سره دا ویل سوی دی چی د روژی حکمت نژدی هم هغه دی کوم چی د لمانځه وو د هغه په ذریعه سره هم انسان ته تربیت ورکول مقصود دی که څه هم داخبره فی نفسه محل نظرده چی روژه د حکمت په لحاظ سره د لمونځ تتمه جوړه کړه حقیقت دادی چی روژه بالکل مستقل حیثیت لری او ددی حکمتونه هم مستقل دی [1] اوترڅو چی د دی خبری تعلق دی چی لمونځ اوروژه دواړه دبندګی مظاهردی نوپه دی اعتبار سره ټول عبادات یوشان دی ځکه په دی عبارت کی څه معقولیت په نظرنه راځی چونکه په دی کی تشریحی طور باندی د روژی د مستقل رکن کیدو انکار یې نه دی کړی ځکه په دی به هغه احکام نه جاری کیږي کوم چی د مستقل رکن په انکار باندی جاری کیږي. فقط والله سبحانه اعلم

---

[1] تفصیل دپاره وګوری حکیم الامت حضرت مولنا اشرف علی تهانوی صاحب کتاب احکام اسلام دعقل په نظر کی ص: ۱۴۳. (طبع کتب خانه جمیلی لاهور).

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه محمد عاشق الهی بلند شهری
۱۳۸۷/۱۲/۱۴ هـ (فتوی نمبر ۱۴۲۲/۱۱۸/۱۱ الف)

د بعضو شرعی احکامو مصلحتونه

(دغیر مسلمو د اړخه د یوځو اعتراضاتو جواب پکار دی امیددی چی تاسو به جواب راولیږی عندالله به مأجورسی)

سوال : پا سرېتان کی د ګنو ودونو (Polu Gamy) اجازت ولی دی؟ (Poly andry) او ولی ممنوع دی ؟ که د بچو د شناخت مسئله وی نو داخو وینی په یو ساده ټسټ سره حل کیږي که ښځی د څلورو ودونو مطالبه وکړی نوڅه دلائل دی ؟

په اسلام کی خنزیر ولی حرام دی ؟ ددی اخلاقی اوطبی وجوهات ارشاد وفرمایاست او داثابته کړی چی د دی غوښه ولی مضره ده ؟

داسلام څخه مخکی شراب څښل کیدل دا ولی ممنوع نه وه؟

که څوك خپلی ښځی ته په درد کی غلط فهمی کی یا دسختی مجبوری په حالت کی طلاق ورکړی او بیا ورسره واده کول غواړی نودسړی دی غلطی سزادی بیچاره بی ګناه مظلومی ښځی ته د حلالی په صورت کی ولی ورکول کیږي کوی دی څوك ؟ اوسزادی څوك خوری ؟

په اسلام کی (معاذالله) ښځه کمتره مخلوق ولی تصور کیږي؟ مثلاً په جائداد کی نیمه حصه نیمه شاهدی په عقیقه کی نیمه قربانی د طلاق حق نه ورکول کیدل که خلع کوی یې نوخپل حق مهر نه به دستبرداره کیږي وغیره وغیره .

جواب: ستا دسوالاتو دجواب څخه مخکی دوی اصولی خبری عرض کوم د غیر مسلمو سره چی کله د اسلام په باره کی د ګفتګو نوبت راسی نوګفتګو همیشه د اسلام په اصولو باندی مبنی کیدل پکار ده ترڅوچی انسان ددی اصولو قائل نه وی د جزوی احکامو حکمتونه صحیح په پوهه کی نسی راتلی او د یوه څخه وروسته په بل حکم باندی د اعتراض لایتناهی سلسله شروع کیږي د هرحکم مصلحت په پوهه کی راتلل ضروری نه دی .

د الله تعالی هیڅ حکم دحکمتونو څخه خالی نه دی خو دا ضروری نه ده چی د هرحکم مصلحت په کلی طور د انسان په پوهه کی راسی که د هرحکم مصلحت د انسان په پوهه کی راتلی نو الله تعالی ته د وحی په ذریعه احکام عطاء کولو ضرورت نه وو

صرف دومره به ویل کیدی چی د مصلحت اوحکمت مطابق عقل څخه کار واخلی اوعمل کوی د شریعت احکام خوراځی عمومًا په هغه ځای کی چی چیری داخطره وی. که دامعامله صرف د انسان په عقل باندی حواله سوه نوهلته به تیندك خوری خطاء کیږي به لهٰذا که د کوم حکم پوره مصلحت په پوهه کی رانسی نو د هغه حکم څخه انکار به نسی کولی وګوری حضرت ابراهیم عليه السلام خلیل الله عليه السلام ته حکم ورکول سو چی خپل خوی ذبح کړه په ظاهره په دی حکم کی څه مصلحت نه وو خو حضرت ابراهیم عليه السلام د مصلحت پوښتنه ونکړه سمدستی د عمل کولو د پاره تیارسو کله چی یې د الله تعالی حکیم مطلق اوخپل پرور دګاریې ومنی نو د هغه لازمی تقاضاداده چی د هغه حکم به په ځای راوړی او دمصلحت او د حکمت مطالبه ونسی که ته یونوکر وساتی اوکله ته هغه ته د کار حکم وکړی نو هغه به اول ستاڅخه د هغه د حکمت ښوولو مطالبه کوی نو ایا هغه نوکربه وفادار ګڼل کیږي یا دخوا کولو مستحق به وی ؟ کله چی د یونوکر داحال دی نود بنده معامله د خپل رب سره پخپله سوچ ورته وکړی لهٰذا اصل خودادی چی دشرعی احکامو مصلحتونو پسی زیات لګیدل پکارنه دی بیاهم د ډیر شرعی احکاماتو مصلحتونه د انسان په پوهه کی راځی د حضرت مولانا تهانوی رحمة الله عليه کتاب (داسلام احکام دعقل په نظر کی) د همدی مصلحتونو د بیانولو د پاره لیکل سوی دی کله د هغه مطالعه کوی د تمهیدڅخه وروسته ستا د سوالونو مختصر جواب حاضر دی.

خلګوته دڅلورو ودونو اجازت ولی دی؟

دایو حیاتاتی حقیقت دی که یوسړی د څلورو ښځو سره جماع وکړی نوڅلور سره حامله جوړولی سی خوکه یوه ښځه د څلورو خلګوسره جماع وکړی نوهغه به دیوڅخه حامله وی دا د دی خبری دلیل دی چی د فطرت په لحاظ سره ښځه د یوخاوند دپاره پیدا سوی ده نه چی خلګو ددی څخه علاوه په سړی باندی داسی څه زمانه معمول نه راځی چی هغه د جنسی تعلق قابل نه وی خو په ښځی باندی د حیض او نفاس او حمل ورځوکی داسی دور قاعدهً راځی چی هغه د جنسی تعلق قابله نه پاته کیږي لهٰذا سړی ته د جنسی تعلق ضرورت زیات کیدی سی ښځی ته د دی ضرورت نسته.

خنزیر ولی حرام دی ؟ د خنزیر طبی نقصانات په سلونو طبیبانو اوډاکترانو بیان کړی دی او اخلاقی نقصان دادی چی په دی سره په قوت بهیمیه کی اضافه کیږي چی د هغی مشاهده ته پخپله شپه او ورځ په مغرب کی کوی.

۳: شراب یودم ولی حرام نسول ؟

د اسلام احکام په تدریج سره راغلی دی که یودم ټول احکام راغلی وی نو عمل به یې
مشکل سوی وای نوځکه یې په مزه مزه دابدعادتونه پرېښوول.

۴: حلاله ولی؟ داخیال غلط دی چی حلاله څه تدبیردی چی په هغه باندی ښځه
مجبوره کولی سی اصلی داده چی کوم سړی د الله تعالی مقرر سوی ټول حدود پامال
کولو سره دری سره طلاقونه ورکړی نوهغه اوس د دی لائق نه دی چی یوه شریفه ښځه د
هغه سره پاته سی لهٰذا حکم دادی چی اوس د ده سره نکاح مه کوه بل خاوند تلاش کړه
هو! د هغه خاوند سره هم وخت نه تیرېږی اوهغه پخپله طلاق ورکړی نوپه دی صورت
کی امید دی چی مخکنی خاوند به څه سبق حاصل کړی وی نوکه اوس د هغه سره ښځه
په نکاح کولو باندی رضامنده وی نو د دی اجازت ورکول سوی دی او داچی کوم
محض د حیلی په طور حلاله کوی هغه دشریعت دمنشاء خلاف ده .

۵: آیا ښځه کمتر مخلوق دی ؟ ښځه هیڅکله کمتر مخلوق نه دی خو د سړی په مقابله
کی کمزوری ضرور ده لکه چی مشاهده ده ځکه د سړیب معاش ذمه واری په هغه
باندی نه ده اچول سوی د دی د کمزوری او د بعضی نورو نفسیاتو د پیش نظر سړی یې
د دی د سړیب معاش ذمه وار ګرځولی دی اوکله چی هغه د کسب معاش واره نه ده
نوپه جایداد کی هم د هغه نیمه حصه اود سړیب معاش د ذمه دار پوره حصه ده (د
اسلام څخه سوا په بل مذهب کی خو ورته نیمه حصه هم نسته) داټول موضوعات د
تفصیل قابل دی او په یوخط کی ټولی خبری راغونډول ممکن نه دی ځکه تاسو (
مسلمانه ښځه) د مولانا ابو الکلام ازاد رحمة الله علیه مطالعه وکړه. والله سبحانه وتعالی
اعلم

۱۴۱۲/۵/۵ هـ (۱)

(۱) دافتوی دالبلاغ رسالی شماره جمادی الثانیه ۱۴۱۲ هـ څخه اخستلی سوی ده از مرتب .

د الله تعالی دپاره لفظ شخص استعمالولو حکم او آیا د حضور ﷺ فضلات ظاهر وه؟

سوال: څه وایې علماء د دین اومفتیان د شرع متین ددی مسئلی په باره کی چی د
خدای جل جلاله ذات په لفظ (سړی) سره رابللی سی ؟ ځکه چی د پنځلسمی سپاری په
شروع کی د اٰیتونو داترجمه څه مترجمو حضراتو داسی کړی ده چی پاکی ده د هغه
سړی د پاره چی خپل بنده لره یې بوتلو په دی ځای کی یې د خدای تعالی ذات ته سړی
خطاب وکړی د مهربانی په خاطر د صرفی د بنی ادم دپاره دی یا د خدای تعالی د ذات
ملائکو وغیره ته هم ویلی سی ؟ ورسره د سړی لغوی او اصطلاحی معنٰی هم ولیکی او
زموږ رهنمایې وکړی د داسی تحریر قرآن پاك زموږ سره موجود دی که لفظ د سړی د
حضرت جبرائیل علیه السلام طرف ته منسوب سی، نوبیا په دی کی قابل د اعتراض خبره داده
چی حضور ﷺ خو د حضرت جبرائیل بنده نه دی کنه؟

۲: زید د حضور اقدس ﷺ د فضلاتو مبارکو په باره کی وایې چی داپاك نه دی ورسره
داهم وایې چی د حضور ﷺ متیازی مبارکی د حضور ﷺ کوم خادم خادمي نه دی
څښلی هغه وایې که دارشتیاوی نو د صحاح سته حدیث دی پیش سی برای مهربانی
تحریر وکړی چی د زید قول صحیح دی اوکه غلط ؟ او د زید د پاره څه حکم دی ؟ او
ایا د صحاح سته څخه علاوه باقی احادیث مبارکه قابل اعتبارنه دی ؟

جواب : دلفظ سړی لغوی معنٰی چی هرڅه وی خوعرفًا د دی اطلاق په انسانانو باندی
کیږي لهٰذا د الله تعالی د پاره د دی لفظ استعمال درست نه دی د دی په ځای د ذات
لفظ استعمالول پکاردی .

په دی مسئلی کی د فقهاؤ اومحدثینو اختلاف پاته سوی دی چی د یولوی جماعت په
نزد راجح همداده چی د حضور ﷺ فضلات طاهر وو چی د هغه دلائل د هغوی سره
موجود دی (۱) خو د دی مسئلی په تحقیق باندی نه خو د ایمان څه

(۱) په دی باره کی د تفصیلی بحث دپاره لاندینی کتابونه وګوری (۱) الشفافی المصطفی ﷺ ج: ص
۱۲۱ (علامه قاضی عیاض مالکی رحمة الله علیه (۲) شرح الشفاء ملاعلی القاری ج: ۱۵۹ (۳) الدر
المختار: ص ۳۱۸ ج: مطلب فی طهارة بوله ﷺ .

حصه موقوفه ده اونه د عمل صالح په داسی قسمه بحثونو کی فضول نه دی پریوتل
پکار ددی په ځای داسی مسائل معلوم کړی چی د هغه تعلق د عمل او آخرت د
ښیګړی سره دی . والله سبحانه اعلم

۱۳۹۹/۹/۲۹هـ

د حضرت آدم څخه واخله تراوسه پوری څومره موده تیره سوی ده ؟

سوال: ګذارش دادی چی د حضرت آدم څخه راواخله تراوسه پوری څومره موده تیره
سوی ده او د آثار قدیمه والا چی بحث کوی ددی د ثبوت په طور باندی هغوی هغه
معلوم سوی ډهانچه مخ ته راوړی د دی په باره کی ستاسو څه تحقیق دی ؟ او ورسره
جنات د څه وخت څخه په دنیاکی اوسیږي ؟ په احادیث مبارکه کی دهغوی څه ذکر
سته؟

محترمی اومکرمی! اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
دقرآن کریم یا د کم صحیح احادیثو څخه داثابت نه دی چی دحضرت ادم علیه السلام څخه را
واخله تراوسه پوری څومره موده تیره سوی ده؟ لهٰذا ددی په تحقیق کی پریوتل دینی
اعتبار سره ضروری نه دی او نه مفید سائنسی نظریات چی د مختلفو جماداتو او
نباتاتو د عمر په باره کی مخ ته راځی د هغه حیثیت محض د اندازی دی دایقینی نه دی
اوکومی ډانچی چی پخوانی پیدا سوی دی د هغه حقیقت الله تعالی ښه پیژنی دومره
خبره په هرحال د قرآن کریم څخه ثابته ده چی په دی مځکه باندی د انسانانو مخکی
جنات اباد وه به هرحال په دی تحقیقاتو څه دینی مسئله موقوفه نه ده، لهٰذا زیات فکر
دعملی مسئلو پکاردی. (۱) والله اعلم

۱۴۰۹/۵/۲۳هـ

(فتوی نمبر ۱۸۹۳: ۴ج)

---

(۱) دلته دفتاوی دارالعلوم دیوبند (امداد المفتین) څخه یو سوال اوجواب بعینه نقل کولی سی
سوال: (۳۲) دحضرت ادم علیه السلام دپیدائش څخه تراوسه پوری څومره کلونه وسول ؟ دهغه پوره تاریخ
جواب: حافظ حدیث ابن عساکر ددی په باره کی مختلف اقوال نقل کړی دی بعضی مؤر خینو دحضور
صلی الله علیه وسلم دولادت باسعادت او د حضرت ادم علیه السلام په مینځ کی شپږ زره یوسل پنځه پنځوس کاله فاصله ده
امداد المفتین ص ۲۲۱) مزید تحقیق دپاره وګوری والمعارف لابن قتیبه مبداء الخلق ص: ۳۳. ۳۴،
طبع دارالکتب للعلمیه بیروت) (محمد زبیر حق نواز)

د اُحد اوحراء متعلق د دوو واقعاتو د زمانی تعین او ایا علامه ابن تیمیه د حافظ مزی شاګرد وو ؟

سوال: ددی خط څخه مخکی زما اګر که تاسو سره تحریری یابالمشافه ملاقات نه دی
سوی خوستاسو علمی تصانیف اوخصوصًا تکمله فتح الملهم اودرس ترمذی نه دبی
حده استفاده کولو په بناء باندی د مخکی څخه په ذهنی طور سره تاسوته ډیر نژدی پاته
یم که زه دا ووایم نوبی ځایه به نه وی چی د دی لوړو کتابونو د مطالعی کولو سره په
ماکی د حدیث هغه ذوق پیداسو چی نن زماشوق ته وزرو لګولو سره په ابن ماجه باندی
دتحقیق کار حوصله پیداسوی ده که د مولای کریم توفیق کامل پاته سو نو د ابن ماجه
د شرحی دوخت اهم ضرورت به پوره کړی.
په دی وخت کی چی د کوم مقصد دپاره تاسوته تکلیف درکوم هغه دیوحدیث په باره
کی پوښتنه کول وو چی په هغی کی ډیر بد انښتی یم په بخاری مسلم ترمذی ابن ماجه
مسند احمد اوتقریبًا دحدیثو په ټولو کتابونو کی داواقعه موجود ده چی یو واری
حضور صلی الله علیه وسلم په احد باندی وختلو نوهغه وښوریدی حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چی احد
ودرېږه لیس علیك الانبی اوصدیق اوشهید مخکی راوی تشریح کوی چی فلانکی
فلانکی صحابی د حضور علیه السلام سره وو دلته دوه مشکلات وو دحل طلب دی (الف) اول
خوداچی په بخاری اومسلم کی د احد الفاظ دی او په بل کوم حدیث کی د غار حراء
تصریح ده اوس دلته داسوال پیداکیږی چی دایوه واقعه ده که جدا جدا دوی واقعی
دی؟ په دی سلسله کی می دخپل موقف څخه خبر کړئ (ب) دوهم داچی د ابن ماجه په
روایت کی دحضور صلی الله علیه وسلم سره د سفینه بن زید او د حضرت سعد بن ابی وقاص تذکره ده،
حالانکه هغه بالاتفاق شهیدنه دی نواوس به ددی څه تاویل وسی، دلته داهم باید عرض
وکړم چی د دی لاندی د ټولو محدثینو تصریحات زما د نظر څخه تیر سوی دی او اوس
زمارایه داده چی داهم یوه واقعه ده چی د احد متعلق ده ځکه چی په مکه کی د نبوت
څخه وروسته د حضور صلی الله علیه وسلم حراته د تللو تذکره غالبًا نه پیداکیږي دامحض رایې ده چی
د هغه زماسره څه دلیل نسته صرف د ذوق او وجدان په بناء داسی وایم فیصله به تاسو
کوی.
دوهمه خبره داده چی اوس یوه میاشت مخکی ما جهاندیده وویلو په هغه کی تاسو د
علامه مزی مصنف تهذیب الکمال په تعارف کی لیکلی دی چی علامه ابن تیمیه ددوی

شاګرد وو تهذيب الکمال يوکال مخکی زما د نظر څخه تيرسوی وو، د هغه په ترجمه کی ماداويلی وه چی هغه د ابن تيميه رحمة الله عليه څخه اګر که شپږکاله مشر وو، او د هغوی څخه وروسته څوارلس ۱۴ کاله ژوندی وو خو هغه د شيخ الاسلام شاګرد وو استاد يې نه وو دا د يوکال مخکی اجمالی خاکه ده په دی وخت کی نه زماسره الکمال سته اونه نور امهات الکتب موجود دی چی د هغه طرف ته مراجعت کولو سره زه يقينی طور باندی وويل سم کيدی سی چی زما حافظه غلطی کوی تاسو تحقيق وکړی ماته هم داسی يادیږي چی شيخ الاسلام د علامه مذمی رحمة الله عليه استاذ دی شاګرد يې نه دی ستاسو خواته اګر که دمسائلو رش دی خوماته ستاسو د شفقت اوعنايت څخه اميد دی چی تاسوبه داحديث حل کولو سره سره ماته به داهم دښوولو زحمت وکړی چی دکومو کتابونو په ذريعه خپل ذوق حديث ته ترقی ورکړم د خصوصی دعاګانو درخواست دی.

جواب: الف د شراح حديث د تصريحاتو اوترجيحاتو په بناء باندی درست موقف همدادی چی د احد اوحراء متعلق دا دواړه جدا جدا واقعی دی چی مختلفو وختونوکی پيښی سوی دی او هغه تصريحات لاندی دی:

فی فتح الباری ج: ۷ صـ ۳۲ (۱) واخرج مسلم من حديث ابی هريرة مايؤيد تعدد القصة فذکر انه کان علی حراء ومعه المذکورون وزاد معهم غيرهم الخ وفی عمدة القاری ج۱۲ صـ ۱۹۰ (۲) ولکن لاشك فی تعدد القصة فان احمد راوه من طريق بريدة بلفظ حراء واسناده صحيح وابايعلی رواه من حديث سهيل بن سعد بلفظ احد واسناده صحيح واخرجه مسلم من حديث ابی هريره فذکر انه کان علی حراء ومعه ابوبکر وعمر وعثمان وغيرهم فهذا کله يدل علی تعدد القصة الخ.

وفی المرقات صـ ۳۳۲ ج: (طبع مکتبه امدادية ملتان) فاختلاف الرويات محمول علی تعدد القضية فی الاوقات اهـ:

ب: ددی په باره کی دوه قسمه تاويل سوی دی يوداچی د حضور ﷺ ارشاد ګرامی په تغليب باندی محمول دی چنانچه په دی حضراتو کی اکثره د شهادت په مرتبه فائز سوی دی او دوهم داچی شهادت عام دی يعنی شهادت حقيقه اوحکميه دواړوته شامل دی لهٰذا بعضی حضراتو خو حقيقی شهادت پيداکی اوبعضوته حکمی شهادت ورکول

(۱) فتح الباری کتاب فضائل الصحابة صـ ۳۸ (طبع دارنشر الکتب الاسلاميه لاهور)
(۲) عمدة القاری ج: ۱۲ ص: ۱۹۱ (طبع دارالفکر بيروت)

سو په داسی طريقه چی انتقال يې د داسی بيماری له وجی وسو چی د شهادت په حکم کی ده.

فی حاشيه ابن ماجه ص: ۱۳ (۱) قال القاری رحمة الله عليه وفی سعدبن ابی وقاص مشکل لان سعد امات فی قصره بالعقيق فتوجيه هذا ان يکون بالتغليب اويقال کان موته با المرض يکون فی حکم الشهادة اهـ ومثله فی سعيدبن زيد فانه مات بالعقيق ايضاً فحمل الی المدينة سنة احدی وخمسين. (اکمال فی اسماء الرجال)

وفی المرقات فی هذه القصة ج: ۱۱، صـ ۳۳۲ (۲) واثبات الشهادة لبعضهم حقيقة وللباقيين حکماً والله اعلم.

۲: صحيح خبره هم هغه ده چی کومه په جهان ديده کی ده يعنی علامه ابن تيميه حافظ مزی صاحب د تهذيب الکمال شاګرد دی استاذ يې نه دی چنانچه خپله کتاب تهذيب الکمال په فصل اول کی تصريح ده.

وقراء الثلاثة (ای ابن تيميه وغيره) علی المزی واعترفوا باستاذيتة وافتخروابها ج: ۱ صـ ۱۸ (۳). والله اعلم

عصمت الله عصمه الله

محترمی ومکرمی السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

(۱۴۱۵/۲/۱۳ هـ)

ستاسوخط موصول سو احقر دخپلو سفرونو اوشغلونو په وجه خپل يوعزيز دوست مامور کړی وو چی هغه د دغه امورو تحقيق وکړی هغوی چی کوم برنی جواب ليکلی دی د احقر په رايې کی صحيح دی که د احد اوحراء احاديث د يوصحابی څخه مروی وی نو د تعدد قصه به بعيده وه خو دا د مختلفو اصحابو څخه مروی دی کما حققة الحافظ فی الفتح لهذا متعدد واقعاتو باندی حمل کولو څخه بغير څه لاره نسته.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴۱۵/۲/۱۲ هـ (فتوی نمبر ۱۴۵/۴۲)

(۱): (طبع ايچ ايم سعيد):
(۲) (طبع مکتبه امداديه ملتان).
(۳) طبع موسسه الرسالة بيروت).

د ښځو د پاره د میډیکل او د هوم اکنامسړی تعلیم حاصلولو څنګه دی ؟

سوال: څه فرمايي علمايې دين د دی مسئلی په باره کی چی اینجنوته د قرآن یومعمولی خط اوکتابت د تعلیم ور کولو څخه سوا مزید تعلیم ورکول حرام دی که جائز؟ اوکه حرام دی نو د میډیکل حکمت اودهوم اکنامسړی تعلیم د مسلمانانو ښځو د پاره په کومه زمره کی راځی ؟

جواب: که ښځی د میډیکل ساینس حکمت یاهوم اکنامسړی تعلیم په دی غرض حاصل کړی چی داعلوم به په مشروع طریقی سره د ښځو د خدمت د پاره استعمالوم نو د دی علومو په تحصیل کی او د تحصیل څخه وروسته د دی په استعمال کی د پردی اونور شرعی احکامو پوره رعایت وساتل سی که کومه ښځه د دی ټولو احکامو رعایت ساتلو سره داعلوم حاصل کړی نوهیڅ کراهت پکښی نسته (۱) خونن صبا په دیکی د ډیرو علومو په تحصیل کی او استعمال کی د شریعت د احکامو پابندی د عنقاء په شان ده ځکه د دی عام مشوره نسی ورکولی.

والله سبحانه اعلم

۱۰\لسم رمضان المبارک۱۴۰۰ھ

(فتوی نمبر ۳۱۱۲\۱۱۳و)

په خطونوکی بسم الله په ابجد اوهندسوکی د لیکلو شرعی حیثیت او د دی طریقی دایجاد تاریخ

سوال: څه فرمايي علمايې دين درج ذيل مسئلی په باره کی چی په خطونوکی په ابجدو سره بسم الله لیکل سوی وی دا د چا ایجاد دی ؟ او داسی کله سوی دی ؟ او په عدد سره د پوره بسم الله ثواب او برکت حاصلیږی او که نه ؟

(۱) فی البحر ج: ۸ صـ ۱۹۲ والطبیب انما یجوزله ذالك اذالم یوجد امراة طبیبة فلو وجدت فلا یجوزله ان ینظر الجنس الی الجنس اخف وینبغی للطبیب ان یعلم امراة ان امکن وفی الشامیة ج:۶ص ۳۷۱ (قوله وینبغی) کذا اطلقه فی الهدایه والخانیة وقال فی الجوهرة اذاکان المرض فی سائر بدنها غیر الفرج یجوز النظر الیه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان کان فی موضع الفرج فینبغی ان یعلم امراة نداویها فان لم توجد وخافوا علیها ان تهلك والظاهر ان ینبغی هنا للوجوب وکذا فی الهندیه صـ ۳۳۰ ج: ۵ وفی البدائع صـ ۱۲۴ ج: ۵).

جواب: د خطونو په ابتداء کی بسم الله لیکل مسنون دی (۱) او دا پخپله د قرآن کریم څخه ثابت دی چی په هغه کی د حضرت سلیمان ؑ خط د بسم الله څخه شروع کیږي داخبره په کوم مستند کتاب کی په نظرنه ده راغلی چی د بسم الله په ځای (۷۸۶) عدد د څه وخت څخه لیکل شروع سوی دی خو د دی وجه غالبًا داده د بسم الله لیکل سوی کاغذبه د بی حرمتی په ځای کی استعمال سی نوبیابه بی ادبی وی لهٰذا که کوم سړی په دی خیال ژبی سره بسم الله ویلو سره داعدد ولیکی نوسنت به اداء سی خوافضل همدا معلومیږي چی بسم الله صراحتًا ولیکل سی ځکه چی د حضرت سلیمان ؑ خط هم کافرانوته تللی وو او حضور ﷺ چی د کافرانو بادشاهانو ته کوم خطونه روان کړی وه په هغه کی هم بسم الله درج وه ښکاره ده چی د کافرانو خواته دبی حرمتی احتمال دمسلمانانو په مقابله کی زیات وو خوپه دی وجه بسم الله ترك نکړی سوه.

والله اعلم بالصواب (محمد تقی عثمانی غفرله ۱۰\۵\۱۳۱۹ هـ)

(فتوی نمبر ۲۲\۲۰۳ب)

جواب صحیح دی خو د دی شرط دادی چی غالب ګمان داوی چی د خط بی ادبی به نه کیږي چیری چی داشرط نه وی لکه عمومًا د خطونو داحال جاری دی هلته دی د بسم الله لیکلوڅخه پرهیز کول بهتردی صرف په ژبه ویلو باندی دی اکتفا وکړی یا۷۸۶ یوعلامت د بسم الله کیدو په حیث دی ولیکی په مکاتب نبوی او مکتوب سلیمان ؑ کی داشرط موجود وو ځکه چی په عامه دنیاکی د بادشاهانو اولویو خلګو خطونه به احتیاط سره محفوظ اینښوول سول د کومو خطونو متعلق چی نن هم غالب ګمان دادی نوپه هغه کی بسم الله لیکل پکاردی. بنده محمد شفیع

د حدیث کنت کنزا مخفیًا تحقیق او د تخلیق عالم په سلسله کی د څو وسوسو اوشبهاتو جوابونه

پس دسلام مسنون څخه عرض دی چی بنده تاسو دتبحر علمی ذکاوت نهم او اعلی استعداد فقه قدردان او د زړه څخه معترف دی ستا د پاره لاس په دعاء دی اسلام ته ستاسو په شان د عالمانو ډیر سخت ضرورت دی ستاسو د ډیرو کتابونو څخه بنده استفاده کړی ده الله دی د قلم زور نورهم زیات کړی الله دی ستاسو فهم نورهم زیات

(۱) وګوری تفسیر معارف القرآن ج: ۶ص: ۵۷۸، ۵۷۹.):

کړی بنده نن صبا د يوڅو وسوسو د وجی ډېره سخت پريشانه دی په هغه کی دری اشکاله هر وخت په ذهن کی ګرځی او زما او د خدای ترمينځ يوقسم حجاب جوړيږي ځکه چی د لمانځه او اذکارو وغيره ترمينځه دا وسوسی راتلو سره د بدمزګی سبب جوړيږي براى کرم فی سبيل الله زما مدد وکړی زه پوهيږم چی د حضرت تهانوی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ دفهم اوفراست ډېره تاسوته کافی حصه درکول سوی ده د داسی سوالونو جوابونه د مولانا تهانوی په خصوصياتوکی شامل دی ماته معلومات دی چی د دين د خدمت په سلسله کی ستاسو مصروفيات په ملك او د ملك ډېره وتلی تصنيف اوتاليف اود دارالعلوم انتظامی امور اونورو شبعه جاتو کی ستاسو انهماك دومره زيات دی چی شايد د خپل ذات د پاره.به هم تاسوته وخت ډيرکم پيداکيږی خوستاسو په شان عالم ډېره پته نه ده چی د تزکية النفس کارهم څومره عظيم الشان دی چی پيغمبر دی د پاره مبعوث سوی وی او د وسوسو ازاله او شبهاتو او د اشکال مدلل جواب هم د دی په زمره کی راځی ستاسو د مصروفيت په وجه تاسو په دی کی ازاد ياست چی جواب په يوه ورځ کی يايوه مياشت کی راکړی يا د هريو اشکال په يوځای راکړی يابيل بيل څنګه چی تاسوته اسانه وی خو برايې کرم ضرور جواب راکړی الله تعالی دی تاسوته د خير جزا درکړی.

سوال: الف : وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلاَّ لِيَعْبُدُوْنَ، مفسرينو حضراتو د (لِيَعْبُدُوْنَ) تفسير په ليعرفون سره کړی دی يعنی دتخليق مقصد دادی چی خدای تعالی وپيژندل سی او يوحديث هم دی (کنت کنزا مخفيا) يعنی زه پټه خزانه ووم ماوغوښتل چی وپيژندل سم (فخلقت الخلق) نوما مخلوق پيداکړو وسوسه داراځی چی الله تعالی چی د هغه يوصفت الرحمٰن اورحيم هم دی محض دخپل شناخت اوتعارف دپاره په کروړونو او اربونو انسانان يې پيداکړل او په يولوی امتحان کی يې مبتلا کړل د پيدائش د ابتداء ډېره واخله ترنن پوری په کروړنو او اربونودی اوانسانان چی د هغوی ځنی داسی جوړی سوی دی چی که يوه ستن هم په بدن ولګی نوتکليف به ورته وی په لوی مشکل سره د ظالمانو د جبر او بربريت اود اذيت ناك تشدد په سبب مړه سول په زرګونو لکهونو ځنګلی حيوانانو مار لړم د غذا دپاره په لکهونو سړيان سمندری طوفانونو برفباری او د موسم د يخوالی له وجی مړه سول په لکهونو سړيان افات سماوی او ارضی طاعون او د چيچك او د نورو اذيت ناکو بيماريانو نوړی جوړ سول په لکهونو بی وسه سړيان په قحط کی د لوږی ډېره مړه سول نن هم په لکهونو انسانان د

غذا دکموالی ښکار دی د يو وخت ډوډی هم په مشکله سره پيداکيږي که د دووختو ډوډی پيدا نه سی نوڅومره تکليف وی که څه زخم ولګی ياڅه بيماری سی د چا عزت نفس مجروح سی کوم بی ګناه قيد سی څوك بی عزته سی د چا کور لوټ سی څوك اغوا سی داتکاليف برابر جاری دی او زيات ترد دی ښکار غريب اوبی وسيله خلګ دی او داسلسله به ترقيامته پوری جاری وی بنی نوع انسان باندی د داسی داسی مصيبتونو او تکليفونو غرونه مات سوی وی چی د هغه اوريدو سره د کاڼی په شان زړه به هم موم سی د نوع انسانی ابتدايې دور وګوری د يخنی شدت د ګرمی عذاب د هواګانو تيزی هم داسی ده لکه چی نن ده خوانسان سره نه توسان اونه کوربچی وی بدن به يې د درختو په پوستکو او د حيوانانو په څرمنو سره پټولی سو د کاڼی دور د اوسپنی دور د ژوندی پاته کيدلو د پاره به څنګه جدو جهد کول وو.

(ب) بيا دکوم شناخت د پاره الله تعالی (لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْ کَبَدْ) په حالت کي پيداکړی دی داشناخت هم په اويازره پردوکی داسی؛ پټ کړی دی چی پوره عمر رياضت او مجاهدات وکړی بياهم په لاس څه نه راځی الا ما شاء الله د سلوك کتابونه او د صالحينو حالات په دی باندی شاهد دی.

(ج) بياځه د دنيا ژوند چی هرڅنګه تيرسی په لوږه کی بيامری کی د موسم په سختی کی د مظلومی په حالت کی نو اوس د آخرت د ژوند خوف د دی ډېره زيات دی د هغه ځای عذاب د دنيا د عذاب ډېره زر چنده لوی دی نوګوانکی چی يوروح ته يې د جسم ورکولو سره ابد الابد او د هميشه په تکليف کی يي مبتلاکړو اوشناخت يې دومره مشکل جوړکړو چی څوك وايې د الله وجود نسته څوك وايې چی ټول الله دی څوك وايې چی د هغه اولاد دی څوك وايې چی هغه په فلانی جسم کی حلول کړی دی.

نوبيا د يوداسی شی يعنی شناخت (عرفان الهی) چی دومره مشکل اوناياب دی ددی دپاره په اربونو د غوښی پوستکی انسانانو سره په داسی لوی امتحان کی مبتلا کول په ظاهره د خدايې تعالی دصفت الرحمٰن اوالرحيم سره متضاد معلوميږي.

که په جواب کی څوك داوايې چی اسلام د الله تعالی د شناخت طريقه ښوولی دی نوبيشکه داصحيح ده خو په دی سره شناخت چيری کيږي په دی سره خوصرف علم حاصليږي يعنی پوهيدل او پيژندل بل شی دی ياڅوك دا ووايې چی موږ ټول دالله تعالی مخلوق سو اومالك ته په خپل مملوك کی د هرقسمه تصرف حق حاصل دی د هغه ډېره څوك سوال نسی کولی نوبيشکه چی داهم صحيح ده خوخدای تعالی انسانان منع

کړی دی چی په خپل مملوك کی بی ځایه تصرف مه کوی اولاد د لوړی مه وژنی خپل حیوانان اوړی ساتل خپل دولت بی ځایه اسراف داټولی خبری خدای تعالی منع کړی دی نوکوم امر چی الله تعالی خپلو بنده ګانو لره نه خوښوی هغه پخپله هغه ولی وکړی؟

محترم: زه داسوال د پوره انسانست د یوفرد کیدو په حیثیت سره کوم چی په هغی کی دابتداء خلګ څخه واخله ترننه پوری ټول انسانان کافر مؤمن ټول شامل دی لهذا په جواب کی داحیثیت مدنظر وساتی چی دبنده علم ډیر محدود دی او دامعاملات دتکوینی امورو سره تعلق ساتی چی د هغه د حکمت احاطه محال ده او په آخرت کی به پوره کیږي وروسته ستاسوڅخه درخواست دی چی داسی معقول جواب راکړی چی په څه طریقه دا ازغی ووځی چی نن صبایې زه ډیر پریشانه کړی یم عقیده خومی الحمد لله همداده چی الله تعالی هیڅ یوشی باطل نه دی پیداکړی خوپه بعضو امورو کی زړه راسره نه کیږي الله تعالی دی ما د دی منافقت څخه محفوظ وساتی نمبر اشکال په ټوله دنیاکی خلګ په ډیر افلاس او د غربت ښکار دی په افریقه کی په زرګونو خلګ د لوږی څخه مری که موږ خپل صوبه سرحدته وګورو چی کوشنی کوشنی ماشومان ګند راغونډوی چی هغوی ته په مشکله کی شل روپی مزدوری وکول کیږي بل طرف هغه خلګ چی د هغوی خواته د رزق دومره وسعت دی چی د هغوی سپی هم هغه غذا خوری چی غریبانانوته حاصل نه دی که داتفاوت د خدای کار وګڼو نودا د قرآن او د خدای تعالی د قول (وَمَا آنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِیْدِ) خلاف ځی، د غور او فکر څخه وروسته دلته هم داخبره په پوهه کی راځی چی (وَمَامِنْ دَآبَّةٍ اِلاَّ عَلَی اللهِ رِزْقُهَا) مشروط دی د خپلی زمانی په اسباب معیشت اختیارولو باندی مشاهده داده چی یو وروړ د دی زمانی په اسباب د معیشت اختیار کړی دی تعلیم یې حاصل کړو د اعلی عقیدی مالك سو نوپه رزق کی یې وسعت وسو دوهم دور جاهل پاته سو په هر لحاظ سره محتاج دی د دی خلاف هم دی خوحکم په اکثریت باندی لګول کیږي د الله تعالی سره د چادښمنی نه ده چی هغه محتاج وساتی د قرآن آیت (اِنَّ اللهَ لاَیُغَیِّرُ مَابِقَوْمٍ) هم د دی تائید کوی تاسو ووایاست چی داخبره صحیح ده او داعقیده حق ده اوکه نه؟

۳ نمبر اشکال: زموږ عقیده ده چی سرېب د بنده د اړخه دی او خلګ د الله تعالی د اړخه که بنده د یونیك کار اراده وکړله الله تعالی د هغه عملی تخلیق وکی داخبره خوپه پوهه کی راځی خوبنده د یوی بدی مثلاً ډاکی یا د قتل اراده وکړله نو د الله تعالی داړخه څخه ددی عمل په تخلیق باندی دوه اشکال پیداکیږی اول خوداچی دالله تعالی

دتخلیق عمل دبنده دارادی تابع دی که څه هم کله داسی کیږي چی تخلیق عمل نه وی خوداسی ډیر کم وی اوحکم په اکثریت باندی لګی.

دوهم اشکال دادی چی د بدعمل تخلیق په ظاهره (وَلاَتَعَاوَنُوْا عَلَی الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) خلاف معلومیږي بندګانوته حکم دی چی (وَلاَتَعَاوَنُوْا) چاخوك بی ګناه او وژلو په هغه بې ظلم وکی الله تعالی دی عمل تخلیق کولو سره د ظالم سره نعوذ بالله تعاون وکی د دنیا عدالتونه چی جرم کی اعانت هم جرم ګڼی نو د الله تعالی د دی بدعمل دتخلیق څه توجیه به کوو؟

دوهم داچی په ایمان مفصل کی (وَالْقَدْرِ خَیْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰی) څخه مراد همدا تخلیق فعل دی یاڅه بل څه؟ ځکه چی د شر محض صدور د الله تعالی څخه محال دی.

جواب: محترمی اومکرمی! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو مفصل خط پیداسو تاسو چی احقرته کومی دعاګانی کړی دی په هغه باندی دزړه دکومی څخه شکر ګذاریم (جزا کم الله تعالی) ستا د اصل سوال په باره کی مخکنی خبره خو دا عرض کول دی چی (کُنْتَ کَنْزًا مخفیًا) کومه فقره د حدیث قدسی په عنوان سره مشهوره هغه دحضور ﷺ څخه په هیڅ صورت سره ثابت نه ده؟

علامه سخاوی رحمة الله علیه فرمایي:

کنت کنزاً لا اعرف فاحببت ان اعرف قال ابن تیمیه انه لیس من کلام النبی ﷺ ولا یعرف له سند صحیح ولاضعیف وتبعه الزرکشی وشیخنا. (المقاصد الحسنه للسخاوی رحمة الله علیه. ص: ۳۲۷)

همدارنګه علامه عجلونی ښوولی دی چی صرف علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه څخه حافظ ابن حجر علامه زرکشی اوعلامه سیوطی رحمة الله علیه هم داویلی دی چی د دی روایت هیڅ سند نسته نه صحیح او نه ضعیف (کشف الخفاء للعجلونی ص ۱۷۳) او په اوسنی المطالب کی لیکلی دی چی داحدیث هغه صوفیاء تساملاً د حدیث قدسی په طور باندی ذکر کوی. (ص: ۲۴۳) اوبس.

البته په آیت کریمه کی ضرور داوارد سوی ده چی (وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلاَّ لِیَعْبُدُوْنِ) ([1]).

---

[1] سورة الذاریات آیات: ۵۶).

یعنی د جن او انسان د تخلیق مقصد دادی چی هغوی د الله تعالی عبادت وکړی د دی
ځخه مخکی چی تاسو د تخلیق عالم په باره کی د کومو وسوسو اوشبهاتو ذکر کړی
دی د هغه اجمال جواب دادی چی دا وسوسی اوشبهات په حقیقت کی په هغه دائره کی
دقدم ایښوولو له وجی پیداسوی دی چی دعقل انسانی څخه ماوراء دی د تخلیق
کائنات څه حکمتونه دی ؟ الله تعالی د دی کائناتو نظام څنګه جوړ کړی دی ؟ او د دلته
ده‌رشی اوهری واقعی پسی څه څه مقاصد کار فرما دی ؟ که داټولی خبری د انسان په
عقل اوعلم کی راسی نو د دی مطلب به داوی چی انسان انسان پاته نسو عالم الغیب
سو او داخبره فیصله سوی ده چی په هغه کی دوی رایي نسی کیدی ځکه چی د انسان
عقل محدود دی او هغه د کائنات تخلیق خولاڅه کوی پخپله د خپل وجود ده‌ری حصی
حکمت تخلیق معلومولو باندی قادرنه دی تردی چی هغه د ماغ چی په هغه سره انسان
سوچ کوی د هغه لویه حصه لاتراوسه پوری د انسان په پوهه کی نه ده راغلی چی د دی
عمل څه دی ؟ کوم واقعات چی انسان د چا د تکلیف یا دغم ګوری هغه صرف د هغه
ظاهری اړخ دی د دی واقعاتو پسی حقائق د هغه په علم کی نه دی، زموږ په ژوند کی
ډیر داسی واقعات اوحالات پیښیږي چی یوی مودی پوری موږ په هغه باندی افسوس
کوو خوبیا په څه وخت کی د هغه حقیقت ښکاره سی نو معلومیږی چی دا افسوسناک
واقعات عین حکمت مطابق وو که داحقیقت نه برسیرد کیدی نوموږ به هغه ظالم ګڼلی
اوس په څه موقع چی داحقیقت ښکاره کیږي خو په اکثرو مواقعوکی نه ښکاره کیږي
لهذا د دی معاملاتو پسی لګیدل چی د انسان د دائری او ادراك څخه بهردی خامخا
خپل ځان په پریشاني کی اچول دی.

بل طرف ته که د الله تعالی په وجود باندی ایمان وی نو دهغه په الرحمٰن او الرحیم
کیدو باندی هم ایمان کیدل لازمی دی که د څه مخلوق تکلیف لیدلو سره ترس راځی نو
ایا رحمٰن او رحیم ته به نه راځی ؟ که هغه چی ستاڅخه زیات رحیم کیدو باوجود په
[illegible] نا د دی به څه وجه وی چی ستا د علم د دایری او
[illegible] په پهانسی زوړند ګوری خوتا ته معلومات نسته چی
[illegible] ته خویو ډاکټر د یوه عضو کټ کولو باندی وینی اوترس
[illegible] نه دی که دا اپریشن نه کیدی نو د ټولو اعضاؤ به څه
[illegible] ه دی د یوره کائنات په نظام کی د کوم سړی په حق کی
[illegible] خالق [illegible] څخه ماسوا بل چاته نسی کیدی لهذا په دی

پسی لګیدل خلاف اصل دی که دا اجمالی حقیقت ذهن ته پریوتی نو انشاء الله داسی
قسم وسوسی اوشبهات به دی زیات نه پریشانه کوی اوکه کله غیری اختیاری طور
باندی راسی نو خپل ځان په څه کار باندی مصروف کړه او د هغه طرفته التفات مه کوه.
والسلام (والله سبحانه اعلم ۱۳۲۰/۱۲/۲۷ھ)

د فتوی د حوالو تخریج له مولانا عبد الله میصن زئی مجده

کنت کنزا لا اعرأف فاحببت ان اعرف فخلقت خلقا فعرفتهم بی، فعرفونی ابن تیمیه
رحمة الله علیه انه لیس من کلام النبی ﷺ ولایعرف له سند صحیح ولاضعیف وتبعه
الزرکشی وشیخنا (المقاصد الحسنه للسخاوی ص: ۳۲۷)

وفی کشف الخفاء بعد هذه العبارة:

و تبعه الزرکشی والحافظ ابن حجر فی اللالی والسیوطی وغیرهم وقال القاری ولکن
معناه الصحیح مستفاد من قوله تعالی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ ای
لیعرفونی کما فسره ابن عباس رضی الله عنه والمشهور علی الا لسنة کنت کنزاً مخفیاً فاحببت
ان اعرف فخلقت خلقا فبی عرفونی، وهو واقع کثیر فی کلام الصوفیة واعتمدوه بنو
علیه اصولاً لهم کشف الخفاء للعجلونی ج: ۲، ص: ۱۷۳)

۳: وفی الموضوعات الکبیر مثل ذالك الی کما فسره ابن عباس رضی الله عنهما ص:
۹۳).

وفی اسنی المطالب وتبعه الزرکشی، وابن حجر وهذا یذکره المتصوفة فی الاحا ث
القدسیة تساهلاً منهم (ص: ۲۴۳)

د قوم لوط چی کوم کلی چپه سوی وو د هغه په تعیین کی د رایي اختلاف

سوال: معارف القران دریم جلد سورة انعام ص: ۳۲۰ باندی لیکل سویدی چی د قوم
لوط ټولی کلی چپه سو چی ترننه داردن په علاقه کی د یو عجیبه قسم اوبو په صورت
کی موجود دی چی په هغه کی هیڅ حیوان او چنګوښه ماهی وغیره ژوندی نسی پاته
کیدی ځکه هغه د بحر میت په نوم سره موسم کولی سی او د بحر لوط علیه السلام په نوم سره
هم.

د پوره کلی د چپه کیدو واقعه چی په کوم ځای کی پیښه سوی ده هغه بالکل صفا
میدان دی د عذاب والاځای د اوبو څخه تعبیر کول او دا ویل چی هیڅ حیوان پکښی

خلاف ده نن صبا خلګ د هغه ځای مشاهده کوی ژوندی نسی پاته کیدی د تاریخ
ژوندی نسی پاته کیدی د تاریخ خلاف ده نن صبا خلګ د هغه ځای مشاهده کوی ته بحر میت ویل دروغ دی.

دعذآب الهی والاځای ته بحر میت ویل دروغ دی.
جواب: د حضرت لوط علیه السلام کوم کلی چی چپه سوی وو د هغه په تعین کی مختلفی رایې کیدی سی د احقر والد ماجد حضرت مولانا محمد شفیع اردن ته تشریف یوړو نو د هغه ځای اهل علمو خلګو د بحر میت په باره کی ورته هم دا وویل چی دا د لوط علیه السلام د کلو ځای دی او والد صاحب یې هلته بوتلی هم د دی په بنیاد هغوی داخبره لیکلی ده چی که د کوم صاحب علم تحقیق د دی خلاف وی نوکیدی سی داځه داسی مسئله نه ده چی په هغه باندی د شریعت دار ومدار وی چی تاریخی یاجغرافیایی مسئله ده اوپه ډیر تاریخی یاجغرافیایی مسائلوکی د اهل علم رایې بامشاهدات مختلف وی په دی کی کوم راجح کوم تر مرجوح خو وئیلی سی خو کوم ته دروغ ویل د ډیری زیاتی خبره ده. والسلام

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۹/۲/۵ھ

(فتوی نمبر ۳۰۱۰۴۴ج)

د نبوت او وحی څه حقیقت دی ؟

سوال: برایې کرم په عقلی اعتبار سره می په دی پوه کړه چی نبوت او وحی څه شی دی؟ او د نبی او خدای ترمینځ کومه رشته وی ؟ د هغه موږ څه ادراك کولی سو؟

جواب: دایو مفصل اوطویل بحث دی چی مختصر طور باندی په پوهه کې نه راځی په دی موضوع داحقر کتاب علوم القران کی مفصل بحث موجود دی داکتاب مکتبه دار العلوم کراچی ۱۴ شائع کړی دی د دی مطالعه وکړی که بیاهم څه شبه پاته سی نو پوښتنه وکړی. والله اعلم

۱۳۹۶/۱۱/۳ھ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۵۰۹ھ)

آیا موجوده سائنسی تحقیقات د قرآن او حدیث سره متعارض دی؟

سوال: د سپوږمی نور اوستورو په باره کی موجوده ساینس چی کوم تحقیق دی ایاهغه دقران کریم د رو څخه صحیح دی ؟ دلته بعضی حضرات وایې چی په ساینس قرآن او حدیث کی هیڅ تعارض نسته، لهٰذا د ساینس هره خبره صحیح ده اوبعضی وایې چی د

سائنس نظریات د قرآن سره ټکراویږي برای کرم په دی معامله کی د خپلی جامع رایې څخه مو خبر کړی؟

جواب: ستاسو سوال د خپل جواب د پاره په حقیقت کی د یوی مضبوطی مقالی وسعت غواړی بیاهم په اصولی طور باندی یوڅو ضروری خبری پیش خدمت دی امید دی چی هغه به ستاسو پریشانی لری کولو کی به مددګار ثابت سی، د ټولو څخه اول په دی خبره پوه سه چی د ساینس بنیادی مقصد. هغه قوتونه معلومول دی چی الله تعالی په دی کائنات کی ایښی دی که د دی قوتونو د انسانیت په فلاح او بهبود کی د استعمالولو کوشش وسی نو دا د اسلام په نظرکی صرف جائز نه بلکی مستحسن دی اسلام د دی کوششونو په لاره کی د څه رکاوټ او درولو په ځای همت افزایې کوی په دی سلسله کی د اسلام مطالبه صرف دومره ده چی داقوت نه د هغه مقاصدو دپاره استعمال سی چی د اسلام په نظرکی جائز اومفید دی په نورو الفاظو کی د سائنس کار دادی چی هغه د کائنات پټ قوتونه معلوم کړی خو د دی قوتونو صحیح مصرف مذهب ښایې هم هغه د دی اکتشافی کوششونو د پاره صحیح رخ اوبهتره فضاء مهیاکوی ساینس اوټکنالوجی هم په هغه وخت د انسانیت د پاره مفید کیدی سی کله چی هغه د اسلام ښوولی سوی اصولو مطابق استعمال سی ورنه شاید چی د دی څخه به چاته انکارنه وی چی ساینس څنګه د انسانیت د پاره د مادی فلاح او بهبود باعث جوړیدی سی دغه شان که د دی غلط استعمال وسی نو هغه زموږ د پاره تباه کن هم ثابت کیدی سی مثال زموږ په مخکی دی چی په ماضی کی ساینس چیری چی انسانیت ته د راحت او اسائش اسباب مهیا کړی دی هلته د دی د غلط استعمال پوره دنیا د بد امنی اوبی آرامی جهنم هم جوړ کړی دی همدی ساینس د سفر تیز رفتار ذرایع هم ایجاد کړی اوهم دی ایټم بم اوهایدروجن به هم جوړ کړل لهٰذا د ساینس صحیح فائده په هغه وخت کی حاصلولی سی چی هغه دالله تعالی دښوول سوی اصولو مطابق استعمال سی.

دوهمه خبره دا د پوهیدلو ده چی د ساینس تحقیقات په دوه قسمه باندی دی یوهغه چی په صریح مشاهدی باندی مبنی دی داسی تحقیقات نه خو د قرآن اوسنت سره تصادم سوی دی او نه کیدی سی بلکی مشاهده خوداده چی داسی تحقیقاتو همیشه د قرآن اوسنت تصدیق کړی دی او د قرآن اوسنت ډیری هغه خبری چی لږ موده مخکی د خلګو پوه کی په مشکله باندی راتلی د ساینس دی تحقیقاتو په هغه باندی پوهیدل آسان کړی دی مثلاً د معراج په موقع باندی د قرآن د کوم تیز رفتاری ذکر په صحیح احادیثو

کی راغلی دی په دی زمانه کي نام نهاد عقل پرستو دا د قیاس څخه بعید ګڼل او لیکن
ایا نن داساینس ثابت نکړل چی تیز رفتار یوداسی حد دی چی هغه په څه حدکی
محدود کولی نسی.

دوهم قسم ساینټیفیك نظریات هغه دی چی د مشاهدی او یقین په ځای په ظن
اوتخمین باندی او په کم علمی باندی مبنی وی او په دی سلسله کی ساینس دان
تراوسه څه یقینی نتیجی ته نه دی رسیدلی داسی تحقیقات بعضی اوقات د قرآن او
سنت تصریحاتو سره ټکراویږی په داسی مواقعو باندی سیده او صفا لاره داده چی د
قرآن اوسنت په تصریحاتو کی داتاویل کولو څخه بغیر په هغه باندی ایمان وساتل سی
او د ساینس چی کوم تحقیقات دی سره ټکراویږی د هغه په باره کی دایقین وساتل سی
چی ساینس لاتراوسه د خپلی کم علمی په وجه اصل حقیقت ته نه دی رسیدلی څومره
چی د انسان په ساینسی معلوماتو کی اضافه کیږي د قران اوسنت بیان سوی حقائق به
واضح کیږي مثلاً د بعضی ساینسدانانو خیال دی چی د اسمان هیڅ وجود نسته ظاهره
ده چی د دوی داخیال په دی بناء قائم سوی نه دی چی دوی ته د اسمان په نه موجود
کیدو باندی څه قطعی دلیل راکول سوی دی بلکی د هغوی د استدلال حاصل صرف
دادی چی موږته د اسمان د وجود علم نه دی سوی ځکه موږ د دی وجود نه تسلیموو په
نورو الفاظو کی داخیال علم عدم په ځای په عدم علم پاندی مبنی دی لهٰذا موږ چی د
قرآن او سنت په قطعیت باندی ایمان لرو په پوره شوق او اعتماد سره دا ویلی سو چی
د دی ساینسدانانو دارایي قطعی غلطه ده صحیح خبره داده چی دقرآن اوسنت دتصریح
مطابق آسمان موجود دی خوساینس دخپلی کم علمی په وجه هغه معلوم نکړی سو او
که د انسان په ساینسی معلوماتوکی مسلسل اضافه کیږي نوعین ممکن ده چی
ساینسدانانوته د خپلی دی غلطی احساس وسی او هغوی همدارنګه د آسمان وجود
تسلیم کړی لکه چی ډیر هغه شیان یې منلی دی چی مخکی د هغه څخه انکار کیدی.

مشکل دادی چی زموږ خواته هرشی د هغه په ځای باندی د اینبوولو ذهنیت ختمیږي
کله د څه شی اهمیت په ذهن باندی سورسی نو ډیر وار په هغه کی د حدودو څخه
تجاوز کیږي په دی کی څه شك نسته چی ساینس او ټکنالوچی ډیر مفید او ضروری
فنون دی او په حاضر دور کی خو د مسلمانانو د پاره بی حده ضروری دی چی دی فنونو
طرفته توجه ورکولو سره په دی کی ډیر زیات کوشش وکړی د دی څخه بغیر په موجوده
دنیاکی د هغوی د پاره خپل جائز مقام حاصلول ممکن نه دی خو د دی مطلب دا څیکله

نه دی چی هر یوساینسدان د خپل ظن او تخمین څخه دکومی نظریې اعلان وکړی هغه
د وحی په شان صحیح تسلیم سی او د هغه په وجه په قران اوسنت کی د تاویل او ترمیم
دروازه خلاصه سی یا د هغه په وجه په قرآن اوسنت کی شکوك او شبهات پیداسی
خاص طور چی کله دا د شپی او د ورځی مشاهده چی د ساینس دا قسم نظریات ورځ په
ورځ بدلیږي.

۳: یاد لری چی د اسلام معامله دعیسائیت څخه ډیره مختلفه ده په عیسایي مذهب کی
دومره روح نسته چی هغه د زمانی نوی ضروریات او د انسان زیاتیدونکی ساینټیفك
معلوماتو مقابله وسی لهٰذا ساینس د هغه د پاره یوه لویه خطره جوړیدو سره راغلی دی
د دی دپاره ضروری وو چی هغه دکلیباوقار دسلامت پاته کولو د پاره یاخو د ساینس
مخالفت وکړی او یا په خپل مذهب کی رد اوبدل وکړی په شروع کی رومن کهتو لیك
جرچ مخکنی لاره اختیار کړله او چونکی په عوامو د هغه اقتدار قائم وو ځکه دکلیلیو
په شان ساینسدانانوته بی شماره خنډونوته مخ کول پریوتل خوکله چی دکلیسا اقتدار
سست سو نواوس د هغه د پاره سوا د دی څخه څه لاره پاته نسوه چی هغه په خپل
مذهب کی ترمیم کولو سره د دی نوی تشریح او تعبیر وکړی چنانچه د اهل نجدد
(Modevnism) د مکتب فکر دالاره اختیار کړی ده خودا هرڅه ځکه وسول چی عیسایي
مذهب انتهایي غیر فطری اوغیر معقول بنیادونو باندی درول سوی وو د اسلام معامله
د دی څخه بالکل مختلف ده هغه د فطرت دین دی او د عقل کوم دلیل دانسی چیلنج
کولی په دی کی د زمانی د هر ضرورت د پوره کولو او د هر دور د تحقیقاتو سره
سترګی ملاو ولو پوره صلاحیت دی نه خو موږته د اسلام د وقار سلامت ساتلو د پاره
د ساینس د مخالفت ضرورت او نه د اسلام بدلولو ځکه چی زموږ دا ایمان دی چی
ساینس څومره هم ترقی کوی او د انسان په ساینسی معلوماتوکی چی څومره اضافه
کیږي نو د اسلام حقانیت به نورهم واضح کیږي په دی شرط چی د انسان نقطه نظر په
صحیح معانوکی ساینټیفك پاته وی او هغه محض او تخمین سره د یقین او مشاهدی
درجه ورنکړل سی.

بس داده هغه خبره چی علمایې دین یې کوی د دی حاصل د دی څخه ماسوا هیڅ هم نه
دی چی هریوشی د هغه په صحیح مقام باندی اینبوول پکار دی د جذباتی نعرو په
روکی راتلو سره دحدودو څخه تجاوز کول د هوښیارتیا تقاضانه ده خیرنه دی چی
حیرت دی چی د دی معتدل او سوفیصد معقولی خبری له وجی بعضی حضرات

مسلسل داتشهير كوي چي علماء د سائنس اوټيكنالوجي مخالف دي او په دي ميدان كي ترقي نه برداشت كوي د دي الزام په جواب كي موږ د دي دعاء كولو څخه بغير څه ويلي سو چي الله تعالى دي دغه حضراتو له فكر سليم وركړي. (والله سبحانه اعلم)

(اخر جمادى الاولى ١٣٨٧هـ) [1]

د اهرام د فوائدو او اثراتو شرعي حيثيت

سوال: په اهرام كي د خوراك څښاك شيان خرابيږي نه بلكي هغه كره اوټينګيږي مثلاً:

كه شيدي پكښي كښيښول سي نوهغه ماسته ياپنير كي بدليږي.

كه غوښه پكښي كښيښولي سي نوهغه نه خرابيږي بلكي نه وچيږي.

دچاي ياتمباكو ايښوولو سره دهغه تريخوالي ختميږي.

كه په اهرام كي اوبه كښيښوولي سي نوكه وروسته هغه اهرامي اوبه بوټوته واچوال سي نو د هغوي په نشونما اوجسامت كي اضافه كيږي.

كه د هر په ويښتوكي ولګول سي نو ويښته غورځيدل به بندسي او په پيدائش كي اضافه كيږي.

كه په يخ كي په ځرمن ولګول سي نو ځيري سوي ځرمن صحيح كيږي.

كه په مخ يې ولګوي ګونجيوالي ختميږي.

كه د شرابو په عادي سړي باندي وڅښل سي نو د شراب طلب ختميږي.

كه د ماهيانو په كوركي يې واچوي نو د ماهيانو په پيدائش كي اضافه كيږي كه حيوانانوته اهرامي اوعام اوبه كښيښوول سي نوهغوي اهرامي اوبه څښي كه په اهرام كي دواكښيښوول سي نو د هغه تاثير زياتيږي.

كه په اهرام كي دميوو اوتركاريانو تخم كښيښوول سي نو د دي تخمونو څخه طاقتوره ميوه زياتي ميوي اوګلونو والا درختي او سبزياني پيدا كيږي.

كه د ګلاب او د نورو درختو قلمونه په اوبوكي غوټه سي (اوبيا اهرام كي كښيښوول سي نو د دي قلمونو څخه جوړي ډير زر راوځي.

كه استعمال سوي بليډ اهرام كي كښيښوول سو نوهغه نورهم تيره كيږي په زخمونو او دردونو چي اهرام كښيښوول سي نوهغه ډير زربنه كيږي سائنسدانانو د بيماريانو جراثيم چي كله په اهرام كي كښيښوول نو هغوي دي ليدلو سره حيران سول چي جراثيم

[1] دافتوى البلاغ په شماره جمادى الثانى ص ١٣٨٧هـ ښه اخستلي سوي ده (مرتب عفى عنه) :

ياخو مكمل طور باندي ختم سول يا د هغه په بيدائش كي حيرانوونكي كمي راغلي مختلف بيماران په اهرام كي كيتولونه مخكي اوكښينولو څخه پس د هغوي دويني تجزيه وسوه ډاكټران حيران سول چي اهرامي قوت په نيمه كينته كي د ويني په اجزاؤ كي كافي تبديلياني كړي دي اوس تاسو وفرماياست چي اهرام چي هغه ته په انګريزي كي پائي رامډ (Pyv amid) وايې ددي شرعي حيثيت څه دي ؟

د دنيا په مختلفو علاقو كي آباد اهرامونه خصوصاً د مصر اهرام چي په هغه كي په يوه كي د فرعون لاس موجود دي چونكه د حضور ﷺ د زماني څخه مخكي دي نو ايا د اهرامو متعلق د حضور عليه السلام احاديث پيداكيږي اوكه نه ؟ ورسره په قرآن كي هم د اهرام متعلق څه مضمون بيان سوي دي اوكه نه ؟

ايا د حضور ﷺ او د صحابه كرامو رضي الله عنهم په دوركي اهرام استعماليدلو؟ اوپه اهرامي شكل كي مكانات د جوړولو رواج موجود وه اوكه نه ؟

د اهرام فوائد چي تيره صفحه كي بيان سوي د هغه شرعي حيثيت څه دي ؟ كه د دي شرعي حيثيت هيڅ هم نه دي نوبيا د اهرام د تير اسراس قوت راز څه دي ؟ آيا د دي فائدو حاصليدل له كوم جادو وغيره سره تعلق ساتي؟ يا دا د كوم دنياوي علومو نتيجه ده ؟

ايا د دي فائدو حاصلولو د پاره د اهرام څخه استفاده شرعاً جائز ده؟ چونكه د اهرام سره د دوو شيانو خاص تعلق دي چي په هغه كي د شمال اوجنوب تعين كول ايا د دي هم څه شرعي حيثيت سته يا د دي تعلق د كومو د نياوي علومو سره دي ؟

ويل كيږي چي اكثراً اهرام خيالاتو اوخواهشاتوته مادي شكل وركوي څه خلګو قابل عمل خواهشاتو ليكلو سره اهرام كي يې كښيښوول څه موده وروسته د هغوي خواهشات پخپله پوره سول ايا داسي كيدل شرعاً ممكن دي ؟

په تجربو او د مشاهدو سره داخبره مخ ته راغلي ده چي د مكمل سپوږمي او په بعضو اوقاتوكي د سيارو او مځكي د ګردش د وجي څخه د اهرام په بعضو اوقاتوكي واضح ثبوت كور كړي دي مثلاً پوره سپوږمي باندي جنون ليونتوب مراقي كيفيت خودكشي قتل او د جرائمو په وارداتوكي اضافه كيږي تردي چي د ښځو د حيض ورځي هم د سپوږمي په ګردش سره متاثره كيږي او د دي خبري هم خلګوته عملي تجربه ده چي په پوره سپوږمي باندي د سمندر سپور وي آيا د سپوږمي او سيارو د اثراتو څه شرعي

حیثیت سته اوکه نه ؟ که ددې هیڅ شرعي حیثیت نسته نوبیا ددې ټولو خبرو ظاهریدو
څه وجوهات دي ؟ او په دې باندې یقین ساتل څنګه دي ؟
جواب: د اهرام حقیقت او خواص او اثارو په باره کې قرآن اوسنت څه خبره ارشاد نه ده
فرمایلې د دې تعلق خاص د تجربې اومشاهدې سره د اهرام شکل څه خواص یا فوائد
ثابت سي نو هغه نه د شریعت خلاف نسي ویل کیدی نه هغه خواصو لره د ظاهري
اسبابو په درجه مې تسلیملولو سره په کومه اسلامي عقیده کې څه نقص واقع کیږي په
دې شرط چې هغه د ظاهري سبب په درجه کې وساتل سي موثر حقیقي باید په هرشي
کې الله تعالی وګڼل سي.

والله سبحانه اعلم
۱۴۱۱/۲/۱۸ھ
(فتوی نمبر ۵۷/۱۹)

د اجتهاد شرطونه او په موجوده دورکې څوک مجتهد ګرځول

سوال: پنځلس ورځې قافله کې یومضمون دیوبندي اوبریلوي اختلاف پس منظر
اصلاحي تحریک د صاحبزاده خور شید احمد ګیلاني مې د نظر څخه تیرسو څه امور څه
حضرت سید احمد بریلوي او د هغه درفقاؤ د طرف څخه منسوب سوي دي هغه د
صحیح او غلط ملغوبه محسوسیږي او د ذهني پریشاني باعث جوړیږي چونکه
داناچیزه نه د دیوبندي مسلك او د تهانوي مشرب حاصل دي ځکه په هغه کې د یوڅو
تحریرونو نشاندهي کولوسره د حقیقت حال څخه د نقاب اخوا کولو طالب دی د دې
مضمون اولنې خط په رساله کې شائع سوی دی لهذا مضمون تراوسه پورې جاري دی
ماته اجازت راکړی چې د سوال او ستاسو جواب په پنځلس ورځې قافله کې د اشاعت
د پاره پیش کړم چې عامة المسلمین د غلط فهمي سره غلط عقائد د علمايې حق طرفته
منسوب ګڼلو سره د اهل حق د مستفید کیدلو څخه محروم پاته نسي په فضل د الله
تعالی په هغه کې یوه خبره دالیکلې ده چې اجتهاد دا یوداسې حق دی چې هرصاحب
علم او بصیرت مسلمان ته حاصل دی د اجتهاد دځه خاص شخصیت او خاص زماني
پورې محدود نه دی بلکې ترقیامته پورې به جاري وي دوهابي تحریک هم خیاله د
تقلید په حامیانو باندې نکته چیني کوي د دې مطلب قطعاً دانه دی چې هغوی دائمه
اربعه امام اعظم رحمة الله علیه امام شافعي رحمة الله علیه امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه اوامام

مالك رحمة الله علیه احترام نه کوي او د هغوی په اجتهاد باندې هغوی ته اعتماد نسته ځکه
چې اصل دوهابي تحریك مؤسس اول شیخ محمد بن عبد الوهاب پخپله حنبلي مسلك
لرلو اومقلدیې وو.
جواب: د اجتهاد حقیقت دادی چې هغه بیشکه په دې لحاظ سره دهیڅ زماني سره
خاص نه دی چې د هغه څخه وروسته په کومه زمانه کې موجود کیدل عقلاً ناممکن وي
بلکې هغه یوه ملکه ده چې د هغه د موجود کیدلو د پاره د علم څه خاص شرطونه دي
چې د اصول فقه په کتابونوکې مفصل مذکور دي داشرطونه په پخوا زمانه کې په
کثرت سره پیداکیدل او اوس عام طور سره د هغه شرطونه سړي ته ورکول کیږي ځکه
په دې دورکې چالره مجتهد مطلق نه دی ګرځول سوی خو د اجتهاد خاص اقسام دي
مثلاً د اجتهاد في المسائل د پاره څه شرائط نسبتاً نرم دي او په آخري زمانوکې د دې
حامل علماء دي مسئله د تفصیل طلب ده که ضرورت وي نو د حکیم الامت حضرت
مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه رساله الاقتصاد فی التقلد و الاجتهاد او د احقر
رساله دتقلید شرعي حیثیت ملاحظه کړئ.

والله اعلم
۱۳۹۹/۱۰/۱۱ھ
(فتوی نمبر ۱۲۸۱/۳۰ د)

د جنګ جمل اوجنګ صفین د واقعاتو څخه انکار کول

سوال: دمشاجراتو په مسئله کې کوم چې د حضرت علی رضي الله عنه او حضرت امیر معاویه
رضي الله عنه په مینځ کې وسول په جنګ صفین کې او جنګ جمل کې صحابه کرام مقتول سول
زید د دې واقعې سخت تردید کوي او وایې چې (رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ) د صحابه کرامو رضي الله عنهم
صفت دی داځنګه ممکنه ده چې هغوی دې په خپل مینځ کې قتل اوقتال وکړي نعوذ
بالله دا په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې لوی بهتان دی د زید انکار صحیح دی اوکه نه ؟
جواب: که د جنګ جمل او جنګ صفین وقوع صرف د یوتاریخي روایت څخه ثابت وي
نوبیا خوبه د زید استدلال صحیح وي خو د دې جنګونو وقوع د تواتر څخه ثابته ده (۱)

(۱) وګورئ تاریخ الطبری ج۳ ص۵۴ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت) الاستیعاب ج۳ ص۱۳۷۵
(طبع دارالجیل بیروت) الاصابة ج۲ ص۲۸.

نو ځکه د دې څخه انکار درست نه دی (رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ) [۱] مطلب دانه دی چې کله به د یوبل سره څه اختلاف یاخفگان نه پیداکیږي لهذا د اجتهادی اختلاف رایې په وجه چې څه مشاجره پیداسی نو د دی منافی به نه وی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۱۱ھ

(فتوی نمبر ۱۹۲۳/ ۲۸ ج)

د ضرورت په اندازه دعلم دین زده کولو دپاره دیو مطالعاتي نصاب خاکه

سوال: گذارش دی چې د علماء حضراتو څخه اورو چې ددین بنیادی او د ضروری خبرو علم حاصلول په هرمسلمان سړی او ښځه باندی فرض دی لکه چې حدیث شریف کی دی طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة خو د دین د بنیادی او ضروری خبرو تعین زموږ په شان عامو مسلمانانوته معلوم نه دی دوهمه خبره داده څنگه چې تاسو په دینی مدارسوکی د ویونکو علماء کرامو د پاره یونصاب مقرر کړی دی دغه شان دعام مسلمانانو دپاره په اندازه د ضرورت د علم دین زده کولو د پاره څه نصاب مقررنه دی اگر چې علماء کرامو د دین اسلام تعلیمات د عام کولو د پاره په اردو ژبه کی ډیرکتابونه او رسالی لیکلی دی تاسوته درخواست دی چې په اردو ژبه کی دلیکل سوی کتابونو څخه داسی مجموعه تجویز کړی چې د عام مسلمانانو د پاره دعلم دین زده کولو نصاب درجه لری دغه نصاب ویلو څخه وروسته سړی ته د دین د بنیادی او ضروری خبرو علم حاصل سی او د حضور پاک ﷺ محوله پورتنی حدیث شریف منشا هم پوره سی (بینو اوتؤجروا)

جواب: ستاسو خط راکول سو تاسو ډیر اهم سوال کړی دی په قدر د ضرورت ددین علم حاصلول واقعاً په هرمسلمان باندی فرض دی د احقر په رایې کی د دی مطالعی دوی حصی پکار دی اولنی حصه په ابتدایې ضروری معلوماتو باندی مشتمل وی چې د هغه څخه بغیر د یوربښتونی مسلمان په شان ژوند تیرول ممکن نه وی او دوهمه حصه د اولنی حصی د تکمیل څخه وروسته په داسی مطالعی باندی مشتمل وی چې په هغه

[۱] سورة الفتح : ۲۹.

سره دینی معلوماتوکی دومره وسعت او استحکام پیداسی چې انسان د گمراه کوونکو له وجی گمراه نسی په اولنی حصه کی د احقر په نظر کی د لاندینی کتابونو مطالعه ضروری ده:

۱: حیاة المسلمین دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره.
۲: فروع الایمان د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره.
۳: تعلیم الدین د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره.
۴: دسړو دپاره بهشتی گوهر او ښځو د پاره بهشتی زیور جنتی کالی دحکیم الامت.
۵: جزاء الاعمال د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب قدس سره.
۶: سیرة خاتم الانبیاء د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه.
۷: حکایات صحابه د حضرت شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب سهانپوری مد ظلهم.
۸: تاریخ اسلام کامل د حضرت مولانا محمد میان صاحب رحمة الله علیه.
۹: اسوه رسول اکرم ﷺ د حضرت مولانا ډاکتر عبد الحی صاحب عارفی رحمة الله علیه.

په دوهمه حصه کی لاندینی کتابونه شاملیدل پکاردی

۱: معارف القران د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه.
یاتفسیر عثمانی د شیخ الاسلام حضرت علامه شبیر احمد صاحب عثمانی رحمة الله علیه.
۲: معارف الحدیث کامل دحضرت مولانا محمد منظور نعمانی صاحب مدظلهم
۳: د بهشتی زیور مسائل دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب رحمة الله علیه.
یا علم الفقه د حضرت مولانا عبد الشکور صاحب لکهنوی رحمة الله علیه.
۴: عقاید اسلام د حضرت مولانا محمد ادریس صاحب کاندهلوی رحمة الله علیه.
۵: شریعت وطریقت د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب رحمة الله علیه.

انشاء الله د دی کتابونو د مطالعی څخه به د دین دومره ضروری معلومات حاصل سی چې د دی څخه وروسته به خپل ژوند هم صحیح سی او د څه باطلی نظریې له وجی به گمراه کیږي هم نه والسلام.

اخر جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ [۱]

په کلمه طیبه کی په لفظ محمد باندی رفعه او اذان کی په دی باندی د نصب وجه

سوال: په کلمه طیبه کی په لفظ محمد باندی د ضمی سره او اذان کی په فتحی سره ولی دواړو کی څه فرق دی ؟

جواب: دا د عربی ژبی د قواعدو له وجی. والله اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

محمد عاشق الهی عفی عنه

۱۳۸۸۱۲۱۸ھ

(فتوی نمبر۱۹۱۲۲۳الف)

میډیکل کالج کی د ډاکټری ملحوظ تعلیم او د انسان د پټو غړو د معائنی متعلق متعدد مسائل

سوال: څه فرمایي علماء او مفتیان دین متین د لاندینیو مسائلو په باره کی د مهربانی د مخه د جواب لیکلو څخه مخکی یو وار ټول مسائل ووایه چی ټول نکات مخ ته راسی د هغه څخه وروسته فرداً فرداً جواب ولیکی خصوصاً لاندی کرښه ووایاست موږ په میډیکل کالج کی سبق وایو زموږ د تعلیم په مکمل تحقیق څخه وروسته مفصل اومدلل جواب ولیکی د هری یوی مسئلی د پاره یې ولیکی او د جواز آخری حد څه دی؟

۲: د جواز آخری شرط د کومو شرائطو سره تړلی دی؟

(۳) افضل اوبهتر څه دی ؟ جزاك الله! اول دا ووایه دلته چی په میډیکل کالج کی څومره هم دړیرو والا طلباء دی هغوی ته مولیان ویل کیږي د ټولو مولیانو په باره کی مشهوره داده چی دا ډیر نالایق وی اوموږ د خلګو طبعتی اورو که کله کوم مولا د څه جواب ورکړی نو استاد صاحب وایي چی نن خوکمال وسو څه معجزه وسوه چی مولاصاحب جواب راکړی استاذان او اکثره ملګری موږ په دی الفاظو سره پوه کوی چی مولیانو د پاره زیات ویل پکار دی ځکه چی په دی کي د دین عزت نه ویلو سره مولیان

[۱] دافتوی البلاغ شماره رجب المرجب ص ۱۴۰۲ ھ څخه اخستل سوی ده (مرتب عفی عنه)

د دین بدناموی او ټول خلګ داخیال کوی چی څوك په دین باندی چلیږي هغه د هیڅ کارنه وی لهذا ستاسو له وجی دین بدنامه کیږي موږ مولیان هیچښله نالایقه نه یو بلکی د شرعی مجبوریانو د وجی سبق ته او معائنه وغیره ته دکم نه کم توجه ورکوو او خلګ او اساتذه موږ ته پیغور راکوی چی تاسونه کومی پارټی کی راځی نه تاسو سبق وایي اخرتاسو خلګ کوی څه ؟ یوطرفته د دین حکم هم دی چی د خپل ځان څخه خلګ مه بدظنه کوی او د دین او خپل عزت خیال ساتی بعضی اوقات استاذان داسی خبره هم وکړی چی صریح کفر وی تر اوسه څلور کاله تیر سوی دی او موږ ته هیڅ هم نه راځی ددی وجه داده چی موږ د شرعی مجبوریانو له وجی سبق او معاینی وغیره ته توجه نه ورکوو داخبره زموږ په مخکی ده چی زموږ څخه لوی مولیان یعنی هغه مولیان صاحبان چی زموږ څخه مخکی دلته نه تعلیم مکمل کولو سره فارغ سوی دی څوك د هغوی خواته تلل نه خوښوی او نه د هغوی کلینیك چلیږي وجه هم هغه ده چی هغوی یې په معاینه وغیره کی تجربه نه ده حاصله کړی نو د هغوی تشخیص صحیح نه دی او د مریض حق نه اداء کولو ګناء جلا ده او داحدیث جلا دی چی د نا اهله قاضی اونا اهله طبیب ټیکانه د جهنم څخه سوا هیڅ هم نه ده وجه هم هغه ده چی هغوی د مریضانو متعلق ویلی نه دی خپل لاس باندی یې کتلی نه دی معائنه کولو سره یې لیدلی نه دی داټولی خبری ملحوظ ساتلو سره د لاندینیو مسئلو جواب راکړی په میډیکل کالج کی ملحوظ نظام تعلیم دی هلکان انجونی یوځای سبق وایي ښوونکی اکثره سړی دی بعضی اوقات ښځی استاذانی هم ښوولو د پاره راځی او بی پرده وی زموږ د معلوماتو مطابق پوره پاسړیتان کی د سړو د پاره ځانته میډیکل کالج نسته په لاهورکی د انجونو د پاره فاطمه جناح کالج دی چی هلته ملحوظ نظام تعلیم نسته خوهلته په استاذانو کی ښځو سره سړی هم شامل وی په هرحال زموږ په میډیکل کالج کی مکمل بی پرده ګی ده بعضی انجونی داسی کپړی اغوندی چی د حدیث مطابق د کپړی اغوستلو سره هم لڅی وی او د کپړو د ننه یې د څرمن رنګ صفا ښکاری که کپړه نری نه وی نوبعضی انجونی تنګ لباس اغوندی چی په هغه سره د هغوی د جسم لوړ اوجوړ واضحه کیږي ټولی انجونی داسی نه دی بعضی انجونو په څادر سره مخ پټوی خو سترګی اوخو اوشا څرمن یې ښکاری هلکان اکثره تنګ پتلون اچوی چی هغه سره د هغوی کوناټی واضح کیږي کوم هلکان چی قمیص پرتوك اچوی په هغه کی هم بعضی کالی اوکف استعمالوی ۹۹ فیصد هلکانو ګیټی پټوی او د اکثرو انجونو ګیټی

ښکاره وى د انجونو آواز هم اوريدل سى بعضى انجونى او هلكان ښکاره خبرى كوى مذاق او خنداكوى اساتذه كه ښځى وى ياسړى هغوى هم خندا مذاق كوى دلته د سړو هيڅ تميز نسته بعضى استاذان خوتردى وايې چې زموږ د پاره هيڅ هلك يا انجيلى نسته زموږ د پاره ټول طالبان او عالمان دى اوبس د ښځو استاذانو آواز هم اوريدل وى د مكمل طور احتياط باوجود نظر په محرم باندى پريوځى ورنه كم ازكم آواز خو مكمل اوريدلى سى د دى ټول تفصيل ښوولو مقصد دادى چې دلته مكمله بى دينى او دبدى د ماحول دى تاسو پوهيږي چې قاعده داده كه په كوم ځاى كې د تلو څخه مخكى معلوم سى چې هلته به د ګناه كار كيږي نوهلته تلل حرام دى اوكه هلته ولاړسى او معلومه سى نو د هغه ځخه ولاړيدل واجب دى ورسره د ګناه طرف ته تلل هم ګناه ده كوم كار چې په حرامو كې د ابتلاء سبب جوړيږي هغه هم حرام دى پورتنى تفصيل كې تقريبا ټول په ټوله كبيره ګناهونه دى د دى ټول تفصيل ملحوظ نظر ساتلو سره د لاندينى مسئلو جواب راكړى.

مسئله ۱: ۱/۱ : په دى نظام تعليم كې د ښځو د پاره علم حاصلول څنګه دى ؟

۲/۱: په دى نظام تعليم كې د خلګو د پاره علم حاصلول څنګه دى ؟

۳/۱: د لاهور په فاطمه جناح كالج كې د ښځو علم حاصلول څنګه دى ؟ (هلته استاذان خلګ او ښځى دواړه وى خوسبق ويونكى صرف انجونى وى ؟

۴/۱: كه دانظام تعليم صحيح نه وى نوآيا د سړى يا ښځى د پاره علم حاصلول جائز نه دى؟

۵/۱: د حكومت كار دى چې هغه د انجونو او هلكانو د پاره جلا كالجونه جوړ كړى او حكومت د دى ټول اختيارات اوسهوليات په لاس كې لرى خوترڅو چې حكومت داكار ونكړى نو آيا ترهغه وخته پورى څه جواز نسته چې موږ خلګ علم حاصل كړو؟ تاسو پوهيږي چې د باقى دنيوى علومو په مقابله كې علم طب افضل دى او د دى څخه بغير څه لار نسته كه موږ علم حاصل نكړو نو د خلګو او ښځو علاج به څوك كوى ؟ آخر په دى صورت كې خوبه څه ناڅه متبادل صورت وى ؟

۶/۱: كه ښځى استاذانى سبق ښوولو د پاره راسى نوخلګو د پاره څه حكم دى ؟

۷/۱ : كه خلګ استاذان سبق ښوولو دپاره راسى نو د ښځو د پاره څه حكم دى ؟

مسئله نمبر ۲

خواته چې څومره كتابونه د ويلو د پاره ويل كيږي هغه ټول په ټوله د نورو زموږ ملكونو دى په دغه كتابونو كې د انسانى تصويرونه په كثرت سره وى او اكثره تصويرونه لڅ صرف هغه حصه نه وى چې ښوول يې مقصود وى بلكې پوره انسان لڅ وى لڅ تصوير وى او په هغه كې د خلګو هيڅ خيال نسى ساتلى د هغوى په باره كې څوقاعدى دادى: چې په وخت د ضرورت كتل جائز دى يعنى د تصوير كتلو څخه بغير د پوهيدلو څه صورت نه وى نوصرف دى هغه تصوير وګورى اوصرف دى دومره وګورى څومره چې ضرورى دى خو د دى فيصله به څوك كوى چې په وخت د ضرورت اوپه قدر د ضرورت ګورى اوكه نه ؟ موږ دلته ځوانان يو بلكې د ځوانى سرته رسيدلى يو په دى صورت كې په وخت د ضرورت تعين نور زيات مشكل دى كه د تصوير كتلو په ځاى د ويلو په غرض موكتاب خلاص كې نوبياهم په تصوير باندى نظر پريوځى لڅ تصويرونه ليدلو سره شهوت اميز خيالات هم راځى بعضى مضامين كتاب كې داسى هم دى چې د هغه په ويلو سره شهوت راپورته كيږي كه څه هم دا د علم حاصلولو د پاره وى خو پوښتنه داكول دى چې داسى مضامين ياداسى كتاب ويل او ښوول اوزده كول كتل اونورو ملګرو ته د غرض د پاره ښوول وغيره جائزدى اوكه نه ؟ په دى كې هم وليكى چې افضل څه دى ؟ د جواز آخرى حد څه دى ؟ او د جواز آخرى حدپه كومو شرائطو باندى دى ؟

څيرل په ميډيكل كالج كې پنځه كاله وى اوپه اول او دوهم كال مى د مړو انسانى جسم څيرل وغيره ورباندى كوى د دى متبادل خو موجود دى چې د پلاستيك په جوړسوى اعضاؤ باندى دى ورونبوول سى د دريم كال څخه ترپنځم كال پورى موږ هسپتال او وارډونوته ليږي خصوصًا په پنځم كال خو د شپى هم تلل وى هلته موږته صرف په مريضانو باندى سبق راښوول كيږي د ويلو طريقه داوى چې استاذ د يومريض په باره كې وايې چې د ده څخه پوښتنه وكړه چې ده ته څه تكليف دى ؟ او د هغه څخه وروسته د ده معائنه وكړه نظام تعليم ملحوظ دى لهٰذا هلكان انجونى يوځاى وى كله چې طالبان اوعالمان خپل كار پوره كړى نواستاذ صاحب تشريف راوړى په طالبانو اوطالبانوكې يوتن د مريض تكليف او معائينى په باره كې ورته ووايې استاذ صاحب په هغه كې غلطيانى راوباسى او پوه كوى وغيره.

دلته دی داخبره یاده وی چی هره بیماری په ښځه او سړی دواړو کی نه وی بعضی بیماریانی صرف په خلګو کی اوبعضی صرف په ښځو کی، او ورسره هیڅ حیوان داسی نه دی چی مکمل طور باندی د انسان مشابه وی ورسره د معائینی په دوران کی مختلف د پټو حرکت د زړه د حرکت مختلف اوازونه په مختلفو بیماریانوکی د ساه مختلف آوازونه وغیره صرف د انسان په جسم کی لیدلی سی نه چی د پلاستیک په اعضاؤ کی اګرکه بعضی شیان په کمپیوټر باندی داسی راغلی دی چی په هغه باندی آواز اوریدی سی هو هرشی په پاسړیتان کی نه پیداکیږي او هر طالب عالم کمپیوټر نسی اخستلی او میډیکل کالج کی هم داسهولت نسته د ټولوڅخه اول د مریض څخه اجازت اخستل که مریض (سړی یاښځه) اجازت ورنکړی نودهغه معائنه وغیره طالب عالم ته دکولو اجازت نه وی د معائینی څلوز حصی وی: ۱ کتل ۲ لاسونو سره دباوول اوچیك کول ۳ په ګوته باندی وهل اوکتل ۴ دغوږونو په آلی سره (stethoscope) د هغه حصی آواز اوریدل.

۱: کتل د دی د پاره ضروری دی چی کومه حصه کتل وی نو هغه حصه او د هغه خوا وشاته کافی حصه لڅه سی مثلاً قاعده داده که سینه کتل وی نوکم ازکم ترنامه پوری قمیص ورباندی کښته سی اوکه خیټه کتل وی نو د سینی څخه واخله ترځنګنونو پوری سره د شرمګاه نه سی لڅه اګر چی د کتابونو مطابق صحیح طریقه هم داده خو پا سړیتان کی شرمګاه د ټولوڅخه وروسته لڅه کیږي بلکی ځانته کمره کی پردی کی برسیره کیږي په دی کی د سړی د شرمګاه زیات خیال نسی ساتلی خو د ښځی شرمګاه هم ښځه برسیره کوی وګوری سړوته اجازت نسته په هرحال کی مریض سړی وی یاښځه دا ورته کول وی سړی خو د خاص شرمګاه حصی څخه علاوه باقی جسم لڅ کول پشمول د ورنو وغیره څه بدنه ګڼل کیږي د ښځی مریض په صورت کی لوپټه کښته کولی سی او د خیټی ملا وغیره قمیص هم اخوا کولی سی په عام طور باندی د دی څخه زیات نسی کولی.

۲: د دباؤ کولو سره لاس وړل اوکتل په دی کی مریض ته چی په کومه حصه کی تکلیف وی هغه ته لاس ور وړل اودباوول یې چی ورته معلوم سی چی د ده څرمن او د څرمن څخه لاندی نور اعضاء او پټی د عام صحتمند سړی په شان دی یاسختی دی یانرمی دی یالاس لګولو سره مریض ته درد کیږی اوکه نه وغیره دلته هم دسړی اوښځی (که

مریض وی یاطالب علم) څه تخصیص نسته.

۳: په ګوتی باندی وهل اوکتل په دی کی د لاس او ګوتی په مدد سره د مریض د جسم مختلفی حصی خصوصاً سینه اوخیټه په ګوتی باندی وهلو سره ګوری او د آواز موازنه د عام صحتمند انسان سره کول کیږي.

د غوږونو والا آلی سره اوریدل په دی کی اګر چی عموماً مریض سره لاس نه لګیږی خو په کوم ځای چی آله لګول کیږي هغه څخه کپړه اخوا کول کیږي آپریشن تهیټر:

د شعبه جراحت د سبق په دوران کی طلباء او طالبانوته د جراحی عمل (اپریشن) ښوول کیږی په دی کی طالب عالم ته د لاس لګولو اجازت نه وی خوهغه ته ښوول کیږي دلته هم استاد شاګرد مریض کی د سړی او ښځی څه خاص خیال نسی ساتلی.

آوټ ډور (O- P- D).

په دی کی د مریضانو معائنه استاد کوی او ښایې چی په دی کی د فلانی بیماری فلانی نښه ښکاره ده چنانچه طالبان اوطالباتی د بیماری هغه نښی په هغه کی فرداً فرداً ګوری او معائنه یې کوی په ټولو میډیکل کالجونوکی همدا د تعلیم طریقه ده او هم د دی امتحان اخستل کیږي د دی ټولی تفصیل څخه وروسته د جواب مطلوب امور په لاندی ډول دی په دی کی ولیکی چی افضل څه دی؟ د جواز آخری حد څه دی؟ او د جواز حد د کومو شرائطو سره دی؟ یا د دی وی چی د ټولو څخه اول د مریض څخه اجازت اخستل کیږي که (مریض سړی اوښځه) اجازت ورنکړی نو د هغه معائنه وغیره طالب عالم ته دکولو اجازت نه وی.

دریمه مسئله

۳/۱: سړی طالب عالم ته مریض (سړی او ښځی) سره د خبرو کولو څه حکم دی؟
۳/۲: ښځی طالب عالم ته مریض (سړی اوښحی) سره د خبروکولو څه حکم دی؟
۳/۳ ښځی طالب علم ته د مریض (سړی اوښځی) دمعائنه کولو څه حکم دی؟
۳/۴: ښځی طالب عالم ته مریض (سړی او ښځی) د معائنه کولوڅه حکم دی؟
۳/۵: که جوازنه وی نو د استاد په وینا یاحکم کولو څخه وروسته به د جواز څه حکم وی؟

هرکله چی دا د فتنی دور دی او د طالب عالم په انکار باندی د هغه سره په کلنی امتحان کی فیل کولی سی.

۲/۳: تاسوته معلومه ده چی د جراحي عمل د مهارت کار دی اومهارت په خپل لاس کار کولو سره حاصلیږي کالج خوعموماً په لاس سره کار کول خونه پریږدی خوعمل د جراحی ورته ښوول کیږي د دی څه حکم دی؟

۳/۷: که د هرطرف څخه بچ سی نو د امتحان په دوران کی خو دهر طالب عالم ځانته امتحان اخستل کیږي وروسته د امتحان په دوران کی څه حکم دی؟

(افضل مع الجواز مع الشرط)

۳/۸: د تعلیم په دوران کی سړی او ښځی او طالبانو اوطالباتوته ویل کیږي چی د مریض یامریضی مقعد یا اندام نهانی (شرمګاه) کی لاس او ګوتی وغیره دننه کولو سره وګوری د دی حجم وګوری او د ننه یې دباؤ کړی او وګوری وغیره دننه کول څنګه دی؟ مریض او طالب علم کی سړی او ښځه یوکیدی سی که جواز نه دی نو د استاذ په وینا یاحکم کولو څخه وروسته د جواز څه حکم دی هرکله چی دا د فتنی دور دی او طالب علم په انکار باندی هغه په سالانه امتحان کی فیل کولی هم سی.

څلورمه مسئله

سعبه حادثات یعنی ایمر جنسی وارډ کی عموماً هغه مریض راځی چی د هغوی حالت نازك وی لهٰذا هلته بعضو اوقاتوکی په یومریض دوه دوه دری دری ډاکټران لګیاوی بعضی اوقات که ډاکټران کم وی یامریضان زیات وی نوطالب علم هم شاملولی سی چی د زیات څخه زیات مریضان د بچ کولو کوشش وسی په دی حالت کی بوتل هم لګول کیږي د بوتل لګولو د پاره عام طور د مریض د مټ د وینی په ورتید باندی ستنه لګول کیږي که هلته پیدا نسی نو د جسم په نورو حصو باندی ورید تلاش کولی سی بعضی اوقات هیڅ ځای هم پیدانسی نو د شرمګاه سره په ورون باندی پیداکیږي مریض ډاکټر اوطالب عالم (سړی اوښځه) هرڅوك کیدی سی که دلته د مریض حالت ډیر خطرناك وی نود پردی زیات خیال نه ساتل کیږی بلکی د هغه ځان بچ کولوته زیاته توجه ورکول کیږي په داسی حال کی د ډاکټر اوطالب عالم (سړی او ښځی) د پاره څه حکم دی؟ بعد جواز مع شرائط افضل څه دی؟ ولیکی.

پنځمه مسئله

په کالج کی د تعلیم په دوران کی طلباء اوطالباتو دپاره ضروری دی چی په کالج اوهسپتال کی ټوله حاضری کی ۷۵٪ فیصد حاضریدل او ۷۵٪ فیصد سبقونه د استاذ څخه ویل ضروری دی ورته هغه ته په امتحان کی د ناستی اجازت نه وی بعضی اوقات

دکال ضائع کیدو احتمال هم وی لهٰذا ۷۵٪ فیصد حاضری پوره کولو دپاره کالج اوهسپتال ته تلل مجبوراً ضروری ده ددی څخه زیات تلل یا نه تلل په خپل اختیار کی دی داخبره په ذهن کی ساتلو سره دا راته ووایې ۱/۵ په داسی حالت کی آیا داضروری دی چی د ۷۵٪ څخه وروسته طالب عالم کالج ته ولاړنسی په دی سلسله کی لیکل نه دی چی افضل څه دی؟ که جواز وی نوڅه دی؟ اوپه کومو شرائطو باندی دی؟

۲/۵ کالج ته زیات خلګ ځکه ځی چی ۷۵٪ حاضری ضروری ده که داضروری نه وی نواکثره خلګ به نه ځی بعضی اوقات که یې دسبق ویلو زړه نه وی یاپه سبق نه پوهیږي یازنانه استاذه راسی نوبعضی طالب علم دینی کتابونه مواعظ اوبعضی ناول وغیره دسبق په دوران کی وایی د دی څه حکم دی؟ او آیا داصحیح دی؟

۳/۵ دلته په کالج کی د ابو العلی مودودی جماعت هم دی چی د هغوی په نزد ږیره دومره ساتل کافی ده چی د لری څخه په نظر راسی څه هلکان د هغوی د اثرته اوڅه د فیشن په طور کوشنی غوندی ږیره ساتی او ګنی چی واجب پوره سو کله چی موږ هغوی ته وایو چی ږیره پوره وساتی نو وایې چی آیا داږیره نه ده؟ موږ ورته وایو چی دا صحیح نه ده نوهغوی وایې که صحیح نه وی نوآیاموږ چی څومره ږیره پریښی ده هغه کټ کړو؟ موږ هغوی ته څه جواب ورکړو؟ یومولانا صاحب ویلی وه چی هغوی ته بیشکه ووایې چی د دی ږیری هیڅ فائده نسته لهٰذا بیشکه یې کټ کړی راته ووایې چی بیشکه موږ هغوی ته څه جواب ورکړو د هغوی د پوره ږیری ساتلو هیڅ اراده نسته او هغوی همدا سنت او واجب ګنلی دی.

۴/۵ د طالبانو کالج ته د تلو زړه نه کیږي ورسره د دی د پاره سهار سهار کی ولاړیدل غواړی لهٰذا بعضی طالبان نوروته وایې چی موږ نه ځو زموږ حاضری ولګوی آیا د اجائز دی چی طالب عالم ولاړنسی اوبل ورته حاضری ولګوی؟ بعضی استاذان اجازت ورکوی خو اکثره ناراضه کیږي.

شپږمه مسئله

دلته په میډیکل کالج کی چی څومره هم د ږیرو والا طالبان دی هغوی ته ملا ویل کیږي او د مولیانو په باره کی مشهوره ده چی دا ډیر نالائقه وی او موږ پیغورونه اورو که کله کوم ملا دکوم سوال جواب ورکړی نو استاد صاحب فرمایي نن خوکمال وسو څه معجزه وسوه چی مولوی صاحب هم جواب راکړی خو استاذان اودوستان موږ اکثره په دی الفاظو سره پوه کوی چی مولیانوته زیات ویل پکار دی ځکه چی په دی کی د دین

عزت دی نه ويلو سره مولیان دين بدنامه کوی اوټول خلګ داخيال کوی چی څوك په دين باندی روان وی هغه د هيڅ کار نه پاته کيږي لهٰذا ستاسو د وجی دين بدنامه کيږي موږ موليان قطعًا نالائقه نه يو بلکی د شرعی مجبوريانو له وجی سبق اومعاينی ته کمه توجه ورکوو خلګ او استاذان موږ ته پيغورونه راکوی چی تاسوله هيڅ پارټی وغيره کی نه راځی نه تاسو سبق وايې آخرتاسو خلګ کوی څه ؟

يوطرفته د دين حکم دی چی د خپل ځان څخه خلګ مه بدظنه کوی او وسره ددين اوخپل عزت خيال وساتئ بعضی اوقات خو د استاذان داسی خبره وکړی چی صريح کفر وی تراوسه څلور کاله تير سول موږته هيڅ هم نه راځی څنګه چی موږ دلته راتلو څخه مخکی خالی وو هم هغه شان اوس هم خالی يو يقينًا هيڅ نه راځی د دی وجه داده چی موږ د شرعی مجبوريانو د وجی سبق او معاينی ته توجه نه ورکوو داخبره زموږ د مخکی چی زموږ څخه لوی موليان يعنی هغه موليان صاحبان چی زموږ څخه مخکی دلته نه د تعليم مکمل کولو سره فارغ سوی دی څوك د هغوی خواته تلل نه خوښوی نه د هغوی کلينيك چليږی وجه هم هغه ده چی هغوی په معائنه وغيره کی تجربه نه ده حاصل کړې لهٰذا ذ هغوی تشخيص صحيح نه وی د مريض حق نه اداء کولو ګناه بيله ده داحديث بيل دی چی د نا اهله قاضی اونا اهله طبيب ټيکانه د جهنم څخه ماسوا هيڅ نه ده وجه هم داده چی هغوی د مريضانو په حقله څه ويل نه دی خپل لاس ورلو سره يې څه ليدلی نه دی، معائنه کولو سره يې څه ليدلی نه دی د دی ټولو خبرو ملحوظ ساتلو سره د لاندينيو مسائلو جواب راکړی ؟ ۱۱۲ د دی پيری په رڼاکی د ديندار طالب عالم او طالبانو د پاره د جواز آخری حد څه دی ؟ اوپه کومو شرطونو باندی دی ورسره داهم راته وښايې چی افضل څه دی ؟ آيا زموږ د پاره څه جواز نسته چی موږ علم حاصل کړو؟ يا موږ سبق پريږدو ؟ که موږ سبق پريږدو نوزموږ مور اوپلار دوستا او خپلوان به سختی خبری راته کوی تاسو پوهيږي چی نن صبا د خلګو ايمان څومره کمزوری دی ؟ موږته يقين دی چی زموږ د کالج په پريښوولو باندی به خپل پردی داسی خبری راته کوی چی کافران به سو .

۲۱۲ ايا موږ ټول طلباء چی دلته سبق وايو موږ دګناه کبيره مرتکب اوفاسق يو اوکه نه؟

مسئله نمبر ۷

زموږ کالج هسپتال اودار الاقامة نژدی زيات اوکم شپږ جوماتونه دی زموږ کالج کی يوډاکټر سبق ښايې ډاکټر صاحب د شکل صورت او لباس په لحاظ سره ماشاء الله

ديندار دی ماشاء الله د قرآن حافظ هم دی آوازيې هم ښه دی خوپه مخلوط کی سبق ښايې حالانکه ډاکټر دی خپل کلينيك هم خلاسه ولی سی داصاحب په ليبارټری کی کار کوی غالبًا خپله ذاتی ليبارټری يې هم ده د امور ملحوظ خاطر ساتلو سره وفرمايې ۱۱۷ آيا په مخلوط تعليم کی د ښوولو له وجی داصاحب فاسق دی اوکه نه؟ ۲۱۵ د دوی په امامت کی د لمونځ څه حکم دی ؟

۷۱۳ د دوی په امامت کی د تراويحو د لمونځ څه حکم دی ؟ هرکله چی په دی خواکی نور جوماتونه هم دی ؟

۴۱۷ که نژدی نور جوماتونه نه وی نو د دوی په امامت کی د فرض لمونځ او تراويحو څه حکم دی ؟ که افضل اوحد د جواز وی نو سره د شرائطو يې بيان کړه، برای مهربانی د مکمل تحقيق څخه وروسته جواب راکړی جزاك الله والله تعالی هو الموفق وهو المستعان ولاحول ولاقوة الابه.

سيد فاتح عظمت الله، فرحان شهزاد، محمد عمران، محمد هارون محمود

کمره نمبر ۱۲۹ جوهر حال.

طلبه قايد اعظم ميډيکل کالج کهاولپور

۱۲۳ صفر ۱۴۲۳ هجری

جواب:

مسئله نمبر اول

د شريعت اصل حکم خودادی چی د سړو اوښځو اختلاط څخه دی پرهيز وسی خاص طور باندی داسی مستقله مشغله اختيارول چی په هغه کی د نامحرمو ښځو سره ليدل وی بغير د ضرورت څخه جائز نه دی لهٰذا د حکومت او مسلمی معاشری شرعی ذمه واری ده چی هغه د مخلوط نظام تعليم په ځای د هلکانو د پاره جلا او انجونو د پاره جلا تعليمی اداری قائمی کړی خو چی ترڅو داسی نظام نه وی نو چونکه د ميډيکل تعليم حاصلول يو اهم ضرورت دی او په دی ميدان کی د متدين افرادو کمی ده چی د هغه د لری کولو همدا لاره ده چی متدين افراد د ميډيکل تعليم حاصل کړی (۱) نو که د دی تعليم د حصول هغه لاره نه وی چی لوړ بيان سوه نو په دی شرط سره د تعليم حاصلولو ګنجايش معلوميږي چی حتی الامکان خپل ځان د بی پرده نامحرمو ښځو

(۱) الی.

مخ سی نوسترګی دی لاندی وساتی شخه لری وساتی او چی چیری همداسی ښځو سره دمیډیکل تعلیم په دی شرط جائز دی (۱) چی هغوی د پردی مکمل اهتمام وکړی او د سړو خواته نه کښینی ښځو دپاره د تعلیم په غرض سړوته د کتلو ګنجائش نسته خودا ګنجائش د ضرورت ترحده پوری محدود پاته کیدل پکار دی (۲).

مسئله نمبر ۲ جواب

کله چی دکتاب اصل مقصود تعلیم دی اوپه دی کی تصویر ضمنی طور باندی راغلی دی نوداسی کتابونه په دی شرط ساتل او ویل جائز دی چی د تصویرونو چی د هغه د کومو حصرته د تعلیم ضرورت نه وی هغه خویا وران سی یا دی په څه کاغذ باندی پټ سی خاصکر داسی تصویر چی شهوت راپورته کوی هغه دی داسی بدل سی چی صرف هغه حصه باقی پاته سی چی د تعلیم په غرض ضروری ده د ضرورت تعین د هغه موضوع څخه کیدی سی د کومی موضوع د هغه تصویر سره تعلیم ورکیدی سی.

جواب مسئله نمبر ۳

(۱. ۲. ۵. ۲. ۷. په دی ټولو کارونوکی چی کوم کار د طب د تعلیم حاصلولو دپاره ضروری دی هغه په قدر د ضرورت د کولو ګنجایش سته خو په هرکار کی دی د دی خبری ګنجائش وساتل سی چی دمریض دستر دومره حصه ښکاره سی څومره چی د معائنی د پاره ضروری وی که د عملی کوم فرد په دی کی احتیاطی کوی نوهغه ته تاکید کول پکار دی چی د ضرورت څخه زیات نه ښکاره کوی (۳).

جواب مسئله نمبر ۴

کله چی د انسان بچ کولو د پاره بوتل یاانجکشن لګول ضروی وی او د جسم په ظاهری حصو باندی رګ پیدانسی نو د ستر والاحصه باندی د رګ تلاش کولو ګنجائش سته په دی کی د ډاکټر او طالب عالم په مینځ کی څه فرق نسته بیاهم په دی کی داضروری ده

(۱) وفی مقدمة رد المختار ج: ص ۴۲ (طبع سعید) قال فی تبین المحرام واما فرض الكفاية من العلم فهو كل علم لايستغنى عنه فى قوام آمور الدنيا كالطب والحساب ... الخ همدارنګه وګوری ص ۱۴۳
(۲) او د ص ۱۴۴ ددی حاشیه نمبر ۱.
(۳) ایضا.

چی حتی الامکان د نارینه مریضانو سره دا عمل نارینه ډاکټر یاطالبان کوی او زنانه او ښځو سره دی داعمل زنانه ډاکټر یاطالبات کوی (۱).

جواب مسئله نمبر ۵

۱، ۲، ۷۵٪ حاضری د کم نه کم مقدار ده ورنه د تعلیم د تکمیل د پاره سل فیصده حاضری ضروری ده لهذا د ۷۵ څخه وروسته هم د حاضری اهتمام کول پکار دی او حاضریدلو سره خپل تعلیم ته متوجه کیدل پکار دی بیادی هم هغه احتیاطونه ملحوظ وساتی چی پورته بیان سول.

۳: د ږیری شرعی مقدار یوموټ دی ږیره د یوموټ څخه لوړه کټ کول جائز نه دی (۲) او کمو سړیانو چی ږیره د یوموټ څخه کمه ساتلی ده که هغوی دا وایې چی څومه مو پریښوولی ده آیا هغه موږ کټ کړو نوجواب دانه دی چی هوکټ یې کړی بلکی جواب دادی چی ږیره پوره پریږده او داخبره صحیح ده چی ږیره کمه ساتل د بالکل خرئیلو څخه بهتره ده.

۴: دبل طالب عالم حاضری لګول دهوکه ده اوبالکل ناجائز ده.

مسئله نمبر ۶

په دی سوال کی چی تاکومی خبری لیکلی دی اکثر اوبیشتر په مبالغه باندی مبنی دی که واقعًا ته د تعلیم څخه خالی یې نو د دی وجه دینداره کیدل نه دی بلکی د تعلیم طرفته د توجه نه ورکول دی او داهم غلطه ده چی کومو خلګو د میډیکل تعلیم حاصلولو سره فارغ سوی دی د هغوی کلینیك نه چلیږي نو د ملك په هره خطه کی دمتدینو ډاکټرانو کمی نسته چی په خپل فنی مهارت کی مشهور دی لهذا ددی

(۱) وفی الدرالمختار ج: ۲ ص ۳۷۰ (طبع سعید) ينظر الطبيب الى موضع مرضها بقدر الضرورة اذا الضرورات تتقدر بقدرها وكذا نظر قابلة وختان ينبغى ان يعلم امراة تداويها لان نظر الجنس الى الجنس اخف وفى الشامية تحته فى الجوهرة اذاكان المرض فى سائر بدنها غير الفرج يجوز النظر اليه عند الدواء لانه موضع ضرورة وانكان فى موضع الفرج فينبغى ان يعلم امراة تداويها فان لم توجدو خافو عليها ان تهلك اويصيبها وجع لاتحتمله يستروا منها كل شيئ الا موضع العلة ثم يداويها الرجل ويغض بصرة ما استطاع الامن موضع الجرح.

(۲) وفی الدرمختار كتاب الحظر والاباحة فصل البيع ج: ۲ ص ۴۰۷ (طبع سعید) والسنة فيها القبضة ... ولذا يحرم على الرجل قطع اللحية .... الخ وفى البحر الرائق ج: ۲ ص ۲۸۰ (طبع رشيديه كويته) واما لاخذ منها وهى دون ذالك كما يفعل المغاربة والمخنثنة من الرجال فلم احد ..... الخ.

احساس کمتری نه راځي او خپله بې عملي دخپل دین داری سره مه تړی که وقعًا تاسو داسې کوی نومتدین خلګ به بدنامیږي د جواز حدود وروسته بیان سوی دی که په هغه حدودو کې پاته کیدو سره په محنت تعلیم حاصل سی نوهیڅ وجه نه ده چې مهارت حاصل نسی.

مسئله نمبر (۷)

محض په مخلوط تعلیم کې د بنوولو له وجې هغه صاحب ته فاسق نسئ ویل کیدی عین ممکن ده چې هغه د نظر او زړه حفاظت کولوسره سبق بنایي لهٰذا دهغه په امامت کې لمونځ هم جائز دی او که خواکې بل جومات وی نو د شبهې څخه بچ کیدو دپاره بیاهغه جومات ته ولاړسی ورنه هغه پسې لمونځ کوی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۲۳\۴\۲۹ھ

(فتوی نمبر ۱۲\۵۹۵)

(بنوهاشم، بنوامیه، جنګ جمل جنګ صفین حضرت حسین حضرت معاویه رضی الله عنه او د یزید متعلق متعدد سوالونه او جوابونه آیا بنوهاشمو د ټولوڅخه زیات خپل ځان د خلافت مستحق ګڼلو؟

سوال: ۱ ایا بنوهاشمو خپل ځان د ټولوڅخه زیات خپل ځان د خلامت مستحق ګڼلو؟ بلکې چې مولانا ابو الکلام ازاد په خپل کتاب شهادت حسین کې لیکلی دی؟

داسلام قبلولوڅخه وروسته د بنوهاشم او بنوامیه خاندان داختلافاتو کیفیت

سوال ۲ : ایا د اسلام قبلولوڅخه وروسته هم بنو هاشمو او بنوامیه داسلام څخه وړاندې خاندانی اختلافات ختم کړی نه وو ؟ لکه چې دواقعه کربلا په وروسته منظر کې ثابتیږي حالانکه قرآن پاك د مسلمان کیدو څخه وروسته خصوصًا په اصحاب کرامو رضی الله عنهم کې د مؤدت قلبې ذکر کړی دی او د اثبات په صورت کې د دی تاثر د حامل کامل الایمان ثابت کیدی نسی.

آیا حضرت علی رضی الله عنه د خلافت دپاره د پخوانیو خلفاؤ د اتباع د شرط څخه انکار کړی وو؟

سوال۳: په څه تواریخوکې راځي چې د حضرت عمر رضی الله عنه د وفات څخه وروسته

انتخابي شورٰی د حضرت عثمان رضی الله عنه به د خدای اورسول په اطاعت سره د خلفایې اول اوثانی د اتباع شرط هم ایښی وو حضرت عثمان رضی الله عنه خوقبول کې خو حضرت علی رضی الله عنه د خلفایې سابقه د اتباع شرط قبول نه کې نو د حضرت عثمان رضی الله عنه انتخاب په عمل کې ورغلی ایا داصحیح دی او آیا د خدای اورسول ﷺ د اطاعت څخه وروسته دخلفای سابقینو اتباع د منتخب خلیفه دپاره یولازمی امر وو ؟

دقصاص عثمان رضی الله عنه مطالبه کوونکو حقیقی مقصد دعثمان رضی الله عنه قصاص وو یاحضرت علی رضی الله عنه لره دخلافت څخه ګرزول ؟

سوال:۴ د عامو تاریخونو څخه داتاثر پیداکیږی چې د عثمان قصاص یوه بهانه وه ورنه اصل مقصدیې خلافت حضرت علی رضی الله عنه څخه مرتب کیدل غوښتل که داتاثر قبول سی نو په دی کې د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څخه واخله د حضرت معاویه رضی الله عنه پوری او د حضرت طلحه رضی الله عنه او زبیر رضی الله عنه څخه واخله ترعمرو ابن العاص او ابو موسی اشعری پوری ملوث دی او د دوی څخه علاوه ډیر داسې صحابه رضی الله عنهم هم ملوث دی چې هغوی په اکابرو کې شمیرل کیږي او چې د هغوی په ذریعه د دین یوه لویه حصه موږته رارسیدلې ده مذهب اهل السنت به د کوم شی څخه انکار کوی؟ د فساد ایمان څخه د بچ کیدلو د پاره د سکوت اختیارولو حکم ضرور سوی دی خوداسکوت په فرار سره تعبیر کولی سی.

د حضرت معاویه دکردار تاریخی اوشرعی جائزه

سوال ۵ : په تاریخونوکې د حضرت معاویه رضی الله عنه دکردار د مطالعه کولو څخه وروسته دوی خبری لازمی طور باندی پیداکیږی یاخوتاریخونه غلط یا د حضرت معاویه رضی الله عنه ایمان د مصلحت وخت تقاضاوه په دوهم صورت کې لکه چې اهل السنة هغوی په اکابروکې شمار کوی د نبی تربیت اوذات محل د نظر پاته کیږي.

ایا حضرت معاویه رضی الله عنه په خپل ژوندکې په زور د ولی عهدی بیعت اخستی وو؟

سوال ۶: د حضرت معاویه رضی الله عنه په خپل ژوند کې په زور دولی عهدی بیعت اخستل یوه سیاسی مسئله ده یامذهبی ؟ که سیاسی مسئله ده او حضرت معاویه په خلفایې راشدینوکې نه شمارل کیږي نو اعتراض د کوم شی پاته کیږي په دی سلسله کې دوه ضمنی سوالونه پیښیږی الف آیا د نفس ولیعهدی بیعت اخستل صحیح نه دی؟

ب: خلگو لره د خپل ځان څخه وروسته چالره د ولیعهد جوړولو وصیت کولو بلکی جواب حاصلولو اوبیعت اخستلو کی څه فرق دی ؟ حضرت ابوبکر ؓ په خپل آخری وخت کی نه صرف حضرت عمر ؓ یې ولیعهد نامزد کړی وو بلکی د خلگو څخه یې د هغه د اطاعت اقرار هم اخستی وو او حضرت علی ؓ هم په خپل آخری وخت کی حضرت حسن ؓ خپل جانشین نامزد کړی وو .

د یزید د پاره د ولایت عهد بیعت اخستلو شرعی حکم

سوال ۷: یزید فاسق اوفاجر وو او د داسی څوی دپاره د ولایت عهد بیعت اخستل جائزوو اوکه ناجائز ؟ ناجائز کار کول معصیت خداوندی دی اوکه نه؟

د حضرت معایوه په عهدکی په یزید باندی شرعی حد ولی جاری نه سو؟

سوال ۸: د تاریخونو څخه داخبره واضحه کیږي چی د حضرت معاویه د خلافت په زمانه کی شرعی عدالتونه موجود وه چی د خدای تعالی نافرمانیانو او قابل تعذیر جرائمو په ارتکاب کوونکو باندی به یې حدود جاری کول په یزید باندی حد ولی جاری نه سو ؟ هرکله چی د هغه شرابی زانی کیدل دومره مشهور وو چی د بیعت ولیعهد په دوران کی د دی په زوره اظهار وکړی سو دامسئله مخ ته ایښوولو سره د حضرت معاویه د پاره داریمار سړی نسی قائمولی .
اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ

دیزید حکم ؟ او ایا د حضرت معاویه په عهدکی د غناء مجالس عام وو ؟

سوال ۹: په تاریخونوکی اجمالی طور د یزید د فسق او فجور ذکر خو راغلی دی خو د کومی خاص واقعی ذکر کم ترکمه د اردو په ترجمو کی نه دی راغلی آیا کوم عربی تاریخ د حضرت معاویه ؓ په عهد کی د داسی قسم واقعاتو ذکر کړی دی ؟ شاید چی ابن خلدون د مجالس غناء ذکر کړی دی آیا داشان مجالس د غناء چی خلاف د شرع وی د حضرت معاویه په دورکی عام وو ؟

د حضرت حسین په نوم د کوفیانو په خطونوکی څه خبره درج وه ؟

سوال ۱۰: په تاریخونوکی د حضرت معاویه ؓ د وفات څخه وروسته حضرت حسین ؓ سره د کوفیانو خط اوکتابت چی کومه تذکره په اردوکی منتقله سوی ده د هغه مطابق د حضرت معاویه ؓ په وفات باندی حضرت حسین ؓ ته مبارکی او د خپل

حق اخستلو ترغیب دی په هغه خط او کتابت کی یوفاسق اوفاجر خلیفه داخو کولو جدو جهد طرف ته اشاره نه ورکول کیږي براه کرم که په عربی تاریخونو کی داسی څه واقعه وی نوخبر می کړی د مختلفو روایتونو مطابق دری سوه خطونه یا په بل روایت دری بوری خطونو د راتلوڅخه وروسته او د وفدونو د راتلوڅخه وروسته حضرت حسین ؓ مکه مکرمه پریښووله .

د فاسق حکمران په خلاف د حضرت حسین ؓ خروج او د جهاد شرعی حیثیت

سوال۱۱: د واقعه کربلا تحقیق ښوولو سره په هرتحریر اوتقریر کی داخبره په وضاحت سره راغلی ده چی دیوفاسق اوفاجر حکمران سره دجهاد په غرض حضرت حسین ؓ دمکی څخه روان سوی وو دامقصد واجب وو یامستحب ؟ که واجب وو نونوروته ترغیب ورکول ضروری وه آیا حضرت حسین ؓ په دی سلسله کی نورو ته ترغیب ورکړی وو؟ او که مستحب وو نو د نتائجو اندازه کولو سره حضرت حسین ؓ ته پریښوول پکار وه په هرصورت کی بهتروو چی حضرت حسین ؓ خپل هم خیاله پیداکړی وو بیابه یې نظریاتي یاعملی دباؤ اچولو سره حالات بهتر جوړ کړی وای اوکه داخیال یې وو چی دیرش زره (۳۰۰۰۰) کوفیان تیار وه لکه چی تاریخونه لیکی اومسلم اطلاع ورکړی وه او بغیر د څه مشوری څخه حضرت حسین ؓ هغوی ته رسیدل غوښتل نوبیاهم پوره خاندان او اسباب اخستلو سره راونیدل مناسب نه وه یوائی او یا د یو دوو ملگرو اخستلو سره په کومه غیر معروفه لار باندی تللو سره به دکوفی خلگو سره ملاؤ سوی وی بلکی تاریخونو کی چی څنگه راځی چی د کوفی والاؤ په ښکاره د یزید خلاف د بغاوت بیرغ پورته کړی وو او د مسلم په لاس یې بیعت کړی وو اوحکومت ته د هغوی رحجاناتو علم وو لهٰذا د حکومت له طرفه مزاحمت متوقع وو نو د حضرت حسین ؓ په داسی حالاتوکی خپل خاندان والا اخستلو سره وتل خپل ځان ته او خپلی سلامتی ته د نقصان رسولو مترادف وو په دی لحاظ سره حضرت حسن ؓ په خپل دی مشن کی مخلص منلو کی تامل پیداکیږي یابیا دامقصدنه وو ؟

آيا يزيد په خپل مملکت کی غير اسلامی دستور جاری کړی وو ؟

سوال ۱۲: ويل کيږي چی يزيد د شريعت قانون بدلول غوښتل حلال يې حرامول اوحرام يې حلالول آيا د تاريخ اوسوا نحو په ذريعه داچيری په نظر راځی چی د خپل خلاف کيدونکی جدو جهد خلاف د ختمولو څخه وروسته هغه په خپل مملکت کی غير اسلامی دستور رائج کړی وو ؟ حالانکه د دی څخه وروسته هغه ته د هيڅ قسم مزاحمت توقع نه وه ؟

د يزيد په خلاف جدو جهد کی نور صحابه کرام ولی شريک نه سول ؟

سوال ۱۳ ديزيد په خلاف جدو جهد کی دهغه دور د بقيه صحابه کرامو رضي الله عنهم عدم شرکت په څه خبره محمول سی ؟ حالانکه د حضرت حسين رضي الله عنه په مقابله کی ادنی درجی صحابی هم نه بلکی يوفاسق فاجر حکمران او آيا دآل علی رضي الله عنه څخه ماسوا په بل چاباندی دافرض نه عائد کيدل ؟ د تاريخونو څخه معلوميږي چی ابن عباس رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم هغه لره د منع کولو کوشش هم کړی وو ؟

د حضرت حسين رضي الله عنه له طرفه جهاد او د مقابلی د فيصلی وجه

سوال ۱۴ مرثيه لوستونکو ذاکرانو په شان اوريدل سوی وعظ ليکلو ليکلو سره استاد وايي : او وايي چی حضرت حسين رضي الله عنه په هيڅ صورت کی د يزيد په شان د فاسق او فاجر خلافت په خپل ژوند کی د برداشت کولو د پاره تيارنه وو ځان يې ورکی خو د يزيد خلافت يې تسليم نه کی حالانکه د واقعاتو په اعتبار سره نه خو حضرت حسين رضي الله عنه د مکی مکرمی څخه د يزيد د بيعت د بيری وتلی وو نه په هغه باندی په مکه مکرمه کی چا جبر کړی وو بلکی د کوفيانو په خط اوکتابت او وتلو اوکله چی په لاره کی ورته معلوم سول چی کوفيان بدعهده سوی دی نو دواپس کيدلو اراده يې وکړله خو د مسلم په شهادت باندی مشتمل داعزه او اقاربو د ضد له وجی يې د ارادی ملګرتيا وکړله او آخره پوری يې دری شرطونه پيش کړل نو بيايې مقصد څه وو ؟ په پوهه کی نه راځی .

د اسلامی تاريخ د رواياتو په تحقيق سره د سر څخه مرتب کولو ضرورت

سوال ۱۵: په آخره کی يو اهم سوال په خدمت کی عرض دی د قديم اسلامی تاريخ ذخيره د يوی عجوبی څخه کمه نه ده چيری يوه فرشته ده او بل ځای کی شيطان جوړيږي

د بدقسمتی څخه د ترجمو په سلسله کی هم څه احتياط نه دی سوی علمايې کرامو دی طرف ته توجه نه ده ورکړی چی د قرآن او سنت او د اثار سلف ماهرو علماء رحمهم الله يوپوره مقررولو سره يې د رواياتو په اختلاف تحقيق کړی وی او کم ترکمه اهل سنت ته ابتدايي تاريخ داسی پيدا سوی وی چی په هغه کی اکابر صحابو او د قرون خير يوښه او متفق عليه تصوير وی اوس وخت تيرنه دی آيا تاسو په دی سلسله کی څه کولی سی ؟ ورنه کيدی سی چی آينده راتلونکی نسلونه نور مذاهب نه بلکی سياسی اوملکی راهنماؤ تاريخونه لره بی عيب او متفق عليه پيداکيدلو او د اسلامی تاريخ پوره ذخيری قتل او وينی بهولو څخه ډکه پيداکړه نو د اسلام خلاف مشيريږي پروپيګنډی کی راتلو سره دمحمد عربی صلی الله عليه وسلم ذات ګرامی او دهغوی خلاف بيکاره ژبه وينا باندی رانسی اعوذ بالله من شر ذالك.

محترمی اومکرمی! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

جواب : ډير شرمنده يم چی تر اوسه ستاسو د سوالونو جواب د ليکلو موقع ملاؤنه سوه په اصل کی انتظار کی وم چی څه د اطمينان وخت پيداسی نومفصل جواب به وليکم خواندازه راته داوسوه چی د اطمينان وخت ملاويدل ډيرمشکل دی اوس چی لږ ډير فرصت راته پيدا دی په دی کی د اختصار سره ستاسو د سوالونو جواب عرض کول زيات مناسب دی که په کوم جواب کی بياځه اشکال پاته سی نوبراه کرم تاسو دوباره رجوع وکړی د خپل ناقص علم ترحده پوری به زه انشاء الله جواب عرض کړم د ټولو څخه به اول اصولی خبره عرض کړم او هغه داچی موږ سره په علم تاريخ کی چی کومه ذخيره موجوده ده په هغه کی د يوی واقعی متعلق څوڅوروايتونه پيداکيږی او په تاريخ کی د روايت هغه چان بين اوجرح وتنقيد هغه طريقه اختيار سوی نه ده چی په حديث کی حضرات محدثينو اختيار کړی ده د دی نتيجه داده چی د تاريخ په کتابونوکی هرقسم روايتونه درج سوی دی صحيح هم اوغلط هم که د يوی معاملی حقيقت پسندانه تحقيق کول وی نو داضروری ده چی د رطب او يابس په دی مجموعه کی صرف په هغو رواياتو اعتماد وسی چی د روايت او د روايت په اصولو باندی پوره وی که څوک داسی عالم چی هغه ته د جرح او تعديل د اصولو څخه واقفيت وی دغه

روایاتولره هم د هغه اصولو مطابق تلی نو د شکوکو اوشبهاتو یوه لویه حصه به هم هلته ختمه سی وجه داده چی د حضرت عثمان ؓ په آخری زمانه کی د عبدالله بن سباسازش چی کوم تحریك شروع کړی وو د هغه دوه لوی مقاصد وه، یوخو د اصحاب کرامو ؓ عظمت مجروح کول دی او دوهم د روغ روایتونه خوړول وو چنانچه هغوی بی شماره غلط سلط روایتونه او حکایتونه په معاشره کی د خوړولو کوشش کړی دی محدثینو حضراتو په ډیری تیزی او خواری څخه بعد د رسول ﷺ احادیث خو د دی سبايي تحریك داثراتوڅخه محنت کولوسره شیدی په شیدو او اوبه په اوبو بیل کړل خو په علم تاریخ کی اهتمام ونکړل سو او هغه روایتونه په کتابونوکی درج کیدل چی خالص د سبايي پروپیګنډی پیداوار وو.

هو! محتاط مؤر خینو دومره ضرور کړی دی چی د هر روایت سندیې لیکلی دی اوس د حق تحقیق کوونکو د پاره دالاره خلاصه ده چی اسماء الرجال د علم په مدد سره هغوی د روایتونو تحقیق وکړی او د کومو روایتونو په باره کی چی داثابت سی چی هغه دکوم د سبايي تحریك دفرد بیان سوی دی په هغه باندی دی د صحابه کرامو ؓ په باره کی دی اعتمادنه کوی ځکه چی د صحابه ؓ کرامو فضائل اومناقب او د هغوی د الله تعالی په نزد د انبیاء ؑ څخه وروسته محبوب ترین امت کیدل د قرآن کریم او د سنت رسول ﷺ د ناقابل انکار دلائلو څخه ثابت دی لهٰذا په دی سبايي پروپیګنډی باندی غوږ ګرولوسره د قرآن اوسنت واضح ارشادات دریاب وړونکی نسی کیدی د اهل سنت چی کومه عقیده ده چی د مشاجرات صحابه کرامو په تحقیق کی پریوتل صحیح نه دی بلکی په دی معامله کی دی سکوت اختیار سی داځه د ترخو حقائقو څخه تیښته نه ده بلکی د دی وجه هم داده چی په تاریخی روایاتوکی صحیح او غلط د رښتیا او دروغو امتیاز ډیر آسان کار نه دی ځکه کوم سړی چی د جرح او تعدیل د اصولوڅخه ناواقف پاته کیدلو سره دا روایت وایی هغه هیچښله صحیح نتیجی ته نسی رسیدلی په صحیحو روایاتو کی د مشاجرات صحابه کرامو متعلق کوم مواد راغلی دی هغه مخ ته اینښوولو سره د اهل سنت تمام مرکزی علماؤ متفقه طور باندی داعقیده اختیار کړی ده چی اګر که د صفین او جمل په جنګونوکی حق د حضرت علی ؓ سره وو خو د هغوی په مقابل کی حضرت عائشه ؓ حضرت طلحه ؓ حضرت زبیر ؓ

دحضرت معاویه ؓ وغیره موقف هم سراسر بی بنیاده نه وو دی حضراتو هم خپل ځان سره شرعی دلائل لرل او د هغوی څخه چی کومه غلط فهمی صادره سوی ده هغه خالص د اجتهادی نوعیت وه د دی تمهید څخه وروسته ستا د سوالونو جواب په لاندی ډول دی.

۱: د مولانا ابوالکلام مرحوم کتاب مانه دی ویلی ځکه د هغه په باره کی څه نسی ویل کیدی خوداخیال غلط دی چی بنوهاشمو خپل ځان دخلافت د ټولوڅخه زیات مستحق ګڼلو د هغه واضح دلیل دادی چی د حضرت عثمان ؓ د خلافت پوری د بنوهاشمو هیڅ یوفرد د خلافت دعوی ونه کړه صرف د حضرت علی ؓ په باره کی دامنقول دی چی هغوی ابتداءً د حضرت ابوبکر صدیق په لاس بیعت نه وو کړی خوبیا پخپله هغه داوجه بیان کړله چی زما د خفګان اصل سبب داوؤ چی موږ د خلافت په مشوره کی شریك نه سو چنانچه وروسته بیا هغوی برسرعام د حضرت ابوبکر ؓ په لاس باندی بیعت وکی او نه صرف حضرات شیخین بلکی د حضرت عثمان د خلافت سره یې هم پوره تعاون وکی.

۲: د اسلام څخه وروسته د بنوهاشم اوبنوامیه کورنی خفګانونه هم ختم سوی وه د هغه څخه وروسته لږ ډیرخفګان ظاهرسوی دی چی د هغه سبب خاندانی رقابت نه وو بلکی څه نور امور وه د هغه واضح دلیل دادی چی د دی خفګانونو باوجود د دواړو خاندانونو یوبل سره خپلول کیدل.

۳: داغلطه ده چی حضرت علی ؓ د انتخابی شوری د شرائطو رد کړی وو چی هغه به د خلفايې سابقینو اتباع کوی علامه طبری د حضرت عمر ؓ د وفات کپس د شوری واقعه په تفصیل سره نقل کړی ده او په هغه کی یې صحیح اوغلط هرقسم روایات جمع کړی دی خوپه هغه کی داهم موجود دی د حضرت عبدالرحمن ؓ چی د متفقه شورا نمینده د حضرت علی ؓ څخه یې پوښتنه وکړه علیك عهد الله ومیثاقه لتعلمن بکتاب الله وسنت رسوله وسیرة الخلیصیتن من بعده په تاباندی به د الله تعالی له طرفه عهد وی چی ته به د کتاب او سنت او د حضور ﷺ څخه وروسته او د راتلونکی دوو خلفاء په سیرت عمل کوی د دی په جواب کی حضرت علی ؓ وفرمایل ماته امید دی چی زه به د خپل علم او د خپل طاقت ترحده پوری په دی باندی عمل کوم وګوری تاریخ طبری ج۳، ص۲۹۷ (مطبعه الاستقامة قاهره ۱۳۵۷ھ) داشان الفاظ په یوبل روایت کی هم دی چی د مذکوره تاریخ په ص ۳۰۱ باندی منقول دی: چی د هغه حاصل دادی چی

وعده کړې وه. حضرت علی رضی الله عنه د خپل طاقت ترحده پوری د اتباع وعده کړې وه.

۴: عام تاریخونوکی دا تاثر پیداکوونکی هم د هغه عبد الله بن سبا افراد دی ورند حقیقت دادی د حضرت عثمان رضی الله عنه د قصاص مطالبه کوونکی صحابه کرامو په پوره دیانتداری سره همداګڼل چی که د حضرت عثمان رضی الله عنه قصاص په همدی موقعه باندی وانخستل سو یوطرف ته به د دین یواهم رکن چی په هغه باندی د قرآن کریم څو آیتونه نازل سوی دی هغه به مجروح سی دوهم طرفته به د فتنی خورو ونکو جراءت زیات سی او هغوی چی د کوم خلیفه سره وغواړی همداسی معامله به کوی جنګ جمل کی خو داخبره ښکاره مخ ته راغلی وه چی د فریقینو ترمینځ جنګ صرف سبایي فتنه جوړوونکو کړی وه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها او حضرت علی رضی الله عنه خوپه صلح باندی متفق سوی وه د شپی په وخت د سبایي فتنه جوړونکو خپل مینځ کی مشوره وکړله او وی ویل ای الناس فینا والله واحد وان یصطلحوا وعلی فعلی دمائنا (۱) زموږ په باره کی د دی ټولو خلګو رایه یوه ده که اوس په موږ او دوی کي صلح وسوه نوهغه به زموږ په وینه باندی وی (عبد الله بن سباد داتجویز پیش ك) اذا التقی الناس غداً فانشبو القتال ولاتفرغوهم للنظر (۲) کله چی سبا داخلګ پیداسی نوجنګ شروع کړی او دوی ته د سوچ کولو مهلت مه ورکوی چنانچه همداسی وسول او هغوی جنګ شروع کی د دی په نتیجه کی جنګ شروع سو (ملاحظه کړی تاریخ طبری ص ۴۸۸، ج: ۳، ۴۸۹، ۴۹۴، ۵۰۵، ۷۰۵ (۳) اوکامل ابن اثیر ج۳ ص ۲۳۳ ص ۲۳۶ ص ۲۴۱ ص ۲۴۲ (۴) او البدایه والنهایه ج: ۷ ص ۲۳۴ الی، ۲۳۷) (۵).

پاته سوه د حضرت معویه معامله کوم وخت چی ابوالدرداء رضی الله عنه او حضرت ابو امامه دحضرت معاویه سره دخبرو اترو دپاره تشریف وړلو هم په هغه وخت حضرت معاویه رضی الله عنه په صفا الفاظو وفرمایل چی حضرت علی رضی الله عنه زما څخه افضل اوبهتردی زما د

---

(۱) تاریخ طبری ج۳ ص ۵۰۷ (مطبعة الاستقامة قاهره)

(۲) تاریخ طبری ص ۵۰۸ مطبعة الاستقامة قاهره.

(۳) تاریخ طبری ص ۵۰۷ ج: ۳ (مطبعة الاستقامة قاهره).

(۴) التاریخ الکامل لابن اثیر تحت الذکر مسیر علی الی البصرة الواقعة ج۳ ص ۹۲ ص ۹۳.

(۵) ذکر مسیر امیر المؤمنین علی ابن ابی طالب من المدینة الی البصرة (طبع مطبعة السعادة بجواز محافظة مصر.

اوهمدارنګه وګوری البدایه والنهایه (طبع دار الفکر بیروت) ج: ۵ ص ۳۳۴ (محمد زبیر)

هغه سره اختلاف صرف د حضرت عثمان رضی الله عنه د قصاص په معامله کی دی هغه که د حضرت عثمان رضی الله عنه قصاص واخلی نو په اهل شام کی به د ټولوڅخه مخکی بیعت کوونکی زه یم (البدایه والنهایه) ج۷، ص ۲۵۸، ۲۵۹ ج: ۸، ص ۱۲۹. د دی څخه وروسته که کوم سړی دا ووایي چی حضرت معاویه به صرف دابهانه جوړه کړی وه نو د هغه د اطمینان د پاره شاید چی څه بله خبره هم کافی نه وی.

۵: ستاسو خیال ترډیره حده پوری صحیح دی او واقعه داده چی په تاریخ کی په حضرت معاویه باندی کوم الزمات عائد سوی دی هغه به غلط سلط اوموضوعی روایتو باندی مبنی دی که صرف په صحیح روایاتو باندی باور کولو سره د حضرت معاویه د سیرت مطالعه وسی نو صورت حال بالکل مختلف کیږي ما په خپل مضمون سیرت معاویه کی داتفصیل بیان کړی دی مضمون د سیرت معاویه په اضافی سره عنقریب په کتابی شکل کی راسی ان شاء الله تعالی.

۶: د یزید د ولی عهدئ په مسئله باندی ما په خپله مقابله کی مضمون ګفتګو کړی ده که تاسو د هغه مطالعه وکړی نو امید دی چی په هغه کي تاسوته د ټولو سوالو جواب درکول سی.

۷: په دی مسئله باندی ماپه خپل مضمون کی رڼا اچولی ده.

۸: د یزید شراب څښل یازنا کول د هیڅ قابل اعتماد روایت څخه ثابت نه دی د زنا روایت خوما په هیڅ تاریخ کی نه دی کتلی د کوم چی شیعه راوی دی د یزید شراب څښل وغیره یې بیان کړی دی خو په کوم مستند روایت کی د دی ذکر نسته که یزید ښکاره شرابی وی نو د صحابه رضی الله عنهم کرامو دومره لوی جماعت به د هغه سره د قسطنطنیی د جهاد د پاره نه تلل د هغه دور حالات لیدلو سره غالب ګمان همدادی چی یزیدکم ترکمه د حضرت معاویه په عهد کی شراب نه څښل او شرعی حد په هغه وخت کی قائمیږي چی دوه شاهدان یې په څښلو باندی او وینی داسی هیڅ واقعه د کوم شیعه په روایت کی هم موجود نه ده.

۹: ابن خلدون صرف دومره لیکلی دی چی د حضرت معاویه د وفات څخه وروسته د یزید فتنه ظاهره سوه په هغه کی غالبًا د مجلس غناء تذکره هم ده.

۱۰: په هغه زمانه کی د مکتوب نګاری اسلوب به ډیر مختصروو، ته به د هغه دور د هیڅ داسی مکتوب مثال پیدانه کی چی په هغه کی د تفصیل او اطناب څخه کار اخستل سوی وی او په مختصرو خطونوکی د ټولو خبرو رعایت ممکن نه دی بیا د

کوفي اوسيدونکی حضرت حسين ﷛ د څه مقصد د پاره غوښتلو د حضرت حسين ﷛ خپل موقف داوو چی يوسلطان متغلب چی د هغوی داغلبه ايسارول د هغوی ترمخه وو او د همدی مقصد دپاره هغوی روان سوی وه، د اړخ می هم په خپل مضمون کی واضحه کړی دی.

۱۱: د حضرت حسين ﷛ د خروج شرعی حيثيت زما په مضمون کی موجود دی امید دی چی تاسوبه کتلی وی داويل مشکل دی چی دوی د پوره خاندان اخستلو سره په کومه وجه مناسب ګڼلی وو ؟ ليکن که بالفرض حضرت حسين ﷛ غير مخلص ګرځول سوی وی بياهم داسوال باقی پاته کيږي چی په حقيقت کی د حضرت حسين ﷛ خلوص د شك او شبهی څه بالاتردی هغوی چی څه کړی وه هغه يې د الله تعالی د پاره کړی وه، اوس خوارلس سوو ۱۴۰۰ کاله وروسته د هغوی يويو جزوی اقدام صحيح صحيح حکمت او مصلحت معلومول نه زموږ د پاره ممکن ده او نه ضروری.

۱۲: د يزيد په باره کی صحيح خبره هغه ده چی ما ليکلی ده د قانون الهی د بدلولو څه ثبوت کم ترکمه ماته را نه کول سو.

۱۳: کله چی ما په خپل مضمون کی عرض کړی وو چی يزيد يومتغلب سلطان وو شرعاً د هغه حکم دادی که هغه پوره کنټرول حاصل کړی وی نو د هغه ځان دی خروج ونسی او که د هغه غلبه منع کول ممکن وو نو د منع کولو کوشش دی وسی حضرت حسين ﷛ پوهيدلو چی د هغه غلبه منع کول ممکن دی ځکه هغه روان سو او د نورو حضراتو صحابه کرامو ﷡ خيال وو چی اوس د هغه غلبه ايسارول که په وس نه ده او د هغه په ايسارولوکی د زياتی وينی توئيدلو خطره ده ځکه هغه پخپله هم خاموشه پاته سو او حضرت حسين ﷛ ته يې هم د خپلی ارادی څخه دمنع کيدلو مشوره ورکړله.

۱۴: هيڅ نقطه نظرنه دی حضرت حسين ﷛ په شروع کی داګڼل چی د سلطان متغلب ايسارول ممکن دی ځکه خوروان سو او په اهل کوفه باندی يې اعتماد وکی خوچی کله دعبد الله بن زياد دلښکر سره مقابله وسوه نودکوفيانو دبدعهدی ورته اندازه وسوه چی هغه وخت دهغه بالکل يقين پيداسو چی اهل کوفه بالکل غلط تصوير پيش کړی دی په حقيقت کی د يزيد غلبه ايسارول اوس دوس څخه بهرده ځکه هغوی د يزيد خواته ورتلو سره د بيعت کولو اراده هم ظاهره کړله خو عبد الله بن زياد په غير مشروط طور باندی هغوی ګرفتار کول وغوښتل په هغه کی هغوی ته د مسلم بن عقيل پشان د خپلی بی وسی او شهيد کيدلو خطره وه ځکه د هغه سره د مقابلی څخه سوا بله لاره نه وه.

۱۵: په دی کی څه شك نسته چی تاريخ د غه شان جهان بين کولو سره مرتب کول ډير ضروری دی ليکن نن چی موږ د کوم دور څخه تيريږو نو په هغه کی کار بی شماره دی او سړی کم يو سړی به کوم کوم کار کوی ؟ نن صبا يو مفصل کتاب زما د قلم څخه لاندی دی په بل څه کار کی لګيدل مشکل دی خو بيابه هم کوشش کوم چی احباب دی طرف ته متوجه کړم زه دوباره معذرت خواه يم چی ستاسو په جواب کی ډير تاخير وسو خو د هجوم مشاغلو دا علم دی چی داخط می هم په څو ورځوکی او په څو نشستونوکی پوره کړی دی خدای دی وکړی چی دا د اطمنان باعث سی زه د الله تعالی شکر اداء کوم چی ماته په اصل عربی تواريخو کی د مشاجرات صحابه کرامو ﷡ د زمانی د واقعاتو ويلو موقع ملاوده او شايد د تاريخ هيڅ کتاب چی نن صبا پيداکيږي مانه دی پريښی خو الحمد لله زما زړه اودماغ دصحابه کرامو له طرف څخه بالکل مطمئن دی اول که به ما د اهلسنت د عقائدو تقليداً اتباع کوله او اوس الحمد لله تحقيقًا د هغه متبع يم او په تمامو صحيح اوسقيمو رواياتو کتلو څخه وروسته د الله تعالی په فضل په دی عقيدی باندی نوره زياته شرح صدر سوی ده په دی موضوع باندی د والد ماجد مفتی محمد شفيع صاحب مد ظلهم يوه مقاله د مقام صحابه ﷡ په نوم سره ليکلی ده چی انشاء الله په يوه دوو مياشتو کی به منظر عام ته راسی که موقع درته وی نو د هغه هم مطالعه وکړی؟

والسلام محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۹ ربيع الاول ۱۳۹۱ هـ (فتوی نمبر ۲۲۱۴۰۴ الف).

• کوم قسم غلطی به اجتهادی غلطی ګرځولی سی ؟

سوال : مکرمی او محترمی مولانا محمد تنقی عثمانی ايډيټر البلاغ کراچی السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته وروسته عرض دادی چی د ذوالحجی خصوصی ايډيشن البلاغ می د نظر څخه تيرسو ويلو سره می زړه مطمئن سو خو په يوعبارت باندی می يوڅو شکونه په ذ هن کی پيدا سول دغه شکونه د ختمولو د پاره تاسوته خط ليکم چی ستاسو منشاء د دغه عبارت څخه معلومه سوه عبارت په لاندی ډول دی خو چونکی که حضرت عائشه وی او که حضرت معاويه د دواړو څخه داعمل د حضرت علی ﷛ د عداوت يا د بعض د وجی څخه نه بلکی د شبهی او تاويل په وجه صادر سوی وو او په هرحال هغه هم د خپل ځان سره دلائل لرل چی په غلط فهمی باندی مبنی خو د يانت دارانه وو ځکه د اخروی احکامو په اعتبار سره د هغوی داعمل د اجتهادی غلطی

لاندی راځي ځکه په هغه باندی طعن جائز نه دی د دی مثال داسی دی چی په ذبیحه باندی قصداً عمداً بسم الله پریښوول هغه ذبح کول او بیا هغه خوړل د دلائل قطعیه په بناء باندی لویه ګناه ده خو امام شافعی په خپل اجتهاد سره داجائز ګڼلی دی ځکه که څوك شافعی المسلك انسان هغه وخوری نو د هغه داعمل د دلائل شرعیه په رڼاکی ګناه کبیره او فسق دی خوهغه د دیانتدار څخه د اجتهاد په بناء باندی صادر سول نوځکه به هغه سړی ته فاسق نسی ویل کیدی (البلاغ: ۱۳۹ ص: ۷۲).

زماپه دی عبارت باندی د ټولو څخه لوی اعتراض دادی که کوم یو سړی د قرآن کریم د آیتونو انکار کوی نوتاسوبه هغه ته د دیانتدارانه اجتهاد وایې او د هغه نیت ته به ګوری حالانکی الله تعالی د زړه په خبرو پوهیږي نوتاسو ځنګه دعوی کوی؟ که میرزایان د قرآن مجید د آیتونو تلاوت کوی او دا ووایې چی زموږ نیت صحیح دی او موږ دیانتداری سره کوو نو آیا هغوی ستاسو په نزد صحیح به وی ؟ که څوك دا ووایې چی مولانا مودودی د اجتهادی غلطی کړی ده نوتاسو به هغه ته څه جواب ورکوی؟ داشکوك زما په ذهن کی پیداسول ځکه د دی شکوکو د ختمولو د پاره ستاسو طرف ته متوجه کیږم مهربانی وکړی او زما شبهات ختم کړی.

د خدای تعالی خواته د اجر عظیم مستحق وګرځی.

جواب: محترم ومکرم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ستاسو خط ملاوسو د کوم سړی غلطی سره اجتهاد غلطی ګرځولو د پاره چی کوم دوه شرطونه ماعرض کړی دی غالبًا هغه ستا د نظرونو څخه پټ پاته سوی دی د هغه له وجی داشبهه پیداسوه ماعرض کړی وو چی کوم سړی د اجتهاد د اهل دی یعنی په هغه سړی کی علمی او عملی صلاحیت پیداکیږي چی ټول امت د اجتهاد د پاره ضروری ګرځولی دی او د خپل مسلك په بنیاد چی په څه شرعی دلیل باندی یې لری خواه که هغه دلیل موږته کمزوری معلومیږي نو د هغه دی عمل ته به اجتهاد وایې اوکه په هغه کی څه غلطی وی نودهغه به داجتهادی غلطی وی امام شافعی رحمة الله علیه دحضرت عائشی رضی الله تعالی عنها د یوحدیث په وجه دامسلك اختیار کی چی بغیر د بسم الله ویلو هم ذبیحه درسته ده (۱) او د قرآن

(۱) وفی المجموع شرح المهذب باب الاضحیه صـ ۴۵۲ (طبع جدید دارالکتب العلمیة بیروت) فرع فی مذاهب العلماء فی التسمیة علی ذبح الاضحیة وغیرها من الذبائح مذهبناانها سنة فی جمیع ذالك فان ترکها سهوا اوعمداً حلت الذبیحة ولااثم علیه اوهمدارنګه وګوری روضة الطالبین صـ ۲۰۵۰ (طبع المکتب الاسلامی):

کریم آیت یې (مَا اُهِلَّ لِغَیْرِاللهِ) باندی محمول کړی دی ټول امت د اجتهادی غلطی ګرځولی ده چی په هغه کی د اجتهاد شرائط پوره پیدا کیدل او دامسلك په هرحال په یوشرعی دلیل باندی مبنی دی چی کمزوری صحیح خو د اجتهاد په حدودوکی داخل دی تاسو سوال ډیرښه کړی دی چی بیاخوبه نن صبا نور خلګ هم د اجتهاد بانه جوړولو سره په قرآن اوسنت کی غلطیانی کوی نوهغه ته به څه ویلی سی ؟ خو د دی جواب دادی چی که کوم سړی د اجتهاد د شرائطو حامل وی نو د هغه غلطی ته به اجتهادی غلطی وایو خو چی د کومو خلګو تا مثال ورکړی دی په هغوی کی د اجتهاد شرائط مفقود دی نوځکه به د هغوی غلطی ته د اجتهادی غلطی نسو ویلی دلته داسوال پیداکیدی سی چی که یوغلطی مجتهد وکړی نوباعث د ثواب او که غیر مجتهد غلطی وکړی نوباعث د ملامتی دا بې انصافی ولی ده ؟ د دی جواب دادی چی د دی مثال بالکل همداسی دی که یو سند یافته ډاکټر مریض ته د څه غلطی په وجه غلط دوا ورکړی او هغه مریض پری مړسی نوکه داثابته سی چی هغه د خپلی پیشی حق اداء کولو سره په دیانتداری سره هغه دوا ورکړی وه نو د دنیا یوقانون هم هغه مجرم نه ګرځوی د دی په خلاف که هم هغه دوایې غیر سند یافته عطائې کوم مریض ته ورکړی او په هغه سره د هغه مرګ واقع سی نو د دنیا هرقانون په هغه ګرفت کوی دافرق ځکه دی چی د غلطی څخه د دنیا هیڅ یوانسان محفوظ نه دی البته د هغه په ذمه داضروری ده چی دغلطی څخه دبچ کیدو څومره اسباب او وسائل کیدی سی هغه پوره اختیار کړی کوم کي چی ډاکټر جوړیږی دهغه دپاره اسباب داوی چی هغه د طب فن د ماهرو استاذانو څخه حاصل کړی او د هغوی څخه سند واخلی که د دی څخه وروسته دهغه څخه څه غلطی کیږي نوبیاداسی غلطی ده چی د هغه څخه هیڅ انسان د محفوظ پاته کیدو سند نسی ورکولی.

دغه شان د یوعالم د پاره ظاهری وسائل دادی چی د قرآن اوسنت پوره علم باضابطه حاصل کړی د ماهرو استاذانو څخه د هغه تربیت واخلی که د دی څخه وروسته هغه غلطی کوی نو دابه د یوماهر ډاکټر د غلطی په شان قابل د ملامت نه وی د دی په خلاف چی په کوم سړی کی د اجتهاد اهلیت نسته د هغه مثال د عطایې په شان دی د هغه غلطی قابل د ملامت اوموجب دګرفت ده د یادولو له وجی شکر ګذاریم او د دعا درخواست دی. والسلام

۱۳۹۱۱۱۱۵۰هـ (فتوی نمبر ۲۲\۳۴۲الف)

فصل في تعليم القرآن وتعظيمه وتلاوته :

دقرآن کریم دتعلیم تعظیم تلاوت د ادابو سره متعلق د مسائلو په بیان کی

د قصص القرآن د فلم جوړولو شرعی حکم

سوال: څه فرمايي علمايې دين د لاندينی مسئلی په باره کی چی یوفلم د قصص القرآن په نوم باندی جاری سوی دی چی په هغه کی مختلف قرآنی واقعات د فلم په طور باندی پیش سوی دی مثلاً د بنی اسرائیلو د ذبح واقعه د فرعون د غرقیدو واقعه او د بنی اسرائیلو دوتلو واقعه په فلم کی یې د موسیٰ علیه السلام شبیه نه دی ښوولی بلکی د یوبل سړی په ژبه یې احکام بنی اسرائیلو ته رسولی دی د داشان فلم کتل او ښوولو څه حکم دی؟ برايې کرم مدلل بیان کړی عین نوازش به وی.

جواب: د قران کریم د واقعاتو مصور فلم جوړول او کتل او ښوول هیچښله جائز نه دی بلکی د قران کریم د بی حرمتی په وجه په دی عمل کی د سختی سزا خطره ده دی ډیر وجوهات دی چی په هغه کی یوڅو دادی.

۱: د قران کریم مضامین چی د کوم عظمت اوجلال حامل دی د هغه تقاضا داده چی هغه مضامین د قرانِ کریم په الفاظو کی پوره ادب او احترام سره وویل سی یا واو ریدلی سی د دی په بړعکس پیشه ور اداء کارانو او هیروګانو لره مقدس قرآن د شخصیاتو په مصنوعی شکل کی پیش کول په هغوی باندی د قران کریم بیان سوی واقعاتو مصنوعی نقال کول قرانی آیتونو سره لوبی او تماشا جوړولو مترادف دی چی د قران په نص سره حرام دی، آیت دی.

﴿وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ﴾ سورة انعام: ۷۰.

۲: هیڅ یوفلم د ځندارو د تصویرونوڅخه خالی نه وی او د جاندارو تصویر جوړول اوکتل او ښوول شرعا جائز نه دی لهٰذا قرآنی مضامینو لره داسی ذرائعو سره پیش کول چی د رجنونو احادیثو په رڼاکی ناجائز دی نه صرف حرام بلکی د قرآن کریم د توهین مترادف دی.

۳: د واقعاتو فلم ترهغه وخته پوری نه مکمل کیږي ترڅو چی په هغه کی د ښځو

کردارنه وی چنانچه مذکوره فلم کی هم کردار موجود دی او د ښځو بی حجابه د سړو مخ ته راتلل یا د هغوی تصویرونه بلا ضرور ته نه نامحرمو خلګوته ښوول د قرآن او حدیث په رڼاکی بالکل ناجائز دی او ناجائزه کار د قرآن کریم د مضامینو بیانولو د پاره ذریعه جوړول هم نه صرف حرام بلکی معاذ الله د قران کریم توهین مترادف دی.

۴: کله چی یوی ریښتونی واقعی ته هم د فلم شکل ورکول سی نو په هغه کی د فلم ساز فرضی تخیلاتو ګډون ناممکن دی د دی څخه بغیر عموماً هیڅ یوقلم نسی تیاریدی دی فلم سازه لره د یومربرط فلم جوړولو دپاره خامخا دواقعاتو خلاء په خپل فرضی خیالاتو سره ډکول وی که نور هیڅ هم نه وی نو د متعلقه اشخاصو شکل او شباهت، د هغوی تعداد د هغوی د ناستی پاستی انداز د هغوی د خوا اوشا ماحول وروسته منظور او د هغوی عبادات اوفضائل لازماً د قیاسی مفروضاتو په بنیاد باندی پیش کول به وی او په فلم کی داټولی خبری دقران کریم څخه نسی ممتاز کیدی لهٰذا داټول قیاسات به دقران کریم طرف ته منسوب کیږي چی د قران کریم د معنوی تحریف مشابه دی د بحث لاندی فلم په باره کی هم ذمه دار فلم کتونکو دارا ښوولی دی چی په دی کی د قران کریم د بیان سوی واقعاتو سره ډیر اسرائیلی روایات اوفرضی تخیلات هم دقرآنی واقعاتوسره شامل سوی دی اوچی دکومو ناوافقه خلګو سره د قصص القران دواقف کولو دپاره په موهوم شوق کی دافلم ښوول کیږي د هغوی د پاره په قرآن اوغیر قرآن کی د امتیاز کولوڅه لاره نسته هغه دغه ټوله مجموعه دقرآن مضامین ګڼی او هغوی د قرآن په باره کی په دی سنګینی غلط فهمی کی مبتلاء کیږي او ددی ذمه واری به په هغه خلګو وی چی د دی فلم جوړولو یا د ښوولو ذمه وار دی.

۵: د قران کریم په بیان سوی واقعاتو کی په ډیروځایونوکی داسی الفاظ استعمال سوی دی چی د هغه دیو څخه زیات تشریح ممکن ده او په هغه کی یوی تشریح سره یقینی اوقطعی طور باندی د بل څه احتمال څخه بغیر د قرآن کریم حقیقی مراد ګرځول جائزنه دی مفسرین چی کله د داسی آیتونو تشریح کوی نوعام طور سره ممکنه احتمالات ذکر کوی ورنه کم ترکمه په څه ناڅه صورت کی دا واضح کوی چی دومره خبره د قرآن کریم ده او دومره دتفسیر چی د قرآن اوغیر قرآن سره ملتبس کیدل لازم نسی داصورت په فلم کی هیڅ ډول سره ممکن نه دی بلکی د فلم جوړونکی په ذهن کی د مذکوره آیت یاواقعی چی کوم تفسیر دی نو لازماً به صرف هم هغه د قرآنی مضمون په شکل کی داشان پیش سی چی په هغه کی به بل احتمال نه وی او د فلم په زور باندي

هم دهغه تفسیر نقش به په ذهن باندی قائم سی چی گوانکی په دی فلم کی بیان سوی
تصویر عین قرآن دی داصورت هم د قرآن او غیر قرآن په مینځ کی د. الناس پیداکولو
موجب دی ځکه دا فلم هم بالکل ناجائز دی.

۲: د فلم اصلی منشاء تعلیم او تبلیغ نه وی بلکی د طبیعت د تفریح او د خولی
اوشماشی نه لذت حاصلوی لهذا دی فلم لره کتونکی په اصل کی دطبیعت دتفریح په
غرض به فلم گوری نه چی دعلم عبرت یانصیحت حاصلولوپه غرض چی دهغه واضح
دلیل دادی که همدغه مضامین په خپل اصلی صورت کی دوعظ اوتذکیر دپاره
بیانیدل نوداخلگ به په هغه کی دشریکیدو دپاره نه تیاریدل اوقرآنی مضامین
داورسدلو او اورولو مقصد اصل لوبی اوتفریح جوړول ناجائزدی بلکی ددی اصلی
مقصد عبرت اندوزی ده ددی په ضمن کی تنشیط اوتفریح هم حاصله سی نوبیله خبره
ده خولوبه اوتصریح اصل گرځول اوهمدا اصلی مقصد جوړول هیچنبله جائزنه وی.

د پورتنی ذکرسوی وجوهاتو په بناء باندی ورسره د نورو متعددو مفاسدو پیش
نظرداسی فلم جوړول کتل او ښوول ټول ناجائزدی مسلمانانو له ددی ځخه په سختی
سره پرهیز کول پکاردی او د حکومت هم فرض دی چی صرف دانه چی د داسی فلمونو
د ښوولو ځخه منع سی بلکی آینده د داسی قسم فلمونو د نمائش مکمل طور باندی سد
باب وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۴/۹/۱۸ هـ

(فتوی نمبر ۳۵/۱۵۹۹ و)

الجواب الصحیح محمد رفیع عثمانی عفی عنه دارالافتاء دار العلوم کراچی ۱۴.
الجواب الصحیح بنده عبد الرؤف سکهروی ۱۴۰۴/۹/۱۸ هـ.
الجواب الصحیح اصغر علی ربانی ۱۴۰۴/۹/۱۸ هـ.

د حیض په حالت کی تلاوت کلمه او د رود ویلو حکم

سوال: ایا د حیض په ورځو کی ښځه سورت یاکلمه او درود وغیره ویلی سی؟

جواب د قرآن کریم تلاوت خوبالکل نسی کولی کلمه درود وغیره ویلو کی څه خبره
نسته. (۱)

والله اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۳۸۸/۷/۱۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۹۱/۷۲۲ الف)

د قرآنی آیتونو والا اخبارونو بی حرمتی کول

سوال: حضرت مولانا احتشام الحق صاحب چی د جمعی په ورځ اخبار کی آیتونه چهاپ
کوی هغه د کاندار په غورځول ایا داصحیح دی؟

جواب: په کومو کاغذونوباندی چی د الله تعالی او د رسول نوم یاقرآنی ایت او احادیث
لیکل سوی یاچهاپ سوی وی هغه د بی حرمتی په ځای کی غورځول صحیح نه دی.

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳۸۸/۷/۱۵ هـ.

په کومو کتابونو چی قرآنی آیتونه هم وی هغه د حیض په حالت کی ویل اولاس ورته وړل او د حیض په حالت کی اذکار جائزدی اوکه نه؟

سوال: ښځی دپاره په داسی حالت کی داسی کتابونوته لاس وړل او ویل چی په هغه کی
یوڅو د کلام پاك آیتونه لیکلی وی جائز دی اوکه نه؟ دا آیتونه پرینښوول اوصرف
ترجمه تفسیر او مطلب وویل سی؟

۲: په داسی زمانه کی زبانی کلام پاك کلمه جات او درود شریف ویل جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دی زمانه کی اصول دادی که د کتاب اکثره یانیمه حصه په قرآنی ایتونو
باندی مشتمل ده نو د حیض نفاس او د جنابت په حالت کی هغه ته لاس لګول جائزنه
دی او که د کتاب اکثره حصه غیر قرآنی ده نو هغه ته هغه مقام ته لاس وړل جائزدی چی
چیری ایت نه وی لکیل سوی.

---

(۱) وفی الدرمختار باب الحیض صـ ۲۹۳ (طبع ایچ ایم سعید) ویمنع قراة قرآن ولاباس الحائض
وجنب بقراة ادعیة ومسها وحملها وذکر الله تعالی وتسبیح دمزید حوال الجاتو د پاره درا روانی
صفحی په حاشیه نمبر ۲ کی وګوری د تفصیل او دلائلو د پاره د را روانی صفحی ۱۹۷ نمبر فتوی
اودهغی حاشیه وګوری.

قال الشامی ان کان التفسیر اکثر لایکره وان کان القران اکثر یکره والاولی الحاق المساوات بالثانی وهذا التفصیل ربما یشیر الیه ماذکرناه عن النهر وبه یحصل التوفیق بین القولیین . (شامی ج:۱ صـ ۱۲۴ طبع استنبول) (۱)

د قران کریم تلاوت خوبالکل ناجائزدی البته دعاګانی او اذکار او اوراد او احادیث وغیره ویلی سی . (۲) والله اعلم

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی احقر محمد تقي عثمانی عفی عنه

۱۳۸۱۱۲۱۳ ۵هـ ج

(فتوی نمبر ۱۸۱۱۳۸۸ الف)

دشبینی په محفلونوکی په لاوډ سپیکر باندی تلاوت په هغه باندی اجرت او د سجده تلاوت وغیره متعلق دیوڅو سوالونو جوابونه

د څوکالوڅخه دسهلت په اطرافو کی دشبینی په نوم یونوی شان مجلسونه قائمیږي چی عمومًا دمابنام څخه تر نمر ختلو پوری یوه دوی ګینتی روستو پوری باقی وی د حاضرینو تعداد دومره کم وی چی هلته د مائیکروفون ضرورت هیچبنله هم نه وی خوشاید چی یومجلس به داسی هم نه وی چی د مایکروفون څخه خالی وی د مجلس حاضرین اکثر بیده وی څوك خرېږي څوك پوکی وهی اوخوب سره بیده وی څوك د باندی سګرټ څکه یی او دهغه بدبویې مجلس پوری راځی د کور دخلګو حالت داوی چی ډیرکم خلګ داسی وی چی همه تن متوجه کیدلو سره دکلام پاك تلاوت اوری اکثره خلګ د خپل کور په کارونو کی مشغول وی د کور داووده خلګو دپاره د اواز لوبې حرج وی واعظین حضرات د قرآن دتلاوت کیدو په وخت کی هم چای چنبی پان خوری کله کله خپل مینځ کی خبری اتری هم کوی څوك بیده وی څوك ناست وی دمجلس

(۱) شامی ج: صـ ۱۷۷ (طبع ایچ ایم سعید) .

(۲) فی اعلاء السنی صـ ۲۲۲ (طبع ادارة القرآن) عن ابن عمر عن النبی ﷺ لاتقرا الحائض ولا الجنب شیأ من القرآن اخرجه الترمذی ج: صـ ۱۹ (طبع فاروقی کتبخانه) وفی الدرمختار صـ ۲۹۳ یمنع حل دخول المسجد الی قوله وقراة قرآن بقصدة ومسه الابغلاف ... ج: صـ ۳۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) ومنها حرمة قراة القرآن لاتقرا ... شیئًا من القرآن والایة وما دونها سواء فی التحریم علی الا ... مثل ان یقول الحمد الله یرید الشکر اوبسم ال ... دالمختار باب الحیض ص ۲۹۳ (طبع س ... الله تعالی وتسبیح .

دبانی له اړخه هغوی ته روپی ورکول کیږي د کمی په صورت کی خفګان ښکاره کوی اوکله دمځکنی څخه د روپو فیصله کوی اکثره واعظین د مدرسو مدرسین وی او د دی مجلسونو سلسله عمومًا دکتك د میاشت څخه واخله دبیساکه ترمیاشتی پوری جاری وی نو واعظ صاحب د دی تقریب له وجی څخه د مدرسی څخه د غیر حاضروی د ورځو تنخواه هم اخلی د دی څخه علاوه اوږدو میاشتو کی وقتًا فوقتًا د شپی بیداری له وجي دمدرسی دکتابونو مطالعه نسی کولی بعضی دیوی مدرسی دري څلور استاذان بهروی په دی سره چی د مدرسی کوم تعلیمي نقصان کیږي د بیانولو څخه بهردی .

سوال: په داسی مجلس کی مایکروفون راوړل او دهغه کرایه ورکولوته بی ځایه خرچه ویلی سی اوکه نه ؟

جواب: کله چی د مجلس حاضرینوته بغیر د لاوډسپیکر څخه اواز رسیږي نو د لاوډسپیکر لګول غیر ضروری بلکی مضردی لهٰذا دا په اسراف کی داخل دی ؟

سوال: په داسی مجلس کی په مایکروفون کی به د کلام پاك تلاوت جائز وی اوکه نه ؟

جواب: که د دی آواز هغه خلګوته رسی چی په مجلس کی حاضرنه وی او د هغوی په خوب غیره کی خلل راځی ماپه دی سره د کلام پاك د تلاوت دبی حرمتی امکان وی نوپه مائکروفون کی تلاوت کول جائزنه دی .

قال فی ردالمختار وعلی هذا لوقراء علی السطح والناس نیام یأثم (شامی ج: ۱ صـ ۵۰۹) (۱).

سوال: د داسی مجلس په مایکروفون کی د سجدی آیتونه د تلاوت کولو له وجی د مجلس څخه بغیر د کور د خلګو اوریدو له وجی به په هغوی باندی سجده کول واجب وی اوکه نه ؟ په اول صورت کی که هغه خلګ سجده ونکړی نو د تلاوت کوونکی یا دمجلس په باقی به ګناه عاید کیږي اوکه نه ؟

جواب: ۳ سجده واجب کیږي اوکه هغوی سجده ونکړی نوهغه سره لاوډسپیکر لګوونکی به هم دګناه څخه خالی نه وی ؟

سوال: ۴ وایې چی د تلاوت اداب د تلاوت دمجلس پوری محدود وی اوکله چی په مایکروفون کی تلاوت کیږي نو د مجلس په تعریف کی به نوره توسیع وی اوکه نه ؟

(۱) شامی فروع فی القراة خارج الصلوة ج: ۱ ص: ۵۴۲ (طبع ایچ ایم سعید)

جواب: یا: مجلس تلاوت به هم هغه ځای ته ویلی سی چیری چی حقیقتاً تلاوت کیږي
لهٰذا بلا ضرورته په مایکروفون باندی تلاوت وسی نوغیر اوریدونکی عدم استماع
وغیره کی به معذور وی او د دی ګناه به په تلاوت کوونکو باندی وی یجب علی
القاری احترامه بان لایقراه فی الاسواق ومواضع الاشتغال فاذا قراه فیها کان هو
المضیع لحرمته فیکون الاثم علیه دون اهل الاشتغال (ردا) ردالمختار ج: ۱ ص: ۵۱۰
(۱)

سوال: نمبر ۵: د قرآن پاك دتلاوت په وخت کی سامع ته چای چنبل پان خوړل یاخبری
اتری کول اوپه مجلس کی پریوتل څنګه دی؟
جواب: که د قرآن تلاوت د شرائطو په رعایت سره کیږي نو د سامعینو چای چنبل پان
خوړل پریوتل یابل یوداسی کارکول چی د هغه سره د تلاوت څخه د بی توجهی اظهار
وی نو د کراهت څخه خالی نه دی.

سوال: مدرس واعظ ته د صاحب مجلس له اړخه عطیه یا دوعظ اجرت اخستلو څخه
وروسته دمدرسی څخه د غیر حاضری د ورځو تنخواه اخستل به څنګه وی.
جواب: که د مدرسی څخه یې باضابطه طور رخصت اخستی وی نو واعظ اخستو باندی
څه معاهده دمدرسی دمنظمینو سره نه وی سوی نوجائز دی.

سوال: دکوم مدرس صاحب داسی مجلسونوته همیشه تلل دمدرسی څخه بغیر
حاضر پاته کیدل او اکثر اوقات بغیر د مطالعی څخه درس ورکول مدرسی یاطلبانوته
نقصان رسول داڅنګه دی؟
جواب: که مجلس په هغه منکراتو باندی مشتمل نه وی چی د هغه ذکر په سوال کی
وسو نوکله کله هغه ته په تلوکی څه حرج نسته خوداشان روزانه معمول جوړول او داسی
مشغله جوړول چی د مطالعی فرصت درته ملاؤ نسی چی په هغه سره مدرسی ته نقصان
وی درست نه دی په دی صورت کی به د هغه تنخواه حلال اوطیب نه پاته کیږي.

سوال: واعظ صاحب ته عطیه یا د وعظ اجرت اخستلو څخه وروسته (۲) د اخروی ثواب
امید باقی پاته کیږي اوکه نه.
جواب: که وعظ یې د اجرت اخستلو په غرض نه وی کړی نو د الله تعالی څخه امید
ساتل پکار دی برابره خبره ده که هغه واعظ ته منظمین څه عطیه ورکړی او که نه.

(۱) شامی مطلب الاستماع للقرآن فرض کفایة ج: ۷ ص: ۵۴۲ (طبع سعید)
(۲) وګوری ص ۱۹۴ فتوی اودهغه حاشیه.

والله سبحانه اعلم
الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه
۱۳۸۸/۱۱/۱۹ هـ

(فتوی نمبر ۱۹۱/۱۷۰ الف)

د قرآنی آیتونو والا اخباری تکړو بی حرمتی کول

سوال: کوم خلګ چی قرآنی آیتونه په اخبارونوکی درج کوی آیا داجائزدی اوپه دی سره
په دقرآن بی حرمتی نه کیږي.
جواب: په کوم کاغذ چی د قرآن الفاظ لیکل سوی وی د هغه بی حرمتی کول جائز نه
دی اخباراتو کی بهتره همداده چی صرف ترجمه ولیکل سی.

والله سبحانه اعلم
الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳۸۸/۳/۱۳ هـ
بنده محمد شفیع عفا الله عنه

(فتوی نمبر ۱۹۱/۲۳۱ الف)

د حفص څخه علاوه په یوبل قراءت کی دتلاوت حکم

سوال: نن صبا د قاریانو یوجماعت دی چی قسم قسم قرآن وایې کله د اعراب والاحرف
بغیر داعراب څخه وایې اوکله دوی جملی ځانته وایې دبعضو خلګو څخه می پوښتنه
وکړه نو وی ویل چی د اعراب د غلطی له وجی لمونځ نه کیږي.
جواب: داقاریان صاحبان به غالبًا د حفص څخه علاوه په بل قرآت کی قرآن وایی خو
زموږ په ملك کی په لمنځونوکی او په عوامی محفلونوکی د حفص څخه علاوه په بل
قرآت کی ویل فقهاء منع کړی دی چی عوام په تشویش کی، ونه غورځویږي څکه هغوی
ته نه دی ویل پکار.

والله اعلم
الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفی الله عنه
۱۳۸۸/۲/۱۳ هـ

(فتوی نمبر ۱۹۱۲۳۱ الف)

د اوو ۷ قرآتونو مطابق د قرآن دتلاوت حکم

سوال: دقرآن ویلو څومره طریقی دی په رمضان کی د یوقاری صاحب د قرأت څخه مستفید سوم د قرأت طریقه یې ډیره جلاوه مثلاً ولاړ زور به یې د زیر په شان کشه وی مثلاً (مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) به یی، مٰلِكَ يَوْمِ الدِّيْنِ وایه، او شاید چی مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ یی هم وایه مثلاً: مغضوب علیهم به یې هم داشان ویلو یعنی معلوم کولو باندی وفرمایل چی تقریباً (۷،۱۰) طریقی دی دکلام الله د تلاوت داشان تلاوت د حضرت قاری فتح محمد صاحب پانی پتی مدظلهم به هم اکثر کوی.

جواب: د قرآن کریم په اوو حرفونو باندی نازلیدل د بخاری اومسلم دصحیح احادیثوڅخه ثابت دی (۱) چی معنی متواتر دی د دی اوو حرفونو مطابق د قران کریم د تلاوت متعد دی طریقی دی او په هغه ټولو طریقو د قرآن تلاوت جائز دی (مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) کی یوقراءت (مَلِكَ يَوْمِ الدِّيْنِ) قرأت هم دی (مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) قرأت هیڅ نسته، دغه شان د (عَلَيْهِمْ په ځای) (عَلَيْهُمْ) ویل په بعضو قرأتونوکی درست دی د دی مسئلی د مکمل تحقیق د پاره د احقر کتاب علوم القران طرف ته رجوع وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷۱۱۰۱۱۵ھ

(فتوی نمبر ۲۸۱۱۰۱۲ ج)

د قران کریم د مچولو حکم

سوال : د قرآن کریم مچول جائز دی اوکه نه ؟

جواب: هو! جائز دی (۲). والله اعلم. ۱۳۹۹۱۹۱۱۵ھ

(۱) وفی صحیح البخاری صـ ۷۴۶ باب انزل القرآن علی سبعة احرف ان ابن عباس حدثه ان رسول ﷺ قال اقرانی جبرائیل علی حرف فراجعة فلم ازل استزیده ویزیدنی حتی انتهی الی سبعة احرف وفیه ایضًا قال رسول الله ﷺ کذالك انزلت ان هذا القران انزل علی سبعة احرف فاقرو ماتیسرمنه.

(۲) وفی الدرمختار ج: صـ ۳۸۴ تقبیل المصحف قیل بدعة ولکن روی عن عمر رضی الله عنه انه یاخذ المصحف کل غداة ویقبله ویقول عهد ربی ومنشور ربی عز وجل، وکان عثمان رضی الله عنه یقبل المصحف ویمسحه علی وجهه (مرتب عفی عنه)

په ټیپ ریکارډ باندی دتلاوت اوریدلو حکم

سوال: حضرت جی! عرض دادی چی بنده د تبلیغی جماعت سره وابسته دی او په ټول اعمالو کی د شریك کیدو کوشش کوی او الحمد الله د علمایې حق د یوبند خدمت گذار دی مؤرخه ۲۰۰۱۸۱۱۷ د علاقائی جوړ په سلسله کی مرکز رایې وندېته حاضری وسوه هلته یومبلغ په خپل بیان کی وویل چی د ټیپ ریکارډ په کیسټ کی قرآت اوریدل داسی دی لکه چی د ډمی سندره اوری او مزیدیې ورسره وویل چی دافتوی حضرت مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ورکړی ده د دی خط په ذریعه عرض اداکول دی که تاسو داشان فتوی ورکړی وی نو د هغه فوټو کاپی را ولیږی جوابی لفافه ورسره ده په بل صورت کی ددی پوره مسئلی شرعی نقطه نگاه واضح کړئ. جزاکم الله خیراً.

جواب محترم مکرم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

استغفرالله بنده داسی فتوی نه ده ورکړی اونه داخبره صحیح ده کوم صاحب چی داخبره کړی ده هغوی غیر ذمه واری سره زماطرف ته غلطه خبره منسوب کړی ده هغه ته زما داخط ووایه او ورته وایه د بیا د پاره د چاطرف ته خبره منسوب کولو څخه مخکی تحقیق کوه په کیسټ کی قرآن کریم اوریدل بالکل جائز دی اودی ته د سندری سره تشبیه ورکول زماپه نزد سخته گستخی ده. والسلام

احقرمحمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۴۲۲۱۲۱۲۸ ھ)

د تلاوت په موقع باندی خوب راتلل

سوال: کله چی هم موږ د قرآن د تلاوت دپاره کښېني نو نو موږته خوب راځی د دی متعلق څه وفرمایې ؟

جواب: که داسی کله نا کله کیږي دخوب راتلو باندی تلاوت پریږده خوکه همیشه داسی کیږي نو د خوب تښتولو دپاره دکوم طبیب سره مشوره وکړه اوتدبیر اختیار کړه.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸۱۲۱۸ھ

(فتوی نمبر ۲۹۱۱۵۰ الف)

د قرآنی آیتونو والا اخباراتو اوکاغذاتو د بی حرمتی حکم

سوال: په اخباراتو او اشتهاراتو کی قرآنی عبارتونه او احادیث چاپ کول او د هغه بی حرمتی کول څنګه دی ؟ او د هغه مخنیوی څنګه وسی ؟

جواب: په کوم کاغذونو چې د الله تعالی او د رسول ﷺ اسم گرامی لیکلی یاچاپ سوی وی هغه د بی حرمتی په ځای باندی اېښوول یاغورځول بالکل جائزنه دی [1] انسان ته پکار دی چې پخپله هم د دی څخه پرهیز وکړی او تر کومه حده چې کیدی سی نو نورخلګ دی هم له دی څخه منع کړی که هریو سړی خپله ذمه واری محسوسولو سره د دی خبری اهتمام وکړی نو د دی ناجائز فعل شائع کیدل به تر ډېره حده پوړی بندسی.

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

(۱۳۸۷/۱۰/۱۲۸هـ)

(۱۳۸۷/۱۰/۱۲۹ هـ)

د قرآن کریم دزړو پاڼو حکم

سوال: د قرآن پاک داسی نسخی چې زړی سوی وی او د تلاوت د پاره نه استعمالیږي او دغه شان زړی شلیدلی سپاری او د هغه منتشری پاڼی اسلامی رسالی اوکتابچې چې په هغه کی د قرآن پاک آیتونه او د حضور ﷺ احادیث وی هغه په دی نیت چې چیری د دی بی حرمتی او توهین ونسی سوزول او دهغه ایره په محفوظ مقام کی دفن یاسمندرته یې غورځول جائزدی اوکه نه؟

هرکله چې اصح الکتب بعد کتاب الله صحیح البخاری جلد ۲، صـ ۷۲۴ باب فضائل القرآن باندی حدیث دی چې حضرت عثمان رضی الله عنه د قران کریم د سوزولو حکم کړی وو شرعی حکم د قرآن اوحدیث او د فقه حنفی په رڼاکی جواب راکړی.

جواب: د احنافو فقهاؤ ترجیح دی ته ورکړی ده چې دقران کریم زړی پاڼی د سوزولو په ځای دی یاخو په کوم محفوظ ځای کی دفن سی او یاکه هغه پاڼی مینځل کیدی سی نوحروف دی ځینی ومینځی اودهغه اوبه دی چیری په کوهی یاټینکی وغیره کی شاملی سی او د دفن کولو دپاره بهترینه طریقه داده چې هغه پاڼی دی په کومه کپړه کی ونغښتلی سی او دفن دی سی که دا دواړه کارونه مشکل وی نوهغه پاڼی دی په کوم سیند سمندر یاکوهی کی واچول سی.

فی الدرمختار الکتب التی لاینتفع بها یمحی عنها اسم الله وملائکته ورسوله ویحرق الباقی ولابأس بان تلقی فی ماء جار کماهی اوتدفن وهو احسن کمافی الانبیاء وفی

[1] وگوری راتلونکی فتوی او د هغه حاشیه.

الشامیة تحته المصحف اذا صار خلقًا تعذر القرأة منه لایحرق بالنار الیه اشار محمد وبه ناخذ، ولایکره دفنه و ینبغی ان یلف بخرقه طاهره ویلحدله لانه لوشق ودفن یحتاج الی اهاله التراب علیه. (شامی حضرو اباحت واخر فصل البیع) [1].

اوبعضو علماء دحضرت عثمان رضی الله عنه دعمل څخه استدلال کولو سره دقرآن کریم د زړو پاڼو دسوزولو حکم اجازت کم ورکړی دی خونورو علماء دا توجیه کړی ده چې هغوی یې کوری مصاحف سوزولی وو هغه تمامتر قرآن کریم څخه وو په هغوی کی تفسیر اضافی هم موجود وی که هغه خالص قرآن کریم وی نوهغوی به نه وی سوزولی چنانچه ملا علی قاری لیکی.

قال ابن حجر وفعل عثمان یرجح الاحراق وحرقه بقصد صیانة بالکلیه لاامتهان فیه بوجه..... والقیاس علی فعل عثمان لایجوز لان صنیعه کان بما ثبت انه لیس من القرآن اومما اختلط به اختلاطا لایقبل الانفکاك وانما اختار الحراف لانه یزیل الشك فی کونه ترك بعض القرآن اذ لوکان قرانًا لم یجوز مسلم ان یحرقه ویدل علیه انه لم یؤمر بحفظ رماده من الوقوع فی النجاسة. (مرقاة المفاتیح ج: ۵ صـ ۲۹) [2]

خلاصه داچې داسی پاڼی دی د سوزولو په ځای دفن سی خوهغه علماؤ د سوزولو اجازت هم ورکړی دی او د هغه ماخذ هم سته نوکه څوك یې وسوزوی نوهغه ته حرام ویل هم مشکل دی. (والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۱۰/۱۱۰هـ)

د تلاوت په اوریدلوکی د قاری خوش آوازی طرفته متوجه کیدل او په یوه ساه څو اٰیتونه ویل د فضلیت وجه ګڼل

[1] الدرمختار مع ردالمختار ج: ۶ صـ ۴۲۲ (طبه ایچ ایم سعید) وفی بریقة محمودیة ج: ۴ صـ ۱۹۸ الکتب التی یستغنی عنها وفیها اسم الله تعالی تلقی فی الماء الکثیر الجاری اوتدفن فی ارض طیبة ولاتحرق بالنار و فی التاتار خانیه المصحف الذی خلق وتعذر الانتفاع به لایحرق بل یلف بخرقة طاهرة ویحفر حفیرة یلحد بلاشق او یجعل سقفًا ویدفن او یوضع بمکان طاهر لایصل الیه الغبار والاقدار وفی السراجیة یدفن اویحرق اهـ مخلصا وکذا عن منیة المفتی وعن المجتبیٰ الدفن افضل من الاقصاء فی الجاری کالانبیاء وکذا جمیع الکتب وفی التاتارخانیه افضل ان یغسلها ویاخذ القراطیس واقول الراجح هو الدفن والغسل لا الا حراق.... وکذا فی الهندیه اوهمدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۴ صـ ۱۵۴ کفایت المفتی ج۱ ص: ۷ (۱) ۹ امداد المفتین صـ ۲۳۸ اوامداد الاحکام ج: ۱ صـ ۱۳۷، ۱۵۷ (محمد زبیر عفی عنه)

[2] طبع مکتبه امدادیه ملتان.

سوال: نن صبا په کراچی کی د قرات محفلونه کیږي چې په هغه کی د بهر ملك ته

قاریان صاحبان راځی اوکلام پاك واوری چې په هغه باندی زید داشان تبصره کوی.
داچې نن صبا په کراچی کی د قرات محفلونه منعقد کیږي دهغه شکل بالکل د مشاعرو
په شان دی لکه چې یوشاعر د خپل کلام اورولوسره د تحسین ادا حاصلوی بیابل راځی
نودغه شان داسلسله چلیږی د کوم شاعر په کلام چې زیات داد ملاویږی هغه
دخوشحالی څخه په جاموکی نه ځائیږي او د چا په کلام چې واه واه ونسی نوزړونده
خله یې نیولی وی روان وی او ډیر خفه وی آیا قرآن پاك چې د الله تعالی کلام دی هغه
دی دی حدته را کښته سی چې خلګ پری د خپل فن مظاهره وکړی مائیك ته رانسی او
د خپلی خوش اوازی مظاهره وکړی او هغه قاری چې د هغه آواز ښه وی په هغه خلګ
وخوزیږی او ځوك ساده ووایی په هغه باندی خلګ خله ورانه کړی او هغه ته توجه نه
ورکوی ایا دا قران بی حرمتی نه ده ؟ که داسی شوق وی نو د جمعی په ورځ
جوماتونوکی کوم قاری ته موقع ورسی اوخلګ دی تری واوری داشان به د قرآن اوقاری
احترام باقی پاته سی خوپه داشان مقابلو کی خلګ د مسلمان کیدو په حیثیت سره براه
راست خوقران ته هیڅ نه وایې خود هغوی د تاثراتو سره د قرآن عظمت ته نقصان رسی
چې دیومسلمان حساس زړه د پاره تکلیف ورکوونکی دی.
په داشان تبصری باندی په مجلس کی ډیر خلګ خراب سول وي ویل چې د دی رایه څه
حقیقت نسته او داټول جهالت دی په دی سره دمحفل قرائت مخلفت کیږي وغیره شرعی
حکم څه دی ؟

جواب: د قرآن کریم تلاوت او دهغه اوریدل د ثواب کاردی البته په دی کی صرف
دقاری په خوش اوازی کی نظر ساتل درست نه دی اونه په یوه ساه باندی څو اٰیتونه د
فضلیت وجه ګڼل درست دی اصل نظر ساتل د قران کریم په مضامینو باندی پکار دی
اوځوك چې نه پوهیږي هغوی دی دی طرف ته خیال کوی چې د قرآن کریم صحیح تلفظ
څنګه کیږي ؟

والله اعلم (احقر محمد نقی عثمانی عفی عنه)
۱۳۸۷\۱۲\۱۴ھ

بلاشبه دا د اخستلو اوتعریف د پاره تلاوت کول سخت منع دی په دی نیت د تلاوت
کوونکو په باره کی رسول ﷺ فرمایلی دی چې د هغوی زړونه به په فتنو پراته وی.

فقال علیه الصلاة والسلام : سیجی اقوام یقیمونه کما یقام القدح یتعجلونه ولایتا
جلونه وفی روایة وسیجی بعدی قوم یرجعون بالقران ترجیح الغناء والنوح لایجاوز حنا
جرهم مفتونه قلوبهم وقلوب الذین یعجبهم شانهم (رواه البیهقی فی شعب الایمان)
مشکوة صـ ۱۹۱ (طبع قدیمی کتبخانه) [1].
او قرآن شریف د غوږونو نمائش ذریعه جوړول بی ادبی ده نیتونه الله تعالی ښه پیژنی
ټول دی د خپل خپل نیت جائزه واخلی.
کتبه العبد الحقیر محمد عاشق الٰهی بلند شهری عفی عنه ۱۳۸۷\۱۲\۱۴ھ.

قرآن کریم ته بغیر د اودس څخه لاس وړلو حکم

سوال: که په کوم عدالت کی مخالفت پارټی او د هغوی سره راغلی سړی د افسر په
مخکی په قرآن شریف باندی لاس ایښوولو سره په نمبر نمبر دابیان ورکړی دا زموږ په
دین کی جائز دی اوکه ناجائز هرکله چې دهغوی اودس نه وی ؟ آیا په قرآن شریف باندی
بیان ورکول اوقرآن شریف ته بغیر د اودس څخه لاس ور وړل جائز دی ؟
جواب: په قرآن شریف باندی بغیر د اودس څخه لاس لګول بالکل نا جائزدی. [2]
اوقسمورباندی کول او د بیان ورکولو په باره کی چې د کومو خبرو پوښتنه سوی ده
ترڅوچې د معاملی پوره تفصیل معلوم نه وی د هغه حکم نه سی ښوول کیدی.

والله اعلم
۱۳۹۷\۲\۲۲ھ

---

[1] وفی المرقات شرح المشکوة ج: ۵ صـ ۱۲، ۱۳ اقرؤ القرآن بلحون العرب واصواتها ...... بلاتکلف النعمات من المدات والسکنات فی الحرکات والسکنات بحکم الطبیعة الساذجة عن التکلفات او ایاکم ولحون اهل العشق اصحاب الفسق (ولحون اهل الکتابین) ای ارباب الکفر من الیهود والنصاری فان من تشبه بقوم فهو منهم قال الطبقی اللحون جمع لحن وهو التطریب وترجیح الصوت قال صاحب جامع الاصول ویشبه ان یکون مایفعله القرآنی زماننا بین یدی الواعظ من اللحون العجیبه فی القرآن مانهی عنه رسول ﷺ وسیجی بعدی قوم یرجون بالقرآن ترجیع الغناء والنوح والمراد تردیداً مخرجًالها عن موضوعها اذلم یتات تلحینهم علی اصول النغامت. (لایجاوز حنا جرهم) کنایة عن عدم القبول الخ.

[2] ﴿لَا یَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ﴾ (سورة الواقعه : ۷۹) عن ابن عمر رضی الله عنه ان رسول ﷺ قال : لایمس القرآن الاطاهر. اعلاء السنن ج:۱ ص: ۲۲۸ طبع ادارة القران اوهمدارنګه وګوری فتاوی رشیدیه ص: ۲۲۱، اوتفسیر معارف القرآن ج: ۸، ص: ۲۸۷).

(فتوی نمبر ۲۸/۱۲۷۱ الف)

۱: دروژی سره متعلق دقرآن مبارک آیتونه

۲: درمضان په میاشت کی پیښیدونکی اهم واقعات

۳: دحضور ﷺ دحضرت جبرائیل علیه السلام سره د قرآن دوره کول

سوال: ای د ایمان خاوندانو په تاسو روژه فرض سوی ده لکه چی په مخکنی امتونو فرض سوی وه د دی متعلق د قرآن کوم یوآیت دی ؟

۲: د رمضان المبارك په میاشت کی ډیری واقعات ظاهری سوی دی په هغه کی یوڅو واقعات ولیکی ؟

۳: په رمضان شریف کی د حضرت جبرائیل علیه السلام تشریف راوړل د حضور ﷺ په خدمت کی به هره ورځ وو، د دی مقصد څه وو؟

جواب ۱: هغه آیت دادی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

۲: غزوه بدر، فتح مکه، د قرآن کریم دنزول ابتداء، دا اهم واقعات په رمضان المبارك کی سوی دی د نورو ډیرو واقعاتو د پاره د تاریخ کتابونه وګوری.

۳: دحضور ﷺ سره به یې دقرآن کریم دور کولو. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۱۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۹۷۳ج)

---

(۱) وفی صحیح البخاری ج: ۲ص: ۷۴۷ (طبع قدیمی کتب خانه) باب کان جبریل تعرض القرآن علی النبی ﷺ وقال مسروق عن عائشه رضی الله تعالی عنها عن فاطمه رضی الله تعالی عنها اسرالی النبی ﷺ ان جبرایل یعارضنی بالقرآن کل سنة وانه عارضنی العام مرتین ولاراه الاخضر اجلی حدثنا یحیی بن قزعه قال حدثنا ابراهیم بن سعد عن الزهری عن عبید الله بن عبد الله عن ابن عباس قال : کان النبی ﷺ اجود الناس بالخیر واجود مایکون فی شهر رمضان کان یلقاه فی کله لیلة فی شهر رمضان حتی ینسلخ یعرض علیه رسول الله ﷺ القرآن فاذا لقیه جبریل کان اجود بالخیر من الریح المرسلة. (محمد زبیر حقنواز)

چاچی قرآن نه وی ویلی د هغه د پاره صرف په الحمد الله باندی

دګوتی ګرځولو حکم

سوال: زموږ صوبه پنجاب علاقه بهاولپور کی یومولوی واعظ صاحب د خپل تقریر په دوران کی وفرمایل چی کومو خلګوته وخت نه ورکول کیږي لکه زمینداران عوام الناس دهقانان، تاجر یاسوداګریا مزدور پیشه خلګ چی وی هغوی دی سهار وختی اودس سره دی قرآن مجید خلاص کړی یوه یادوی سپاری داول څخه تر آخره پوری دی پری ګوته وګرځوی اوداشان دی قرآن مجید ختم کړی د دی ثواب چی څومره قاری اوعالم ته وی دهغه دوچنده به دی امی جاهل ته ثواب ورکول کیږي داحدیث شریف د احادیثو په تولو کتابونوکی درج دی په کوم حدیث کی چی ګوری داحدیث به ملاویږي اوس غضب دادی چی زموږ په علاقه کی دارواج دومره زیات سو چی اکثرو ښځو اوسړو د قران مجید ویل پریښوول او دومره سخت تکلیف به څوك لوروی ؟ اول به په لکھونوکی یوسړی نیم د کلونوڅخه وروسته د تلاوت د فضلیت او د قرآن د ختم ثواب حاصلولی سو اوس نوماشاء الله واعظ مولوی صاحب د الله رحمت او فیض عام کی څوك چټ جاهل هغه ګوتی اینښوولو سره دقاری عالم څخه دوچنده ثواب حاصلوی داسی د حدیث په کتاب کی سته اوکه نه ؟

جواب: دی واعظ صاحب داخبره په غلطه انداز سره بیان کړی ده کوم خلګ چی د قرآن تلاوت کولی سی هغوی دپاره د قرآن کریم په حروفو باندی ګوته ګرځول کافی نه ده اونه څه داسی حدیث زموږ په علم کی سته البته کوم انپړه چی قرآن شریف نسی ویلی په هغوی باندی لازم دی چی د قرآن کریم د ناظری تعلیم حاصل کړی هو! ترڅو پوری چی قرآن شریف زده نه کړی ترهغه وخته پوری که هغه قرآن کریم خلاص ګوی اوکښینی اوپه حروفو باندی ګوته ګرځوی نوانشاء الله د تلاوت د ثواب څخه به نه محرومه کیږي د دی څخه خو دامطلب دی چی کوم خلګ د قرآن کریم تلاوت کولی سی هغوی دی هم داکار شروع کړی اونه داویل درست دی چی د دی عمل ثواب به دتلاوت والا څخه دوچنده وی.

والله سبحانه اعلم

(۱۳۹۷/۷/۱۳ هـ)

(فتوی نمبر ۲۸/۷۳۸ ب)

د دینیات کتابونوته بغیر د اودس څخه دلاس ور وړلو حکم د قرآني ایتونو کثرت والاکتاب ته بغیر

د اودس ته لاس ور وړل جائزنه دی

سوال ۱: نن صبا په مدرسو کی دینیاتو اونورو کتابونوته بغیر د اودس څخه لاس وروړل جائزدی اوکه نه ؟

۲: د هغه کتابونو په موجودگی کی استاذ په کرسی باندی کښني نستی سی هرکله چی کتابونه دهلکانو سره لاندی وی ؟

جواب ۱: که په کتاب کی د لیکل سوو الفاظو اکثریت په قرآنی آیتونو باندی مشتمل وی نوهغه ته بغیر د اودس څخه لاس ور وړل نه دی پکار او که قرآنی آیتونه پکی کم وی اونور عبارتونه پکی زیات تحریروی نوبغیر د اودس څخه لاس کی اخستل یې جائز دی (۱).

۲: په کومو کتابونو کی چی د الله تعالی او د رسول ﷺ نوم یاقرآنی آیتونوڅخه لیکل سوی وی د هغه څخه لوړ اودریدل یاکښني نستل د هغه د ادب خلاف دی ځکه په ناسته کی د دی اهتمام کول پکار دی چی د ابی ادبی ونه سی بیاهم د ضرورت په موقع باندی گنجائش سته.

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱\۴\۴۶ھ

فتوی نمبر ۲۲\۵۶۲ الف

د قرآن کریم د حفظ کولو څخه وروسته د هیرو ونکی حکم

سوال: احقر قرآن حفظ کړی وو خو د تی بی له وجی څخه یې دهغه د ورجاری ونه ساتل سو اوس د صحت صورت په نظر نه راځی که په داسی صورت کی مرگ راسی نو آیا د قیامت په ورځ به روند را ولاړیږی ؟

(۱) وفی الشامیة ج:، صـ ۱۷۷ ان کان التفسیر اکثر لایکره وان کان القرآن اکثر یکره.

جواب: په دی سلسله کی چی کوم حدیث وارد سوی دی د هغه په الفاظو کی چی مامن یقراء القرآن ثم ینساه الا لقی الله یوم القیامة اجزم : (۱)

یعنی کوم سړی چی قرآن وواېي بیاهغه هیر کړی هغه به د قیامت په ورځ د الله تعالی سره د جزام په حالت کی ملاویږی، ملا علی قاری د (ثم ینسه) تشریح کولو سره فرمایي ان بالنظر عندنا وبالغیب عند الشافعی او المعنی ثم یترک قرائته نسی اومانسی، (مرقاة المصابیح ج:۲، ص: ۱۵۲ کتاب فضائل القرآن) (۲) د دی څخه معلومه سوه چی د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد باندی دا وعید د هغه کي د پاره دی چی د ناظری ویلو اهلیته هم د خپلی لاپرواهی په وجه باندی ختم کړی لهذا ته داغرم وساته چی صحتمند کیدو سره به قرآن مکمل طور باندی یاد ساتم او د دی دور جاری ساتلو کی چی کومه کوتاهی سوی ده په هغه باندی دالله څخه توبه اواستغفار غواړه امید دی چی انشاء الله د دی وعید څخه به دی الله تعالی وساتی.

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی عنه احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱\۱\۱۵ ھ

متیازو سره سورة فاتحه لیکل سخت حرام دی

سوال: مکرم مفتی محمد تقی عثمانی صاحب السلا علیکم ورحمة الله وبرکاته بعضی حضرات ځای په ځای داسی پمفلټ تقسیموی چی په هغه کی دامذکور دی چی تاسو د علاج په غرض په متیازو باندی د سورة فاتحه لیکلو د جائز کیدو فتوی ورکړی ده او تاسو داجائز گڼی براه کرم د دی په باره کی وضاحت وکړی چی آیا تاسو داسی فتوی ورکړی ده؟ ابراهیم. ۱۹ رجب ۱۴۲۰ھ.

(۱) مشکات المصابیح ج: ۵ ص: ۱۹۱ طبع قدیمی کتابخانه.

(۲) مرقات المفاتیح ج: ۵ ص: ۹ (طبع مکتبه امدادیه ملتان).

جواب: ماداسی هیڅ فتوی نه ده ورکړی د متیازو یابل څه نجاست سره د قرآن هیڅ یو
آیت لیکل بالکل حرام دی او زه د دی د جائز کیدو تصور هم نسم کولی کومو خلکو
چی زما طرفته دافتوی منسوب کړی ده د هغوی تردید ماکړی دی چی د روزنامه اسلام
گست ۲۰۰۴ھ په اشاعت کی شائع سوی دی زما د کوم کتاب حواله چی ماطرفته
منسوب کولو سره ورکول کیږي د هغه د حقیقت هم ما پخپل نزد کی واضح کړی دی د
دی باوجود چی کوم خلک هغه فتوی ماطرفته منسوب کوی هغوی ته د الله تعالی او په
چاباندی د بهتان لګولو څخه بیریدل پکاردی.

والله سبحانه اعلم

۱۹۰ رجب ۱۴۲ھ (فتوی نمبر ۷۳۰۱۴۷)

اسلامي کمپیوټرز ګرافکس اداره
۰۳۲۱۸۰۰۰۲۷۱

کتاب التفسیر ومایتعلق بالقرآن

د قرآن کریم د ترجمی او تفسیر متعلق د مسائلو بیان

د، (اُوْتُوا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ) د مفهوم اومعنىٰ تحقيق

سوال: د سورة آل عمران آيت ۲۳ كى دى اَلَمْ تَرَىٰ اِلَى الَّذِيْمَ اُوْتُوا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتَابِ اللّٰهِ.
اشكال دادى چى دلته د اوتو الكتٰب په ځاى اوتو نصيبًا من الكتٰب يې ولى وفرمائيل؟ (الكتاب) او كتاب الله څخه څه مراد دى ايا نصيبًا فرمائيلو وجه داده چى د دوى سره د تحريفاتو څخه وروسته د كتاب په ځاى نصيبًا من الكتٰب پاته وو ؟ يا داچى الكتٰب خو صرف قرآن دى اوباقى اهل كتابوته د دى څه حصه عطاء سوى وه ؟ د حضرت څخه د بيان مفصل درخواست دى، دى ناچيز په تسهيل كى داسى وليكل كتاب الهى خويودى الكتٰب باندى الف لام د جنس دى د دى يوه خصه د تورات په شكل كى يهودوته دوهمه حصه يې د انجيل په شكل كى نصارى ته اومكمل كتاب د قرآن په شكل كى مسلمانانوته عطاء سو آيا داتفسير صحيح دى؟
محتاج دعاء محمد اسلم شيخ پورى.
جواب: مكرمى جناب مولانا محمد اسلم شيخپورى صاحب السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ستاسو خط راكول سو د دى آيت كريمه معروف تفسيرونه دوه دى يوداچى دنصيبًا من الكتٰب كى من بيانيه دى (۱) چى د هغه حاصل دادى چى د اوتونصيبًا معنىٰ داده چى دوى ته دنعمتونو يوه لويه حصه وركړل سوى ده بياكتاب د دى حصى بيان دى چى د هغه څخه مراد تورات دى دوهم تفسير دادى چى من تبعيضيه دى (۲) او د الكتٰب څخه مراد تورات دى خو د ايتاء څخه مراد د هغه فهم عطاء كول دى او د كتاب الهى مكمل فهم د نوم انسان د پاره ممكن نه ده ځكه كه دايې په نصيبًا من الكتٰب سره تعبير سو يعنى د فهم يوه حصه عطاءسوه خو د من تبعيضيه اخستو په صورت كى د الكتٰب

---

(۱) وفى تفسير روح المعانى ج:۳ صـ ۱۱۰)
(۲) طبع مكتبه رشيديه لاهور ومن اماء للتبعيض وامالبيان على معنىٰ نصيبًا هو الكتٰب او نصيبًا منه لان الاصول الى كنه كلامه تعالى متعذر فان جعل بيانا كان المردا انزال الكتٰب عليهم وان جعل تبعيضًا كان المردا هدايتهم فهم مافيه وعلى التقديرين الام فى الكتٰب للعهد والمردايه التوراة وهو المروى عن كثير من السلف والتنوين للتكثير وجوز ان يكون الام فى الكتٰب للعهد والمردابه اللوح وان يكون للجنس الخ وراجع ايضًا التفسير المظهرى ج:۲، ص:۲۷ (طبع بلوچستان بك ډپو) (محمد زبير حقنواز)

څخه مراد بعضى حضراتو لوح محفوظ هم اخستى دى اوبعضى حضراتو جنس كتاب كه جنس كتاب مراد واخستل سى نو كه څه هم په دى كى به د ټولى دنيا كتابونه شامل وى خوسياق د الله تعالى د كتابونو دى تاسو چى كوم تعبير اختيار كړى دى چى كتاب الهى خو يودى د دى يوه حصه د تورات په شكل كى بنى اسرائيلوته عطاء سوى داتعبير هم صحيح كيدى سى البته دا وئيل چى هغوى په كتاب كى تحريفات كړى وو ځكه د كتاب په ځاى نصيب من الكتٰب وويل سول علاوه د دى څخه مى چيرى منقول نه دى ليدلى اوفى نفسه هم صحيح نه معلوميږي ځكه چى (ايتاء) خو د غير محرق تورات سوى وه وروسته تحريف د هغوى خپل عمل وو او د آيت كريمه په ټوله حصه كى دابيان د الله تعالى د انعام دى د هغوى د خپل فعل نه دى د هغوى خپل فعل وروسته ثم يتولى سره مذكور دى.

والله سبحانه اعلم

حضرت مولانامحمد تقى عثمانى مدظلهم به قلم عبد الله ميمن
۱۴۲۲\۲\۲هـ
(فتوى نمبر ۴۹۲\۳۵)

د عالم دين تفسير اوريدل

سوال: دمحقق عالم تفسير اورول او اوريدل صحيح دى اوكه نه ؟
جواب: بغير د شك اوشبهى څخه جائز دى.

فقط والله اعلم

الجواب الصحيح احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه مخمد عاشق الهى عفى عنه
(۱۳۸۸\۲\۲هـ)
(فتوى نمبر ۱۹\۲۳۶ الف)

د قيامت د وخت د تعيين متعلق د قرآن په يو آيت سوال جواب

سوال: دالله تعالى ارشاد دى چى داخلك (منكرين) ستاسو څخه د قيامت متعلق سوال كوى تاسو ورته ووايات چى د دى خبر خو بس الله تعالى سره دى د دى مطلب داسو چى حضور ﷺ ته د قيامت متعلق څخه وروسته بنوول سوى نو دا سوال پيداكيږي چى د قرب قيامت علامات د حضور ﷺ څخه مروى دى او د دين عالمانو هم د قيامت

ته په دې متعلق ډېر کتابونه ليکلي دي او د آيت څخه ظاهرېږي چې رسول اکرم ﷺ ته په دې باره کې علم نه وو نو د قيامت علامات څنګه وليکل سول ؟

جواب: د مذکوره آيت مطلب دادی چې د قيامت صحيح صحيح وخت چې هغه به کله او په کومه ورځ راځي د الله تعالىٰ څخه سوا څوك نه پيژني خو د قرب قيامت علامتونه پخپله قرآن کريم کې ښوول سوی دي او د وحي په ذريعه سره په خبريدلو حضور ﷺ هم ښوولي دي چنانچه د صحيحينو (۱) په مشهور حديث کې مروی دي چې حضرت جبرائيل عليه السلام يو واز د حضور ﷺ خواته د يو انسان په شکل کې راغلو څه سوالونه يې وکړل چې هغه کې يو سوال داوو چې تاسو ماته دقيامت په باره کې وښايې (چې هغه به کله راځي) ددې په جواب کې حضور ﷺ ارشاد وفرمايل چې ددې په باره کې پخپله دسوال کوونکی څخه زيات پيژني بيا حضرت جبرائيل عليه السلام پوښتنه وکړه چې ښه دې د قيامت څه علامات راته وښايه نوپه دې باندې حضور ﷺ د قيامت څوعلامتونه ور وښوول.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۰/۱۱

(فتوى نمبر ۲۸/۱۰۳۳ج)

د پکتهال د انګريزي ترجمې حکم

سوال: څه فرمايي علماي دين د لاندينی انګريزي د قرآن کريم د ترجمې د مطالعې پحقله چې هغه اداره معارف اسلامي اسلامي يونيورسټي اسلام آباد چهاپ کړې ده چې د هغه مترجم د انډو نيشيايونوی مسلمان دی د هغوی نوم په لاندې ډول دی (Muhammad Marmaduk Pickthall) ددوی دانګريزي ترجمې متعلق شرعاً څه حکم دی ؟

جواب: د پکتهال په انګريزي ترجمه کې په مختلفو مقاماتو کې غلطيانې دي خو په مجموعي طور هغه استعمال کيدی سی البته تر اوسه پورې شائع سوی انګريزي ترجمه کې د لعل محمد چاوله ترجمه نسبتاً د ټولوڅخه بهتره ده چې د اسلامك پبلی کيشنز

(۱) صحيح البخاری کتاب الايمان باب سوال جبريل النبی ﷺ عن ولايمان والاسد مهم والاحسان وعلم الساعه الخ ج:۱ ص ۱۲ (طبع قديمی کتبخانه).

لاهور شايع کړې ده ورسره د ټولوڅخه بهتره ترجمه هغه ده چې د معارف القران انګريزي سره شائع کيږي خو تراوسه هغه د تکميل لاندې ده.

والله اعلم

۱۴۲۱/۲/۷هـ

(فتوى نمبر ۴۳۵/۱۷)

تفسير معارف القرآن کی ﴿اِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا﴾ الاية د ترجمې تحقيق

سوال: څه فرمايي علماي دين او مفتيان کرام د لاندينی مسئلې په باره کې چې په دې وخت معارف القرآن جلد څلورم د نظر په مخکې دی د سورة يونس رکوع نمبر (۷) اولنی آيت ﴿اِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا﴾

ترجمه: چې موږ نه يو حاضر ستاسو خواته په پوهه کې نه راځي په ناقص فهم کې هم داراځي که لفظ (نه) وی نو ترجمه به صفا اوبې غباره سی لکه چې د حضرت تهانوی رحمة الله عليه په بيان القرآن کې مثبته ترجمه کړې ده مورږته د ټولو خبر وی.

چونکه معارف القرآن ترجمه د حضرت شيخ الهند ده، نو احقر تفسير عثمانی مطبعه سعودی عرب وکتبي نوپه هغه کې هم هغه د معارف القرآن والا ترجمه ده د مهربانۍ د لارې وضاحت وکړې نو ډېر زيات عنايت به وی.

جواب: ﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا﴾

ترجمه حضرت شيخ الهند: اونه يې ته په کوم حال کې اونه وايې په هغه کې څه قرآن او نه کوی تاسو څه کار چې موږ نه يوحاضر ستاسو خواته (۱).

ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه اوتاسو چې خواه په هرحال کې وی اوتاسو چې د چيرې څخه قرآن واياست او تاسو چې څه کار هم کوی موږ ته د ټولو خبروی (۲).

د حضرت شيخ الهند په ترجمه کې ګوانکې د موجوده محاوری په اعتبار سره څه اغلاق دی خو ترجمه په هرحال صحيح ده ځکه چې په عربی کې په استغراق باندې دلالت کولو يواسلوب (طريقه) داهم ده چې اول عام نفی راوړلی سی (چې عموماً نکر تحت النفی په صورت کې وی) بيا استشناء راوړل سی لکه چې دابنوول وی چې (هرنبی معصوم دی) داسی به وايې مامن نبی الا وهو معصوم د داسې تعبيراتو ترجمه عموماً په اردو کې په

(۱) ترجمه شيخ الهند تفسير عثمانی (طبع دارالاشاعت) ج:۱ ص ۲۱۰.

(۲) بيان القرآن ج:۵ ص ۲۰ (طبع ايچ ايم سعيد کمپنی).

دوه قسمه کیږي یوداچي داستغراق والا مشتبه جمله ذکر سی لکه د ذکر سوی مثال ترجمه داسی وسی چي څوك هم نبی وی هغه معصوم وی دوهم داچي د استثناء څخه مخکی والا جملی ترجمه نفی سره وسی د استثناء څخه وروسته والا جملی په صورت د نفی د هغه صفت جوړ سی لکه کوم نبی داسی نه دی چي معصوم نه وی د حضرت تهانوی رحمة الله عليه ترجمه د اولنی طریقی مطابق ده او د حضرت شیخ الهند د دوهمی طریقی په دی کی اغلاق وجه حرف نفی نه ده بلکی وجه داده چې په دې ترجمه کی د **موصوف اوصفت لفظ چي سره مربوط سوی دی خونن صبا عموماً دا ربط له جو: او:**

جس: پر: په ذریعه کیږي.

(وَمَاتَعۡمَلُوۡنَ مِنۡ عَمَلٍ اِلاَّ کُنَّا عَلَیۡکُمۡ شُهُوۡدًا) په ترجمه کی په لفظ چي په ځای په چاباندی وغیره که کنبیښنوول سی نو انشاء الله خبره به واضحه سی باقی که موږ نه حاضریږو نه حرف نفی حذف سی نو د احقر د ناقص فهم مطابق به ترجمه غلطه سی دابه داسی وی لکه د پورتنی مثال ترکمه داسی وسی چي هیڅ نبی داسی نه دی چي معصوم وی دغه شان حرف دلته په حذف کولوسره به د ترجمی حاصل دااووځی چي تاسوڅه عمل داسی نه کوی چي په هغه موږ حاضر یو.

والله اعلم بالصواب (محمد زاهد فیصل آباد)

حال وارد دارالعلوم کراچی ۱۴

دا جواب د احقر په هدایت باندی لیکل سوی دی او د احقر په نظر کی صحیح دی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفا الله عنه

۱۴۱۴|۱۲|۱۴هـ

(فتوی نمبر ۱۴۲|۱)

د معوذتینو د قرآن کریم حصه کیدو متعلق د حضرت عبد الله د عقیدی مفصل تحقیق

سوال: دقرآن کریم یومشهور تفسیر کی د معوذتینو (سورة فلق والناس) د قرانیت متعلق بحث زما ذهن کافی حده پوری پریشانه اوګنده کړی دی د دی خبری سخته خطره ده چي دقرآن غیر محرف کیدو ایمان متزلزل نسی په هغه تفسیر کی بیې بی شماره روایتونو او احادیثو په حواله سره ثابت سوی دی چي حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه

په معوذتین د قرآن سورتونه نه منل نوځکه هغه دخپل مصحف څخه ساقط کړی وو په بعضی روایتونو کی اضافه ده چي هغوی به داسورتونه په لمانځه کی هم نه ویل مفسر محترم دا روایات صحیح ګرځولی دی خو ورسره بیې داهم ویلی دی چي دارایه صرف د حضرت عبد الله بن مسعود ده چي اجتهادی غلطی وه لهٰذا د دوی رایه د باقی صحابه کرامو رضي الله عنهم د اجماع په مقابله کی رد کیدی سی د دی بحث څخه کم ترکمه زه مطمئن نه سوم ځکه دلاندینیو سوالونو د جوابونو طالب یم.

۱: د قرآن کریم د کوم اٰیت انکار کولو سره ایا څوك سړی مسلمان پاته کیدی سی؟ په داسی حالت کی چي د انکار څومره معصومیت سره وسی؟ که نسی نو د حضرت عبد الله رضي الله عنه متعلق ستاسو او نورو محقیقنو څه رایه ده؟

۲: حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه آخر ولی ددی سورتونو څخه انکار وکی؟ دلته دانسی ویل کیدی چي کیدی سی چي ابن مسعود رضي الله عنه ته ددی خبر نه دی رسیدلی ځکه چي ابن حجر رحمة الله عليه صحیح ویلی دی چي داسورتونه د دور اول څخه متوتر وو اونازل هم په مکی دورکی وو دومره مودی پوری ابن مسعود بی خبره نسی پاته کیدی د هغه دور د مسلمانانو داهم طریقه وه چي هغوی ته وحی د خبر متواتر په ذریعه ورسی او هغه په دی بحث کی ومنبلی چي ماته معلوم نه وه لهٰذا داقرآن نه دی اوبیا دا امر هم معلوم دی چي د حضرت عثمان رضي الله عنه په عهد مبارك کی ددی سورتونو خبر متواتر کیدل پټ نسی پاته کیدی او دموجوده قرآن شریف په صحت خو دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع هم سوی ده په دی حالاتوکی ابن مسعود رضي الله عنه ناواقفه نسی پاته کیدی نو بیا هغوی ددی سورتونو څخه ولی انکار وکړی؟

۳: عاصم حمزه اوکسایې اوخلف چي دمشهور قاریانو څخه دی ددوی په سند باندی دټول امت اتفاق دی دی څلور واړوهم ددی قرآن سند چي هغه موږ اوس وایو اوچي په هغه کی معوذتین هم شامل دی ابن مسعود رضي الله عنه پوری رسولی دی خوداابن معود رضي الله عنه ته منسوب روایاتونه معلومیږي چي داسلسله داسنادو غلطه ده ځکه چي په دی قرآن کی معوذتین شامل دی اوهغه ددی څخه منکر وو، ددی څخه هم دانتیجه راوځی چي په موجوده قرآن کی داسورتونه الحاق دی د ابن مسعود رضي الله عنه شاګردانو خوکم ترکمه یو وار په هغه دروغ تړلی دی د باقی قرآن متعلق الله تعالٰی ته علم دی چي څومره حصه به الحاق سوی وی اوڅومره هغه حصه ده چي په حضور ﷺ باندی نازل سوی وه ددی احادیثوڅخه د قرآن قطعیت نه متاثره کیږي.

جواب: محترمي اومکرمي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ستاسو خط ماته لس ورځې مخکې را رسیدلی وو په جواب کې تاخیر ځکه وسو چې ستاسو جواب لږ د تفصیل طالب وو اوماته د مصروفیانو په هجوم کې دومره وخت پیدانه سو چې فوراً جواب ولیکم په هرکیف اوس ستاسو د سوالونو جواب پیش خدمت دی خدای دی وکړي چې دا جواب ستاسو تسلي وکړي واقعه داده چې حضرت عبد الله بن مسعود ؓ هم د ټول امت په شان معوذتین د قرآن جزء منل او په کومو روایتونوکې چې دابیان سوی دی چې حضرت عبد الله بن مسعود ؓ هغه د قرآن جزء نه منل هغه صحیح نه دی د حضرت عبد الله بن مسعود څخه چې کوم متواتر قرآتونه منقول دی په هغه کې معوذتین شامل دی قرائت عشره کې دعاصم قرائت حضرت ابو عبد الرحمن سلمی حضرت زربن حبیش اوحضرت ابو عمر والشیباني ؒ څخه منقول دی اودا دری سره هغه دحضرت عبد الله بن مسعود څخه نقل کوي . (وګوری النشر فی القرائت العشر لابن الجوزی ج:۱ ص ۱۵۲) (۱) دغه شان د حمزه قرائت علقمه اسود ابن وهب د عبد الله بن مسعود څخه روایت کوي (ایضاً ج:۱ ص ۱۶۲) (۲) د دی څخه علاوه په قرائت عشره کې دکسائي اوخلف قرآتونه هم په اخره کې په عبد الله بن مسعود باندی ختمیږي ځکه چې کسایي دحمزه ؒ شاګرد دی اوخلف دهغوی دشاګرد شاګرد دی اوپه دی خبره باندی دامت اجماع ده چې دقرآت عشره سندونه په ټوله دنیاکې دټولو څخه زیات قوي اوصحیح سندونه دي اونسلاً بعد نسل په تواتر سره نقل را روان دی (فیض الباري ج: ۴ ص ۲۲۲) (۳) ځکه که کوم خبر واحد ددی متواتر قرآتونو خلاف وی نوهغه یقیناً قابل درد دی اوهغه به نسی قبلولی په دی وجه محقق علماؤ اومحدثینو اکثریت ددغه روایاتوڅخه ضعیف موضوع اوکم ترکمه یې ناقابل قبول ګرځولی دی کوم چې دحضرت عبد الله بن مسعود ؓ طرفته داباطل مذهب منسوب کوی لاندی څو اقوال پیش خدمت دی :

---

(۱) النشر فی القرآت العشر لابن الجزری ج:۱ ص ۱۵۵ (مطبعه مصطفي محمد مصر)
(۲) ج:۱ ص ۱۲۵ (مطبعه مصطفي محمد مصر .
(۳) وفی فیض الباري قبیل کتاب فضائل القران ج: ۴، ص: ۲۲۲ کطبعه مکتبه حقانیه پشارو) داعلم ان سند الکسائي ینتهی الی ابن المسعود لانه قراء علی حمزة ومثله ینتهی سند خلف الذی من العشرة الی ابن مسعود ؓ فانه قراء علی مسلیم وهو علی حمزة واستاد القراء العشرة اصح الاسانید باجماع الامة وتلقی الامة له بقبولها :

۱: شیخ الاسلام علامه نووی ؒ دجلیل القدر محدثینوڅخه دی په شرح مهذب کی لیکي اجمع المسلمون علی ان المعوذتین والفاتحة من القرآن وان من جحد منها شیئاً کفر ومانقل عن ابن مسعود ؓ باطل لیس بصحیح (بحواله الاتقان : ج:۱ ص: ۸۱)
(۱) د مسلمانانو په دی باندی اجماع ده چې معوذتین اوفاتحه د القرآن جزء دی اوکه کوم سړی په دی کی دڅخه څخه هم انکار وکړی هغه به کافر سی اوپه دی سلسله کی چې څه دحضرت ابن مسعود ؓ څخه منقول دی هغه صحیح نه دی (۲).

۲: علامه ابن حزم ؒ لیکي:
وکل ماروی عن ابن مسعود من ان المعوذتین وام القرآن لم تکن فی مصحفه فکذب موضوع لایصح وانما صحت عنه قرائت عاصم عن زر بن حبیش عن ابن مسعود وفیها ام القرآن والمعوذتان (المحلی لابن حزم ج:۱ ص ۱۳ طبع دمشق ومصر) هغه ټول روایات چې په هغه کی ویل سوی دی چې معوذتین اوسورة فاتحه د حضرت ابن مسعود ؓ په مصحف کی نه وو هغه دروغژن اومنګهړت دی بلکه د هغوی څخه د عاصم قراءة ثابت دی چې زربن حبیش څخه منقول دی او په هغه کی معوذتین هم دی اوفاتحه هم .

۳: امام فخر الدین رازی اوقاضی ابوبکر عربی هم دا روایت د صحیح منلوته انکار کړی دی المحلی لابن حزم ج:۱ ص: ۱۳ مطبعه دمشق سنه ۱۳۴۷هـ.

۴: علامه بحر العلوم لیکي:
فنسبة انکار کونها من القرآن الیه غلط فاحش ومن اسند الانکار الی ابن مسعود فلا یعبأ بسنده عند معارضة هذه الاسانید الصحیحه بالاجماع والملتقاة یا القبول عند علماء الکرام بل والامة کلها کافة فظهران نسبة الانکار الی ابن المسعود باطل حضرت عبد الله بن مسعود لره د معوذتینو د قرآن کریم د جزء کیدوڅخه منکر نبوول .
ډیره فحش غلطی ده اوچاچې د دی انکار نسبت دهغوی طرفته کړی دی دهغه سند دهغه سندونوپه مقابله کی داعتبارقابل نه دی چې اجتماعی طورباندی صحیح دی

---

(۱) وګوری الاتقان فی علوم القرآن ج:۱ ص: ۲۷۲ (طبع مکتبه نزار مصطفی الباز مکة المکرمه)
وکذا فی فیض الباری ج: ۴ ص ۲۲۲ (طبع مکتبه حقانیه پشاور)
(۲) وګوری اردوترجمه الاتقان فی علوم القرآن ج:۱ ص: ۲۱۲ (طبع ادارة اسلامیات ۱۴۰۲ مطابق ۱۹۸۲ ع).

اوهغه علمايي كرامو بلكه ټول امت قبول كړي دي ددي څخه واضحه سول چي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه طرف ته د انكار نسبت باطل دي.

بحر العلوم شرح سلم الثبوت ج:٢ ص:١٢) [1].

٥: دمصر دمتاخرينو علماؤ سرخيل علامه زاهد الكوثري ليكي چي:

ومن زعم انه لم يكن فى مصحفه الفاتحة والمعوذتان او انه كان يحك المعوذتين فكاذب قصداً او واهم من غير قصد والمعوذتان موجودتان فى قرأة ابن مسعود رضي الله عنه المتواترة عنه بطريق اصحابه وكذالك الفاتحة وقرآته هى قراءة عاصم المتواترة التى يسمعها المسلمون فى مشارق الارض ومغاربها فى كل حين وفى كل الطبقات وانى يناهض خبر الاحاد الرواية المتواترة وقد اجاد ابن حزم الرد على تقولات المتقولين فى هذا الصدد فى كثير من مؤلفاته.

او د کوم سړي چي داخيال دی چي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په مصحف كي فاتحه اومعوذتين نه وو ياهغه به معوذتين دمصحف څخه ورانول نوهغه سړی باخو قصداً عمداً دروغ وايي ياغير شعوري طور باندی په وهم كي مبتلاء دی ځكه چي معوذتين او دغه شان سورة فاتحه دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په هغه قراة كي موجود دي چي د هغه د شاگردانو په سند سره متواتراً منقول دی او د هغوی قراءة دعاصم هغه مشهور قراءة دی چي دهغه دمشرق اومغرب په هره زمانه اوهره طبقه كي اوری راروان دی اود اخبار احاد دهغه متواتر قرآت څنگه مقابله كولی سی ؟ اوعلامه ابن حزم رحمة الله عليه په خپلو كتابونوكي داشان اقوالو ډيرښه ترديد كړی دی (مقالات الكوثري ص:١٦) [2].

دايوځو اقوال صرف دنمونی دپاره پيش سول ورنه د دی څخه علاوه نورهم ډير محققو عالمانو دی روایاتولره د صحیح منلو څخه انكار كړی دی پدی باندی دا سبه كيدی سی چي حافظ ابن حجر رحمة الله عليه اوعلامه نور الدين هيشمي تصريح كړی ده چي د دی روايتونو ټول راويان ثقه دی. (فتح الباري ج: ٨ ص: ٢٠٣ صـ ٣ مجمع الزوائد ج:٧ صـ ١٤٩) [3]

بيادی روايتونوته څنگه غير صحيح ويل كيدی سی كوم حضرات چي د احاديثوڅخه واقف دی د هغوی څخه داخبره پټه نه ده چي صرف د راوياتوثقه كيدل دكوم روايت د

[1] فواتح الرحموت ج:٢ ، ص:١٣ (طبع دارالاحياء التراث العربى بيروت لبنان).

[2] مطبعه ايچ ايم سعيد فتح الباري ج٨ ص٧٤٣ (مطبعه دارالنشر الكتب الاسلاميه لاهور)

[3] فتح الملهم ج:١ ، ص: ١٤٢ (طبع مكتبة دارالعلوم كراچى)

صحيح كيدلو د پاره كافی نه دی بلكه داهم ضروری دی چي په دی كي څه علت يا شذوذ بيانه سی پيداكيدی ټولو محدثينو د حديث صحيح په تعريف كي داخبره ليكلی ده چي هغه روايت د هرقسم علت اوشذوذ څخه خالي وی چنانچه كه په كوم روايت كي څه علت ياشذوذ پيداكيږی نو د رواياتو دثقه كيدو باوجود هغه صحيح نسی گرځولی حافظ ابن السلاح په خپله مقدمه كي ليكي:

فالحديث المعلل هو الحديث الذى اطلع فيه على علة تقدح فى صحة ملع ان الظاهر السلامة منها ويتطرق ذالك الى الاسناد الذى رجاله ثقاة لجامع شروط الصحة من حيث الظاهر ويستعان على ادراكها بتفرد الراوى وبمخالفة غيره له مع قرائن تنضم الى ذالك تنبه العارف بهذا الشان. (بحواله مقدمه فتح الملهم (ج:١ ص: ٥٤) [1].

وروسته حديث معلل هغه دی چي په هغه كي څه داسی علت معلوم سوی وی چي ددغه حديث صحت مجروح كوی) باوجود ددی څخه چي په ظاهری نظر كي هغه حديث صحيح معلوميږي اوداعلت په دغه سندكي هم واقع كيږي چي دهغه راوايان ثقه وی اوپه هغه كي په راهره دصحت ټول شرطونه موجودوی اوددی علت ادراك هم حديث كي بصيرت لرونكوته په مختلفو طريقو سره كيږي كله راوی په متفرد ليدو سرخ وتله ددی ليدلو سره چي هغه راوی دكوم بل راوی مخالفت كوی اوددی سره كله نور قرائن هم ملاويږي دحديث يوقسم شاذدی دهغه راوی ثقه هم وی خوهغوی دخپل ځان نه دزيات ثقه راويانو مخالفت كوی ځكه دهغوی حديث نه قبليږي.

لهذا په كومو روايتونوكي چي حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه طرف ته چي داقول منسوب سوی دی چي هغه به معوذتين دقرآن كريم جزء نه منل علامه نووی رحمة الله عليه اوابن حزم وغيره هغه لره دراويانو دثقه كيدو باوجود د لاندی د دريوو وجوهاتو له وجي قابل قبول نه دی گڼلي.

١: داروايتوڅخه معلول دی اوددی دټولوڅخه لوی علت دادی چي هغه د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د هغه قرائتونو خلاف دی چي د هغوی څخه د تواتر په طريقی سره منقول دی.

٢: د مسند احمد هغه روايت په كوم كي چي د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه داصريح قول نقل سوی دی چي: انهما ليستا من كتاب الله چي معوذتين د الله تعالی د

[1] فتح اللهم ج:١ ص: ١٤٢ (طبع مكتبه دارالعلوم كراچى):

کتاب جزء نه دی صرف دعبد الرحمٰن بن یزید نخعی څخه منقول دی اوصراحتًا دهغوی داجمله هیچانه ده نقل کړی وګوری مجمع الزوائد للهیثمی ج:۷، ص۱۴۹) (۱) والفتح الربانی ج: ۱۸ ج: ۳۵۱، ۳۵۲) (۲).

او د متواتراتو د خلاف کیدو له کبله داجمله یقینًا شاذ ده او د محدثینو د اصولو مطابق حدیث شاذ مقبول نه وی.

که بالفرض دغه روایتونه صحیح هم ومنل سی بیاهم په هرحال د اخبار احاد دی اوپه دی خبره باندی د امت اجماع ده چی کوم خبر والا د متواتراتو اوقطعیاتو خلاف وی هغه مقبول نه وی د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه چی کوم قرآتونه په تواتر سره ثابت دی د هغه صحت قطعی دی لهٰذا د هغه په مقابله کی د اخبار احاد یقینًا واجب الرد وی.

اوس صرف یوسوال پاتهٔ کیږي او هغه دادی چی که داروایتونه صحیح نه وی نو دی ثقه راویانو داسی بی اصله خبره ولی روایت کړی ده ؟ د دی جواب دادی چی د دی روایتونو حقیقت داکیدی سی چی حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه معوذتین د قرآن کریم جزء خومنل خو د څه وجی څخه هغوی په خپل مصحف کی نه دی لیکل دی واقعی لره روایت کولوسره کوم راوی ته داوهم وسو اوهغه داسی روایت وکړی چی ګوانکی هغه د سره څخه د قرآن جزء نه منی حالانکه حقیقت صرف دومره وو چی هغوی د معوذتین د قرآن جزء منی باوجود هغوی پخپل مصحف کی هغه ونه لیکل او د نه لیکلو ډیری وجی کیدی سی مثلاً علامه زاهد الکوثری فرمایلی دی چی هغوی معوذتین ځکه ونه لیکل چی د هغه د هیریدو خطره نه وه ځکه چی هر مسلمان ته یاد وی (مقالات الکوثری ص: ۱۲) (۳)

د دی تائید ددی خبری څخه کیدی سی چی حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه پخپل مصحف کی سورت فاتحه هم نه وه نیکله او امام ابوبکر الانباری پخپل مسند سره روایت کړی دی چی د هغوی څخه پوښتنه وسوه نوهغوی وفرمایل :

لوکتبتها لکتبتها مع کل سورة (که ماسورة فاتحه لیکله نوهغه به می د هر صورت سره لیکله) امام ابوبکر فرمایې چی د دی مطلب دادی چی په لمانځه کی د هرصورت څخه

(۱)مطبعه دارالکتاب العربی بیروت لبنان :
(۲) [illegible] عبد الرحمٰن البنا الساعاتی :
(۳):

مخکی سورة فاتحه ویل کیږي ځکه د هرصورت افتتاح دفاتحی څخه کیدل پکاردی لهٰذا حضرت ابن مسعود وفرمایل چی مادانه لیکلو سره د اختصار څخه کار اخستلو او د مسلمانانو په حفظ می اعتماد وکی. (۱)

په هرصورت که حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په خپل مصحف کی سورة فاتحه اومعوذتین نه دی لیکلی نو د دی ډیر معقول وجوهات کیدی سی اودهغه څخه دا پوهیدل هیڅکله صحیح نه دی چی هغه داد قرآن کریم جزء نه منل هرکله چی د هغوی څخه په تواتر سره پوره قران ثابت دی ددی تحقیق څخه وروسته د ټولو سوالونو جواب کیږي ځکه چی هغه دا قصه صحیح ګرځولو باندی مبنی دی دامکتوب احقر حضرت والد صاحب مدظلهم ته هم واورولو هغوی هم د دی د تائیدولو تصدیق وکی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۳/۷/۲۰ھ

(فتوی نمبر ۲۴/۷۹۱و)

(اِنَّكَ مَيِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ) تفسیر

سوال: محترم جناب مفتی صاحب : مهربانی وکړی د دی آیت خلاصه د تفسیر ولیکی (اِنَّكَ مَيِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ)؟

جواب: ددی آیت لفظی ترجمه داده چی ای نبی صلی الله علیه وسلم تاسوته هم مرګ راتلونکی دی او دوی ته هم د آیت سیاق اوسباق دادی چی د مشرکینو د شرکی عقیدی ابطال کولو سره ارشاد فرمایل سوی دی چی تاسو او دوی مشرکینو کی کوم اختلاف دی د هغه فیصله د دواړو د مرګ څخه وروسته به یقینی طور باندی وسی کله چی به مؤمن اوکافر ټول په بارګاه الهی کی راغونډ وی نو دی مشرکینو ته به پخپله معلومه سی چی هغوی څومره په غلطی سره وه. (۲)

دا د دی ایت خلاصه تفسیر دی د ایت د حیاة النبیاء د عقیدی خلاف نه دی ځکه چی دانبیاؤ اوعامو انسانانو په مرګ کی دافرق وی چی دانبیاء کرامو د روحونو تعلق دهغوی دجسمونو سره د عام مسلمانانو په مقابله کی زیات باقی وی ځکه د هغوی

(۱) تفسیر القرطبی ج:۱ ص ۱۱۴، ص ۱۱۵ مطبعه دار الکتب العربی المطباعة والنشر ۱۳۸۷ھ ۱۹۲۸ع انتشارات ناصر خسرو ایران.
(۲) وګوری د معارف القرآن د تفسیر خلاصة ج:۷ ،ص : ۵۵۵

ميراث نه تقسميږي او نه د هغوی د ازواجو مطهراتو سره دهغوی څخه وروسته دچانكاح رواكيږي ځكه په دې ايت كې د دواړو مرګ بيل بيل ذكر سوی دی.

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۱۳۹۱۱۱۰۱۵ هـ

(فتوی نمبر ۱۸۱۴۰۱۴ الف)

د تفهيم القران مطالعه بغير د تنقيد څخه كول

سوال: دمولانا مودودی تفسير تفهيم القرآن بغير د تنقيد څخه ويل او بنوول څنګه دی؟

جواب: په تفهيم القران كی ډيری خبری د جمهورو مسلماتو او اقوالو خلاف دی ځكه هغه په قول د سائل بغير د تنقيد څخه ويل او بنوول صحيح نه دی درس قرآن د پاره د حضرت تهانوی رحمة الله عليه ياعلامه عثمانی د مستند تفسيرونو څخه دی استفاده وكړی.

والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۱۱ ذی قعدة الحرام ۱ ۱۳۸۷ هـ) (فتوی نمبر ۱۴۰۴ ۱۸۱ الف)

د ټولو څخه مخكنی تفسير كوم يودی ؟

سوال: يوصاحب البلاغ كی ليكلی دی چی حضرت ابی بن كعب د ټولو څخه مخكنی د قرآن پاك تفسير ليكلی دی ما په يوكتاب كی ليدلی دی د علامه ذهبی رحمة الله عليه د بيان مطابق په فن تفسير كی د ټولوڅخه اولنی حضرت سعيد بن جبير رضي الله عنه كتاب ليكلی دی او د مؤرخ ابن خلكان رحمة الله عليه د بيان مطابق ابن جريج متوفی سنه هـ ۱۵۰ د ټولوڅخه مخكی تفسير ليكلی دی حضرت عبد الله بن عباس متوفی سنه هـ هم يوتفسير ليكلی وو د جناب ګذارش دی چی په دی سلسله كی د خپلی تحقيق حوالی سره تحرير وفرمايي؟

جواب: ترڅو چی زموږ معلومات راهنمايي كوی هم حضرت ابی بن كعب د ټولو څخه اول صاحب تصنيف مفسردی صحابه كرامو رضي الله عنهم كی ډيرو حضراتو به د تفسير درس وركوی ليكن د چاتفسير هم په كتابی شكل كی مدون كيدل ثابت نه دی او د حضرت ابی بن كعب رضي الله عنه په باره كی علامه جلال الدين سيوطی ليكی.

واما ابی بن كعب فعنه نسخة كبيرة يرويها ابوجعفر الرازی عن الربيع بن انس عن ابی العالية عنه وهذا اسناد صحيح وقد اخرج ابن جرير وابن ابی خاتم منها كثيراً وكذا الحاكم فی مستدركه واحمد فی مسنده.

الاتفاق ج:۲ صـ ۱۸۹ حجازی قاهرة سنة ۱۳۶۸هـ) (۱).

ترجمه: پاته سو حضرت ابی بن كعب چی دهغه څخه يوه لويه نسخه منقول ده چی هغه ابو جعفر رازی د حضرت ربيع بن انس عن ابی العاليه په واسطه روايت كوی او داسند صحيح دی ابن جرير او ابن ابی حاتم د دی نسخی څخه ډير روايات اخستی دی دغه شان حاكم په مستدرك كی او امام احمد په مسند كی هم. (۲)

پاته سو حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه نو اګر كه هغه په اتفاق سره د مفسرينو امام دی خو اول د هغه تفسير په كتابی شكل كی د كوم صحيح سندڅخه ثابت نه دی نن صبا تنوير المقباس په نوم كومه نسخه چی د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه طرف ته منسوب ده د هغه سند ډير ضعيف دی ځكه چی دانسخه د محمد بن مروان السدی الصغير عن الكلبی عن ابی صالح په سند سره ده او داسلسله سند محدثينو سلسله الكذب ګرځولی ده. (۳)

اوكه بالفرض دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دتفاسيرو څه كتابی مجموعه ثابت هم وی بياهم هغه د علم تفسير ړومبنی كتاب نسی ګرځول كيدی ځكه چی حضرت ابی ابن كعب دهغوی څخه متقدم دی دحضرت ابن عباس رضي الله عنه وفات په طائف كی سنه هـ ۸۰ كی (په سنه څخه هـ ۲۸ لكه چی سايل ليكلی دی) سويدی اوحضرت ابی بن كعب سنه هـ ۲۰ هـ كی وفات سوی دی.

مقدمه تفسير مراغی ص: (۴) دعلامه ذهبی اوقاضی ابن خلكان اقوال زموږ دنظر څخه نه دی تير سوی داپخپل ځای درست دی دحضرت سعيد بن جبير او ابن جريح تفسيرونه

---

(۱) الاتفاق فی علوم القران ج:۴ ص: ۱۲۱۸ (طبع مكتبه نزار مصطفى الباز مكة المكرمة).

(۲) داردو ترجمی د پاره وګوری الاتفاق ج:۲ ص۴۶۵، (طبع اداره اسلاميات لاهور).

(۳) وفی مقدمة التفسير المراغی ج:۱ ص۶، ۷ (مطبعه مصطفى مصر) طريق ابی النصر محمد بن السائب الكلبی المتوفی سنه هـ ۱۴۶، وهی اوهی الطريق ولاسيما اذا وافقتها طريق محمد بن مروان السدی الصغير المتوفی سنه هـ ۱۸۶ وقد طبع تفسير ينسب الی ابن عباس برواية الفيروز آبادی صاحب للقاموس سماه تنوير المقابس تفسير ابن عباس رضي الله عنه.

(۴) مطبع مصطفى مصر.

هم کتابی شکل کی مدون سوی وو خو داحضرت په تابعينو کی دی او د حضرت ابی ابن کعب تفسير ډير مخکی ليکل سوی دی ځکه د اوليت شرف هغه د حضرت ابی بن کعب تفسير ته حاصل دی.

والله سبحانه اعلم

۲۴/ محرم / ۱۳۸۷ هـ (۱).

دجناب مودودی صاحب دحضرت داؤد په قصه کی دا وريا د ښځی واقعه او ذکر کول

سوال: مودودی صاحب ليکی چی ددی اصليت صرف دومره قدری وو چی حضرت داؤد دخپل عهد اسرائيل سوسائتی عام رواج ځخه متاثر کيدی داورياء ځخه بی دطلاق درخواست کړی وو الخ په دی عبارت باندی اعتراض دادی چی آيا د خدای ﷺ نبی د خرابی سوسائتی ځخه متاثر کيدی سی ؟ دوهم عرض دادی چی مفسرينو حضراتو داواقعه نقل کړی ده خو آيا کوم مفسر داليکلی دی چی زموږ په نزد د باقی نورو ټولو تاويلاتو ځخه داتاويل مرجح دی.

عصمت د انبياء عليهم السلام دالوازم ذات نه دی اوکه نه ؟

ايا انبياء عليهم السلام ته دنبوت ځخه مخکی هم هغه عصمت حاصل وی کوم چی دنبی کيدو ځخه وروسته ورته حاصل وی.

جواب: اصل داده چی محققو مفسرينو د حضرت داؤد عليه السلام په دی واقعه کی داورياء دښځی قصه نه ده اختيار کړی حافظ ابن کثير ليکی چی:

اکثره ماخوذ من الاسرائيليات ولم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتباعه لکن روی ابن ابی حاتم هھنا حديثًا لايصح سنده لانه من روايت يزيد الرقاشی عن انس ويزيد وان کان من الصالحين لکنه ضعيف الحديث عند الائمة (۲).

داورياء دا قصه په حقيقت کی د کتاب سمويل ځخه ماخوذ ده، چی د هغه د مصنف ترننه پوری معلومه نه ده لګيدلی لهذا ډيرو محققينو صحيح هغه ګرځولی ده چی په اصل کی حضرت داؤد ﷺ د ظالم په ځای مظلوم ته خطاب وکړی چی د هغه ځخه طرفداری متوهم کيدل او هغه يې خلاف عدل ګڼلو سره يې استغفار وکړی.

(۱) دافتوی البلاغ په شماره صفر ۱۳۸۷ هـ نه اخستی سويده.

(۲) تفسير ابن کثير ج: ۳ ص: ۳۵۷ سورة ص:

(بيان القرآن ج: ۱۰ ص: ۸)

امام رازی رحمة الله عليه داشان نور توجيهات هم نقل کړی دی (۱) لهذا د ايت بی غباره او محقق تفاسير خوهم هغه دی چی امام الرازی رحمة الله عليه ياحضرت تهانوی اوعلامه الوسی وغيره نقل کړی دی.

البته بعضو مفسرينو داهم اختيار کړی دی چی د حضرت داؤد ﷺ په زمانه کی به کوم سړی د هغه ښځی ته طلاق ورکولو درخواست کول د مروت خلاف نه ګڼل کيدل او قانونی قباحت خو په دی کی نن هم نه دی ځکه حضرت داؤد ﷺ د اورياء ځخه داشان مطالبه وکړه فقيل انه ﷺ رای امراة رجل فساله ان يطلقها فاستحی ان يرده ففعل فتزوجها وهی ام سليمان وکان ذالك جائزًا فی شريعته معتادًا فيما بين امته غير مخل بالمروءة روح المعانی ج: ۲۳ ص: ۱۸۵. (۲).

لهذا د تفسير چی په سوال کی نقل سوی دی بی اصله خونه دی خو اول خومرجوح دی دوهم د سوسايتی د رواج ځخه متاثر کيدو دالفظ لږ د احتياط خلاف دی د دی په ځای دسوسايتی دعام او رواج مطابق لفظ که وی نومناسب وو خو په دی سره دانه لازميږي چی نبی په کوم بدکار کی د سوسايتی درواج ځخه متاثرسو ځکه چی داکار خونه ناجائزوو، او نه د مروت خلاف هو، د نبی د لوړ مقام پيش نظر د عصمت د پاره لازم دی چی د هغوی ځخه په هيڅ وخت کی دا صفت جلا کيږي د هغوی د خطاګانو ذکر په قرآن کريم وغيره کی راغلی دی هغه ټولی خلاف اولی خبری وی چی شرعًا معصيت نه وی خو انبيا عليهم السلام ته د هغوی دجلالت قدر له وجی په هغه باندی هم تنبية وسوه.

۲: صحيح داده چی د نبوت ځخه مخکی هم د انبياء ﷺ ځخه څه ګناه نه ده سوی.

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفي عنه احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۲۳ هـ

(فتوی نمبر ۱۹/۱۳۰۰ الف)

(۱) بيان القرآن ج: ۱۰ ص: ۶ (طبع سعيد) همدارنګه د تفصيل د پاره وګوری معارف القران حضرت کاند هلوی ج: ۶ ص: ۳۲۱ (طبع مکتبه عثمانيه لاهور)

(۲) وګوری تفسير کبير ج: ۱۲ ص: ۱۹۹ ۱۹ (طبع مکتبه رشيديه لاهور)

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ ..... الخ کی د قنوت معنٰی په قرائت سره کول

سوال: سورة الاحزاب سپاره ۲۲ دوهمه رکوع کی اول ایت داسی شروع کیږي (اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ ......) معنٰی حضرت شاه رفیع الدین قرآن ویونکی او قران ویونکی ښځی کړی ده د دی ترجمه شیخ الهند عاجزی کوونکی سړی او عاجزی کوونکی ښځی کړی ده دلته سوال دادی چی د قنوت معنٰی د قرآن ویلو سره نه راځی سائل یوطالب علم دی وغواړی چی عقل اونقل سره د دی ترجمی توجیه باندی پوه سی اوس خوپه هغه داشك کیدی سی چی د کاتب وغیره څخه غلطی سوی وی.

جواب: د قنوت لغوی معنٰی ډیره دی په هغه کی یوه معنٰی قرآت هم ده د حضرت شاه رفیع الدین صاحب ترجمه دهغه معنٰی مطابق ده. (۱)

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

قرآن کریم د رسم عثمانی څخه علاوه په بل رسم الخط کي لیکل

سوال: خلګوته د قرآن کریم د ښوولو د پاره درسم الخط عثمانی څخه علاوه په بل رسم الخط کي لیکل جائز دی اوکه ناجائز ؟

جواب: (۲) قرآن کریم د رسم عثمانی څخه علاوه په بل رسم الخط کی لیکل په اجماع سره ناجائز دی.

(۱) وفی لسان العرب ج:۱۱ ص: ۳۱۳ ، ۳۱۴ قنت (قنت) ویرد بمعنٰی متعددة کالطاعة والخشوع والصلوة والدعاء والعادة وطول القیام والسکوت فیصرف فی کل واحد من هذه المعانی الی مایحتمله لفظ الحدیث الوارد فیه وفیه ایضاً بعد اسطر القانت الذاکر الله تعالی کما قال الله تعالی (اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ الَّیْلِ سَاجِداً وَقَائِماً) وکذافی منجد ص: ۰۴۸۱ همدارنګه دقنوت یوه معنٰی عاجزی کول هم دی وګوری اردو منجد ص: ۷۴۸۱ اومصابح اللغات ص: ۷۰۹ (له مرتب څخه)

(۲) وفی الاتقان فی علوم القرآن النوع السادس والسبعون فی مرسوم الخط وآداب ج: ۴، ص: ۱۱۵۳ (طبع مکتبه نزار مصطفی الباز مکة المکرمة) قال اشهب سال مالك هل یکتب المصحف علی ما احدثه الناس من الهجاء ؟ فقال: لا الا علی الکتبت الاولی رواه الدانی فی المقنع ثم قال ولامخالف له من علماء الائمة وبعد اسطر وقال الامام الاحمد یحرم مخالفت مصحف الامام فی واو اویاء او الف اوغیر ذالك وفی خلاصة النصوص الجلیلة ص: ۲۲ (بحواله جواهر الفقه) اجمع المسلمون قاطبة علی وجوب اتباع رسم مصاحف عثمان ومنع مخالفته الخ وکذا فی الفوائد الحسان فی بیان رسم القرآن ج: ۴۰، همدارنګه لاندینی کتابونه هم وګوری مناهل الفرقان للزقانی ص ۲۷۰ دلیل الحیران صـ

خلګوته دقرآن کریم دښوولو دپاره عربی رسم الخط دی ووښول سی په عجمی رسم الخط کی لیکل صحیح نه دی دتفصیل دپاره ملاظه کړی جواهر الفقه جلد: ۱ ص: ۷۳.
مؤلف حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷\۲\۱۴ هـ (فتوی نمبر: ۲۸\۲۳۰ ب)

د وحی متعلق دمعارف القرآن دمقدمی دیوعبارت وضاحت

سوال: حضرت مولانا د معارف القرآن په مقدمه کی چی چیری د وحی حقیقت بیان کړی دی هلته یومقامی ملګری یوی شبهی طرفته توجه وګرځوله دحضرت مولانا څخه مؤدبانه درخواست دی چی د هغه وضاحت وکړی هغه داده چی د راقم الحروف دخپل لند نظر سره داعبارت لیکلی پیداکړی چنانچه الله تعالی انسان پیداکولو سره سره دری ۳ شیان داسی پیداکړی دی چی د هغه په ذریعه هغه ته پورتنی علم حاصلیږي یو د انسان حواص یعنی سترګی غوږ خله پوزه لاس وغیره دوهم عقل او دریم وحی (ورسره د معارف القرآن په انګریزی ترجمی کی می (Has Crated) پاك پیداکول په دوهمه صفحه می دالیکلی وویل هغه لره خپل پیغمبر ګرځوی او په هغه باندی خپل کلام نازلوی دغه کلام ته وحی وایي چنانچه د راقم الحروف په ناقص فهم کی دا شبه ده چی چونکی د وحی لفظ عام دی وحی متلو او وحی غیر متلو دواړوته شامل دی لهٰذا په وحی متلو باندی اشکال کیږي نوراهنمایي وکړی عبد ۱۱

(عبد الحفیط خانډو الاکینیا)

جواب: محترم ومکرم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط پیداسو د وحی معنٰی ده دالله تعالی کوم بنده پیغمبر باندی خپل کلام نازلوی یاپه کومه بله طریقه هغه ته خبر ورکول اوپه دی معنٰی کی وحی د مخلوق حادث اوغیر قدیم ده کوم شی چی قدیم او غیر مخلوق دی هغه د الله تعالی د کلام نفی دی خو د وحی د هغه کلام نفی سره متعلق کیدل حادث او مخلوق دی لهٰذا په دی عبارت کی هیڅ اشکال نسته.

والله سبحانه اعلم ۱۴۲۲\۴\۱۱ هـ

المقنع فی رسم مصاحف الامصار صـ ۳۴ نثرالمرجان فی رسم نظر القرآن ج: ۱۰ ص: ۴۹۹، لطائف البیان فی رسم القرآن صـ ۲۷ ج:۲ الجامع لما یحتاج الیه من رسم المصحف ج: ۵۲.

کتاب الحديث ومايتعلق به

حديث او د هغه سره متعلق مسائلو بيان

د مرسل حديث د حجيت متعلق د احنافو موقف

سوال: د مرسل روايت متعلق د محدثينو (جمهورو) چې کوم مسلك دی هغه خو معلوم دی او د علمايي احنافو مسلك معلوم دی چې د دوی په نزد مرسل روايت مقبول اوحجت دی خو د معلومولو امر دادی چې د امرسل روايت مقبول کيدل د علمايي احنافو اکابرو په نزد على الاطلاق دی يا د دی څه صورتونه مستثنیٰ دی يعنی مثلاً يومرسل روايت د کوم صحيح مستقل سندواله مرفوع مخالف دی او د هغه منافی دی نردی چې په هغه مي د تطبيق صورت هم نه وی يامثلاً ددی مرسل روايت نه څه عقيده ثابت وی يادکومی مسلمی عقيدی خلاف وی مثلاً روايت العرنيين يابيادادی مرسل روايت څخه د کوم صحابی په ناموس وغيره ترديد ظاهر وی نو آيا د دی ټولو صورتونو څخه او دا شان نو هر صورتونه هم د مرسل روايت مقبول دی؟ يادا صورتونه ددی قاعدی څخه مستثنیٰ دی يعنی په داسی صورتونوکی به هغه مقبول نه وی که په دی قسم صورتونوکی اکابر علماء حنفيه مرسل روايت نه قبلوی اوتاسوته داسی نبوالی معلومی وی نومهربانی وکړی په خپل اول فرصت کی ما د هغه حوالی اوکتاب وغيره څخه خبر کړی ډير سخت ضرورت دی هو د متقدمينو اکابر حنفيه هيڅ قيد نسته خوکه په متقدمينوکی د چا حوالجات وی نو نورهم ښه ده ورته د متاخرينو اکابرو حنفيه حوالجات به هم کافی وی تردی که د معاصرينو جيد علماء حوالجات وی نوهغه هم وليکی والسلام. (پير محب الله شاه) راشدي (حيدر آباد ، سنده)

جواب: د مرسل حديث په باره کی عرض دادی چې په دی باره کی عام طور سره د احنافو مسلك په صحيح ډول نه دی پوه سی د احنافو د محدثينو د اصطلاح مطابق مرسل على الاطلاق حجت نه منی بلکه کوم مرسل چې د احنافو په نزد حجت وی د هغه د پاره دری ۳ شرطونه دی :

۱: اول شرط دادی چې مرسل قرون ثلاثه مشهود لها بالخير کی وی.

۲: دوهم شرط دادی چې هغه پخپله د جرح او تعديل وغيره څخه ياخبره امام اوثقه وی.

۳: دريم شرط دادی چې هغه د حضور ﷺ څه قول يافعل په صيغی دجزم سره مثلاً قال رسول الله ﷺ کذا روايت وکړی لهٰذا که عنعنی سره يې کوی نو ددی شرط دمفقد کيدو په وجه به حديث حجت نه وی چنانچه محقق ابن همام تحرير کی د مرسل تعريف

داکړی دی.
المرسل قول الامام الثقة : قال رسول الله ﷺ مع حذف من السند (۱) داتعريف چونکه د محدثینو د تعریف څخه مختلف دی ځکه عام طور سره داګنل کیږي چې احناف هرهغه حدیث حجت ګني چې د محدثینو د اصطلاح مطابق مرسل وی حالانکه صورتحال داسی نه دی په دی مسئلی باندی حضرت علامه شبیر احمد عثمانی قدس سره په مقدمه فتح الملهم د ص ۸۰ څخه ترص ۸۲ پوری مفصل بحث کړی دی هغه وګوری نوانشاء الله اصلی موقف به مخ ته راسی په دی شرائطو سره چې کوم حدیث مرسل وی هغه بعضی اوقات د مسند څخه هم قوی کیدی سی لیکن کم ترکمه د هغه برابر خو به ضرور وی لهٰذا که د کوم مسند موصول حدیث د داسی مرسل حدیث سره متعارض وی نوهم هغسی معامله به کولی سی چې د دوو موصول حدیثونو د تعارض په وخت کی به کول کیږي او که مرسل مذکور وی شرطونو څخه یوشرط هم مفقود وی نوهغه بیا د احنافو په نزد حجت نه وی ځکه چې ښکاره ده چې جدیث موصول صحیح به په دی باندی راجح وی، هذا مافهمت من مذهب الحنفية.

والله اعلم
۱۴۰۴/۱/۱۲ هـ
(فتوی نمبر ۳۵/۱۴۹ الف)

من جدّ د قبراً ومثّل مثالاً..... الخ حدیث دی اوکه نه ؟

سوال: زموږ په جومات کی سیکر تړی اوکارکن د جماعت اسلامی دی د جومات چبوتره یې یوسړی ته ورکړی وه زما دکان په کرایه باندی ورته مخامخ وو سهار چې به کله ما د قرآن کریم تلاوت کوی نو هغه سړی به په ریډیو فحش فحش سندری په لوړ اواز سره چلولی د جومات کارکنانوته می شکایت وکړی هغوی هیڅ وانه وریدل د جماعت یوسړی وویل داتول ستا په ملاتړ کیږي د محرم په میاشت کی په هغوی کی داسی خلګ راځی چې پخپله شیعه وی مایوحدیث ووایه غالبًا عربی الفاظ یې دادی.
من جدد قبراً ومثل مثالاً فهو زنائر لیخرج الاسلام :
په دی اوریدلو سره هغه سړی زه ووهلم ایاداحدیث صحیح دی؟

(۱) التقریر والتحریر الامام الکمال ابن الهمام مسئله) مرسل ج:۲ ص ۲۸۸ (طبع دارا الکتب العلمیة بیروت:

جواب: په دی الفاظوسره هیڅ یوحدیث زموږ په علم کی نسته او د حدیث په کتابونوکی تلاش کولوسره هم پیدانسو تاسو چې په کوم کتاب کی کتلی دی د هغه مفصل حواله ولیکه او راویې لیږه بیاخه ویل کیدی سی.

والله سبحانه اعلم
۱۴۰۱/۱۱/۱۵ هـ

دحدیث په سندګی د لفظ (نا) مطلب

سوال: په سندګی چې لفظ نا استعمالوی د دی څه مطلب دی ؟
جواب: په سندګی چې کوم لفظ ناوی هغه د حدثنا مخفف دی یعنی موږ ته یې داحدیث بیان کړی دی.

والله اعلم
۱۴۰۱/۱۱/۱۵ هـ
(فتوی نمبر ۳۲/۱۷۱۱ هـ)

د هندوستان څخه فرحت ورکوونکی هوا راتلو متعلق د حدیث تحقیق

سوال: ایاڅه حدیث شریف دداسی مضمون سته چې حضور ﷺ دا فرمایلي وی چې د هندوستان څخه داسی فرحت ورکوونکی هوا راځي یا دامضمون وی چې زماسینه فراخیږی او ماته خوشحالی محسوسیږی یا داسی مضمون وی چې د هندوستان خلګ به په ماګران وی ځکه چې هغوی به زما د لیدلو څخه بغیر په ما ایمان راوړی ؟
جواب: د داسی مضمون هیڅ حدیث د احقر په علم کی نسته دی او د احادیثو په کتابونوکی هم په سرسری تلاش سره پیدا نسوه.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۶/۱۲/۲۱ هـ
(فتوی نمبر ۲۷/۲۸۰۵ و)

د مطالعی د پاره د احادیثو مستند کتابونه

سوال: د احادیثو مستند ترین کتابونه د مطالعی د پاره ارشاد وفرمایی ؟
جواب: انوار الباری (مکتبه ناشر العلوم بخاره روډ، بجنور، یوپی) الادب المفرد، امام بخاری ریاض الصالحین امام نووی او د مشکوٰة المصابیح اردو ترجمی چهاپ سویدی خو د فقهی احکامو په باره کی صرف یوحدیث نیم کتل پخپله څه شرعی حکم

مه ورکوی ځکه چی د احادیثو څخه د فقهی احکامو د استنباط کولو د پاره د وسیع او عمیق علم ضرورت دی ترڅوچی ټول احادیث د نظر مخ ته نه وی د هغه څخه فقهی احکام مستنبط کول صحیح نه دی.

والله سبحانه اعلم الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثمانی عفا الله عنه

۱۳۸۸|۲|۱۷هـ

(فتوی نمبر ۱۹|۲۹۲ الف)

د عمر د اوږدوالی په فضلیت کی یوحدیث

سوال: د عمر د اوږدوالی په فضلیت کی داسی څه حدیث سته اوکه نه ؟ داشان څومره چی عمر زیاتیږي هغه سره د لسو کالو د معاصی مغفرت کیږي ؟

جواب: جواب د دی مضمون هیڅ حدیث چیری د نظرڅخه نه دی تیرسوی البته د لویې عمر په فضلیت کی داحدیث نسایې (۱) اوترمذی (۲) وغیره کی مروی دی من شاب شیبة فی الاسلام کانت له نوراً یوم القیامة.

الجامع الصغیر ص: ۱۷۳ (۳) یعنی کوم سړی چی د اسلام په حالت کی بوډاسو نوبوډاتوب سپین ږیروالی به د هغه د پاره د قیامت په ورځ نوروی او د ابو داؤد په روایت کی الفاظ دادی (لاتنتقو الشیب فانه نور المسلم من شاب شیبة فی الاسلام کتب الله له بها حسنة وکفر عنه بها خطیئة ورفعه بها درجة رواه ابوداؤد (مشکوة کتاب اللباس باب الترجل ص: ۳۸۲) (۴) یعنی سپین.

وربنسته مه وباسی ځکه چی هغه د مسلمان نور دی کوم سړی چی د اسلام په حالت کی بوډاسو الله تعالی به د هغه د پاره په دی وجه یوه نیکی لیکی اویوه ګناه به یې معاف کوی اویوه درجه به ورلره زیاتوی والله اعلم.

---

(۱) سنن نسایې صـ ۲۷ (مکتب المطبوعات الاسلامیة، حلب)

(۲) جامع الترمذی باب ماجاء فی الفضل من شاب شیبة فی الخ ج:۴ صـ ۱۷۲ دارحیاء التراث العربی وکذا فی صحیح ابن حبان ذکر اعطاء الله ﷻ وروسته علا نوراً فی القیامة ج:۷ صـ ۲۵۱، موسسة الرسالة بیروت.

(۳) الجامع الصغیر للسیوطی رقم الحدیث ۸۷۲۳ صـ ۱۷۵۴ مکتبة نزار مصطفی الباز مکة المکرمه وکذافی المشکوة صـ ۳۸۲ باب الترجیل (قدیمی کتبخانه)

(۴) مشکوة المصابیح (قدیمی کتبخانه)

۱۳۹۷|۱|۲۹

(فتوی نمبر ۲۸|۱۹۲ الف)

د صحابی اثر نقل کولو څخه اوکما قال رضی الله عنه ویل دحضور ﷺ په نوم باندی اوږد درود ویل آیا د حدیث په ویلو باندی هم د تلاوت لفظ ویل کیدی سی

سوال: د حدیث نقل کولوڅخه وروسته کماقال علیه السلام ویل کیږي دصحابی په اثر کی هم داحکم دی ؟

۲.دحدیث ویلو په وخت کله چی حضور ﷺ نوم راځی نو ﷺ ویله آیا داهم صحیح دی ﷺ ؟

د تلاوت لفظ کله چی عام طور د قرآن د پاره ویل کیږي یعنی کله چی ما د قرآن تلاوت وکړی نوپه حدیث باندی هم هم دالفظ ویل جائز دی اوکه نه ؟

جواب: د احادیثو او اثارو په نقل کولوکی چی څومره د احتیاط څخه کار واخستل سی نو بهتردی لهذا د اصحابو په آثارو کی هم ، اوکما قال (رضی الله عنه) ویلو کی څه حرج نسته. بغیر د شك او شبهې څخه جائز دی بلکه مستحسن دی، د احادیثو د پاره د تلاوت لفظ استعمالولوکی شرعًا هیڅ اشکال نسته خو د عرف او محاوری خلاف دی.

والله اعلم بالصواب

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه محمد عاشق الهی

۱۳۸۷|۱۲|۴هـ

(فتوی نمبر ۱۳۹۲ |۱۸ الف)

یوحدیث اوکه مقوله

سوال: براه کرم د دی حدیث په معنی باندی می پوهه کړئ، الا ان اولیاء الله لایموتون ..... الخ.

جواب: دا الفاظ د حدیث په کومه مجموعه کی موږته پیدانه سول تردی چی داموضوع د احادیثو په مجموعه کی اللالی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة (للحافظ الس[illegible]) او الاحادیث الموضوعة للشوکافی هم ددی څخه خالی دی داسی معلومیږي

چې دا د چامقوله ده حدیث نه دی په هرحال کې د دې حدیث دامطلب واخستل سي چې اولیاء الله ته مرګ نه راځي نوغلطه ده د قرآن واضح ارشادی (کُلُّ نَفْسٍ ذائقة) (۱) یعنی هرتن د مرګ خوند څکونکی دی.

والله اعلم

۱۳۸۷/۳/۲۳ هـ (۲)

په ظاهره دوه متعارض حدیثونوکې تطبیق فارسي

سوال: تطبیق ومطلب احادیث ذیل مطلوب است امید تفصیلاً بزبان فارسی عام درقید تحریر براورده بنده راز موج خلجان رهانمائید جواب بزبان فارسی ضرور نیست بلکه ام زبان که باشد.

عاصم ابن کلیب الجرمی عن ابیه قال: حسبته من الانصار... انه کان مع رسول الله ﷺ فی جنازة فلقیه رسول امرأة من قریش یدعوه الی طعام فجلسنا مجلس الغلمان من ابائهم ففطن اباؤنا للنبی ﷺ وفی یده اکلة قال ان هذه الشاه تخبرنی انها اخذت بغیر حلها فقالت یا رسول الله لم یزل یعجبنی ان تاکل فی بیتی وانی ارسلت الی النقیع فلم توجد فیه شاة وکان اخی اشتری شاة بالامس فارسلت بها الی اهله بالثمن فقال اطعموها الاساری.

(مشکل الاثار للطحاوی ج:۴ صـ ۱۳۲) (۳)

عرض اینکه این حدیث سند اومتنام مضطرب است.

سند ۱: درحدیث مشکل الاثار عاصم عن ابیه عن رجل احسبه من الانصار ابوحنیفه عاصم بن کلیب عن ابی بردة ابن ابی موسیٰ عن ابی موسیٰ الاشعری ابوحنیفة عاصم عن ابیه عن رجل من اصحاب النبی والحاکم والذی لم یذکرا عاصما بل خالفاه فی تمام السند.

(۱) سورع العمران: ۱۸۵

(۲) دافتوی درسالی البلاغ دربیع الثانی سنه هـ ۱۳۸۷ ، څخه اخستلی سوی ده (مرتب)

(۳) مشکل الاثار للطحاوی باب ایمان مشکل ماروی عن رسول ﷺ مما یقضی بین المختلفین من الغنما فی الشاة المغضوبة اذا دبحت وشریت الخ رقم الحدیث ۳۰۰۵ ، ۳۰۰۲ ج ص: ۴۵۵ طبع مؤسسة الرسالة بیروت)

متنا: از حدیث مشکل الاثار معلوم میشود نیز از مشکوٰة: که آنحضرت ﷺ بجنازه رفته بود وبعد از رجوع عن الجنازة داعی زن آمده بود، واز حدیث حضرت ابوحنیفة معلوم میشود که حضور اکرم ﷺ به ملاقات یک قوم رفته بود ایشان شات راذبح کرد واز بعقل مفهوم میشود که کسی از صحابه کرام برای آنحضرت ﷺ شان تیار کرده بود دعوت دادند، واز حاکم معلوم میشود که رسول الله ﷺ واصحابی به زنی مرور نمودند وآن برایشان شاة ذبح نمودند.

جواب: دراحادیث مذکور هیچ اضطرابی نیست، واقعه این است که آنحضرت ﷺ برای جنازه رفته بودند که بعد از فراغ زنی از انصار مروی رافرستاد وانحضرت ﷺ رادعوت طعام داد، آنحضرت ﷺ تشریف بروند، پس در روایت مشکل الاثار ومشکوٰة واقعه مکمل بیان کرده شده است، ودر روایت ثالثه که از امام ابوحنیفه مروی است قصه جنازه راحذف کرده، ومراد از قوم در (زاد قوما من الانصار فی دارهم) همان زن است واین مراد نیست که آنحضرت ﷺ برای زیارت قوم انصار رفته بود که زن ایشان رادعوه کرد، واما در روایت رابعه که درآن (صنع رجل من اصحاب النبی ﷺ) امده است پس بظاهر نسبت صنع طعام بمردم مجاز است که مراد ازورسول زن داعی بود نه که داعی، واماروایت خامه که درآن مرور نبی ﷺ برزن داعی مذکور است پس به روایات سابقه متعارض نیست زیرا ممکن است که وقت رفتن به جنازه آنحضرت ﷺ مرور برزن فرموده وزن ایشانرا دعوادادہ پس بعد از فراغ آن زن دوباره مروی رافرستاد که آنحضرت ﷺ رابیاورد خصوصًا وقتیکه بموجب روایت مشکوٰة زن داعی زن متوفی بوده.

اما اختلافیکه درسند بنظر می آید اضطراب نیست بلکه تعدد طرق است. فقط والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۸/۱/۱۲

(فتویٰ نمبر ۲۲/۱۹ الف)

رأی الحنیفة فی قبول الاحادیث الضعیفة فی فضائل الاعمال

(د اعمالو په فضائلو کی ضعیف احادیث قبلول د احنافو د رائی متعلق عربی فتوی)

الی الفضیلة الشیخ الفقیه البارع والمحدث المتقن مولانا محمد تقی العثمانی حفظه الله ونفع به

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

احمد الیکم الله الذی لآاله الا هو ونصلی ونسلم علی المبعوث رحمة للعالمین وعلی اله وصحبه اجمعین وبعد!

من یمن الایمان والحکمة من صنعاء ابعث الیکم بهذه الرسالة سائلا الله العلی القدیر ان یحفظکم وان یکثر فی الامة الاسلامیة من امثالکم ولکم حرثت علی لقائکم عند مازرتُ مدینتکم کراتشی قبل عامین ولکن مع الاسف لم اجدکم فیها فقد کنتم حینها خارج بلادکم الباکستان وکاتب هذه السطور هو محبکم فی الله عادل بن حسین امین الیمانی الندوی وقد حدثنی عنکم عند ماکنت فی الهند مولانا العلم الشامخ الادیب العملاق العالم الربانی سماحة الشیخ ابی الحسن الندوی حفظه الله تعالی وکذالک الاستاذ الفاضل سبحان الحسینی الندوی وصدق القائل (والاذن تعشق قبل العین احیانًا) واسئال الله ان یسرلی الاجتماع والاستفادة منکم وهو علی ذالک قدیر.

فضیلة الشیخ، لقد اردت ان استفسرکم واوجه الیکم هذا السوءال الهام، الا وهوماذکره العلامة المحقق محمد عبد الحی اللکهنوی رحمه الله وفی کتابه النفیس، الاجوبة الفاضلة فی صفحة: ۴۳ - عند مانقل کلام الشمس الدین السخاوی فی (القول البدیع فی الصلاة علی الحبیب الشفیع) وذکر کلام الحافظ ابن الحجر العسقلانی رحمه الله فی جواز روایة الحدیث الضعیف فی فضائل الاعمال وشروطه الثالثة المذکورة هنالك، وقد نقل العلائی الاتفاق علی الشرط الاول - واما الشرط الثانی، والثالث فقد نقل عن العز بن عبد السلام وعن ابن دقیق العید.

والسؤال هناهو: ماهو رأی علماء الحدیث من السادة الحنیفة فی هذه الشروط؟ هل یعتبرونها اصلاها مافی جواز روایة الحدیث الضعیف فی فضائل الاعمال أم لا؟ وهل لهم اقوال فی هذه المسئلة؟ نرجوا منکم غایة الرجاء البسط الشافی الکافی فی الجواب ولکم بذالك عظیم الاجر والثواب من الله تعالی.

وانتهز هذه الفرصة لمعرفة وقتکم المناسب حتی تتکرموا بزیارت لنا الی الیمن المیمون والاخص الی جامعة الایمان التی یترأسها فضیلة الشیخ عبد المجید الزندانی ویدرس فیها مجموعة طیبة من اهل العلم کالشیخ الدکتور عبد الکریم زیدان وغیره، والجامعه تحرص کثیر اعلی استقادم علماء من البلاد الاسلامیه وقد زار الجامعة کثیر منهم ونتمنی ان تبدوا وتظهروا استعداد کم حتی یوجد الشیخنا الزندانی دعوة الی فضیلتکم وینفع الله بزیارتکم لهذه البلاد ورؤیته مافیها من الاثار والعبر ولا انسی ان اقول لکم: ان الاستاذ سلمان الحسنی الندوی قد زار الجامعة قبل ثلاثة اعوام وحرض علی اهمیة الاتصال العلمی والثقافی بعلماء شبه القارة الهندیة، وانتم یافضیلة الشیخ من اعلام علماء هذه القارة وعونی هذه لکم هی اصالة عن نفسی ونیابة عن الجامعة التی اعمل فیها ونأمل منکم قبول هذه الدعوة الصادقة وعدم ردها، فهی مفتاح خیر وبرکته ان شأ الله.

فی الاخیر: ارجوا المعذرة من الاصالة، واطلب منکم صالح دعواتکم لکاتب هذه السطور المبتلی بالعجز والتقصیر، کما یعلم الله ذالك، وبلغو اسلامی علی محبیکم وتلامذتکم وانا فی انتظار جواب السوال وجواب الدعوة.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
وکتبه محبکم فی الله
عادل بن حسن امین الیمانی الندوی
صنعاء جامعة الایمان- یمن

الاجابة: الی فضیلة الشیخ العادل بن حسن امین الیمانی المؤقر، حفظه الله تعالی ورعاه،

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

فقد تسلمت رسالتکم الکریمة: وقد تشرفت بمطالعتها والتعرف علیکم فجزأکم الله تعالی خیراً، واجزل لکم مثوبة.

سألتم رأی الحنیفة فی قول الاحادیث الضعیفة فی فضائل الاعمال، وماذکر الامام الکهنوی رحمه الله من ثلاثة الشروط لقبول الحدیث الضعیف فهو المختار عند جمع کبیر من الحنیفة من اهم هذه الشروط ان الحدیث الضعیف لایثبت به حکم جدید حتی الاستحباب علی سبیل الحتم، وانما معنی قبوله ان یتأکد به حکم الثبت سابقًا بنص

صحيح او حسن، او ان يعمل به على سبيل الاحتياط والاحتمال دون الحتم با لقول بنسة او استحبابة، وهناك جمع من العلماء الحنفية يقبلون الحديث الضعيف حتى الاسياط حكم جديد فى الفضائل - وان مشائخى الذين شرفنى الله بالتلمذ عليهم كانوا يختارون الرأى الاول فمثلاً، حديث صوم السابع والعشرين من رجب لويثبت فى حديث الصحيح (۱)، ولذالك انكر الشيخ اشرف على التهانوى رحمه الله تعالى سنية هذا الصوم او استحبابه، ولكن احباز ان يصوم احد على سبيل احتمال الاستحباب.

اما اذا تائيد الحديث الضعيف بتعامل العلماء فانه يمكن عند الحنفية ان يثبت له حكم جديد- وهذا مثل فضل صلاة التسبيح واحياء ليلة النصف من شعبان وامثلة ذالك كثيرة.

وانى اشكركم على مادعوتمونى الى جامعة الايمان باليمن - وكم يعدنى ان اتشرف بزيارة العلماء وطلبة العلم هناك، وانى اقبل هذه الدعوة بكل اعتزاز وسرور ولكن الاشهر الثلاثة القادمة مرهقة بالاسفار الاخرىٰ فلعل ذالك انما يتيسر بعد الحج فى بداية شهر محرم الحرام ان شآء الله تعالى وان وصلت الى الدعوة الرسمية فى خلال شهر ذى الحجة، فسوف احدد التاريخ بالضبط انشاء الله تعالى.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محمد تقى عثماني عفى عنه

من الرياض ۹ من شوال ۱۴۱۹ هـ

وعنوانى الدائم : دار العلوم الكراتشى ۱۴

الزنر البريدى: ۷۵۱۸۰ باكستان

(فتوىٰ نمبر ۳۴۷/۲۴)

لن تجمع امتى على الضلالة ځخه وروسته فان اجمعت امتى على الضلالة الخ الفاظ په حديث كى دى اوكه نه ؟

سوال: لن تجمع امتى على الضلالة ځخه وروسته فان اجمعت امتى الضلالة فانا برى منهم الفاظ هم په حديث كى سته اوكه نه ؟

---

(۱) وفى عون المعبود ج: ۱ ص: ۱۰ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) ولم يثبت فى صوم رجب نهى ولاندب ولانهى لعينه، ولكن اصل الصوم مندوب اليه.

جواب: د لن تجمع امتى على الضلالة (۱) ځخه وروسته فان اجمعت امتى على الضلالة فان بري منهم الفاظ په كوم مستند كتاب كى موږته پيدا نه سول.

والله اعلم بالصواب

الجواب الصحيح احقر محمد تقى عثمانى عفا الله عنه محمد عاشق الهٰى عفى عنه

(۱۳۸۷\۱۲\۳۰هـ)

(فتوى نمبر : ۱۹ الف)

د حديث، بعثت الى الاسود والاحمر، تحقيق

سوال: د بعثت الى الاسود والاحمر، حديث په كوم كتاب او په كوم ځاى كى دى؟

جواب: په دى الفاظو سره هيڅ يوحديث د نظر ځخه نه دى تير سوى اوكتابونوته د رجوع كولو راته وخت نسته خومضمون صحيح دى او د صحيح احاديثو ځخه ثابت دى.

(۲) فقط والله اعلم

---

(۱) وګورى مجمع الزوايد للهيثمى ج:۵ ص ۲۱۸ (طبع دارالريان للتراث قاهرة ودارالكتب العربى بيروت او ورسره ددى معنى والا نور حديثونه هم وګورى مشكوة المصابيح باب الاعتصام بالكتب والسنة ج:۱ ص ۳۰ (طبع قديمى كتبخانه كراچى).

(۲) سائل په خپل سوال كى بعثت ال الاسود والاحمر الفاظ ذكر كړى دى خو د دى الفاظو په ځاى بعثت الى الاحمر والاسود الفاظ مختلف د حديثونو په كتابونوكى موجود دى چنانچه مجمع الزوايد للهيثمى ج:۸ ص ۲۵۸ طبع دارالريان للتراث دارالكتاب القاهره بيروت كى دى باب عموم بعثته ﷺ عن ابى موسىٰ قال قال رسول ﷺ اعطيت خمساً بعثت الى الاسود والاحمر وجعلت الى الارض طهوراً او احلت الى الغنام ولم تحل لمن كان قبلى ونصرت بالرعب شهراً واعطيت الشفاعة وليس من نبى الاوقد سائل شفاعة وانى اختبات شفاعتى ثم جعلتها لمن مات لاشريك بالله شياً رواه احمد متصلاً ومرسلاً والطبرانى درجاله رجال الصحيح وعن ابن عباس ان رسول الله ﷺ قال اعطيت خمساً لم يعطهن نبى قبلى ولا اقولن فخراًبعثث الى الاحمر والاسود ونصرت بالرعب : الخ ددى ځخه علاوه بعضى نورو صحابه كرامو رضي الله عنهم ځخه هم په نورو روايتونو كى دالفاظ ثابت دى چى په هغه كى بعضى طرق ضعيف اوبعضى صحيح دى وګورى صحيح ابن حبان ج:۴ ص ۳۷۵ (طبع مؤسسة الرسالة بيروت) رقم الحديث ۶۴۶۲ معجم الاوسط طبرانى ج:۷ ص ۲۵۷ (طبع دارالحرمين قاهره) مواد د الظمان ج:۱ ص ۷۵ (طبع دارالكتب العليمه بيروت) سنن دارى ج:۲ ص ۳۹۹ (طبع دارالكتاب العربى بيروت اومجمع الزائد ج:۸ ص ۳۶۹ (دارالكتب العربى بيروت) مصنف ابن ابى شيبه ج:۶ ص ۳۰۳ ص ۳۰۴ (طبع مكتبة الرشيد رياض مسند احمد ج:۱ ص ۲۵۰ طبع مؤسسه قرطبة (محمد زبير حق نواز).

الجواب الصحيح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۱۲\۱۱\۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۸۵\۱۹\۱ الف)

د عمام (لنګوټه) په فضلیت کی حدیث

سوال: په کوم حدیث د عمامی (لنګوټی) خصوصی فضلیت موجود دی او که نه ؟

جواب: عمامه (لنګوټه) د نبی کریم ﷺ سنت ده او همدا د دی فضلیت دی د دی څخه علاوه یو حدیث کی د حضور ﷺ ارشاد دی چی د مسلمانانو او مشرکینو په مینځ کی یو امتیازی علامت دادی چی مسلمانان به په ټوپی باندی لنګوټه تړی، الفرق فی مابین المؤمنین والمشرکین العمامة علی القلانس . [1]

والله اعلم

۱۲\۱۰\۱۳۹۹ھ

(فتوی نمبر : ۳۰\۱۰\۱۷۰۸و)

اسلامي كمپيوټرز كويټه بلوچستان
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

[1] وفی الترمذی باب العمائم علی القلانس رقم الحدیث ۱۷۸۴ ج:۴ صـ۲۴۷، طبع دار الحیاء التراث العربی بیروت قال ارکانه سمعت رسول الله ﷺ یقول لم ان فرق مابیننا وبین المشرکین العمائم علی القلانس وکذافی سنن ابی داؤد رقم الحدیث ۴۰۷۸ ج:۴ ص:۵۵ (طبع دار الفکر)

كتاب مايتعلق بالدعوة والتبليغ

د دعوة او تبليغ مسائل

دتبليغ اوجهاد متعلق د فرض عين او فرض كفايه تحقيق او د مروجه تبليغي جماعت او په هغه کی د وخت لګولو شرعي حيثيت

سوال: سيدی حضرت اقدس حضرت مولانا جستس مفتي محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته مزاج ګرامی دزړه می دعاده چی الله تعالی دی تاسوته هميشه صحي اوعافيت سره د دين دخدمت توفيق درکړی (امين).
حضرت ددی ناکاره په زړه کی چی دحضرت کوم محبت اوعظمت دی دهغه په اظهار کی به طوالت وی مختصر عرض دادی چی د حضرت دپاره دزړه څخه او د زړه له کومی څخه دعاګانی وځی حضرت مصروفيت خو واقعی وی خوبياهم په يوی مسئلی کی د حضرت رايي مطلوب ده په بل ځای کی د حضرت په شان تسلی متوقع نه ده اميد دی چی د جواب څخه به می بهره مند کړی حضرت د اکابرو دکتابونو څخه او د حضرت ديومستقل وعظ څخه د دين حقيقت تسليم اورضا داخبره زړه کی ناسته ده چی دين د شوق پوره کولو نوم نه دی بلکه په هغه وخت کی څه حکم او دوخت تقاضاوی دهغه دپوره کولو نوم دين دی خوبل طرف ته نه پخپله د تبليغی جماعت مشرانو په نزد ددين حقيقت دقربانی په نوم سره پيش کولی سی چی د هغه له وجی راته تردد کيږي چی صحيح طرم عمل څه کول پکاردی مثلاً زموږ دپاکستان سابقه امير صاحب مدظله په کومه هفته چی سر روزه متعين ده هم په هغه هفته د هغوی خسر مړسو اوس هغه په سوچ کی وو چی څه وکړی؟ د تسليم او رضاء د پيش نظر خوسه روزه د هغه هفتی څخه مؤخر کيدی هم سوه چی د غمجنی ښځی سره د خاوند دپاته کيدو په وجه تسلی ورته وسی خود پاکستان امير صاحب سه روزه مقدم کړه او ولاړی په واپسی باندی فکر مندسو چی ښځه به می ضرور خفه سوی وی خوښځه يې خلاف توقع په ډير محبت ورسره پيداسوه او عرض يې ورته وکی چی د شپی می باباجی راته په خوب کی راغلی وو هغوی راته وويل چی راسی نو د هغه څخه خفه کيږه مه ؟ د هغه د سه روزی له وجی الله تعالی زما مغفرت کړی دی اوس که د تسليم او رضاء د لاندی دانه وتلی نو دا د مغفرت بهانه به څنګه جوړيدله ؟ اکثر د تبليغ مشرانو څخه اورو چی د انتظامی جلو اوکلونو سره خوبه ثواب کيږي خوکفر به نه ماتيږي څکه چی د دی دپاره قربانی شرط ده چی په کورکی ښځه بچی بيماران وی په پټی کی فصل تيار دی په جيب کی درسره پسی نسته حالات خراب دی چی اوس وځی نو بيا به هدايت عام کيږي اوس د تسليم

اورضا پيش نظر کله چی ښځه دی بيماره ده نو د هغه زړه ښه کول ضروری دی فصل اوس په دی کی تسليم اورضاء ته وکتل سی اوکه قربانی ته ؟ غالبًا په غزوه تبوک کی خرما بالکل پخی وی خو د دين حقيقت د قربانی پيش نظر صحابه کرام رضی الله عنهم د الله تعالی په لار کی ووتل.
يو صاحب د يوعالم څخه پوښتنه وکړه چی يوسړی د الله تعالی په لارکی وتل غواړی خو د هغه بوډا پلار نابينادی ښځه يې ځوانه ده او د شاوخوا ماحول يې هم صحيح نه دی او د هغه کوشنی کوشنی بچی دی هغه عالم ته وويل که په دی صورت مسئوله کی داسړی ځی نو لوی ظالم دی هغه عالم ته وويل سول چی د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د کورهم دغه حالت وو کله چی هغوی د حضور عليه السلام سره وتلی وو اوس د تسليم اورضاء لاندی خونه وتل په پوهه کی راځی خو بزرګان وايي چی کله هم په داسی حالت کی وځی نوچيری چی ورسره کفر ماتيږي هلته به ورسره د ده يقين هم جوړيږی او د کور والا يقين به يې هم جوړيږی چی حقيقی محافظ اورازق الله تعالی دی د بعضو خلکو څخه داهم اورو چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په وخت اسلام نه وو رسيدلی نوځکه په هغوی باندی د اذمه واری زياته وه اوس چی اسلام ورسيدی اوس هغه شان ذمه واری نسته اوتبليغيان وايي چی کله بی دينی او د دين څخه لری والی د هغه دور په شان راغلو نو آيا هغه حکم به نه راګرځی ؟ اکابر اهل علم په تبليغ کی وتلو شرعی حيثيت فرض کفايه ښايي د تبليغ مشران وايي چی دکفايه مطلب خودادی چی هغه دفرض په ادايګی کی کفايت هم وکوری اوس په اربونو انسانان د دين څخه لری دی نو آيا په سونو اوزرګونو سړيان وتل به د دی فرض په ادائيکی کی کفايت وکړی ؟ د هغه ملګرونه داهم اورو چی په يوسفر کی خو حضور صلی الله عليه وسلم په خلکو روژی ماتی کړی خوتبليغی سفريې موقوف نه کړی دغه شان حضرت حنظله ته دغسل جنابت حاجت وو. دوخت تقاضا خودغسل وه خو هغوی دهمدی ناپاکی په حالت کی دالله تعالی لاره مقدم وګڼله حضرت اميد دی چی ما د خپل مشکل وضاحت تر ډيره حده پوری کړيدی زيات اوږديدل راته مناسب نه ښکاری حضرت دخپل فقهيانه بصيرت اوخدای درکړی فهم لاندی د دی خبری څه قدری تفصيل سره وضاحت وکړی ؟ چی بعضی اوقات د دين تقاضا د تبليغ والا پيش کوی نو په هغه وخت څه شرعی تقاضا هم پيښه سی نو د تسليم اورضاء لاندی هغه تقاضا پوره سی يا د صحابه کرامو په شان قربانی کولوسره هغه تقاضا مؤخره سی.

حضرت د مذکوره اشکال سره به ضمنا يوه خبره عرض کړم چې په هغه امورو کی د اهل علم مشرانو او د تبليغ د مشرانو په زاويه تګاه کی فرق محسوسيږی مثلاً عام اهل علم په تبليغ کی وتل فرض کفايه او تبليغ والايې فرض عين ښايې لکه چې د نن څخه نيمه صدی مخکی حضرت تهانوی ؒ د اهل الله صحبت د فرض عين کيدو فتوی ورکړی ده ځکه چې د اهل الله د صحبت څخه بغير په هغه وخت کی اصلاح دظاهر اوباطن قريب قريب ناممکن وه اوس داخبره هم مشاهده ده چې په وتلو سره نه ضرف په عواموکی بلکه د علماء کرامو په دينی حالت کی چې کوم انقلاب راځی دهغه خپله مشاهده ده اوناقابل انکار حقيقت دی نوکه د مقدمة الواجب لاندی وتل فرض عين وښوول سی نوددی به شرعی حيثيت څه وی ؟ (والسلام بنده محمد ارشد).

جواب: مکرم اومحترم السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط راکول سو تاسو د ناکاره احقر د پاره ښنګه چې دعاګانی کوی په هغه باندی په کومه ژبه شکر اداء کړم الله تعالی دی تاسوته د دی بهترينه بدله په دنيا او آخرت کی درکړی (امين).

تاسو چې دتبليغی جماعت متعلق د کومو خبرو پوښتنه کړی ده دهغه په باره کی يوڅو اصولی خبری پيش کوم خدای دی وکړی چې ستاسو د اطمينان باعث جوړی سی.

کله چې جهاد فرض عين سی نو په هغه وخت کی يو ايمر جنسی حالت وی په هغه وخت کی نه تجارت جائزدی او نه د ښځی اوبچو عام حقوق داسی باقی پاته کيږي لکه چې ښنګه د امن په حالت کی وی او نه دجهاد څخه سوا داسی بل څه کار جائز وی چې دجهاد منافی يا د هغه په لاره کی خنډ جوړيدونکی وی (1) تاسو چې د صحابه کرامو ؓ د عهد مبارك څومره مقالونه پيش کړی دی هغه ټول د دی حالت سره متعلق دی په غزوه تبوك کی د جهاد فرض کيدو اعلان پخپله په قرآن کريم کی هم سوی دی (2) او انحضرت ﷺ هم په دوو ټکو الفاظوکی واضح کړی وو لهٰذا پوخ فصل يا د کور والاؤ مسائل د دی فرض عين په ادائګی کی مانع نه سول د دی باوجود دحضرت محمد ﷺ

---

(1) دتفصيل دپاره دحضرت دامت برکاتهم تصنيف (تکمله فتح الملهم کتاب الامارة مسئله فرضية الجهاد ج:۳ صـ ۳۷۴ ملاحظه کړی.

(2) (مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ الْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا عَن رَّسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ) الايه سورة التوبه: ۱۲۰

دحضرت علی ؓ په شان جانبار صحابی ؓ ته حکم وکړی چې په مدينه کی پاته سه او د کمزورو خيال ساته د حضرت علی ؓ خواهش داوو چې هغه د جهاد فضليت حاصل کړی خو د حضور ﷺ د حکم له وجی د تسليم او رضاء په خاطر مدينه منوره کی پاته سو او د کمزورو خيال يې ساتی (1) د حضرت حنظله واقعه هم دداسی وخت ده کله چې دښمن حمله کړی وه او جهاد فرض عين وو (2) په حضرت صديق ؓ امير باندی هم د حضور اقدس ﷺ سره هجرت فرض سوی وو او هغوی يې هم دافريضه اداء کړله که نه وی نو عامو حالاتوکی حضور ﷺ د والدينو خدمت په جهاد باندی مقدم ګرځولی دی او داسی صحابه کرام يې واپس کړی دی چې والدين يې په ژړا پريښی وه او جهاد د پاره راغلی وو (3).

که سه روزه يا چهله کی وتل هم په دی درجه کی فرض عين وګرځول سی په کومه درجه کی چې جهاد د نفير عام په وخت کی فرض کيږي نو د دی مطلب به داوی چې تجارت، صنعت زارعت هيڅ هم جائز نه وی بلکه هر انسان هروخت بايد په تبليغی سفرکی وی لکه چې د جهاد فرض عين کيدو په وخت کی دوهم څه کار جائز نه وی سوال دادی که سه روزه ياچې فرض عين ده نو د دی حد څه دی ؟ په څومره سه روزو او په څومره چلو باندی به دافرض عين اداء سی ؟ او اول خو دا تعين په کوم بنياد باندی سوی دی ؟ آيا

---

(1) وفی صحيح البخاری باب من حبسه العذر ج:۱ صـ ۳۱۸ حدثنا احمد بن يونس ثنا زهير ثنا حميد ان انس حدثهم قال رجعنا عن غزوة سورة التوبة : ۱۲، التبوك مع النبی ﷺ الخ وثنا سليمان بن حرب ثنا حماد هو ابن زيد عن حميد عن انس ان النبی ﷺ کان فی عزاة فقال ان اقواما بالمدينة خلفا ماسلکنا شعبًا ولا واديًا الاولهم معنا فيجسهم العذر الخ وکذا فی صحيح مسلم ج:۲ صـ ۱۴۱ (طبع قديمی کتبخانه)

(2) وفی المعنی لابن قدمة ج: ۹ صـ ۱۷۴ (طبع دار الفکر بيروت) مسئله قال وروسته واجب علی الناس اذاجاء العدان ينفرو المقل منهم والمکثر ولايخرجو الی العدو الاباذن الامير الان يفجرآهم عدو غالب يخافون کلبه ولايمکنهم ان ستاذنوه .... ان النفير يعم جميع الناس ممن کان من اهل القتال حين للحاجة الی نفيرهم لمجی العدو اليهم ولايجوز لاحد التخلفه الا من يحتاج الی تخلفه المکان والاهل والمال ومن يمنعه الامير .... وذالك لقول الله تعالی (انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا) التوبه وقول النبی ﷺ اذا استنفرتم فانفرو وقال بعد اسطر... وقد نفر من اصحاب رسول الله ﷺ وهوجنب يعنی غسل الملائکة حنظله بن الراهب الخ).

(3) وګوری الصحيح المسلم ج:۲ صـ ۳۱۳ طبع قديمی کتبخانه) وجامع الترمذی ج:۱ صـ ۲۰۰ (طبع فاروقی کتبخانه).

د قرآن او حديث څه حکم د دی تعين کوی ؟ دوهم داچی د سه روزی څخه وروسته کله چی سړی تو له مياشت تجارت يا زراعت کی مصروف وی نو ايا په هغه وخت به تبليغی سفر فرض عين نه وی ؟ که نه دی نوبيا چيری فرض عين پاته سو ؟ او که وی نو تجرات او کسب معاش څنګه جائز سو ؟

تاسو ليکلی دی چی حضور ﷺ په يوه سفرکی په خلګو باندی روژی ماتی کړی خوتبليغی سفريې موقوف نه کړی اول خوداتبليغی سفرنه وو د فتح مکی د جهاد سفر وو (۱) دوهم د روژی د شديد مشقت له وجی په خلګو باندی ماتی سوی (۲) د سفرموقوف کولو څه وجه نه وه زيات نه زيات سخته ګرمی وه .

صرف په دومره خبره جهاد ترك کول ضروری نه وو ځکه چی د دی مشقت زيات نه زيات اثر په خپل ځان باندی وو د چاحق بامال نه تلف کيدو تاسو ی دفرض کفايه کوم مطلب ليکلی دی که دکفايه مطلب همدادی نوپوره داسلام په تاريخ کی کله هم فرض کفايه کيدل نه وو پکار څنګه چی دغير مسلمو تعداد دتاريخ کی په هرو دورکی دمسلمانانوڅخه هميشه دری چنده زيات پاته سوی دی په کروړونو انسانان په هردورکی ددين څخه لری پاتی دی لهذا کله چی فقهاء امت جهاد فرض کفايه وګرځولونو آيا په هغه وخت کی د دنيا اکثريت مسلمان سوی وو ؟ کله چی حضور ﷺ د دنياڅخه تشريف وړی؟ نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم تعداد يولکه څلوريشت زره بنوول کيږي، چی ظاهره ده چی د هغه وخت د دنيا د آبادی مختصره حصه وه خو آيا حضور ﷺ تبليغی سفر فرض عين ګرځولوسره کله صحابه او نورو ښارونو اوملکونو ته دی ولاړسی واقعه داده چی فرض کفايه مطلب صرف دومره قدری دی که

---

(۱) ايضا.

(۲) وفی الترمذی ج:۱ صـ ۸۹ (طبع فاروقی کتبخانه) باب ماجاء فی کراهية الصوم فی السفر عن جابربن عبدالله ان رسول الله ﷺ خرج الی مکة عام الفتح فصام حتی بلغ کراه الغميم وصام الناس معه) فقيل له : ان الناس شق عليهم الصيام وان الناس ينظرون فيما فعلت فدعا بقدح من ماء بعدالعصر فشرب والناس ينظرون اليه فافطر بعضهم وصام بعضهم الخ وفی جامع الترمذی ابواب فضائل الجهاد باب فی الفطر عند القتال ج:۱ ص: ۲۰۱، ۲۰۲، (طبع مذکور، عن ابی سعيد الخدری رضی الله عنه قال لما بلغ النبی ﷺ عام الفتح مر الظهر فاذ اننا بلقاء للعدو فامرنا بالفطر فافطرنا اجمعين هذا حديث احسن صحيح دزياتو احاديثو اوتفصيل دپاره وګوری درس ترمذی : ۲. ص : ۵۵۵ (محمد زبير حق نواز)

دمسلمانانو متعد د جماعت دا کار کوی نو د هغوی داعمل د نورو د فريضی دا دلګی دپاره هم کافی کيږي.

د تسليم اورضا اوقربانی کی څه تعارض نسته د الله تعالی دحکم اطاعت قربانی غواړی کله داقربانی دځان وی کله دمال کله د خواهشاتو کله چی حضور ﷺ حضرت علی رضی الله عنه د تبوك د تلوڅخه منع کړی او هغوی خبره هم ومنله نو داتسليم اورضا هم ده او د خواهش قربانی هم کله چی حضور ﷺ حذيفه بن يمان رضی الله عنه لره په جنګ بدرکی د شرکت څخه منع کړی او هغوی اطاعت وکړی نوداهم د خواهش قربانی ده کله چی جهاد فرض عين سی په هغه وخت کی د ځان مال او دنيوی خواهشاتو قربانی ورکول کيږي اوکله چی فرض کفايه وی او د انسان د پاره شرعًا تلل جائز وی بياهم هغه د دی شيانو قربانی پيش کوی خوترڅو چی فرض عين نه وی داقربانی د خپل ذات ترحده محدود پاته کيږي د نورو اصحابو د حقوقو قربانی نه کيږي هو که اصحاب حقوق خپل سحقوق په خوشحالی باندی پريږدی نو هغوی د پاره به د اجرًا باعث وی او په دی صورت کی په جهاد يا د عوت په کارکی د شرکت باعث داجر عظيم دی تاسوچی دکوم بزرګ مثال ورکړی دی چی د هغوی خسر مړسوی وو بياهم هغه په سه روزی ولاړو د هغوی په باره کی عرض دادی که د هغوی کور والاؤته د هغوی د تللو په وجه ناقابل برداشت تکليف نه دی سوی نوشرعًا د هغوی د عمل نامه ناجائزنه وو خو په افضل کيدوکی رايې مختلف کيدی سی او خوب څه شرعی حجت نه دی چی د هغه څخه په شرعی حکم باندی استدلال وسی.

داخبره د احقر د ناقص فهم څخه هم بالا ترده چی په تبليغ کی وتلو باندی هميشه د صحابه کرامو د جهاد د واقعاتو څخه د استدلال کول کيږي خوعملاً د جهاد په باره کی طرز عمل دادی چی ګوانکی جهاد څه شرعی فريضه اړونه ده بلکه عملاً دامنسوخ ګڼل کيږي اوپه بعضی اوقاتو کی د جهاد مخالفت هم کول کيږي .

دپورتنيو ارشاداتو دامطلب هيڅکله دی چی زه د تبليغی جماعت مخالفت يم يا داچی د تبليغ کارته اهميت نه ورکوم حقيقت دادی چی د تبليغ کار د ډير احميت حامل دی خاص طور تبليغی جماعت د الله تعالی په فضل سره ډير لوی تعريف قابل کار کړيدی اودی سره امت مسلمه ته ډيره فائده رسيدلی ده خو د کوم کار د اهميت د واضح کولو دپاره داضروری نه ده چی هغه په هرقيمت سره فرض عين وګرځول سی دوهم ترکومه چی د تبليغی جماعت سره مرسته او مدد ضروری دی هلته د بعضی مبالغه اميزه خبرو

اصلاح هم ضروری ده چی د بعضی نوو یاحدودو رعایت ځخه ساتونکی حضراتوځخه کیږي او اوس بعضی اوقات په احکام شریعت کی د تصرف حدته رسيږي الله تعالی دی موږته د خپل دين صحيح فهم او په هغه باندی د عمل کولو توفيق راکړی. امين والسلام

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴۱۸/۳/۲۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۵/۲۲۲)

د ښځو د پاره تبليغی اجتماع کی دشرعت حکم

سوال: ځنگه چی سړی په جومات کی تبليغ کوی دغه شان ښځی هم مبلغی وی د محلی ښځوته دعوت ورکوی د هغوی له طرفه سړی په جومات کی اعلان کوی چی په فلانی ځای کی د ښځو اجتماع ده تاسو حضرات خپلی میندی خوینډی هلته ولیږی د ښځو داشان اجتماع دپاره دغیر محرم کورته تلل جائز دی اوکه نه ؟

جواب: که ښځی د پردی په اهتمام سره تبليغی اجتماع ته ولاړسی نوجائز دی بلکه موجوده حالاتوکی په داسی اجتماعاتوکی د ښځو شرکت ډير مفيد دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۶/۱۱/۱۲ هـ

(فتی نمبر ۲۷/۲۵۵۲ هـ)

پخپله چی ددین پابنده نه وی آیاهغه تبلیغ کولی سی ؟

سوال: يوسړی خو پخپله د دين پابنده نه دی خو هغه تبليغ كوی نو آيا هغه داسی کولی سی ؟

جواب: کولی سی [1] خو پخپله هم د دين د پابندی پوره کوشش کول واجب دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۱/۱۵ هـ

(فتوی نمبر ۸/۱۰۸/۲۸الف)

[1] دتفصیل دپاره معارف القرآن ج:۷ ص: ۴۲۴، ۴۲۵ وگوری :

دحديث له وجی د تبليغ د پريښوولو حكم

سوال: کله چی تاسو وويني چی دحرص اطاعت کول کيږي دنفس د خواهشاتو پيروی کيږي او دنياته په آخرت ترجيح ورکول کيږي اوهر سړی خپله رايی ښه گڼی نوخپل ځان ته فكر كوه او د عوامو فکر پريږدی ايا دغه وخت اوس موجود دی ؟ که موجود دوی نو د عوامو فکر په دی کی کوم امور شامل دی ؟ آیا تبلیغ به پريښوول کيږي ؟

جواب: په مذكوره حديث كی [1] چی د كومی زمانی ذكر دی په ظاهره اوس هغه دورنه دی راغلی اوس لا د دين د تبليغ فريضه ساقطه سوی نه ده په موجوده حالاتوکی تبليغ د فائدی ځخه خالی نه دی.

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحيح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفيع عفا الله عنه

۱۳۸۸/۲/۲۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۹/۳۲۹ الف)

د والدينو د اجازت ځخه بغير تبليغ ياپه بل څه سفر باندی دوتلو حكم

سوال: بنده توبه ټيك سنگهه کی وسيږی يو ډير معتبر عالم بيان وکړی چی حضرت مفتی محمد شفيع صاحب په معارف القرآن کی دا فتوی ورکړی ده چی د والدينو د اجازت ځخه بغير تبليغی جماعت کی تلل جائز دی خوپه معارف القرآن کی د ډير تلاش کولوځخه وروسته هم دا پيدا نه سول غالبًا هغوی ته د کتاب په نوم کی څه مغالطه سوی ده ستاسو طرف ته د رجوع کولو هغوی مشوره راکړی ده په دی وجه ستاسو ځخه درخواست دی که مفتی محمد شفيع صاحب دافتوی ليکلی وه نو د هغه متن سره د استفتاء ځخه وليکی او ورسره د کتاب نوم او د صفحی حواله هم وليکی ځکه چی

[1] وفی التفسير للطبری ج:۷ ص:۹۵ (طبع دارالكفر بيروت) عن ابی امية الشعبانی قال : سلتا ابو ثعلبة الخشبتی كيف نصنع بهذه الاية (ايت) فقال ابو ثعلبة سالت عنها خبيرًا سالت عنها رسول ﷺ ائتمروا بالمعروف وتناهو عن المنكر حتی اذا رايت شحًا مطاعًا وهوی متبعًا واعجاب كل ذی رای برايه فعليك بخويصة نفسك وذروهم فان وراءكم اياما اجر العامل فيها كاجر خمسين منكم الخ اودمذكوره حديث اخری هم معنی كلمات عليك باموخاصة نفسك ودع المرالعامة جامع الترمذی دمشكوة په حواله كتاب الفتن ص: ۲۲۴ (طبع قديمی كتبخانه كی هم موجود دی (مرتب عفی عنه) :

خپل غم اوجذبه

تبليغي حضرات ډير په زوره سره دا شی بيانوی چې په دی وخت کی د دی حضراتو جماعتونو کی تلل تبليغ د پاره نه دی بلکه په دی وخت کی د دوی د کور څخه وتل د دی د پاره دی چې د مسلمانانو څخه ورك دولت چې هغه ته دعوت الی الله وايې دوباره پيداسی او هرمسلمان د حضور ﷺ د زړه غم او جذبه خپل غم اوجذبه جوړه کړه اوهمدی شی ته دا حضرات د دين بنياد وايې چې د دی د نه کيدو په وجه نن ښکاره د الله تعالی احکام ماتول کيږي او سنتونه پامال کول کيږي او داهم وايې چې د حالاتو په وجه کوم سړی ته د والدينو او ښځی او بچو د حقوقو له وجی کورکی کښېني نستل ناجائزدی او د خپلی خبری په حق کی دا دلائل پيش کوی چې هغه ټول صحابه کرام چې خپل والدين او ښځی او بچی يې په افاقوکی په پريښوولو سره د کورونوڅخه وتلی وو ايا هغوی غلطی کړه وه ؟ په دی سلسله کی بی شماره واقعات پيش کوی او تردی وايې چې آيا نعوذ بالله حضور ﷺ هغوی ته غلط حکم ورکړی وو ؟ په دی سلسله کی د قرآن پاك آيتونه پيش کوی د مثال په ډول باندی (کُنتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ...) الخ (اِنفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالاً ....) قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَاءُكُمْ وَاَبْنَاءُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وغيره وغيره.

زما په شان حضرات د دوی د ادرا څخه دليل اوريدلو سره خاموشه کيږي اوس مخکی ورځوکی يوصاحب بيان وکی چې د مسلمان د عوت نه ورکول په ټول انسانيت ظلم دی مطلب دادی چې د کومو شيانو له وجی دا د دعوت ورکولو څخه منع کيږی هغه ته به هم ظلم وايې براه کرم د دی وضاحت وکړی ورسره که داکار حق وی د کومی وجی حق دی يعنی نفلی عبارت په زمره کی دی يا د سنت اوکه واجب ؟ يا په موجوده حالت کی د ټولو فرائضو څخه زيات لوی فرض دی ؟

جواب: د والد ماجد حضرت مولانا مفتی محمد شفيع صاحب هيڅ فتوی دی د اطلاق سره د احقر په علم کی نسته هسی خو مسئله داده که والدين تنګدسته وی او د ځوی د څه سفر د تلو په صورت کی د هغوی د خرڅ انتظام نه وی ياضعيف اوبيماران وی او د هغوی د خدمت اوخبر ګيری د پاره بل څوك موجودنه وی نوبيا خو د هغوی د اجازت او مرضی خلاف هيڅ سفر کی تلل هم جائز نه دی خواه که هغه سفر د تبليغ وی يا د علم د تحصيل يا د حج وغيره وی خوکه د هغوی د خرڅ هم انتظام سته اوخبر اخستو والاهم موجودوی نوپه داسی صورت کی فقهاؤ د سفر اجازت ورکړی دی چې په هغه کی د هلاکت غالب ګمان نه وی په دی حال کی که د والدينو د اجازت څخه بغير هم يو د تبليغ په سفر باندی ولاړسی نوانشاء الله ګناه به نه وی.

قال محمد فی السير الكبير اذا اراد الرجل ان يسافر الی غير الجهاد التجارة حج اوعمرة وكره ذالك ابواه فان كان يخاف الضيعة عليهما بان كانا معسرين ونفقتهما عليه وماله لايفی بالزاد والرحلة ونفقتهما فانه لايخرج بغير اذنهما وان كان لايخاف الضيعة عليهما بان كانا مؤسرين لم تكن نفقتهما عليه.

ان كان سفراً لايخاف علی الولد الهلاك فيه كان له ان يخرج بغير اذانها وكذا فی الجواب فيما اذا خرج للفقه (عالمګيريه ج: ۵، ص: ۳۶۵ كتاب الخطر والاباحة باب ۲۶) (۱).

البته که داسفر داسی خطرناك وی چې په هغه کی د هلاکت انديښنه وی مثلاً جهاد (په دی شرط چې نفير عام نه وی) يا په سخته ګرمی يايخنی کی پيدل په صحراګانو کی يا د غرونو سفر وی نوپه دی کی د والدينو اجازت ضروری وی شمس الائمه سرخسی فرمايې لان بر الوالدين وترك مايلحق الضرر والمشقة بهما فرض عليه عينا والجهاد فرض علی الكفاية اذا لم يقع النفير عامًا فعليه ان يقدم الاقوی وفی خروجه الضرر والمشقة بهما فان المجاهد علی خطر فی التمكن من الرجوع شرح البر الكبير ج: ۴ ص: ۲۸) (۲) په صورت کی علامه سرخسی داحديث هم نقل کړی دی چې يوسړی د حضور ﷺ په مخکی حاضر سو اوعرض يې وکړی چې زه تاسو سره د جهاد کولو د پاره راغلی يم او والدين می په ژړا باندی پريښی دی اوراغلی يم حضور ﷺ وفرمايل چې بيرته ولاړسه اوخنګه چې دی هغوی په ژړا باندی پريښی راغلی يې اوس ولاړسه او هغوی وخندوه (ايضًا ج: ۱۲۸) : (۳)

---

(۱) (طبع مكتبه رشيديه كويته). شرح سير الكبير رقم المسئله : ۲۱۲، ۱۲ ج:۱ ص ۱۹۲ (ناسر مولانا نصر الله منصور) وفی الدر المختار كتاب الجهاد ج:۴ ص ۱۲۴، ۱۲۵ (طبع سعيد) لايفرض علی صبی وبالغ له ابوان او احدهما لان طاعتهما فرض عين وقال عليه الصلوة والسلام للعباس بن مردا لما اراد الجهاد الزم امك فان الجنة تحت رجل امك سراج وفيه خطر الاباذنها ومالا خطر فيه يحل بلا اذن وفی الشامية (قوله فيه خطر) كالجهاد وسفر البحر والخطر، الخ (قوله ما لاخطر) كالسفر للتجارة والحج والعمرة يحل بلا اذن الا ان خيف عليهما الضيعة سرخسی.

(۲) ايضًا.

(۳) شرح سير الكبير رقم المسئله : ۲۱۲، ۱۲ ج:۱ ص ۱۹۲ (ناسر مولانا نصر الله منصور) وفی الدر المختار كتاب الجهاد ج:۴ ص ۱۲۴، ۱۲۵ (طبع سعيد) لايفرض علی صبی وبالغ له ابوان او احدهما لان طاعتهما فرض عين وقال عليه الصلوة والسلام للعباس بن مردا لما اراد الجهاد الزم امك فان الجنة تحت رجل امك سراج وفيه خطر الاباذنها ومالا خطر فيه يحل بلا اذن وفی الشامية (

کومو صحابه کرامو ﷺ چی به والدین پریښوول او جهاد ته به تلل نو هغه خوبه یا د نفیر عام په وجه یا د حضور ﷺ په خصوصی حکم سره او یا به د والدینو په اجازت او رضامندی سره تلل او که عام سفر کی به تلل وو نو د هغوی د خبرګیری پوره انتظام به یې کوی اوتلی به.

خلاصه داده چی نه خو علی الاطلاق داویلی سی تبلغی سفر په هیڅ حال کی د والدینو د اجازت څخه بغیر جائز نه دی اونه داویلی سی چی په هرحال کی جائز دی بلکه د دی تفصیل هم هغه دی چی لوړ تیرسو حکیم الامة حضرت مؤلانا اشرف علی تهانوی صاحب قدس سره هم په حقوق الوالدین (١) کی هم داتفصیل بیان کړی دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷\۲\۱۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۸\۲۲۲ الف)

په تبليغ کی وخت لګولو سره حقوق العابد اداء کول لازم دی

سوال: په تبلیغی جماعت کی دوخت لګولو شرعی حیثیت څه دی ؟ او د دی کار څنګه دی ؟ او ورسره د دین د تبلیغ شرائط څه دی ؟ او د حقوق العباد دادایګی څه حکم دی ؟

جواب: د تبلیغی جماعت کار مفید دی البته د دین د تبلیغ شرائط د کوم عالم دین څخه معلوم سی او د هغه مطابق عمل وکړی او د حقوق العباد د د ادائیګی دی پوره اهتمام وسی.

والله اعلم بالصواب

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفی عنه

۱۳۸۷\۱۴\۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۰۰\۱۸ الف)

د بعضی تبلیغی واعظانو د طرفه غیر محتاط خبرو په وجه تبلیغی جماعت پریښوول

قوله فيه خطر كالجهاد وسفر البحر والخطر، الخ (قوله ما لاخطر) كالسفر للتجارة والحج والعمرة يحل ملا اذن الا ان خيف عليهما الضيعة سرخسي.

(١) وګوری امداد الفتاوی ج:۴ ص: ۴۸۵ (طبع مکتبع دارالعلوم کراچی).

سوال: تبلیغ چی دخاکسار په نزد صحیح هم دی په دی کی څه سړیان واعظ د وعظ په مینځ کی د شرك خبری کوی چونکی په جماعت کی اکثره خلګ انپړه وی په داسی حالاتو کی د هغوی سره تلل پکار دی او که نه ؟

جواب: تبلیغی جماعت سره دین ته مجموعی طور باندی لویه نفق رسیږی په دی کی شریك کیدل بهتر دی البته بعضی اوقات د جماعت امراء عالمان نه وی، ځکه د هغوی دخلی څخه غیر محتاطی خبری وځی په داسی موقعه هغوی په نرمی ومحبت سره پوهد کول پکار دی او که هغوی په خبره باندی پوه نه سی نو د جماعت مشرانو ته رجوع کولوسره د هغوی په ذریعه دی پوه سی خو په دی وجه د جماعت نه دی پریښوول پکار.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۲\۱۱\۲۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۷\۲۷۵۵ و)

﴿كتاب التصوف والكشف والالهام والرؤيا﴾

د تصرف کشف الهام او خوبونو متعلق دمسائلو بيان

د شيطان په خوب کی د حضور ﷺ اقدس په صورت کی نه راتلل

سوال: شيطان درسول الله ﷺ په شکل مبارك کی نسی راتلی خو ايا شيطان په يوبل صورت کی راتلو سره د دی وينا طاقت لری چی نعوذ بالله دا ووايي چی زه رسول يم يا د دی وينا طاقت نه لری د دی وضاحت وکړی ؟

جواب: شيطان د حضور ﷺ په صورت او حليه مبارك نسی راتلی [1] خو د بل چا په صورت کی راتلو سره دهوکه ورکولی سی يعنی دا د روغجنی دعوه کولی سی چی زه يافلانی سړی رسول دی ان الشيطان قدياتی النائم فی صورت مامن معارف الرايي وغيرهم فيشيرله الی رجل الاخر هذا فلان النبی وهذا الملك الفلانی اومن اشبه هٰؤلاء ممن لايمثل الشيطان به فيوقع اللبس علی الرایٔ بذالك (الاعتصام للشاطبی ج:۱، ص: ۲۱۲). [2]

والله سبحانه اعلم

(۱۳۹۷\۶\۱۳)

(فتوی نمبر ۲۸\۵۹۱ ب)

د بزرگ سره د ملاقات په موقعه خپله خپل لاس مچول

سوال: ديوعالم دين يا بزرگ سره ملاقات کولوڅخه وروسته پخپله خپل لاس مچول جائز دی اوکه نه ؟

جواب فی الدرالمختار وكذا مايفعله الجهال من تقبيل يدنفسه اذا الفی غيره فهو مكروه فلارخصة فيه (شامی خطر واباحت ج:۵ ص: ۳۳۵) [3] د دی عبارت څخه معلوميږي چی د بل چاسره د ملاقات په وخت خپل لاس مچول مكروه تحريمی دی

---

[1] عن ابی هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من رايي فی المنام فقد رايی فان الشيطان لايتمثل بی وفی رواية فی صورتی، متفق عليه مشكوٰة المصابيح ج:۲ صـ ۳۹۴ وانظر فی جامع الترمذی باب ماجاء فی قول النبی ﷺ من رانی فی المنام فقدرانی ج:۲ صفحه (۵۲) طبع مير محمد كتب خانه. همدارنگه وګوری امداد الفتاوی ج:۵ صـ ۲۴۳، ۲۴۵).

[2] الاعتصام للشاطبی ج:۱ ص: ۲۲۳ (طبع دارالمعرفت بيروت)

[3] الد المختار حضر واباحت ج:۶ ص: ۳۸۳ وفی مجمع الانهر شرح الملتقی الابحر ج:۴ صـ ۲۰۵ (طبع دارالكتب العلمية بيروت) كتاب الكراهية وتقبيل يد العالم فی الدر المنتقی تحية ان لنبل الدنيا كره كتقبيل يدنفسه اويد صاحبه.

البته د کوم بزرگ لاس کله کله د تبرک په قصد مچ سی نو په دی می څه خبره نسته کما فی الدر (۱).

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع

۱۳۸۸/۱/۱۹ھ

(فتوی نمبر ۱۹/۱۲۹الف)

دکشف قبور او انوارو او تجلیاتو د مشاهدی شرعی حیثیت

سوال: مولانا الله یارخان صاحب خپل خلیفه حافظ عبد الرزاق صاحب نوشکی ضلع چاغی ته یې لیږلی دی دا د هغوی زوړ مرید دی د مولانا الله یارخان مسلك مختصراً په لاندی ډول دی:

۱: په تصوف کی نقشبندی او یسی سلسله.

۲: کشف قبور دعوی سره فرمایې په شپږو میاشتو کی دننه هرڅه موړ ورته ښایو او روحانی طور باندی براه راست د نبی کریم ﷺ سره ملاقات وغیره.

۳: کشف قبور په دی وخت یومرده سنت ګرځول سوی دی خوك چی ددی داحیاء کوشش کوی هغه ته به دسلو شهیدانو اجر ورکول کیږی په دی طریقه کی شمولیت اختیارول څنګه دی؟ آیا روحانی تربیت د حضرت او ویس قرنی رحمة الله علیه څخه په شریعت مطهره کی جائز دی اوکه نه؟

جواب: کشف قبور او د بعضی انوارو او تجلیاتو مشاهده د الله تعالی ته طرفه خپل کوم بنده ته وسی نوممکن هم ده او په دی کی د شریعت خلاف څه خبره هم نسته البته دا شیان په شریعت او طریقت کی مقصود نه دی (۲) مقصود دسنتو اوشریعت اتباع او د اعمالو او اخلاقو اصلاح ده داشان کشف وغیره مقصود جوړول یاسنت ګرځول بدعت دی اوکوم خلګ چی دامقصود ګڼلو سره کوی د هغوی د صحبت څخه پرهیز کول پکار

(۱) وفی درالمختار مع ردالمختار ج:۲ صـ ۳۸۳ (ولاباس بتقبیل ید) الرجال (العالم) والمتورع علی سبیل التبرك الخ.

(۲) دتفصیل دپاره وګوری شریعت وطریقت صـ ۲۷۷ شریعت او تصوف صـ ۲۷۱ کشف الحقیقت ۶۵ صـ ۱۱۰ تعلیم الدین صـ ۸۵، ۷۰.

دی د هغوی په ځای داسی شیخ اختیار کړی چی دسنتو متبع وی او د اعمالو او اخلاقو د اصلاح فکر کوی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۱۰/۱۲/۲۲ھ

(فتوی نمبر ۳۲/۱۲۱۱ج)

بغیر د عمل څخه د الله تعالی څخه د مغفرت حسن ظن ساتل

سوال: دالله تعالی څخه دمغفرت حسن ظن بغیر دعمل څخه ویلو څه حکم دی؟ بالخصوص فرائض شرعیه مثلاً لمونځ چی د هغه هرانسان مکلف دی پریښوولو سره حسن ظن ساتل صحیح دی اوکه نه؟ د داسی نظریې د ساتلو والاسړی څه حکم دی؟ اوهغه داهم وایې چی الله تعالی ته زموږ د عبادت ضرورت نسته هغه به موهم داسی معاف کړی.

جواب: د الله تعالی د ذات څخه دمغفرت حسن ظن ساتل ښه خبره ده خو د دی حق هغه سړی ته حاصل دی چی د الله تعالی د احکامو پابندی کوی (۱) په دی خیال فرائض شرعیه پریښوول لویه ګناه ده (۲) الله تعالی د عبادت محتاج نه دی خوانسان دخپل نجات اوفائدی د پاره د هغه د عبادت محتاج دی که صرف داحسن ظن کافی دی نو الله

(۱) ایضاً.

(۲) وفی جامع الترمذی ج:۴ صـ ۲۳۸ (طبع دارالاحیاء التراث العربی بیروت) باب ۲۴۵۹ عن شداد بن اوس عن النبی ﷺ قال الکیس من دان نفسه وعمل لما بعد الموت والعاجز من اتبع نفسه هواها وتمنی علی الله قال هذاحدیث حسن ومعنی قوله من دان نفسه یقول حاسب نفسه فی الدنیا قبل ان یحاسب یوم القیامة وفی الترمذی ایضاً ج:۲ صـ ۲۴ (طبع ایچ ایم سعید) باب ماجافی حسن الظن بالله تعالی عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله تعالی یقول انا عند ظن عبدی بی وانا معه اذا دعانی هذا حدیث حسن صحیح وفی تحفة الاحوذی ج:۴ صـ ۵۴ (طبع دارالکتب العلمیه بیروت) ای انا اعامله علی حسب ظنه وافعل به مایتوقعه منی خیر اوشر والمراد الحث علی تغلیب الرجاء علی الخوف وحسن الظن بحسن الظن بالله وقال القرطبی فی المفهم معنی ظن عبد بی ظن الاجابة ثم الدعاء وظن القبول ثم التوبة وظن المغفرة ثم الاستغفار وظن المجازت ثم فعل العبادة بشروطها نسکا بصادق وعده قال ویؤیده قوله فی الحدیث الاخر: ادعو الله تعالی وانتم موقنون بالاجابة قال لذالك ینبغی للمرآن یجتهد فی القیام بما علیه موقنا بان الله یقبله ویغفرله لانه وهذا بذالك وهو لایخلف المعاد قال واماظن للمغفرة مع الاسرار فذالك محض الجهل والفرت وهو یجر الی مذهبا الموجئة..... الخ (محمد زبیر)

تعالی دقرآن اوحدیث په ذریعه ددومره احکام رالیږلو څه ضرورت وو ؟ اوحضور ﷺ دلمونځ دومره تاکیدول کولو دغه سړی ته پکار دی چی د خپلو دی خیالاتو څخه توبه وباسی.

والله اعلم وعلمه اتم واحکم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه بنده محمد شفیع عفی عنه

۱۳۸۷۱۱۰۱۲۶

فتوی نمبر ۱۸۱الف

د شیخ طریقت د پاره څه شرائط دی ؟

سوال: د شیخ طریقت څه شرائط دی او د مجتهد څه شرائط دی ؟

جواب: د شیخ طریقت د پاره ډیر شرائط دی چی د هغه تفصیل دلته مشکل دی مختصر داچی کوم کامل شیخ طریقت هغه ته د بیعت کولو اجازت ورکړی وی د تفصیل د پاره وګوری قصد السبیل د حضرت تهانوی رحمة الله علیه او آداب شیخ المرید د حضرت مولانا محمد شفیع صاحب او د مجتهد د پاره هم ډیر شرائط دی چی د هغه تفصیل د فقهی د اصولو په کتابونوکی به مذکور کی.

۲ سوال: د شریعت طریقت او حقیقت او معرفت څه تعریف دی ؟

جواب: د دی جواب هم تفصیل طلب دی تعلیم الدین یا قصد السبیل یاشریعت اوطریقت تهانوی صاحب تصانیف مطالعه کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۶۱۱۲۱۲۳ هـ

(فتوی نمبر ۲۷۱۲۸۲۶و)

د خوب د وجی د قبر سپړدل

سوال: زمالور چی د هغه نوم عظیمه عرف (چهوګړیا) وه چی هغه می د لانډهی مل اریا په ادیره کی دفن کړی وه هغه ته ډیر تکلیف پریوتی خیر داخو دخدای خوښی وه د هغه عمر پنځه کاله وو زماسره یي ډیر محبت کوی لس ورځی یې د مرګ سوی دی خوماته په خوب کی مسلسل راځی زما په غوږکی د اواز شرینګیږی چی بابا زه ژوندی یم ما د باندی را وباسی نن مؤرخه ۱۲۱ شعبان ما د څه ملګرو سره د هغه د قبر د سر والا کانی

اخواکی نو ولی لیدله چی هغه هم هغه شان بیده وه زماڅخه علاوه دهغه مخ چاهم نه دی کتلی ایا د دی به کفاره څه اداء کول وی ؟

جواب: د دغه شان خوبونو له وجی د قبر سپړودل شرعًا بالکل جائز نه دی (۱) او داسی کولوسره تا د ګناه ارتکاب کړی دی اوس د دی کفاره هم داده چی د زړه په اخلاص سره توبه او استغفار وکړی.

والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۳۹۷۱۸۱۲۳

(فتوی ۲۸۱۱۲۶ج)

د خوب قسمونه او په خوب کی د شیطانی خیالاتو او اوهام اودریښتونی خوب په مینځ کی د فرق تدبیر

سوال: انسان د خوب په عالم کی څه نظاری ګوری د دوو حالو څخه خالی نه دی روحانی یاتخیلی که اول شوق دی نوکوم پردی یا پیژندګلو والا بزرګان کتل او خبری کول کوم پردی مړی سره د قبر څخه یاپیژندګلو سره لین دین یاخوشحالی یا په غم کی لیدل خبری کول کومه پردی ښځه یا د پیژندګلو په اجنبی مقام یامشهور ځای کی لیدل خبری کول صحبت کول ورسره ماشوم ځوان بوډا کی خو فرق نسته او ایا دا واقعتًا همداسی وی د معلوموملو امر دادی که واقعی د روح خپل جسم نه وتلو سره چیری تلل درست وی نو د روح په صحبت سره به جسم کی حرارت او لذت محسوسول څنګه دی ؟ او آخری شق دی نو انسان چی په ویښه باندی څومره خپل خیال وځغلوی نوهغه ته د اجنبی ښځی اجنبی بزرګانو خیال راځی او نه د څه شی خوړلو سره یا صحبت کولو سره حرارت او لذت محسوسیږی که خوب د نبوت دڅلویښتمی حصی څخه یوه حصه ده نو په بعضی خوبونوکی دشیطانانو او د جناتو له طرفه هم وی چی په دی کی دافرق کولوڅه معقول تدبیر ولیکی؟

(۱) وفی الاعتصام للشاطبی ج:۱ ص ۲۶۰ (طبع دارالمعرفت بیروت) ان الرؤیا من غیر الانبیاء لایحکم بها شرعًا علی حال الا ان تعرض علی ما فی ایدینا من الاحکام الشرعیة فان سوغتها عمل بمقتضاها و الا وجب ترکها والاعراض عنها وانما فایدتها البشارة او النذارة خاصة واما استفادة الاحکام فلا الخ همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج:۱ ص ۵۴۰.

جواب: بعضي خوبونه د الله تعالى له طرفه وي او دا رېښتوني خوبونه وي ته په حديث کې د نبوت شپږ څلوېښتمه حصه ويلې وه (۱) او بعضي خوبونه د شيطانانو له طرفه وي چې په هغه کې عمومًا فسق فجور یاګندګیانی په نظر راځي او بعضي محض خيالات وي (۲) او چونکې په دې دروسرو کې د فرق څه یقیني صورت موجود نه دی ځکه په دین کې خوب حجت نه دی (۳) اوپه خوب کې د روح تعلق د جسم سره باقي وي ځکه د روحاني لذت والا خوب اثر جسم هم محسوس کوي.

الله اعلم

۱۳۹۷\۲\۲۵

(فتوى نمبر ۲۵۴ \۲۸ ب)

آيا د بېنګ د ملازم کېدو با وجود شيخ کامل جوړيدی سی ؟

سوال: يوسړی دکوم شيخ کامل سره منسلك دی هغه په کوم بېنك کې يا په قسم د بېنك کې ملازمت کولوسره د الله تعالى مقرب بنده جوړيدی سی ؟ او د هغه په ذمه باندې د الله تعالى د اړخه درشد هدايت څه ديني خدمت حواله کيدی سی اوکه نه ؟

---

(۱) وفى جامع الترمذى باب ان الرؤيا المؤمن جزء من ستة واربعين جزء من النبوة ج:۲ صـ ۵۱ (مير محمد کتب خانه) عن عبادة بن الصامن ان النبى ﷺ قال : رؤيا المؤمن جزء موستة وروسته اربعين جزء من النبوة.

(۲) او د خوب دا درې قسمونه (يعنى د رؤيايې صادقه او د شيطان دطرف څخه راتلونکی خوبونه اومحض خيالات) ذکر په دې حديث کې راغلی دی: عن ابى هريرةؓ قال قال رسول الله ﷺ اذا اقترب الزمان لم تکد رؤيا المزمر تکذب واصدقهم رؤيا اصدقهم حديثًا ورؤيا المسلم جزء من ستة واربعين جزء من النبوة والرؤيا ثلاث فالرؤيا الصاحة سوى من الله والرؤيا من تحزين الشيطان والرؤيا رؤيا يحدث الرجل نفسه فاذارى احدکم مايکره فليقم واليتفل ولايحدث بالناس قال واجب القيد والنوم وکره الغل القيد ثبات فى الدين هذا حديث صحيح جامع الترمذى باب ان الرويا المؤمن جزء من ستة واربعين جزء من النبوة ج:۲ صـ ۵۱ (طبع مير محمد کتب خانه)

(۳) وفى الاعتصام للشاطبى ج:۱ صـ ۲۲۰ (طبع دار المعرفت بيروت) ان الرؤيا من غير الانبياء لايحکم بها شرعًا على حال الا ان تعرض على مافى ايدينا من الاحکام الشرعية فان سوغتها عمل بمقتضاها والا وجب ترکها والاعراض عنها وانما فائدتها البشارة او النذارة خاصة واما استفادة الاحکام فلا الخ همدارنګه وګورى امداد الفتاوى ج:۱ صـ ۵۴۰ سوال: نمبر ، ۲۶ .

جواب دبېنك ملازمت ناجائزدی (۱) کوم بل ملازمت دی تلاش کړي اوتر څوچې بل ملازمت د کوشش با وجود پيدا نسي نودا ملازمت دی بدګني او پدی کې دی لګيا اوسی اوڅنګه چې ورته بل ملازمت پيداسی دا دی پرېږدي په دی دوران کې عام ديني خدمات ورکولی سی خو د مرشد او مربي منصب داملازمت باقي ساتلو سره نسي حاصليدلی.

والله اعلم

الجواب الصحيح احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه بنده محمد شفيع عفا الله عنه

۱۳۸۸\۲\۲هـ

(فتوى نمبر ۲۴۹ \۱۹ الف)

د يوخوب حقيقت

سوال: څه وايې علمايې دين په دې مسله کې چې زيد وايې چې زما پلارته په کثرت سره رېښتوني خوبونه راځي او زما د پلار د حضور ﷺ سره بی انتها محبت اوعشق اوتعلق دی چې د هغه مثال به په عالم کې کم پيداکيږي والد صاحب بيمارسو نو خوب يې وليدي چې حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته بيمارېږې خو زه هم بيمارېږم ستا په سرچې درد وي نو زما په سرهم درد وي اوس سوال دادی چې آيا داسي سوال د يقين قابل دی ؟ او دا الفاظ حضور ﷺ ته منسوب کول په شريعت کې څه حکم لري عند الله مې د دې جواب څخه خبردار کړې او د دې ذهني پريشانۍ څخه راته نجات راکړه ؟

جواب: نه د يقين کولو ضرورت دی او نه د انکار کولو که کوم مسلمان ته داشان خوب راسي نوپدې کې څه بُعد نسته، پاته سوه دامعامله چې آيا واقعتًا داشان خوب چليدلی دی اوکه نه ؟ د دی د معلومولو څه يقيني ذريعه بغير د کتونکی د قابل اعتماد کيدوڅخه نسته که قابل اعتماد وي نوتصديق يې هم کولی سی او داخه داسي مسئله هم نه ده چې ايمان پرې راوړل واجب وي ځکه که څوك پرې يقين ونکړي نوبياهم هغه د ملامتيا هدف نسي جوړولی.

والله اعلم

۱۳۹۹\۹\۲۹هـ

---

(۱) د بېنك د نوکری اقسام او دهغه دحکم متعلق فتوى انشاء الله (کتاب الاجارة کی به په خپل ځای راسي. (محمد زبير)

(فتوی نمبر ۱۲۵۹\۳۰و)

د قطب او ابدال حقیقت او آیا په مځکه باندی څلور قطبه وی ؟

سوال: څه خلگ وایې چې مځکه څلور قطبه دی چې د مځکی په څلورو حصو باندی وسیږی او همدا سلسله چلیږی داقطب د مځکی حفاظت کوی ایا داصحیح دی ؟

جواب: اقطاب او ابدال د تکوینیانو اصطلاحات دی چې د هغه حقیقت هم الله ته معلوم دی په قرآن او حدیث کی هم د دی تفصیلات نسته البته د صوفیاپې کرامو او د دین د بزرگانو مکاشفات او تجربی دی (۱) چې د هغه تردید هم نسی کیدی خو د دین په کومی مسئلی باندی عمل یاعقیده ددی اصطلاحاتو په پیژندلو یاتسلیم کولو باندی موقوف نه ده.

والله اعلم

۱۳۹۶\۱۲\۲۸هـ

(فتوی نمبر ۲۷۵۵\۲۷و)

دسلسله قادریه په افرادوکی د شیخ عبدالقادر جیلانی د روح د حلول عقیده

سوال: ایا دحضرت عبد القادر جیلانی روح دسلسله قادریه په سرپانوکی حلول کولوسره خبری کولی سی ؟ که نسی کولی نو د داسی ویونکی اوعقیده ساتونکی څه حکم دی ؟

جواب: دحلول داعقیده د اسلامی قطعی طور باندی خلاف ده داسی.

والله اعلم

۱۳۹۷\۲\۱۴هـ

(فتوی نمبر ۱۲۳۰\۲۸ب)

---

(۱) د قطب ابدال اونورو القابو متعلق تحقیق اوتفصیل دپاره دعلامه سیوطی رساله الخبر الدال علی وجود القطب والاوتاد والنجباء والابدال او د حضرت امام ربانی کتاب معارف لدنیه وگوری. (محمد زبیر)

کتاب الذکر والدعای والتعویذات

د ذکر دعاء اوتعویذاتو په بیان کی

دعاء څه قسم عبادت دی

سوال: دعاء عبادت ده اوکه دعاء عبادت وی نو دکوم قسم دعاء د ټولو عبادتونو خطا ښوول کیږي د حدیث په رڼاکی د ټولو عبادتونو خلاصه ده که په ناپوهی سره یوانسان د عبادتونو خلاصه ګڼلو سره د دعاء عبادت تصورنه کړی ؟

جواب: دعاء عبادت هم دی [1] او د عباداتو خطاهم [2] لهٰذا داعبادت ګڼل درست دی خو د دی مطلب دانه دی چی نور عبادتونه ونسی بلکه څومره عبادتونه چی دی الله تعالی او د هغه رسول ښوولی دی په هغه ټولو حسب مراتب عمل پکار دی چی د هغه څخه دعاء هم ده.

والله اعلم

۱۳۹۷\۲\۹هـ

(فتوی نمبر ۲۸\۱۴۰ الف)

د عزت حاصلولو د پاره د (یاعزیز) وظیفه ویل

سوال: دمجموعه وظائف په صفحه ۱۵۵ باندی درج دی الاسم الخاص عزیز یولاکه واره په توجه سره ووایه یعنی مطلب د دی په اصطلاح د تصوف کی دادی چی ای الله ما د خپل عزت په واسطه پخپل عزتمندو سرپانوکی داخل کړی د عزت والاکار ماته راکړی (۲) ماته عزت راکړی د عزت مندو بنده ګانو په ډله کی می داخل کړی که یاسره یې وایې نو یاعزیز بغیر دتنوین څخه وایی برنی وظیفه ویلی سم اوکه نه ؟ که زه یې په یووار یولاکه دفعی ونه ویلی سم نوڅه متبادل طریقه سته ؟ د وظیفی ویلو په مینځ کی څه احتیاطی تدابیر اختیار سی ؟

جواب: د پورتنیو مقاصدو د پاره د یاعزیز وظیفه ویلوکی شرعًا څه حرج نسته اوشرعی اعتبار سره د دی څه خاص مقدار مقرر نه دی د عملیاتو په نقطه نظر سره که یولاکه واره وویل سی نوڅه خبره نه ده او د دی دطریقی په باره کی کوم عامل سړی ته رجوع وکړه.

---

[1] الدعاء هو العبادة صحیح ابن حبان ج:۲ صـ ۱۲۴ (طبع دارالکتب العلمیه بیروت)
[2] ومشکوة المصابیح ج:۱ صـ ۱۹۴ (طبع قدیمی کتبخانه)
[3] قال رسول الله ﷺ : الدعاء مخ العبادة رواه الترمذی مشکوة المصابیح کتاب الدعوات جلد ۱ص: ۱۹۴)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷\۲\۹هـ

(فتوی نمبر ۲۸\۵۲۳ب)

ذکر جهرًا افضل دی اوکه سرًا

سوال: د دیارلسم محرم الحرم په رساله خدام الدین لاهور کی دالیکلی دی چی ذکر جهری د مبتدیانو د پاره دی او د دی ګنی فائدی دی مثلاً ژبه زړه دماغ متوجه کیږي اوخیال د غیر طرفته نه ځی ځکه چی الله تعالی دلوبوکوونکو ذکر نه قبلوی او منتهی دوه قسمه ذکر کوی خو د مبتدیانو د پاره هم دایوه طریقه ده ځکه چی ابتداء کی یکسوئي نه حاصلیږي او ورسته د تربیت کولو د وجی حاصلیږي په دی باندی زما یو ملګری وویل چی دابدعت دی ما دلویو لویو علماؤ ثبوت ورکړی خو هغه وویل چی دابدعت په پاکستان اوهندوستان کی دی د حضور ﷺ په زمانه کی داشیان نه وه ؟ آیا که جهرًا اوسرًا دواړه جائزدی نوپه دی کی افضل کوم یودی ؟

جواب: په دی مسئله کی دمحققو علماء مسلك دادی چی ذکره دواړه قسمه جائز دی سرًا هم اوجهرًا هم بیا د مختلفو حالاتو او مواقعو په اعتبار سره افضلیت بدلیږی رابد لیږي چیری په مزه ذکر کول افضل دی او چیری جهرًا لهٰذا که کوم د شریعت پابند شیخ کامل که د مرید د حالاتو پیش نظر جهری ذکر د پاره یې ورته وویل نوهغه د جهری ذکر کول جائز دی خو په دوو شرطونو سره اول داچی د ده جهری ذکر د چاپه خوب کی خلل یا د بل څه معنوی تکلیف موجب نه وی دوهم داچی جهرًا ذکر عبادت مقصوده ونه ګڼی بلکه دا د علاج په طور اختیار سی ستا د دوست جهری ذکرته بدعت ویل درست نه دی په قرآن اوحدیث کی هم د جهری ذکر ثبوت پیداکیږی په قرآن کریم کی دی ﴿وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّٰهِ اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ﴾ (سورةالبقر: ۱۱۴)

ظاهره ده چی دجهری ذکر څخه منع کول د ذکر د اطلاع څخه بغیر ممکن نه دی د دی څخه علاوه په صحیح مسلم کی حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه روایت کړی دی چی حضور ﷺ د لمانځه څخ وروسته په لوړ آواز سره لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. [1] ویل دغه شان د نورو ګنو روایاتوڅخه دجهری ذکر ثبوت پیداکیږی تفصیلی دلایل د حضرت مولانا اشر فعلی تهانوی صاحب رحمة الله علیه

---

[1] الصحیح للمام المسلم باب استحباب الذکر بعد الصلوة ج:۱ صـ ۲۱۸ (طبع قدیمی کتبخانه)

په امداد الفتاوی ج:۵ ص ۱۵۹ (مطبوعه کراچی) (۱) کی د کتاب السلوك لاندی بیان کړی دی.

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸\۱\۲۹هـ

(فتوی نمبر ۱۹\۱۷۵ الف)

(لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِیْکَ لَهُ اَحَدً صَمَدًا) والا حدیث صحیح دی اوکه نه ؟

سوال: ایا داحدیث صحیح دی (لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِیْكَ لَهُ اَحَدً صَمَدًا) اوپه کوم کتاب کی دی ؟

جواب: پورتنی ذکر سوی الفاظ حافظ عبد العظیم منذری په الترغیب والترهیب (۱) کی د طبرانی په حواله نقل کړی دی حدیث راوی حضرت عبد الله بن ابی اوفي دی اوپه

(۱) امداد الفتاویٰ ج: ۵ ص: ۵۱، ۵۵ او د دواړو قسمه ذکر جواز او د ذکر جهو متعلق څو فقهی عبارات دادي: وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۳۹۸ (الحظر والاباحة) وقد حور المسئلة فی الخیریة وحمل مافی فتلوی القاضی علی الجهر المضر وقال: ان هناك احادیث اقتضت طلب الجهر واحادیث طلب الاسواد والجمع بینهما بان ذالك یختلف باختلاف الاشخاص والاحوال فالاسرار افضل حیث خیف الریأ او تأذی المصلین او النیام، والجهر افضل حیث خلا مما ذکر لانه اکثر عملاً ولتعدی فائدته الی السامعین ویؤقظ قلب الذاکر فیجمع همه الی الفکر ویصرف سمع الیه ویطرد النوم ویزید النشاط، وکذا فی الفتاوٰی الشامیة ج: ۱ ص: ۲۲۰، وفی الفتاوٰی الخیریة ج: ۲ ص: ۱۸۱ (طبع بولاق مصر) والجمع بینهما بان ذالك یختلف باختلاف الاشخاص والاحوال کماجمع بین الاحادیث الطالبة للجهر بالقرائة والطالبة للاسرار بها ولایعارض ذالك خیر الذکر الخفی لانه حیث خیف الریأ او تأذی المصلین او النیام والجهر ذکر بعض اهل العلم څخه افضل حیث خلا مماذکر لانه اکثر عملاً ولتعدی فائدة الی السامعین الخ، وفی حاشیة للطحاوی علی مراقی الفلاح ج: ۱ ص: ۴۳۱ (طبع مکتة الاسد) دمشق وفی طبة قدیمی کتب خانه ۱۷۴، اختلف اهل الاسرار فی ذکر افضل؟ فقیل نعم لاحادیث کثیر تدل علیه منها خیر الذکر الخفی وخیر الرزق مایکفی ولان الاسرار بلغ فی الاخلاص واقرب فی الاخلاص واقرب الای الاجابة، وقیل الجهل افضل لاحادیث کثیرة منها مارواه ابن الزبیر کان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلاته قال بصوته الاعلی: لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَه لاشریك له، وقدکان ﷺ یأمر من یقرأ القرآن فی المسجد ان یسمع قراءته وکَان ابن عمر رضي الله عنه یأمر من اقراء علیه وعلی اصحابه وهم یستمعون ولانه اکثر عملاً وابلغ فی التدبیر ونفع متعدد لایقاظ الغافلین .... فمتٰی خاف الریاء او تأذی به احد کان الاسرار افضل هذا اه، همدارنګه وګورئ امدا المفتین ص: ۲۴۵، ۲۴۷ او عزیز الفتاوٰی ص: ۱۵۰.

دی روایت کی دی چی دالس ۱۰ دولس ۱۲ واره ویلو باندی شل لکه نیکیانی ورکول کیږی خو حدیث ضعیف دی. (۲)

والله اعلم

(۱۳۸۷\۱۲\۱۲هـ)

یوه مهمله وظیفه

سوال: وظیفه ده جل ته! جلال ته! راغلی بلاګانی کړه ته قدرت یې کمال ته! د نبی جولی ډکه کړی په مینځ کی قرآن ته آیا داجائز ده ؟

جواب: دامهمل شان وظیفه ده د دی په ځای د خطری په موقعه (اللهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ واحاذِرُ) (۳) ویل پکار دی.

وسیله اختیارولو سره دعاء کول څنګه دی ؟

سوال: وهابیان دچا دپاره دمینځمی واسطی دشفاعت قائل نه دی که هغه د الله تعالی څومره مقبول ولی نه وی وایې چی څنګه په هرسړی باندی لازم دی چی هغه د الله تعالی عبادت وکړی او د چا د واسطی څخه بغیر یې وکړی دغه شان دی هغه خپل حاجات اومشکلات بغیر دواسطی څخه دالله تعالی په حضور کی وړاندی کړی اود امداد طلب دی وکړی ایامینځ کی وسیله اختیارول صحیح دی اوکه نه ؟

(۱) الترغیب والترهیب: ج: ۲ ص: ۴۲۰ (طبع مصطفی البابی مصر) (محمد زبیر).

(۲) عن عبدالله بن ابی او فی قال: قال رسول الله ﷺ! من قال عشرة مرة لااِله الا الله وحده لاشریك له احدًاصمداً لم یلد ولم یکن له کفواً احد، کتب الله له الفی الف حسنة اخرجه ابن عساکر فی تاریخ دمشق فی ترجمة علی بن الحسین ابن عبد الرزاق ابی الحسن الشعرانی ج: ۴۱ ص: ۳۵۸ (طبع دار الفکر) وقال فی المجمع ج: ۱۰ ص: ۸۵۰ (طبع دار الکتاب بیروت) رواه الطبرانی وفیه فائد الورقاء وهومتروك وقال البوصیری فی اتحاف الخیر المهرة ج: ۲ ص ۴۱۲ (طبع دار الوطن الریاض) رواه الطبرانی (وعید بن حمید وابوبعلی الموصلی) قلت مدار هٰذه الطرق علی ابی ورقاء واسمه فائد العطار وهو ضعیف، ضعفه احمد بن حنبل وابن معین وابوحاتم وابو زرعه وابن حیان والبخاری وابو داود والترمذی والنسائی والساجی والعقیلی والدار القطنی وغیرهم وقال الحاکم ابو عبد الله الحافظ روی عن ابن ابی اوفی احادیث موضوعة.

(۳) وګورئ سنن ابی داود باب کیف الرفاع ج: ۱ ص: ۱۸۷ (طبع مکتبه حقانیه ملتان) وجامع الترمذی باب ماجآء فی الرقلی اذا اشتکی. (محمد زبیر حقنواز)

جواب: بیشکه د الله ﷻ څخه بغیر د واسطی څخه دعاء غوښتل هم جائز دی خو که یو سړی داشان توصل وکړی چی ای الله! ستا فلانی بنده ستا مقبول بنده دی زما د هغه سره محبت دی او د هغه محبت په وجه زه د هغه وسیله پیش کوم ستاسو څخه فلانی شی غواړم، نو په دی کښی هم څه شرعی قباحت نسته، د دی په جواز باندی د قرآن او سنت څخه دلائل موجود دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱۰/ ۱۳۹۹

(فتویٰ نمبر ۱۲۸۱/ ۳۰ د)

د فرض لمونځ څخه وروسته په سرباندی لاس ایښوول او د ویونکی د دعاء حکم

سوال: د فرض لمونځ څخه وروسته په سرباندی لاس ایښوولو سره چی کوم: بِسْمِ الله الذی لااِلٰهَ اِلاَّ هُوَالرحمٰن الرحیم اللّٰهُم اذهب عنی الهم والحزن، وایی، آیا داپه کوم حدیث کښی دی، یا مستحب دی یایی بزرګان وایی؟ په دی باندي بعضي خلک اعتراض هم کوی د دی حکم څه دی؟

جواب: ابن السنی د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی، هغه فرمایی: کله چی به حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغه کیدی نو خپل راسته لاس به یی په خپل تندی باندی

---

(۱) وفی جامع الترمذی ج: ۲ ص: ۱۹۸ (طبع سعید) عن عثمان بن حنیف ان رجل ضربوا البصراتی النبی ﷺ...... یدعوا بهٰذا الدُعاء انی اسئلك وتوجه الیك بنبیك محمد نبی الرحمة، وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۳۹۷ (طبع سعید) یراد بالحق الحرمة والعظمة فیکون من باب الوسیلة وقد قال تعالی: وَابْتَغُوا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ، وقدعد من اداب الدعاء التوسل علی، مافی الحسن..... وقال بعد اسطر: نعم ذکر العلامة المناوی فی حدیث: اللهم انی اسئلك وتوجه الیك بنبیك نبی الرحمة عن الغر بن عبدالسلام انه ینبغی کونه مقصوراً علی النبی ﷺ...... وقال السبکی یحسن التوصل بالنبی الی ربه ولم ینکره احد من السلف ولا الخلف الا ابن تیمیة فابتدع مالم یقله عالم قبله اه، ونازع العلامة ابن امیر حاج فی دعوی الخصوصیة واطال الکلام علی ذالك. توسل بالانبیاء والصالحین، د مختلفو شرائطو او صورتونو متعلق د تفصیلی بحث د پاره حضرت والادامت برکاتهم تصنیف تکمله فتح الملهم، مسئلة التوسل ج: ۵ ص: ۲۳۰ ووایي.

مسح کوی او دا الفاظ به یی وئیل: اشهد ان لا اِلٰهَ الا الله هو الرحمٰن الرحیم الله اذهب عنی الهم والحزن. (کتاب الاذکار للنووی رحمه الله ص: ۳۵) (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۳/ ۵/ ۱۳۸۸

(فتویٰ نمبر ۵۸۹/ ۱۹ الف)

د اسم اعظم څخه څه مراد دی؟

د سجدی په حالت کښی د دعاء غوښتلو حکم

سوال: د اسم اعظم څخه څه مراد دی؟ په کومو آیاتونو کښی چی د اسم اعظم غالب ګمان دی که د هغه نشاندهی مو وکړله نو مهربانی به مووی.

۲: د سجدی په حالت کی دعاء غوښتل څنګه دی؟

جواب ۱: اسم اعظم عام طور سره د الله ﷻ هغه مبارك نوم ته وایی چی د هغه په ذریعه دعاء کول د قبلیدو زیات امید وی د دی مبارك نوم په تعین کښی مختلف احادیث او روایتونه او د علماوو مختلف اقول منقول دی، د حضرت انس رضی الله عنه څخه منقول دی چي یوصحابی د حضور ﷺ په موجودګی کښی په دی الفاظو سره دعاء شروع کړله: (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بان لك الحمد لااله الا انت الحنان الصنان بدیع السمٰوٰت والارض یا ذالجلال والاکرام یاحی یاقیوم اسئالك).

په دی باندی حضور ﷺ ارشاد وفرمائیلو: دعاء الله باسمه الاعظم الذي اذا دعاء به اجاب واذا سأل به اعطی (۲)، دی سړی د الله ﷻ د هغه اسم اعظم سره دعاء غوښتی ده

---

(۱) ص ۹۲ (مطبعه مصطفٰی محمد مصر) وفی مسند البزار والاوسط للطبراني کان ﷺ اذا صلی وفرغ من صلوٰته مسح بیمینه علی رأسه وقال بسم الله الذي لا اله الا هوالرحمٰن الرحیم اللهم اذهب عنی الهم والحزن بحواله حصن حصین مع اردو ترجمه ص ۲۲۳ (طبع دار الاشاعت) وفی مجمع الزوائد ج: ۱۰ ص ۱۱۰ (طبع دار الکتاب بیروت) وفیه زید العمی وقد وثقه غیر واحد وضعفه الجمهور وبقیة رجال احد اسنادی الطبرانی ثقات وفی بعضهم خلاف وراجع ایضاً کشف الاستار عن زوائد البزار ج: ۴ ص ۲۲ (طبع مؤسسة الرسالة بیروت) وکذافی مجمع البحرین ج: ۸ ص: ۳۴، رقم الحدیث ص ۴۶۲۳ و ص ۴۶۲۴ (طبع مکتبة الرشید. (ریاض) (محمد زبیر حقنواز)

(۲) رواه الترمذي وابوداؤد والنسائی وابن ماجه، مشکوٰة المصابیح باب اسماء الله تعالی ج: ۱ ص: ۱۹۹ ص ۲۰۰ (طبع قدیمی کتب خانه)

چي د هغه په ذريعه کله هم دعا وغوښتل سی نو الله ﷻ يی قبلوی، او کله چی د دی په ذريعه څه شی وغوښتل سی نو هغه ورکول کیږی، ورسره په بعضو رواياتو کښی دی، چی اسم اعظم سورة بقره، آل عمران او سورة طٰه دی د مشکوٰة په يوبل حديث کښی مروی دی: چی اسم اعظم په دی دوو اٰيتونو کښی دی: ﴿وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمِ﴾ او ﴿الٓمٓ اَللهُ لَآاِلٰهَ اِلاَّ هُوَالْحَىُّ الْقَيُّوْمُ﴾ (١) او د بعضو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه مروی دی چی (الحی القيوم) اسم اعظم دی، امام رازی رحمه الله او علامه نووی رحمه الله هم دا اختيار کړی دی، علامه جزری رحمه الله فرمائيلی دی: چی زما په نزد اسم اعظم، لَآاِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمِ دی، او بعضو حضراتو د لفظ (رَبِّ) او بعضو حضراتو لفظ (الله) اسم اعظم ګرځولی دی (٢) او بعضی علماوو فرمائيلی دی چی اسم اعظم يو راز دی چی د هغه څخه هيڅوك واقف نه دی، محقيقينو علماوو په دی سلسله کی دافرمائيلی دی چی په حقيقت کی ټول اسماء د باری تعالی عظيم دی او يوله په بل فضيلت حاصل نه دی، لهٰذا داسي اسم اعظم چی د هغه څخه زيات عظمت کوم د باری تعالی اسم ته حاصل نه وی د مستندو رواياتو څخه ثابت نه دی او د کومو کومو اسماوو په باره کی چی په احاديثو کی وارد دی چی هغه اسم اعظم دی د هغه څخه مراد دادی چی داهم د باری تعالی د عظيمو اسماوو څخه دی او د دی په ذريعه خاص طور سره دعاء قبليږی ځکه د دی په باره کی مختلف روايات مروی دی او په متفقه طور باندی کوم يونوم ته علی الاطلاق اسم اعظم وئيل مشکل دی.

ملا علی قاری پورتني ذکرسوی ټول اقوال نقل کولو څخه وروسته د امام طبرانی رحمه الله په حواله سره ليکی: وعندی ان الاقوال کلها صحيح اذلم يرد فی خبر منها انه الاسم الاعظم ولاشيئ اعظم منه (مرقاة المفاتيح ج: ۵ ص: ۱۰۲ باب اسماء الله تعالی (طبع مکتبه امداديه ملتان)

---

(١) وفی مشکوٰة المصابيح ج: ١ ص ٢٠٠ عن اسماء بنت يزيد ان النبی ﷺ قال: اسم الله الاعظم فی هاتين الايتين: اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ وفاتحه آل عمران الٓمٓ اَللهُ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ. رواه التذمذی وابوداؤد وابن ماجه والدارمي.

(٢) امام رازی رحمه الله، علامه نووی رحمه الله او علامه جزری رحمه الله او بعضی نورو حضراتو د پورتنی ذکرسوی اقوالو لپاره وګورئ مرقاة المفاتيح ج: ۵ ص: ۱۰۲ (طبع مکتبه امداديه ملتان).

۲: د فرض لمونځونو په رکوع او سجدوکی د اذکار مسنونه څخه ماسوا څه وئيل نه دی پکار، البته د نوافلو په سجدو کښی دعاء صحيح ده خو چی دعاء ماثوره وی ياکم ترکمه په عربی ژبه کی وی او د آخرت سره متعلق وي.

لما فی الدر المختار: والدعاء بالعربية وحرم بغيرها (١)، وفی ردالمختار: ينبغی ان يدعو فی صلوٰته بدعاء محفوظ واما فی غيرها فينبغی ان يدعو بما يحضره (شامي ج: ١ ص: ٣٥٠، ٣٥٢ (٢)، او د لمونځ څخه علاوه خاص د دعاء لپاره سجده کول او په هغه کی دعاء کول چيری منقول د نظر څخه تير نه دی، خو ظاهراً پکښی څه حرج هم نسته ځکه چی صورت د تذلل دی، خو د عادت جوړول او سنت ګڼل درست نه دی. کذافی امداد الفتاوٰی ج: ١ ص: ٥٤٠ (٣).

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۲۰ هـ

(فتوٰی نمبر ۹۸۱/ ۲۸ ج)

په جومات کښی په لوړ آواز سره د فضائلو کتاب ويل د تلاوت په دوران کښی د حضور ﷺ نوم راتلو باندی د درود ويلو حکم

سوال: د تبليغ والا په جومات کی د فرضو څخه وروسته په لوړ آواز سره د فضائلو کتاب وايی ياتقرير کوی، په دغه وخت کښی ډير لمونځ ګذاره لمونځ کوی په لمونځ کوونکو کښي داسي مسبوق هم وی چی سنت او نوافل هم اداء کوی، د دی څخه علاوه په تسبيح وغيره کښی مشغول لمونځ ګذارو له طرفه شکايت وی، چی د دی په وجه زموږ په تسبيحاتو کښی خلل واقع کيږی، منع کولو سره هغوی نه منی، بلکي تبليغ وايی چی ولاړسی په صحن کی تسبيح او نوافل پوره کړئ، شرعاً څه حکم دی؟

---

(١) الدرالمختارج: ١ ص: ٥٢١ (طبع سعيد)

(٢) رد المختار تتمة تحت مطلب فی خلف الوعيد وحکم الدعاء بالمغفرة للکافر ولجميع المؤمنين ج: ١ ص: ٥٢٣ (طبع سعيد).

(٣) وګورئ امداد الفتاوٰی ج: ١ ص: ٥٥٦ سجده دعأ.

۲: د قرآن شریف په تلاوت کښې چې کله د حضور ﷺ نوم راسی نو په دغه وخت کې درود شریف ویل پکار دی او که نه؟ او یا د تلاوت ختمولو ښخه وروسته ووئیل سی.

جواب: په جوماتونو کې د فضائلو کتاب ویلو کښې څه حرج نسته بلکې مفید دی خو د دې خبرې خیال ساتل پکار دی چې په دې سره د لمونځ کوونکې په لمونځ کښې څه خلل واقع نسي، لهذا که لمونځ کوونکې په لمانځه کښې مشغول وي نو د هغوی ښخه په لږې کیدو سره دې کتاب وویل سی یا دې د هغوی د فارغیدو انتظار وسی، لمونځ گذارته په بل ځای کې د لمونځ کولو وئیل صحیح نه دی: کمایفهم من عبارة الشامیة تحت قول الدر ورفع الصوة بالذکر الا للمتفقه، وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفًا وخلفًا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قاری. (شامی ج: ۱ ص: ۴۴۴ احکام المساجد من الصلوٰة) [1]

۲: د تلاوت ښخه وروسته ویل پکار دی [2].

والله سبحانه اعلم

۱۲۰/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۷/۲۵۵۲ و)

د لمانځه ښخه وروسته (اِنَّ اللهَ وَمَلٰئِکَتَهُ یُصَلُّوْنَ) په لوړ آواز سره ویل

سوال: زموږ امام صاحب ترڅو ورځو پورې دا آیت د لمانځه ښخه وروسته وایه، اِنَّ اللهَ وَمَلٰئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ، څو ورځې وروسته هغوی دا آیت پرې ښووی، مایوه ورځ د هغه وجه وپوښتله، نو جواب یې راکې چې په لمانځه کې خلل راځی او ته به پوه سوی یې، د دې ښخه وروسته روان سو، ما همداخبره د جومات سکرټرې ته وکړه چې

[1] شامی ج: ۱ ص: ۶۶۰ (طبع ایچ ایم سعید) وفی الشامیة ج: ۶ ص: ۳۹۸ وفی المتلقی وعن النبی ﷺ انه کره رفع الصوت عند قرأة القرآن والجنازة والزحف والتذکیر، وفیها ..... فالاسرار افضل حیث خیف الریأ او تأذی المصلین ...... الخ، وفی المرقاة شرح مشکوٰة ج: ۲ ص: ۳۵۷ (طبع مکتبه امدادیه ملتان) قوله تعالی: (وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ ..... الخ، ویسن الاسرار فی سائر الاذکار ایضا الا فی التلبیة ..... الخ، وراجع ایضًا الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۱۹ - ۵۲۳.

[2] وفی الهندیة ج: ۵ ص: ۳۱۶ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) ولوقرأ القرآن فمر علی اسم النبی ﷺ واصحابه فقرأة القرآن علی تألیفه ونظمه افضل من الصلوٰة علی النبی ﷺ فی ذالك الوقت فان فرغ ففعل فهو افضل .... الخ.

یو شریف سړی دی، هغوی به امام ته وئیلي وي یا به یې نه وی وئیلي ماته د دې علم نسته، یوه ورځ د ماخستن د لمانځه ښخه وروسته یې درس قرآن د همدې آیت ښخه شروع کې، او څه چې د هغه په علم کې وه بیان یې کړل، او شاید چې ماته یې چغلخور ووئیل، او نور تنقیدونه یې وکړل، اوس عرض دادی چې آیا د دې په باره کې زه د هغه تنقید مستحق یم چې امام صاحب زما په باره کې بیان کړی دی؟

جواب: تاچې څومره خبره لیکلې ده که واقعًا صرف دومره ده نو ستا څه قصور نسته، امام صاحب د چغلخوری الزام ښکاره په تاباندې نه دی لګولی، که د هغوی په زړه کښې ستاسو له اړخه په څه خبره قدرت پیداسوی وی، نو هغه په ملاقات او په خپل مینځ کې په افهام او تفهیم سره لرې کړئ. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفا الله عنه، احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۹/۱۷۲ الف)

د دې جواب ښخه وروسته د سائل له اړخه هم د دې په باره کې دوباره سوال راغلی چې په لاندې ډول دی (مرتب)

سوال: عرض دوباره ارسال دی، تاسو چې کوم جواب راکړی دی هغه داثابتوی چې د مولاناسره لوی جنګ دی، جنګ هیڅ نسته چې د امام صاحب سره په ملاقات سره لرې سی، زه خو د شریعت په رڼا کې غواړم چې د برنی آیت ویلو سره په لمانځه کښې خلل راځي او که نه؟

۲: که د دې آیت درس ورکول سی نو په دې کې د چغل خوری او ریاء ذکر دی؟ چې هغه ذکرکول پکار دی په دې دواړو خبرو کې شرعي جواب غواړم.

جواب: د لمانځه ښخه وروسته کله چې خلګ په لمانځه کې مشغول وي په لوړ آواز سره د قرآن تلاوت یا تقریر کول نه دی پکار [1] لهذا که دی امام صاحب په دې وجه دا آیت ویل پرېښې وی نو هغه صحیح کار کړی دی په دې باندې چاته اعتراض کول پکار نه دی.

[1] د دلیل لپاره وروستنی صفحه ۲۷۹ اوله حاشیه ملاحظه کړئ.

۲: په دی ایت کی د چغل خوری او ریاء کاری څه ذکر نسته، خو که دا ایت لاندی څه خبره راسی او دامسئله بیان سی نو په دی کښی هم څه حرج نسته.

والله سبحانه اعلم

۲۰/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د جناتو د قید کولو یاسوزولو حکم

سوال: عاملین خلګ جنات په اور کښی سوزوی، حالانکي داعذاب د الله ﷻ سره مخصوص دی، جنات په اور کښی سوزول د شریعت مطهره د څلورو شیانو یعني قرآن، سنت، قیاس او اجماع څخه نه دی ثابت سوی، ورسره عامل خلګ جنات په کتوی یابوتل کی د مخصوص وخت لپاره قید کوی بیا د آزادی په وخت کی جناتو ته وایی چی تا چونکی یومسلمان ته تکلیف رسولی وو، په دی وجه باندی قیدسوی او اوس آزادول کیږي چي د حضرت سلیمان علیه السلام په دعاباندی په زد راسی، که تادوباره د خدای مخلوق تنګ کی نو بیابه دوباره بند سی، آیا شریعت مطهره د دی اجازت ورکوی؟ د فرق کولو کوم معقول تدبیر بیان کړئ؟

جواب: د دی په باره کی قول فیصل دادی که د جناتو اثر د هغوی د سوزولو څخه بغیر زائل کیدی سی مثلاً د دم یادعاء کولو، یا هغه په وهلو یا بیرولو سره نو بیا خو قتلول یاسوزول جائز نه دی، خو که هغه په مذکوره طریقو سره ولاړ نسی نو بیایی قید کول یا وژل یاسوزول جائز دی، خو عامل ته پکار دی چی اول نرمه طریقه استعمال کړی او کله چی د دی خبری اطمینان وسی چی داجن بغیر د سوزولو څخه نه ځی بیادی د سوزولو اقدام وکړی، علامه بدر الدین شبلی حنفی رحمه الله په دی مسئلی باندی بحث کولو سره د علامه ابو العباس د دی قول تصدیق کوی چی:

یجوز بل یستحب وقد یجب ان یدب عن المظلوم وأن ینصر فان نصر المظلوم مأمور به بحسب الامکان واذا بری المصاب بالدعاء والذکر وامر الجن ونهیهم وانتهارهم وسبهم ولعنهم ونحو ذالك من الکلام حصل المقصود، وان کان ذالك یتضمن طائفة من الجن او موتهم فهم الظالمون لانفسهم اذاکان الراقی الداعی المعالج لم یتعد علیهم کمایعدی علیهم کثیر من اهل العزائم فیأمرون بقتل من لایجوز قتله.

(اکام المرجان فی غرائب الاخبار واحکام الجان ص: ۱۱۱ باب ۵۳ (طبع نور محمد کارخانه)

مخکی علامه شبلی رحمه الله لیکی: فحاصل ذالك انه متی حصل المقصود بالاهون الایصار الی مافوقه ومتی احتیج الی الضرب وماهو اشد منه صیر الیه ومن قتل الصائل من الجن قتل عائشة الجنی الذی کان لایزال یطلع فی بیتها.

او هغوی په ص ۲۰ باندی د شپږم باب لاندی سند سره نقل کړی دی چي حضرت ابن عباس رضی الله عنه یوجن قتل کړی وو، او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی د جن سوزولو په باره کی لیکی چی: که په هیڅ تدبیر دی مریض نه پریږدی نو درست دی بهتر دادی چی په هغه تعویذ کی داعبارت ولیکی که نه ودی سوزی. [1]

والله اعلم

۲۲/ ۲/ ۱۳۷۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۵۴/ ۲۸ ب)

د پیری سره د انسان د نکاح حکم

او په انسانانو باندی د پیریانو د اثراتو شرعی حکم

سوال: (البلاغ سنه ۱۳۹۷ هـ) می وویله نو څه نکات می داسی پیداکړه چی د هغه تشریح مطلوب ده، مثلاً صفحه ۱۴ باندی، آیا د انسان نکاح د پیری ښځی سره کیدی سی؟ د عنوان په اوومه کرښه باندی مذکور دی، چی د مسلمان سړی سره د مسلمانی پیری نکاح هم وسوه او د هغه څخه اولاد هم پیداسو، په دی کښی د شك او شبهی ګنجایش نسته، چی جنات د الله ﷻ مخلوق دی او داخبره د نص څخه ثابته ده، خو کله چی جناتو ته ناری مخلوق ویل کیږی او هغه په نظرهم نه راځی نو څنګه د انسان سره د هغوی تعلق او بیا د ښځی او خاوند ترحده پوری د هغوی تعلق پ‌ته کیدی سی؟ په جناتو کی د مسلم او غیر مسلم مسئله واضحه ده خو د ساینسی نقطه نظرسره نه صحیح بیاهم د غیر مدلل تشریح څخه داخبره په ذهن کی نه راځی، که پیری ښځه د تولد اهل هم وی، خو څنګه د خاوری انسان سره د ښځی په حیثیت سره پاته کیدی سی؟ ځکه ستاسو څخه ګذارش دی چی تاسو د (جناتو په انسانانو باندی اثر) عنوات تشریح وکړئ، موږ په اخبارونو او رسالو کی وایو او د عاملینو حضراتو قصی د ایجنتهانونه اورو چی جنات:

[1] امداد الفتاوی ج: ۴ ص: ۸۸، ۸۹.

۲: په دی آیت کی د چغل خوری او ریاء کاری څه ذکر نسته، خو که دا آیت لاندی څه خبره راسی او دامسئله بیان سی نو په دی کښی هم څه حرج نسته.

والله سبحانه اعلم

۲۰/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

د جناتو د قید کولو یاسوزولو حکم

سوال: عاملین خلګ جنات په اور کښی سوزوی، حالانکي داعذاب د الله جل جلاله سره مخصوص دی، جنات په اور کښی سوزول د شریعت مطهره د څلورو شیانو یعني قرآن، سنت، قیاس او اجماع څخه نه دی ثابت سوی، ورسره عامل خلګ جنات په کټوی یابوتل کی د مخصوص وخت لپاره قید کوی بیا د آزادی په وخت کی جناتو ته وایی چی تا چونکی یومسلمان ته تکلیف رسولی وو، په دی وجه باندی قیدسوی او اوس آزادول کیږي چي د حضرت سلیمان علیه السلام په دعاباندی په زد راسی، که تادوباره د خدای مخلوق تنګ کی نو بیابه دوباره بند سی، آیا شریعت مطهره د دی اجازت ورکوی؟ د فرق کولو کوم معقول تدبیر بیان کړئ؟

جواب: د دی په باره کی قول فیصل دادی که د جناتو اثر د هغوی د سوزولو څخه بغیر زائل کیدی سی مثلاً د دم یادعاء کولو، یا هغه په وهلو یا بیرولو سره نو بیا خو قتلول یاسوزول جائز نه دی، خو که هغه په مذکوره طریقو سره ولاړ نسی نو بیایی قید کول یا وژل یاسوزول جائز دی، خو عامل ته پکار دی چی اول نرمه طریقه استعمال کړی او کله چی د دی خبری اطمینان وسی چی داجن بغیر د سوزولو څخه نه ځی بیادی د سوزولو اقدام وکړی، علامه بدر الدین شبلی حنفی رحمه الله په دی مسئلی باندی بحث کولو سره د علامه ابو العباس د دی قول تصدیق کوی چی:

یجوز بل یستحب وقد یجب ان یدب عن المظلوم وأن ینصر فان نصر المظلوم مأمور به بحسب الامکان واذا بری المصاب بالدعاء والذکر وامر الجن ونهیهم وانتهارهم وسبهم ولعنهم ونحو ذالك من الکلام حصل المقصود، وان کان ذالك یتضمن طائفة من الجن او موتهم فهم الظالمون لانفسهم اذاکان الراقی الداعی المعالج لم یتعد علیه[م] کمایعدی علیهم کثیر من اهل العزائم فیأمرون بقتل من لایجوز قتله.

(اکام المرجان فی غرائب الاخبار واحکام الجان ص: ۱۱۱ باب ۵۳ ط کارخانه)

محکی علامه شبلی رحمه الله لیکی: فحاصل ذالك انه متی حصل المقصود بالا[...] الایصار الی مافوقه ومتی احتیج الی الضرب وماهو اشد منه صیر الیه ومن [...] الصائل من الجن قتل عائشة الجنی الذی کان لایزال یطلع فی بیتها [...] او هغوی په ص ۲۰ باندی د شپږم باب لاندی سند سره نقل کړی دی چي حضرت [...] عباس رضي الله عنه یوجن قتل کړی وو، او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاح[ب] تهانوی د جن سوزولو په باره کی لیکی چی: که په هیڅ تدبیر دی مریض نه پریږدی درست دی بهتر دادی چی په هغه تعویذ کی داعبارت ولیکی که نه ودی سوزی.[1]

والله اعلم

۲۶/ ۲/ ۱۳۷۷ ھ

(فتوی نمبر ۲۵۴/ ۲۸ ب)

د پیری سره د انسان د نکاح حکم

او په انسانانو باندی د پیریانو د اثراتو شرعی حکم

سوال: (البلاغ سنه ۱۳۹۷ ھ) می وویله نو څه نکات می داسی پیداکړه چی د هغه تشریح مطلوب ده، مثلاً صفحه ۱۴ باندی، آیا د انسان نکاح د پیری ښځی سره کیدی سی؟ د عنوان په اوومه کرښه باندی مذکور دی، چی د مسلمان سړی سره د مسلمانی پیری نکاح هم وسوه او د هغه څخه اولاد هم پیداسو، په دی کښی د شك او شبهی ګنجایش نسته، چی جنات د الله جل جلاله مخلوق دی او داخبره د نص څخه ثابته ده، خو که چی جناتو ته ناری مخلوق ویل کیږی او هغه په نظرهم نه راځی نو څنګه د انسان سره د هغوی تعلق او بیا د ښځی او خاوند ترحده پوری د هغوی تعلق پ[...] ته کیدی [...] جناتو کی د مسلم او غیر مسلم مسئله واضحه ده خو د ساینسی نقطه نظر [...] صحیح بیاهم د غیر مدلل [...]

تولد اهل هم [...] هن کی نه راځی [...]

[...] وی،

[...] ښځی په حیثیت [...]

[...] ن کی نه

(جناتو په انسانانو [...]

[...] خو ښکاره

[...] اله کی وایو او د [...]

[...] وی به هم، خو

[...] په دوران کی د جناتو د

[...] او د هغوی په انسانی جسم

الف: د غیر خبری اوری، مثلاً د فلانی شی پټوونکی فلانی دی او په فلانی ځای کی اوسیږی وغیره وغیره.

ب: فلانی عامل جنات په کوزه کی بندکړی دی لکه څنګه چی د سمندر په کوزه کی د بندولو محاوره ده.

ج: فلانی پیر د چله کشی څخه وروسته په جناتو باندی قابو پیداکړی ده او جنات د هغه تابع دی. (ګوانکی دوهم سلیمان دی)

د: ډاکټرانو مریض لاعلاج وګرځووی، خو فلانی عامل مریض د جناتو زیر اثر وښوول، او علاج کولو سره یی شفاء ورکړله، څه موده مخکی اخباراتو کی په دی مسئله باندی ډیر ورکړه راکړه شروع سوی وه، به هرحال زه پوهیږم چی څو پورتنیو ذکرسوو نکاتو تعلق دی هغه څه داسی دی:

الف: ترڅو چي د حضرت سلیمان عليه السلام **امصاء** چینجو خوړلی نه وای او ترڅو چي هغه نه وای لویدلی نو جناتو مسلسل کار کوی، لهذا په غیب باندی د پوهیدلو سوال ځکه نه پیداکیږی، بلکی انبیاء هم د غیب علم څخه واقف نه وه. (البلاغ هذا ۱۳)

ب: انګریز قوم ډیر لوی توهم پرست دی، په انګلینډ کی یو وخت په تی وی باندی بد روحونه راوړل سول، د بدو روحونو سره د ملاقات شرف نصیب سو، د مداری توب ډیری لوبی مو ولیدلی، د انسانی ذهن تیزی، مسلسل مشق ګړی په ګړی محنت او کوشش، هغه کرتبونه پیش کړل چي عقل حیران پاته سو، خو دا هرڅه د مداری د مهارت نتیجه وه، ابن خلدون په دی باندی معرکة الاراء بحث کړی دی چی صحیح دی او د هغه خلاصه هم هغه ده چی لوړه مي لیکلی ده یومسلمان عالم خو لاڅه چی یو دهریه هم دا هرڅه کولی سی چی زموږ خواته ډېه پیر او عاملین یی کوی، معلومه نه ده چی داسپوتین (د دنیا د ټولو څخه لوی بدکار) څه چي پیش ګوئی کوله، پوره کیدله به سنه ۱۹۳۳ کی د کشمیر یومسلمان (چی نوم یی راته یاد نه دی) په انګلینډ کی په دری ځایونو کی په بلو سکروټو باندی پښی ابلی تللی دی او ښوولی، هرکله چی ډاکټرانو د هغه په جسم باندی داسی دوایانی استعمال کړی وی چی د هغه سره په جسم باندی لګول سوی دهري دوائی اثره به زائل کیدی خو هغه کامیاب پاته سو، د هغه انټرویوز وسوه، نو هغه ووئیل: دا د هغه خدای په ذات باندی د کامل اعتماد معمولی جهلك دی او دی اعتماد د هغه قوت ارادی ناقابل شکست جوړکړی دی، غرض داقسم واقعات نن هم لیدلی سی خو د عاملینو جنات په کوزوکښی بندول څه شرعی حیثیت لری؟ هرکله

چی داخبره په ذهن باندی د زور ورکولو څخه بغیر په ذهن کی راځی، چی خالد بن ولید زهر خوړلو سره ولی مړنه سو؟ هرکله چی هغه زهر که په یوکوهی کی واچول سی نو د یولوی لښکر مرګ باندی واقع کیدی سی، یا د حضرت عمر رضي الله عنه د خطبی په دوران کی ساریه ته آواز ورکولو سره جبل طرف ته متوجه کول بغیر د تذبذب څخه په ذهن کی راتلی سی.

ج: که یائینس یی منی او که نه، عقل پوهیږی او که نه، خو زموږ ایمان دی چي د حضرت سلیمان عليه السلام په جناتو او مرغانو او چرنده ګانو باندی غلبه وه، او د هغوی د ژبی ه هم واقف وو، د هدهد واقعه په دی باندی دال ده، خو داعاملین ولی سلیمان جوړ سوی دی؟ د دی په شرعی حیثیت باندی بحث وکړه.

د: د تشنج څوقسمونه دی، یوداسی مریض چي د هغه عمر کم او وزن یی ۵۰ / ۶۰ پونډه وی، د تشنج په حالت کی د دومره زور مظاهره کوی چی محسوسیږی چی د پهلوان سره مو واسطه پریوتله، د پټو راکښلو د قوت د وجی داحالت پیداکیږی، خو زموږ خواته عاملینو د آګی ګل سره د بلبل وزر تړلو سعادت دوی حاصل کړی دی، چی په مریض باندی د جناتو غلبه ده او داټول د جناتو یا د یوجن (نروی او که ښځه) ورنه په داسی کم عمر او کم وزن لرونکی مریض کی دومره زور نه سی راتلی، وغیره ترڅو چي د ډاکټری علاج تعلق دی هغه د ساینس یو اړخ دی او دا خبره په تاسو ښکاره ده چی ساینس خو ترکافی حده پوری ثبوت ورکوی، خو عقیده یی نسی ورکولی او فلسفه نه ثبوت ورکولی سی او نه عقیده او مذهب ثبوت هم ورکوی او عقیده هم (خو د اسلام د پاره د لفظ مذهب استعمال زه درست نه ګڼم، ځکه چی د اسلام دین دی او مذهب یوه حصه لکه: سترګه غوږ، پوزه وغیره د یوجسم مختلفی حصی دی) د ساینس تابع ډاکټری علم که یو مریض لاعلاجه کی، نو خبره په ذهن کی راتلی سی که فلسفی پکښی مزید غوټی لګولی دی، نو بیاهم په ذهن کی راتلونکی خبره ده، خو که دین صرف عاملینوته دا اختیار ورکړی وی چی هغوی دی په جناتو باندی حکمرانی کوی، او که خوښه یی سی نو په جیب کی دی واچوی او ګرځوی ی، نو داهرڅه په ذهن کی نه راځی، په قرآن مجید او احادیثو کی په دواړو کی چی هریو وی د هغه اثر خو ښکاره دی د خدای جل جلاله کلام خو افضل ترین کلام دی، د دی اثر کیږی او وی به هم، خو عاملین یی چی څنګه ښایی هغه دادی چی هغوی ته د چله کشی په دوران کی د جناتو د منع کولو صلاحیت پیداسو، او هغوی جنات منع کولی سی او د هغوی په انسانی جسم

باندی اثر زائل کولی سی، ګوانکی د عامل چله د بلا لری کوونکی ده، نه چی کلام الله تاسو دا واضح کړئ چی په انسانی جسم باندی د جن اثر څنګه کیدی سی؟ که کیدلی سی نو ترکومه حده پوری؟ او بیا جنات په منع راوستلو کی څنګه ثابت دی؟ زموږ مشاهده ده، چی قرآن، حدیث او نور علوم فقه، صرف، نحو وغیره په ځای موږ د خپلو اناګانو څخه د جناتو او ښاپیریو قصې په ماشومتوب کی اوریدلی دی، د دی قصو لازمی نتیجه نفسیاتی اثر وی چی لوئیدو لاشعوری کی موجود وی، بیا د هستیریا یوی مریضی اصلی علاج په ځای هغه د عامل په کردار مخکی اچول کیږی او هغه بی ضمیر د غنمو، اوربشو خرخوونکی د سلیمان ثانی کیدو مدعی د یو څوټکو په لالچ کی د جناتو اثر ښوولو سره د یو انسان د ژوند. خوشحالی لوټ کوی، زما د بیان سوی څلورو نکاتو شرعی حیثیت څه دی؟

جواب: په جواب کی لږ تأخیر وسو خو ستاسوال لږ تفصیل غوښتی چی د هغه فرصت د دی څخه مخکی راته پیدانسو اوس تاسو د سوال جواب پیش خدمت دی.

۱: ترکومه چی د انسان او د پیری په مینځ کی د نکاح تعلق دی، په شریعت کی خو د دی اجازت نسته خو ترڅو چی د دی د عقلی امکان دی په هغه کی څه غیر ممکن خبره نسته، علامه بدر الدین شبلی معروف محقق عالم دی هغوی په خپل کتاب (اکام المرجان فی غرائب الاخبار واحکام الجان) په باب ۳ ص ۶۶ باندی په دی مسئلی باندی مفصل بحث کړی دی، او تاسو چی کوم اعتراض کړی دی چي د خاکی انسان نکاح ناری جن سره څنګه کیدی سی چی د دی یی داجواب ورکړی دی چی انسان بیشکه خاکی او جن بیشکه ناری دی، خو چی څنګه د ټولو څخه اول انسان حضرت آدم علیه السلام د خاوری څخه پیداسو، خو د هغوی څخه وروسته کله چی د تولد او تناسل سلسله شروع سوه، نو هر انسان براه راست د خاوری څخه پیدانه سو، بلکی په هغه کی ټول عناصرو کار کولو، دغه شان په جناتو کی د ټولو څخه مخکی جن چی د هغه قرآنی نوم (الجان) دی، براه راست د اور څخه پیداسوی وو، د هغه څخه وروسته ټول جنات په تولد او تناسل سره پیداکیدل او په هغوی کی هم د انسانانو په شان نورو عناصروهم کارکوی، لهٰذا اوس چي جنات مطلقًا د اور یاحرارت پیکر مجسم نه وی بلکی په

هغوی کی د حرارت او برودت اعتدال وی، په دی بناء باندی په عقلی طور سره د انسان او جن ترمینځه جنسی اختلاط ممکن دی [1].

علامه شبلی رحمه الله په دی باندی دا استدلال هم کړی دی چی قرآنکریم د جنت د حورو په باره کی دافرمائیلی دی: لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ [2]، یعنی دوی لره د جنیاتو څخه مخکی نه یوانسان لاس لګولی دی او نه یو جن، که په جن او انس کی عقلاً اختلاط ناممکن وی نو دلته د جن د ذکر ضرورت نه وو

خلاصه داچي عقلا نکاح کیدل غیر ممکن نه دی، او علامه شبلی رحمه الله په دی باندی د سندسره څه واقعات هم لیکلی دی چی د جناتو او انسانانو په مینځ کی ودونه سوی دی، د دغه واقعاتو په باره کی په یقین سره څه وئیل مشکل دی، خو هغه ته عقلاً ناممکن هم نسی وئیلی او په معارف القرآن کی هم صرف دومره خبره وئیلی سوی ده.

۲: دوهمه مسئله تاسو دا لوړه کړی ده چی د جناتو په انسانانو باندی ختل او د انسانانو د هغوی د تابع جوړولو شرعی حیثیت څه دی؟ په دی سلسله کی عرض دادی: چی دومره خبره د قرآن او حدیث د قطعی دلائلو څخه ثابته ده چي (جن) د انسانانو څخه جلا مخلوق دی، هغه عام په نظر نه راځی، او په هغوی کی مومن او کافر صالح او فاسق هرشان وی، لهٰذا په دومره خبره خو زموږ ایمان ساتل ضروری دی، پاته سوه داچي هغوی انسانانو لره پریشانه کولو د پاره په هغوی خیژی او که نه؟ او ورسره چی عاملین د هغوی د اخواکولو کومه دعوٰی کوی هغه صحیح ده او که نه؟ نو دا د څه ایمانیاتو مسئله نه ده چي په هغه ایمان ساتل ضروری وی، بلکي د واقعاتو مسئله ده او واقعه داده: چي په هره زمانه کي د جناتو د انسانانو د پریشانه کولو واقعات دومره په کثرت سره کیږی چی د هغه څخه انکار مشکل دی [3] یوه واقعه خو پخپله حضور اکریم ﷺ اوریدلی ده چي په شمائل ترمذی کی موجوده ده، حضور ﷺ ارشاد وفرمائیلو چی د (بنو عذره) قبیلی یوسړی چی د هغه نوم خرافه وو هغه جناتو ونیوی او بویی تلی، هغه تریوی مودی پوری جنیاتو کی مقیم پاته سو، بیا هم هغوی د

---

[1] د پیری سره د انسان د نکاح متعلق د تفصیل د پاره وګورئ معارف القرآن ج: ۲ ص ۵۲۷.

[2] سورة الرحمٰن: ۵۶، ۷۴.

[3] وفی کتاب الروح ص ۴۲۵ ان تداخل الاجسام المحال ان یتداخل جسمان کشیفان احداهما فی الاخرة بحیث یکون حیزهما واحداً واما ان یدخل لطیف فی کشیف یسری فیه فهٰذا لیس بمحال.

انسانانو خواته پرېښووی، د بیرته راتلو څخه وروسته به هغه عجیبه عجیبه قصی کولی، څکه به خلګو (هر عجیبه جنری ته) د خرافه قصه وئیل شروع کړل.
(شمائل ترمذی ص: ۲۱ باب ماجاء فی کلام رسول الله ﷺ فی السحر)

او انحضرت ﷺ څخه د جن کښته کولو واقعات هم په بعضی روایاتو کی موجود دی، چنانچی په ابوداؤد، مسند احمد، معجم طبرانی وغیره کی داحدیث مروی دی چی:

عن أم أبان بنت الوزاع عن أبيها ان جدها انطلق الى رسول الله ﷺ بابن له مجنون او ابن أخت له فقال: يارسول الله! ان معيى ابنالى أو ابن أخت لى مجنون أتيتك به لتدعو الله تعالى له قال: أتنى به، قال: فانطلقت به اليه وهو فى الركاب فانطلقت عنه والقيت عليه ثياب السفر والبسته ثوبين حسينين واخذت بيده حتى انتهيت الى رسول الله ﷺ فقال: ادنه منى واجعل ظهره مما يلينى، قال: فاخذ مجامع ثوبه من اعلاه واسفله فجعل يضرب ظهره حتى رأيت بياض ابطيه ويقول: اخرج عدوالله فاقبل ينظر نظر الصحيح ليس بنظر الاول ...... الخ. (اکام المرجان ص: ۱۱۳ باب ۳۵۰)

ام ابان د خپل پلار څخه روایت کوی: چی د هغوی نیکه د حضور ﷺ خواته خپل یومجنون (د دی معنیٰ پاګل هم کیدی سی او پیریانی هم) څوی یا وراره بوتله او عرض یی وکی، یارسول الله! ما د خپل څوی یا وراره چی مجنون دی د دعاء لپاره راوستلی دی، حضور ﷺ وفرمائیل: چی دامانه رانژدی کړه او د ده شاه زماطرفته کړه، چنانچی حضور ﷺ د هغه کپړی ونیولی، هغه یی په شاه باندی وهل شروع کړل، تردی چی ماته د حضور ﷺ د بغلونو سپین والی ښکاره سو، حضور ﷺ به وهی نو وئیل به یی: ای د خدای ﷻ دښمنه ووځه! هغه لږ په لږساعت کی د تندرستو په شان کتل شروع کړل ..... الخ.

لهٰذا که په چاباندی د جن اثر وسی نو د هغه علاج د عملیاتو په ذریعه نه عقلاً ناممکن دی، او نه شرعًا ناجائز دی، په دی شرط چی په هغه کی څه خلاف شرع طریقه اختیار نکړل سی (۱)، او که یوسړی ته د جناتو د لری کولو طریقه راځی نو هغه ته به د خدای

(۱) وفی مشكاة المصابيح كتاب الطب والرقى ص ۳۸۸ (طبع قديمى كتب خانه) عن عوف بن مالك لاشجعی، قال كنا نرقى فى الجاهلية فقلنا: يارسول الله! كيف ترىٰ فى ذالك؟ فقال: اعرضوا رقائكم لابأس بالرقى مالم يكن فيه شرك (رواه مسلم) وفى الشامية ج: ۶ ص: ۳۶۳ ولابأس بالمعوذات اذا كتب فيها القرآن او اسماء الله تعالى (الى قوله) وانما تكره العوذة اذاكانت بغير لسان العرب ولايدرى

په قدرت کی دخل اندازی نسی وئیل کیدی، لګه چي د بیماری د جراثیمو په ختمولو باندی انسان ته قدرت ورکول سوی دی، که الله ﷻ جاته په جن اخواکولو باندی هم قدرت ورکی، نو څه بعیده ده؟ البته جنات غلام جوړول، که څه هم عقلاً جوړول ممکن ده خو شرعًا څنګه چی آزاد سړی د اسباب شرعیه څخه بغیر غلام جوړول جائز نه دی، دغه شان آزاد جنات هم غلام جوړول درست نه دی (۱)، البته یوه خو داخبره یاده ساتی چی د دی مسئلی تعلق د ایمانیاتو سره نه دی بلکی د واقعیاتو سره دی دوهم داچی کوم عامل دا دعویٰ کوی چی جنات هغه ته د مستقبل غیبی خبرونه ورکوی هغه باطل دی دریم داچی د جناتو د منع کولو د پاره ډیر سفلی اعمال جادوګران کوی چی د هغه مقصد شیطانان خوشحالول وی هغه په اجماع دامت سره حرام او ناجائز دی، څلورم داچی د دی مقصد د پاره داسی منتر وئیل چی د هغه معنیٰ په ذهن کی نه راځی داهم ناجائز دی (۲).

والله سبحانه اعلم
۱۹/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۳۴/ ۲۸ ب)

په بی پردی ښځی باندی د دم دُرها کولو حکم

سوال: په لاندینی طریقی سره دم درها کول یا د دی څخه استفاده کول د شریعت د مخه جائز دی او که نه؟

د یوی غیر واده سوی بالغی ښځی چی هغوی داطریقه راباسلی ده چی د هغه د اعلان مطابق د کوم ولی یاسائین باب چي د هغه سوری په دی باندی راغلی دی او هغه ولی یاسائین بابا دی ښځی ته حکم ورکړی دی چی د هغه په حکم سره ته د انسانیت خدمت کوه، داخبره ښکاره نه سوه چی داسائین بابا ژوندی دی او که مړ؟ بلکی کله چی هم د ښځی څخه د دی متعلق پوښتنه سوی ده نو وائی چی د دی د ښوولو اجازت راته نسته،

ماهو ولعله يدخله سحر او كفر او غير ذالك واما ماكان من القرآن او شئى من الدعوات فلابأس به (د تفصيل د پاره تكمله فتح الملهم ج: ۴ ص: ۳۱۷ ملاحظه كړئ.

(۱) جناتو لره د تابع جوړولو د شرعی حکم متعلق د مزید تفصیل د پاره معارف القرآن ج: ۷ ص: ۲۶۵ ملاحظه کړی (مرتب عفی عنه)

(۲) وګورئ د همدی صفحی اول او دوهم نمبر حاشیه.

د علاج طریقه داده چی دابنځه بنه سم ځان جوړ کړی او د هر راتلونکی خوا که سړی وی یابنځه د هغه د حال پوښتنه کوی، مریض ورته خپل حال وایی، د ښځی په مخکی ګلونو امیل وی چی د هغه متعلق د ښځی وینا ده، چی هغه وایی چی ولی یاسائین بابا د دی مخامخ ناست دی چی هغه صرف دابنځه لیدلی سی، کوم بل سړی د هغه ولی یاسائین بابا آواز نه سی اوریدلی، ښځه د مریض حال د هغه هر طرفته رُخ کولو سره ګردان کوی، او لږ ساعت خاموشه کیږی منتظره اوسی ګوانکی چی هغه ته څه خاموش پیغام ورکول کیږی بیا مریض ته وایی: چی سائین بابا وئیلی دی چی ستا مسئله به حل سی، سائل ته دوی خبری د شرعی د مخه غلطی محسوسه سوی.

۱: اول داچی په اسلام کی پرده بنیادی حکم دی، دابنځه صرف بی پردی هم نه وی بلکی بنه سم میکپ کولو سره مجلس کی کښیني او د هرسړی سره بی حجابانه خبری کوی، مزید داچی کله یی د پردی طرفته توجه وګرځول سی نو وایی چی سائین بابا ماته اجازت راکړی دی، بلکی د بی پردګی داحال دی چی د هغه مکمل میکپ کی تصویرونه په اخباراتو او رسائلو کی چاپ کیږی.

۲: د مریضانو د سوال او جواب په مینځ کی دابنوول چی: سائین بابا دا فرمائیلی دی چی ستا مسئله به حل سی، ګوانکی براه راست د علم غیب دعوٰی ده، هرکله چی علم غیب صرف الله لره دی، ماته د فتوٰی ضرورت ځکه وسو چی زما ماشومه د کافی ورځو څخه بیماره ده، علاج جاری دی، مسنون دعاګانی وئیلو سره پری دم کوم یا که د چا متعلق راته معلوم سی چی هغه جائز طریقی سره علاج کوی نو د هغه خواته هم حاضریږم، د مذکور ښځی شهرت اوریدلو سره ماته مشکل پیښ سو، نو د مذکوره ښځی په باره کی شرعی فتوٰی څه ده؟ د ښځی د روحانیت دعوٰی او دا اعلان کول چی په هغه باندی د الله ﷻ د کوم ولی یا سائین بابا سوری سوی دی او هغه د هغه په حکم سره د انسانیت خدمت کوی، او دوهم طرف ته یی طریقه غیر شرعی ده، ورسره داچی کله د هغه څخه داسوال وسو چی دا روحانی قوت یاسائین بابا داسوری په هغه باندی د څه خاص عملیاتو یاریاضیت د وجی حاصل سوی دی؟ نو جواب په نفی کی پیداسو، د ښځی وینا ده چی هغه هیڅ عمل یا ریاضیت نه دی کړی، برائی کرم جواب کړئ؟ چی د دی ښځی په باره کی شرعی حکم څه دی؟

جواب: د مذکوره ښځی څخه علاج کول او په دی غرض د هغی خواته تلل جائز نه دی او د کومو دوو غلطو خبرو چی سائل ذکر کړی دی هغه بلاشبه غلطی او ګناه ده د هغی

د غیب ښوول سوو خبرو باندی په حیثیت د غیب یقین کول کفر دی، د مذکوره ښځی بی پرده ګی او ځان جوړولو سره د سړو مخ ته کښی نستل د شریعت بالکل خلاف دی او په دی خلاف شریعت عمل باندی د سائین بابا د اړخه د اجازت ذکر د دی خبری دلیل دی چی د دی دا دعوٰی غلطه ده یایی کوم شیطان خطا کوی په داسی صورت کی د هغه په خبرو باندی یقین کولو سره په هغه باندی عمل کول جائز نه دی او نه د داسی خلګو څخه علاج کول درست دی.

والله اعلم

۱۳۸۵/۵/۲۷

(فتوٰی نمبر ۱۴۴۹/ ۳۶ و)

د غل یاورک سوی شی د معلومولو د پاره منتر یا ټوټکی معتبر دی او که نه؟

سوال: د غل یا ورك سوی شی د معلومولو په باره کی بعضی ټوټکی او منتر او حیلی وغیره شرعًا درست دی او که نه او دامعتبر دی او که نه؟

جواب: داشان اعمال شرعًا حجت نه دی او په دی باندی اعتماد کول پکار نه دی [1].

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۷۸/۱۰/۲۹ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۳۲۵/ ۱۸ الف)

په ادیره کی مخ په قبله کیدو سره دعاء کول

سوال: د جنازی د لمانځه څخه وروسته مستقله دعاء ثابته نه ده، مسلم دی او دفن کولو څخه وروسته دعاء مسنونه ده، خو د وضاحت طلب امر دادی چی وروسته د دفن کولو څخه د سوره بقره اول او آخر ویلو څخه وروسته چی کومه دعاء کیږی په هغه کی لاس لوړولو سره دعاء کول پکار دی، که په لاسونو پرینبوولو سره؟ د دی څخه وروسته د دعاء د پاره د لاس لوړول او دعاء کول، داکول خو د حضرت مولانا خیر محمد صاحب

[1] وګورئ فتاوٰی رشیدیه صـ ۲۲۱ والقول الجمیل مؤلف حضرت شاه ولی الله قدس سره بحواله مذکوره او امداد الفتاوٰی ج: ۴ ص: ۸۸.

مرحوم نماز حنفی مترجم می د نظر څخه تیرسو چې په هغه کی درج دی چې د لاس لوړولو څخه بغیر دعاء کول پکار دی او د هغه په مقابله کی حافظ ابن حجر رحمه الله ابی عوانه څخه د فتح الباری جلد ۱: ص: ۱۲۲ کی حدیث:

عن ابن مسعود رضی الله عنه رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم فی قبر عبد الله ذی البجادین الحدیث وفیه، فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعًا یدیه، څخه ثابتیږی چې د لاس لوړولو سره یې دعاء کړی وه، کومه خبره چې سنت یا مستحب دی په حواله د کتابونو ارشاد وفرمایی، چې آیا وروسته د دفن څخه لاس لوړولو سره دعاء کول پکار دی او که پرینبوولو سره؟

جواب: په ادیره کی د مخ په قبله کیدو په صورت کی لاس لوړولو سره دعاء کول د حضور صلی الله علیه وسلم څخه جائز او ثابت دی په صحیح مسلم کی د لیلة البراءة واقعه بیانولو سره حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی:

حتی جاء البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرّاة (ج: ۱ ص: ۳۱۳ قبیل کتاب الزکوٰة) (۱) د دی لاندی علامه نووی رحمه الله لیکی:

ویکره عند البقر کلما لم یعهد من السنة والمعهود منها لیس الازیارتها والدعاء عندها قائمًا کماکان یفعل صلی الله علیه وسلم فی الخروج الی البقیع. (البحر الرائق) (۲)

او لوړ ذکرسول چې په بقیع کی د حضور صلی الله علیه وسلم څخه رفع یدین ثابت دی، د دی څخه علاوه چې د صحیح ابوعوانه کوم حدیث چې تاسو نقل کړی دی هغه د فتح الباری (کتاب الاستیذان باب الدعاء مستقبل القبلة) لاندی حافظ نقل کړی دی، او په دی یې سکوت کړی دی، وروسته هغه هم د دی دلیل دی، حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په دی باندی فتوی ورکړی ده، چنانچی فرمائی: فی رد المختار: اداب زیارت القبور، ثم یدعوا قائمًا طویلاً (۳)، د دی څخه وروسته د دعاء جائز کیدل ثابت سول او د لاس لوړول مطلقًا اداب د دعاء دی وروسته داهم صحیح سول (امداد الفتاوی) (۴)

لهٰذا اصل مسئله خو همداده چې رفع یدین جائز دی، البته د دیوبند د اکابرو معمول د ترك رفع یدین پاته سوی دی، چې د هغه وجه غالبًا همداده چې په هندوستان کی د قبر

(۱) (طبع قدیمی کتب خانه)
(۲) بحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۹۲ (طبع سعید)
(۳) شامیه ج: ۲ ص: ۲۴۲،
(۴) امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۵۰۰،

پرستو کثرت وو، چې د صاحب قبر څخه به یې دعاګانی غوښتلی د هغوی سره د تشبیه راتلو څخه د پرهیز د پاره د لاس لوړولو سره څخه بغیر به یې دعاء کوله خو چا رفع یدین ته ناجائز هم نه دی وئیلی، بلکی بعضو مستندو علما دیوبند احقر پخپله په لاس لوړولو سره دعاء باندی لیدلی دی، لهٰذا حضرت مولانا خیر محمد صاحب چې کومه خبره لیکلی ده هغه په احتیاط باندی مبنی ده او د رفع یدین د ناجائز کیدو په وجه نه ده. هٰذا ماعندي.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۱۰/۳
(فتوی نمبر ۲۸/۳۱۲ ب)

د تعویذ په ذریعه د علاج کولو حکم

سوال: زما کور والا د څوارلس کالو څخه په تکلیف کی ده حالت یې بدلیږی رابدلیږی، د سرداسی محسوسول چې اوبه پریکیږی، په پښوکي داسی محسوسول چې څوك یې کاټ کوی د جسم یخیدل او سوزیدل، د کور څخه د تښتیدو کوشش کول کړی شکول، په جسم باندی پړسوب کیدل، د جسم لطیف کیدل، په پوره جسم یا په ولوباندی ډیر بوج محسوسول، څه داسی حرکتونه محسوسول چې د هغه تذکره نسی کیدلی، او د مدینی طرف ته د تلو په وخت کی داسی غلطی خبری ذهن ته راځی چې د سړی څخه ایمان ځی او کله د لاری څخه د بیرته تلو ورته وایی، داشان مختلف حالتونه وی، بعضی اوقات بی ارادی داسی وی چې اخوادی خواتښتی د دی علاج می د ډاکټرانو څخه ډیر وکی خو د آرام په ځای د هغو د روایاتو په جسم باندی نور اثرات وسول، نو ډاکټرانو ووئیل: چې روحانی علاج یې وکړه د سنه ۱۹۷۸ ء څخه د مختلفو خلګو څخه روحانی علاجونه هم وکړل، په دی علاج کی هغوی د تعویذ تړلو، چښلو یا سوزولو د پاره به یې راکول، څوك داسی روحانی مشر راته پیدانه سو چې بغیر د تعویذونو څخه علاج وکړی، زما په بچوهم مختلف کیفیات وی د هغوی هم روحانی علاج سره څه ګذاره کیږی، دلته د انګریزی په اخبار کی د تعویذونو د استعمال په باره کی په استفتاء باندی داسی لیکلی دی چې د هغه د وجی زه ډیر پریشانه سوی یم د هغه مطابق د تعویذونو استعمال په اسلام کی ممنوع دی، زه تاسوته ګذارش لرم چې تاسو په دی سلسله کی زما رهبری وکړئ آیا زه د خپلی ښځی او ماشومانو علاج د تعویذ په

ذریعه کولی سم؟ که نسم کولی نوماته څه بله لاره را وښایی، ځکه چی زه د خپلی ښځی او بچو د علاج ذمه واریم، (سائل عبد الوحید، جده، سعودی عرب)

جواب: د تعویذ په ذریعه علاج شرعًا جائز دی (۱) په دی شرط چی په تعویذ کی کوم کلمات ولیکل سی د هغه معنٰی معلومه وی (۲) په هغه کی څه خبره مشرکانه نه وی، مثلاً قرآنی آیتونو باندی مشتمل تعویذ کی څه حرج نسته (۳)، د سعودی عرب بعضی علماء د تعویذونو په باره کی چی کوم احادیث پیش کوی د هغه څخه مراد داسی تعویذونه وی چی په هغه کی مشرکانه خبری وی (۴)، یا چی کوم د الله ﷻ په ځای بذات خو د شافی وګڼل سی ورنه د قرآنی آیتونو دم کولی د حضور ﷺ څخه او د تعویذ لیکل او چښل یا زړه ول د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو څخه ثابت دی (۵).

والله سبحانه اعلم

۱۴۱۱/۹/۷ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۱۷/ ۴۷)

---

(۱) ایضًا.

(۲) ایضًا.

(۳) ایضًا.

(۴) وفی مشکوٰة المصابیح ج: ۲ ص: ۳۸۸ (قدیمی کتب خانه) عن عوف بن مالك الاشجعی قال: کنّا نرقی فی الجاهلیة فقلنا: یارسول الله ﷺ! کیف ترٰی فی ذالك؟ فقال: اعرضوا علیّ رقاکم، لابأس بالرقی مالم یکن فیه شرك. رواه مسلم (ج: ۲ ص: ۲۲۴ طبع قدیمی کتب خانه) (وکذا فی ابی داؤد ج: ۲ ص: ۱۸۲ طبع مکتبه حقانیه ملتان) وفی الشامیة ج: ۶ ص: ۳۶۳ (طبع ایچ ایم سعید) ولابأس بالمعوذات اذا کتب فیها القرآن او اسمآء الله تعالی .... وانما تکره العوذة اذاکانت بغیر لسان العرب، ولایدری ماهو ولعله یدخله سحر او غیر ذالك واما ماکان من القرآن او شئی من الدعوات فلابأس به .... الخ او همدارنګه د مکمل تفصیل د پاره د حضرت والا دامت برکاتهم تصنیف تکملة فتح الملهم ج: ۴ ص: ۳۱۷ ملاحظه کړئ.

(۵) مسلم شریف بعد کتاب الطب والمرض والرقی ج: ۲ ص: ۲۲۴ (تکملة فتح الملهم ج: ۴ ص: ۳۱۷ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی) فتاوٰی شامیه ج: ۶ ص ۳۶۳، ۳۶۴ عبارت د سابقه فتوٰی په حاشیه کی ملاحظه کړئ.

د قرآنکریم د نقش څخه علاوه د بل تعویذ حکم

سوال: زما د ماما ځوی وایی چی د قرآن مجید د نقش څخه علاوه د باقی نقوشو او تعویذونو د احادیثو څخه ثبوت نسته، مار ورته ووئیل: د بزرګانو تجربی دی، د هغه څخه هم مخلوق ته فائده رسی خو هغه نه منی نو لهٰذا څه حکم دی؟

جواب: په کومو تعویذونو کی چی د شریعت خلاف خبره نه وی هغه جائز دی په تعویذونو کی صرف قرآنی آیتونه لیکل ضروری نه وی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۰/۹/۲۵ هـ

د ماهواری په حالت کی د تلاوت او ذکر حکم

سوال: د حیض په ورځو کی ښځه سورة یاکلمه، درود وغیره وئیلی سی؟

جواب: د قرآنکریم تلاوت خو بالکل نسی کولی او په درود وئیلو کی څه خبره نسته. (۲) والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفٰی عنه احقر محمد تقی عثماني عفٰی عنه

۱۳۸۸/۷/۲ هـ

(فتوٰی نمبر ۷۶۳/ ۱۹ الف)

د اسم (بدوح) تحقیق

سوال: یابدوح آیا دا د الله ﷻ نوم دی، د تلاش کولو څخه وروسته هم راته معلوم نه سو.

جواب: (یابدوح) په قرآن کی خو دانوم نسته، خو د بعضی اهل علم لیکلی دی چی دا په عبرانی ژبه کی د الله ﷻ نوم دی (۳). (فقط والله سبحانه اعلم)

---

(۱) ایضًا.

(۲) فی الهندیه ج: ۱ ص: ۳۸ ومنها حرقه قرأة القرآن لاتقرأ الحائض والنفسآء والجنب شیأ من القرآن والایه ومادونها سواء فی التحریم علی الاصح، وفیه ایضًا ج: ۱ ص: ۳۸ ویجوز للجنب والحائض الدعوات والجواب الاذان ونحوذالك، وکذا فی الدر المختار ج: ۱ ص: ۲۹۳ ولابأس لحائض وجنب بقراءة ادعیة ومسها وحملها وذکر الله تعالی وتسبیح (بهشتي زیور ج: ۲ ص: ۱۸۳)

(۳) لفظ (بدوح) د باء په فتحه او دال په تخفیف سره، د مزید تفصیل د پاره وګوری فتاوٰی دار العلوم دیوبند (امداد المفتیین) ص: ۲۳۸، او فتاوٰی دار العلوم (عزیز الفتاوٰی ص: ۱۴۹).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۷/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۷۲۲/ ۱۹ الف)

د اختلاف لری کولو د پاره په خاوند باندی د تعویذ کولو حکم

سوال: د زید خور د لس دولس کالو څخه د عمر په نکاح کی ده او هرقسم فرمانبرداره ده، خو عمر هغه هروخت وهی ټکوی او تکلیف او آزار ورته رسوی، زید او د هغه خور د صبر څخه کار اخلی خو په هغه ظالم هیڅ نه کیږی، د طلاق حاصلول په څو وجو باندی مشکل دی، په دی صورة کی د عملیاتو سره عمر مطیع کول یا رټل جائز دی او که نه؟ او که کوم بل څه صورت وی راته یی وښایاست؟

جواب: د ټولو څخه ښه لار خوداده چی د عمر د پاره د خوش اخلاقی دعأ وکړئ او په نرمی او پوهولو سره یی په لار باندی د راوستلو کوشش وکړئ خو که دا شیان کارګر ثابت نه سول نو د کوم دیندار او د شریعت پابند عالم او عامل څخه داسی تعویذ اخستلو سره څه حرج نسته (۱) چی په هغه سره د خاوند په زړه کی محبت پیداسی، خو د تعویذاتو او عملیاتو په ذریعه هغه ته نقصان رسول هیڅکله جائز نه دی او سخته ګناه ده. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۷/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۸/ ۱۹ الف)

په رمضان کی د تراویحو څخه وروسته د وعظ کولو او څلویښت واره صلوٰة والسلام وئیلو حکم

سوال: د څوکالو څخه زموږ په ښار ګلو سټر برطانیه کی دا دستور راروان دی چی هره ورځ د تراویحو څخه وروسته د لږ ساعت د پاره وعظ کیږی چی د هغه څخه وروسته امام صاحب څلویښت واره صلوٰة وسلام په جهر سره وایی او باقی حضرات یی اوری د دی څخه وروسته دعاء کیږی، سوال دادی چی د درود شریف د ویلو داطریقه شرعاً جائزده؟

(۱) وګورئ سابقه حواله ص: ۲۷۸ او د هغه حاشیه.

جواب: داطریقه فی نفسه جائزده خو البته څلویښت صلوة وسلام جهراً وویه داسی التزام او اهتمام جائز نه دی چی د هغه څخه د داسی کولو مسنون یا ضروری کیدلو شبه وی، لهٰذا مناسب دادی چی د دی پابندی دی ونه سی کله چي یی کوی او کله یی پریږدی ورسره بهتره داهم ده چی درود شریف په خفیه طور وویل سی. والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱۰/ ۱۴۲۰ هـ

(فتوی نمبر ۵/ ۴۰۰)

آیا د ظاهری اسباب نه کیدو په صورت کی د دعاء اثر وی؟

سوال: که سړی ته اسباب او وسائل میسرنه وی بیاهم د دعاء اثر وی او که نه؟

جواب: هو! دعاء هم د نورو وسائلو او اسبابو په شان یوه وسیله ده او د نورو مادی وسائلو په مقابله کی زیاته ښه ده.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۷۰/ ۲۸ ج)

د اسم اعظم څخه څه مراد دی؟

سوال: د اسم اعظم دعاګانی کومی دی؟ او د دی څخه څه مراد دی؟ د کتاب حواله ولیکئ.

جواب: اسم اعظم بعضی حضراتو (یاحیِ یاقیوم) ته وئیلی دی او بعضو لَآاِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ، او بعضو نورو حضراتو (رَبِّ رَبِّ) او بعضو (اَللّٰهُ) او بعضو (لَا اِلٰهَ اِلاَّ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّی کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ) ته او داټولی صیغی (۱) د دعاء د قبولیت د پاره مجربی

(۱) وفی مشکوٰة المصابیح ج: ۱ ص: ۱۹۹ عن انس رضی الله عنه قال: کنت جالساً مع النبی ﷺ فی المسجد ورجل یصلی فقال: اللهم انی اسئلك بان لك الحمد لآ اِلٰهَ الا انت الحنان المنان بدیع السمٰوٰت والارض یاذالجلال والاکرام یاحی یاقیوم اسئلك: فقا النبی ﷺ: دعا الله باسمه الاعظم الذی اذا دعا به اجاب واذا سأل به اعطی، رواه الترمذی وابوداود والنسائی وابن ماجه: وفیه ایضاً ج: ۱ ص: ۲۰۰ عن اسمأ بنت یزید ان النبی ﷺ قال: اسم الله الاعظم فی هاتین الآیتین الهکم اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآاِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ وفاتحة آلعمران آلمٓ. الله لَا اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الحی القیوم، رواه الترمذی وابوداود وابن ماجه والدارمی.

دی، البته د اسم اعظم په باره کی د محققینو تحقیق دادی چی کوم یو اسم اعظم د باری تعالی ته په معین طور اسم اعظم وئیل مشکل دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۹۷۰/ ۲۸ ج)

د روژه مات په وخت کی دعا زیاته قبلیږی

سوال: د دعاء د قبولیت متعلق می اوریدلی دی چی د روژه مات او روژه نیولو په وخت زیاته قبلیږی ایا دا درست دی؟

جواب: د روژه مات په وخت د دعاء د قبولیت امید د حدیث څخه ثابت دی (۲).

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۹۷۰/ ۲۸ ج)

په تعویذ کی که خلاف شرع خبره نه وی نو جائز دی

سوال: تعویذ جوړول که څه هم د قرآن شریف آیتونه وی جائز دی او که نه؟

جواب: په تعویذ کی که څه خبره خلاف د شریعت نه وی نو د هغه جوړول او اینښول جائز دی (۳).

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۱/ ۱۳۸۲ ھ

(فتوی نمبر ۲۷۵۵/ ۲۷ و)

(۱) وفی المرقاة وقال ابوجعفر الطبرانی اختلفت الاثار فی تعیین الاسم الاعظم وعندی ان الاقوال کلها صحیحة اذ لم یرد فی خبرمنها انه الاسم الاعظم ج: ۵ ص: ۱۲)

(۲) عن عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ: یقول: سمعت رسول الله ﷺ یقول: ان للصائم عند فطره الدعوة ماترد کتاب الدعاء ج: ۲، صـ ۱۲۲۹ فی اسناده اسحاق بن عبد الله مدنی وهو مقبول وبقیة رجاله حسن، وقال ابن حجر هذاحسن حسن الفترحات الربانیة واخرجه ابن ماجة الهشام بن عمار مثلا فی الصیام باب فی صائم لاترد دعوته، وفی الزوائد اسناده صحیح.

(۳) وګورئ سابقه حواله صـ فتوی او د هغی حاشیه.

د عمل حاضرات شرعی حیثیت

سوال: د شریعت د مخه د (عمل حاضرات) شرعی حیثیت څه دی، جائز دی او که ناجائز؟

۲: د حاضراتو په ذریعه سوی فیصله قابل قبول کیدل پکار دی او که نه؟

جواب: د عمل (حاضرات) مفصل کیفیت او حقیقت تراوسه موږته د قابل اعتماد په ذریعه معلوم نه سو، خودومره واضح کول ضروری ده چی که د دی عمل په ذریعه سره جنات د انسان تابع یا مسخر کولی سی چی هغوی د خپلی مرضی مختار پاته نسی بلکی د عامل د مرضی مکمل تابع سی نو داعمل بالکل ناجائز دی ځکه چی جنات حُر دی او د هغوی غیر شرعی طریقی سره غلام جوړول بالکل حرام دی (۱)، او که د دی حقیقت څه نورشی وی نو هغه مفصل ولیکه او مسئله دی دوباره معلومه سی.

والله اعلم

۲۷/ ۱۱/ ۱۳۹۸ ھ

(بدیع العالم) نوم اینښوول او صرف د اِلاَّ اللهَ ذکر کولو حکم

سوال: په خدمت بابرکت کی عرض دی چی د بنده په زړه کی د خپل نوم متعلق د ډیری مودی څخه یو اشکال دی او هغه دادی چی د بنده نوم (بدیع العالم) اینښوول سوی دی حالانکي د بدیع لفظ د باري تعالی په شان کی وارد سوی دی ځکه د بنده په زړه کی خوف دی چی چیری په دی نوم باندی موأخذه ونسی، لهٰذا آیا د دی لفظ څه داسی معنٰی سته چی د هغه په وجه اشکال ختم سی، او دوهم عرض دادی: چی صرف د اِلاَّ اللهُ ذکر څنګه دی؟ دا ذکر جائز دی او که نه؟ زموږ بعضی حضرات دانه خوښوی او وایی چی اِلاَّ په معنٰی د غیرده لهذا د (الاَّ الله) ذکر په حقیقت کی د غیر الله ذکر دی.

عرض کوونکی احقر بدیع العالم

سابق پرنسیل عالیه مدرسه

(۱) فی احکام القرآن ج: ۴ ص: ۴۴ نعم یشهد فعله ﷺ علی ان تسخیر الجن کان غیر مرضی عنده لکمال الادب فی شان سلیمان فغیره اولی به وهو الذی قلنا من جوازه اذاکان الجن یحل استعانته وتسخیره من الکفرة واما المسلم فلایحل استرقامة او تقییده من غیر وجه کما فی الانسان کما لایخفی، همدارنګه د جناتو د تسخیر کولو متعلق د تفصیل د پاره وګورئ معارف القرآن ج: ۷ ص: ۲۲۵، ۲۲۶).

(لکشام بنگله دیش)

جواب: مکرم اَلسلم علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط د افتخار باعث سو.

بدیع په هغه اسماء الحسنیٰ کی نه دی چی د هغه استعمال د غیر الله د پاره جائز نه دی نو دانوم خو ناجائز نه دی، خو د یوی دعویٰ اړخ پکښی ضرور دی نو که په دی وجه یی بدلوی نو اختیار دی د (الاّ اللهَ) ذکر د دوازده تسبیح یو جزء کیدو سره ځکه صحیح دی، چی د دی ځخه مخکی د پوره کلیمی (لَا اِلٰهَ اِلاّ اللهَ) تسبیحات وئیل سوی دی ځکه د هر اِلاّ اللهَ سره لَا اِلٰهَ محذوف او ملحوظ وی، ورسره مشائخ داهم وایی چی د (لا) معبودَ اِلاّ اللهَ او لاَ مَحْبُوْبَ اِلاّ اللهَ وغیره ورسره تصور وکړی، البته د دوازده تسبیح د جزء ځخه بیغر یا د مذکوره تصور ځخه بغیر اِلاّ الله ذکر واخلی نو نه منقول دی او نه معقول، د دعاء درخواست دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

(۱۲/ ۲/ ۱۴۲۴ هـ)

کتاب حقوق المعاشرة وادابها

(د معاشرت حقوق او د هغه آداب)

د کورنی اختلاف او د والد سخت مزاجی حل او د طلاق په معامله کي د والد اطاعت واجب دی او که نه؟

سوال: محترم جناب مفتی صاحب دار العلوم کورنگی کراچی السلام علیکم!
مودبانه عرض دی زه د لاندینی مسئلی حل د قرآن او سنت په رڼا کی غواړم او غواړم چی د دی مسئلی څخه د الله ﷻ او د هغه د رسول ناراضګی اخستو څخه بغیر ووځم.
زه د خپلو والدینو یوځوی یم زماسره زما دوی خویندی هم دی په هغوی کی یوه واده سوی ده، زه د دواړو خویندو څخه مشریم حتی الامکان د خپل پلار د فرمانبردای کوشش کوم او د الله ﷻ شکردی چی زه په خپل کوشش کی کامیاب یم، زما والد صاحب چی عمریی تقریباً شپیته کاله دی ډېر سخت مزاجه سړی دی، ورسره هغه ډېر زیات اناپرست هم دی او د خپلی خبری په مقابله کی نه د چاخبره اوری او نه یی خوښوی زما والده تقریباً د پنځوس کالو ده، او هغه مستقبل بیماره وی، څه موده مخکی د هغه درسولی اپریشن سوی وو چی د هغی هغه په ذهن دومره اثر واخستی چی د هغی اعصاب ډېر خراب متأثر سول د ډېر زیات علاج او د کور والاوو (زما پلار او زما ښځه) د خیال د وجی د هغوی د هغی حالت خو بحال سو، خو لاس پښو کی یی طاقت پاته نسو، چی د هغه په وجه د هغه د خیال هروخت ضرورت وی زما پلار زما واده زما د (مرحوم ماما) د لور سره وکی او د هغی څخه زما دری انجونی دی، زما د واده څخه وروسته تراوسه پوری زما په ژوند کی او زما د ښځی د ژوند په معامله کی د والد صاحب مرضی چلیږی او بعضی اوقات د دی له وجي زه د خپلی ښځی او بچو حقوق صحیح طور باندی نسم اداء کولی، زه په نوی پرئیویټ اداری کی ملازم یم او خپل ډېر فرائض په خپل ملازمت کی د مصروفیت د وجی څخه نه سم اداء کولی زما د ښځی که څه هم زما پلار ډېرخیال ساتی خو په بعضی مسئلوکی ډېر زیات ناراضه کیږی هم او اکثره د ډېرو نازیبا الفاظو استعمال هم کوی چی هغه زه او زما ښځه د والدینو په حق کښلو سره برداشت کوو، داسی موږ اووه کاله ډېر په مشکله سره د والدینو د خوشحالولو د پاره تیر کړل او ډېری مسئلی داسی هم راغلی چی کله زما پلار موږ ته د کور څخه د وتلو ووئیل، خو موږ د خپل عاقبت د خرابیدو د بیری د معافی تلافی کولو سره مو هغوی خوشحاله کړل.

اوس صورت حال داسی سو چی زما والد ډېری خبری او زموږ غلطیانی چی هغه یی نظر انداز کولی سی، یا په هغه باندی اخوا دیخوا کولو سره معامله ختمیدی سی چی په هغه هم ډېره سخته رویه اختیاروی او معاملات ترآخره پوری ورانوی او په خبره خبره باندی موږ ته د وتلو وایی او کله کله زما د ښځی د طلاق ورکولو خبره هم کوی، کله چی هغه زموږ د کښلو خبره کوی نو داهم ماته وایی چی تابه د خپلی مور آخری دیدار کولو ته هم نه پریږدم، که ته می د کور څخه ویستی بل طرف ته.زماښځه چی پخپله هم ډېره د ښه مزاج والا نه ده، خو زما په پوهه کولو هغه ټولی خبری برداشت کوی، بعضی اوقات زما د مور په خدمت کی لاپرواهی هم کوی چی د هغه په وجه یی زه وترټلم نو پوه سی، زیاتره د خوش مزاجی مظاهره کوی، خو فطرةً زیاته خوش مزاجه نه ده، زما د خویندو حتی الامکان خیال ساتی کله کله معمولی اختلاف هم کیږی، د خپلو کوروالو بدیانی.په اوریدو سره د هغه مزاج خرابیږی، چی زما والد یی د ناراضګی په حالت کی ډېری کوی.
نرڅو چی زما تعلق دی نو زماکیفیت داسی دی لکه چی زه چا په مینځ باندی په توره نیم کړی یم، یعنی زه د خپلو والدینو سره ډېر محبت کوم په خاص طور د خپلی مور او خویندو سره، او د خپلی ښځی او بچیانو سره هم ډېر محبت کوم او خپل روزګار یعنی دفتری مسائلو سره سره دی کورنی مسائلو څخه هم ډېر پریشانه یم، ماته د خپلو انجونو د مستقبل هم ډېر فکر دی، که زما کور خراب سو یعنی که ماخپله ښځه د پلار د مرضی د وجی پریښووله، نوزما د بچو به څه کیږی یاکه ماخپل کور پریښووی او د کور والاوو یعنی د خپل مور پلار خفګان می واخستی، نو زما د والدینو خاصکر زما د مور خیال به څوك ساتی؟ دوهم طرفته به الله ﷻ هم ناراضه وی.
یعنی زه د دنیا او آخرت دواړو ضائع کیدو په خوف کی اوسم، اوس څو ورځی مخکی همداشان مسئله سوی وه، او سول داسی چی زما ښځه د خپلی مور کره تللی وه، په دی دوران کی زمامور په بیت الخلاء کی وښویدله او ما هغه بوتله او ټانکی می ورته ورلګولی ځکه چی د هغه سر ځیری سوی وو او زخمی سوی وو.
زما ښځی ته زما پلار په دوهمه ورځ په فون باندی اطلاع ورکړله او ورته یی ووئیل: چی څومره ژر راتلی سی نوراسه، ما د خپل دفتر څخه فون وکی او ورته ومی وئیل، چی ژر څه خوبدحواسه کیږه مه، زما د ښځی څخه په کورته رسیدلو کی تأخیر وسو او والد صاحب حسب مزاج ډېر قهر من سو، په دی موقعه زما ښځی هم د څه غلط رد عمل

اظهار وکی چی د هغه په وجه معاملات ډیر خراب سول زما په پوه کولو باندی زمابنځی د والد صاحب څخه معافی وغوښتله.

دلته به زه اوس دا ووایم چی زما په ژوند کی دا مسئلی او مسائل ډیر زیات سول او اوس حالات دی حد ته رسیدلی دی چی زما په ذهن کی یوه ورځ داخیال رالی چی زه دُبی ته ولاړسم او نوکری وکړم او ښځه او بچی هم هلته را وغواړم او والدین اکثره هلته راغواړم، یا زه پخپله د هغوی سره د لیدلو د پاره راځم، خو په دی کی هم د والدصاحب ناراضګی او د والد د خدمت څخه د محرومی خطره ده زما په ذهن کی څه نه راځی چی څه وکړم؟ ځکه چی په هره فیصله کی د الله او د هغه د رسول ﷺ بیره وی چی د والدینو یا د ښځی او بچو په سلسله کی د قیامت په ورځ ګرفت ونسی.

د پورته ذکرسوی تفصیلاتو څخه وروسته زما ستاسو څخه ګذارش دی چی زما د مسئلی د قرآن او سنت په رڼا کی څه ممکنه حل بیان کړی چی زه د خپل دین په حدودو کی پاته کیدو سره دامسئله حل سم او ذهنی سکونت پیداکم.

زه به په دی سلسله کی ستاسو زیات احسانمندیم، او د الله جل جلاله څخه دعاده چی تاسوته د دی اجر درکړی.

جواب: محترم او مکرم: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

کوم حالات چی تاسو لیکلی دی په دی کی مناسب همدامعلومیږی چی تاسو په خوش اسلوبی سره خپل اوسیدل جداکړی او جلا اوسیدلو سره چی څومره د والدینو خدمت کولی سی وی نه کړی، تاسو په څه وخت کی که ممکن وی نو د خپلو والدینو سره په نرمی خبره وکړئ چی د مزاجونو د اختلاف د وجی یوځای پاته کیدلو کی ستاسو حق تلفیانی کیږی، او مسائل پیداکیږی لهذا څه داسی صورت پیداکول مناسب معلومیږی چی په هغه کی دامسائل نه پیداکیږی او ستاسو د خدمت احسن طریقی سره د کولو موقع پیداسی، که د دی خبرو اترو په نتیجه کی څه لاره پیداسی چی په هغه سره کور کی په پاته کیدو کی هم مسائل حل سی نو ښه ورنه جدائی اختیار کړه، که په دی هم والد صاحب دی ناراضه کیږی نو انشآء الله په تاسو به ګناه نه وی، تاسو په هرممکن کی جاری ساته، داخبره دی په ذهن کی وی که پلار درته د ښځی د طلاق حکم درکړی نو د

دی حکم تعمیل شرعًا واجب نه دی، ترڅوچی ښځه د طلاق ورکولو لائقه نه وی. (١)

والسلام

۲۰/ ۴/ ۱۴۲۳ ھ

(فتوئ نمبر ۷۵/ ۵۵۰)

دخاوند د اجازت څخه بغیر د کور څخه د باندی تلل په جائز کار کي د خاوند اطاعت واجب دی

سوال: آیا مسلمانه ښځه د خاوند د اطلاع څخه بغیر او یا بغیر د اجازت څخه په محله کی قرآخوانی یامیره یانژدی خپلوانو کره یا مارکیټ ته د څه سامان اخستلو د پاره تللی سی او هغه د دوو درو بچو مور هم ده.

۲: ایا شریعت خاوند ته د هغه د منکوحی مسلمانی ښځی باندی فوقیت یا افضلیت ورکړی دی؟ آیا ښځه د خاوند د هرحکم پابنده ده؟ او ایا د مخ اړولو په صورت کی به ګنهګاره وی؟

جواب: د خاوند د اجازت یامرضی خلاف په برنی مقاصدو کی د هیڅ مقصد د پاره د کور څخه د باندی تلل د ښځی د پاره جائز نه دی (٢).

جواب: په ښځی باندی د خاوند اطاعت واجب دی (٣) مګر داچی هغه د څه داسی کار حکم وکړی چی هغه شرعًا ناجائز وی نو په داسی صورت کی د هغه مخالفت ضروری

---

(١) د دی مسئلی مکمل تفصیل د پاره وګورئ امداد الفتاوی اورساله تعدیل حقوق الوالدین. ج: ۴ ص: ۴۸۵.

د دی مسئلی مکمل تفصیل د پاره وګورئ امداد الفتاوی او رساله تعدیل حقوق الوالدین، ج: ۴ ص: ۴۸۵

(٢) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۴۵ (طبع سعید) فلاتخرج الا لحق لها او علیها او الزیادة ابویها کل جمعة مرة او المحارم کل سنة ولکونها قابلة او غاسلة لافیما عدا ذالك، وفی الشامیة (قوله فیما عدا ذالك) عبارة الفتح وماعدا ذالك من زیارة الاجانب وعیادتهم والولیمة لایأذن لها ولاتخرج ... الخ.

(٣) وفی مشکوة المصابیح باب عشرة النساء ص: ۲۸۱ (طبع قدیمی کتبخانه) عن ابی هریره رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ لوکنت امراً احداً ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها. رواه الترمذی وفیه ایضًا ص: ۲۸۳ عن ابی هریرة رضی الله عنه: قیل لرسول الله ﷺ: ای النسآء خیر؟ قال: التی تسره اذا

دی (۱) او په دی لحاظ سره خاوند ته په ښځی باندی فوقیت حاصل دی. لقوله تعالی: اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ (۲) ولقوله تعالی: وَلِلرِّجَالِ عَلَیْهِنَّ دَرَجَةٌ (۳)

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۸/ ۱۳۹۷ ﻫ

کورته ټیلي ویژن راوړلو د پاره پلار د کور څخه شړل د عالم د پلار او وروڼو خویندو سره قطع تعلق کول

سوال: په کومو کومو وجهو مسلمان د خپلو خپلوانو سره او خویندو وروڼو سره قطع تعلق کولی سی؟ او د کومو وجهو څخه منع دی؟

۲: یوهلك د واده خاوند دی د ثروت خاوند دی په کراچی کی یی دوه کورونه دی، یویی په کرایه ورکړی دی، پلاریی موجود دی چی د هغه عمر اویا کاله دی د ترکانی کاریی کوی، د پلار سره د هغه هلك د کور څخه علاوه څه د اوسیدلو ځای نسته، هلك د لوبو او تماشو عادی دی، ښځه یی په ریډیو باندی سندری اوری، ښځی خاوند ته شکایت وکی، د ښځی خاوند رایه د ټیلی ویژن د راوړلو سوه نو ښځی او خاوند په مشوره سره د والد تنګول شروع کړل، آخریی پلار تنګ سو او د کشری لور کره ولاړی، ټیلی ویژن هم راغلو او محلی والاته یی د کتلو دعوت هم ورکی، داشان د لوبو تماشو کتلو د پاره داشان بهانه جوړولو سره پلار د کور څخه ایستل شرعًا څه حکم لری؟

۳: یوسړی خپل ځوی د علم دین د پاره ولګوی، دیوبند خیال والادی هلك د دوو کالو پوری درس نظامی حاصلوی او څلور کاله وروسته یی والد صاحب په نیوکراچی کی کورهم واخستی او واده یی وکی، دامولوی چی د دوو کالو وو نو والده یی مړه سوه او

نظر وتعطیه اذا امر ولاتخالفه فی نفسها ولامالها بمایکره، رواه النسائی والبیهقی فی شعب الایمان، وفی البدیع منها وجوب اطاعة الزوج علی الزوجة. لقوله تعالی: وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ.... فیدل علی لزوم طاعتهن الازواج.

(۱) وفی الصحیح للامام المسلم رقم الحدیث ۱۸۳۹ ج: ۳ ص: ۱۴۶۹ (طبع دار احیاء التراث العربی) لاطاعة فی معصیة الله تعالی انما الطاعة فی المعروف، وفی مصنف ابن ابی شیبة رقم الحدیث: ۳۳۷۱۷ ج: ۶ ص: ۵۴۵، (طبع مکتبه رشیدیه) لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق.

(۲) سورة النساء: ۳۴،

(۳) سورة البقرة: ۲۲۸ (محمد زبیر حقنواز)

پلار بی پرورش کړی وو، خو د واده څخه وروسته مولوی صاحب د خپل پلار او خویندو سره قطع تعلق کړی دی، د اغیاروسره ناسته پاسته کوی د دی شرعی حکم څه دی؟

جواب: د دی سوال په جواب کی ډیر تفصیل دی څه خاص صورت متعین کړه او وی لیکه نو د هغه حکم به درته وښوول سی.

۲: په صورت مسئوله کی د هلك عمل سراسر د شرع خلاف دی په کورکی ټیلی ویژن ساتل پخپله یوه فتنه ده، بیا لاځه چی د هغه د پاره پلار تنګولو سره د کور څخه ایستلو باندی مجبورول په دی کی خو ډیری ګناه جمع سوی. (۱)

۳: په صورت مسئوله کی د دی هلك عمل درست نه دی ځوك چی په صحیح معنٰی کی عالم دین وی هغه داسی نسی کولی هغه ته پکار دی چی هغه د خپل دی عمل څخه توبه وکاږی او د خپل پلار او خپلوانو حقوق اداء کړی (۲).

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱/ ۱۳۹۷ ﻫ

د غیبت د چرچوله وجي د همسایه ګانو د کور د تګ راتګ څخه منع کول

سوال: په هرکور کی نن صبا د فتنی او غیبت ډیر زور دی همسایه ګان وغیره د غیبت د چرچو څخه منع کړه نو ښځی نه منع کیږی، به هرحال د فتنی او غیبت د وجی د بیمار پوښتنی او د کړی تعزیت ته هم تلل نه دی پکار که ولاړسو نو په غیبت اونورو مفاسدو کی مبتلاکیدل پریوځی، که ولاړه نسم نو همسایه ګان خوابدی کیږی او که په داسی صورت کی د مړی کور والاوو ته دا ووئیل سی چی زه ډیره زیاته مشغوله وم نو داخوبه په دروغو کی نه راځی؟

---

(۱) ایضًا.

(۲) وَقَضٰی رَبُّكَ اَلاَّ تَعْبُدُوْا اِلاَّ اِیَّاهُ وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْکِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ کِلاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا کَرِیْمًا (۲۳) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ. الآیه (الاسراء ۲۳، ۲۴) وآتِ ذَاالْقُرْبٰی [illegible] راء: ۲۶) همدارنګه وګورئ جامع الترمذی ابواب البر والصلة، باب ماجآء فی [illegible] ص: ۱۲ (طبع فاروقی کتبخانه)

جواب: حقوق شرعیه مثلاً عیادت او تعزیت د پاره تلل پکار دی (١)، خو چی کله داخطره وی چی د غیبت یا په څه بل څه بدی کی به مشغول سم نو په دی صورت کی اهل میت ته د خپل ځان په مشغول وئیلو کی به دروغ هم انشاء الله نه وی، او نیت د خپل کور مشغولیاتو یا ذکر الله کی د مشغول کیدو وکړه.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۵۹۱/ ۲۹ ب)

په ناجائز امورو کي د پلار د اطاعت حکم

سوال: څه فرمائی د دین علماء په دی مسئله کی چی دلته یوسړی خپل ځوی د لمونځ کولو او جومات د تلو څخه، او د قرآن پاك د ویلو څخه منع کوی، خلکو به هغه ته کمیونسټ وایه او بعضی ورته میرزائی وایی د هغه په همسایه ګانو کی مړی وسو، نو د هغه په جنازه کی شریك نه سو او د یومیرزائی په جنازه کی شریك سو او په تولو رسوماتو کی بی شریك سو، د دی څخه وروسته د هغه ځوی محمد قاسم د پلار سره کار کول پریښوول چی زما پلا میرزائی دی، اوس محمد قاسم وایی چی زما پلار میرزائی دی ماته د هغه سره څه معامله کول پکار دی؟

جواب: د پلار اطاعت صرف په جائز کارونو کی واجب دی، لهٰذا که پلار د جائز کار حکم وکی، نو ځوی ته د هغه اطاعت کول پکار دی، او په دی سره حسن سلوك او د هغه په خدمت کی دی کوتاهی نه کوی، خو که هغه د کوم ناجائز کار حکم ورته وکی، یا د شرعی فرائضو د اداء کولو څخه یی منع کړی نو په دی صورت کی یی اطاعت کول واجب نه دی. لقوله تعالی: وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ. الآیه (٢)

---

(١) وفی مشكوة المصابیح باب السلام ص: ۳۹۸ (طبع قدیمی کتبخانه) عن علی قال: قال رسول الله ﷺ للمسلم علی المسلم ست بالمعروف یسلم علیه اذا لقیه ویجیبه اذا دعاه ویشمته اذا عطس ویعوده اذا مرض ویتبع جنازته اذا مات ویحب لفنسه. رواه الترمذی والدارمی.

(٢) سورة لقمن: ۱۵- وفی الصحیح للامام مسلم رقم الحدیث ۱۸۳۹ ج: ۳ [illegible] (طبع دار الاحیاء التراث العربی) لاطاعة فی معصیة الله، انما الطاعة فی ال[illegible] مصنف ابن

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۱۱/ ۱۳۹۶ هـ

(فتوی نمبر ۲۷۳۹/ ۲۷ و)

د مور په حکم سره ښځي ته د طلاق ورکولو حکم

سوال: زما عمر ۳۶ کاله دی، د والد صاحب انتقال ۱۹۵۹ء کی سوی دی د هغه څخه وروسته تول ذمه واری په ماباندی راغلی ده، مور دری مشران ورونه یو، او دوی خویندی، زه پکښی منځنی یم، کله چی په ماباندی ذمه واری راغی ده، نو ما د خپلو دواړو خویندو او د مشر ورور واده کړی دی، د دی فرائضو د ادائیګی د وجی زما واده ونسو، والده می د دوه نیم دری کالو پوری درشتی په تلاش کی وه، چیری یی هم انجلی خوښه نه سوه او چیری د انجلی والا انکار وکی، د سرپرست نه کیدو د وجی می غلطه لاره اختیار کړله، یوه غریبه انجلی راته پیداسوه، مور دواړه د یوبل سره ولیده، بیا یو وخت زموږ څخه غلطی وسوه، او حمل پیداسو، مور اسقاط وکی، دوهم وار هم داسی وسول ماتوبه ویسته خو په تعلق کی د کمی نه کیدو په وجه او د انجلی د ویلو په سبب چی زه به اوس هیڅکله واده ونکړم څکه چی د هغه ژوند خراب سوی دی، په دی دوران کی زموږ څخه په دریم وار غلطی وسوه او حمل پیداسو (په دی دوران کی ما د خپلی مور د راضی کولو کوشش کوی چی واده وسی خو هغی نه منل که منلی یی وای نو شاید چی داغلطی به نه کیدله، په دریم وار د اسقاط کولو په حق کی نه وم، که څه هم راضی وه، د یوقاضی صاحب سره می خبره وکړله او باقاعده یوځو دوستانو په مخکی می نکاح وکړله، دوستانو ته هم دامعلومه نه وه چی زما نکاح کیږی، تاریخ مادوی میاشتی مخکی واچوی، اوس والدی، ورور، خویندو ته علم دی چی ماچیری واده کړی دی، خو والده سخته ناراضه ده، چونکی زه د هغی د ارمانونو مرکز وم، اوس مور راته وایی چی دی انجلی ته طلاق ورکړه نو زه به دی معاف کړم شیدی به دروبخښم او که نه وی نو دی نه معاف کوم، زه پنځه وخته لمونځ ګذار یم، د الله ﷻ څخه د ګناهونو معافی غواړم، ماته د مورهم ضرورت دی، او د دی بدنصیبی ښځی هم، خو دا اور او اوبه به څنګه سره ګډیږی؟ تاسو څه وظیفه راته ولیکی چی په

ابی شیبه رقم الحدیث: ۳۳۷۱۷ ج: ۲ ص: ۵۴۵ (طبع مکتبة الرشد ریاض) لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق.

دنیا کی شرمندګی نه وی.

جواب: تا اوستا د ښځی څخه چی کومه ګناه سوی ده په هغه باندی د زړه د اخلاص سره توبه او استغفار وکړه او د خپل ژوند د احکام الهی مطابق جوړولو په فکر کی لګیاسه انشاء الله که ریښتنی توبه وی نو الله ﷻ به داګناه معاف کړی، اوس که ته د خپلی ښځی څخه مطمئین یی او د طلاق ورکولو څه وجه نسته، نو په تاباندی په دی مسئله کی د والدی د حکم تعمیل واجب نه دی (۱)، که چیری د والدی د راضی کولو د پاره هغه ته اصل حقیقت مناسب طریقی سره وښایه وسره د قران او حدیث هغه احکام هم ورته وښایه چی په هغه کی تصریح ده چی ریښتنی توبی سره هره ګناه معاف کیږی، حضور ﷺ هم د دی د معاف کولو حُکم ورکړی دی که هغه راضی سی نو ډیره ښه ده، نو که نه یی په تاباندی په دی مسئله کی د هغی د حکم تعمیل واجب نه دی (۲) هغه په نورو طریقو د خوشحالولو کوشش کوه او خپلی ښځی ته هم هدایت وکړه چی هغه په خپل خدمت سره د هغی رضامندی حاصله کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۹۴۲/ ۲۸ ج)

د مرزائیانو سره تعلق ساتونکو خپلوانو سره د تعلق حکم

سوال: د زید نژدی خپلوان بکر مرزائی دی، زید د شرعی قانون مطابق د بکر سره هیڅ قسم تګ راتګ نسی کیدی خو د زید رشته دار د داسی کسانو کورته په خوشحالی یاغم کی ځی چی هلته د بکر تګ راتګ دی د داسی کسانو څخه مراد هم خپلوان دی چی د هغوی سره یی د خپلولی تعلقات دی، خو داخلګ باوجود د مسلمان کیدو وغیره باوجود د بکر سره تګ راتګ ساتی، اوس د هغه تعلق دارو په کور معاملات وغیره کی شریك وی او د بکر تل راتلل هلته وی نو آیا شرعًا داسی کورته تلل جائز دی؟ چی

(۱) ایضًا.

(۲) د دی مسئلی د مکمل تفصیل د پاره وګورئ حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی قدس الله سره رساله (تعدیل حقوق الوالدین) امداد الفتاوىٰ ج: ۴ ص: ۴۸۰ تر ص: ۴۸۵ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

کوم خلګ داسی وی چی هغوی کره د مرزایانو تلل راتلل وی یا د هغوی خپلوانو کره د مرزایانو تګ راتګ وی د هغوی سره د تعلق په باره کی وضاحت وکړئ؟

جواب: په مسئوله صورت کی د زید د پاره د خپلو مسلمانو خپلوانو کره د تلو راتلو ګنجائش سته، خو هغه ته پکار دی چی هغه خپل مسلمان خپلوان د مرزائیانو سره د قریبی تعلقاتو ساتلو څخه په حکمت سره منع کړی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۵/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوىٰ نمبر ۷۹۲/ ۲۹ ب)

استاذ ته د ښکنځلو کولو حکم

سوال: څه وایی علماء کرام په دی مسئله کی چی کوم شاګرد استاذ ته ښکنځل وکړی نو د دی حکم څه دی؟ عاق کیدی سی او که نه؟

جواب: یومسلمان ته ښکنځل کول حرام دی، سباب المسلم فسوق، (۲) الحدیث خاصکر استاذ ته ښکنځل کول لویه ګناه ده په حدیث شرف کی د علماوو د تعظیم ذکر دی او ځوك چی د علماوو توهین کوی هغه زموږ څخه نه دی.

والله سبحانه اعلم

۳/ ۱۱/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۱۳۳۳/ ۱۸ الف)

د والدینو او استاذانو د پاره تعظیمًا د دریدلو شرعي حیثیت

سوال: د والدینو یا استاذانو د پاره تعظیم دریدل شرعًا جائز دی او که نه؟

(۱) وفی تکملة فتح الملهم ج: ۵ ص: ۳۵۲ قال ابن عبد البر .... اجمع العلماء علی ان من خاف من مکالمة احد وصلته مایفسد علیه دینه او یدخل مضرة فی دنیا، یجوز له مجانبته وبعده ورب صوم جمیل خیرمن مخالطة توذیه الخ.

(۲) وفی صحیح البخاری باب ماینهی عن السباب واللعن ج: ۲ ص: ۸۹۳ قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق، وقتاله کفر، وفیه ایضًا ان النبی ﷺ یقول: لایرمی رجل رجلاً بالفسوق ولایومیه بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذالك.

جواب: والدینو، استاذانو، اهل علم یانورو قابل تعظیم افرادو د پاره دریدل د تعظیم په غرض جائز دی بلکی فقهاوو ورته مستحب لیکلی دی، درمختار کی دی: وفی الوهبانية يجوز بل يندب القيام تعظيماً للقادم كما يجوز القيام ولوللقارى بين يدى العالم وقال الشامى تحته اى ان كان ممن يستحق التعظيم قال فى القنية قيام الجالس فى المسجد لمن دخل عليه تعظيماً وقياماً قارى القرآن لمن يجيئ تعظيماً لايكره اذاكان ممن يستحق التعظيم. (شامى ج: ۵ ص: ۲۴۲ كتاب الحضر والاباحة قبيل فصل البيع) (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۱/ ۱۳۹۲ ھ

(فتوىٰ نمبر ۲۷/۲۷۵۵ وروسته)

د والدینو په ویناباندی بغیر د شرعي عذر ښځي ته د طلاق ورکولو حکم

سوال: عام طور مشهور دی چی صرف د والدینو په ویناباندی بغیر د شرعی عذر ښځی ته طلاق ورکول پکار دی آیا دادرست دی؟ په کورکی د جنګ د وجی ښځه والدین په دی باندی مجبوره کړی نو څه حکم دی؟

جواب: که خاوند د طلاق ورکولو په څه معقوله وجه باندی نه پوهیږی نو هغه د پاره خپل والدین په نرمی سره پوهول پکار دی چی طلاق بالکل اخری قدم دی، چی هغه بغیر د سختی مجبوری څخه نسی اختیارولی په حدیث شریف کی د سرکار دوعالم ﷺ ارشاد منقول دی چی: ابغض المباح الى الله الطلاق (۲)، یعنی په مباحاتو کی د الله ﷻ په نزد د ټولو څخه زیات مبغوض شی طلاق دي، امید دی چی نرمی او حکمت

(۱) الدر المختار مع رد المختار ج: ۶ ص: ۳۸۴ (طبع سعيد) وفى صحيح البخارى ج: ۲ ص: ۹۲۶ باب قول النبى ﷺ (قوموا الى سيدكم) عن ابن ابى سعيد ان اهل القريظة نزلوا على حكم سعد فارسل النبى ﷺ اليه، فجاد، فقال: قوموا الى سيدكم .... الخ وفى حاشية البخارى وفيه استحباب القيام عند دخول الافضل وهو غير القيام المنهى لان ذالك بمعنى الوقوف وهذا بمعنى النهوض .... الخ.

(۲) سنن ابى داؤد ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع مكتبه امداديه ملتان)

سره پوهیدنه وسی نو والدین به پوه سی، که بیاهم هغوی پوه نسی نو طلاق دی نه ورکوی (۱) او د راضی کولو کوشش دی کوی. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد عاشق الٰی بلند شهری   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۲/ ۱۲/ ۱۳۸۷ ھ

(فتوىٰ نمبر ۱۸/۱۴۲۴ الف)

د وړونو خویندو څخه د ښځي په ملاقات باندی پابندی لګولو حکم

سوال: ایا کوم مسلمان خاوند ته اسلامی شریعت دا اختیار ورکړی دی چی هغه خپله ښځه د خپلو ذاتی وجوهاتو رنجش، عداوت، غرور، او تکبر د وجی د هغی د وړونو او خویندو سره په ملاقات کولو باندی پابندی ولګوی؟

جواب: د وړونو د ښځی په ملاویدلو باندی بغیر د څه وجی پابندی لګول د خاوند د پاره مناسب نه دی، البته که څه معقوله وجه وی، مثلاً د هغه سره په ملاویدلو کی د فساد خطره وی نو بیا جلا خبره ده.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱/ ۱۴۱۲ ھ

(فتوىٰ نمبر ۵۲/ ۱۳۹)

اسلامي ګرافکس
کویټه بلوچستان
اړیکي
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱
ناشر
مکتبة العلوم الدینیه
کاسی روډ کویټه

(۱) د تفصیل د پاره وګورئ امداد الفتاویٰ ج: ۴ ص: ۴۸۰ تر ۴۸۵، او عزیز الفتاویٰ ص ۱۵۳.

کتاب السیر والمناقب

دانبیاء او مختلفو شخصیاتو حالات او مناقب

په قسطنطنیه باندی حملي کي د شرکت په وجه د یزید د جنتي کیدلو عقیده ساتل

سوال: عن خالد بن معدان ان عمیر بن الاسود العنسی حدثه انه أتی عبادة بن الصامت وهو نازل فی ساحل حمص وهو فی بناء ومعه ام حرام قال عمیر فحدثتنا ام حرام انها سمعت النبی ﷺ یقول: اول جیش من امتی یغزون البحر قد اوجبوا، قالت ام حرام: یارسول الله ﷺ! انا فیهم، قال: انت فیهم، قالت: ثم قال: اول جیش من امتی یغزون مدینة قیصر مغورلهم، فقلت: انا فیهم یارسول الله! قال: لا.

قسطلانی د بخاری شارح لیکلی دی چی: کان اول من غزامدینة قیصر یزید بن معاویة ومعه جماعة من سادات الصحابة کابن عمرو وابن عباس وابن الزبیر، ابی الانصاری وتوفی بها ابو ایوب سنة اثنین وخمسین من الهجرة، علامه ابن حجر د دی حدیث په شرح کی لیکی: قال المهلب فی هذا الحدیث منقبة لمعاویة لانه اول من غزا البحر ومنقبة لواده لانه اول من غزا مدینة قیصر، په دی پرچه کی د یزید متعلق د احادیثو څخه ظاهریږی چی هغه جنتی دی لکه چی د بخاری حواله ورکول سوه د حقیقت څخه موخبر کړئ.

جواب: کوم حدیث چی منسلکه پرچه کی نقل سوی دی، هغه په صحیح بخاری کی د سند سره موجود دی، بیا علماوو په دی کلام کړی دی، چی د دی لښکر څخه کوم لښکر مراد دی؟ ترڅو چی د مخکنی سمندری جهاد تعلق دی، د هغه په باره کی هیڅ اختلاف نسته چی هغه د حضرت عثمان ؓ په زمانه کی د حضرت معاویه په لاس سرته ورسیدی، البته په قسطنطنیه باندی مخکنی حله کوونکی لښکر کوم یو وو؟ په دی باره کی اقوال مختلف دی، یوقول خو دادی: چی حضرت معاویه ؓ د سفیان بن عوف په مشری کی یولښکر قسطنطنیی ته لیږلی وو، چی په هغه کی حضرت ابن عباس ؓ، ابن زبیر ؓ او ابو ایوب انصاری ؓ موجود وو او په همدی کی د حضرت ابوایوب انصاری ؓ وفات سو، علامه عینی ؒ داقول زیات راجح ګرځولی دی، قلت الاظهر ان هؤلاء السادات من الصحابة کانوا مع سفیان هذا ولم یکونوا مع یزید بن معاویه لانه لم یکن اهلاً ان یکون هؤلاء السادات فی حد منه، دانبه ظاهره ده چی د اکابر صحابه ؓ به د سفیان سره وی، د یزید بن معاویه سره نه، ځکه چی هغه د دی بالکل اهل نه وو چی دا حضرات صحابه کرام ؓ د هغه په خدمت کی پاته سی،

(عمدة القاری ج: ۱۴ ص: ۱۹۸، ۱۹۹، ادارة الطباعة المنیرة وکذا فی طبع دار الفکر)

خو په تاریخی طور باندی داقول زیات مشهوره دی، چی په قسطنطنیه باندی د مسلمانانو په مخکی حمله د یزید بن معاویه په مشری کی سوی ده، د دی څخه بعضی علماوو د یزید بن معاویه فضیلت اخذ کړی دی، خو حافظ ابن حجر، علامه بدر الدین عینی او نورو محققینو علماوو د دی تردید کولو سره دالیکلی دی چی په حدیث مذکوره کی یوعام حکم ورکول سوی دی، د کوم فرد تخصیص نسته، لهٰذا داکیدی سی چی یوسړی د نورو اسبابو په وجه د دی عام حکم څخه خارج وی. (فتح الباری ج: ۶ ص: ۷۸).

ګوانکی چی داداسی دی لکه چی حدیث شریف کی فرمائیل سوی دی: مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ) یعنی څوك چی لا اله الا الله ووایی: هغه به جنته ته داخلیږی، ښکاره خبره ده چی دایو عام حکم دی او د لا اله الا الله وئیلو تقاضا هم داده چی هغه جنت ته داخل سی، خو که د نورو ګناهونو ارتکاب وکړی یا وروسته مرتد سی، نو هغه به د دی عام حکم څخه خارج سی، صحیح خبره داده چی د دی حدیث اصل مقصد د جهاد قسطنطنیه ترغیب ورکول او په دی جهاد کی د شرکت د فضیلت اظهار دی، چاته چی دا فضیلت حاصل سی، د هغه انکار کول هم غلط دی، خو د دی فضیلت په وجه د نورو ناجائزو افعالو جواز نسی تلاش کیدی، یزید بن معاویه که په دی جهاد کی شرکت یاسربراهی وکړله نو بلاشبه د هغه داعمل نیك او باعث د اجر دی، خو د دی نیك عمل د وجی د هغه ناجائزو افعالو جواز نسی ثابت کیدی چی هغه په خپل عهد حکومت کی کړی وو، چنانچه د اهل السنت والجماعت مسلك په دی باره کی همدا دی چی هغه مسلمان وه ځکه محقق علماوو په هغه باندی لعنت وئیل جائز کړی نه دی، او نه داوئیل صحیح دی چی په قیامت کی به د هغه بخښنه نه کیږی، هغه پخپل عهد کی بغیر د څه شبهٔ څخه بعضی ناجائز افعال کړی دی هغه افعال به ناجائز ګرځول کیږی او د هغه وروسته معامله د الله جل جلاله سره ده، که د هغه خوښه سی نو مغفرت به یی وکړی او که وغواړی نو سزابه ورکړی، زموږ سره ذریعه نسته چی د هغه په ذریعه په دنیا کی د هغه د مغفور له یا معذب کیدو فیصله وسوه د یزید په باره کی د اهل السنت د مسلك بهترینه ترجمانی علامه ابن تیمیه په دی الفاظو سره کړی ده: (الناس فی یزید طرفان ووسط قوم، یعتقدون ان من الصحابة او من الخلفاء الراشدین مهدئیین او من الانبیاء وهذا کله باطل، وقوم یعتقدون انه کافر منافق فی الباطن ... وکلا القولین باطل یعلم

بطلانه کل عاقل - فان الرجل ملك من ملوك المسلمین وخلیفه من خلفاء الملوك لاهذا ولا هذا (منهاج السنة علامه ابن تیمیه. ج: ۲ ص: ۳۲۱ (طبع مکتبة الریاض، الحدیثة ریاض) د دی څخه صفا ظاهره ده چی یزید د خلفائی راشدینو څخه ګڼل هم غلط دی، او هغه کافر او منافق ګرځول هم صحیح نه دی، د اهل حق مسلك د دی افراط او تفریط ترمینځه دی، په دی اعتدال قائم کیدل پکار دی او دا شان فضول بحثونو او جنګونو یا په هغه کی خپل د عمر اوقات قائم کیدل پکار دی او داشان فضول بحثونو او جنګونو یا په هغه کی خپل د عمر اوقات صرف کولو څخه اجتناب پکار دی. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۰/ ۱/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۴۳/ ۲۲ الف)

د جون د قبیلي د ښځي اُمیمه بنت شراحبیل متعلق د شیعه ګانو منګهړت قصّه

سوال: داواقعه په بخاری شریف کی موجوده دَه او که نه؟ د شیعه ګانو د کتاب څخه نقل سوی داواقعه په عدالت کی پیش کول دی، زما مخ ته چی کوم کتاب دی د دی په صفحه ۲۷ باندی دا واقعه داسی نقل سوی ده او زه هغه حرف په حرف نقل کوم، یوه جونیه ښځه حضور ﷺ (معاذ الله) په څه تدبیر سره د کور څخه هغه را وغوښتله او د ښار څخه د باندی تللو سره د درختو د پاڼو په اړکی د هغی څخه خپل مطلب پوره کول وغوښتل، په دی باندی هغی چغی کړی او بد دعاء یی وکړه کله چی هیڅ طریقی سره راضی نسوه، معاملی طول ونیولو، د نیولو خوف پیداسو، د برسیره کیدو وخت نژدی سو، د ډیری زیاتی رسوائی خطره پیداسوه، او حضور ﷺ د هغی څخه بالکل مایوسه سو، نو هغی ته د څه ورکولو سره بیرته واستوله،

دا ډیره زیاته رسوا کوونکی واقعه هم د دی صحیح بخاری ج: ۶ ص: ۱۲۲ کی موجوده ده.

په دی ویلو سره نن په دنیا کی د حضور ﷺ د عفت او شرافت به څومره بدحال سوی وی؟

جواب: ستاسو خط راکول سو، د شیعه ګانو د کوم کتاب څخه چی تاسو کوم عبارت نقل کړی دی هغه د هغه خلګو د خپل عادت مطابق غلط طور باندی جوړولو سره بیان

کړی دی، اصل واقعه چی صحیح بخاری کی مروی ده، د هغی خلاصه د نورو روایاتو په رڼا کی داده چی د جون قبیلی یوسردار مسلمانیدو سره د حضور ﷺ خواته راللی او هغه ذکر وکی چی زموږ په قبیله کی یوه ښځه امیمه بنت شراجیل کنده سوی ده او هغی ستاسو سره د نکاح رغبت ښکاره کړی دی حضور ﷺ د هغی د حالاتو معلومولو څخه وروسته د نکاح رضامندی ښکاره کړله، او نکاح یی ورسره وکړله هم، او د هغوی د وطن څخه یی مدینی طیبی ته را وغوښتله کوم سړی چی هغه راوستلی وه، هغه هغی ښځی لره د بنوساعده په کور کی ایساره کړله او حضور ﷺ ته یی اطلاع ورکړله، حضور ﷺ هلته تشریف وی وړی او د منکوحی کیدو په حیثیت سره یی د هغی کوټی ته داخل سو او کله چی یی د هغی سره څه خبره شروع کړله، نو هغوی داکلمه ووئیله: چی زه ستا څخه د الله پناه غواړم، حضور ﷺ په دی باندی وفرمائیل: چی تا د یوداسی ذات پناه غوښتی ده چی د پناه غوښتلو لائق دی، نو حضور ﷺ د دی څخه وروسته هغی ته طلاق ورکی، او هغی ته یی جوړی ورکړی او بیرته خپل کورته د لیږلو حکم یی وکی، داواقعه داخلاصه صحیح بخاری کتاب الاشربة حدیث نمبر ۵۲۳۴، صحیح مسلم کتاب الاشربة باب اباحة النبیذ او د طبقات ابن سعد ج: ۸ ص ۱۴۳ څخه مأخوذ ده [1].

پاته سوه دا خبره چی هغی ښځی پناه ولی وغوښتله، د دی په باره کی په بعضو ضعیفو روایتونو کی دا وئیل سوی دی چی څه ازواج مطهراتو هغی ته داکلمه ښوولی وه چی (اعوذ بالله منك) کلمه حضور ﷺ ته خوښه ده او مقصد یی داوو چی حضور ﷺ د هغی څخه داکلمه واوری او هغی ته طلاق ورکړی خو دا روایتونه د واقِدی او هشام بن الکلبی روایتونه دی چی په طبقات ابن سعد کی د هغوی په حواله سره بیان سوی دی او دا دواړه ناقابل اعتبار راویان دی چی په خپلو دروغو او رفض کی مشهور دی، لهذا په دی باور نسی کیدلی او نه د امهات المؤمنین څخه دا توقع کیدی سی.

احقر ټول متعلقه روایات مخ ته د ایښوولو څخه وروسته تکملة فتح الملهم [2] کی داخیال ظاهر کړی دی، چی شاید دغه ښځه په دماغی اعتبار سره روغه نه وه، د هغی

---

[1] صحیح بخاری ج: ۲ ص: ۸۴۲، صحیح مسلم ج: ۲ ص: ۱۲۸، ۱۲۹، او طبقات ابن سعد ج: ۸، ص: ۱۴۳، ۱۴۴.

[2] کتاب الاشربة ج: ۳ ص: ۲۵۰.

څه نوری جملی هم په صحیح بخاری کی مروی دی چی د هغه څخه د دی تائید کیږی، دا دی د واقعی مختصر حقیقت، دا د مذکوره کتاب عبارت سره وګوره چی په دواړو عبارتونو کی څومره تضاد دی؟ چی هغه ته د تحریف او بد دیانتی څخه علاوه څه بل نوم نسی ورکولی. والسلام

۲۵/ ۱/ ۱۴۱۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۴/ ۴۱ الف)

د بعضو تاریخي روایاتو په بنیاد باندی د صحابه کرامو رضي الله عنهم په حق کي بدګماني کول

سوال: ایاڅوك په دی الفاظو سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم د توهین اړخ نقل کولی سی؟

۱: عمرو بن العاص امیر معاویه ته ووئیل: چی اوس به زه یوداسی چال چلوم چی یاخوبه جنګ ختم سی او یابه د حضرت علی رضي الله عنه په فوج کی نفاق پیداسی، هغه د خپل فوج په متعدد ونیز وقرآن بندی پری وخیژوی.

۲: حضرت ابوموسیٰ اشعری او عمرو بن العاص رضي الله عنه د خلوت یوی ګوشی ته کښی نستل او مشوره یی وکړه چی حضرت علی او حضرت معاویه دواړه د خپل منصب څخه معزول کړی، عمرو بن العاص دوکه وکړه چی حضرت ابوموسیٰ اشعری په منبرباندی د فیصلی د پاره د درولو حضرت ابو موسیٰ اشعری اعلان وکی چی موږ دواړه معزوله کوو، وروسته عمرو بن العاص د حضرت علی رضي الله عنه د معذوری اعلان وکی او د حضرت معاویه د معزولی نفی یی وکړله، ابو موسیٰ اشعری د هغه په وینا باندی حق حیران پاته سو، او وی فرمائیل: چی دا اعلان صریح غدای او بی ایمانی ده.

۳: امیر معاویه په زبردستی باندی د یزید د پاره بیعت اخستی وو، خو امام حسین رضي الله عنه متفق نسو، د خلفائی راشدینو خو داحال وو چی د خلافت معامله به یی په رایه باندی پریښووله خو امیر معاویه د قیصر او کسریٰ د سنت مطابق د بادشاهت سلسله جاری کړله؟

جواب: په مذکوره عبارتونو کی چی کومی خبری صحابه کرامو رضي الله عنهم طرف منسوب سوی دی هغه د تاریخ په بعضو کتابونو کی موجود دی، خو خاص طور مشاجرات صحابه رضي الله عنهم په بیان کی تاریخی روایات دومره مختلف دی چی ډیر متضاد دی، چی د هغه څخه د صحیح واقعاتو معلومول ډیر مشکل دی، لهذا د هغه په بنیاد باندی د

صحابه كرامو رضي الله عنهم په حق كې بدګانی كول د هوښيارتيا خلاف دی، د هغوی معامله هم په هغوی باندی پريږدی او د هغوی حرمت او عظمت په زړه كې ساتل پكار دی، تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ. [1] فقط

والله سبحانه اعلم

١٣٨٧/١١/٣

(فتوی نمبر ١٨/١٣٣٥ الف)

د حضرت فاطمي رضي الله تعالى عنها د نكاح تاريخ

سوال: څه فرمائی علمائی دين په دی مسئله كی چی د حضور ﷺ د لور حضرت فاطمی رضي الله تعالى عنها نكاح په كوم تاريخ سوی ده؟ او مهر يی څومره مقرر سوی وو؟

جواب: د حضرت فاطمی رضي الله تعالى عنها نكاح رمضان المبارك سنه٢ ھ كی وسوه او څلور سوه مثقاله سپين زر مهر مقرر سو، د نكاح د تاريخ په باره كی يوقول رجب سنه ٢ ھ هم سته. (اصابه ([2]) واستيعاب ([3]))

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٣٨٣/٤/٢٧ ھ

جواب صحيح دی څلور سوه مثقاله سپين زر زموږ د مروجه وزن په اعتبار سره يونيم سل تولی كيږی تقريباً. (محمد شفيع عفی عنه)

د حضرت خديجي رضي الله تعالى عنها په مال باندی په تجارت كولو د حضور ﷺ د پاره څه كميشن مقرر وو؟

سوال: حضور ﷺ چی به د حضرت خديجی مال اخستلو سره تجارت د پاره تلی نو په ابتداء كی د حضور ﷺ د پاره څه كميشن مقرر وو او كه نه؟

جواب: حضرت علامه واقدی ليكلی دی چی حضرت خديجة الكبریٰ رضي الله تعالى عنها به كومو خلكو لره خپل مال سره د تجارت د پاره ليږل د هغوی سره به يی د مضاربت معامله

[1] سورة البقرة ١٣٤. ١٤١.
[2] ج: ۴ ص: ٣٢٢ (مطبه مصطفی محمد مصر)
[3] ج: ۴، ص: ١٨٩٣، ١٨٩۴ (طبع دار الجبل بيروت).

كوله يعنی په منافعه كی به يی يوه مناسبه حصه هغوی ته وركوله او د حضور ﷺ د پاره يی د عامو خلكو څخه دوچنده حصه مقرره كړی وه، وانا اعطيك ضعف ما اعطی رجلاً من قومك .... وكانت تستأجر الرجال وتدفع اليهم المال مضاربة (الزرقانی شرح المواهب ج: ١ ص: ١٩٨) ([1]) والله اعلم

الجواب الصحيح محمد عاشق الٰی بلند شهری — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٣٨٧/١٢/١۴ ھ

(فتوی نمبر ١۴٣٩ ١٨ الف)

د حضرت معاويه رضي الله عنه په باره كي د كتاب (شهيد كربلا) او د بعضو اكابرو د عبارتونو جواب

سوال: ګذارش دادی چی ستاسو تصنيف كړی كتاب (حضرت معاويه او تاريخی حقائق) مې وويل، ډير خوشحاله سوم، كافی خلكو چی هغوی د خلافت د ملوكيت مطالعه كړی وه حضرت معاويه رضي الله عنه ته به يی د طعن او تشنيع په ستركه كتل، ستاسو د كتاب ويل سره د كافی حده پوری د هغه خلكو د شبهاتو ازاله سوی ده، خو ستاسو د والد ماجد مفتی اعظم، كتاب (كربلا) د صفحه ١١ څخه واخله تر صفحه ٢٠ پوری د مطالفی څخه د مخالفينو شبهاتو ته تقويت رسی، ځوك چی حضرت معاويه رضي الله عنه ته په بغض او عناد سره وګوری (په كربلا) كی مفتی صاحب داهم ليكلی دی چی د خلافت سلسله چی كله حضرت معاويه رضي الله عنه ته رسی، نو په حكومت كی د خلافت راشده هغه رنګ نه پاته كيږی كوم چی د خلفائی راشدينو حكومت ته حاصل وو (ص: ١١)

جناب من! كه داخبره ومنل سی چی د حضرت معاويه رضي الله عنه خلافت په خلافت راشده كی شمار نكړل سی، بياهم د حضرت معاويه رضي الله عنه څخه وروسته چی كوم امراء او سلاطين جوړ سوی دی، پخپله عمر بن عبد العزيز هم د هغه ټولو څخه د حضرت معاويه دور بهتر او افضل وو، دا اقرار او اعتراف پخپله ډاكټر اسرار احمد صاحب هم كوی چی هغه ته تاسو هم مؤيد واياست، په ډير افسوز سره وئيل كيږی چی د عمر بن عبد العزيز رحمه الله په دور حكومت كی كوم قلم كار دانه دی ليكلی چی د هغوی حكومت د خلافت

[1] (طبع دار المعرفت بيروت).

راشده درنگ نه وو، بلکی څه خو هغه خلیفه راشد منی، د دی څخه علاوه د اهل سنت
کتابونه کتلو سره شبهات څه پخیږی.
۱: هدایه جلد ثالث کی دی چی د سلطان جائر تقلید جائز دی لکه د معاویه ؓ
۲: د مومن میاشت او کال (مصنفه شیخ عبد الحق محدث دهلوی ص: ۳۵ کی دی) په
همدی کال سنه ۴۳ ھ کی امیر معاویه ؓ زیاد بن امیه خپل نائب جوړکی همدا هغه
مخکنی عمل دی چی د هغه په ذریعه د رسالت ماٰب ﷺ د احکاماتو خلاف ورزی
وسوه (ثعالبی وغیره) د خلافت او ملوکیت په ص ۷۴ باندی نظر واچول سی، نو هغه هم
دالیکلی دی چی معاویه د کتاب الله او د سنت رسول الله خلاف ورزی کړی ده براه کرم
تاسو می د صحیح مسئلی څخه خبر دار کړئ.
جواب: ستاسو خط راکول سو، احقر په خپل کتاب (حضرت معاویه) کی مستقل یوباب
په همدی موضوع باندی لیکلی دی چی د علمائی اهل سنت په نزد د حضرت معاویه د
عهد حکومت صحیح حیثیت څه وو؟ هغه وگوریٔ د هغی خلاصه هم داده: چی د
حضرت معاویه عهد ته خو د خلافت برابر نسی وئیل کیدی، خو حضرت معاویه یو
امام عادل وو، لهٰذا که والد صاحب دالیکلی دی چی د حضرت معاویه ؓ په عهد
کی د خلافت راشده مثال رنگ باقی نه وو پاته، نو په دی کی د علمائی اهل سنت د
موقف خلاف څه خبره نسته او د دی مقابله د (خلافت او ملوکیت) هغه عبارتونو سره
نسی کیدی چی په هغه باندی احقر تنقید کړی دی، ترځو چی د حضرت عمبر بن عبد
العزیز د دور خبره ده، هغی لره په خلافت راشده گرځولو باندی اتفاق نسته او حضرت
معاویه بلاشبه په حضرت عمر بن عبد العزیز باندی د صحابیت په وجه خو درجی
فوقیت لری، خو که څوک د حضرت عمر بن عبد العزیز عهد حکومت ته په مجموعی
حیثیت سره بهتر وایی نو په دی سره ظاهره اصول مسلمه نه متاثره کیږی، ترځو چی د
صاحب هدایه تعلق دی، په هغه کی سلطان جائر د فقهی اصطلاح په طور باندی
استعمال سوی دی، په فقه کی چی څوک د امام برحق په مقابله کی برسر جنگ وی هغه
که هرڅومره متقی وی او هغه د خپل اجتهاد د وجی داسی کوی هغه ته اصطلاحًا
سلطان جائر وایی، خوصاحب هدایه احتیاط کړی دی چی حضرت معاویه ته دوی
سلطان جائر ونه وایه (۱) بلکی دابی وئیلی دی چی د حضرت علی ؓ سره وو، د دی

(۱) هدایة ثالث، کتاب ادب القاضی ص: ۱۳۳ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان)

باوجود صحابه کرامو ؓ د هغوی څخه قضاء قبوله کړی ده، د دی څخه معلومیږی
چی د امام برحق مد مقابل (چی هغه ته اصطلاحًا سلطان جائر وایی) تقلید جائز دی.
حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوی (۱) چی کوم عبارت تاسو نقل کړی دی هغه په
حقیقت کی په بعضی ضعیفو تاریخی روایتو باندی مبنی دی، او احقر دا واضحه کړی
ده چی هغه روایات د اعتماد قابل نه دی، حضرت شیخ عبد الحق صاحب ضمنی طور
هغه ذکر کړی دی، شاید چی د تحقیق موقع نه وی ورکول سوی، او که د حضرت
معاویه عذر د هغه مخ ته راغلی وی نو شاید چی د هغوی رایه به مختلفه وه د دی سره
د هغوی عبارت او د خلافت ملوکیت د عبارت موازنه کوئ سره وگوره! چی کوم
یوعبارت توهین امیز دی؟ او اصولی طور باندی احقر داخبره هم لیکلی ده، چی په
یوصحابی باندی د کوم ضعیف روایت په بنیاد د الزام عائد کولو څخه بهتر دادی چی
د وروستنی کوم عالم په باره کی داتسلیم سی چی د هغه څخه تسامح سویده.

والسلام

۱۴۰۸/۱۱/۵ ھ

(فتوی نمبر ۲۲۸۳/ ۳۹ ن)

د حضرت عباس ؓ اولاد په ساداتو کي شامل دی

سوال: یوسړی وایی چی د سید لوڼی امتونو ته جائز دی هغه ورسره داهم ووئیل چی
عباسی هم سید کیدی سی موږ د دی څخه ناواقف یو تاسو یی بیان کړئ.
جواب: د سوال خط کش سوی جمله په ذهن کی رانغله واضحه یی ولیکی، او سادات
نول بنوهاشم دی لهٰذا د حضرت ابن عباس اولاد هم په ساداتو کی شامل دی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱/۲۱ ھ

(فتوی نمبر ۱۳۳/ ۱۸ الف)

(۱) وگوری: د مومن میاشت او کال ص: ۳۰ (طبع دار الاشاعت)
(۲) وفی رد المحتار ج: ۲ ص: ۳۵۰ (قوله ولا الی بنوهاشم) اعلم ان عبد مناف وهو الاب الرابع النبی ﷺ اعقب اربعة وهم: هاشم: والمطلب ونوفل وعبد الشمس، ثم هاشم اعقب اربعة انقطع نسل الکل الا عبد المطلب فانه اعقب اثنی عشر، تصرف الزکاة الی اولاد کل اذاکانوا مسلمین فقراء الا اولاد عباس وحارث واولاد ابی طالب من علی وجعفر وعقیل ..... الخ.

د یزید په باره کي د جنتي کیدلو عقیده

سوال: قوم ته په دی وخت کی داسی مسائل پیښ دی چی د هغه د حل کولو طرفته د فکر ضرورت دی، خو څه خلکو د بخاری شریف د حدیث څخه په غلط استدلال کولو سره د یزید په شان فاسق او فاجر جنتی ثابت کړی دی، براه کرم تاسو د دی حدیث وضاحت وکړئ.

جواب: هرسړی ته د خپل ایمان او عمل صالح فکر کول پکار دی د یزید صالح یافاسق کیدو تحقیق شرعًا څه ضروری نه دی او نه به په آخرت کی د دی په باره کی سوال کیږی، د قرآن کریم ارشاد مبارک دی: تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ. (۱) او د حضور ﷺ ارشاد دی: مِنْ حُسْنِ اسلام المرء ترکه مالا یعنیه (۲) لهٰذا د دی فضول بحثونو څخه اجتناب کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۲/ ۲۹ الف)

د یزید د نوم سره ﵀ لیکل

سوال: یوکتاب په نوم د رشید بن رشید مصنفه ابو یزید محمد بن دین بتمی د نظر څخه تیرسو چی په هغه کی بی یزید ته ﵀ لیکلی دی، په مذکوره کتاب کی د دیرو علمائی دیوبند رایه هم درج ده، گذارش دی چی د دی مسئلی د حقیقت څخه می خبر کړئ.

جواب: یزید ته کافر وئیل درست نه دی، خو د هغه سره ﵀ یا ﵁ لگول د دی کلماتو بی ادبی ده، د دی څخه پرهیز کول پکار دی، دا د امت مسلمه متفقه عقیده ده په دی عمل کول پکار دی او د دی څخه زیات فضول او بی مقصده بحثونو کی پریوتل صحیح نه دی.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

والله اعلم

(۱) سورة البقره ۱۳۴ و ۱۴۱

(۲) جامع الترمذی ابواب الزهد ج: ۲ ص: ۵۵ (طبع فاروقی کتب خانه ملتان).

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۳/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۸۹/ ۱۹ الف)

آیا د حضرت یوسف ﵇ د زلیخا سره نکاح سوی وه؟

سوال: آیا د حضرت یوسف ﵇ سره د هغه ښځی د نکاح عقد سوی وو چی هغی په دی ارادی سره د کور دروازی بندی کړی وی؟

جواب: په هغه تاریخی روایاتو کی داسی راغلی دی چی د حضرت یوسف ﵇ نکاح د زلیخا سره سوی وه (۱) خو قطعی طور باندی څه وئیل مشکل دی.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۲/ ۱۳۸۸

(فتوی نمبر ۲۲۳/ ۱۹ الف)

آیا په یزید بن معاویه لعنت ویل ثواب دی؟

سوال: په زید بن معاویه باندی هره ورځ سل واره لعنت ویل د ثواب کار دی؟

جواب: هیڅکله نه (۲) د یزید په باره کی داعقیده کافی ده چی هغه د حضرت حسین ﵁ سره کوم سلوك وکی هغه غلط وو خو په هغه باندی لعنت ویل د اهل سنت عقیده نه ده.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۳/ ۱۹ الف)

د پاکو رحمونو او صلبونو څخه د حضور ﷺ د ولادت مطلب

سوال: د نبی ﷺ حدیث دی چی زما پیدائش د پاکو رحمونو څخه او پاکو صلبونو څخه دی، د حضرت عبد الله والد د حضور ﷺ منی د مائی آمنه په رحم کی څنگه ده؟

(۱) وګورئ تفسیر معارف القرآن ج: ۵، ص: ۷۹

(۲) د تفصیل د پاره وګوری امداد الفتاوی (تحقیق لعن یزید) ج: ۵ ص: ۴۲۵.

که په ذریعه د منی وی نو آیا د حضرت عبد الله منی پاک وه، که پاک وه نو پخپله د
حضور ﷺ د منی متعلق د غسل احکام مینځل راغلی دی او که پلیته ده نو په حدیث
باندی حرف راځی؟

جواب: د پاک رحمونو او پاک صلبونو څخه مراد صحیح النسب کیدل دی یعنی د
حضور ﷺ تول پلرونه او نیکه ګان صحیح النسب وه د دی مطلب د منی د طهارت
څخه دی. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۲/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د علامه ابن تیمیه په باره کي د جمهورو علماوو رایه

سوال: ناچیز د مولوی محمد عمر صاحب یوکتاب ویلی دی په هغه کی یی لیکلی دی
چی حضرت شیخ الاسلام امام ابن تیمیه ته لوی لوی محدثین معاذ الله کافر وایی،
تاسو مهربانی وکړئ چی بنده ناچیز د دی حقیقت څخه خبر کړی چی د جمهورو رایه څه
ده؟ یاکوم کتاب وښایی چی په هغه کی مولوی محمد عمر ته مکمل جواب ورکړی وی
ستاسو د جواب منتظر به یم.

جواب: شیخ الاسلام ابن تیمیه لوی عالم تیر سوی دی خو هغوی په بعضی مسائلو کی
د جمهورو فقهاوو او محدثینو او علمائی امت څخه اختلاف کړی دی جمهور امت د
هغوی تفردات د عمل قابل ونه ګڼل په دی وجه بعضو حضراتو د هغوی په تردید کی
کتابونه هم لیکلی دی د هغوی مفصل حالات د علامه ابو زهره کتاب (ابن تیمیه) کی
پیداکیدی سی چی د هغه اردو ترجمه شایع سویده.

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ۹/ ۱۳۹۹ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۲۲/ ۳۰ واو)

د حضور ﷺ د فضلاتو حکم

سوال: یوسړی زما څخه سوال وکی چی د حضور ﷺ د فضلاتو څه حکم دی؟
۲: اوریدلی می دی (چی تقریر دلپزیر) شائع کوی ماته ضرورت دی.

جواب: د دی په باره کی د علماوو اختلاف پاته سوی دی اکثره حنفی علماء د دی قائل
دی چی د حضور ﷺ تول فضلات پاک وه او د ملاعلی قاری او د علامه شامی وغیره
رجحان هم دی طرف ته دی، علامه شامی لیکی: صحح بعض ائمة الشافعیة طهارة بوله
ﷺ وسائر فضلاته وبه قال ابوحنیفة کما نقله فی المواهب الدنیة عن شرح البخاری
للعینی وصرح به البیری فی شرح الاشباه وقال الحافظ ابن حجر تظافرت الادلة علی
ذالک وعد الائمة ذالک من خصائصه ﷺ ونقل بعضهم عن شرح المشکوة لملاعلی
قاری انه قال: اختاره کثیر من اصحابنا واطال فی تحقیقه فی شرحه علی الشمائل فی
باب ماجاء فی تعطره ﷺ. (شامی باب الانجاس ج: ۱، ص: ۲۱۲) (۱)

۲: غالبا دار الاشاعت مقابل مولوی مسافرخانه بند روډ کراچی دا کتاب شائع کوی
تاسو هغوی ته خط ولیکی او معلوم یی کړی.

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۳/ ۱۳۹۱ هـ

اسلامي ګرافکس
کویټه بلوچستان
اډیکي
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱
ناشر
مکتبة العلوم الدینیه
کاسی روډ کویټه

(۱) رد المختار مطلب فی طهارة بوله ﷺ ج: ۱ ص: ۳۱۸ (طبع سعید) همدا رنګه وګورئ امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۸۰ الی ۸۹.

كتاب الطهارة

د طهارة بيان

فصل في الوضوء والغسل والتيمم

اودس، غسل او د تيمم فرائض، واجبات سنن مستحبات، اداب او مكروهاتو بيان

د جنازې د پاره سوى اودس باندي پنځه ګوني فرائض كولى سي؟

سوال: ايا د جنازى د لمانځه د پاره سوى اودس د پنجگانه فرائضو د پاره هم كافى دى يعنى په دى سره فرائض پنجگانه كولى سى او كه نه؟

جواب: ښكاره ده چې اودس يومطلقه طهارت دى كله چى هغه مكمل سى نو هريو عبادت چى د طهارت سره مشروط دى د هغه سره اداء كيدى سى [1] د هرعمل د پاره جلا اودس نيت كول د چاپه نزد هم شرط نه دى په دى كى د شبهى گنجايش نسته. والله اعلم

الجواب الصحيح محمد شفيع عفى عنه احقر محمد تقى عثماني عفى عنه

۲۳/ ۱۱/ ۱۳۷۹ هـ [2]

په غسلخانه کي د خبرو کولو حکم

سوال: په غسلخانه او بيت الخلا كى عوام خلگ خبرى كول ناجائز گڼى ايا شرعًا د دى څه اصل سته؟

جواب: قال ابن العابدين عبارة الغزنوية ولايتكلم فيه اى فى الخلاء وفى الضياء عن بستان ابى الليث يكره الكلام فى الخلاء وظاهره انه لايختص بحال قضاء الحاجة وذكر

---

[1] وفى الهندية حضرت: ١ ص: ٢٦ (طبع مكتبه ماجديه كويټه) تيمم لصلوة الجنازة او لسجدة التلاوة اجزاه ان يصلى المكتوبة بلا خلاف، همدارنگه وگورئ امداد الفتاوى ج: ١ ص ٧، او كفايت المفتى ج: ٢ ص: ٣١٧ (جديد اډيشن دار الاشاعت)

[2] دافتوى د حضرت والا دامت بركاتهم د افتاء د تمرين (درجه تخصيص) د كاپى څخه اخستل سوى دى.

بعض الشافعیة انه المعتمد عندهم وزاد فی الامداد: ولا یتنحنح ای الا بعذر کما اذاخاف دخول احد علیه. (رد المختار ج: ۱ ص: ۳۱۸) (۱)

د لیکل سوی عبارت څخه معلومه سول چې په بیت الخلاء کی نه صرف داچې په وخت د قضاء حاجت کی خبری کول مکروه دی بلکی په نورو حالاتو کی هم خبری کول درست نه دی، مثلاً یوسړی په بیت الخلاء کی اودس کوی نو تسمیه او نوری دعاګانی وئیل هم درست نه دی..کما قال الشامی، دغه شان بی ضرورته ټوخیدل هم مکروه دی. والله اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۷۹/۱۱/۲۴ هـ (۲)

که غاښ په سپینو زرو ډک سوی وی نو د اودس او غسل حکم

سوال: غاښ د چینجن کیدو د وجی او د بل څه علاج مستقل نه مفید کیدو په وجه ډاکټر علاج د پاره زرو باندی ډک کی په دی صورت کی به په اودس کی څه نه وی؟

جواب: په مسئوله صورت کی خو په اودس کی څه اشکال نسته په غسل کی بیاهم اشکال کیدی سی خو فقهاوو تشریح کړی ده چې د ضرورت په مواقعو کی ترلاندی پوری اوبه رسول ضروری نه دی چنانچی درمختار کی دی: ومایمنع ماعلی ظفر صباغ ولاطعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتی، وقیل ان صلبًا منع وهو الاصح، وقال الشامی: قوله وهو الاصح صرح به فی شرح المنیة وقال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج (الشامی ج: ۱، ص: ۱۵۴، مبحث الغسل، طبع ایچ ایم سعید)

وقد تقرر فی موضعه انه مفاهیم الکتب حجة، فدل علی انه لایمنع عدم نفوذ الماء فی المواقع الضرورة، وقد صرح به امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص ۱۸.

او په عالمګیریه کی دی: قال محمد فی الجامع الصغیر: ولایشد الاسنان بالذهب ویشدها بالفضة یرید به اذا تحرکت الاسنان وخیف سقوطها فاراد صاحبها ان یشدها

(۱) فتاوی شامیه (تنبیه) ج: ۱ ص: ۳۴۴ (طبع ایم ایچ سعید)

(۲) دافتوی حضرت والا دامت برکاتهم د افتاء د تمرین (درجه تخصص) د کاپی څخه اخستل سوی دی.

بالفضة ولایشدها بالذهب وهذا قول ابی حنیفة وقال محمد: یشدها بالذهب ایضًا. (عالمګیریه ج: ۵ ص: ۳۳۶) (۱)

والله اعلم

۱۳۹۷/۱۰/۱۱

(فتویٰ نمبر ۱۰۳۹/۲۸ ج)

لڅ غسل کول

سوال: غسل (فرض، سنت، مستحب) که په مکان کی د پردی پوره انتظام وی نو لڅ غسل کولی سی، او کوم اودس چې د غسل د پاره یی کړی دی نو وروسته د لمانځه د پاره به دا اودس برقرار وی او که نوی اودس به کول وی؟

جواب: بهتره خوداده چې څه کپړه وغیره وتړل سی او غسل وسی خو لڅ غسل کول ورکله چی د پردی پوره انتظام وی هم بغیر د کراهت څخه جائز دی (۲)، په غسل کی چې کوم اودس کولی سی هغه وروسته د لمونځ کولو د پاره کافی دی، نوی اودس کولو ته ضرورت نسته (۳). والله اعلم

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۹ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۱۴/۱۹ الف)

د څټ د مسحي شرعي حیثیت

سوال: د څټ مسح سنت ده که بدعت؟ د دلیل سره یی بیان کړی؟

(۱) کتاب الکراهیة باب: ۱۰ وکذا فی امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۱۹.

(۲) روی البخاری عن ام هانی بنت ابی طالب انها ذهبت الی رسول الله ﷺ عام الفتح فوجدته یغتسل وفاطمة تستره، وعن میمونة قالت: سترت النبی ﷺ وهویغتسل من الجنابة فغسل یدیه.... الخ، صحیح البخاری، کتاب الغسل ج: ۱ ص: ۴۲ (طبع قدیمی کتب خانه کراچی)

(۳) وفی مشکوة المصابیح ج: ۱ ص: ۴۸ (طبع قدیمی کتب خانه) عن عائشة قالت: کان النبی ﷺ لایتوضا بعد الغسل، رواه الترمذی وابوداود والنسائی وابن ماجه، وفی المرقاة ج: ۱ ص: ۳۳۸ لایتوضا بعد الغسل ای اکتفاء بوضوئه الاول فی الغسل وهوسنة وکذا فی عزیز الفتاویٰ ص: ۱۷۵. وامداد المفتین ص: ۱۷۵. فتاویٰ شامیة ج: ۱ ص: ۱۲۴.

جواب: قال فی الدر المختار (فی مستحبات الوضوء) ومسح الرقبة بظهر يديه (لا الحلقوم) لانه بدعة، وقال الشامی تحت قوله لانه بدعة اذلم يرد فی السنة ([1]) وقال فی البحر: قوله ومسح رقبته يعنی بظهر اليدين ([2]) د دی عبارت ځخه معلوه سول چی د څټ مسح خو مستحب ده خو د حلقوم مسح بدعت ده چونکی د سنت ځخه ثابته نه ده.

والله اعلم

الجواب الصحيح محمد شفيع عفیٰ عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

۱۳۷۹/۱۱/۲۵ هـ

که د مرض د وجي اوبه نقصان کوونکي وی نو تيمم کولی سي

سوال: د زيد په يوه اوږده بيماری کی مبتلاء ده ترڈی چی د نل په اوبو اودس کولو سره هم د هغی په خيته درد کيږی آيا د دی بيماری د وجی د زيد د ښځی د پاره تيمم کول جائز دی او که نه؟

جواب: د کوم طبيب سره دی مشوره وسی که هغه ورته اودس مضر وګرځوی نو بيا تيمم کيدی سی ([3]). والله اعلم

الجواب الصحيح محمد شفيع عفیٰ عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

۱۳۸۸/۵/۲۶ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۱۸/ ۱۹ الف)

د غسل ځخه وروسته دوباره د اودس حُکم

سوال: که د اودس کولو په وخت کی ستر برسيره وی، مثلاً د غسل په دوران کی چی کوم اودس کيږی نو دا اودس به د لمانځه د پاره کافی وی او که نه؟ او که د کپړو د اغوستلو ځخه به وروسته دوباره اودس کول وی؟

([1]) فتاوىٰ شاميه ج: ۱۲۴.
([2]) البحر الرائق ج: ۱ ص: ۲۸ همدارنګه وګورئ امداد الفتاوىٰ ج: ۱ ص: ۱۳.
([3]) دافتوىٰ د حضرت دامت برکاتهم د تمرين افتاء (درجه تخصص کاپی ځخه اخستل سويده) (محمد زبير حقنوان

جواب: د غسل په وخت کی سوی اودس د لمانځه د پاره کافی دی ([1]) په دی شرط چی د هغه اودس ځخه وروسته څه داسی امر نه وی پيښ سوی چی په هغه سره اودس ماتيږی په دی کی د ستر برسيره کيدو سره فرق نه واقع کيږی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۱/۵ هـ

(فتوىٰ نمبر ۱۱۳۳/ ۲۸ ج)

فصل في النجاسات واحكام التطهير

د نجاستونو احکام او د پاکوالی طريقه

د ناپاکه پمبوو د پاکولو طريقه

سوال: که پُمبه ناپاکه سی نو د هغه د پاکولو طريقه څه ده؟

جواب: علاشامی رحمه الله چی د تطهير کومی طريقی د ابن وهبان رحمه الله ځخه نقل کړی دی په هغه کی يوندف هم ده چی د هغه معنیٰ ده، ډانډ کول، وګوری شامی ج: ۱ ص: ۲۹۰ ([2]) او دا طريقه هم په پمبوو لګيدلی سی. والله اعلم

الجواب الصحيح محمد شفيع عفیٰ عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

۱۳۷۹/۱۱/۲۲ هـ ([3])

([1]) وفی الدر المختار باب التيمم ج: ۱ ص: ۲۳۲ من عجز عن استعمال الماء .... لمرض يشتد او يمتد يغلبة الظن او قول حاذق مسلم .... تيمم وكذا فی الهندية الباب الرابع فی تيمم ج: ۱ ص: ۲۸.
۲: وفی مشكوٰة المصابيح ج: ۱ ص: ۴۸ (طبع قديمی کتب خانه) عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها قالت: كان النبی ﷺ لايتوضأ بعد الغسل رواه الترمذی وابوداود والنسائی وابن ماجه. وفی المرقاة ج: ۱ ص: ۳۲۸ لايتوضأء بعد الغسل ای اكتفاء بوضوئه الاول فی الغسل وهو سنة وكذا فی عزيز الفتاوىٰ ص ۱۷۵.
([2]) واخر دون الفرك والندق والجفاف .... الخ فتاوىٰ شاميه ج: ۱ ، ص: ۳۱۵ (طبع ايچ ايم سعيد)
([3]) دافتوىٰ د حضرت والا امت برکاتهم د تمرين افتاء (درجه تخصص د کاپی ځخه اخستل سويده).

د تیلو د پاکولو طریقه

سوال: که غوړی او تیل نجس سی نو د تطهیر طریقه یی څه ده؟

جواب: د تیلو د پاکولو طریقه داده چی داپه یو لوښی کی واچول سی همدومره اوبه دی پکښی واچول سی او هغه دی وښورول سی او بیا دی پریښودی ترڅو چی تیل را لوړ سی، بیادی په لوښی کی سوری وکړی یادی صفاکړی اوبه دی ځنی جلا کړی دری واره په دی عمل کولو سره به تیل پاك سی. (كذا فی العالمگیریه ج: ۱ ص: ۴۳۱) (۱)

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

والله اعلم

۱۳۷۹/۱۱/۲۲ هـ (۲)

د شیانو د پاکولو د طریقو تعداد او مکمل تفصیل

سوال: د شیانو د پاکولو طریقی څه دی او په هغه کی تفصیل څه دی؟

جواب: د شیانو د پاکولو طریقی لس دی:

۱: مینځل لکه چی ناپاکه کپړه هم په دی طریقی سره پاکیږی.

۲: اخوا کول، داطریقه د هغه اشیاوو د پاره مخصوص ده چی شفاف وی، لکه چینبه توره وغیره.

۳: (فرك) ګرول داطریقه د منی څخه د پاکولو ده، عالمګیریه کی دامطلق پرینښوول سوی ده خو په العرف الشذی کی حضرت شاه صاحب داطریقه د قرون اولی سره په دی وجه مخصوص ګرځولی ده چی په هغه زمانه منی ډیر غلیظه وه او نن صبا عام طور د منی رقت شایع دی د دی وجی څخه د رقیقی منی د پاره صرف فرك کافی نه دی.

(۱) عالمګیریه الباب السابع فی النجاسة واحکامها ج: ۱ ص: ۴۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۳۳۴ (طبع ایچ ایم سعید) ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلی ثلاثًا، وفی الشامیة تحته قال فی الدرر لوتجنس العسل فتطهیره ان یصب فیه ماء بقدره فیغلی حتی یعود الی مکانه والدهن یصب علیه الماء فیغلی فیعلو الدهن الماء فیرفع بشئ هکذا ثلاث مرات وهذا عند ابی یوسف خلافا لمحمد وهو اوسع وعلیه الفتوٰی.

(۲) دافتوٰی د حضرت والادامت برکاتهم د افتاء د تمرین (درجه تخصص) د کاپی څخه اخستل سویده. (مولوي نوراحمد الحقاني)

۴: مږل احت او دلك كول: او داطریقه د هغه صورت د پاره ده هرکله چی نجس شی نجس وی او نجاست متجسد وی (یعنی د اوچیدو څخه وروسته په نظر راځی)

۵: اوچیدل، داحکم د مځکی او په دی کی د ښخ سوی شیانو د پاره دی، لکه دیوالونه، خښتی، درختی وغیره داټول شیان صرف په اوچیدلو سره پاکیږی.

۶: سوزول، سوټه او نجسه خټه په دی طریقی سره پاکیږی، دغه شان که د بزی وغیره سرچه په وینه کی ککړ وی او دومره وسوزل سی چی وینه بالکل زائله سی نو پاکیږی.

۷: د یوحالت څخه بل حالت ته بدلول استحاله مثلاً: شراب، په کومه نوی چاټی کی سرکه جوړول، داهم د تطهیر سبب کرځی.

۸: دباغت، د خنزیر او انسان څخه علاوه د ټولو حیوانانو څرمنی لمرته په ایښوولو سره یامالګه لګولو سره مدبوغی سی نو هغه پاکیږی.

۹: ذکاة، یعنی د حیوان ذبح کول او د هغه جلد پاکول اوغوښه هم خواه که هغه حیوان غیر ماکول وی.

۱۰: نزح، یعنی که په کوهی کی نجاست ولویږی نو د هغه په مناسبت سره د کوهی څخه اوبه راکښل، دالس طریقی عالمګیریه کی د صفحه ۴۲- تر ۴۶ پوری نقل سوی دی او ابن وهبان رحمه الله او علامه حصکفی رحمه الله په دی سره څه شیان نورهم یوځای کړی دی او هغه یی په اشعارو کی جمع کړی دی.

واخر دون الفرك والندف والجفاف – والنحت قلب العين والغسل بطور
ولادبغ تخليل ذكاء تخلل – ولا المسح والنزح الدخول التفوّر

وزاد شارحها بیتا فقال:

واكل وقسم غسل بعض ونحله – وندف وغلی بیع بعض تقور
(شامی: ج: ۱ ص: ۲۹۰) (۱)

او علامه حصکفی هم دا اشعار لږ بدلولو سره فرمائیلی دی:

وغسل ومسح والجفاف مطهر – ونحت وقلب العين والحفر يذكر
ودبغ وتخليل ذكاه تخلل – وفرك ودلك والدخول التغور
تصرفه فی البعض ندف ونزحها – ونار وغلی غسل بعد تقور (۲)

(۱) فتاوئ شامیه ج: ۱ ص: ۳۱۵ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) الدر المختار ج: ۱ ص: ۱۳۵ (طبع ایچ ایم سعید)

چې د دې اشعارو لاندې طریقې د تطهیر د پاره زیاتې معلومېږي:

۱: کنستل، او دا طریقه د مځکې د پاکولو د پاره ده.

۲: دخول، د دې تفسیر علامه ابن عابدین رحمه الله داکړی دی چې د پاکو اوبو په داسې کوشنی حوض کې داخلیدل چې ناپاکه سوې وي. هرکله چې بل طرفته د هغه اوبه ووځي او نوې پاکې اوبه راننوځي نو که څه هم د حوض اوبه لږ وي خو بیاهم هغه پاکیږي. (کذافي رد المختار ج: ۱ ص: ۲۹۰) ([1])

۳: تغور، یعني چې د کوهي دومره اوبه اوچې سي څومره چې د نجاست د لویدو د وجې یې کښل واجب وي، نو دا به د اوبو د راایستلو قایم مقام سي.

۴: تصرف، یعني په یو نجس شي کې تصرف کول، مثلاً: ګنده ډیرې څه ناپاک سي نو په هغه کې اکل، بیع، هبه او صدقه وغیره په ذریعه تصرف وسي نو هغه پاکیږي.

۵: جوش ورکول، که تیل یا غوړ نجسه سوه نو هغه په جوش ورکولو سره پاکیږي.

۶: تقویر، یعني چیرې چې نجاست وي، د هغه هغه ځای څخه نجس شي لرې کول چنانچې که منجمد غوړي ناپاکه سي نو په هغه کې به همدا طریقه استعمالولې سي، دا شپږ طریقې مزید یو ځای کولو سره ټولې شپاړس ۱۲ طریقې د تطهیر معلومې سوې ([2]).

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۱۱/ ۱۳۷۹ ھ ([3])

د خاورو تیل پاک دي

سوال: د کرویشین تیل پاک دي او که ناپاک؟ که نجس وي نو نجاست به خفیفه وي او که غلیظه، د مینځلو څخه بغیر لمونځ صحیح کیږي او که نه؟

[1] شامیه ج: ۱، ص: ۳۱۵ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] د تطهیر اشیاء مذکوره طریقې فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۴۱ تر ۴۵ (مکتبه رشیدیه کویټه) موجود دي.

[3] دا فتوی هم د امت برکاتهم د تمرین افتاء (دوجه تخصص) د کاپي څخه اخستل سوې ده.

جواب: د کریویشن تیل معلوم نه دي چې څه وي؟ که د خاورو تیل مراد وي نو هغه پاک دي، دغه شان نور څه تیل چې د معدن څخه راوځي هغه هم پاک دي. ([1]) والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۹/ ۱۱/ ۱۳۸۸ ھ

(فتوی نمبر ۱۴۳/ ۱۹ الف)

د بیت الخلاء په لوټي سره طهارت حاصلیدی سي

سوال: په جوماتونو کې چوړیان صفائی کوي خو هغوی د میتیازو ځای او بیت الخلاء مینځلو په وخت کې په زوره زوره اوبه بهوي او د استنجاء لوټي هم هلته اږدي، آیا په داسې لوښو کې د اوبو اخستلو سره بیا طهارت حاصلیدی سي؟

جواب: که د دې لوښو د ناپاکه کیدو خطره وي نو اول هغه درې واره ومینځې بیا بغیر د څه وهمه د هغه سره طهارت حاصلیدی سي.

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۶/ ۱۳۷۹ ھ

(فتوی نمبر ۵۸۸/ ۲۸ ب)

د دهوبي د مینځل سوو کپړو حکم

سوال: کپړې چې نجسې وي د هغه په باره کې د پاکوالي د اصولو مطابق په پاکو اوبو سره دې واره په سختۍ سره د نچوړولو احکام دي خو نن صبا دوبیان په ګنده نالو کې یا حوض وغیره کې په مینځلو باندې لیدل سوي دي، بیا په ګنده ځایونو باندې هغه کپړې اچوي، آیا داسې مینځل سوې کپړې په اغوستلو سره لمونځ کیدی سي؟

جواب: په اصل کې د کوم دهوبي د مقررولو په وخت کې د دې خبرې ښکاره کول پکار دي چې هغوی پاکوي او که نه؟ خر ترڅو چې صرف ناپاکو اوبو سره د مینځلو خطره وي ترهغه وخته پورې د ابتلاء عام په وجه د هغه د پاکوالي حکم لګولی سي ([1]). والله اعلم

[1] د کریویشن د تیلو څخه مراد د خاورو تیل دي بنګالي ژبه کې د خاورو تیلو ته وایي. (محمد زبیر)

۱۴/ ۲/ ۱۳۹۷

(فتویٰ نمبر ۵۸۸/ ۲۸ ب)

آیا د سپي دباغت سوی څرمنه پاکه ده؟

سوال: د سوال خلاصه داده چی ماهنامه (البلاغ) (د شوال سنه ۱۳۸۷ ھ له بابته) کی ستاسو سوال د عنوان لاندی د سپی د څرمن په باره کی دافتویٰ ورکول سوی ده چی د سپی څرمن که شرعی طور سره ذبح سی او څرمن یی داسی صفاسی چی د خرابیدو څخه محفوظ سی ... په ذهن کی نه راځی چی یوناپاك نجس، حرام او ګنده شی په هری طریقی سره چی هم ذبح سی اول خو لفظ د ذبح هلته جائز نه دی، بیا د دی شرعی حیثیت؟

جواب: په حدیث شریف کی د سرکار دوعالم ﷺ ارشاد موجود دی: أیما اهاب دبغ فقد طهر، او کما قال علیه السلام: (اخرجه مسلم فی صحیحه) ([2]) یعنی کومی څرمنی ته چی هم دباغت ورکول سی نو هغه پاکیږی، د نورو دلائلو په رڼا کی د دی څخه صرف د خنزیر او انسان څرمن مستثنیٰ ده ځکه فقهاء کرام لیکی: کل اهاب دبغ فقد طهر جازت الصلوٰة فیه والوضوء منه الا جلد الخنزیر والآدمی ...... ولیس الکلب نجس العین الا تریٰ انه ینتفع به حراسة واصطیاداً بخلاف الخنزیر. (هدایه ص: ۴۰، ۴۱) ([3])

د دی عبارتونو څخه معلوم سول چی د سپی حرمت په دباغت سره پاکیږی او د سپی حکم د خنزیر په شان نه دی چی په هیڅ حال کی نه پاکیږی او سپی ذبح کول د خوراك د پاره نه وی بلکی د هغه د څرمن د استعمال د پاره کیدی سی.

([1]) لکه چی حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله لیکلی دی چی دامسئله د ائمه اربعه په مینځ کی مختلف فیه ده د سخت ضرورت په وخت کی د بل امام قول اخستل جائز دی نوچی کوم سړی په بله طریقه نسی مینځلی د هغه د پاره د پاکی حکم لګولی سی وګورئ امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۸۰.

([2]) وفی الصحیح للامام مسلم ج: ۱ ص: ۱۵۹ (طبع قدیمی کتب خانه) عن عبد الله بن عباس رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول: اذا دبغ الاهاب فقد طهر.

([3]) (طبع مکتبه شرکت علمیه) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۲۰۳، ۲۰۴ (وکل اهاب دبغ وهو یحتملها طهر) ..... وماء ای اهب طهربه، بدباغ (طهر بذکاة)، وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۸۱ (وبعد یباع وینتفع به) وقید بالمیتة لان جلد المذکاة یجوز بیعه قبل الدباغ.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۴۲۲/ ۱۸ الف)

ذبح کول څه فرض او واجب نه دی که څوك یی وکړی نو د هغه حکم یی لیکلی دی.

(محمد عاشق الهی بلند شهری)

آیا دهوبي باندی د کپړو مینځلو څخه ورمسته کپړی بیا مینځل ضروری دی؟

سوال: ایا د فیکټری دهوبی باندی کپړی مینځلو سره کپړی پاکیږی؟

جواب: داخو د فیکټری په طریقه د کار باندی منحصر دی که هغوی د کپړو د پاکولو اهتمام وکړی یعنی د کپړو د خیر اخوا کولو سره هغه د اوچولو څخه مخکی دری واره جلا جلا ومینځی نو بیا خو د کپړو په پاکیدلو کی څه شبه نسته او که څه بله طریقه اختیاروی نو د هغه وضاحت دی وسی.

الجواب الصحیح محمد شفیع عفی عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۲/ ۶/ ۱۳۸۸ ھ

دهوبي باندی کپړی مینځلو څخه وروسته دوباره مینځل ضروری دی او آیا کپړی د پاکولو په وخت کي کلمه طیبه وئیل ضروری دی؟

سوال: د کپړو مینځلو څخه وروسته د هغه پاکولو ضروری دی او که نه؟ او که ضروری وی نو په کوم صورت کی؟ او آیا په هغه وخت کلمه طیبه وئیل ضروری دی؟

جواب: د کپړی مینځونکی د مینځلو په وخت د پاکولو اهتمام کړی وی نو بیا خو د دوباره پاکولو ضرورت نسته او که دامعلوم وی چی د مینځلو په وخت کی د پاکولو اهتمام نه دی سوی نو بیا دی وروسته پاکی کړی او د پاکولو طریقه داده چی هغه دی دومره ومینځل سی چی د نجاست اثر زائل سی چی دری واره یی ومینځی نو بهتر به

وَی او په دغه وخت کی کلمه طیبه ویل ضروری نه دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۰/۵ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۱۵ ج)

د هاتهي (فیل) خړتم څخه د وتلو اوبو حکم، او د کب پټه پاکه ده او که نه؟

سوال: د هاتهی د خړتم څخه چی کومی اوبه وځی هغه عادتًا د ګرمی په وجه پخپل بدن باندی اچوی دا اوبه پاکی دی او که نه؟

۲: او هم د کب پټه پاکه ده او که نه؟

جواب: د هاتهی د خړتم اوبه په اصل کی د هغه لعاب دی چی د فقهاوو د تصریحاتو مطابق ناپاکه دی، (وسور خنزیر وکلب وسباع بهائم) ومنه الحرة البریة (وشارب خمر فور شربها وهرة فورا کل فاره نجس) او د سباع بهائم لاندی علامه ابن عابدین شامی رحمه الله لیکی: هی ماکان یصطاد بنابه کالاسد والذئب والفهد والنمر والثعلب والفیل ..... الخ (شامی استنبولی، مطلب فی السور - ج: ۱ ص: ۲۰۵) (۱)

د دی څخه معلومه سوه چی د هاتهی جوټه نجس ده چی د لعاب فرع ده، لکه چی عالمګیریه کی دی: عرق کل شئ معتبر بسورة (ج: ۱ ص: ۲۴) (۲)، او په فتاوی قاضی خان کی پخپله د ذکر سوال جواب په دی طور واضح سوی دی:

(لعاب الفیل نجس کلعاب الفهد والاسد اذا اصاب الثوب بخرطومه ینجسه (خانیة ج: ۱ ص: ۱۷) (۳) لهذا د هاتهی د خړتم څخه بهیدونکی اوبه ناپاکه دی.

۲: څه جزئیه خورا نه کول سوه خو د کب وینه ناپاکه نه ده لکه چی علامه علاء الدین حصکفی په در مختار کی تصریح کړی ده او علامه شامی د هغه لاندی لیکلی دی: لانه

(۱) شامیه ج: ۱ ص: ۲۲۳ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۲۲۳ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

(۳) خانیة علی هامش الهندیة ج: ۱ ص: ۲۱ (ایضًا)

لیس بدم حقیقة لانه اذا یبس یبیض والدم یسود (رد المختار، باب الانجاس ج: ۱ ص: ۲۹۴) (۱)

یعنی د ماهی (کب) وینه په حقیقت کی وینه نه ده، ځکه چی هغه د اوچیدو څخه وروسته سپینیږی حالانکی وینه د اوچیدلو څخه وروسته توریږی، ځکه په وینه باندی قیاس کولو سره پټه ته هم پاک وئیل د قیاس څخه بعید نه معلومیږی او که دا وئیل سی چی په وینه باندی پټه قیاس کول ځکه صحیح نه دی چی پټه حرامه ده لکه چی علامه شامی په کتاب الذبائح ج: ۵ ص: ۲۷۱ کی ذکر کړی دی نو د هغه جواب دادی چی د یوشی د حرمت څخه د هغه نجاست نه لازمیږی لکه چی د زهرو استعمال ناجائز دی، خو د دی باوجود هغه مجس نه دی، دغه شان پټه هم د یوسمیاتی اثراتو مجموعه ده چی د سمیت دوجی ناجائز وی نو په دی سره د هغی په پاکی اثر نه پریوځی.

د دی لیکلو څخه وروسته می په یوعبارت نظر پریوتی (ومرارة کل شیئ کبوله (عالمګیریه ج: ۱ ص: ۴۷) (۲) د هر شی د پټی حکم د هغه د متیازو په شان دی د دی څخه معلومیږی چی هغه ناپاکه ده، خو د کب متیازی کیدل پخپله مشکوک دی، ځکه نورو اهل علموته دی هم رجوع وسی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۷۹/۱۱/۲۳ هـ (۳)

په لاس باندی د نجاست لګیدلو په صورت کي څو واره مینځل لازم دی؟

سوال: په لاس باندی متیازی ولګیدی په اوبو سره می دومره ومینځی څومره وخت کی چی دری واره اوبه اچول کیږی نو پاک سو که ځانته ځانته دوه واره نور ومینځل سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی لاس دومره مینځل ضروری دی چی د متیازو د لاس څخه تلل غالب ګمان وسی، ځانته ځانته دری واره اوبه اچول ضروری نه دی، کمافی

(۱) فتاوی شامیه ج: ۱ ص: ۱۳۱۹ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۴۲ (طبع مکتبه رشیده کویټه) وفی الدر المختار ج:۱ ص: ۳۴۹ (طبع سعید) مرارة کل حیوان کبوله .... الخ همدارنګه وګورئ امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۵۶ (محمد زبیر حقنوان)

(۳) دا فتوی د حضرت والا امت برکاتهم د تمرین افتاء (درجه تخصیص) دکاپی څخه اخستل سویده.

الدر المختار: ویطهر محل غیرها ای غیر مرئیة بغلبة ظن غاسل طهارة محلها بلا عدد، به یفتی. (شامی ج: ۱ ص: ۲۲۰) (۱).

والله سبحانه اعلم
۱۰/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۹۳۲/ ۲۸ الف)

په اودس خانه کي د څپلي یاچپلو د مینځلو حکم

سوال: که څپلی یا چپلی خرابی سی او لنده خاوره باندی ومُښلی یاخرابو اوبو کی ولویږی نو آیا په اودس خانه کی یی مینځلی سی؟

جواب: بهتر دادی چی داشیان د جومات د اودس کولو د ځای څخه بغیر کوم بل ځای کی ومینځل سی خو که د ضرورت په وخت هلته څپلی ومینځل سی نو څه خبره نسته، خو بیا هغه ځای صفا کول پکار دی چی لمونځ کوونکی ته تکلیف نه وی.

والله سبحانه اعلم
۲۷/ ۹/ ۱۳۹۲ هـ
(فتوٰی نمبر ۲۲۸۳/ ۲۷)

فصل في احکام الماء

د اوبو او کوهیانو وغیره متعلق د مسائلو بیان

د تالاب د اوبو د اخستلو په وخت کي په منګي کي پچي راوخیژی نو باید څه وکړی؟

سوال: زموږ علاقی کی د اوبو جمع کولو په غرض تالابونه جوړدی، د باران اوبه په هغه کی جمع کیږی کله کله چی موږ د هغه څخه اوبه را اخلو نو په هغه کی یوه نیمه پچه یاسوټه هم راځی نو دا اوبه پاکی دی او که نه؟

(۱) الدر المختار ج: ۱ ص: ۳۳۱ (طبع ایچ ایم سعید) (مولوی نوراحمد الحقاني)

جواب: د تالاب څخه د اوبو اخستلو په وخت کی که څه پچه راسی نو هغه د منګی څخه راوباسی او وی غورځوی نو اوبه به پاکی وی او که پچه په منګی کی پاته سی نو احتیاط په دی کی دی چی د دی څخه اودس او غسل کول نه دی پکار: فی الهدایة: فان وقعت فیها بعرة او بعرتان من بعر الابل او الغنم لم تفسد الماء الی قوله: ولایعفی القلیل فی الاناء علی ماقیل لعدم الضرورة، وعن ابی حنیفة انه کالبیر فی حق البعرة والبعرتین (هدایة: ج: ۱ ص: ۴۲) (۱) وفی فتح القدیر: فی الشاة تبعر فی المحلب قالوا: ترمی البعرة ای من ساعته فلو أخر .... لایجوز (ص: ۲۹) (۲) والله اعلم

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۱۴۵۵/ ۱۸ الف)

لس په لس متره حوض کي د نجاست لویدلو حکم

سوال: د یوجماعت حوض پوخ (لس په لس متروکی) د اوبو څخه ډك وو په هغه کی څو د تیم لوټی ولویدی چی د هغه د راکښلو بندوبست وسو، د هغه لوټو سره دری چپلی هم راووتلی دامعلوم نه دی چی دا کله ور لویدلی وی؟ چونکی اوبه ډیری وی نو زید (د مسجد امام) ټولی اوبه باندی را وکښلی او حوض خالی سو، نن صبا د اوبو قلت دی او هغه ظاهر دی او په جواب کی یی د مولانا عبد الحی صاحب داسوال جواب پیش کی.

سوال: که (حوض لس پرلس متره) کی وو او د اوبو په کمیدو باندی په هغه کی نجاست ولویدی، بیا په حوض کی اوبه راغلی او هغه ډك سو او څه شی د هغه څخه د باندی راووتی نو د هغه حوض اوبه به صحیح وی او که نه؟

جواب: د بعضو په نزد باندی صحیح دی او د بعضو په نزد باندی صحیح نه دی.

جواب: که د حوض اوبه ډیری وی (لس په لس کی) نو په هغه کی نجاست لویدلو سره اوبه نه مرداریږی، ترڅو چی د اوبو رنګ، بوی او خوند بدل نسی، لهذا په صورت مسئوله کی که په اوبو کی څه تغیر نه وو پیدا نو د حوض د خالی کولو ضرورت نه وو

(۱) (طبع مکتبة شرکت علمیه)
(۲) فتح القدیر ج: ۱ ص: ۸۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

[1]، د مولانا عبد الحی د فتاوئ چی کوم سوال او جواب [2] نقل سوی دی، د هغه څخه استدلال صحیح نه دی، د هغه صورت بالکل مختلف دی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۳/ ۵/ ۱۳۸۸ ھ

(فتوئ نمبر ۵۹۵/ ۱۹ الف)

په کوهي کي د مار غورځېدلو په صورت کي څه حکم دی؟

سوال: په یوکوهی کی د مار بچی پاوباندی یوګز اوږد او یو انچ پیړ مړسو او خراب سو او جلاسوی نه دی آیا د هغه په را ایستلو سره اوبه صفادی او که ناپاکی؟ که ټولی اوبه راویستل سی نو په دی کی ډیر تکلیف دی که دامار ار ونه کښل سی نو څه حکم دی؟

جواب: که مار د وینی والاوو نو اوبه مطلقًا ناپاکی سوی او د هغه د راکښلو څخه وروسته د کوهی ټولی اوبه راکښل واجب پاته سو تکلیف که په دی وجه وی چی کوهی چینه دار دی (یعنی په کوهی کی هروخت اوبه را وځی) نو بیا خوبه دومره اوبه راکښل کافی سی څومره چی راکښل په شروع کی وی، او د دی اندازه دی دوه داسی عادل کسان ولګوی چی هغوی د کوهی په مساحت وغیره کی تام مهارت حاصل وی، د دی څخه وروسته چی کومی اوبه را وځی هغه به صفا وی او که تکلیف په عام کوهي کی هم معلومیږی نو هغه شرعًا معتبر هم نه دی، ټولی اوبه به راکښل ضروری وی چی د هغه دلائل لاندی دی: په تنویر الابصار کی دی: اذا وقعت نجاسة فی بئر دون القدر

[1] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۱۹۰ الی ۱۹۲ وکذا یجوز براکد کثیر کذالك ای وقع فیه نجس لم یر اثره .... لکن فی النهر وان خبیر بان اعتبار العشر اضبط .... الخ، وفی الشامیة قوله: لم یر اثره ای من طعم او لون او ریح .... الخ، وفی شرح الوقایة کتاب الطهارت ج: ۱ ص: ۸۰ (طبع ایچ ایم سعید) ولابماً راکد وقع فیه نجس الا اذاکان عشرة اذرع فی عشرة اذرع ولاینحصر ارضه بالعرف فحکمه کحکم الماء الجاری، او همدارنګه وګورئ فتاوئ دار العلوم دیوبند ج: ۱ ص: ۱۴۹ سوال نمبر ۱۷۵، ۱۷۷، او ج: ۱ ص: ۱۴۹.

[2] وګورئ مجموعة الفتاوئ فارسی ج: ۳ ص: ۲۸ او معلوم الفقه اردو ترجمه مجموعة الفتاوئ علامه عبد الحی لکهنوی (طبع قدیم) باب الحوض ج: ۱ ص: ۲۰۰ (طبع میر محمد کتابخانه)

الکثیر اومات فیها حیوان دموی وانتفخ او تفسخ ینزح کل مائها بعد اخراجه (شامی ج: ۱ ص: ۱۲۵، ۱۲۶)) [1]

۲: در مختار کی دی: (وان تعذر) نزح کلها لکونها معینًا (فبقدر مافیها) وقت ابتداء النزح قاله الحلبی (یؤخذ ذالك بقول رجلین عدلین لهما بصارة بالماء) به یفتی (شامی ج: ۱ ص: ۱۹۸) [2]

او که مار د وینی والا نه وو، نو د هغه په غورځیدو سره اوبه نه ګنده کیږی د هغه د راکښلو څخه وروسته مزید د څه اوبو راکښلو ضرورت نسته.

په درمختار کی دی: (ویجوز) رفع الحدث (بماذکر وان مات فیه) ای الماء ولوقلیلاً (غیرد موی کزنبور ومائی مولد کسمك وسرطان) وضفدع الا بریاله دم سائل وهو مالا سترة له بین اصابع فیفسد فی الاصح کحیة بریة ان لها دم (والا لا) او علامه شامی د الا لا د لاندی لیکی: ای وان لم یکن للضفدع البریة والحیة البریة دم سائل فلایفسد. (شامی ج: ۱ ص: ۱۷۱) [3].

دا تفصیل په هغه صورت کی وو چی مار د اوچی وی او که د اوبو مار وی نو هغه به مطلقًا اوبه په هرصورت کی نه فاسد وی، لکه څنګه چی علامه بان عابدین رحمه الله لیکلی دی: اما المائیة فلا تفسد مطلقًا کما علم ممامر (رد المختار ج: ۱ ص: ۱۷۱) [4]

والله سبحانه اعلم

۲۷/ ۱۱/ ۱۳۷۹ ھ [5]

آیا د ټینکی څخه راتلونکي اوبه د جاری اوبو په حکم کي دی؟

سوال: نن صبا د پائپ په سټم کی د رواج دی چی د کور په چت باندی یوه ټینکی وی او د هنډپمپ په ذریعه د لاندی څخه په هغه کی اوبه اچول کیږی او د هغه څخه بیاټول

[1] ج: ۱ ص: ۲۱۱، ۲۱۲ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] الدر المختار ج: ۱ ص: ۲۱۴ (ایضًا)

[3] شامیه ج: ۱ ص: ۱۸۳ الی ۱۸۵ (طبع ایچ ایم سعید)

[4] الشامیة ج: ۱ ص: ۱۸۵ (طبع سعید)

[5] دا فتوئ د حضرت والا امت برکاتهم د تمرین افتاء (درجه تخصص) د کاپی څخه اخستل سوی ده (محمد زبیر)

کورته اوبه رسول کیږی نو که د لوړی څخه په ټینکی کی اوبه اچول کیږی او د لاندی څخه د پیپ په ذریعه وځی نو آیا دا اوبه به (جاری اوبه) وی او که نه؟ او که په داسی ټینکی کی نجاست په هغه وخت کی وغورځیږی چی اوبه ولاړی وی چی د یوه یادواړو اړخونو څخه اوبه نه بهیږی نو آیا په کوم وخت چی اوبه جاری سی نو هغه وخت به هغه ټینکی پاکه سی او که نه؟

جواب: قال فی منیة المصلی عن ابی یوسف ماء الحمام بمنزلة ماء الجاری ...... (واختلف المتأخرون فی بیان هذا القول) قال بعضهم: مراده حالت مخصوصة وهو .... اذاکان الماء یجری من الانبوب الی حوض الحمام والناس یغترفون منه غرفًا متدارکا، وقال تحته العلامة الحلبی نقلا عن فتاوٰی القاضی خان: وان کان الناس یغترفون من الحوض بقصاعهم ولایدخل من الانبوب ماءً او علی العکس اختلفو فیه واکثرهم علی انه یتجنس ماء الحوض، وان کان الناس یغترفون بقصاعهم ویدخل الماء من الانبوب اختلفو فیه واکثرهم علی انه لایتنجس (انتهٰی) فهذا هوالذی ینبغی ان یعتمد علیه (کبیری شرح منیه ص: ١٠٠) ([1]).

وقال العلامة طاهر البخاری: وفی الفتاوٰی، وحوض الماء اذا اغترف رجل وبیده نجاسة وکام الماء من انبوبه فی الحوض والناس یغترفون من الحوض غرفا متدار کالم یتنجس (خلاصة الفتاوٰی ج: ١ ص: ٥ طبع امجد اکیډمی لاهور) ومثله فی الدر المختار علی الشامی ج: ١ ص: ٩٠)

د دی عبارتونو څخه معلومه سوه چی هغه حوض صغیر چی د هغه د یو اړخ څخه د پائپ په ذریعه اوبه راځی او د دوهم اړخ څخه د هغه څخه اوبه ډکیږی نو د روانو اوبو په حکم کی دی، نن صبا چی د ټینکو کوم صورت مروج دی هغه هم په ظاهره په دی کی داخل دی، خو په دی کی داشبه کیدی سی چی علامه شامی رحمه الله داحکم په هغه صورت کی خاص کړی دی چی اوبه د برنی اړخ څخه وکښل سی او که د لاندی څخه د څه سوری په ذریعه ووځی لکه چی د مروجه د چت د ټینکو څخه د پائپ په ذریعه وځی نو په دی صورت کی به داحکم نه وی، د دی جواب زما په خیال دادی: چی علامه شامی رحمه الله داحکم د حوض په باره کی فرمائیلی دی ([2]) او که د هغه په تل (یابیخ) کی

---

[1] غنیة المتملی ص: ١٠٢، ١٠٣ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

[2] شامی مطلب لو ادخل الماء من اعلی الحوض وخرج اسفله فلیس بجاز. ج: ١ ص: ١٩٠)

سوری وی نو یقینًا هغه په دی حکم کی نه وی، ځکه چی په دی وخت به د حوض څخه اوبه ډیری په مزه او کمی به وی، په خلاف د هغه صورت کی د ټینکی څخه اوبه په پوره قوت او شدت سره لاندی بهیږی، په دی دواړو کی فرق وسو ([1]).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفٰی عنه

٨/ ٥/ ١٣٨٠ هـ ([2])

د هندو چهوړی مینځل سوی ځای پاندی د لمانځه حکم

سوال: صدر مملکت پاکستان گله چی حکم صادر کړی دی چی په ټولو سرکاری دفترونو کی دی لمونځ اداء سی، نو زموږ خواته یوهندو چهوړی دی، په هغه باندی موږ هغه ځای چی د لمانځه د پاره موتجویز کړی دی په اوبو باندی پری مینځو، که هغه هندو چهوړی خپل لاس پښی مینځلو سره هغه ځای ومینځی نو په دغه ځای باندی لمونځ کول صحیح دی او که نه؟

جواب: مذکوره هندو چهوړی که خپل لاس پښی ومینځی، که مځکه ومینځی او که جارو استعمال کړی نو هغه پاکه ده او په هغه ځای لمونځ کولی سی.

والله سبحانه اعلم

١٣/ ١/ ١٣٩٩ هـ

(فتوٰی نمبر ١١٤/ ٣٠ الف)

اسلامي گرافکس کویټه بلوچستان
03218000671

---

[1] د تفصیل د پاره خیر الکلام فی حوض الحمام، مصنفه حضرت مفتی اعظم پاکستان مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره مطالعه کړئ.

[2] دافتوٰی د امت برکاتهم د تمرین افتاء (درجه تخصص) د کاپی څخه اخستل سویده.

فصل في احكام الجنب والمعذور

د جُنُبي او معذور متعلق د مسائلو بیان

په غسل کي د سرتیل ایسته کول ضروري نه دی

سوال: آیا په غسل جنابت کی د سرتیل اخواکول ضروری دی؟ او د تکیه بستر وغیره مینځل ضروری دی؟

جواب: په غسل جنابت کی د سرتیل اخواکول ضروری نه دی او که اخوائی کړی نو بهتره ده.

فی الدر المختار: ولایمنع الطهارة ونیم ..... وحناء ولوجرمه به یفتی ودرن ووسخ .... وکذا دهن ودسومة، وفی رد المختار ای کزیت وشیرج بخلاف نحو شحم وسمن جامد. (شامی ج: ۱ ص: ۱۰۴) [1]

سوال: که په سرباندی تیل لګول سوی وی او په هغه بآندی یو مرغی ګندګی وکړی نو صرف په اوبو سره مینځل کافی دی یاتیل اخواکول ضروری دی؟

جواب: د مغری وغیره ګندګی اخوا کول پکار دی د تیلو اخواکولو حکم لوړ تیر سو او د څومره غوړوالی ازاله چی ممکن وی وی کړه او د کوم چی ازاله متعذروی هغه معاف دی.

والله سبحانه اعلم
۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۵۸۸/ ۲۸ ب)

د جنابت په حالت کي د درود شریف وئیلو حکم

سوال: د جنابت په حالت کی د درود شریف معمول پوره کولی سی او که نه؟

جواب: د جنابت په حالت کی صرف د قرآن کریم تلاوت ممنوع دی، خو دعاګانی، اذکار، تسبیحات او درود شریف ویل ناجائز نه دی، لیکن مستحب دادی چی د درود

[1] رد المختار ج: ۱ ص: ۵۴ (طبع ماجدیه کویته) واذا ادهن فامر الماء فلم یصل یجزی .... الخ. وفی الهندیة الفصل الاول فی فرائضه ج: ۱ ص: ۱۴ (طبع سعید)

شریف او اذکارو د پاره کم ترکمه اودس وکړی.

لما فی الدر المختار: ولابأس لحائض وجنب بقراءة ادعیة ومسها وحملها وذکر الله تعالی وتسبیح، وقال الشامی: الی ان وضوء الجنب لهٰذه الاشیاء مستحب کوضوء المحدث (شامی ج: ۱ ص: ۱۹۳) [1]

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۳/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۳۲۱/ ۲۸ ب)

د جنابت په حالت کي قرآن شریف ته د لاس وړلو حکم

سوال: په یوسړی باندی غسل واجب دی او دس کولو سره قرآن مجید ته لاس لګولو باندی ویلی سی او که نه؟

جواب: د جنابت په حالت کی چی کله په انسان باندی غسل واجب وی، د هغه د پاره قرآنکریم ته لاس وړل، ویل وغیره ټول ناجائز دی، [2] او صرف اودس کولو سره جنابت نه ختمیږی، ځکه صرف اودس کولو سره قرآنکریم ته لاس وړل یا ویل هم نه جائز کیږی، د دی د پاره غسل کول ضروری دی. والله اعلم بالثواب

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الٰی عفی عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۷/ ۲/ ۱۳۸۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۱۴۲۷/ ۱۸ الف)

[1] ایضًا.

[2] فتاوٰی شامیه ج: ۱ ص: ۲۹۳ (طبع ایچ ایم سعید) وفی مشکوٰة المصابیح ج: ۱ ص: ۴۹ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابن عمر قال: قال رسول الله ﷺ: لاتقراء الحائض ولا الجنب شیاءً من القرآن (رواه الترمذی) وفی المرقات تحته ج: ۲ ص: ۱۲۰ وفی شرح السنّة انفقوا علی ان الجنب لایجوزله قراءة القرآن .... والحاصل ان جمهور العلماء علی الحرمة، اذهی اللائقة بتعظیم القرآن وفی الدلالة علیها الاحادیث الکثیرة المصرحة به وان کانت کلها ضعیفة، لان تعدد طرقها یورثها قوة ای قوة وترقیها الی درجة الحسن لغیره وهو حجة فی الاحکام وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۱۷۲ ویحرم به تلاوة قرآن ولودون اٰیة علی المختار بقصده ومسه.
وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۸ ومنها حرمة قراءة القرآن لاتقرء الحائض والنفساء والجنب شیاء من القرآن والاٰیة ومادونها سواء فی التحریم علی الاصح. (محمد زبیر حق نواز)

په یوه شپه کي دوباره کوروالي کولو د پاره د جنابت غسل ضروري نه دی

سوال: د خپلی ښځی سره د صحبت کولو څخه وروسته که دوباره یی خواهش وی نو ایا دوباره صحبت د پاره د جنابت غسل ضروری دی؟

جواب: د دوباره صحبت د پاره د جنابت غسل ضرور نه دی البته په مینځ کی اودس کول بهتر دی، (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۵/۵/۲ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۴۵۱/۲۸ ب)

د څو واره کوروالي څخه وروسته د جنابت یو غسل کافي دی

سوال: ایا د خپلی ښځی سره په یوه شپه کی چی څومره واره کوروالی وسی هم هغونده واره ورته غسل ضروری وی؟ یعنی که په یوه شپه کی یووار کوروالی وسو نو په دوهم وار به هتله کوروالی کوی چی مخکی غسل وکړی ورنه دافعل حرام دی؟

جواب: په یوه شپه کی چی څو واره هم کوروالی وسی د ټولو د پاره په اخر کی یو غسل کافی دی، (۲) البته که د کوم کوروالی څخه وروسته یی غسل وکی نو د اینده کوروالی څخه وروسته به نوی غسل کوی.

والله اعلم
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۳۸۷/۱۲/۲۰ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۴۵۳/۱۸ الف)

---

(۱) ایضًا.

(۲) وفی مشکوٰة المصابیح ج: ۱ ص: ۴۹ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی سعید الخدری رحمه الله قال: قال رسول الله ﷺ . اذا اتی احدکم اهل ثم اراد یعود فلیتوضأ بینهما وضوء، (رواه مسلم) وفیه ایضا بعده عن انس رضی الله عنه قال: کان النبی ﷺ یطوف علی نسائه بغسل واحد (رواه مسلم)
وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۱۷۲، ۱۷۷ لا (یکره) معاودة اهله قبله اغتساله الا اذا احتلم لم یأت اهله، قال الحلبی رحمه الله ظاهر الحدیث انما یفید الندب لانفی الجواز المفاد من کلامه.

لیکن هروار غسل کول افضل دی او که داګران وی، نوصرف اودس دی کوی او که داهم نسی کیدی نو هیڅ ګناه نسته چی آخر کی دی غسل وکړی (۱). محمد عاشق الهی

هم په یوه شپه کي دوباره کوروالي څخه مخکي که غسل ونه کړی نو څه حکم دی؟

سوال: ښځی سره د کوروالی کولو څخه وروسته که دوباره کوروالی کړی وی نو دوباره غسل کول ضروری دی یا په همدی حالت کوروالی کیدی سی؟

جواب: که د دوباره کوروالی اراده یی وی نو اول غسل یا اودس کول مستحب دی خو که ونسی نو هیڅ ګناه نسته. (۲)

والله اعلم
۱۳۹۷/۱/۲۲ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۵۲/۲۸ الف)

د متیازو د قطرو په وجه پاندی د کپړو د پاکوالي او د اودس حکم

سوال: د مثانی د کمزورتیا په وجه اکثره د متیازو او چولو څخه وروسته څه قطری را وځی او اکثره د اودس کولو څخه وروسته داسی کیږی د اودس او د کپړو د پاکوالی یاناپاکی، څه حکم دی؟

جواب: په مسئوله صورت کی کله چی قطری راسی نو کپړی پاکولو سره دی بیا اودس وسی.

والله اعلم
۱۳۹۷/۹/۱۸ هـ
(فتویٰ نمبر ۹۷۰/۱۸ ج)

(لیکوریا) د اوبو حکم او د هغه سره متعلق متعدد مسائل

سوال: ښځوته د لیکوریا ناجوړی وی چی د هغه په وجه د رحم څخه سپینی اوبه بهیږی:
۱: ایا دا سپینی اوبه نجاست خفیفه دی او که نجاست غلیظه؟

---

(۱) ایضًا.

(۲) حاشیه په تیره صفحه کی لیکل سوی ده هغی ته مراجعه وکړئ.

۲: که کومی ښځی ته دابیماری وی او هغه لمونځ هم کوی چونکی د اوبو بهیدو څه خاص وخت مقرر نه وی نو آیا د دی اوبو د وجی کپړه ګنده کیږی؟

۳: د اودس کولو په وخت کی که دا اوبه خارج سی نو اودس ماتیږی؟

۴: که د لمانځه اداء کولو په دوران کی دا اوبه خارجی سی آیا لمونځ کیږی؟

۵: که لمونځ نه کیږی نو په دی سلسله کی کومه طریقه اختیار سی چی لمونځ یی ضایع نه سی؟

۶: ایا شرعاً به داشان مریض معذور ګڼل کیږی؟

جواب: د لیکوریا په بیماری کی چی کومی اوبه وځی هغه چونکی د رحم څخه وځی نو هغه د مذی په شان نجاست غلیظه دی، ولیس هوفی حکم رطوبت الفرج الداخل (کمافی امداد الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۵۲ او ۷۴) [1]

۲: په دی سره کپړی ګنده کیږی.

۳: د دی په وتلو سره اودس ماتیږی [2]

۴: لمونځ نه صحیح کیږی خو داچی د معذوری صورت جوړسی کوم چی په پنځم او شپږم نمبر جواب کی راځی.

۵-۶: که دا اوبه هروخت بهیږی او دومره وخت هم نه پیداکیږی چی څلور رکعته لمونځ پکښی اداء سی نو بیا داښځه د معذور په حکم کی ده، د داسی ښځی د پاره جائزدی چی د هرلمانځه د وخت په داخلیدو باندی اودس وکړی او د دی سره چی څومره غواړی لمونځونه او نفلونه دی وکړی ترڅو چی د دی لمونځ وخت باقی وی د دی اودس به د اوبو بهیدو په وجه نه ماتیږی بیا چی د دوهم لمونځ وخت راسی نو د هغه د پاره دی نوی اودس وکړی [3].

---

[1] ایضاً.

[2] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۳۱۳ ای رطوبة الفرج فیکون مفرعا علی قولهما بنجاستها وقال ابن عابدین تحته ..... ومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعاً ککل خارج من الباطن، کالماء الخارج مع الولد او قُبَیْله.

[3] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۳۰۵ وصاحب العذر من به سلس بول لایمکنه امساکه أو استطلاق بطن ریح او انفلات او المستحاضة ...... ان استوعب عذره تمام وقت صلوٰة مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضاء ویصلی فیه خالیا عن الحدث .... وحکمه الوضوء ...... لکل فرض ..... ثم یصلی به فیه فرضاً او نفلاً فاذا خرج الوقت بطل.

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۲۳۳/ ۲۷ هـ)

فصل في الاستنجاء

د استنجاء د مسائلو بیان

ایا د طهارت د پاره لوټه او اوبه دواړو استعمال ضروری دی؟

سوال: د استنجاء د پاره زه دوه واره ضرور څم اول لوټه استعمالوم او د هغی څخه وروسته د اوبوسره طهارت حاصلوم زما په خیال کی د مکمل طهارت حاصلولو د پاره زه داسی کوم، خو هغه وخت راته ډیر تکلیف وی چی کله جمع د لمونځ د پاره ولاړه وی او زه ټول وخت په استنجاء ولګوم یا د باران په وخت راته د طهارت د پاره لوټه نه پیداکیږی، دغه شان په سفر کی هم لوټه نه وی د لمونځ او حج وغیره کی د دی اهتمام کولو سره به را څخه ارکان ولاړسی اخرځه وکړم راهنمائی راته وکړئ؟

جواب: بیشکه افضل خو دادی چی لوټه او اوبه دواړه استعمال سی خو د ضرورت په وخت صرف په اوبو سره هم استنجاء کافی ده او دومره دی ومینځل سی چی نجاست باقی پاته نسی، زیات وهم کی پریوتل نه دی پکار، ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء (شامی ج: ۱ ص: ۲۲۶) [1] والغسل بالماء الی ان یقع فی قلبه انه طهر مالم یکن موسوسا. (درمختار ج: ۱ ص: ۲۲۵) [2]

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۵۸۸/ ۲۸ ب)

---

[1] فتاوٰی شامیه ج: ۱ ص: ۳۳۸ (طبع ایچ ایم سعید) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) والافضل ان یجمع بینهما کذا فی التبیین.

[2] الدر المختار ج: ۱ ص: ۲۳۷).

د متیازو څخه وروسته لوټه استعمالول مسنون دی او صرف اوبه استعمالول هم کافي دی

سوال: د متیازو څخه وروسته د استعمال د پاره که لوټه نه وی نو څه صورت اختیارول پکاردی؟ هرکله چی دیوال د سنګ مرمر وی او که د لوټی او اوبو استعمالولو څخه وروسته د کوم شخص قطره را ووځی نو د هغه د پاره به د پاکی څه صورت وی؟

جواب: د متیازو څخه وروسته لوټه استعمالول مسنون دی بیاهم که لوټه نه وی نو بیاصرف اوبه هم کافی دی، خو صرف په لوټه باندی اکتفاء کول نه دی پکار او د لوټی او اوبو دواړو د استعمال څخه وروسته که بیاهم قطره راسی نو استنجاء او اودس دوباره کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ۲/ ۱۳۹۱ ھ

(فتوی نمبر ۲۹۳/ ۲۲ الف)

فصل في مسح علي الخفين

په موزو باندی د مسح سره د متعلق مسائلو بیان

په مروجه موزو باندی د مسح مسئله

سوال: څه فرمائی علمائی کرام د دی مسئلی په باره کی چی په کومو موزو باندی مسح کول صحیح ده؟

الف: ترڅو چی څرمنی په موزو باندی د مسح تعلق دی، د هغه په جواز باندی تقریبا ټول علمائی کرامو اتفاق دی خو د وړی د تار او د نائیلون وغیره په موزو باندی د مسح د جواز په باره کی څه اختلاف دی، ډیر فقهائی کرام د وړَی او د تار په موزو باندی د مسح جائز کیدو په باره کی څه شرائط ایږدی، خو د درو حاضر یومشهور صاحب د فکر او بصیرت فرمایی چی په هرقسم موزو باندی د څه قید څخه بغیر مسح کول درست دی.

ب: فقهائی کرامو چی کوم شرائط په موزو باندی د مسج د جائز کیدو د پاره مقرر کړی دی د هغه په باره کی مشهور مفکر فرمایی چی ما د خپل امکانی حد پوری داتلاش کولو کوشش کړی دی چی د دی شرائطو مأخذ څه دی؟ خو په سنت کی څه شی پیدانه سی.

د سنت څخه چی څه شی ثابت دی هغه دادی چی نبی کریم ﷺ په جرابو او څپلو باندی مسح کړی ده، د نسائی څخه علاوه په کتب سنن کی او مسند احمد وغیره کی د مغیره بن شعبه روایت موجود دی چی نبی کریم ﷺ اودس وکی او (مسح علی الجوربین والنعلین) په خپلو جرابو او څپلو یی مسح وکړله، د ابوداود بیان دی: چی حضرت علی ؓ، عبد الله بن مسعود ؓ، حضرت براء بن عازب ؓ، حضرت انس بن مالك ؓ، ابو امامه حضرت سهیل بن سعد ؓ او عمر بن حریث رضی الله تعالی عنهم اجمعین په جرابو مسح وکړله، ورسره د حضرت عمر ؓ او حضرت عباس ؓ څخه هم دافعل مروی دی، بلکی بیهقی د حضرت عباس او انس بن مالك څخه، طحاوی د حضرت اویس بن اویس ؓ څخه نقل کړی دی چی حضور ﷺ صرف په څپلو باندی مسح وکړله، په هغه کی د جرابو ذکر نسته او همدا عمل د حضرت علی ؓ څخه هم منقول دی، د دی مختلفو روایاتو څخه معلومیږی چی صرف په جرابو او جرابی اچول سوی څپلو باندی مسح کول همداشان جائز دی لکه چی د څرمنی په موزو باندی مسح کول درست دی، په دی روایاتو کی چیری هم دانه معلومیږی چی نبی کریم ﷺ د فقهاوو په تجویز سوو شرائطو کی څه شرط بیان کړی وی او نه دا ذکر چیری پیداکیږی چی په کومو جرابو باندی حضور ﷺ او اصحاب کرامو ؓ مسح کړی وه هغه د څه شی څخه جوړی وی، ځکه په دی وئیلو باندی زه مجبوره یم ی د فقهاوو عائد سوو، د دی شرائطو څه مأخذ نسته، او فقهاء چونکی شارع نه دی نو د هغوی په شرطونو باندی څوك عمل ونکی نو هغه به ګنهګار نه وی.

د دی تحقیق خلاصه داده چی په هرقسم موزو باندی اطمنان سره مسح کیدی سی، برابره خبره ده که هغه د وړی وی یا د تار او یا د نائیلون یا د بل څه ریشی وی، د چمړی وی یا د ائل کلاته او د ریګزین حد دادی که د پښنی څخه کپړه هم تاؤ کړی او مسح وکړی نو بیاهم جائزده.

د دی مفکر څخه علاوه علامه ابن تیمیه هم د خپلی فتویٰ کتاب جلد دوهم کی دافتویٰ ورکړی ده، د حافظ ابن قیم او علامه ابن حزم هم دا مسلك دی چی د څه قید څخه بغیر هرقسم موزی باندی مسح کیدی سی.

په اخره کی مستدعی یم چی د خپل مصروف اوقاتو څخه د دی دینی مسئلی حل را وباسی او راوی پیژنی فتویٰ مدلل او مفصل پکار ده.

ستاسو د فتویٰ به منتظریم چی د مشکل څخه ووځم او صحیح لاره پیداکم.

منتظر الجواب

محمد طاهر غوری

چشتیال ضلع بهاول نګر

الجواب: وبالله التوفیق: کوم قسم چی د تار یا د وړی یا د نائیلون موزی چی نن صبا رائج دی په هغه باندی مسح کول په ائمه اربعه کی د چاپه نزد هم جائز نه ده، ستاسو خیال غلط دی چی په دی مسئله کی د فقهاوو په مینځ کی څه اختلاف دی، بلکی واقعه داده چی د داسی نریو موزو په باره کی ائمه اربعه په دی متفق دی چی په دی مسح کول جائز نه دی چنانچی ملك العلماء کاسانی رحمه الله لیکی:

فان کانا رقیقین یشفان الماء لا یجوز المسح علیهما بالاجماع. (بدیع الصنائع ج: ۱ ص: ۱۰) [۱]

وروسته که موزی دومره نرمی وی چی په هغه کی اوبه چهاڼ کیدی سی نو په هغه باندی بالاجماع مسج جائز نه ده.

او علامه ابن نجیم رحمه الله تحریر فرمائی:

ولایجوز المسح علی الجورب الرقیق من غزل او شعر بلا خلاف، ولوکان ثخینًا یمشی معه فرسخًا فصاعدا ... فعلی الخلاف. (البحر الرائق ج: ۱ ص: ۱۹۲) [۲]

د دی څخه معلومه سول چی په کومو موزو کی د (تخین) شرائط نه پیداکیږی یعنی په هغه کی اوبه چهاڼ کیږی یا هغه په څه شی سره د تړلو څخه بغیر محض د خپل پیړوالی د وجی نسی تینګیدلی یا په هغه کی د یوسړی دومره بغیر د څپلو څخه تلل منکن نه وی په هغه باندی مسح کول د هیڅ یومجتهد په مذهب کی جائز نه ده، هو! چی په کومو

[۱] (طبع ایچ ایم سعید)

[۲] البحر الرائق باب المسح علی الخفین ج: ۱ ص: ۱۸۳ (طبع ایچ ایم سعید)

موزو کی دا دری سره شرطون پیداکیږی په هغه باندی د مسحی جواز او عدم جواز کی اختلاف دی.

نرخو چی د ابو العلی مودودی صاحب تعلق دی هغوی په ډیرو مسائلو کی د جمهور امت څخه جلا لاره اختیار کړی ده، دامسئله هم همداسی ده چی په هغه کی هغوی د جمهورو فقهاوو د مخالفت کولو سره سخته غلطی کړی ده، تاسو چی د هغوی کوم دلائل ذکر کړی دی د هغه څخه اندازه کیږی چی موصوف د مسئلی اصل حقیقت باندی پوره پوهیدو سره کوشش نه دی کړی، ستاسو د اطمینان د پاره د مسئلی مختصر حقیقت عرض کول کیږی.

واقعه داده: چی قرآنکریم په سورة مائده کی د اودس چی کومه طریقه بیان فرمائیلی ده په هغه کی په پوره وضاحت سره د پښو مینځلو حکم ورکول سوی دی، نه داچی په هغه باندی د مسح کولو، لهذا د قرآنکریم د دی آیت تقاضا داده چی په اودس کی دی همیشه پښی ومینځل سی او په هغه باندی دی په هیڅ صورت کی مسح جائز نسی، نردی چی که کوم سړی د څرمنی موزی په پښو وی په هغه وخت دی هم مسح جائز نه وی خو د څرمنی په موزو باندی د مسح اجازت د امت په اجماع سره ورکول سوی دی، د دی وجه داده چی په داسی موزو باندی مسح کول او د دی اجازت ورکول د حضور ﷺ څخه داسی په تواترسره ثابت دی چی د هغه څخه انکار ممکن نه دی، که د مسح علی الخفین په جواز باندی دوه یا دری احادیث وه، بیاهم د هغه په وجه د قرآنکریم په مذکوره صریح حکم کی په څه تقیید درست نه وو، ځکه چی اخبار احاد سره په قرآنکریم باندی زیادت یا د هغی نسخ یا د هغی تقیید به جائز نه وی، خو د مسح علی الخفین احادیث معنیً متواتر دی، ځکه د دغه متواترو احادیثو په رڼاکی د ټول امت په دی باندی اجماع منعقده سوه چی د قرآن کریم په آیت کی د پښو مینځلو حکم په هغه صورت سره مخصوص دی کله چی انسان موزی نه وی اغوستی (یعنی د څرمنی موزی) چنانچی امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی:

ماقلت بالمسح حتی جائنی فیه ضوء النهار. (البحر الرائق ج: ۱ ص: ۱۷۳) [۱]

[۱] البحر الرائق باب المسح علی الخفین ج: ۱ ص: ۱۲۵ (طبع ایچ ایم سعید) وکذافی فتح القدیر ج: ۱ ص: ۱۲۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویته)

زه د مسح علی الخفین ترهغه وخته پوری قائل نه سوم ترڅو چی ماته د روښانه ورځ په شان د هغه دلائل را ونه رسیدل، چنانچی د مسح علی الخفین حکم اتیا صحابه کرامو ﵃ روایت کړی دی، حافظ ابن حجر ﵀ په فتح الباری کی لیکی:

وقد صرح جمع من الحفاظ بان المسح علی الخفین متواتر وجمع بعضهم رواته فجاوزوا الثمانین منهم العشرة. (نیل الاوتار ج: ۲ ص: ۱۷۲) [1]

د حفاظو یولوی جماعت تصریح کړی ده چی د مسح علی الخفین حکم متواتر دی او بعضی حضراتو د بعضو روایت کوونکو صحابه کرامو ﵃ تعداد یی جمع کړی دی نو د اتیا وو څخه زیات وه، چی په هغه کی عشره مبشره هم شامل دی او حضرت حسن بصری ﵀ فرمائی:

ادرکت بسبعین بدریا من الصحابة کلهم کانوا یرون المسح علی الخفین.
(تلخیص الجبیر ج: ۱ [2] ص: ۱۵۸ وبدایع ج: ۱ ص: ۷۲)

که د مسح علی الخفین حکم داسی په تواتر یا استفاضی سره ثابت نه وو، نو قرآنکریم چی د پښو مینځلو کوم حکم ورکړی دی په هغه کی د څه تخصیص یا د تقیید ګنجایش به نه وی، چنانچی امام ابویوسف ﵀ فرمائی:

انما یجوز نسخ القرآن بالسنة اذا وردت کورود المسح علی الخفین فی الاستفاضة.
(احکام القرآن للجصاص ج: ۲ ص: ۴۲۵) [3]

په سنت نبویه سره د قرآن کریم کوم حکم منسوخ (عین مقیید) کوی په هغه وخت جائز کیدی سی کله چی هغه سنت د داسی تواتر څخه ثابت وی لکه چی مسح علی الخفین ثابت ده.

---

[1] نیل الاوطار للشوکانی ابواب المسح علی الخفین باب فی شرعیة ج: ۱ ص: ۱۵۵ (طبع مصطفی البابی مصر)

[2] وفی تخلیص الجبیر باب المسح علی الخفین ج: ۱ ص: ۲۴۸ (طبع مکتبه نزار مصطفی الباز، مکة المکرمه) عن الحسن البصری قال حدثنی سبعون من اصحاب رسول الله ﷺ انه کان یمسح علی الخفین وکذا فی نیل الاوطار، لشوکانی ابواب المسح علی الخفین باب فی شرعیته ج: ۱ ص: ۱۵۵ (طبع قدیم مصر) والبحر الرائق ج: ۱ ص: ۱۲۵ (طبع ایچ ایم سعید)

[3] احکام القرآن للجصاص ﵀ ذکر الخلاف فی المسح علی الخفین ج: ۲ ص: ۳۴۸ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

خلاصه داده چی په اودس کی د پښو مینځلو قرآنی حکم څه داسی شی نه دی چی هغه د دوو یا درو روایتونو په بنیاد باندی د څه خاص خبری سره مخصوص سی بلکی د هغه د پاره داسی تواتر پکار دی چی لکه چی د مسح الخفین د احادیثو څخه حاصل سوی دی، اوس د (خفین) په باره کی خو دا تواتر موجود دی، چی حضور ﷺ په هغه باندی پخپله هم مسح کړی ده او نورو ته یی هم د دی اجازت ورکړی دی خو د خفین څخه علاوه په بل کوم شی باندی د مسح کولو په باره کی داسی تواتر موجود نه دی او (خفین) په عربی ژبه کی صرف د څرمنی موزوته وایی، د کپړی موزوته خف نسی وئیل کیدی ځکه به دا اجازت صرف د څرمنی د موزو سره مخصوص وی، د نورو موزو په باره کی به د قرآن کریم اصلی حکم یعنی پښو مینځلو باندی به عمل وی، هوا که د کپړی موزی دومره ټخین (پیړی) وی چی هغه په خپلو خصوصیاتو کی او اوصافو کی د څرمنی هم پایه سوی وی یعنی نه خو په هغه کی اوبه چهانړیږی او نه هغه د دریدلو د پاره بیرونی سهاری ته ضرورت وی او هغه اغوستو سره میل دوه میله پکښی تللی سی، نو د داسی موزو په باره کی د فقهاوو په مینځ کی اختلاف سوی دی بعضی فقهاوو فرمائیلی دی چی داسی موزی د څرمنی په معنٰی کی راغلی دی، ځکه په دی باندی مسح کیدل جائز کیدل پکار دی، او بعضو حضراتو فرمائیلی دی چی چونکی مسح کول په تواتر سره صرف د خفین (د څرمنی موزو) باندی ثابت دی ځکه په دی باندی مسح کول صحیح نه دی، کوانکی چی موزی په دری قسمه باندی سوی.

۱: د څرمنی موزی چی هغی ته خفین وایی په دی باندی مسح بالاجماع جائز ده.

۲: هغه نری موزی چی نه د څرمن وی او نه په هغه کی د څرمنی اوصاف پیداکیږی، لکه نن صباسوتی، وړی یا د نائیلون موزی، د دی په باره کی اجماع ده چی مسح په دی باندی جائز نه ده، ځکه چی په دی باندی مسح کول د داسی دلائلو څخه ثابت نه ده، چی د هغه په وجه د پښو مینځلو قرانی حکم پریښوول سی.

۳: هغه موزی چی د څرمنی خو نه دی لیکن د پیړوالی په وجه په هغه کی د څرمنی اوصاف پیداکیږی په هغه باندی د مسحی په جواز کی د مجتهدین امت څه اختلاف نسته او د هغه وجه همداده چی د پښو مینځلو قرآنی حکم تر هغه وخته پوری نسی پریښوولی ترڅو چی د مسح حکم د داسی تواتر څخه ثابت نسی، په کوم تواتر سره چی د مسح علی الخفین جواز ثابت دی، لهذا فقهاء کرامو ﵃ د کپړو د موزو د مسح د پاره یی چی کوم شرائط لګولی دی هغه یی د خپل طرف څخه نه دی لګولی، بلکی په

هغه موزو کی د څرمنی اوصاف د تحقیق د پاره لګولی دی نو په دی کی هم اختلاف پاته سوی دی چی د دغه شرائطو د تحقیق څخه وروسته هم په هغه باندی مسح جائز ده او که نه؟ د مسئلی د حقیقت د وضاحت څخه وروسته اوس هغه روایات وګوری چی په هغه کی په جوربین (جرابو) باندی د مسح ذکر راغلی دی، په ټوله ذخیره احادیث کی دا کلی دری حدیثونه دی یو د حضرت بلال ؓ څخه مروی دی او یو د حضرت ابوموسیٰ اشعری ؓ څخه او یو حدیث د حضرت مغیره بن شعبه ؓ څخه.

د حضرت بلال ؓ حدیث په معجم صغیر طبرانی کی دی او د حضرت موسیٰ ابن ماجه او بیهقی وغیره روایت کړی دی، خو حافظ زیلعی ؒ د دی دواړو په باره کی ثابت کړی دی چی دا دواړه سندونه ضعیف دی. (نصب الرایه ج: ۱ ص: ۱۸۲) (۱)

او د حضرت ابوموسیٰ ؓ د حدیث په باره کی خو امام ابوداود هم دا لیکلی دی لیس بالمتصل ولابالقوی. (بذل المجهود ج: ۱ ص: ۹۲) (۲)

لهٰذا دا دواړه روایتونه د بحث څخه خارج دی، اوس صرف د مغیره بن شعبه ؓ حدیث پاته کیږی، د هغه معامله همداده چی که څه هم د امام ترمذی هغه ته حسن صحیح وئیلی دی خو نورو ائمه حدیث د هغوی په دی قول سخت تنقید کړی دی، امام ابوداود ؒ د دی حدیث روایت کولو سره لیکی:

وکان عبد الرحمٰن بن مهدی لایحدث بهذا الحدیث لان المعروف عن المغیرة ان النبی ﷺ مسح علی الخفین، (بذل المجهود ج: ۱ ص: ۹۲) (۳)

حضرت عبد الرحمٰن بن مهدی به داحدیث نه بیانوی ځکه چی د حضرت مغیره څخه چی کوم معروف روایتونه دی هغه د مسح علی الخفین دی (نه چی په جرابو باندی د مسح)

امام نسائی ؒ په سنن کبری کی لیکلی دی:

لانعلم احداً تابع ابا قیس علی هذه الروایة: والصحیح علی المغیرة انه ؑ مسح علی الخفین. (نصب الرایه ج: ۱ ص: ۱۸۳) (۱)

---

(۱) (طبع موسسة الریان بیروت)

(۲) وګوری بذل المجهود فی حل ابی داود ج: ۲ ص: ۳۳ (طب ندوة العلماء لکنهوی) وکذا فی الکفایة علی هامش فتح القدیر ج: ۱ ص: ۱۳۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

(۳) پورتنی حواله.

دا روایت د حضرت ابو قیس څخه علاوه چاهم نه دی روایت کړی، او زموږ په علم کی کوم بل راوی د دی تائید نه دی کړی، البته د حضرت مغیره ؓ څخه صحیح روایت د مسح علی الخفین دی.

د دی څخه علاوه امام مسلم ؒ امام بیهقی ؒ، سفیان ثوری ؒ، امام احمد ؒ، یحییٰ بن معین ؒ. علی بن المدنی ؒ او نورو محدثینو دا روایت د ابوقیس او هزیل بن شرجیل د دواړو د ضعف په بناء ضعیف ګرځولی دی او علامه نووی ؒ شارح مسلم لیکی:

کل واحد من هٰؤلاء لو انفرد قدم علی الترمذی مع ان الجرح مقدم علی التعدیل واتفق الحفاظ علی تضعیفه، ولایقبل قول الترمذی انه حسن صحیح (نصب الرایه په برنی حوالی سره) (۲)

کومو حضراتو چی داحدیث ضعیف ګرځولی که په هغوی کی هریو ځانته هم وی بیابه هم هغه په امام ترمذی باندی مقدم وی، د دی څخه علاوه داقاعده ده چی جرح په تعدیل مقدمه وی او حفاظ حدیث د دی په تضعیف باندی متفق دی، لهٰذا د ترمذی د قول مطابق که داحدیث صحیح هم ومنل سی نو په پوره ذخیره حدیث کی به ځانته صرف دایو حدیث وی چی په هغه کی د حضور ﷺ څخه په جرابو باندی مسح کول مذکور وی.

اوس تاسو غور وکړئ چی قرآنکریم د پښو د مینځلو چی کوم حکم صریح ورکړی دی هغه څنګه صرف د دی یوروایت په وجه پریښوول سی؟ هر کله چی د احادیثو امامانو په دی باند شدید تنقید هم کړی دی، تاسو وروسته وکتل چی د مسح علی الخفین حکم په هغه وخت ثابت سو کله چی د هغه احادیث د تواتر حد ته ورسیدل، او امام ابویوسف فرمائی: که د مسح علی الخفین احادیث دومره په کثرت سره نه وی نو د پښو مینځلو قرآنی حکم د پریښوولو هیڅ ګنجائش نه وو، خو د مسح علی الجوربین احادیث متواتر خوئی لاڅه کوی چی په پوره ذخیره د احادیثو کی د دی صرف دری روایتونه دی په هغه کی دوه با اتفاق ضعیف دی او یوه ته اکثرو محدثینو ضعیف وئیلی دی او صرف امام ترمذی ورته صحیح وئیلی دی، د داسی روایاتو په وجه د قرآن

---

(۱) نصب الرایه لاحادیث الهدایة ج: ۱ ص: ۱۸۴ (طبع موسسه الریان بیروت)

(۲) نصب الرایه لاحادیث الهدایة ج: ۱ ص: ۱۸۴ (طب موسسه الریان بیروت)

کریم په کوم حکم کی څه تخصیص یاتقید نسی پیداکیدی، چنانچی امام ابوبکر جصاص رحمه الله فرمائی:

والاصل فیه انه قد ثبت أن مراد الایة الغسل علی ماقدمنا، فلولم ترد الاثار المتواترة عن النبی ﷺ فی المسح علی الخفین لما جاز لنا المسح ولما لم ترد الاثار فی الجواز المسح علی الجوربین فی وزن ورودها فی المسح علی الخفین ابقینا حکم الغسل علی مراد الایه. (احکام القرآن للجصاص ج: ۲ ص: ۴۲۸) ([1])

د مسئلی حقیقت دادی چی د آیت اصلی مراد د پښو مینځل دی لکه چی وروسته تیر سول، لهذا که د حضور ﷺ څخه د مسح علی الخفین متواتر احادیث ثابت نه وی نو موږ به هیڅکله مسح علی الخفین جائز نه وای ګرځولی، او چونکی په جوربین (د کپړی موزی) باندی د مسح احادیث دی وزنی طریقی سره نه دی مروی په کوم وزنی طریقی سره چی د مسح علی الخفین احادیث مروی دی، ځکه موږ هلته د قرآنی آیت اصل مراد یعنی د پښو مینځلو حکم برقرار کښی ښوو ی.

اوس صرف سوال داپاته کیږی چی د کومو حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه دا منقول دی چی هغوی په جرابو مسح کړی ده، یایی د دی اجازت ورکړی دی نو د هغوی د دی عمل څه وجه وه؟

د دی جواب دادی چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په هغه اثارو کی چیری هم داصراحت نسته چی جوربین د کپړی نری موزی وی او ترڅو چی داصراحت نه وی، نو ترهغه وخته پوری د هغوی د اشارو څخه په نری موزو باندی د مسح جواز څنګه ثابت کیدی سی، چنانچی مشهور اهل حدیث عالم علامه شمس الحق صاحب اعظم ابادی لیکی:

ان الجورب یتخذ من الادیم وکذا من المعلوم ان هذه الرخصة بهذا العموم ..... لاتثبت الا بعد ان یثبت ان الجوربین الذین مسح علیهما ان النبی ﷺ کانا من صوف .... الخ. (عوف المعبود ج: ۱ ص: ۲۲) ([2])

یعنی جرابی د څرمنی هم وی، د وړی هم او د پمبو هم، او هریوه ته جراب ویل کیږی او په هرقسم موزو باندی د مسح اجازت ترهغه وخته پوری نسی ثابتیدی، ترڅو چی داثابت نه وی چی حضور ﷺ په دی جوربینو مسح کړی ده، بلکی د دی څخه هم زیات

([1]) احکام القرآن للجصاص رحمه الله ج: ۲ ص: ۳۵۰ (طبع سهیل اکیدمی لاهو)

([2]) عون المعبود باب المسح علی الجوربین ج: ۱ ص: ۱۸۷ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت)

داثابت دی چی دی حضراتو په کومو جوابو مسح کړی ده، هغه زیاتی د څرمنی وی یا د خپل پریړوالی د وجی د څرمنی د موزو په شان وی او په هغه کی د څرمنی د موزو د صفات پیداکیدل، چنانچی په مصنف بن ابی شیبه کی روایت دی:

حدثنا هشیم قال اخبرنا یونس عن الحسن وشعبة عن قتادة عن سعید بن المصیب والحسن انهما قالا: یمسح علی الجوربین اذاکان صفیقین (مصنف ابن ابی شبه ج: ۱ ص: ۱۸۸) ([1])

او حضرت سعید بن المسیب رحمه الله او حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چی په جوابو باندی مسح جائزده په دی شرط چی هغه ښه پیړی وی، واضحه دی وی چی ثوب صفیق هغه کپړی ته وایی چی ښه مضبوطه او د بیز وی، وګوریٔ قاموس او مختار صحاح وغیره.

حضرت حسن بصری رحمه الله او حضرت سعید بن المسیب دواړه د جلیل القدر تابعینو څخه دی او هغوی د صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل لیدلو سره دافتویٰ ورکړی ده، لهذا د دی حضراتو د عمل او فتویٰ څخه چی کومه خبره ثابته سوه هغه د دی څخه زیاته نه ده چی کومی موزی ډیری پری کیدو په وجه د څرمنی د اوصافو حاملی وی په هغه باندی مسح جائزده او د دی پیړوالی د وضاحت د پاره فقهاوو هغه دری شرائط ذکر کړی دی، یوچه په هغه کی او به نه چهانړیږی، دوهم هغه چی د څه شی سره د تړلو څخه بغیر پخپله ولاړی وی، او دریم داچی واغوستل سی او په هغه کی میل دوه میله تلل ممکن وی، داسی موزی چونکی د څرمنی د اوصافو حامل وی ځکه دا هم اکثره فقهاوو د (مسح علی الخفین د احادیثو څخه روایة النص او د مذکوره اصحاب کرامو د اثارو په وجه د (خفین) په حکم کی داخل کړی دی چنانچی علامه ابن الهمام تحریر فرمائی:

لاشك ان المسح علی الخف علی خلاف القیاس فلا یصلح الحاق غیره به، الا اذاکان بطریق الدلالة، وهو ان یکون فی معناه ومعناه الساتر لمحل الفرض الذی هو بعدد متابعة المشی فیه فی السفر وغیره. (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۱۰۹) ([2])

په دی کی هیڅ شك نسته چی د مسح علی الخفین مشروعیت خلاف قیاس سوی دی، لهذا په دی باندی بل شی قیاس کولی نسی، اولاً داچی هغه دلالة النص په طریقه د

([1]) (طبع ادارة القرآن کراچی)

([2]) فتح القدیر باب المسح علی الخفین ج: ۱ ص: ۱۳۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویته)

خفین په معنٰی کی داخل وی او د خفین معنٰی داسی موزی دی چی هغه پښی بالکل
پټی کړی وی او په هغه کی د سفر په دوران کی مسلسل تلل ممکن وی، لهذا فقهاوو
په جوربینو باندی د مسح د جواز چی کوم شرائط مقرر کړی دی، د هغوی داتعبیر
بالکل غلط او خلاف واقع دی چی په حدیث کی د مسح علی الجوربین اجازت مطلق
وو، او هغوی د خپل طرف څخه شرائط عائد کولو سره هغه مقید کی، بلکی واقعه داده
چی اصول په اعتبار سره د پښو مینځلو فریضه پریښوولو سره د مسح کولو حکم ترهغه
وخته پوری نسی ثابتیدی ترڅو چی په هغه متواتر احادیث موجود نه وی، په خفین کی
چونکی داسی احادیث موجود وه څکه هلته د مسح اجازت ورکول سو خو په جوربینو
باندی مسح څه د داسی حدیث څخه ثابته نه ده چی متفق علیه طور باندی صحیح وی
لهذا په دی باندی د مسح اجازت نسی ورکولی، اولاً داچی هغه جوربین د خفینو د
صفاتو حامل کیدو سره د خفینو په حکم کی په دلالة النص سره داخل سی او چونکی د
صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو څخه هم په داسی موزو باندی ثابت وه، څکه زیاتو
فقهاوو د دی اجازت ورکړی، او د خفین بنیادی صفات یی د مذکوره دری شرائطو سره
بیان کړل په دی باندی د ټولو ائمه او مجتهدینو اجماع منعقده سوه.

ترڅو چی د علامه ابن حزم رحمه الله یا علامه ابن تیمیه رحمه الله او علامه ابن قیم تعلق دی د
هغوی لوړ مقام په خپل ځای باندی دی، خو هغوی په ډیرو مسائلو کی د جمهور امت
څخه جلا لاره اختیار کړی ده، چی هغه امت په حیثیت مجموعی قبوله نه کړه بالخصوص
په دی مسئله کی، خو هغوی په خپل مسلک څه دلیل هم نه دی ورکړی لهذا د پوره امت
د فقهاوو، محدثینو او مجتهدینو په مقابله کی صرف د دی درو حضراتو په رایه باندی
عمل کولو سره د پښو مینځلو قرآنی حکم ترک کول یوسنګین جسارت دی او د دی
اجتهاد خو څه جواب نسته چی که (په پښه باندی کپړه هم تاؤ سی نو په هغه هم مسح
جائز ده، د ټول امت په ټولو فقهاوو او ټولو مجتهدینو او ټولو محدثینو په باره کی خو
دا الزام دی چی د هغوی د دی قول څه مأخذ نسته حالانکی د دی ناقابل انکار دلائل
تاسو وروسته کتلی دی، او بل طرف ته یې خپل اجتهاد دادی چی بلاوجه په پښه
باندی کپړه تاوولو سره په هغه باندی مسح کیدی سی، ایا د دی لا یعنی حرکت په
خاطر د پښو مینځلو قرآنی حکم د ترکولو څه مأخذ سته؟

تاسو چی د جناب مولانا مودودی صاحب کوم عبارت نقل کړی دی په هغه کی په څپلو
باندی هم د مسح کولو ذکر دی، څکه د هغه حقیقت هم په آخر کی مختصراً عرض دی:

جوران که پری وی نو په هغه باندی د مسح کولو بعضی فقهاء هم قائل دی، خو په څپلو
باندی مسح کول خو د هیڅ امام په مذهب کی جائز نه دی.

لم یذهب احد من الائمة الی جواز المسح علی النعلین (معارف السنن ج: ۱ ص: ۳۴۷) (۱)

په ائمه وو کی هیڅوک هم په څپلو باندی د مسح کولو قائل نه دی.

د دی وجه داده چی د حضور ﷺ څخه په څپلو باندی مسح کول په هغه وخت کی ثابت
دی، کله چی حضور ﷺ د مخکی څخه په اوداسه کی وو، خو د نوی لمانځه د پاره به
یې تازه اودس کوی، په داسی حالاتو کی به یې چونکی اودس د اول څخه وو، نوځکه
به حضور ﷺ د پښو مینځلو په ځای به یې په پښو باندی لاس راتیر کی، چنانچی په
صحیح ابن خزعه کی روایت دی:

عن علی انه دعا بکوز من ماء ثم توضأ وضوأ خفیفًا مسح علی نعلیه، شعر قال: هکذا
وضوء رسول الله ﷺ للطاهر مالم یحدث. (صحیح ابن حزیمه ج: ۱ ص: ۱۰۰ باب: ۵۴
حدیث: ۳۰۰) (۲)

حضرت علی رضی الله عنه د اوبو یوګیلاس را وغوښتی او ډیر مختصر اودس یې وکی او په
څپلو څپلو یې مسح وکړله، بیایی وفرمائیل د طهارت په حالت کی چی ترڅو یې اودس
نه وی مات، حضور ﷺ به داسی اوس کوی.

د دی وضاحت څخه وروسته په څپلو باندی مسح، ثابت کوونکی روایتونه د بی اودسه
سړی د پاره په څپلو باندی د مسح کولو د پاره څه ګنجایش باقی نه پاته کیږی، لهذا د
امت د ټولو مستندو فقهاوو او مجتهدینو په دی باندی اتفاق دی چی هغه نری موزی
چی د هغه څخه اوبه چهانړیږی یا هغه د څه شی تړلو څخه بغیر په پنډۍ باندی نه تړه
کیږی، یا په هغه کی یو یادوه میله تلل ممکن نه دی په هغه باندی مسح کول جائز نه
دی او نه په څپلو باندی مسح کول درست نه دی او چونکی زموږ په زمانه کی سوتی،
وړی او د نائلون موزی چی رائج دی هغه نری دی او په هغه کی مذکوره اوصاف نه
پیداکیږی څکه په هغه باندی مسح په هیڅ حال کی جائز نه ده او کوم سړی چی داسی
کوی، نو د امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام احمد رحمه الله
بلکی د هیڅ یومجتهد په مسلک کی به د هغه اودس درست نه دی.

(۱) (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) (طبع المکتب الاسلامی بیروت)

والله سبحانه وتعالی اعلم
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
(از ماهنامه البلاغ)
(جمادی الاولی ۱۳۹۷ هـ)

د نائلون په مروجه جرابو او سوتي جرابو باندی د مسح حکم

سوال: په موزو باندی مسح کول جائز دی، د ربړ د موزو څخه علاوه واټر پروف موزو وغیره او د نائلون جرابی، سوتی جرابی په دی باندی مسح جائز ده او که نه؟ په واضح طور باندی د صحیح ثبوت سره د حوالی سره تحریر وفرمایی.

جواب: د څرمنی یا د ربړ موزی که دومره پری وی چی محض د خپل پیړوالی یا د سختی د وجی یا د لاسټك ټړلو څخه بغیر پڅپله ولاړی وی نو په هغه باندی مسح صحیح ده، د نائیلون مروجه جرابی نری وی په هغه باندی مسح صحیح نه ده.

والله سبحانه اعلم
۲۵/ ۲/ ۱۳۹۱ هـ
(فتوی نمبر ۲۹۳/ ۲۲ الف)

سمون او تصحیح الموي القاري عبدالاحد الحقاني حفظه الله
اسلامي کمپیوترز ګرافکس کویټه بلوچستان فون نمبر
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

کتاب الصلوٰة

د لمانځه مسئلی

فصل في مواقيت الصلوٰة

د لمانځه د اوقاتو متعلق د مسائلو بیان

د دار العلوم کراچي د لمونځونو د وختونو په نقشه کي د صبح صادق په وخت باندی اعتراض او د هغه جواب

محترم واجب الاحترام مفتی تقی صاحب عثمانی زید مجد کم!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

بنده تقریبًا د یوی میاشتی څخه د دار العلوم د مفتیانو سره د صبح صادق او صبح کاذب په باره کی گفت او شنیدوکی چی د هغه څخه معلومه سوه چی هغوی ته د دی فن هیڅ علم نسته، د ړوند تقلید څخه علاوه.

جناب مولانا اشرف صاحب بیت المکرم والاسره دری واره په ټلیفون گفت او شنید وسو او هغوی ته می عرض وکی چی موږ ته وخت راکړی چی موږ دری کسان په دی باره کی په دلائلو سره خبری اتری وکړو، د مشاهداتو د پاره زه محمد اشرف جنوبی وزیرستانی د علم جدید د پاره احمد نفیس انجنیر صاحب د هیئت قدیم د پاره مفتی بلال صاحب خو هغه دی ته تیار نسو، په اٰخره کی په دریم وار هغه ووئیل: چی د اوقاتو نقشه عباسی صاحب مرتب کړی ده، غرض داچی د ړوند تقلید څخه علاوه نور څه دلائل په زیر افق اتلس درجه باندی په صبح صادق کیدو باندی نه وو.

په آخرکی یی دا ووئیل: چی تاسو د مفتی رفیع عثمانی صاحب او مفتی تقی عثمانی صاحب سره خبره وکړه!

جناب محترم! تاسو د واړو وړونو د نورو علماوو حضراتو سره اندازتًا دری واره مشاهدات سوی دی او تاسو په خپل قلم سره د زیر افق اتلس درجی صبح کاذب ثابت کړی دی بیاتاسو هم هغه صبح صادق ثابت کی؟ غرض داچی د مشاهداتو څخه هم او د حسابونو هم تاسو دواړه وړونه دافق د لاندی په اتلسو درجو باندی دَ صبح کاذب قائل سوی وی نو بیابی د مشاهداتو او د حسابونو څخه دافق د لاندی په پنځلس درجو د صبح صادق مخالفت مو ولی شروع کړی دی؟ جناب محترم ډیر په ادب سره درخواست دی چی بندگانو ته سمه لار د ښوولو په خاطر آئنده په پړه ټینگیدل او په پټو سترگو

تقلید کول پریږدی او د صحیح مسئلی د حل کولو مهربانی وفرمایی د پاره د دی چی دعوامو د سهار لمونځ د ضائع کیدو څخه بچ سی امید لرم چی د دار العلوم څخه شائع سوی د لمنځونو د وختونو نقشه د خپل لیکل سوی د اصول مطابق د شائع کولو هدایت به جاری وفرمایی.

یعنی د پیشلمی انتها د زړو نقشو مطابق د سهار اذان د مفتی رشید احمد دامت برکاتهم مرتب سوی د حساباتو مطابق، صبح صادق داقق د لاندی په پنځلس درجو د کیدو هدایت جاری وفرمایی. وفقکم الله تعالی.

بنده محمد اشرف عفا الله تعالی، جنوبی وزیرستان ۲۳/ شوال ۱۴۱۷ ھ.

(د ذکرسوی تحریر څخه وروسته د سوال کونکی د طرف څخه لاندینی د فتوی غوښتنه هم راغله)

محترم المقام واجب الاحترام مفتیان حضرات زید مجدکم. ومفتی تقی عثمانی صاحب دار العلوم کورنگی کراچی.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، د الله ﷻ ارشاد دی چی حق مه پټوی حق باطل سره مه یوځای کوی، دلته په کراچی ښآر کی د سهار او د انتهائی سهار (پیشلمی) او د افطار (د روژه مات) نقشی چاپ کیږی په دی نقشو کی یی د پیشلمی د وخت او د سهار د اذان په مینځ کی هیڅ فرق نه دی لیکلی د تعجب خبره ده چی د پیشلمی د انتها په وخت په لاؤډ سپیکرونو اذانونه کول هم شروع کړی او ورسره خلگ په انفرادی او اجتماعی طور باندی د سهار لمونځ اداکوی، لیکن ډیر داسی مفتیان او علماءِ کرام چاته چی معلومه ده چی په رائج سوو جنتریانو کی چی یی د صبح صادق کوم وخت لیکلی دی هغه د صبح کاذب وخت دی لیکن بیاهم هغوی د غلطو نقشو نشر واشاعت کوی، اوس بنده د خپلو پنځلسو کالو مشاهدی لیکی هغه داچی د اُفق د لاندی اتلس درجی د صبح کاذب وخت دی او د افق د لاندی پنځلس درجی د صبح صادق وخت دی د دی څخه علاوه زړی نقشی کومی چی په برصغیر پاك وهند کی چاپ کیږی په هغوکی د سهار او د ماخستن وخت غلط دی کومه نقشه چی صاحبِ احسن الفتاوٰی مفتی رشید احمد صاحب مرتب کړی ده هغه بالکل صحیح ده، په کراچی ښار کی چی څومره وختونه مدرسو والا یابل څوك چاپ کوی په دی کی د صبح صادق وخت غلط دی، د دار العلوم کراچی نقشه هم غلطه ده کوم د سهار وخت یی چی لیکلی دی هغه د صبح کاذب دی اوس د آئنده د پاره که چیری د کراچی د ښار مفتیانو او علماء د دی رائج

سوی جنتری د غلطی کیدو فتوی ورنه کړه او په خپله یی باندی عمل ونه کی نو د کومو خلګو لمونځونه چی ضائع سوی دی د هغه عذاب به په دی علماوو راځی، تاسو د کراچی ښار علماوو ته درد مندانه اپیل دی چی د دی مسئلی د حپل د پاره جد وجهد شروع کړئ او په دی باره کی عینی مشاهده وکړی د دی شکل دادی چی د کراچی ښار څخه د باندی ولاړسی پنځه ورځی په میاشت کی مشاهدی وسی نو داشان به په تاسو حضراتو باندی خپله غلطی د رونا ورځ په شان ښکاره سی، د مفتیانو کرامو پنځه رکنی کمیټی چی د نقشی مرتب کولو کوم دوه اصولو څخه مرتب فرمائیلی دی. ۱: پوره کال دِ عینی مشاهدی وسی د هغه څخه وروسته دِ نقشه مرتب سی. ۲: د حساباتو مطابق دِ نقشه مرتب سی لیکن د دی د پاره دِهم پوره کال مشاهدی وسی، د دار العلوم مرتب سوی نقشه د دواړو اصولو څخه خلاف ده، غرض داچی په پوره پاکستان کی شائع سوو نقشوکی د صبح صادق په ځای د صبح کاذب وخت لیکل سوی دی کله چی د صبح صادق او د صبح کاذب په مابینځ کی د دولسو څخه ترشلو منټو فرق دی، دوباره درخواست دی چی د کراچی علماء او مفتیان حضرات دِ د دی مسئلی د حل د پاره جد وجهد شروع کړی څه داخبره په پوره یقین سره کوم چی د دنیا یوسړی هم دافق د لاندی په اتلس درجو صبح صادق نه سی ثابتولی او نه به یی ثابت کړی که د چا دعوی وی نو هغه دی مشاهدی د پاره راسی. بنده محمد اشرف عفا الله عنه

رسول کونکی ته په جواب کی د ټنډو آدم د مشاهداتو په نتیجه کی مرتب سوی لاندی لیکلی تحریرهم لیږل سوی دی او ورسره حضرت والا دامت برکاتهم مستقل جواب هم تحریر وفرمائیلو کوم چی د دی تحریر څخه وروسته دروح دی. (از مرتب عفی عنه)

د مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم رساله د صبح صادق په دلائلو باندی غور وخوض کولو د پاره په ۱۳/ ذیقعده سنه ۱۳۹۲ هـ مجلس منعقد سو چی پکښی حضرت مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم حضرت مفتی رفیع عثمانی صاحب مدظلهم او حضرت مولانا تقی عثمانی صاحب مدظلهم شرکت وفرمائیلو په دی تحریر کی داټول حضرات متفق وه او په دی کی د ټولو حضراتو د ستخطونه هم ثبت وه او مفتی اعظم مفتی محمد شفیع صاحب که څه هم په دی مجلس کی موجود نه وو خو وروسته یی په دی تحریر اتفاق وکی او خپل تصدیقی دستخط یی ثبت کی دلته هغه تحریر بعینهٖ نقل کیږی الحمدلله وکفٰی وسلام علی عباده الذین اصطفٰی امابعد: نن په تاریخ ۱۳/ ذیقعده ۱۳۹۲ هـ د صبح صادق او د ماخستند وختونو په مسئله باندی غورکولو د

پاره مجلس منعقد سو چی پکښی داحضرات شامل وه: حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب حضرت مولانا عاشق الهی صاحب، حضرت مولانا مفتی رفیع عثمانی صاحب، احقر تقی عثمانی.

په دی مجلس کی د مولانا رشید احمد رساله د صبح صادق په دلائلو باندی غور لاندی راغلل د بحث او تمحیص څخه وروسته مندرجه ذیل خبری د ثبوت پای ته ورسیدلی.

۱: په مروجه جنتریانو کی د صبح صادق او عیشاء چی کوم وخت لیکلی دی هغه د هغه وخت دی چی کله نور دافق څخه اتلس درجی لاندی وی د دی تصریح د محکمه موسمیات نیول هیډ کوارټر په خطونو کی رساله صبح صادق ص: ۲۵ ج: ۲ او ص: ۲۷ کی موجود دی او ناټیکل المینیك چی ګرین وچ نه شائع کیږی د هغه څخه هم د دی تصدیق کیږی.

۲: اتلس ۱۸ درجی دافق لاندی د فلکیاتو جدید ماهرینو د تصریحاتو مطابق هغه وخت دی چی د مشرق طرف څخه سهار د دی څخه مخکی او مغرب طرف ته د شپی د دی څخه وروسته څه سپکه غوندی رونا هم په افق باندی نه وی آخری شپه کی کومه رونا چی د ټولو څخه اول ښکاره کیږی هغه ته استرانو میټر ټوائلایټ وایی.

۳: د هیئت د قدیم (پخوانو) کتابونو څخه او راجح او مشهور دامعلومیږی چی د اتلس درجی د افق لاندی د صبح کاذب وخت وی، نه چی د صبح صادق، په بعضی کتابونو کی د اووه لس درجو د افق لاندی او په بعضو کی بیا د نولس درجو دافق لاندی اقوال هم په صیغه د تمریض موجود دی، خو هغه مرجوح دی.

۴: د دی مسئلی د غور لاندی د راتلو څخه وروسته په متفرقو ایامو کی چی څومره مشاهدات وسول په هغه کی په هیڅ ورځ کی هم د مروجه جنتریانو مطابق صبح صادق ونه سو، بلکی د هغه څخه وروسته وسو، د دی ټولو امورو څخه ثابتیږی چی په مروجه جنتریانو کی چی د صبح صادق په نوم کوم وخت لیکل سوی دی هغه په حقیقت کی د صبح کاذب دی، او غالبا د روژی په باره کی د احتیاط پیش نظر به لیکل سوی وی.

اوس سوال داپاته کیږی چی بیا د صبح صادق صحیح وخت څه دی؟ د دی تعین په دوو طریقو سره ممکن وو، یو په مشاهداتو سره، او دوهم په حساباتو سره، ترڅو چی د مشاهداتو تعلق دی، د دی په بنیاد یوه جنتری هغه وخت جوړیدی سی کله چی په کلونو مکمل مشاهدات وسی او ظاه [illegible] دی کار مواقع میسر نه دی، او څه چی لږډیر مشاهدات وسول، د [illegible] قاتو تعین ممکن نه وو، دوهمه

طریقه د حساباتو وه حضرت مفتی رشید احمد صاحب مدظله څخه بعضی د هیئت کتابونو د تصریح مطابق د پنځلس درجو د افق لاندی د صبح صادق وخت ګرځولو سره په حسابونو باندی د هغه نقشه جوړه کړی ده، علامه شامی رحمه الله داتصریح کړی ده چی د صبح صادق او صبح کاذب ترمینځه دری درجی فرق دی او کله چی د ذکر سوی پورتنی دلائلو په مخ ثابت سول چی صبح کاذب د اتلس درجو دافق لاندی کیږی نو د علامه شامی رحمه الله د بیان څخه همدا نتیجه را وځی چی صبح صادق د پنځلس درجو د افق لاندی نه وی، په دی وجه باندی حضرت مفتی رشید احمد صاحب د صبح صادق کوم وختونه راباسلی دی د هغه مقابله د ټنډو آدم د مشاهداتو سره وسو نو زیات څخه زیات د درو منټو فرق را ووتی، خو د درو منټو فرق په صبح کاذب کی هم وو، ځکه په صبح کاذب او صبح صادق باندی څه اثر ونه لویدی، مفتی رشید احمد صاحب دولسم جون د هغه ځای د پاره دری منټه د لوړ خلور بجی د صبح کاذب (د اتلس درجو د افق لاندی) او شل منټه د لوړ خلور بجی صبح صادق د (پنځه لس درجو د افق لاندی) وخت لیکلی دی، خو مشاهدی سره صبح کاذب پوره خلور بجی او صبح صادق اووه لس منټه د لوړ خلور بجی په نظر راغلو، دادری منټه فرق د شبهی د مخی کیدی سی، خو په قول د حضرت مفتی صاحب مدظلهم د طول او عرض د نصف النهار پیش نظر دومره فرق کیدی سی ځکه د مفتی صاحب په رایه کی هم پنځه منټه احتیاط ضروری دی او وروسته بیا مفتی صاحب دوباره د احتیاط سره په دی تاریخ او د دی طول او عرض حساب یی را ویستی، نو معلومه سوه چی فرق صرف د یومنټ وو، او مخکی حساب کی څه غلطی سوی وه.

په هرتقدیر! د پورتنی ذکرسوی تحقیق څخه موږ ته داګمان غالب کیږی چی مولانا مفتی رشید احمد صاحب په حسابی طریقی سره اوقات راباسلی دی، د هغه مطابق نقشه جوړولوکی څه حرج نسته، خو معلومه سوی ده چی د بعضی نورو علماوو په دی اطمینان نه دی سوی، هغوی دا وایی چی صبح صادق د پنځلس درجو دافق څخه لاندی نه مخ کیږی، د دی څخه علاوه زموږ د ظن غالب بنیادهم په حسابونو باندی دی، نه داسی مسلسل مشاهداتو باندی چی د دائمی جنتریانو بنیاد جوړ سی، هرکله چی په شریعت کی اصل مدار په مشاهداتو باندی دی او په حسابی جنتریانو باندی به اعتماد په هغه وخت کی کیدی سی کله چی د مشاهداتو څخه یی متواتر تائید سوی وی، ځکه مناسب دامعلومیږی چی په نقشو کی د سهار د وخت د پاره دوی خانی جلا جلا ولیکل

سی چ د یو عنوان وی احتیاطی منتها سهار او د هغه لاندی د قدیم معمول مطابق د قدیم جنتریانو اوقات ولیکل سی، دوهم عنوان دی د سهار د اذان وخت او په هغه کی د مفتی رشید احمد صاحب راایستل سوی اوقات د صبح صادق ولیکل سی، د دواړو منځنی وخت کی دی نه پیشلمی وسی او نه دی لمونځ وسی.

(احقر محمد تقی عثمانی) خوپه دی سره اتفاق دی ۱۴/ ذی القعده ۱۳۹۲ ھ محمد عاشق الهی رشید احمد العبد محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه

(اګر چی زه په مجلس کی حاضر نه وم)

محمد شفیع عفا الله عنه

۱۴/ ذی القعده ۱۳۹۲ ھ

دار الافتاء دار العلوم کراچی

بنده عبد الرؤف سکهروی

۲۱/ شعبان ۱۴۱۷ ھ

پورتنی ذکر سوی تحریر څخه علاوه د حضرت دامت برکاتهم د سائل د استفتاء په جواب کی باقاعده فتوٰی هم ولیکله چی په لاندی ډول ده (له مرتب عفی عنه څخه)

جواب: محترم او مکرمه! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط راکول سو د صبح صادق په مسئی باندی حضرت والد صاحب او د حضرت بنوری صاحب رحمه الله قدس سره په زمانه کی په میاشتو تحقیق جاری وو چی په هغه کی مشاهدات هم وسول او حسابی تحقیق هم وسو تاسو چی د ټینډو ادم د کومی مشاهدی ذکر کړی دی هغه د متعددو مشاهداتو یوه مرحله وه څه حتمی مشاهده نه وه په هغه وخت کی ټولو ته داخبره واضحه وه، چی مطلع د غبار پټاټه کیدو په وجه د څه حتمی فیصلی بنیاد نسی جوړولی، د دی څخه وروسته هم متعدد مشاهدات وسول، کتابی تحقیق هم وسو، بالاخره حضرت والا صاحب او حضرت مولانا بنوری صاحب دواړو د حضرت مفتی رشید احمد صاحب د تحقیق څخه اختلاف او په هغه باندی د عدم اطمینان اعلان وکی، د دی وروسته هم د دی حضراتو په حکم سره پخلپه احقر یو مفصل تحریر د حضرت مفتی رشید احمد صاحب په خدمت کی عرض کی، چی په هغه کی د دی بزرګانو د فیصلی وجوهات بیان سوی وه، د حضرت مدظلهم د اړخه څه جواب هم موصول نسو، په هرصورت دامسئله د میاشتو د محنت او تحقیق او مشاهدی څخه وروسته کم ترکمه زموږ ترحمه پوری واضع سوه، افسوس دادی چی د

دی باوجود په هره موقع باندی د تېنډو آدم د دی ناتمامی مشاهدی په بنیاد باندی دی بزرګانو لره د مطعون کولو کوشش کیږی، او د دی حضراتو څخه وروسته د تحریرونو، مشاهداتو او د زبانی ګفتګو څه حواله نه ورکول کیږی.

به هرحال! که کوم صاحب ته د حضرت مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم په تحقیق باندی اعتماد دی نو بیشکه په هغه دی عمل وکړی خو د مذکوره بزرګانو موقف په ړوند تقلید باندی مبنی ګرځول، او د دی وفات سوی بزرګانو په باره کی د طعن ژبه اوږدول په هیڅ رنګ مناسب نه دی.

والسلام

۱۴۱۷/۱۱/۲۵ هـ

(فتوی نمبر ۲ / ۲۲۰)

د زوال انتهاء او په ابتداء په ظهر کي د فاصلي مقدار

سوال: په انتهاء د زوال او ابتداء د ظهر کی څومره فاصله وی؟

۲: د زوال مده څو منټه وی؟

جواب: ۲-۱: زوال يو آنی شی دی چی د يو منټ څخه په کم وخت کی هم پوره کیږی او د دی څخه وروسته د ماپښین وخت شروع کیږی، لهذا د لمر د زوال څخه وروسته فوراً د ماپښین وخت راځی په دواړو کی څه معتدبه فاصله نسته، البته د زوال د اطمینان د پاره پنځه منټه احتیاطی انتظار کول پکار دی:

وقد وقع عبارات الفقهاء ان الوقت المكروه هو عند انتصاف النهار الى ان تزول الشمس ولايخفى ان زوال الشمس انما هو عقيب انتصاف النهار بلافصل. شامی ج: ۱ ص: ۲۴۸. [1]

[1] رد المختار ج: ۱ ص: ۳۷۱ (طبع سعید) وفی فتح الملهم ج: ۵ ص: ۳۱۵ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی) عن عقبة بن عامر الجهنی يقول ثلث ساعات كان رسول الله ﷺ ينهانا ان نصلی فيهن او ان نقبر فيهن موتانا حين تطلع الشمس بازغةً حتٰی ترتفع وحين يقوم قائم الظهيرة حتی تميل الشمس وحين تضيف الشمس للغروب حتٰی تغرب. رواه مسلم، وفی فتح الملهم قوله: وحين يقوم قائم الظهيرة ..... الخ. هی شدة الحرفی نصف النهار، قال السندی: قال النووی: الظهيرة حال استواء الشمس ومعناه حين لايبقى للقائم فی الظهيرة ظل فی المشرق ولا فی المغرب وفی المجمع هو من قامت به دابته ووقفت يعنی ان الشمس اذا بلغت وسط السمآء ابطالت حركته الى ان يزول فيجب انها قد وقفت وهی سائرة لكن لايظهر اثره ظهوره قبل الزوال وبعده انتهٰی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۸/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۰/ ۲۸ الف)

په حنبلي مسلک د زوال څخه مخکي د جمعي وخت او په دی بناء باندی د حنفي مقتدی د پاره حکم

سوال: په کویت کی د لمانځه د اوقاتو د پاره يوه کتابچه چی د هغه نوم (نتيجة التقويم الهجری) دی، داکتابچه د حکومت د اړخه مفته ورکول کیږی، روزانه د اوقاتو په تغیر سره د لمانځه وختونه هم بدلیږی دوه کاله مخکی د جمعی مخکی اذان به په ابتداء د ظهر کی کیدی، او دوه رکعته د اداء کولو څخه وروسته به امام منبر ته تشریف وړی او د خطبی اذان به یی کوی، په دی مختصر وخت کی به موږ پاکستانیانو څلور رکعته لمونځ اداء کوی، خو د دوو کالو څخه حکم جاری دی چی د هغه په وجه د جمع مخکی اذان د ظهر څخه نیمه ګینټه مخکی کیږی او په ابتداء د ظهر باندی د خطبی اذان وئیل کیږی، ځکه خطیب دوه منټه مخکی تشریف راوړی او اذان هم په هغه وخت باندی کیږی په دی حالاتو کی څلور رکعاتو د جمعی د پاره څه حکم دی؟

جواب: هغه خلګ چی د حنبلی مسلك والا دی، د هغوی په مسلك کی د جمع لمونځ وخت د زوال څخه مخکی کیږی، به هرحال په دی کی حنفی مسلك والا حضراتو ته پکار دی چی هغوی خطیب صاحب دی خپل مشکل بیان کړی او هغه دی په دی اماده کړی چی د زوال څخه وروسته دوی ته د څلور رکعاتو وخت ورکوی امید دی چی هغه به داتول کړی او که بالفرض یی قبول نکړی نو سنت دی د جمعی څخه وروسته اداء کړی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۸/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۰/ ۲۸ الف)

د ظهر وخت

سوال: ایا د ماپښین لمونځ پنځه منته د لوړ په یوه باندی کول درست دی؟ او که نه؟ زموږ په فیکتری کی مستقل په همدی وخت د ماپښین لمونځ په جمعی سره اداء کیږی؟

جواب: د ماپښین لمونځ د لمر د زوال ځخه وروسته فوراً شروع کیږی او د لمر د زوال وخت د موسمونو په اختلاف سره بدلیږی رابدلیږی د اوقاتو مفصل نقشی چهاپ سوی دی او عام پداکیږی هغه خپل مخ ته کښیږده او فیصله وکړه، چونکی اکثره موسمونو کی د یوه بجی ځخه مخکی د ماپښین وخت شروع کیږی، لهٰذا ته په یوه بجه لمونځ کولی سی.

والسلام

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳/ ۱/ ۱۳۹۹ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۱۷/ ۳۰ الف)

په کینیډاکي د مازیګر او ماخستن وخت

سوال: دلته د امام شافعی رحمه الله د مسلم مطابق د لمنځونو د اوقاتو چارټ چهاپ سوی دی، تاسو د مازیګر وخت د حنفی مسلك مطابق متعین کی.

۲: دلته په کینیډاکی د غروب افتاب ځخه وروسته شفق احمر خو غائب کیږی خوشفق ابیض د شپی تریوولس بجو پوری یا د دی ځخه هم ترناوخته پوری وی یوولس بجو پوری انتظار کول ډیر مشکل دی او د ماخستن لمونځ اکثره پاته کیږی، نو دا انتظار ځکه هم مشکل دی چی سهار را ولاړیدل وی تاسو وفرمایاست چی د مغرب ځخه وروسته زر ترزره د ماخستن د لمانځه وخت کله شروع کیږي؟

جواب: د مازیګر د لمانځه وخت په حنفی مسلك کی په هغه وخت وی کله چی په مځکه باندی دهریو شي سوری داصلی سوری ځخه علاوه دوه چنده سی (۱) داوخت په مختلفو

(۱) وفی حامع الترمذی باب ماجاء فی تأخیر الظهر فی شدة الحر ج: ۱ ص: ۲۲، ۲۳ (طبع فاروقی کتب خانه) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: اذا اشتد الحر فأبردوا عن الصلوٰة فان شدة الحر من فیح جهنم، طریقه د استدلال داده چی د حجاز د ګرمی ابراد په مثل اول باندی نه دی وفیه

موسمونوکی اود مختلفو مقاماتو په لحاظ سره بدلیږی اوهلته ماهرینو ته په رجوع کولو سره معلومولی سی اوکه هلته مشکل وی نومولانارشید احمد صاحب اشرف المدارس ناظر اباد کراچی ته یې ولیکی دهغه ځخه پوره نقشه جوړه کړی هغوی ته په دی کی ښه مهارت دی احقرته مهارت نسته.

۲: په مسؤله صورت کی شفق احمر د غروب کیدو ځخه وروسته د ماخستن د لمانځه د اداء کولو ګنجائش سته عملاً بقول الصاحبین فی مواقع العذر.(۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۹۱۹۱۷هـ

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

(فتوی نمبر، ۱۲۵\۳۰و)

۱: په مازیګرکي داصفرار شمس پوری تأخیر
۲: دماخستن وخت

سوال: ۱ داحنافو په مسلك باندی دمازیګر په لمونځ کی تاخیر چی افضل دی او په دی افضلیت باندی دګهینټو په حساب سره د مازیګر اومابنام په مینځ کی څومره وخت پکاردی؟

ایضاح: ۱ ص: ۲۳ عن ابی ذر: ان رسول الله ﷺ کان فی سفر ومعه بلال فاراد ان یقیم فقال رسول الله ﷺ: ابرد فی الظهر، قال حتیٰ رأینا فیئی التلول ثم اقام فصلی، فقال رسول الله ﷺ: ان شدة الحر من فح جهنم فابردوا عن الصلوة، وفی الصحیح للامام البخاری ج: ۱ ص: ۷۶، ۷۷ (طبع قدیمی کتب خانه) حتی ساوی الظلل التلول، د استدلال طریقه داده چی د غونډو د سوی د هغه د مساوی کیدو حاصل دادی چی د عرب غونډی عموماً منبسط وی ځکه د هغه سوری ترناوخته پوری معلومیږی او د هغه سوری په هغه وخت کی یومثل وی هرکله چی د نورو شیانو سوری د یومثل ځخه هم کافی زائد سوی وی، د نورو احادیثو او د مستقل تفصیل د پاره وګورئ فتح الملهم ج: ۴ ص: ۲۹۷ الی ۳۰۶ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی) اودرس ترمذی ج: ۱ ص: ۳۹۵.

(۱) وفی اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۱ (طبع ادارة القرآن کراچی) وفی البحر الشفق هو البیاض عند الامام الی ان قال تثبت ان اقول الامام هو الاصح .:. ولایعدل عنه الی قولهما او قول احدهما او غیرهما الا لضرورة من ضعف دلیل از تعامل بخلافه کالمزارعة وان صرح المشائخ بأن الفتوٰی علی قولهما کمافی هذه المسئلة وفیٰ السراج الوهاج فقولهما اوسع للناس وقول ابی حنفة احوط (محمد زبیر حق نواز)

۲: د ماښام لمونځ څخه څومره وخت وروسته دماخستن وخت داخلیږی؟

جواب: د احنافو په نزد د مازیگر لمونځ داصفرار شمس یعنی د نور دزیړدو څخه مخکی پوری تاخیر کول افضل دی خوپه جمع کی داخیال ساتل ضروری دی چی د لمونځ ختمولو څخه وروسته د اصفرار څخه مخکی دونه وخت باقی وی چی که دلمونځ اعاده کول وی نوچی هغه هم د اصفرار څخه مخکی وسی داوخت د موسمونو اوښارونو په اختلاف سره بدلیږی ځکه دګهنتی اومنټ په حساب سره ددی څه مقدار په دائمی طور سره نسی مقرر کیدی (۱).

جواب ۲: کله چی شفق ابیض یعنی په مغربی افق باندی سپین والی غائب سی نو د ماخستن وخت داخلیږی (۲) د دی دارومدارهم د ښار په محل وقوع اوموسم باندی دی ځکه دګهنتی اومنټ په حساب سره د دی هم دائمی مقدرنه سی ښوول کیدی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴۰۱۱۱۰۱۲۲هـ

دسهار په لمانځه کي اِسفار افضل دی

سوال: دلته دکلی په علاقو کی خلګ دسهار په لمونځ کی ډیر ناوخته کوی اولمونځ کوی، مثلاً ۱۳ ذی الحجه ۱۳۹۲هـ جامع مسجد جیمس آبادکی دسهار لمونځ ۶:۱۵ (پاؤ باندی شپږ بجی وسو) هرکله چی د کراچی په نسبت طلوع اوغروب کی پنځه منټه

(۱) د مازدیگر د وخت متعلق دلائل په تیره سوی صفحه باندی وګورئ.

(۲) فی الهدایه ج: ۱ ص: ۸۲ (طبع مکتبه شرکت علیه ملتان) (مواقیت الصلوٰة) واول وقت عیشاء اذ اغاب الشفق وآخر وقتها مالم یطلع الفجر. وفی الشامیة ج: ۱ ص: ۳۶۱ تحت قوله والیه رج الامام الخ .... قال فی الاختیار الشفق البیاض وهومذهب الصدیق ومعاذ بن جبل وعائشة رضی الله تعالیٰ عنها وعنهم قلت رواه عبد الرزاق عن ابی هریرة وعن عمر بن عبد العزیز الی قوله قال العلامة قاسم فثبت ان قول الامام هو الاصح ومشی علیه فی البحر .... الخ، وفی الاعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۱ وفی البحر الشفق هو البیاض عند الامام الی ان قال فثبت ان قول الامام هو الاصح وبهذا ظهر انه لایفتی ولایعمل الابقول الامام الاعظم ولایعدل عنه الی قولهما او قول احدهما او غیرهما الا الضرورة من ضعف دلیل او تعامل بخلافه کالمزارعة وان صرح المشائخ بان الفتوی علی قولهما کما فی هذه المسئله وفی السراج الوهاج فقولهما اوسع لناس وقول ابی حنیفة أحوط. (محمد زبیر)

فرق دی برای کرم وضاحت وکړي.

جواب: دسهار د لمونځ د احنافو په نزد په اسفار یعنی په رڼاکی کول افضل دی البته لمونځ د لمر راختلو څخه دونه مخکی کول پکاردی چی که په څه وجه د لمونځ اعاده کول راسی نو د طوال مفصل د قرائت سره اعاده وسی اوبیاهم څه وخت پاته سی (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۲۱۸۱۱۲هـ

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

(فتوی نمبر ۲۷۱۲۷۸۰و)

د شرعي شپې تحقیق

سوال: شامی کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۸۸ کی دی چی النهار الشرعی د صبح صادق څخه ترغروب پوری ده، باقی شپه ده په خلاف د عرف النهار دلته شرعی شپه مراد ده او که عرفی؟

جواب: د غروب سره شرعی شپه شروع کیږی، لقوله تعالی: اَتِمُّوا الصِّیَامَ اِلَی الَّیْلِ (۲)، ولما فی رد المختار والمراد بالغروب زمان غیوبة جرم الشمس بحیث تظهر الظلمة فی جهت الشرق قال ﷺ: اذا اقبل اللیلا من هٰهُنا فقد افطر الصائم) ای اذا وجدت الظلمة حسا فی جهة المشرق فقد ظهر وخت الفطر او صار مفطراً فی الحکم، لان الیل لیس ظرفًا للصوم.

(۱) فی الکبیری شرح منیة المصلی ص: ۲۳۲ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) ویستحب فی صلوة الفجر اسفاربها بان تصلی فی وقت ظهور النورو انکشاف الظلمة والغلس بحیث یرمی الرامی موقع نبله عندنا خلاف الثلاثة لقوله علیه السلام اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر، رواه الترمذی، وفی المراقی فی (حاشیه الطحاوی) علی مراقی الفلاح، ج: ۱ ص: ۲۵۲ (طبع مکتبة علم الحدیث دمشق) یستحب الاسفار وهو التأخیر للاضاءة بالفجر بحیث لوظهر فسادها اعادها بقرائة مسنونة قبل طلوع الشمس لقوله علیه السلام: اسفرو بالفجر فانه اعظم للاجر وفیه ایضاً. ج: ۱ ص: ۲۵۴) والاسفار بالفجر مستحب سفراً وحضوراً وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۳۶۶ (طبع سعید) والمستحب للرجل الابتداء بالفجر باسفار والختم به هو المختار بحیث یرتل اربعین ایةً ثم یعیده بطهارة لوفسد ..... الخ. وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۸۲ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) (باب المواقیت) ویستحب الاسفار بالفجر لقوله علیه السلام: اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر.

(۲) سورة البقرة: ۱۸۷.

(شامي ج: ۲ ص: ۸۰ اول کتاب الصوم (۱))

والله اعلم

۲۳/ ۱/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۵۳/ ۲۸ الف)

په ماخستن کې د جلتې حکم

سوال: د ماخستن په اذان او لمانځه کی په اکثره جوماتونو کی دومره جلتی کوی چی د ماښام د اذان څخه د ماخستن ترجمعي پوري بوه نیمه گهینټه هم نه وی تیره نو آیا په داسی صورت کی اذان او جمع کیږی؟

جواب: په هرموسم کې د ماښام او ماخستن په مینځ کی فاصله جلا وی، د دی کار د پاره نقشی چهاپ سوي دي، حافظ فريد احمد صاحب وکتوریه روډ والا د لمونځو د وختونو د پاره کومه نقشه چهاپ کوی د هغه مطابق عمل وکړئ (۲).

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۰/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

په رمضان کې د ماخستن او صبح صادق وخت

سوال: په رمضان المبارك کی د ماخستن د لمانځه ابتدائی وخت (یعنی د اذان وخت) په څو بجې شروع کیږی؟ او د صبح صادق وخت ترکومه پوری وی؟

د دی مسئلی ضرورت ځکه پیښ سو چی په جوماتونو کی د لمانځه د وختونو دوی مختلفی نقشی زړیدلی دي، په هغه کی د صبح صادق په اوقاتو او د ماخستن په وخت کی ۲۰ - ۲۵ منټه فرق دی، او د نقشی لاندی دادرج دی چی په دی کی د صبح صادق د اوقاتو او د ماخستن تصحیح سوی ده، په هغه کی د حضرت مفتی محمد شفیع صاحب نوم هم دی، هرکله چی عمل عموماً د دی په خلاف دی، اوس موږ د کومی نقشی مطابق وی؟ د مفتی صاحب نوم چی په کومه نقشه کی دی په هغه کی پیشلمی

(۱) شامي ج: ۲ ص: ۳۷۱ (طبع ایچ ایم سعید) (مولوی نوراحمد حقانی).

(۲) بله صفحه کی د اولی حاشی سره یوځای وګورئ.

اختتام یومنټ کم پنځه بجی لیکلی دی او په دوهمه نقشه کی یی د پیشلمی وخت اتلس منټه کم پنځه بجی لیکلی دی.

جواب: حضرت مفتی محمد شفیع صاحب ته په شروع کی د فجر او د عشاء په اوقاتو کی څه تردد سوی وو خو په اخره کی د هغه فتوی هم داوه چی قدیمی نقشی صحیح دي، چنانچی په تیر رمضان کی چی هغوی کومه نقشه پخپله شائع کړله، هغه د پخوانیو نقشو مطابق وه اوس که ته گوری نو د دار العلوم نانك واړه څخه نقشه حاصله کړئ (۱)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۹/ ۱۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۴۳/ ۲۸ ج)

د پیشلمي وخت ختمیدو سره لمونځ کول

سوال: د سهار اذان که د پیشلمی د ختمیدو سره وسي نو جائز دی؟ او د پیشلمی وخت ختمیدو سره لمونځ کول صحیح دی؟

جواب: احتیاط په دی کی دی چی کله د موجوده نقشو مطابق د پیشلمی وخت ختم سی، نوفوراً دی د سهار لمونځ نه کوی بلکی لس پنځلس منټه انتظار دی وکړی او بیادی لمونځ وکړی چی صبح صادق بغیر د اختلاف څخه یقینی سی، بیاهم که چافوراً لمونځ وکی نو د هغه لمونځ به وسی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۹ هـ

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

(فتوی نمبر ۱۲۸۰/ ۳۰ و)

(۱) د تیری صفحی ۳ حاشیه او د دی صفحی ۱ حاشیه: اوس د لمانځه د اوقاتو نقشه خپله حضرت دامت برکاتهم او نورو اکابرو د دار العلوم د نگرانی لاندی تیاره سوی ده چی هغه مکتبه نعمانیه کراچی والا شائع کړیده د ضرورت په وخت کی هغه ته هم مراجعت کول مناسب دی (له مرتب څخه)

د صبح صادق پروخت باندی حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب رحمه الله سره د اختلاف تحقیق (عربي فتویٰ)

سوال: قال مولانا مفتی رشید احمد ادام الله حیاته فی احسن الفتاوی ان الجلد اول لاوقات الصلوٰة فی عامة المساجد لیست بصحیحة ونقل جهده وجهد علماء عصره بهذا الصدد وذکر اسمك بین هذه العلماء ونقل موافقتکم معه فی رأیه وذکر فی الاخر رجوعکم مِّن موافقة المذکورة وأسف علی هذا شدیداً وقال رجعوا بغیر دلیل والاستدلال وبغیر قیل وقال.

جواب: قد وقع تحقیق مسئلة وقت الصبح صادق فی زمن والدی الشیخ المفتی محمد شفیع والعلامة الشیخ البنوری رحمهما الله تعالی، وکانا فی اول الامر قد مالا رای شیخنا المفتی رشید احمد حفظه الله تعالی ولکن بعد المشاهدات المتوالیة ومراجعة کتب الفقه والحساب عدلاً عن رأیه.

لمشاهدات التی ذکرها شیخنا المفتی رشید احمد حفظه الله تعالی فهی، مشاهدة تندوم آدم، وکانت احدی المشاهدات مابین عدة مشاهدات وکان مطلع الشرق اذا ذاك مغبر او لم یکن احد یری أن هذه المشاهدة کافیة للوصول الی نتیجة حاسمة فلاینبغی التعویل علیها.

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۴۰۵/۵/۴ هـ

د مازیگر لمانځه د پاره څلور نیمي بجي وخت مقررول

سوال: د مشکوٰة شریف او ترمذی یوحدیث دی او د هغه امامت جبرائیل والا حدیث کی د زوال څخه فوراً وروسته د ماپښین لمونځ د اداء کولو ذکر دی او د مازیگر لمونځ کله چی سایه یو مثل سو نو د هغه څخه وروسته د مازیگر لمونځ د اداء کولو ذکر موجود دی، د دی صحیح احادیثو څخه ثابت دی چی نبی کریم ﷺ د مازیگر لمونځ د سوری یومثل کیدو څخه وروسته اداء کړی دی، د دی حدیث په رڼا کی ورسره موږ ټول خلگ کاروباریان یو، او غرض دادی که موږ ټول په جمع سره لمونځ اداء سو، په دی وجه موږ مناسب دا وګڼل چی څلور نیمی بجی د مازیگر لمونځ وسی، داوخت موږ د مازیگر

جمع د پاره مقرر کړی دی، زموږ داوخت مقرر کول په حدودو د جواز کی داخل دی او که نه؟

جواب: د رسول الله ﷺ په زمانه کی چونکه گهړیانی نه وی ځکه د اوقاتو تعین په جنتریانو یاگهړیانو سره نه وو، بلکی د اوقاتو مختلف علامتونه مقرر وو، د هغه علامتونو بیان په مختلفو احادیثو کی راغلی دی، او په دی باره کی یو دوه نه، بلکی ډیر احادیث مروی دی، امام ابوحنیفه رحمه الله هغه ټول احادیث مخ ته ایښوولو سره دانتیجه راایستلی ده، چی د مازیگر وخت به هغه وخت شروع کیږی چی د هرڅیز سوری دوه چنده سی (۱) داوخت د موسمونو او مقاماتو په لحاظ سره بدلیږی رابدلیږی، په کراچی کی د مازیگر وخت کم ترکمه اته منټه څلور بجو باندی (۱۵ جولائی ته) کیږی، نن یعنی (۱۴ مارچ ته) د مازیگر وخت دوه منټه بالا پنځه بجی باندی کیږی، د دی څخه مخکی د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد لمونځ کول صحیح نه دی، لهذا تاسو چی نن صبا څلور نیمی بجی وخت مقرر کړی دی هغه د حنفی مسلك په لحاظ سره درست نه دی.

تاسوته پکار دی چی د لمانځه د اوقاتو چی کومی طبع سوی نسخی پیداکیږی هغه د ځان سره وساتی او په هغه کی روزانه د مازیگر وخت سره د هغه په مطابق د جمعی وخت مقرر کړئ.

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۳۹۱/۲/۴ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۸۷/ ۲۹ الف)

❁ ❁ ❁

(۱) وفی الدر المختار کتاب الصلوٰة ج: ۱ ص: ۳۵۹ وروسته ۳۶۰ ووقت الظهر من زواله أی میل زکاء عن کبد السماء الی بلوغ الظلل مثلیه، وفیه بعد أسطر ص: ۳۶۰ ووقت العصر منه الی قبیل الغروب وفی الشامیة تحته (قوله منه) ای من بلوغ الظل مثلیه .... الخ.

فصل في الاذان

د اذان سره د متعلق مسائلو بیان

په اذان کي د تجوید د غلطي حکم

سوال: یوسړی په اذان کولو کی ډیری غلطیانی کوی، د قرآنکریم په تلاوت کی ډیری غلطیانی کوی، خای په ځای لحن جلی کوی په حی علی الصلوٰة کی د حأ په ځای هاء وایی، داسی سړی د دی منصب قابل دی او که نه؟ او د فتاوئ رشیدیه مسئله په دی باره کی صحیح ده او که نه؟

جواب: د موذن مقررولو په وخت کی د دی خبری پوره لحاظ ساتل پکار دی چی موذن صحیح ویونکی او هیڅ قسم لحن نه کوی، بیا که هغه داسی غلطی وکړله چی معنی خرابوی نو اذان نه کیږی، حیی علی الصلوه، په هی علی الصلوٰة، وئیلو سره معنی نه خرابیږی خو د دی غلطی د اصلاح ځخه بغیر د موذن تقرر کول نه دی پکار، خو که تقرر سوی وی نو اذان به وسی د فتاوئ رشیدیه (۱) مسئله بالکل صحیح ده.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۹/ ۱۱/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوئ نمبر ۱۴۰۹/ ۱۸ الف)

د اذان ځخه مخکي د درود او سلام ویل

سوال: څه فرمائی علمائی دین چی د اذان ځخه مخکی په لوړ اواز سره درود او سلام ویل جائز دی او که نه؟ برائی کرم تفصیل سره راته وښایاست؟

جواب: د اذان ځخه مخکی درود او سلام‌ویل په لوړ آواز سره د هیڅ حدیث یا د صحابه کرامو ﷺ د هیڅ عمل ځخه ثابت نه دی، لهذا دا د ډیرثواب موجب ګڼل او کول یا د

(۱) فتاوئ رشیدیه ص ۲۵۹. (اداره اسلامیات طبع محرم ۱۴۰۸ هـ) (حاشیه ۲ په بله صفحه کی وګورئ).

دی پابندی کول بدعت دی، (۱) بلکی دا د اذان په کلماتو کی د خپل طرف ځخه د څه کلماتو اضافه کول دی چی په اتفاق د امت سره ناجائز دی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۲/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوئ نمبر ۳۰۴/ ۱۹ الف)

د جمعي دوهم اذان چیری باید وسي

سوال: د جمعی دوهم اذان د منبر او خطیب مخ ته وکړی او که یی په جومات کی وکړی؟

جواب: د جُمعی دوهم اذان د خطیب مخ ته کول مسنون دی، فی الدر المختار: ویوذن ثانیاً بین یدیه ای الخطیب، وقال تحته ای علی سبیل السنیة کما یظهر من کلامهم، رملی. (شامی ج: ۱ ص: ۷۷۰) (۲). والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

(۱) وفی الابداع فی مضار الابتداع ص: ۷۷، ۷۸ (طبع مکتبه علمیة مدینة المنورة) لاکلام فی ان الصلوٰة والسلام علی نبی ﷺ عقب الاذان مطلوبان شرعا لورود الاحادیث صحیحة ..... انما الخلاف فی الجهر بهما علی الکیفیة المعروفة، والصواب انها بدعة مذمومة بهذا لکیفیة التی جرت بها عادة المؤذنین من دفع الصوت بهما کالاذان والتمطیط والتغنی فان ذالك احداث شعار دینی علی خلاف ماعاهد عن رسول الله ﷺ واصحابه والسلف الصالح من ائمة المسلمین ولیس لاحد بعدهم ذالك، وفیه بعد اسطر ومن ثم قال العلامة ابن حجر فی فتاویة الکبریٰ من صلی علی النبی ﷺ قبل الاذان او قال محمد رسول الله بعده معتقداً سنیة فی ذالك الحل ینهٰی ویمنع منه لان تشریح بغیر دلیل ومن شرع بغیر دلیل یزجر ویمنع، د تفصیل د پاره کتاب السنة والبدعة کی ص ۱۱۱ فتوئ او د هغی دوهمه حاشیه وګورئ.

(۲) فتاوئ شامیه ج: ۲ ص: ۱۲۱ (طبع ایچ ایم سعید) وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۷۱ (مکتبة شرکت علمیه ملتان)

واذا صعد الامام النسبر جلس واذن الموذنون بین یدی المنبر بذالك جری التوارث الخ.

وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۴۹ (مکته رشیدیه کویته) واذا جلس علی المنبر اذن بین یدیه واقیم تمام الخطبة بذالك جری التوارث کذا فی البحر الرائق، وفی غنیة المتملی ص: ۵۲۱ (طبع سهیل اکیدمی لاهور) واذا جلس الامام علی المنبر اذن الموذن بین یدیده الاذان الثانی للتوارث.

(وفی طبع مکة علی الصفحة: ۳۳۱).

۴/ ۱۱/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۱۳۵۲/ ۱۸ الف)

د سياسي مقاصدو د پاره د اذان کولو حکم

سوال: نن صبا په جوماتونو کی د پنځه وخته اذانونو څخه علاوه کوم اذانونه چی د شپی کیږی شرعی طور باندی د دی څه حکم دی؟

جواب: د قرآن او سنت او د فقهای کرامو د تصریحاتو څخه د اذان څخه وروسته چی کوم مواقع ثابت دی نن صبا د پنځه وختونو څخه علاوه ورکوونکی اذانونه په هغه کی په يو کی هم داخل نه دی [1] البته که په مسلمانانو کوم عام مصیبت راغلی وی نو د هغه د ازالی د پاره د سهار په لمانځه کی قنوت نازله ثابت دی [2] او په داسی مواقعو کی د دی اهتمام کول پکار دی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۹/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۵۲۲/ ۲۸)

فصل في شروط الصلوٰة واركانها وواجباتها وسننها وادابها

د لمانځه شرطونه، فرائض، ارکان، واجبات، سنن او ادابو بيان

د قبلي د سمت مطلب

سوال: د لمونځ کولو په وخت کی د کعبی تعین د مغرب په سمت کی کول کیږی، هرکله چی دا ضروری نه ده چی د دنیا د هری حصی د پاره دا اصول درست وی، که دا اصول خاص د دی د پاره وضع سوی وه چی ټول مسلمانان یوسمت ته سجده وکړی نو

[1] د لمانځه څخه علاوه د نورو مواقعو د اذان د تفصیل د پاره وګورئ: فتاوىٰ شامیه مطلب فی المواضع التی يندب لها الاذان فی غير الصلوٰة. ج: ۱ ص: ۳۸۵ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۱۱، وان نزل بالمسلمين نازلة قنت الامام فی صلوٰة الجهر .... قنت، فی صلوٰة الفجر الخ، د تفصیل د پاره فتاوىٰ شامیه (مطلب فی القنوت للنازلة ج: ۲ ص: ۱۱۱ وګورئ).

په لمانځه کی دا وئیل ترکومه درست دی چی زما رُخ کعبی شریفی ته دی؟ هرکله چی موږ ته یقین دی چی زموږ مخ مغرب طرفته دی؟

جواب: غالبًا ته په دی پوهیږی چی د ټولی دنیا مسلمانان خواه چی هغوی هرچیری آباد وی د لمانځه په وخت کی مغرب ته مخ کوی، حالانکی واقعه داسی نه ده اصل کی موږ په لمانځه کی کعبی شریفی ته د رُخ کولو حکم راکول سوی دی د هندوستان اوپاکستان وغیره په لحاظ سره چونکی کعبه د مغرب سمت ته ده ځکه د دی ځای اوسیدونکی مغرب ته رُخ کوی، خو چی کوم خلګ مغربی ملکونو کی مثلاً یورپ، امریکا وغیره وسیږی هغوی د لمانځه په وخت کی د مغرب په ځای مشرق طرف ته مخ کوی، د مدینی طیبی اوسیدونکی جنوب طرف ته رخ کوی او د جنوبی افریقی خلګ شمال طرف ته، خلاصه داسوه چی اصل جهت د کعبی طرف ته مخ کول دی، هغه چی د کومی خطی په لحاظ سره په کوم سمت کی هم وی هم د هغه ځای رُخ دی وسی.

والله اعلم

۲۰/ ربيع الاول / ۱۳۸۷ هـ [1]

د احرام په حالت کي په چاء نماز باندی د سجدی حکم

سوال: د خلګو خیال دی چی د احرام په حالت کی پوره او مخ په چاء نماز لګول نه دی پکار بلکی خپل دواړه لاسونه یوځای کولو سره په هغه سجده لګول پکار دی داترکومه صحیح دی؟

جواب: د احرام په حالت کی په چاء نماز باندی سجده لګول جائز دی، دواړه لاسونه یوځای کول او په هغه باندی سجده لګول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۷/ ۱۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۷۷۷/ ۲۷ و)

[1] دافتوىٰ د مجله البلاغ شماره ربيع الثانی ۱۳۸۷ څخه اخستل سوی ده. (مرتب)

په ټرين کي فرض لمونځ په ناسته باندی کول

سوال: د سفر په دوران کی د مازیگر د لمانځه د پاره د خانیول سټیشن تجویز سو چی هلته گاډی تقریبا شل منټه ودریږی خو گاډی تأخیر سره روان وو، ځکه په دی شش وپنج کی وم چی هلته رسیدو سره د مازیگر وخت تنگ نه سی، یا تر هغه وخته پوری اودس مات نه سی ځکه می گاډی کی په ناسته لمونځ وکی، خوچی کله گاډی خانیوال ته ورسیدی نو د مازیگر ښه ډیر وخت وو، ما په گاډی کی په ناسته باندی لمونځ کړی وو او خانیوال ته رسیدوسره ما هغه لمونځ را ونه گرځوی ایا زما لمونځ صحیح دی او که قضاء به لازم وی؟

جواب: فرض لمونځ بغیر د سخت ضرورت څخه په ناسته باندی کول جائز نه دی[1]، لهذا په ریل گاډی کی په ناسته باندی د لمونځ کولو د وجی اوس د هغه لمونځ راگرځول لازم دی.[2]

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۸/ ۱۰/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۳۴۰/ ۲۷ هـ)

په سجده کي د تندی سره د پوزی ایښوولو متعلق د بهشتي زیور او احسن الفتاوی کي د تعارض تحقیق

سوال: په سجده کی بهشتی زیور شبیری، مکمل مدلل کی صفحه نمبر ۹۸ باندی تحقیقی عنوان سره دی چی د تندی سره پوزه په مځکه باندی ایښوول واجب نه دی صرف وضع جبهه علی الارض سره لمونځ صحیح کیږی.

حضرت مفتی رشید احمد صاحب دامت برکاتهم په خپلی احسن الفتاوی کی پوزه ایښوول واجب لیکلی دی او که پوزه کښی ښوول سی نو لمونځ واجب الاعاده فرمایی

[1] وفی الدر المختارج: ۱ ص: ۱۴۲ وص: ۴۴۴ (طبع سعید) من فرائضها ...... ومنها القیام فی فرض القادر علیه، وفی الشامیة تحته، قوله (لقادر علیه) فلوعجزعنه حقیقة وهو طاهر او حکمًا کما لوحصل له به الن شید او خاف زیادة المرض وکذنمسائل الاتیة. الخ.

[2] د تفصیل د پاره وگورئ امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۹۳ ص: ۳۹۴ او د هغی حاشیه.

تاسو حضرت مو د خپلی رایی خبر کړئ او دلائل هم ورسره تحریر وفرمایاست. والسلام

حضرت مولانا حکیم محمد اختر صاحب (مدظلهم)

جواب: په اصل کی په دی مسئله کی بهشتی زیور او احسن الفتاوی کی د اختلاف وجه داده چی په دی مسئلی کی د فقه د کتابونو په مینځ کی لږغوندی اختلاف پیداکیږی عام طورسره د فقهی په کتابونو کی هم هغه مسئله درج ده کومه چی د بهشتی زیور څخه منقول ده، چنانچی بدائع، تحفه، او الاختیار کی اقتصار علی الجبهه یی بلاکرهته جائز گرځولی ده. (کمافی البحر جلد: ۱ ص: ۳۳۶) [1] او اکثره د فقهی په کتابونو کی یی دی ته مطلق مکروه لیکلی دی. چنانچی په عالمگیری کی دی: وان کان من غیر عذر فان وضع جبهته دون انفه جاز اجماعًا ویکره .... الخ. (ج: ۱ ص: ۷۰) [2]

بیا بعضو فقهاوو داپه مکروه تنزیهی باندی حمل کړی ده، چنانچی علامه شامی رحمه الله د صاحب نهر قول نقل کړی دی: لوحملت الکراهة فی رأی من اثبتها علی التنزیهیة ومن نفاها علی التحریمیة لارتفع التنافی، وعبارته فی السراج المستحب ان یضع هما. (منحة الخالق ج: ۱ ص: ۳۳۶) [3]

او صاحب د بحر کراهت تحریمی ته ترجیح ورکړی ده او لیکلی یی دی:

وکره ای الاقتصار علی احدهما سواء کان الجبهة او الانف وهی عند الاطلاق منصرفة الی کراهة التحریم، وهکذا فی المفید والمزید فالقول بعدم الکراهة ضعیف. (ج: ۱ ص: ۳۳۶) [4].

او علامه شامی په همدی بنیاد باندی د صاحب حلیه داقول نقل کړی دی چی د کراهت تحریم مقابل چونکي واجب وی ځکه وضع الانف واجب سوه چنانچی فرمائی: فالاشبه وجوب وضعهما معًا وکراهة ترك وضع کلٍّ تحریمًا، واذاکان الدلیل ناهضًا به فلابأس بالقول به انتهی (شامی ج: ۱ ص: ۳۳۵) [5]

[1] البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۱۸ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] عالمگیریه (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

[3] منحة الخالق علی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۱۸ (طبع سعید)

[4] البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۱۸ (طبع ایچ ایم سعید).

[5] فتاوی شامیه ج: ۱ ص: ۴۹۹ (طبع ایچ ایم سعید)

د همدی عبارت په بنیاد باندی مفتی رشید احمد صاحب په احسن الفتاویٰ کی د وجوب په قول باندی اعتماد کړی دی ([1])، خو پخپله علامه شامی رحمه الله د بحر الرائق په حاشیه باندی چی کوم بحث کړی دی د هغه څخه د هغوی رجحان د عدم وجوب طرف ته معلومیږی هلته د هغوی پوره عبارت دادی:

قال فی النهر: لوحملت الکراهة فی رأی من اثبتها علی التنزیهیة ومن نفاها علی التحریمیة لارتفع التنافی وعبارته فی السراج: المستحب انِ یضعهما (انتهیٰ) لکن قال الشیخ اسماعیل: وفی غرر الاذکار ان الاقتصار علی الجبهة یجوز بلاکراهت وان لم یکن علی الانف عذرا اتفاقًا وکذالك فی مجموع المسایل وانه به یفتی، وفی الاختیار: وان اقتصر علی الجبهة جاز بالاجماع ولاسارة بعد أن قال: فان اقتصر علی الانف جاز وقد أساء وقالا: لایجوز الامن عذر، انتهیٰ کلامه فالیتأمل، ویبعد ماقاله فی النهر قول المتن وکره علی احدهما فانه لایصح حمله علی التنزیهیة نظرا الی ترك السجود علی الجبهة لکن سیأتی حمل الکراهة علی طلب الکف طلبًا غیر جازم. (منحة الخالق ج: ۱ ص: ۳۳۲) ([2])

د دی عبارت په اخری جمله کی علامه شامی هغه بنیاد منهدم کړی دی چی د هغه په وجه یی سجود علی الانف ته واجب وئیل سوی وو، او داچی د مطلق کراهت، اطلاق په کراهت تحریمی باندی کیږی چی د هغه مقابل واجب دی منحة الخالق کی د دوی د قول حاصل دادی چی د کراهت اطلاق په طلب الکف طلباء غیر جازم باندی هم کیږی چی کراهت تنزیهی ته هم شامل دی.

د علامه شامی رحمه الله د دی رایی څخه د بهشتی زیور تائید کیږی او داځکه هم راجح معلومیږی چی اول خو په دی سره د فقهاوو مختلفو اقوالو کی تطبیق کیږی دوهم منحة الخالق د ردالمختار څخه وروسته لیکل سوی دی، لهذا دا د هغوی أخری مسلك دی، بیاهم په دی کی شبه نسته چی د ردالمختار څخه کوم وجوب ذهن ته راځی په هغه باندی عمل زیات قرین احتیاط دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

---

[1] احسن الفتاویٰ ج: ۳ ص: ۲۱.

[2] منحة الخالق علی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۱۸ (طبع ایچ ایم سعید)

۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۱۱۷۳ ج)

د امام د تکبیر په وخت کي ناست اوسیدل د (حی علی الفلاح) په وخت کي دریدل

سوال: کله چی تکبیر شروع وی نو امام صاحب ناست وی او په (حی علی الفلاح) باندی ودریږی داصحیح دی او که نه؟

جواب: صحیح طریقه داده چی د تکبیر په ابتداء کی ټول مقتدیان دریږی او صف درست کړی، او په بعضو مقاماتو کی چی رواج سوی دی چی امام او مقتدی د دباندی ړاتلو سره د ناستی اهتمام کوی (د حی علی الفلاح) څخه مخکی دا دریدل بد ګنی، دا طرز عمل صحیح نه دی، فقهاوو چی څه لیکلی دی چی په (حی علی الفلاح) باندی دریدل پکار دی، د هغه مطلب دادی چی د (حی علی الفلاح) څخه وروسته دی څوك ناست نه وی دامطلب نه دی چی مخکی دریدل ناجائز دی د دی مسئلی پوره تفصیل جواهر الفقه ([1]) مولفه حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله کی موجود دی د تفصیل د پاره هغه طرف ته رجوع وکړئ.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفیٰ عنه

۲۵/ ۱۰/ ۱۳۹۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۷/۲۴۴۸ هـ)

د تکبیر په دوران کي لمونځ کوونکی کله ودریږی؟

سوال: یومولوی صاحب وسیع طبع سوی چارټ لګولی دی چی په هغه کی اقوال نبوی صلی الله علیه وسلم، اقوال صحابه کرام رضی الله عنهم او د دین د بزرګانو د مسلك څخه دا ثابت سوی دی چی ذ تکبیر اولی په وخت کی ناسته مستحب ده او په شروع کی دریدل مکروه دی نو آیا داصحیح دی او که نه؟

جواب: په حقیقت کی مسئله داده چی د مقتدیانو د دریدلو د تکبیر کوم لفظ سره څه تعلق نسته، بلکی کوم وخت چی مقتدیان امام په راتګ باندی وګوری د هغه وخت

---

[1] ج: ۱ ص: ۳۰۹ تر ۳۲۴ پوری.

ښځه واخله د مکبر د حی علی الفلاح ویلو پورې په څه وخت کی هم دریدی سی، هو د دی ښځه وروسته دریدل مکروه دی داوئیل صحیح نه دی چې د حی علی الفلاح ښځه مخکی دریدل مکروه دی، کوم خلګ چې د دی ښځه مخکی ودریږی هغوی د څه مکروه عمل ارتکاب نه کوی د مسند عبد الرزاق په یوحدیث کی دی چې:

عن ابن جریج عن ابن شهاب ان الناس کانوا ساعة یقول المؤذن الله اکبر یقومون الی الصلوٰة فلا یأتی النبی ﷺ مقامه حتٰی تعتدل الصفوف (فتح الباری) ([1]) او په فتاوٰی عالمګیری کی دی: فاما اذاکان الامام خارج المسجد فان دخل المسجد من قبل الصفوف فکلما جاوز صفا قام ذالك الصف والیه مال الشمس الائمة الحلوانی والسرخسی والشیخ الاسلام خوا هرزاده وان کان الامام دخل المسجد من قدامهم یقومون کما رأوا الامام. (عالمګیری ج: ۱ ص: ۴۴) ([2])

او په کومو کتابونو کی چې دالیکلی دی چې د حی علی الفلاح وئیلو سره ټول ودریږی د هغوی مقصد دادی چې حی علی الفلاح وئیلو باندی دی کوم سړی ناست نه وی، دامطلب نه دی چې د دی ښځه مخکی دریدل مکروه دی. ([3])

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۳/۴/۱۳۹۱ هـ

(فتوٰی نمبر ۵۴۷/ ۲۲ الف)

د تکبیر په دوران کي دی مقتدی کله ودریږی؟

سوال: د تکبیر په وخت کی مقتدیانوته (حی علی الفلاح) پورې ناسته ده او که د اول تکبیر ښځه دریدل پکار دی که مخکی امام ناست وی، او مقتدیان هم کافی تعداد کی یا یودوه کسان ولاړوی نو دوی په زبردستی سره کښېنول جائز دی او که نه؟

([1]) فتح الباری کتاب الاذان باب متی یقوم الناس اذا رأو الامام عند الاقامة ج: ۲ ص: ۱۲۰ (طبع دا الشرکت الاسلامیة لاهور)

([2]) فتاوٰی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۵۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

([3]) د تفصیل د پاره جواهر الفقه ج: ۱ ص: ۳۰۹ - ۳۲۴ پورې وګورئ

جواب: د اول تکبیر سره دریدل بهتر دی، کوم سړی چې (حی علی الفلاح) پورې هم ودریږی نو ټیک ده، خو د دی ښځه مخکی دریدل بدګڼل او اهتمام کولو سره خلګ کښېنول جائز نه دی. ([1]) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۷/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوٰی نمبر ۷۷/ ۱۹ الف)

د لمانځه د پاره څه قسم لباس اغوستل ضروری دی او صرف ټوپي اچولو سره د لمونځ ورکولو حکم

سوال: لباس مسنونه کوم یونباس کیدی سی؟ آیا په لمانځه کی د امام او مقتدی یوشان لباس کیدل پکار دی؟ ځکه چې دواړه لمونځ ګذار دی یابیل بیل وی، چې بعضی خلګ دامام د پاره عمامه (لنګوټه) ضروري تصور کوی او وایی چې دامسنون ده نو بیا خو د امام او مقتدی دواړو د پاره پکار دی او صرف ټوپی اچولو سره لمونځ ورکولو باندی خلګ اعتراض کوی. مولانا احتشام الحق صاحب ټوپی اچولو سره لمونځ ورکوی د دی شرعی حیثیت څه دی؟

جواب: د لمونځ صحیح کیدلو د پاره د څه خاص وضع لباس شرط نه دی بلکی په هرهغه لباس کی لمونځ کیږی چې په هغه سره سترعورت پوره کیږی البته کومه پاجامه چې د ګیډی ښخه لاندی زریږی یا داسی لباس وی چې په هغه کی د غیر مسلم سره مشابهت وی نو په هغه سره لمونځ کول مکروه دی ([2])، فاسدیږی بیاهم نه، او عمامه نه دامام د پاره شرط ده او نه د مقتدی د پاره د کپړې ټولی وی او که د څرمنی یا د بل څه شي، د هرقسم ټولی سره لمونځ بلاکراهت جائز دی، کوم خلګ چې په عمامی سره د امامت د پاره شرط ګرځوی هغه په غلطی باندی دی، البته حضور ﷺ به په کثرت سره عمامه په سرکوله، ځکه د حضور ﷺ په اتباع کی عمامه تړل او په عمامی سره لمونځ

([1]) د تفصیل د پاره سابقه فتوٰی او جواهر الفقه ج: ۱ ص: ۳۰۹-۳۲۴ پورې وګورئ

([2]) وفی المشکوٰة ج: ۱ ص: ۷۵ قال ﷺ: ان الله لایقبل الصلوٰة رجل مسبل ازاره رواه الترمذی (فی ج: ۱ ص: ۸۷) وقال الطحاوی علی المراقی (فی المکروهات) ص: ۱۸۹ وکذا ماهو عادة اهل التکبر

ورکول افضل او زیات موجب د ثواب وی، خو د دی ځخه بغیر هم لمونځ بلا کرهته صحیح کیږی (۱).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ رمضان المبارك / ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۹۰۵/ ۲۸ ج)

یوطرف ته سلام نه ګرځولو سره به لمونځ صحیح وی او که نه؟

سوال: امام په اخری قعده کی په کښی نستو سره رَسته طرف ته سلام ګرځولو ځخه وروسته یومقتدی الله اکبر وئیلو سره امام ته فتحه ورکړه د فتحی په اوریدلو سره امام او تر چپه طرف ته د سلام اړولو ځخه وروسته په دریدو سره یی پوښتنه وکړه چی لمونځ پوره نسو؟ اکثره مقتدیانو ووئیل چی لمونځ پوره سو، فتحه ورکوونکی غلطی وکړه آیا چپه طرف ته سلام نه ګرځولو سره به لمونځ تمام سی یا اعاده ضروری ده؟

جواب: د لمانځه په اختتام باندی دواړو طرفونو ته سلام ګرځول د اصح قول په بناء باندی واجب دی (که ځه هم بعضی فقهاوو دوهم سلام ته سنت هم وئیلی دی) لهذا په مسئوله صورت کی د ترك واجب ارتکاب وکی چی د هغه حکم دادی چی د لمانځه فرضیت خو ساقط سو خو په وخت کی دننه د لمانځه اعاده واجب ده، اوس هرکله چی وخت هم تیرسوی دی او د هغه لمونځ ګذارو اجتماع پاته سوه نو لمونځ د کراهت سره وسو خو امام ته په دی غلطی باندی توبه او استغفار کول پکار دی.

قال فی الدر المختار: ولفظ السلام مرتین، فالثانی واجب (۲)، وفی مراقی الفلاح (فی بیان حکم الواجب فی الصلوٰة) (واعادتها بترکه عمداً) ای مادام الوقت باقیا وکذا فی السهو ان لم یسجد له وان لم یعدها حتی خرج الوقت تسقط مع النقصان والکراهة التحریم ویکون فاسقا اثماً، وکذا الحکم فی کل صلوة ادیت مع کراهة التحریم،

(۱) وفی عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایة کتاب الصلوٰة ج: ۱ ص: ۱۲۹ (طبع سعید) وقد ذکر وان المستحب ان یصلی فی قمیص واوزار وعمامة ولایکره الاکفتاء بالقلنسوة والاعبرة لها اشتهربین العوان من کراهة ذالك وکذا ما اشتهران المؤتم لوکان معتماً بعمامة والامام مکتفیا علی القلنسوة یکره ...... الخ.

(۲) الدر المختار ج: ۱ ص: ۴۶۸ (طبع سعید)

والمختار أن المعادة لترك واجب نفل جابر والفرض سقط بالاولی. (الطحطاوی علی المراقی ص: ۱۳۴ فی فصل بیان الواجب) (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۷/ ۱۲/ ۱۳۹۰ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۹۹/ ۲۱ الف)

په لمانځه کي ثنا او درود شریف ویل سنت موکده دی او که غیر موکده

سوال: په لمانځه کی ثناء درود شریف دعاء وغیره ویل سنت موکده دی او که غیر مؤکیده؟

جواب: په لمانځه کی ثنأ درود شریف او د دی ځخه وروسته دعاء په سنت موکده کی دی: لما فی الدر المختار وسننها .... والثناء والتعوذ ..... والصلوٰة علی النبی ﷺ والدعاء (۲) او وسننها لاندی صاحب د درمختار لیکی: ترك النسة لایوجب فساد اولا

(۱) (طبع قدیمی کتب خانه) وفی بدایع الصنائع ج: ۱ ص: ۱۹۴ واما الذی هو عند الخروج من الصلوة فلفظ السلام عندنا وعند مالك والشافعی فرض، والکلام فی التسلیم یقع فی مواضع صفته انه فرض أم لا وفی بیان قدره ..... (وقال بعد اسطر) ولنا ماروی عن عبد الله بن مسعود ؓ أنه قال: صلیت خلف رسول الله ﷺ وخلف ابی بکر ؓ وعمر ؓ وکانوا یسلمون تسلیمتین عن ایمانهم وعن شمائلهم وروی عن علی انه قال: کان رسول الله ﷺ تسلیمتین ..... واما الاحادیث فالاخذ بما روینا أولی، لان علیا وابن مسعود کانا من کبار الصحابة وکانا یقومان بقربه ﷺ ..... الخ وکذا فی عامة کتب الفقه الحنفی.

درسره د دوه واړه سلامونو د وجوب متعلق د حضرت والا دامت برکاتهم کتاب درس ترمذی ج: ۲ ص: ۲۴ ملاحظه کړی.

(۲) ایضاً.

سهوا بل اسائة لوعامداً غير مستخف ..... الخ [۱] او داتعريف د سنت موكده دى: كما يظهر من كلام الشامى (ج: ۱ ص: ۳۱۸، ۳۱۹) [۲]

د دى ښخه علاوه كله چى فقهاء د لمانځه سنت مطلق ذكر كوى نو د هغه موكده مراد وى، د سنن زوائد ياسنت غير موكده ښخه عموماً په ادابو سره تعبير كول كيږى.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقى عثماني عفىٰ عنه

۱۳۹۸/۲/۲۴

(فتوىٰ نمبر ۲۹۲/ ۲۹ ب)

تسميه د سورة فاتحي ښخه مخكي ووئيل سي او كه وروسته؟

سوال: د الحمد ښخه وروسته ووئيل سى او كه مخكى؟

جواب: په هرركعت كى د سورة فاتح ښخه مخكى بسم الله وئيل پكار دى [۳].

والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقى عثماني عفىٰ عنه

۱۳۸۷/۱۲/۱۴ ھ

(فتوىٰ نمبر ۱۴۰۰/ ۱۸ الف)

---

[۱] ايضاً.

[۲] الدر المختار ج: ۱ ص: ۴۷۳، ۴۷۷ (طبع سعيد) وفى تبيين الحقائق ج: ۱ ص: ۲۸۶ (طبع سعيد) وسننها رفع اليدين للتحريمه ..... والثناء والتعوذ .... والصلوٰة على النبى ﷺ الدعاء بعد التشهد فى القعدة الاخيرة لقوله ﷺ: اذا صلى احدكم فاليبدأ بالثناء على الله تعالى ثم بالصلوٰة يعنى ثم بالدعاء وقال الشافعى رحمه الله: الصلوٰة على النبى فرض ..... ولنا انه ﷺ علم الاعرابى الفرائض الصلوٰة ولم يعلمه الصلوٰة على النبى ﷺ وفى شرع العناية على الهداية على هامش فتح القدير ج: ۱ ص: ۳۴۱ (طبع مكتبه رشيديه كويته) وبالسنة مافعله رسول الله ﷺ بطريق المواظبة ولم يتركها الا لعذر كالثناء والتعوذ وتكبيرات الركوع والسجود، وكذا فى بحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع سعيد)

[۳] وفى غنية المتملى ص: ۳۰۲ (طبع سهيل اكيڈمى لاهور) (يسمى) اى يقرأ بسم الله الرحمٰن الرحيم (فيأتى لها) اى بالتسمية (فى اول كل ركعت) وفى الهندية ج: ۱ ص: ۷۴ (طبع رشيديه كويته) ويأتى بها فى اول كل ركعة وهو قول ابى يوسف وفى الحجة وعليه الفتوىٰ، وفى تنوير مع شرحه باب صفة الصلوٰة ج: ۱ ص: ۴۹ (طبع سعيد) (كما تعوذ سمى سراً فى اول كل ركعة)

د جمعي سره لمونځ كول سنت دى كه واجب؟

سوال: د جمع سره لمونځ كول سنت موكده دى او كه واجب؟ ورسره سفر په دوران كى لمونځ د جمعى سره د كولو اهتمام ضرورى دى او كه نه؟

جواب: د جمعى سره لمونځ كول سنت موكده او واجب ته نژدى دى [۱] او په سفر كى كه د جمعى سره لمونځ كول ممكن نه وى يا د جمعى سره د لمانځه كولو په صورت كى د ملګرو ښخه د پاته كيدو خطره وى يا د ګاډى د روانيدلو خطره وى نو په داسى صورت كى د جمعى ښخه بغير يواځى لمونځ كول جائز دى، وفى بدايع الصنايع ج: ۱ ص: ۱۵۳، واما المسافرون فالافضل لهم أن يوذنوا ويقيموا ويصلوا بجماعة، لان الاذان والاقامة من لوازم الجماعة المستحبة والسفر لم يسقط الجماعة فلا يسقط ماهو من لوازمها ...... الخ [۲] بياهم حتى الامكان د جمعى سره د لمونځ كولو اهتمام كول پكار دى.

والله اعلم

احقر محمد تقى عثماني عفىٰ عنه

۱۴۰۲/۱/۵ ھ

(فتوىٰ نمبر ۲۵/ ۵۸)

---

[۱] وفى الدر المختار باب الامامة ج: ۱ ص: ۵۵۲ (طبع سعيد) (والجماعت سنة موكدة للرجال) قال الزاهدى ارادو بالتاكيد الوجوب الا فى جمعة وعيد فشرط ..... الخ. وفى رد المختار تحت (قوله قال الزاهدى) ترفيق بين القول بالسنية والقول بالوجوب الاتى وبيان ان المراد بهما واحد اخذ من استدلالهم بالاخبار الواردة بالوعيد الشديد بترك الجماعة وفى النهر عن المفيد الجماعة واجبة وسنة لوجوبها بالسنة ...... الخ.

[۲] وفى الدر المختار باب الامامت ج: ۱ ص: ۵۵۴ - ۵۵۶، فتسن او تجب (الجماعة) على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلوٰة بالجماعة من غير حرج فلا تجب على مريض، وارادة سفر وفى الشامية تحت قوله (وارادة سفر) اى واقيمت الصلوٰة ويخشى ان تفوته القافلة بحر، واماالسفر نفسه فليس بعذر كما فى القنية، همدارنګه د جمعى سنت موكد كيدل او واجب ته نژدى كيدلو د مطلب تفص[illegible] [illegible]اد الاحكام ج: ۱ ص: ۴۳۳ تر ۵۳۵. (محمد زبير حقنواز)

قبلي ته مخ کول شرط دی د قبلي د استقبال نیت شرط نه دی

قبلي ته د مخ کولو د نیت د مختلفو صورتونو تفصیل جائزه او د هغه حُکم

سوال: زید کعبی ته د مخ ګرځولو د نیت څخه لمونځ شروع کوی ایا د ده لمونځ به صحیح سی او که نه؟ علامه شامی رحمه الله په تذبذب کی اچولی وو ځکه چی د هغه مندرجه ذیل عبارت ج: ۱ ص: ۳۳۲ څخه راجح او صحیح جواز معلومیږی.

اما علی القول راجح من انه لایشترط نیتها فلایضره نیة غیرها بعد وجود الاستقبال الذی هو الشرط ..... فماذکره الشارح تبعا للبحر والحلیة صحیح (۱).

او د دی څخه وروسته دوهم نمبر عبارت چی د شرح منیه څخه نقل کړی دی چی ان نیة القبلة وان لم تشترط لکن عدم نیة الاعراض عنها شرط وعلیه فهو مفرع علی الراجح (۲) څخه معلومیږی چی راجح قول د عدم جواز دی لهذا براه کرم محقق مفتی به جواب راکړه عند الله مأجور سه.

جواب: ډیرو فقهاوو هم دامسئله لیکلی ده او همدی ته یی ترجیح ورکړی ده، چی په لمانځه کی استقبال د قبلی شرط دی خو د استقبال قبلی نیت ضروری نه دی بغیر د نیت څخه به استقبال وسی بیابه هم لمونځ صحیح وی پخپله شارح د منیئی هم دامسئله ذکرکولو سره داصحیح ګرځولی ده هغه لیکی:

وقال صاحب الهدایه فی التجنیس نیت الکعبة لیست بشرط فی الصحیح من الجواب لأن الاستقبال القبلة شرط فلایشترط فیه النیة کالوضوء انتهٰی وهذا لان الشروط یراعی وجودها طبعًا ولاوجودها قصداً لانها وسائل لیست بمقصودة بالذات (کبیری شرح منیه). (۳)

مخکی هغه داهم لیکلی دی چی که څه هم د استقبال قبلی نیت شرط نه دی خو عدم نیت الاعراض داشرط دی، لهذا که یوسړی راعرض عن القبلة نیت کوی نو د هغه لمونځ

(۱) ایضًا.

(۲) رد المختارج: ۱ ص: ۴۲۵ (طبع سعید)

(۳) غنیة المتملی ص: ۲۱۸ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

به فاسد سی، علامه شامی داقول حلبی شارح منیه عبارتونه کتلو څخه وروسته د هغوی د قول کومه منشاء چی ذهن ته راځی هغه داده چی د مسئلی څو صورتونه وی.

۱: استقبال د قبلی هم وی او نیت یی هم وی دا بالاتفاق درست دی.

۲: استقبال د قبلی وی او نیت هیڅ هم نه وی په دی صورت کی د راجح قول په وجه لمونځ صحیح دی.

کمامرّ قول شارح المنیة عن صاحب الهدایة وهوالذی اختاره فی تنویر الابصار والدر المختار.

۳: استقبال د قبلی وی او نیت د غیر قبلی وی، په دی معنیٰ سره چی هغه د کعبی طرف ته د رخ کولو په ځای بل شی قبله ګڼی او د هغه رُخ کول غواړی داهغه صورت دی چی په هغه کی شارح د منیه لمونځ ته فاسد وئیلی دی.

کمن توجه الی الرکن الیمانی ناویًا الصلوٰة الی بیت المقدس فانه نیة القبلة وان لم یشترط الا ان عدم نیة الاعراض عنها شرط. (کبیری ص: ۲۲۲) (۱)

په دی باندی قیاس کولو سره هغوی دامسئله هم بیان کړی ده چی:

ان نوی المصلی یعنی وقت شروع ان قبلته محراب مسجده لاتجوز صلوته لأنّ علامة علی جہۃ القبلة (په ذکرسوی حوالی سره) (۲)

د دی څخه واضحه کیږی چی د فساد صلوۃ صورت دادی چی د محراب طرفته په دی خیال رُخ کوی چی قبله همداده، په دی باندی علامه شامی داصورت هم قیاس کړی دی چی کوم سړی د بناکعبه نیت وکړی نو د هغه به هم داحکم وی خو په مقیس علیه باندی غور کولو سره معلوم سول چی داپه هغه وخت کی چی هغه عرصه کعبه نه صراحتًا د اعراض کولو نیت وکړی او محض بناء او جدران قبله وګڼی چی د هغه علامت دادی چی د هغه خیال داوی چی که داکانی دی د ځای اخواته سی او په بل ځای کی دی کښی نوول سی نو هم هغه به قبله وی او هم د هغه به استقبال کولی سی نو بیابه د ده لمونځ فاسد وی، خو ظاهره ده چی داسی خیال ډیر بعید دی.

۴: څلورم صورت د دی څخه پخپله را ووتی او هغه داچی یوسړی د مسامت قبلی د شی د استقبال نیت وکړی نه په دی وجه چی هغه قبله ده بلکی په دی وجه چی هغه د

(۱) ایضًا.

(۲) غنیة المتملی ص: ۲۲۳ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

جهت قبلی علامه ده خو په دی صورت کی به لمونځ جائزسی مثلاً د محراب طرف ته د
مخ کولو نیت وکړی خو مقصد یی دانه وی چی محراب قبله ده بلکی مقصد یی داوی
چی دا د قبلی علامه ده نو په حقیقت کی به دا د استقبال محراب نیت نه وی بلکی دی
به دی ته استقبال قبلی نیت وئیل کیږی ځکه به لمونځ هم جائز وی.
کمایفیده قول المنیة ان نوی المصلی ان قبلته محراب مسجده ...... الخ وقوله لان
علامة علی جهت القبلة ..... الخ. (۱)
دغه شان که څوک د بناء کعبه نیت وکړی خو په دی وجه نه چی هغه قبله ده په دی وجه
چی هغه د قبلی علامه ده نو بلاشبه د هغو لمونځ به صحیح وی.
د دی تفصیل څخه واضحه سول چی کوم سړی په لمانځه کی د کعبی رُخ وکړی نو د
هغه لمونځ به صحیح وی ځکه چی د دی نیت مفهوم عرفًا همدادی چی مقصود د قبلی
او کعبی استقبال دی او خانه کعبه ته په عرف کی د لفظ کعبه د پاره وئیل کیږی ورسره
که د دی څخه بناء د کعبی مراد وی بیاهم د دی د استقبال نیت په وجه د علامه کیدو
په وجه نه په وجه د قبله کیدو، چی د هغه دلیل دادی چی که د بناء کانی د هغه ځای
څخه ایسته سی او بل چیری کښې بښوول سی نو د لمونځ گذار به د هغه استقبال نه وی
لهٰذا د هغه لمونځ صحیح دی، هو! که کوم سړی داکانی قبله وګڼی او هغه د خپل ځای
څخه د ایسته کولو څخه وروسته هم هغه ته د رُخ کولو قائل نه وی نو د هغه لمونځ به
درست نه وی وهذا لایتصور فی مسلم.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۸/۲/۱۳۹۱ ھ

(فتوی نمبر ۳۲۹ / ۲۲ الف)

په ناسته باندی د لمانځه کولو په دوران کي دریدل

سوال: په ناسته باندی د لمونځ کولو په دوران کی د یورکعت څخه وروسته طاقت
محسوس سو نو اوس دریدل درست دی او که نه؟ او په ناسته باندی کولوکی خو به څه
حرج نه وی؟

(۱) غنیة المتملی ص ۳۲۳ (طبع سهیل اکیدمی لاهور)

جواب: په نفلو کی داسی کول بهتردی او که فرض یی د مجبوری د وجی په ناسته
باندی کول او طاقت ورته حاصل سو نو دریدل فرض دی (۱). فقط والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الٰهی بلند شهری   احقر محمد تقی عثماني
عفی عنه

۱۶/۱۲/۱۳۸۷ ھ

(فتوی نمبر ۱۴۲۷/۱۸ الف)

فصل في الامامة والجماعة

د امامت او د جمعی سره د متعلق مسائلو بیان

د امامت د نیت طریقي

سوال: که څوک امام جوړسی نو هغه ته د امامت نیت څنګه کول پکار دی؟
جواب: بس دانیت دی وکړی چی زه د دی ټولو خلګو امامت کوم چی څوک زما د اقتداء
نیت وکړی په ژبی سره وئیل ضروری نه دی په زړه کی اراده کول کافی ده. (۲)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/۱/۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۲ الف)

د امام شرعي اوصاف

سوال: یو امام چی هروخت لمونځ ورکوی د هغه شرعی اوصاف څه کیدل پکار دی؟ ایا
په هغه کی د جسمانی اعضاوو لحاظ هم دی؟ مثلاً د چاچی لاس پیدائشی طور باندی

(۱) وفی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج: ۲ ص: ۲۲۹ ولو افتتحها قاعدا للعجز یرکع ویسجد
فقدر علی القیام بنی قائما عند الشیخین ...... الخ.
(۲) وګورئ الدر المختار مع رد المختار ج: ۱ ص: ۴۱۵ (طبع سعید) او عالمګیریه ج: ۱ ص: ۲۵
(طبع مکتبه رشیدیه کویته)

مفلوج وی یا پیدائشی کوشنی وی او هغه د تکبیر په وخت کی لاسونه غوږونوته نسی وړلی ایا د دی عذر سړی د لمونځ ورکولو اهل دی؟

جواب: د ټولو څخه اول په دی پوه سه چی امام د الله په دربار کی د مسلمانانو درخواست پیش کولو د پاره د یونماینده حیثیت لری ځکه د شریعت د اړخه د هغه څخه مخصوص اوصاف مقرر سوی دی چی دا نماینده د مسلمانانو مناسب نماینده ګی وکړی، په دی اوصافو کی بعضی لازمی دی، او په کوم سړی کی چی دا اوصاف نه وی په هغه پسی لمونځ نه کیږی او بعضی اوصاف داسی دی چی د هغه څخه بغیر لمونځ کیږی خو هغه مکروه وی او بعضی اوصاف مستحسن او ښه دی د هغه څخه بغیر په لمانځه کی څه کراهت نه راځی، خو بهتره داده چی امام هغه سړی جوړسی چی په هغه کی دا اوصاف موجود وی، لازمی اوصاف چی د هغه څخه بغیر د مقتدیانو لمونځ نسی کیدی په لاندی ډول دی:

۱: امام مسلمان، بالغ، عاقل او په هوش کی وی،

۲: د لمانځه طریقی پیژنی.

۳: د لمانځه ټول شرائط او ضوابط یی پوره کړی وی.

۴: په څه وجه داسی مرض کی مبتلاء نه وی چی د هغه په وجه د هغه اودس قائم نه پاته کیږی، مثلاً د پوزی څخه یی وینه بهیږی وغیره (داسی سړی ته فقهاء معذور وایی، داسی سړی د خپل ځان په شان د معذورانو امامت خو کولی سی خو د تندرسته خلګو امام نسی جوړیدی)

۵: په رکوع او سجدی باندی قادر وی که د څه بیماری په وجه هغه په رکوع او سجدی قادر نه وی نو د تندرسته خلګو امامت نسی کولی.

۶: ګونګا او ترټری نه وی. (۱)

او دوهم قسم اوصاف چی د هغه څخه بغیر لمونځ مکروه وی په لاندی ډول دی:

۱: صالح وی یعنی په کبیره ګناه کی به مبتلاء نه وی.

۲: فاسد العقیده به نه وی.

۳: د لمانځه د ضروری مسائلو څخه به واقف وی.

(۱) داټول اوصاف په ردالمختار لابن عابدین الشامی ج: ۱ ص: ۵۵۷، ۵۲۲ (طبع ایچ ایم سعید) کی موجود دی.

۴: د قرآنکریم تلاوت به په صحیح طریقی سره کولی سی.

۵: په څه داسی جسمانی عیب کی مبتلاء نه وی چی د هغه په وجه د هغه جسمانی پاکوالی مشکوك سی، یا د هغه څخه خلګ کرکه، یا د هغه سپکاوی کوی، په همدی وجه د ړوند مفلوج، ابرص وغیره پسی لمونځ کول خلاف اولی ګرځولی دی، خو داکراهت هم په هغه وخت کی دی کله چی د هغه څخه بهتر دوهم امام پیداکیدی سی که د هغه څخه بهتر نسی پیداکیدی نو هیڅ کراهت نسته. (شامی ج: ۱ ص: ۵۲۳ - ۵۲۵) (۱)

داټول اوصاف خو د قانونی انداز دی، د دی څخه علاوه امام مسجد د خپلی محلی دینی مرکز او یوقسم مربی وی ځکه بهتردی چی لاندینی اوصاف په هغه کی پیداسی په حاضرینو کی د دین علم او د قرآن د تلاوت په اعتبار سره د ټولو څخه زیاتی لوړی مرتبی والا وی، خوش اخلاقه شریف النسب باوقاره او مخوریزوی.

د صفائی ستره ګی، تقوی او د پاکوالی خیال ساتی، مستغنی طبعیت ساتونکی وی او سیر چشم وی د محلی د دینی تربیت د پاره چی د څومره اوصافو ضرورت دی په هغه کی پیداکیږی.

د محلی په جوماتونو کی د امام د انتخاب په وخت کی که د دی اوصافو رعایت وسی نو په محله کی یوښه خوشګواره دینی ماحول پیداکیدی سی، دپور ذکرسوی تشریح څخه وروسته ستا د ټولو سوالونو جوابونه پخپله واضح کیږی، د کوم سړی چی لاسونه دومره کوشنی وی چی غوږونو ته نه رسی نو که په هغه کی بل څه عیب نه وی نو لمونځ ورپسی بلاکراهته کیدی سی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۵/ محرم/ ۱۳۸۷ هـ (۲)

د چا چي علم زیات وی هغه امام جوړول افضل دی

سوال: په یوجومات کی دوه استاذان هلکانو او انجونو ته سبق وایی یو استاذ مقامی دی چی صرف عالم دی، دوهم غیرمقامی دی چی عالم، قاری او حافظ هم دی، مقامی

(۱) شامی ج: ۱ ص: ۵۲۲، ۵۲۰ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) دافتوی د رساله البلاغ شماره صفر د ۱۳۸۷ هـ څخه اخستل سوی ده.

استاذ صرف انجونوته سبق وایی، دوهم استاذ ټوله ورځ سهار ماښام سبق وایی هرکله چی لمونځونه او د جمعی لمونځ مقامی استاذ ورکوی په دی دواړوکی د لمونځ او جمعی کولو زیات مستحق څوك دی؟ په دی کی نه د جنګ خبره ده او نه څه اختلاف دی.

جواب: په دی دواړو کی چی د چاعلم زیات وی خاص طور چی د لمانځه د مسئلو څخه زیات چی کوم صاحب واقف وی او د چاپه علم او تقوٰی چی خلګ زیات اعتماد کوی هغه ته امام جوړول زیات بهتر او افضل دی ([1])، هسی خو د دواړو امامت کول جائز دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفٰی عنه

۱۵/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوٰی نمبر ۷۹۱/ ۲۹ ب)

د شرعي مسئلي د نه منونکي د امامت حکم

سوال: زید په یوجامع مسجد کی امام دی په هغه کی لاندینی عیوب موجود دی:

۱: ټول مقتدیان د هغه څخه خوابدی دی، خوابدتیا په دنیوی کارونو باندی ده، سوا د متولی څخه چی د هغه څخه مجبوره دی، د دی خفګان د وجی د محلی خلګو هغه په کونټی باندی هم وهلی دی بیاهم هغه پیش امام دی.

۲: په مقتدیانو باندی بهتان او د هغوی عیبونه افشاء کول د دی امام عادت دی.

۳: د غرور څخه دومره ډك دی چی که په لمانځه کی څه خلل واقع وی خپله نه پوهیږی او که مقتدی د کوم صاحب علم څخه د مسئلی تحقیق وکی او ورته ووایی نو هغوی خبری نه منی، علماوو ته غلط وایی، اوس سوال دادی چی داسی امام د امامت حقدار دی یا دا د جومات څخه وباسو؟

([1]) وفی الدر المختار (باب الامامت ج: ۱ ص: ۵۵۷) والاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبا الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش ظاهرة ..... ثم الورع ...... الخ. وفی الهندیة (الباب الخامس فی الامامة الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۸۳) الاولی بالامامة اعلمهم باحکام الصلوٰة وهکذا فی المضمرات، وهو الظاهر هکذا فی البحر الرائق هذا اذا علم من القرأة .... قدر ماتقوم به سنة القرأة ولم یطعن فی دینه.

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات صحیح وی، یعنی امام پخپله عالم نه دی او د علماوو ښوول سوی مسئلی نه منی او په مسلمانانو بهتان لګوی نو هغه د مقتدیانو د امامت څخه لری کول پکار دی ځکه چی په حدیث شریف کی د داسی سړی په امامت باندی د اصرار کولو وعید راغلی دی ([1]) که هغه پخپله مستغنی نسی نو د جومات متولی ته هم اختیار دی چی هغه یی معزوله کړی

والله اعلم

۲۹/ ۱۱/ ۱۴۰۱

(فتوٰی نمبر ۱۷۷۰/ ۳۲ ج)

احقر محمد تقی عثماني عفٰی عنه

بدکرداره سړی پسي د لمونځ کولو حکم

سوال: یوسړی چی د څه خفیه او اندرونی کوششونو په ذریعه محکمه اوقاف ته دهوکه ورکولو سره د یوجامع مسجد خطیب او د امامت د عهدی په حاصلولو کی کامیاب سو.

۲: هغه چاچی خپل ځان مصنوعی طور باند عالم او قاری مشهوره کړی دی په جومات کی د یوکال څخه کم یا زیاتی مودی پوری د امامت او خطابت فرائض ورکولو سره نیرسوی دی، په دی موده کی متعدد لمونځګذاروته د هغه سړی د علم او فضل رفتار او ګفتار، کردار او اخلاقو په باره کی قابل اعتراض شهادتونه ورکول سوی دی په دی وجه د لمونځ ګذارو یوزیات تعداد د هغه سړی د وجی د جومات په پریښوولو باندی مجبوره سول او لری لری تلو سره د لمونځ د فریضی اداء کولو تکلیف پورته کوی.

([1]) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹ (طبع سعید) ولوام قومًا وهم له کارهون، ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحریمًا لحدیث ابی داؤد، لایقبل الله الصلوة من تقدم قومًا وهم له کارهون.

وفیه ایضًا ج: ۱ ص: ۷۵۵ والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا مجمع الانهر الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة، وفی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ (طبع مکتبه رشیده کوئټه) واما الکراهة فمبینة علی قلة رغبت الناس فی الاقتداء بهؤلاء فیؤدی الی تقلیل الجماعة المطلوب تکثیرها تکثیرا للاجر.

۳: داسړی د قرآن مجید د تلاوت په دوران کی فاسد قسم غلطیانی کوی او لمونځ ارکان پوره نه اداء کوی او خلګوته غلط مسائل او فتوی ورکوی.

۴: د دی سړی د کردار په باره کی د ډیرو سنجیده خلګو په ذهنونو کی شکوک او شبهات موجود دی، او بعضی خبری داسی وئیل کیږی، چی که د هغه تحقیق وسی نو دغه سړی بدکرداره ثابت کیدی سی.

۵: دا سړی مفتی او مفسرهم دی او هغه د جومات په مسلمانانو کی شدید قسمه انتشار پیداکړی دی اوپه غلطو خبرو باندی په خپل مینځ کی جنګول کوی.

۶: داسړی د محکمه اوقاف سره خفیه ربط او تعلق ساتی او ناجائز اثرات استعمالولو سره ذکر سوی مسجد یوموذن چی حافظ او عالم وو د مختلف قسم غلطو الزاماتو لګولو سره او د سازش او شرارت کولو په وجه جلا کړی دی.

۷: اوس سوال دادی چی د دی جومات لمونځ کوونکی او مقتدیان په سخت تکلیف او اذیت کی مبتلاء دی او د دی سړی څخه د خلاصون پیداکولو د پاره هغوی څه تحقیقات کړی دی او په کومو جوماتونوکی چی هغوی ملازمت کړی دی، هلته د تللو سره یی پوښتنه وکړه، نومعلومه سوه چی داسړی سخت قسم بدکرداره، ارباش او مفسد، بد دیانته او بی علمه دی او هلته نه د سخت نفرت سره باسل سوی دی او د یوجومات څخه بل جومات ته تبنتیدلی وتلی دی، او هلته هیڅ یوسړی داسی نسته چی د ده د پاره د خیرکلمه ووایی، مزید داهم معلوم سول چی دا غیر شادی شده دی او خپل ځان سره داسی دوستان ساتی چی د هغوی سره ماحول مکدره کیږی پورته لیکل سوی کوائف پیش کولو سره ستاسو څخه درخواست دی چی داسی سړی د امامت قابل دی او که نه؟

جواب: امام کوم داسی سړی جوړول پکار دی چی صحیح العقیده، متقی پرهیزګانه او د ضروری دینی مسائلو څخه کماحقه باخبره وی، ورسره قرائت صحیح کولی سی او کم ترکمه د لمانځه د مسائلو څخه ښه خبروی [1] لهذا په سوال کی چی کومی خبری لیکل

[1] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۷ (طبع ایچ ایم سعید) والاحق بالامامة تقدیماً بل نصبا مجمع الانهر (الاعلم باحکام الصلوٰة) فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة .... (ثم الاحسن التلاوة) وتجویداً (للقرأة ثم الاورع) ای الاکثر اتقاء للشبهات والتقوی اتقاء المحرمات، وفی الشامیة تحته (قوله باحکام الصلوٰة فقط) ای وان کان غیر متبحر فی بقیة العلوم .... (قوله بشرط اجتنابه .... الخ) ..... الاعلم بالسنة اولی الا ان یطعن علیه فی دینه، لان الناس لایرغبون فی الاقتداء به وفی البحر

سوی دی که هغه درستی وی نو په داسی سړی پسی لمونځ مکروه دی [1] هغه معزوله کولو سره بل څوك امام جوړول پکار دی چی په هغه کی مذکوره شرایط وی، خوترڅو چی د بل امام انتظام نه وی ترهغه وخته پوری په هغه پسی لمونځ کول ځانته لمونځ کولو څخه ښه دی او کوم لمونځونه یی چی همداسی کړی دی هغه به وسی.

واللہ سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۱۲/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۷۳۵/ ۲۷ و)

د کوم ناجائز فعل څخه په منع کولو باندی د امامت څخه معزوله کول

سوال: عرض دادی چی سائل امام مسجد موضع بټ تهانه شیروان ضلع ایبټ آباد جدی طور سره پشت درپشت ۲۱۵ کالو څخه په همدغه کلی کی امامت راروان دی او اوس سائل د امامت او خطابت فرائض ورکوی، سائل مستند عالم دین فارغ التحصیل ازمدرسه تعلیم القرآن راولپنډی دی، مورخه ۲۲/ ۹/ ۱۹۸۳ھ په مذکوره کلی زرین وغیره جومات شریف جزیټر (بجلی) بغیر د اجازت څخه په زوره باندی د خپل مال او دولت په نشه کی د خپل عبد الستار په واده کی یی وی وړی د هغه په دی مجرمانه فعل باندی ماهغه په حیثیت د امام خبر دارکی او د خدای څخه می وبیروی، ځکه چی د جومات ملکیت د جنریټر استعمال د ګډا او سندر غاړو ښځو په تماشه کی یی صرف کی، دغه ملزمانو لره د هغوی د دی فعل څخه د منع کولو د پاره کله چی ماوعظ او نصیحت وکی، نو بیرته هغوی زما په کور باندی کاڼی را وورول، ښکنځل یی وکړه او په ماباندی یی حمله وکړله او زه یی د امامت څخه جلاکړم، ملزمانو زه د امامت څخه ځکه برطرفه کړم چی ماهغوی ته مضمون جاری کی او داچی هغوی می د جومات

الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ واما الکراهة فمبنیة علی قلة رغبت الناس فی الاقتداء بهؤلاء فیؤدی الی تقلیل الجماعة المطلوب تکثیرها تکثیراً للاجر.

[1] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹ (طبع ایچ ایم سعید) (ولوام قوماً وهو له کارهون ان) الکراهة (لفساد فیه ..... کره) له ذالك تحریما، وفیه ایضا ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۶۰، ویکره امامة عبد .... وفاسق .... الخ.

شریف ملکیت حنریتر ګډا او سندرو کې استعمالولو څخه یې منع کړل او په دې منع
کولو باندې د هغوی توهین وسو، لهذا د دې سزا داده چې د جومات شریف د امامت
څخه یې زه برطرفه کړم، لهذا تاسو په حیث د مفتي او شرعي جج دافیصله وکړئ چې
سائل دلته د امامت او خطابت حقداره دی او که نه؟

۱: سائل د الله ﷻ په فضل مستند عالم دی.

۲: د شریعت پابنده دی او صاحب اولاد دی د شپږو بچو پلار دی، او هیڅ قسم شرعي
عیب نه لري.

جواب: که په سوال کې درج سوي واقعات درست وي او په سائل کې څه شرعي عیب
موجود نه وي نو په هغه پسې لمونځ بلاشبه کیږي او د یوې خرابۍ خبرې څخه د منع
کولو په وجه د هغه معزوله کول شرعاً ناجائز دي ترڅو چې د معزوله کولو شرعا معتبر
کیدو تعلق دی هغه په دې پوهیدلو باندې موقوف دی چې د ملازمت شرائط څه دي؟
والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۵/۸/۱۴۰۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۳۸۴/۳۸ و)

کوم امام څخه چي مقتدیان راضي نه وي د هغه د امامت حکم

سوال: یوصاحب د تیروپنځلس کالو څخه په یوجومات کې امامت کوي، خو د علمي
قابلیت مالك نه دی د جمعې د تقریر د پاره بل مولانا صاحب راځي، چې مستند عالم
دی، قرآن یې هم د تجوید مطابق دی خو دی فقط تقریر کوي او د جمعې لمونځ پیش
امام کوي، هرکله چې د خلګو خواهش دی چې مقرر دی د جمعې لمونځ ورکوي، خو
مذکوره امام صاحب په دې اجازت نه ورکوي چې چیرې خطیب صاحب قابض نه سي،
هرکله چې خطیب صاحب د دې اقرار کوي چې زما مقصد د دې په ځای باندې قبضه
کول نه دي، ډیر خلګ د ذکر سوي امام پسې د ډیرو وجوهاتو په وجه لمونځ نه کوي.

۱: امام صاحب د قرآن او حدیث علم نه لري.

۲: د قرآن قرأت یې مجهول دی.

۳: خطبه هم غلطه وایي.

۴: که لږ غوندې خبرې هم د طبیعت خلاف وسي نو فحش بنکنځل کوي.

۵: خلګ هغه ته په خپل طرز عمل باندې د غورکولو د پاره وایي، نو هغه خلګوله د
لمونځ کولو څخه منع کوي، لهذا په دوی پسې اقتداء صحیح ده او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کې کله چې مقتدیان دی امام پسې لمونځ کولو باندې
خوشحاله نه دي او د هغه څخه زیات علم لرونکی موجود دی نو د دې امام صاحب په
خپل امامت باندې اصرار کول مکروه تحریمي دی، خو چې کوم د ذکر سوو وجوهاتو په
وجه په هغه پسې د لمونځ کولو په ځای خپل ځانته په کورکې لمونځ کوي هغوی هم په
غلطۍ باندې دي، هغوی ته پکار دي چې د هغه په ځای د افضل امام د مقرر کولو
کوشش د فتنې پیداکیدلو څخه بغیر جاري وساتي او ترڅو چې د بل امام انتظار نه وي
سوی ترهغه وخته پورې د همدې امام صاحب پسې لمونځ کوي ځکه چې د ده پسې به
لمونځ په هرحال کې وسي او هغه لمونځ کول د ځانته لمونځ کولو څخه بهتر دي.

وفی الدرالمختار: ولوام قوماً وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق
بالامامة منه کره له ذالك تحریماً (ج: ۱ ص: ۳۷۶) [1]

وفی رد المختار تحت قوله: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة افاد ان
الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد، لکن لاینال کما ینال خلف تقی ورع لحدیث:
من صلی خلف عالم تقی فانما صلی خلف نبی. (شامی ج: ۱ ص: ۳۷۷) [2]

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/۱۲/۱۳۹۶ هـ

(فتوی نمبر ۷۴۹/۲۷ و)

[1] الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹ (طبع ایچ ایم سعید) وفی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ واما الکراهة
فمبنية علی قلة رغبت الناس فی الاقتداء بهٰؤلاءِ فیودی الی تقلیل الجماعة المطلوب تکثیرها
تکثیراً للاجر.

[2] فتاوی شامیه ج: ۱ ص: ۵۲۲ (طبع ایچ ایم سعید)

د علمائي ديوبند د عقائدو سره جزوي اختلاف ساتونكي د يو امام امامت متعلق تفصيلي فتوىٰ

(د ژوب بلوچستان څه علمائى كرام د خپل يومقامى امام د عقائدو او په لمانځه كى د هغه اقتداء متعلق د تنازعى د تصفيى د پاره د حضرت مولانا مفتى محمد تقى عثمانى صاحب دامت بركاتهم خواته رالل حضرت دامت بركاتهم فريقينوته د يومتفقه استفتاء د مرتب كولو هدايت وكى چى د هغه حضرت دامت بركاتهم تفصيلى جواب وليكى او د درى څخه مخكى په ريكارډ كى د وضاحت او ياداشت د پاره يى يوتحرير هم مرتب كى د ريكارډ څخه دا وضاحتى تحرير د هغه څخه وروسته د فريقينو متفقه استفتاء او د حضرت دامت بركاتهم د اړخه د هغه جواب په لاندى ډول دى، د حضرت دامت بركاتهم په دى جواب د بعضى حضراتو د اړخه دوباره استفتاء وسوه هغه استفتاء او د هغه جواب هم په آخره كى درج دى) محمد زبير عفى عنه.

د حضرت دامت بركاتهم وضاحتى تحرير

احقر محمد تقى عثماني عفى عنه عرض گذار دى چى د علاقه ژوب بلوچستانفريقه د احقر خواته د خپلى يوى تنازعى په سلسله كى د تحكيم د پاره تشريف راوړى په هغه كى يوفريق مولانا محمد شيرانى صاحب د خپلو څوملگرو سره مخكى تشريف راوړى، بيادوهم فريق يعنى مولانا صبغة الله صاحب د خپلو څوملگرو سره په بله ورځ كى تشريف راوړى، دواړو د احقرسره جلاجلا خبرى هم وكړى او اجتماعى طور باندى هم د دواړو داخواهش وو چى حضرت د هغوى په مينځ كى حاكم جوړيدوسره د هغوى د تنازعى فيصله وكړى، چونكى د احقر د پاره د واقعاتو چان بين او تفتيش ممكن نه وو، ځكه احقر د تحكيم څخه معذورى ظاهره كړله او داعرض يى وكى كه دواړه فريقين څه متفقه استفتاء مرتب كړى نو احقر به د هغه جواب وليكى او دربه يى كړى.

تنازعه په دى خبره باندى ده چى مولانا صبغت الله صاحب د خپلو عقائدو او نظرياتو په لحاظ سره د امامت مستحق دى او كه نه؟ ځكه احقر تجويز پيش كى چى د دى متنازعه عقائدو ليكلو سره متفقه طور استفتاء دى وسى، په دى باندى مولانا شيرانى صاحب ته دا اعتراض وو چى په دى وخت مولانا صبغت الله صاحب كوم عقائد او نظريات ليكلو سره چى به وركوى هغه به د ده د حقيقى عقائدو او نظرياتو څخه ډير كم او پټ به وى، كوم چى هغه علاقى كى بيانوى، ځكه به د استفتاء څخه صحيح صورت

حال معلوم نسى خو بالاخره هغوى په دى شرط استفتاء مرتب كول قبول كړل چى هغه به كم تركمه هغه امور چى د هغه هغوى اعتراف كړى دى په دى استفتاء كى درج سى او نور امور چونكى په متفقه استفتاء جلا حق محفوظ ولرو، د دى څخه وروسته يى متفقه استفتاء مرتب سوه او په هغه باندى دواړو فريقينو دست خطى وكړه دا استفتاء او په دى باندى د احقر جواب د دى تحرير سره منسلك دى.

احقر محمد تقى عثماني عفى عنه

۱۴۱۴/۸/۱۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۳۱/۱۱۰۳)

د فريقينو د اړخه پيش سوى استفتاء او د هغه جواب

سوال: څه فرمائى علمائى دين په دى مسئله كى چى زموږ په علاقه كى د يوصاحب د عقائدو په باره كى داتنازعه ده چى د ده عقائد د جمهور اهلسنت والجماعت بالخصوص د مسلك علمائى ديوبند مطابق دى او كه نه؟ ورسره د دوى د عقايدو پيش نظر دوى لره امام جوړول شرعًا درست دى او كه نه؟ او كوم لمونځونه چى په ده پسى اداء سوى دى د هغه څه حكم دى؟ چنانچى د دغه صاحب څخه د هغه د عقيدى په سلسله كى څه سوالات هم وسول چى د هغه جواب هغه په تحريرى شكل كى وركړى دى تاسو د دى جواباتو په غور سره مطالعه وكړئ [1] او وليكى چى د علمائى ديوبند د مسلك مطابق داجوابات څه حيثيت لرى؟ او د مذكوره صاحب د امامت په باره كى د شرعى استفتاء سره په اوو پاڼوكى منسلك دى.

جواب: د استفتاء سره منسلك د مولانا صبغت الله صاحب د ليكل سوى څوارلسو سوالونو جوابونه [2] احقر په غور سره مطالعه كړل او په هغه امورو كى د مولانا موصوف څخه زبانى وضاحتونه هم طلب كړل په هغه كى په بعضو امورو كى بعضى جوابونه په واضح طور باندى د علمائى ديوبند د مسلك مطابق دى مثلاً اوقات مكروه

---

[1] ايضًا.

[2] د امام صاحب د اړخه اهل علاقى ته د خپلو عقائدو متعلقد د وركول سوو د هغه وضاحتى جواباتو تحرير په ريكارډ كى موجود نه دى بياهم مخكى حضرت دامت بركاتهم د اړخه په وركول سوى فتوىٰ كى چونكى د هغه د عقائدو جائزه اخستل سوى ده لهذا د هغه څخه د امام صاحب عقائد هم واضح كيږى. (محمد زبير عفى عنه)

د علمائي دیوبند د عقائدو سره جزوي اختلاف ساتونکي دیو امام امامت متعلق تفصیلي فتویٰ

(د ژوب بلوچستان څه علمائی کرام د خپل یومقامی امام د عقائدو او په لمانځه کی د هغه اقتداء متعلق د تنازعی د تصفیی د پاره د حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم خواته رالل حضرت دامت برکاتهم فریقینوته د یومتفقه استفتاء د مرتب کولو هدایت وکی چی د هغه حضرت دامت برکاتهم تفصیلی جواب ولیکی او د دری څخه مخکی په ریکارډ کی د وضاحت او یاداشت د پاره یی یوتحریر هم مرتب کی د ریکارډ څخه دا وضاحتی تحریر د هغه څخه وروسته د فریقینو متفقه استفتاء او د حضرت دامت برکاتهم د اړخه د هغه جواب په لاندی ډول دی، د حضرت دامت برکاتهم په دی جواب د بعضی حضراتو د اړخه دوباره استفتاء وسوه هغه استفتاء او د هغه جواب هم په اٰخره کی درج دی) محمد زبیر عفی عنه.

د حضرت دامت برکاتهم وضاحتی تحریر

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه عرض ګذار دی چی د علاقه ژوب بلوچستانفریقه د احقر خواته د خپلی یوی تنازعی په سلسله کی د تحکیم د پاره تشریف راوړی په هغه کی یوفریق مولانا محمد شیرانی صاحب د خپلو څوملګرو سره مخکی تشریف راوړی، بیادوهم فریق یعنی مولانا صبغة الله صاحب د خپلو څوملګرو سره په بله ورځ کی تشریف راوړی، دواړو د احقرسره جلاجلا خبری هم وکړی او اجتماعی طور باندی هم د دواړو داخواهش وو چی حضرت د هغوی په مینځ کی حاکم جوړیدوسره د هغوی د تنازعی فیصله وکړی، چونکی د احقر د پاره د واقعاتو چان بین او تفتیش ممکن نه وو، ځکه احقر د تحکیم څخه معذوری ظاهره کړله او داعرض یی وکی که دواړه فریقین څه متفقه استفتاء مرتب کړی نو احقر به د هغه جواب ولیکی او دربه یی کړی.

تنازعه په دی خبره باندی ده چی مولانا صبغت الله صاحب د خپلو عقائدو او نظریاتو په لحاظ سره د امامت مستحق دی او که نه؟ ځکه احقر تجویز پیش کی چی د دی متنازعه عقائدو لیکلو سره متفقه طور استفتاء دی وسی، په دی باندی مولانا شیرانی صاحب ته دا اعتراض وو چی په دی وخت مولانا صبغت الله صاحب کوم عقائد او نظریات لیکلو سره چی به ورکوی هغه به د ده د حقیقی عقائدو او نظریاتو څخه ډیر کم او پټ به وی، کوم چی هغه علاقی کی بیانوی. ځکه به د استفتاء څخه صحیح صورت

حال معلوم نسی خو بالاخره هغوی په دی شرط استفتاء مرتب کول قبول کړل چی هغه به کم ترکمه هغه امور چی د هغه هغوی اعتراف کړی دی په دی استفتاء کی درج سی او نور امور چونکی په متفقه استفتاء جلا حق محفوظ ولرو، د دی څخه وروسته یی متفقه استفتاء مرتب سوه او په هغه باندی دواړو فریقینو دست خطی وکړه دا استفتاء او په دی باندی د احقر جواب د دی تحریر سره منسلك دی.

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۷/ ۸/ ۱۴۱۴ ه

(فتوی نمبر ۳/ ۱۱۰۳/ ۳۱)

د فریقینو د اړخه پیش سوی استفتاء او د هغه جواب

سوال: څه فرمائی علمائی دین په دی مسئله کی چی زموږ په علاقه کی د یوصاحب د عقائدو په باره کی داتنازعه ده چی د ده عقائد د جمهور اهلسنت والجماعت بالخصوص د مسلك علمائی دیوبند مطابق دی او که نه؟ ورسره د دوی د عقایدو پیش نظر دوی لره امام جوړول شرعًا درست دی او که نه؟ او کوم لمونځونه چی په ده پسی اداء سوی دی د هغه څه حکم دی؟ چنانچی د دغه صاحب څخه د هغه د عقیدی په سلسله کی څه سوالات هم وسول چی د هغه جواب هغه په تحریری شکل کی ورکړی دی تاسو د دی جواباتو په غور سره مطالعه وکړئ [1] او ولیکی چی د علمائی دیوبند د مسلك مطابق داجوابات څه حیثیت لری؟ او د مذکوره صاحب د امامت په باره کی د شرعی استفتاء سره په اوو پاڼوکی منسلك دی.

جواب: د استفتاء سره منسلك د مولانا صبغت الله صاحب د لیکل سوی څوارلسو سوالونو جوابونه [2] احقر په غور سره مطالعه کړل او په هغه امورو کی د مولانا موصوف څخه زبانی وضاحتونه هم طلب کړل په هغه کی په بعضو امورو کی بعضی جوابونه په واضح طور باندی د علمائی دیوبند د مسلك مطابق دی مثلاً اوقات مکروه

[1] ایضًا.

[2] د امام صاحب د اړخه اهل علاقی ته د خپلو عقائدو متعلقد د ورکول سوو د هغه وضاحتی جواباتو تحریر په ریکارډ کی موجود نه دی بیاهم مخکی حضرت دامت برکاتهم د اړخه په ورکول سوی فتوی کی چونکی د هغه د عقائدو جائزه اخستل سوی ده لهذا د هغه څخه د امام صاحب عقائد هم واضح کیږی. (محمد زبیر عفی عنه)

او منهیه کی تحیة المسجد ممنوع کیدل یا د سوال نمبر ۶ په جواب کی دعاء، په وخت
کی فی الجمله رفع الیدین ته د سنتو موافق وئیل خو بعضی جوابونه مجمل دی، مثلا
شیخ محمد بن عبد الوهاب نجدی او د علامه ابن تیمیه په باره کی هغوی دا واضحه نه
کړل چی په کومو مسائلو کی د علمائی دیوبند د دوی سره اختلاف دی، په هغه
مسائلوکی د مولانا یی موصوف څه موقف دی؟ ورسره د څلورم نمبر سوال په جواب
کی داخبره نه واضحه کیږی چی د دری ورځو څخه وروسته د مړی کورته تلل او تعزیت
کولو ته مولانا موصوف علی الاطلاق بدعت او ناجائز وای یا د دی څه خاص هیئت ته؟
خو د مولانایی موصوف په جوابونو کی څلور امور داسی دی چی صراحتاً د علمائی
دیوبند د مسلك خلاف دی او هغه لاندی دی:

۱: مولانا د حدیث مبارك: لاتشد الرحال الا الی ثلاثة مساجد د هغه د تشریح طرف ته
یی خپل رجحان ظاهر کړی دی، کومه چی د علامه ابن تیمیه څخه منقول ده، چنانچی
هغه د زیارت قبور د پاره سفر د ذکرسوی حدیث په نهی کی شامل ګڼی تردی چی د
حضور ﷺ د روضة اقدس د زیارت په نیت سره سفر کول هم درست نه ګڼی، بلکی د
دوی په نزد د سفر مقصد د مسجد نبوی ﷺ زیارت کیدل پکار دی، او که ضمناً
پکښی د روضه اقدس زیارت هم وسی نو څه خبره نه ده، هغوی احقرته زبانی هم دا بیان
کړل چی تراوسه ماته د څه نقلی دلیل د روضه اقدس د زیارت د استحباب نه دی
پیداسوی، ځکه زما ذاعمل دی چی ما د مسجد نبوی ﷺ په قصد سره د مدینی
طیبی سفر وکی او هلته د رسیدو سره د روضه اقدس زیارت هم وسو، او آینده هم
داسی اراده ده.

د مولانا دانظریه د علمائی دیوبند د مسلك صراحتاً مخالف ده، د دی په باره کی ډیر
تحریرونه موجود دی خو خاص طور (المهند علی المفند) چی د حضرت خلیل احمد
صاحب سهارنپوری مرتب سوی کتاب دی، او په هغه باندی په دی وخت کی د ټولو
اکابرو علمائی دیوبند دستخط دی، د هغه عبارت دادی چی:

زموږ په نزد او زموږ د مشائخو په نزد د سید المرسلین د قبر زیارت د اعلی درجی
قرب دی او نهایت ثواب او سبب د حصول نصیب دی، او د سفر په وخت د حضور ﷺ
د زیارت نیت وکړه او ورسره د مسجد نبوی ﷺ اونورو مقاماتو او متبرکه زیارتونو
نیت هم وکړه، کله چی بیاهلته حاضر سی نو د مسجد نبوی ﷺ زیارت به هم اوسی.

پاته سوه داخبره دوهابیت چی د مدینی منوری اړخ ته سفر کوونکی ته صرف د مسجد
نبوی ﷺ نیت کول پکار دی او په دی قول باندی حدیث دلیل راوړی: چی کجاوی دی
ونه تړل سی خو د درو جوماتونو طرف ته، نو داقول رد سوی دی ...... الخ (عقاید
علمائی دیوبند ص: ۶)

۲: دغه شان مولانا یی موصوف په خپل جواب کی د تعویذ هرقسم ته یی کم ترکمه
مکروه وئیلی دی، ترڅو چی د داسی تعویذونو تعلق دی چی په هغه کی استمداد بغیر
الله وی یا غیر معلوم المعنی وی نو د هغه په جرامیدلو کی چاته هم اختلاف نسته خو
چی د کمو نقوشو او هندسو معنی معلومه وی هغه ته حرام وئیل یا د قرآن د آیتونو او
اسمائی حسنی په ذریعه سره تعویذ مکروه ګرځول د علمائی دیوبند د مسلك څخه
خلاف دی چی د هغه تصریحات د علمائی دیوبند په فتاوی کی موجود دی، مثلاً
ملاحظه دی وی فتاوی رشیدیه ص: ۲۱۸، عزیز الفتاوی ج: ۱ ص: ۲۵۱ د ټولو
علمائی دیوبند عمل په دی پاته سوی دی، او د حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی
رحمه الله یومستقل کتاب (اعمال قرانی) هم د همدی مقصد د پاره تالیف سوی دی، لهذا
دی عمل ته مکروه وئیل د دیوبند د علماوو د مسلك بالکل خلاف دی [1].

۳: د فرض لمونځونو څخه وروسته په هیئت اجتماعی باندی لاس لوړولو سره د دعاء
غوښتلو استحباب واضح دی که دا مستحب ګڼلوسره په دی باندی عمل وسی نو د
علمائی دیوبند د مسلك مطابق دا درست دی خو مولانا په خپل اول نمبر جواب کی چی
کوم شدت او عموم سره په دی باندی نکیر کړی دی او دی ته یی بدعت او واجب الترك
وئیلی دی هغه د علمائی دیوبند د مسلك خلاف دی، د حضرت مولانا مفتی کفایت الله
صاحب یوه پوره رساله په دی موضوع باندی ده په هغه کی هغه د حدیث او فقه مفصل
دلائل بیانولو څخه وروسته فرمائی:

دا روایات فقهیه دی چی د دی څخه واضحه او صراحتاً ثابتیږی، چی د فرض لمونځ
څخه وروسته امام او مقتدی ټول په یوځای دعاء وغواړی او د دعاء فارغیدو سره دی
په مخ لاس راکش کړی. (کفایة المفتی ج: ۳ ص: ۹۷) [2]

---

[1] د تفصیل دلائلو د پاره لاندینی کتابونه ملاحظه کړئ (ابوداود ج: ۲ ص: ۱۸۲) مشکوة المصابیح
ج: ۲ ص: ۳۸۸، (طبع قدیمی کتب خانه) شامیه ج: ۶ ص: ۳۶۳ (طبع ایچ ایم سعید) وتکملة فتح
الملهم ج: ۴ ص: ۳۱۷

[2] کفایة المفتی ج: ۳ ص: ۳۴۵، ۳۴۶ (جدید ایډیشن ۲۰۰۱، دار الاشاعت)

او حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی په اعلاء السنن کی په دی مسئله باندی شل صفحات بحث کړی دی او په آخره کی یی لیکلی دی: نثبت ان الدعاء مستحب بعد کل صلوٰة مكتوبة متصلا بها برفع اليدين كماهو شايع فی ديارنا وديار المسلمين قاطبة (اعلاء السنن ج: ۳ ص: ۲۱۱، ۲۱۲) (۱) دغه شان حضرت مولانا سید محمد یوسف بنوری رحمه الله په معارف السنن کی په دی مسئلی باندی د مفصل بحث کولو څخه وروسته لیکلی دی:

فهٰذه وماشاء كلها من الروايات فى الباب تكاد تكفى حجة لما اعتاده الناس فى البلاد من الدعوات الاجتماعية د برالصلوٰة، ولذا ذكره فقهاؤنا ايضًا كمافى نورالايضاح (معارف السنن ج: ۳ ص: ۱۲۳ باب مايقول اذاسلم)

او د عرف الشذی نقل د دی په مقابله کی موقوف نه دی په هرصورت د علمائی دیوبند په مسلك کی د فرضو څخه وروسته دعاء مع رفع الیدین مستحب دی بدعت نه دی.

۴: مولانا د نیت تلفظ هم بدعت ګرځولی دی حالانکی د احضار نیت په خیال سره داسنت نبوی واجب ګڼلو څخه بغیر تلفظ د نیت که وسی نو هغه د علمائی دیوبند په نزد بدعت نه دی، حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله قدس سره تحریر فرمائی: واباحه بعض لمافيه من تحقيق عمل القلب وقطع الوسوسة، وماروى عن عمر رضي الله عنه انه ادب من فعله فهو محمول على انه انما زجر من جهر به. (فاما المخافتة به) فلابأس بها فمن قال من مشائخنا: ان التلفظ بالنية سنة لم يردبها سنة النبى صلى الله عليه وسلم بل سنة المشائخ لاختلاف الزمان وكثرة الشواغل على القلوب ...... الخ (اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۳۴) (۲)

په هرکیف په مذکوره څلورو مسائلو کی مولانا صبغت الله صاحب چی خپل کوم موقف بیان کی هغه د علمائی دیوبند د موقف څخه مختلف دی او مجموعی طور باندی داخبره واضحه کیږی چی مولانا یی موصوف د علمائی دیوبند د مسلك په کی طور باندی پابند نه دی بلکی په بعضی مسئلو کی د هغه خپل تحقیقات دی چی زیادتر د

---

(۱) اعلاء السنن باب الانحراف بعد السلام وكيفية وسنية الدعاء والذكر بعد الصلوٰة ج: ۳ ص: ۱۲۷، (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۲) اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۴۹ (طبع ادارة القرآن کراچی) د دی مسئلی متعلق مزید تفصیلی دلائلو د پاره وګورئ الدر المختار مع رد المختار ج: ۱ ص: ۴۱۵ (طبع ایچ ایم سعید) او فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۶۵ (مکتبه رشیدیه کویټه) او فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۲ ص: ۱۴۷.

علامه ابن تیمیه او علامه ابن قیم په تحقیقاتو باندی مبنی دی، لهذا په کوم مقام کی مقتدیان حضرات د علمائی دیوبند سره وابسته وی هلته داسی سړی امام مقررول پکار دی چی په کلی طور باندی د علمائی دیوبند د مسلك قائل وی، او که هلته څوك داسی سړی د امامت د پاره موجود وی نو په داسی مقام باندی مولانایی موصوف د امامت مستحق نه دی بیاهم چی کوم لمونځونه یی په ده پسی کړی دی هغه اداء سول. هذاماعندی. والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۲/ ۸/ ۱۴۰۰ ه

(فتوٰی نمبر ۱۲۹۱/ ۳۱ وروسته)

د ذکرسوی جواب د یوڅو خبرو د مزید وضاحت د پاره دوهمه استفتاء او د هغه جواب

سوال: حضرت علامه محمد تقی عثمانی صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ګذارش کول کیږی چی جناب والا د کوم حکم په باره کی د فیصلی د فریقینو یعنی مولوی محمد خان او د هغه ملګرو او صبغت الله او د هغه د ملګرو ورکړی وو، په هغه کی تاسو دالیکلی وه چی که چیری مقتدیان د حضرات علمائی دیوبند سره وابسته وی هلته داسی سړی مقررول پکار دی چی په کلی طور باندی د علمائی د یوبند د مسلك قائل وی او که هلته څوك داسی سړی د امامت د پاره موجود وی نو په داسی مقام باندی مولانایی موصوف د امامت مستحق نه دی، په دی کی سخت اجمال دی، ځکه چی د دی دامطلب هم اخستلی سی، چی ځکه مستحق نه دی چی هغه په دائره اسلام کی نه دی او دا احتمال هم لری چی د اهل السنت والجماعت څخه خارج دی، بیابه داسوال پیداکیږی چی د دی مذکوره فی الفتوٰی څلور مسائلو قائل آیا اهلسنت والجماعت کی شامل نه پاته کیږی؟

او دا امکان هم لری چی د دی مسائلو والا متبع مذهب جنفی نه ګڼل کیږی نو بیابه داشبه پیداکیږی چی آیا څلور مذهبونه چی ټول اهلسنت والجماعت دی، د دوی په یوبل پسی لمونځ صحیح نه دی او فاسد دی؟ حالانکی داوئیل به څومره خراب نتائج پیداکوی به هرحال دا اجمال د ازالی محتاج دی واضحه کولو سره می مطمئن کړئ، ځکه چی موصوف د امامت مستحق نه دی نو بیابه هیڅ څوك په ده پسی هیچری لمونځ

کول جائز نه ګڼي بلکی نه به د هغه څخه تعلیم حاصلوی نه به د هغه د وعظ او نصیحت
اوریدلو د پاره څوك تیاریږی، حاصل داچی په ده باندی او د ده په همخیاله ملګرو
باندی به د دین د خدمت ټولی دروازی بندی سی او د هغه ټول ژوند به په تکلیف کی
وی، خپلوان او اقارب او اغیار به همیشه هغه ته د شك او اشتباه په نظر سره ګوري، که
واقعی هغه د دلیل د مخه مستحق دی نو صحیح ده او که نه د هغه عذر به خدای ﷻ
په نزد باندی جوړسی او د مخالفینو سره به د خدای ﷻ حساب څنګه وی؟ برائی
مهربانی د اصل حقیقت څخه مو په واضح الفاظو کی خبر کړی الله ﷻ دی جزائی خیر
درکړی.

جواب: د کومی استفتاء او د هغه جواب چی تاسو حواله ورکړی ده په هغه کی مولانا
صبغت الله صاحب لره په هغه محله کی غیر مستحق د امامت ګرځولو دامطلب هیڅکله
نه دی چی معاذ الله هغه د اسلام د دائری څخه خارج دی یا په هغه پسی لمونځ
فاسدیږی، بلکی د هغه بنیاد په دی خبره باڼدی وو چی ته پخپلو بعضو تحقیقاتو
باندی اصرار دی چی د علمائی دیوبند د عام مسلك څخه مختلف دی ځکه چی چیری د
علمائی دیوبند سره ابسته خلګ آبادوی هلته د هغه امامت د فتنی موجب جوړیدلی
سی دغه د کومو څلورو نظریاتو په بناء باندی چی مذکوره فتویٰ ورکول سویده هغه
نظریات د علمائی دیوبند د مسلك خلاف دی خو محض د دی څلورو نظریاتو په وجه نه
کوم سړی د اسلام د دائرۍ وځی او نه د اهل السنت والجماعت د دائری څخه خارج
کیدی سی او نه په هغه پسی لمونځ فاسدیږی چنانچی په مذکوره فتویٰ کی داهم لیکل
سوی وه چی کوم لمونځونه په هغه پسی سوی دی هغه اداء سوی دی، البته د هغه فتویٰ
حاصل صرف دادی چی چیری داسی امام موجود وی چی کلی طور باندی د علمائی
دیوبند د مسلك مطابق وی هلته د داسی متفردو نظریاتو حامل د امامت مستحق نه
دی، لهذا د دی فتویٰ په وجه باندی مولانا یی موصوف د اسلام د دائری څخه، یا د
اهل السنت والجماعت څخه خارج ګڼلو باندی د هغه سره د کافرانو یا د غیر اهلسنت
په شان برتاؤ کول.هیڅکله درست نه دی، په اخره کی عرض دی چی د خدای د پاره
هرفریق دی د خپل آخرت فکر وکړی په یوبل باندی د طعن او تشدد څخه پرهیز وکړی
او مسلمانان په هرقیمت د فتنی څخه بچ کړئ.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ شعبان/ ۱۴۰۰ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۱۳۲/ ۳۱ د)

حضور ﷺ حاضر ناظر منونکي په اقتائي کي د لمانځه کولو حکم

سوال: د خپلی محلی په جومات کی د دوو میاشتو څخه د جومات کمیټی یو پمفلیټ
ورکړی دی چی په هغه کی د حضور ﷺ د حاضر ناظر کیدو بیان دی په داسی امام
پسی چی د هغه عقیده داوی چی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: کوم سړی چی د الله ﷻ څخه ماسوا کوم نبی یاولی د پاره د حاضر او ناظر
عقیده ساتی، داسی سړی امام جوړول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۱۱/ ۱۳۹۶ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۴۴۲/ ۲۷ ھ)

ږیره خریونکی امام جوړول

سوال: کوم سړی چی ږیره خرئی یایی لنډوی په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟ او په
تراویحو کی داسی سړی امام جوړولی سی؟

جواب: داسی سړی لره په خپل اختیار سره امام جوړول جائز نه دی [1] او صالح او
متقدین په امام پسی د لمونځ کولو کوشش ضروری دی، بیاهم که د هغه اقتداء نه
کولو په صورت کی د جمع بالکل فوت کیدو اندیښنه وی نو په هغه پسی لمونځ کول د
ځان د لمونځ کولو څخه بهتردی، [2] او په تراویحو کی هم داسی سړی امام جوړول جائز
نه دی، که بل څوك نه وی نو (الم ترکیف) سره ویل ښه دی.

---

[1] ایضاً.

[2] وفی الدر المختار ج:۱ ص: ۵۵۹، ۵۲۰ ویکره امامة عبد .... وفاسق ، وفی رد المختار قوله (وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر ..... وفی المعراج قال اصحابنا لاینبغی ان یقتدی بالفاسق ...... الخ وفیه ایضاً واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا وکذافی مراقی الفلاح ص: ۱۲۵ وفی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۱۸ واما الاخذمنها

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۵/ ۲/ ۱۴۰۹ هـ

(فتوی نمبر ۹۷۵/ ۴۰ ج)

د ږیرې خرونکي امام جوړولو حکم

سوال: که بالغ سړی ږیره، بریت خریي، آیا هغه امامت کولی سي؟

جواب: ږیره خرئیل موجب د فسق دی او داسی سړی پسی لمونځ مکروه دی (۱) بیا هم چی کوم لمونځ ورپسی وسی هغه صحیح سو.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۶/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۵۷/ ۲۸ ب)

د یو موټي څخه د کمي ږیرې والا د امامت حکم

سوال: زموږ امام لږ جدت پسند دی، هغی دیندار سړی دی خو ږیره د یوموټی څخه کمه ساتی ورسره هغه بعضی فلمونه جائز ګڼی په کومو فلمونو کی چی حج وغیره ښوول کیږی په ده پسی لمونځ کولو څه حکم دی؟

جواب: د یوموټی څخه کمه ږیره کټ کول ناجائز دی کوم سړی چی په دی باندی اصرار وکړی په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. (۲) والله اعلم بالصواب

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۳/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

وهی دون ذالك كما فعله بعض المغاربة مخنثة الرجال فلم يبحه احد واخذ كلها فعل يهود الهنود والمجوس الاعاجم، وفيه ايضاً ج: ۱ ص: ۵۲۲ صلی خلف فاسق او مبتدع او نال فضل الجماعة قال الشامي تحته (قوله فال فضلة الجماعة) افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد لكن لاينال كماينال خلف تقی ورع وكذافی كفاية المفتی ج: ۳ ص: ۷۹، ۹۹ (طبع دار الاشاعت) او فتاوی دار العلوم ديوبند ج: ۳ ص: ۲۲۲، ۲۴۰.

(۱) ایضاً.

(۲) ایضاً.

(فتوی نمبر ۱۳۸۷ ۱۸ الف)

د یو موټي څخه کمي ږیرې والا په اقتداء کي د لمانځه حکم

سوال: د یوموټی څخه کمه ږیره ساتونکی پسی لمونځ کول پکار دی او که نه؟

جواب: د موټی څخه کمه ږیره کټ کول ګناه ده داسی سړی پسی لمونځ کول مکروه دی (۱) خو که داسی سړی پسی لمونځ وسو نو لمونځ وسو او که څوك متشرع امام پیدا نسی نو په هغه پسی لمونځ کول د ځانته لمونځ کولو ښه دی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۷/ ۵/ ۱۳۹۷ هـ

د یو موټي څخه کم ږیره پریښوونکي پسي د لمونځ کولو حکم

سوال: یوبریلی د کوم سړی د جنازی لمونځ وکی د هغه ږیره د یوموټی څخه کمه ده، بنده ورته ووئیل چی په داسی سړی پسی د جنازی لمونځ هیڅ کله نه کیږی، د بنده ویناصحیح ده او که غلطه؟

جواب: ږیره د موټ څخه لوړه کټ کول ناجائز دی (۳) او کوم سړی چی د دی ناجائزه کار مرتکب وی په هغه پسی لمونځ مکروه دی (۴) خو که کوم لمونځ په هغه پسی وسو نو د لمانځه سره کراهت وسو، د هغی اعاده واجب نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ۱۰/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۴۲۵/ ۲۷ هـ)

---

(۱) ایضاً.

(۲) د تیری صفحی حاشیه وګوری.

(۳) ایضاً.

(۴) د تیری صفحی حاشیه وګوری.

په عرش باندی د الله ﷻ د جسماني تیام عقیده ساتونکي سړی د امامت حکم

سوال: موږ ټولی محلی والا حنفی المسلك یو او زموږ چی کوم پیش امام وو هغه هم د حنفی مسلك دعویداروو، خو دوه کاله سوی دی چی هغه سعودی عرب ته ولاړی هلته یی تقریباً د یو کال څخه زیاته موده تیره کړله او هلته مبلغ هم پاته سوی دی، کله چی بیرته رالی نو د هغه څخه داسی احوال او اقوال صادر سوی دی چی د هغه څخه معلومیږی چی هغه غیر مقلد دی، بلکی حنفی المسلك بالکل نه دی، ځکه چی هغه په صفا الفاظو کی دا وایی: چی موږ ته کله حدیث نبوی راکول کیږی، نو موږ د کوم سړی تابعداری نه کوو، د دی څخه علاوه د سهار د سنتو او فرضو په مینځ کی تحیة المسجد کول، اوقات مکروهه کی لمونځ ته صحیح وئیل، بلکی د فرض لمونځ څخه وروسته دعاته بدعت وئیل، د خوراك څخه وروسته کوربه ته د خیر دعاء کول، د مړی کورته تلل او د مړی وارثانو ته دعاکول بدعت ګڼی او د حدیث (لاتشد الرجال) څخه دلیل پیش کوی، الله ﷻ لره په عرش باندی د مکان او قیام قائل دی.

د پورتو اقوالو او افعالو څخه وروسته داسړی امام ساتل صحیح دی او که بری سی هرکله چی زموږ د ټولو علماوو هم د هغه د اخواکولو مشوره راکړی ده، خو مولوی موصوف د شرعی حکم څخه بغیر نه اخواکیږی، په جومات کی یو وار دوه جنګ هم سوی دی او د ګورنمنټ څخه موصوف د عدم مداخلت فی المسجد ضمانت هم اخستی دی، آیا د محلی خلګ مولوی صاحب د اخواکولو حق لری او که نه؟ او د ټولی محلی خلګ په ده باندی ناراضه دی نو څه حکم دی؟

جواب: په سوال کی چی د امام موصوف طرف ته کوم خیالات منسوب سوی دی، که واقعاً د دغه امام صاحب عقائد او خیالات همدغه وی نو هغه د حنفی مقتدیانو امام مقررولو درست نه دی، خاص طور که هغه د باری تعالی د پاره په عرش باندی د جسمانی قیام عقیده لری نو دا د اهلسنت والجماعت د عقائدو قطعی خلاف دی، د

داسی عقیدی والا امام پسی لمونځ کول نه دی پکار ([1]) د هغه په ځای بل څوك صحیح العقیده امام دی متعین سی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۰۰/۸/۴ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۴۹/ ۳۱ ج)

د معراج جسماني قائل په اقتداء کي د لمانځه حکم

سوال: یوسړی داوایی چی صحیح مذهب دادی چی معراج جسمانی دی او هغه وایی چی کوم خلګ د معراج روحانی قائل تیر سوی دی د هغوی هغه سړی تکفیر نه کوی داسی سړی سره څه سلوك کول پکار دی؟ ایا د امامت حقدار کیدی سی؟ خپل ځان ته حنفی دیوبندی وایی؟

جواب: د جمهور اهلسنت عقیده داده چی معراج جسمانی دی ([2])، کوم سړی چی د معراج جسمانی منکروی هغه فاسق او مبتدع دی خو که د اسراء جسمانی قائل دی نو کافر نه وی ([3]) لهٰذا د مذکوره بالاصاحب عقیده درسته ده او هغه پسی لمونځ صحیح دی. والله اعلم

([1]) ځکه چی فسق اعتقادی د فسق عمل څخه زیات بد دی لکه چی حلبی کبیر شرح المنیه ص: ۵۱۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) کی دی: ویکره تقدیم المبتدع ایضا لانه فاسق من حیث الاعتقاد وهواشد من الفسق من حیث العمل.

([2]) وفی شرح المسلم للنووی ج: ۱ ص: ۹۱ (طبع قدیمی کتبخانه) والحق الذی علیه اکثر الناس ومعظم السلف وعامة المتأخرین من الفقهاء والمحدثین والمتکلمین انه اسری بجسده محمد ﷺ ولاثار تدل علیه وفی تفسیر المظهری سورة الاسری ج: ۵ ص: ۴۰۱ والاکثرون علی ان الله تعالی بعبده محمد ﷺ لیلة المعراج بجسدهِ فی الیقظة بتواترث الاخبار الصحیحة وعلیه انعقد الاجماع ولوکان المعراج فی المنام لما انکر علیه قریش اذلا استبعاد فی الرؤیا .... الخ، وفی اسر التفاسیر ج: ۲ ص: ۵۸۱ تحت الایة: سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ، الایه، تقریر عقیدة الاسراء والمعراج بالنبی ﷺ بالروح والجسد معًا من المسجد الحرام الی المسجد الاقصیٰ ثم الی السمٰوٰت العلی، ومزید تفصل د پاره وګورئ د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب رساله تنویر السراج فی لیلة المعراج او د معارف القران تفسیر ج: ۵ ص: ۴۲۲.

([3]) د مکی څخه تربیت المقدس د اسرا جسمانی منکر کافر دی او د بیت المقدس څخه ترآسمانه پوری د معراج جسمانی منکر کافرنه دی فاسق او ګمراه دی چونکی په مذکوره سوال کی امام صاحب د

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۳/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ
(فتوىٰ نمبر ۱۳۸۲/ ۱۸ الف)

الجواب الصحیح: په قرآن مجید کی ترمسجد اقصیٰ پوری په یوه شپه کی د سیر کولو تصریح ده، او د لفظ (عبده) سره دی، چی جسمانی طور سیر کولو د پاره بالکل واضح او صریح دی لهذا د مسجد اقصیٰ پوری د جسمانی سیر منکر به کافر وی، ملاعلی قاری په شرح فقه اکبر کی ص: ۱۳۵ باندی لیکی: من انکر المعراج ینظران انکر الاسراء من مکة الی بیت المقدس فهو کافر (۱)، او علامه تفتازانی په شرح عقاید کی لیکی: وقوله الی السمآء اشارة الی الرد علی من زعم ان المعراج فی الیقظة لم یکن الا البیت المقدس علی مانطق به الکتاب (۲). بنده محمد عاشق الٰهی عفی عنه

په شيعه پسي لمونځ کول

سوال: زموږ په محله کی د شیعه ګانو او سنیانو ابادی یوځای ده که موږ جلا جمع کوو نو په خپل مینځ کی د جنګ خطره ده که موږ د مصلحت د وجی په هغوی پسی لمونځ وکی نو جائز دی او که نه؟ یافرداً فرداً لمونځ وکی؟

جواب: شیعه ګانو پسی لمونځ کول جائز نه دی (۳) د هغوی عقائدو څخه په قطع نظرهم که وکتل سی نو د لمانځه احکام دومره مختلف دی چی د اهل سنت سره یی د لمانځه د

معراج جسمانی د منکر تکفیر نه کوی لهذا دا درست دی، ځکه چی د معراج جسمانی منکر کافر نه دی بلکی فاسق دی. البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۹ (طبع ایچ ایم سعید) کی دی: ومن انکر الاسرأ من مکة الی بیت المقدس فهوکافر ومن انکر المعراج من بیت المقدس فلیس کافر.

(۱) الفقه الاکبر ص: ۱۰۰ (طبع دار الکتب العربیة الکبریٰ)

(۲) شرح عقائد ص: ۱۴۵ (طبع قدیمی کتب خانه)

(۳) وفی الکفایة شرح الهدایه ج: ۱ ص: ۳۰۵ ویکره الاقتداء بصاحب الهوىٰ والبدعة والحاصل ان کل من کان من اهل قبلتنا ولم یفصل فی هواه حتیٰ یحکم بکفرهِ تجوز الصلوٰة (مع الکراهة التحریمة) خلفه وان کان هویٰ یکفر اهلها کالجهی والقدری الذی قال بخلق القرآن والرافضی الغالی الذی ینکر خلافة ابی بکر لاتجوز، وفی البحر الرائق (ج: ۱ ص: ۴۳۸ الامامة) وکره امامة للعبد والاعرابی والفاسق والمبتدع وفیه ایضاً ج: ۱ ص: ۳۴۹ (المبتدع بان لاتکون بدعته تکفره، فان کانت تکفره فالصلوٰة خلفه لاتجوز، وفی البحر الرائق ایضاً ج: ۱ ص: ۳۴۹ والرافضی ان افضل علیا علی غیره فهو مبتدع. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۸۴ (طبع مکتبه رشیدیه کوټه) قال المرغینانی: تجوز الصلوٰة

اتحاد څه شکل نسته، لهذا کوشش دی وسی چی اهلسنت حضرات دی خپل ځان ته جلا جومات جوړکړی او په هغه کی دی د جمع سره لمونځ اداء کوی. او ترڅو چی دا ممکن نه وی د چاپه کورکی دی جمع کوی. والله اعلم
الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۶/ ۵/ ۱۳۸۸ هـ
(فتوىٰ نمبر ۲۱۸ / ۱۹ الف)

د شيعه سره د خپلي لور نکاح کوونکي پسي د لمانځه حکم

سوال: ګذارش دادی چی د سنی عقیدی سره منسلك سړی د خپلی لور نکاح سره د عوامو او خواصو او خپلوانو منع کولو څخه د یوشیعه سره یی وکی او د خپلو هلکانو نکاح یی د شیعه انجونوسره وکړله، حالانکی د زوم او انګوریانو شیعه کیدل یی مشهور دی، د دی شیعه زوم د شیعه ګانو په مدرسو کی تعلیم حاصلول واضح دی، ورسره د شیعه مسلك سره منسلك مدرسی اهتمام هم، د هغه سره دی د شیعه ګانو څخه چندی اخلی د شیعه ګانو سره یی نژدی روابط دی د شیعه ګانو امام او خطیب او ذاکر هم دی؟

جواب: طلب د امرادادی چی د اهلسنت والجماعت د علمائی کرامو د فتوىٰ مطابق اثناء عشری شیعه امامت، عصمت ائمه کرام تحریف قرائت وغیره په شان امورو د وجی کافردی او مرتد دی، د دوی سره د مرتدانو په شان معاملات کول پکار دی، په جمعی سره لمونځ ترك کولو څخه د بچ کیدو د پاره د هغه په امامت کی کله کله لمونځ جائز کیدی سی؟ هرکله چی داسړی خپل ځان ته سنی وایی او شیعه ګان په خپله ژبه غلط ګنی او دا وایی چی زما زوم د پیسو د پاره شیعه سوی دی، څه حکم دی؟

جواب: شیعه ګان که کافرانه عقیده ساتی یایی نه ساتی په دواړو صورتونو کی د کوم سنی د پاره د هغوی سره نکاح هیڅکله جائز نه ده او په مخکی صورت کی ورسره نکاح منعقد کیږی هم نه، اوس چی کوم سړی ته د دین د عقائدو د

خلف هویٰ وبدعة ولاتجوز خلف الرافضی والجهی ..... الخ. وفی الکبیری شرح المنیة ص: ۵۱۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

ویکره تقدیم المبتدع ایضاً لانه فاسق من حیث الاعتقاد وهو اشد من الفسق من حیث العمل.

اهمیت دومره هم احساس نسته هغه سړی د امام جوړولو قابل نه دی (۱) بیاهم که څه وخت په داسی سړی پسی لمونځ وسی نو د کراهت سره به لمونځ وسی، د اعادی ضرورت بی نسته.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۱۰/۱۱/۱ ھ

(فتوی نمبر ۲۳۹/ ۴۱ ز)

د لواطت مرتکب د امامت حُکم

سوال: یو امام دی چی واده یی هم سوی دی، د یوهلك سره یی لواطت وکی او په هغه باندی د دوو عادلو لمونځګذارو ګواهی ورکړله، داټوله قصه می د کلی مولوی صاحب ته بیان کړله د پیش امام څخه یی په دی باره کی معلومات حاصل کی، نو پیش امام جرم اقرار وکی، وروسته پیش امام د خپلی وعدی څخه خلاف سو او په ټولو خلګو کی د دی خبری تشهیر وسو، د هغه څخه وروسته دغه پیش امام یو لمونځ ورکی آیا څه صورت سته چی مذکوره امام بیرته په خپل منصب راوستل سی؟

جواب: د لواطت مرتکب فاسق دی هغه پسی لمونځ کول مکروه دی (۲)، که لمونځ ورپسی وسی نو لمونځ به وسی او ترڅو چی هغه سړی توبه ونه باسی په هغه پسی لمونځ جائز نه دی، که هغه د زړه په صدق سره توبه وکاږی نو هغه امام جوړولی سی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۷/۱/۲۷ ھ

(فتوی نمبر ۱۳۷۲/ ۱۸ الف)

الجواب الصحیح خو د یومسلمان د ګناه تشهیر صحیح نه دی صرف دومره کافی وو چی هغه یی د امامت څخه معزوله کړی وی. محمد عاشق الهی.

---

(۱) ایضاً.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۶۰ ویکره امامت عبد ..... وفاسق، وفی الشامیة (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة، ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی ..... الخ وراجع ایضاً البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ والهندیة جلد ۱: ص: ۸۴.

ښکنځل کوونکي لره د امام جوړولو حکم

سوال: یو امام بدګویه زر مشتعل ګندونکی او د درد او قابو څخه بهر کیدونکی دی، ورسره د غیبت او دروغ ګویی هم عادی دی د داسی امام په اقتداء کی لمونځ کیږی او که نه؟ د یوامام چی په هغه پسی د هغه د اخلاقی کمزوریانو په وجه د لمانځه کولو طرفته زړه نه مائله کیږی او دوهم جومات هم نژدی نه دی نو آیا په داسی امام پسی جمعی سره لمونځ اداء کول به صحیح وی او که نه؟

جواب: د سب او شتم عادی، دروغ ویونکی او غیبت کوونکی فاسق دی په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی (۱) ترڅو چی د دی ګناهونو څخه ونه کاږی خو چی کوم لمنځونه ورپسی سوی دی هغه اداء سوی دی، د هغه راګرځول ضروری نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۷/۱۱/۲۷ ھ

(فتوی نمبر ۱۳۷۲/ ۱۸ الف)

د امام په سپکاوی کوونکی د هم هغه امام په اقتداء کي لمونځ کول

سوال: په یوسړی په امام پسی هروخت لګیاوی د هغه بدوایی او بیاهغه په هغه پسی لمونځ هم کوی داجائز دی او که نه؟

جواب: پیش امام د احترام لائق دی، د هغه بی عزتی کول جائز نه دی بدی وئیل د هرمسلمان بد دی خاص طور د پس امام بدوئیل نورهم قبیح دی خو په دی سره د هغه پیش امام پسی د بدویونکی لمونځ نه فاسدیږی.

سوال: یوسړی د پیش امام د وهلو د پاره لاس لوړوی او بیاهم هغه د هغه پسی لمونځ کوی نو جائز دی او که نه؟

جواب: تیر جواب ملاحظه کړئ.

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۶۰ (ایچ ایم سعید) ویکره امامة عبد ..... وفاسق ..... الخ. وفی الدر المختار ایضاً ج: ۱ ص: ۵۲۲ صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، وقال الشامی تحته (قوله نال فضل الجماعة) افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد لکن لاینال کما ینال خلف تقی ورع، وکذا فی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸، ۳۴۹ والهندیة ج: ۱ ص: ۸۴.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٧/ ١/ ١٣٨٨ ھ

(فتوئ نمبر ٧٧/ ١٩ الف)

د فسقيه افعالو مرتکب لره امام جوړول

سوال: يوپيش امام چی ښځوته کوډې تعويذونه کوی او اکثره او بيشتر وخت د ښځو په مينځ کی تيروی، خپل ځان غير شادی شده ظاهرولو سره د واده؟ خواهش لری او د انجونو عکسونه هم راغواړی اوګوری يی او دروغ وئيلو هم عادت وی نو آيا داسی پيش امام پسی لمونځ کيدی سی؟

جواب: کوم سړی چی د دروغو وئيلو، دهوکه ورکولو او نامحرمه ښځو سره آزاد راتګ کول د دی مرتکب وی هغه پسی لمونځ کول مکروه تحريمی دی (١) ترڅو چی د خپلو ګناهونو څخه توبه ونه کاږی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٣/ ٢/ ١٣٨٨ ھ

(فتوئ نمبر ٢٣٨/ ١٩ الف)

ښکنځل کوونکي سړی خپل امام جوړولو حکم

سوال: يومستفتی ډير اوږد خط وليکی چی په هغه کی د اصل سوال خلاصه داده چی:

١: يوسړی ښکنځل، دروغ بيانی او هروخت د جنګ جګړی مرتکب وی د هغه د دی افعالو څخه تنګ راتلوسره مستفتی بيل جومات جوړ کړی دی ايا په دی کی د جمعی لمونځ جائز دی او که نه؟

٢: د داسی کارونو والا امام پسی د لمانځه کولو حکم څه دی؟

---

(١) وفی الدر المختار ج: ١ ص: ٥٥٩، ٥٦٠ ويکره امامة عبد ...... وفاسق، وفی الشامية (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المرادبه من يرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی وکذافی البحر الرائق ج: ١ ص: ٣٤٨ والهندية ج: ١ ص: ٨٤.

جواب: مستفتی چی بيل جومات جوړ کړی دی که په دی کی ټولو خلګوته د راتګ اجازت عام وی نو په دی کی د جمعی لمونځ کيدی سی.

٣: کوم سړی چی ښکنځل دروغ بيانی او جنګ جګړی کوی، هغه فاسق دی ترڅو چی هغه د دی افعالو څخه اعلانيه توبه ونه باسی په هغه پسی لمونځ جائز نه دی (١) مسلمانانو ته پکار دی چی هغه په نرمی سره پوه کړی او که منع نه سی نو د هغه څخه دی د بيزاری اظهار وکی، (ستا د دی دومره طويل خط څخه دا دوه معقول سوالونه په ذهن کی راځی چی د هغه جواب وليکل سی).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

٢٤/ ١/ ١٣٨٨ ھ

(فتوئ نمبر ١٢٢/ ١٩ الف)

د کوم جومات په امام پسي لمونځ کول اولی دی؟

سوال: يوجومات نوی جوړيږی د خلګو عقيده د حضور ﷺ د حاظر او ناظر کيدو ده او په ولاړه سره سلام وئيلو ده هغه خلګ ماته په دی جومات کی د لمانځه کولو دعوت راکوی چی قرآنی آيتونه او احاديث ويلو سره او د دريدلو لره څوک نسی منع کولی هرکله چی زه د مخکی څخه په يوجومات کی لمونځ کوم زما د پاره څه حکم دی؟

جواب: د کوم جومات امام چی صحيح العقيده او عملی اعتبار سره زيات متقی او پرهيزګاره وی په هغه کی لمونځ کوه (٢).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

٢٦/ ٣// ١٣٩٧ ھ

(فتوئ نمبر ٣٥١/ ٢٨ ب)

---

(١) د تيری صفحی حواله وګورئ.

(٢) وفی الدر المختار ج: ١ ص: ٥٥٧ (طبع ايچ ايم سعيد) والاحق بالامامة تقديمًا بل نصبا مجمع الانهر (الاعلم باحکام الصلوة) فقط صحة وفسادًا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة، وفی الشامية (قول بشرط اجتنابه للفواحش) الاعلم، بسنة اولی الا ان يطعن عليه فی دينه ...... الخ.

د خپل ځان او د بل سړی تصویر ایستونکي په اقتداء کي د لمانځه حکم

سوال: عرض دادی چی د رمضان المبارك په میاشت کی په یو جومات کی یو حافظ قرآن صاحب چی په جومات کی د تراویحو لمونځ کوی هم په دی جومات کی پیش امام او د جومات په مدرسه تعلیم القرآن کی مدرس هم دی، د حافظ صاحب د اعانت د پاره یو نائب مدرس هم دی چی د همدی حافظ صاحب شاګرد هم دی، د ۲۷ رمضان په شپه د ختم قرآن په مجلس کی کوم ماشومانو چی په دی کال قرآن شریف ختم کړی وو او کوم ماشومان چی به مایك ته راتلل، تلاوت به یی کوی هغه ماشومانو ته به د خطیب مسجد په لاس انعام ورکول کیدی، په دی وخت کی نائب مدرس تصویرونه کښل شروع کړل، چی په هغه باندی یوسړی فوراً د تصویر څخه منع کی، او خطیب صاحب مخاطب کولو سره یی ورته وفرمائیل: چی آیاپه جومات کی تصویر کښل جائز دی؟ خطیب صاحب ووئیل چی مکروه دی، د دی څخه وروسته هغه نائب مدرس دی صاحب ته (چاچی منع کړی وو) خواته رالی او وی وئیل، چی د حافظ صاحب په اجازت سره کیمره کی ریل ډك سوی دی زه به تصویر وباسم، حالانکی ده ته ووئیل سول چی دوباره د حافظ صاحب څخه پوښتنه وکړه، خو ده ضد شروع کی کله چی حافظ صاحب د تقریر د پاره ودریدی نو د هغه یی د څو اړخونو څخه تصویر واخستی، حافظ صاحب هغه منع نه کی، وروسته په دوهمه ورځ په قرآن پاك لاس ایښوولو سره قسم واخستی چی نه خو ما اجازت ورکړی دی او نه می ریل ډك کړی دی، ایا په جومات کی تصویر کښی جائز ده؟ د داسی امام په اقتداء کی چاچی په قسم اخستو سره خپله صفائی پیش کړله لمونځ کول جائز دی؟

جواب: خپل تصویر اخستل او د بل چا تصویر اخستل د جومات څخه د باندی هم ناجائز دی خاص طور جومات په دی ناجائز فعل سره ګنده کول نورهم ګناه ده که واقعاً د هغه په اجازت سره ریل ډك سوی وو او هغه تصویر واخستی په کتلو سره د قدرت باوجود منع نه کی او د دی باوجود یی قسم واخستی چی زما په اجازت سره یی تصویر نه دی اخستل نو هغه د سختی ګناه ارتکاب وکی که هغه په دی ګناه د الله ﷻ څخه

توبه وکاږی نوشیان که هغه اصرار وکړی نو هغه په خپل اختیار سره امام جوړول نه دی پکار [1] بیاهم کوم لمونځونه چی هغه پسی کړی دی هغه اداء سول.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۱/ ۱۴۰۸ ھ

(فتوی نمبر ۲۳۴۰/ ۳۹ ن)

دروغ ویونکي پسي د لمانځه حکم

سوال: که امام دروغ ووایی یاپه دروغو قسم اخلی نو هغه پسی لمونځ کول جائز دی او که نه؟ او د دی به څه سزاوی؟

جواب: کوم سړی چی دروغ وایی یا په دروغو قسم اخلی هغه د ګناه کبیره مرتکب دی او فاسق دی ترڅو چی د هغه ګناهونو څخه توبه ونه کاږی یا ترهغه وخته پوری هغه امام جوړول جائز نه دی د شرعی سزاګانو د نافذولو اختیار صرف اسلامی حکومت ته دی عواموته نسته [2].

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۱۱/ ۱۳۸۷ ھ

(فتوی نمبر ۱۳۲۷/ ۱۸ الف)

د بدعتي او مجهور ویونکي پسي د اقتداء حکم

سوال: یوسړی همیشه د جمعی لمونځ تارك دی، بدعتی دی، قرآن مجید غلط وایی داسی غلط چی معنی ورسره غلطیږی، حراموته حلال وایی، پرده د ښځو د پاره غیر

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۶۰ (طبع ایچ ایم سعید) ویکره امامة عبد ..... وفاسق، وفی الشامیة قوله (وفاسق) من الفسق وهو الخروج من الاستقامة، ولعل المراد من یرتکب الکبائر ..... وفی المعراج قال اصحابنا لاینبغی ان یقتدی بالفاسق ..... الخ فیه ایضاً، واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه الامامت تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعاً، وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۲۲ ویکره تقدیم العبد .... والفاسق لانه لایهتم لامردینه ..... وان تقدموا جاز لقوله ﷺ: صل خلف کل بر وفاجر........ الخ.

[2] وګورئ الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۵۴۹ (طبع سعید).

ضروري ګڼي، د مسلمانانو سره بایکاټ کولو باندې خلګوته د خیر دعاء کوي د یوسړي په واده کې ډمان او مجلس راغلي وو، خلګوته ورته ووئیل: چې موږ ستا د دعوت خوراك نه خورو ځکه چې تا د بدعت کار کړی دی، خو دا مذکور سړی شریك سو او وایي چې خوراك جائز دی، اوس د ده د امامت په وجه په خلګو کې د جنګ کیدلو خطره ده، هغه خپل اکاته هم دؤس وئیلي دي، یوسړي قسم اخستوسره ووئیل چې ده لواطت هم کړی دی، په قبرکې نورنامه ایښوول جائز ګڼي د داسې سړي اقتداء څنګه ده؟

جواب: د مذکوره سړي په باره کې چې کومې خبرې په سوال کې درج دي که درست وي نو په داسې سړي پسې لمونځ کول مکروه دي او داسې سړی امام جوړول درست نه دی ځکه چې په مذکوره خبروکې ډیرې د فسق موجب دي لهذا داسې امام بدلول پکار دي (۱) خو ترڅو چې د بل نیك او صحیح العقیده امام انتظام نه وي نو ترهغه وخته پورې چې کوم لمونځونه به هغه پسې کول کیږي هغه به وسي او که په بل امام پسې لمونځ کول ممکن نه وي نو په دې امام پسې لمونځ کول د ځانته لمونځ کولو ښه دي (۲).

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۹/۲/۱۳۹۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۸/۲۳۲ ب)

د جماعت اسلامي د رکن په اقتداء کې د لمانځه حُکم

سوال: د ځومیاشتو ځخه دامهم راروان دی چې د جماعت اسلامي او د هغه اهلکارو پسې د لمانځه اقتداء صحیح نه ده او څرنګه چې تاسوته معلومه ده چې دافتوىٰ هزاروی ګروپ صادره کړې ده ایا دافتوىٰ صحیح ده او که غلطه؟

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹ ، ۵۲۰ ویکره امامة عبد ..... وفاسق وفی ردالمختار قوله (وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر ..... وفی المعراج قال اصحابنا: لاینبغی ان یقتدی بالفاسق ..... الخ.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۲۲ صلی خلف فاسق او مبتدعی نال فضل الجماعة وقال الشامی تحته (قوله نال فضل الجماعة) فاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد لکن لاینال کما ینال خلف تقی ورع.

جواب: د جماعت اسلامي د امیر بعضې نظریات د جمهور اهلسنت خلاف وي خاص طور په بعضې انبیاء علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې کوم تنقیص امیز تنقید چې هغوی کړی دی په دې سره د اهلسنت متفقه عقاید مجروح کیږي، لهذا کوم سړي چې د هغوی د دې خیالاتو سره متفق وي د هغه د امام جوړولو ځخه احتراز وکړئ، او کوم سړي صحیح العقیده مسلمان د امام جوړولو کوشش پکار دی خو که څه وخت داسې امام میسرنه وي او د جماعت اسلامي د امیر د خیالاتو کوم سړي لمونځ ورکې نو لمونځ به وسي ځکه چې لمونځ په هرمسلمان پسې کیږي (۱). والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۹/۱۲/۱۳۹۰ هـ

(فتوىٰ نمبر ۱۸/۱۸۸ الف)

انجلي خرڅوونکي پسې د لمونځ کولو حکم

سوال: یوسړی مسمّیٰ احمد دین چې د یوکلي پیش امام هم دی د پنځه ویشتو کسانو په مخکې قرآن باندې لاس ایښوولو سره وعده کوي چې ماخپله مځکه په فلاني سړي باندې په دومره روپو خرڅه کړې ده، څه رقم مې نقد هم وصول کړی دی اوباقي به په وخت د بیع نامه باندې وصولوم، دوې میاشتې وروسته مسئلې مذکور خپلې وعدې ځخه منحرف سو چې زه مځکه نه درکوم، مسمّیٰ مذکور خپله لور خرڅه کړې وه چې د هغه عوامو ته تراوسه هم علم نه دی سوی او رقم یې اخستلو سره هضم کړی دی چې د یوزوندې خاوند ښځه وه او بدستور امامت هم کوي آیا داسې پسې اقتداء درسته ده؟

جواب: داسې سړي چې د وعده خلافۍ او د انجلي خرڅوونکۍ او د نورو رقم په ناجائزه طور سره د خوړلو مرتکب وي فاسق دی او ترڅو چې هغه د دې ګناهونو ځخه اعلانیه

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۲۲ صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، وقال الشامی تحته افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد ...... الخ همدارنګه د مکمل تفصیل د پاره د مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله کتاب جواهر الفقه ج: ۲ ص: ۱۷۳ وګورئ.

توبه ونه کاږي په هغه پسې لمونځ کول جائز نه دی [١] خو که په څه وجه ورپسې لمونځ
وسو نو لمونځ به وسی واجب الاعاده به نه وی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٣٨٨/١/٢٣ هـ

خائن سړی لره د امام جوړولو حکم

سوال: په یو سړي کی لاندینی عیوب موجود دی:

١: د دروغو وئیلو عادی دی.

٢: نام نهاد د مدرسی د طالبانو او یتیمانو په نوم زکوٰة، فطر، صدقه، خیرات د قربانی څرمني او عشر وغیره وصولوی او ناجائزه طریقی سره یی په خپل مصرف کی راولی، حالانکی تنخواه د دی څخه علاوه اخلی، داخبری عامو خلکو ته معلومی دی چی د هغه په وجه د خلکو اعتماد د هغه څخه لوړ سو.

٣: د خپلو عیبونو د پټولو د پاره په نورو باندی بی باکانه طور باندی تهمت لګوی، آیا په ده پسی لمونځ صحیح دی؟

جواب: که واقعاً په کوم سړی کی برنی عیبونه پیداکیږی نو د هغه امام جوړول جائز نه دی [٢].

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

---

[١] وفی حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ٨١ (مطبعه مصطفی البابی مصر) (و) لذاکره امامة الفاسق العالم لعدم اهتمامه بالدین فتجب اهانته شرعاً فلایعظم بتقدیمه للامامة، قال الطحطاوی: فتجب اهانته شرعاً فلایعظم بتقدیمه للامامة تبع فیه الزیلعی ومفاده کون الکراهة فی الفاسق تحریمیة وفی الدر المختار ج: ١ ص: ٥٥٩، ٥٦ (ویکره امامة عبد .... وفاسق) وفیه رد المختار (وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة، ولعل المراد به من یرتکب الکبائر، وفیه ایضاً، واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایحتم لامردینه وبان فی تقدیمه تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعاً، وکذافی الفتاوٰی دار العلوم دیوبند ج: ٣ ص: ١٣٢.

[٢] د تیری صفحی دوهمه حاشیه وګوری.

١٣٩٠/١٠/٢٢ هـ

(فتوٰی نمبر ١٢٢/ ٢١ الف)

د ماما ښځه خوابدی سړی پسي لمونځ کول

سوال: یو سړی د خپل ماما ښځه قرآن شریف وئیلی دی اوس د هغه ښځه ماما دورمه سخت ناراضه دی او خپل حقوق هغه ته نه بخښي ایا اوس په دی سړی پسی لمونځ کول جائز دی؟ هرکله چی ده ته یی ماما د خپلولی د حق حقوق هم نه بخښی؟

جواب: که مامایی په شرعی معقول عذر سره ناراضه دی نو په ده باندی واجب دی چی د هغه د راضی کولو کوشش وکړی او په ده پسی د لمونځ کولو مسئله په دی باندی موقوف ده چی د ماما د خفګان وجه معلومه وی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٣٨٨/٢٤ هـ

(فتوٰی نمبر ١٢٥/ ١٩ الف)

په ناخبری کي که په بریلي امام پسي لمونځ وسي نو څه حکم دی؟

سوال: یوسړی یوجومات ته د جمعی لمونځ د اداء کولو د پاره ولاړی هغه ته دامعلومه نه وه چی داجومات د کوم مسلك د خلکو دی، وروسته ورته معلومه سوه چی امام صاحب د بریلی مسلك سره تعلق ساتی، په داسی امام پسی لمونځ کول پکار دی او که نه؟ که لمونځ یی ورپسی وکی نو هغه لمونځ به اداسی او که نه؟

جواب: د لمونځ کولو د پاره داسی امام منتخب کول پکار دی چی صحیح العقیده وی، بیاهم که د بریلی مسلك سره تعلق لرونکی سړی پسی یی په ناخبرتیا کی لمونځ وکی، یا د ده څخه علاوه بل چیری د جمعی پیداکیدل ممکن نه وه، نو په دی حالت کی سوی لمونځ اداء سو. [١]

والله سبحانه اعلم

١٤٠١/١١/١٥ هـ

(فتوٰی نمبر ١٧ / ٣٢ ج)

---

[١] وفی الدر المختار ج: ١ ص: ٥٢٣ (طبع ایچ ایم سعید) صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة وقال الشامی تحته (قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوٰة خلفها اولی من الانفراد.... الخ.

د جرګي فیصله مقدمه ده یا د جمعي سره لمونځ؟

د شور جنګ په وجه د جمعي لمونځ ماتول

سوال: د لمانځه وخت سوی وو او مولوی صاحب جومات ته مخامخ جرګی کی ناست وو، مولوی صاحب ته دوه واره آواز وسو چی د لمانځه وخت دی، خلک انتظار کوی، په دی باندی مولوی صاحب ووئیل: د فرض لمانځه څخه مخکی د جرګی فیصله اهمیت لری، د آینده د پاره د داسی مولوی صاحب اقتداء جائز ده او که نه؟

۲: د مازیګر جمعه ولاړه وه مولوی صاحب پخپله لمونځ ورکی، مجله کی شور او جنګ سو، مولوی صاحب فوراً لمونځ مات کی او د جومات څخه ووتی، داسی مولوی صاحب پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: د جرګی فیصله کولو د پاره جمعه پریښوول جائز نه دی، خو داچی مسئله داسی وی چی هغه فیصله په مینځ کی: پریښوولو د وجی د څه لویی فتنی یافساد خطره وی، لهذا د مسئلی جواب د دی فیصلی په صحیح نوعیت باندی موقوف دی.

۲: صورت مسئوله کی لمونځ ماتول جائز نه وو، کوم امام صاحب چی داسی کړی دی هغه ته په خپل دی عمل توبه او استغفار کول پکار دی او که هغه داسی وکړی نو په هغه پسی لمونځ کولو کی څه خبره نسته. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۲/۱۰/۵ هـ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۳۴۲ هـ)

د سیاسي اختلاف په وجه د امامت څخه معزوله کول

سوال: زید د خپل پلارنیکه د وختو څخه یوی محلی کی امام راروان دی، ښه عالم دی، ماشومانو ته ښه قرآن ښایی، د محلی دوه دری کسان چی د اثر اورسوخ والادی او دپیپلز پارټی والادی هغوی د امام صاحب مخالف دی، د امام صاحب حامیان غریب عوام دی او د هغه دوه دری کسانو په مخکی څه وئیلی نسی د بهټو صاحب په آخری دور کی د سیاسی اختلاف په وجه یی امام صاحب وباسی او بل امام یی راوستی، اوس په بل امام پسی شرعًا لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: هرکله چی د مخکی امام څه غلطی نه وه او هغه صرف د سیاسی اختلاف په وجه معزوله کول درست نه وو، خو اوس چی کله د بل امام صاحب تقرر وسو، نو که په ده کی د کراهت څه خبره نسته نو لمونځ کول ورپسی جائز دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۸/۲۳ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۸۷۷ ج)

حضور ﷺ لره (عالم الغیب) او حاضر او ناظر، منونکي پسي د لمانځه کولو حکم

سوال: که کوم مولوی صاحب حضور ﷺ حاضر او ناظر ګنی یا هغوی عالم الغیب ګنی او ورسره داهم وایی چی حضور ﷺ ته داهم علم دی چی د مور په خیټه کی څه دی؟ باران به کله کیږی؟ څوك به كله مری؟ یا هغوی نورمنی، په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: د کوم مولانا په باره کی چی داتحقیق وی چی هغه د مذکوره عقایدو قائل دی په هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار [1].

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۱/۵/۲۵ هـ

(فتوی نمبر ۲۲/۲۸۶ ب)

---

[1] وفی الکبیری شرح منیة ص: ۵۱۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) ویکره تقدیم المبتدع ایضًا لانه فاسق من حیث الاعتقاد وهواشد من الفسق من حیث العمل، وفی تنویر الابصار مع شرحه ج: ۱ ص:۵۵۹، ۵۶۱ یکره امامة عبد ...... ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول ﷺ لابمعاندة بل بنوع شبهة .... لایکفرها، وان کفربها فلایصح الاقتداء به اصلاً .... الخ، وغنیة المتملی ص: ۵۱۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) وانما یجوز الاقتداء به مع الکراهة اذا لم یکن مایعتقده یودی الی الکفر عند اهل السنة، امالوکان مؤدیا الی الکفر فلایجوز اصلاً: همدارنګه وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند ۳/ ۱۲/ ۱۷۰.

د جوماټ په دوهم منزل باندې د جمعي کولو حکم

سوال: د دوه منزله جوماټ په دوهم منزل باندې د جمعې لمونځ کول جائزدي او که نه؟ هرکله چې اول منزل بالکل خالي وي او امام او مقتدیان په دوهم منزل کې لمونځ اداء کوي؟

جواب: وکره تحریما الوطئ فوقه والبول والتغوط لانه مسجد الی عنان السماء (درمختار مع الشامي ج: ۱ ص: ۴۱۲) (۱)

د دې څخه معلومه سول چې جوماټ ترآسمانه پورې جوماټ وي او برنی منزل هم جوماټ دی، لهذا په دې کې د جمعې کولو څه حرج نسته.(۲)، البته بلاضرورت دې داسې ونسې څکه چې دا د تقلیل جماعت سبب جوړیدې سي. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۷/۱۲/۱۹ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۴۵/۱۸ الف)

که امام د څپرلاندې ولاړوي او متقدیان وروسته نو څه حکم دی؟

سوال: زموږ د جوماټ په صحن کې څپر دی او د هغه څخه وروسته صحن شروع کیږي، امام صاحب د څپرلاندې دریږي اوس داخبره معلومول دي چې داسې لمونځ کول صحیح دي او که نه؟ د څه خلګو وینا ده چې یوصف د څپرلاندې د امام سره ضروري دی، که داسې ونه سول نو لمونځ به نه کیږي او که کیږي هم نو مکروه به وي؟

جواب: په مسئوله صورت کې لمونځ درست دی، په دې کې څه کراهت هم منقول نه دی پیداسوی، خو احتیاط په دې کې دی چې امام د څپر څخه لږ وروسته ودریږي داشان چې د هغه قدم د څپر څخه د باندې وي، سجده که څه هم د څپر لاندې وسي اخذ ممافی الدر المختار وقیام الامام فی المحراب لاسجوده فیه (ای یکره ذالك) (۳)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۲۹ هـ

(فتوی نمبر ۱۰/۲۸ ج)

(۱) الدر المختار: ج ۱ ص: ۶۵۲ (طبع ایچ ایم سعید)
(۲) د دې مسئلې متعلق د مکمل تفصیل د پاره امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۵۵۹ ملاحظه کړئ.
(۳) الدر المختار: ج ۱ ص: ۶۴۵ (طبع ایچ ایم سعید).

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

آیا د امامت د وجې استاذ جوړیږي؟

سوال: یوڅو مسئلې پیښې دي چې د هغه جواب پکار دی:

۱: څه فرمائي علمائي دین د شرع متین په دې مسئله کې چې په یوسړي پسې د لمونځ کولو په وجه هغه استاذ جوړیږي او که نه؟ او که هغه استاذ جوړیږي نو آیا د هغه احترام هم همداشان ضروري دی لکه چې د عام مروجه استاذان احترام کولی سي.

۲: په عام عرف کې امام ته استاذ وئیل کیږي آیا د استاذتوب د امامت خصوصیت دی یا د مطلق لمونځ کولو؟

۳: د قرآن یوحافظ د بل حافظ قرآن منزل اوري آیا دامنزل اوریدل به په تعلیم کې شمیرل کیږي یا په تذکره کې؟ او داهم راته معلومه کړئ چې استاذ کله او څنګه جوړیږي او لږ په تفصیل سره بیان وکړئ؟

جواب: محض په امامت سره یوسړی استاذ نه جوړیږي خو د امام تعظیم کول هم پکار دی.

۲: دا عرف صحیح نه دی هو! که د امام څخه یې څه د دین خبره وده کړې وي نو هغه استاذ سو.

۳: شرعًا په دې سره استاذ نه جوړیږي خو په قرآن یادولو کې د یوبل مددسو، نوځکه د بل عزت کول پکار دی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۱۲/۱/۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۳۸/۵۲)

د ریډیو اوریدونکي په اقتداء کې د لمانځه کولو حکم

سوال: یو سړی تریوحده پورې د شریعت ډیر پابنده دی صرف یوه خبره په هغه کې ده چې هغه ریډیو اوري، ریډیو کې صرف د قرآن مجید تلاوت او ترجمه او که څه دیني مسائل نشر کیږي نو اوري او خبرونه هم اوري، باقي فلمي ریکارډ وغیره نه اوري او د خلګو امام دی، لمونځ ورپسې جائز دی او که نه؟

جواب: که د، ساز او موسیقی او نورو ناجائزو شیانو اوریدلو څخه اجتناب وسی نو ریډیو بالکل جائز ده اوپه دی وجه په لمانځه کی څه خلل نه راځی، چنانچې مذکوره سړی پسی لمونځ درست دی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۸/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

(فتویٰ نمبر ۳۲۲/ ۱۹ الف)

بغیر د ثبوت څخه د زنا تهمت لګوونکي پسي د لمانځه حکم

سوال: یوسړی په چاباندی بغیر د ثبوت څخه د زنا تهمت لګوی د داسی سړی څه حکم دی؟ او په ده پسی د لمانځه کولو څه حکم دی؟ او په داسی سړی پسی لمونځ کول درست دی؟

جواب: په کوم سړی باندی د زنا دروغو تهمت لګول لویه ګناه ده (۱).

۱: نو د داسی عمل کوونکی سړی فاسق دی. (۲)

۲: او داسی سړی پسی لمونځ کول مکروه دی خو که لمونځ یی وکی نو اداء به سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۵/ ۱۳۹۱ ھ

(فتویٰ نمبر ۵۹۲/ ۲۲ ب)

د امامت برقراره ساتلو د پاره د څو شرطونو لګولو حکم

سوال: یومولانا صاحب د هندوستان څخه فارغه دی، دلته په یوجامع مسجد کی پیش امام دی او خپلو مقتدیانوته داسی تقریر کوی که امامت برقراره ساتی نو زما په نصیحت باندی عمل وکړئ.

---

(۱) ایضاً.

(۲) د تفصیل د پاره وګورئ د سورة نور آیت: والذین یرمون المحصنت (الایه) لاندی تفسیر معارف القرآن ج: ۲ ص: ۳۵۳)

۲: په تاسو چی زما د میاشتی د تنخواه کومه حصه لګول کیږی هغه به هره میاشت ورکول وی.

۳: توله میاشت به په امام بنه خوراك کوئ.

۴: د جومات موقوفه مځکه به د امام په نوم رجسټرکوئ.

۵: که زه کورته ولاړسم نوبل څوك به امام جوړوم.

۶: کوم مقتدی چی په مذکوره شرطونو باندی عمل نه کوی امام به د هغه مقتدی په کوم دینی یادینوی کارکی نه شریك کیږی یعنی د مړو په جنازه وغیره کی.

۷: او همدا وصیت خپل خلیفه ته هم کوم.

جواب: د امام صاحب په لګول سوی شرطونوکی نمبر ۳، ۲، ۷، د شریعت مطابق نه دی هغه ته پکاردی چی داشرطونه عائد نه کړی خو د دی شرطونو د عائد کولو د وجی په هغه پسی لمونځ نه فاسدیږی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۲/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۲۰/ ۱۹ الف)

د کشف قبور د قائل په اقتداء کي د لمانځه حکم

سوال: کوم سړی چی د کشف قبور قائل وی په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: کشف قبور څه محال امر نه دی بعضی د الله بندګانو ته د الله ﷻ د اړخه داملکه ورکول کیږی که څوك د دی قائل وی نو څه خبره نسته خو د کشف قبور په ذریعه په کومه خلاف شریعت خبره باندی استدلال کول هیڅکله جائز نه دی، کوم سړی چی د کشف قبور په ذریعه د یوی ناجائزی خبری باندی استدلال وکړی هغه د بدعت مرتکب دی، او د هغه د امام جوړولو څخه پرهیز کول پکار دی، که څوك صحیح العقیده امام نه وی نو په هغه پسی لمونځ کول د ځانته لمونځ کولو څخه بنه دی لمونځ به وسی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۵/ ۱/ ۱۳۹۱ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۱۹/ ۲۲/ ۲۲ الف)

دروغ ویونکي او د جومات سامان خپل په کورکي استعمالوونکي امام د اقتداء حکم

سوال: عرض دادی چی دلته د سعودی حکومت بلاتابعیه جومات جوړول نه پریږدی ځکه د مولوی صدیق تابعیه والا په نوم باندی زموږ په محله کی مسجد تعمیرکی، مولوی موصوف چونکی تابعیه والا دی ځکه مولوی موصوف د جومات متولی جوړولو سره تقریبًا پنځلس، شپاړس کالو پوری موجومات چلولی دی، نن تردرو کالوپوری مولوی موصوف یوبل مولوی صاحب زموږ د جومات امام جوړکړی دی، مولوی موصوف دمسجد امام ته خادم نیولو سره اقامه یی هم جوړکړی دی او نوموړی مولوی صاحب پخپله د امام کفیل هم دی، په کوم پاسپورټ چی یی اقامه جوړه کړی ده، هغه پاسپورټ چونکی جعلی وو، تیرکال کله چی د جعلی پاسپورټ والا دلته د جواز توله اړخ نیول او تالاشی کیدل نو امام صاحب خپل پاسپورټ پټ کی، بیا په حکومت کی د پاسپورټ ورکیدو مهره درخواست ورکی بیایی د سفار تخانی ځخه نوی پاسپورټ ورکیدو اعلان کړی دی هغه بالکل دروغ او کذب دی، په هغه کی یی توریه او تعریض هم نه دی کړی، حالانکی مخکنی پاسپورټ د امام صاحب سره موجود دی، په دی خبره باندی مقتدیان د امام صاحب ځخه ناراضه کیدو سره په هغه پسی اقتداء کول پریښوول، مقتدیانو په بل جومات کی لمونځ کول شروع کړل نوداخو ټوله مخکنی خبره وه.

دوهمه خبره داده چی دی امام د جومات سامان په کورکی استعمال کړی دی، دریمه خبره داده چی یوسړی د جومات د پاره اوبه ورکړی وی چی په دی سره خلګ اودس وکړی، امام صاحب دا اوبه د جومات په ځای مدرسه کی او د جومات د کرائی په کورونو باندی خرڅ کړی، کله چی د محلی خلګو د امام صاحب ځخه داټولی خبری وپوښتلی، نو امام صاحب په سختی سره پیش سو جنګ او فساد یی وکی د دی په وجه د محلی اکثره خلګ ناراضه کیدلو سره د هغه په اقتداء کی لمونځ کول پریښوول یوبل جومات کی یی لمونځ کول شروع کړل، مولوی صدیق خو د دغه امام معزوله کولو او د بل امام او د درولو اجازت خو راکړی دی، خو موجوده امام به د جومات متولی وی او د ټولو به سرپرست وی، داخبره په محلی والاوو باندی ګرانه سوی ده.

خلاصه داده چی اوس امام صاحب د قامی اوپاسپورټ په وجه صریح دروغ ووئیل: ثانیًا د جومات فرش، د جومات ایرکنډیشن او د جومات اوبه یی ناجائزه طریقه باندی مصرف کړی، ثالثًا امام صاحب د مقتدیانو سره په سختی سره پیش سو، جنګ او فساد یی وکی.

ځلورم د امام صاحب د معزوله کولو طاقت هم مقتدیانو ته نسته، او د امام صاحب سره د اختلاف په صورت کی د فتنی او فساد قوی اندیښنه ده، د شرعی حکم ځخه موخبردار کړئ، د دی وجوهاتو په وجه چی کوم خلګ په بل جومات کی لمونځ کوی آیا هغوی په غلطی باندی دی؟

جواب: دروغ وئیل او د جومات سامان په کورکی استعمالول حرام دی ځوك چی د دی حرامو مرتکب وی ترڅو چی هغه د دی ځخه توبه ونه کاړی د فاسق په حکم کی دی هغه په خپل اختیار امام جوړول یا دیوصالح امام په موجودګی کی په هغه پسی لمونځ کول جائز نه دی، بیاهم چی کوم لمونځونه مو ورپسی کړی وی هغه وسول داعادی ضرورت یی نسته، خوکه دا امور محرمه د هغه ځخه ثابت وی او توبه هم نه کاړی نو د جومات په منتظمینو باندی واجب دی چی هغوی د یوصالح امام انتظام وکړي. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۰۸/۷/۲۵ ھ

(فتوٰی نمبر ۱۴۹۹/ ۳۹ ھ)

په خپل ځان باندی د عائد سوی الزاماتو صحیح جواب ورکوونکی امام د اقتداء حکم

سوال: څه فرمائی د دین عالمان او د متین شریعت مفتیان د لاندی مسائلو په باره کی چی یوامام صاحب ته د جومات په احاطه کی دننه په کونج کی یوکور جوړکړی ورکړی دی او تقریبًا د څوارلس پنځلس کالو ځخه هغه د دی جومات امامت کوی او د همدی په احاطه کی یوه مدرسه هم ده، د دی مدرسی مهتمم هم امام صاحب دی، د جومات اومدرسی دواړو د طرفه امام صاحب ته مبلغ (۲۰) روپۍ د میاشتی ورکول کیږی، د جومات او مدرسی د کمیټی آفیس عهدیدارانو د طرفه په امام او مهتمم صاحب باندی لاندینی الزامات لګول سوی دی، د کمیټی دا الزامات او د امام صاحب جوابات په لاندی ډول دی: تاسو د خپلی فیصلی شرعی ځخه موږ خبر او مشکور موکړئ؟

(د کمیټي د اړخه د امام صاحب څخه سوی سوالونه او د امام صاحب جوابونه)

سوال: تاسوته چي کوم کور د جومات د اړخه درکول سوی دی د دی په چهت باندی دی د چرګانو ساتلو ځای د چا په اجازت جوړ کړی دی؟

جواب: (یوکال وسو کله چي می جوړکړی دی) د کمیټي د صدر صاحب څخه می پوښتنه کړی ده، د جوړولو څخه مخکی زه د صدر صاحب کورته ولاړم او هغوی ته می ووئیل: چي جناب تنخواه کمه ده بال بچ داریم خیال می دی په کوم کورکی چي زه اوسیږم د هغه په چهت باندی زه د چرګانو ځای پخپل خرڅ جوړکړم ستاسو څه رایه ده؟ وی فرمائیل: چي ښه روزګار دی بسم الله وایه او شروع یی کړه، خوکله چي د یوکال څخه وروسته دامسئله را لوړه سوه نو صدر صاحب انکارکوی چي ماهیڅ اجازت نه وو ورکړی، جناب صدر صاحب هم قسم اخستوته تیاردی، او امام صاحب هم قسم اخستوته تیار دی او وایی چي صدر صاحب ته هغه اجازت یادنه دی.

(نوټ: د چرګانو ذکرسوی ځای سره) د هغه اساب امام صاحب په خپل ذاتی خرڅ سره کړی دی او د جومات په نوم یی وقف کړی دی چي ټول اعتراض ختم سی.

سوال: د جومات کمیټي چي تاسوته د خپل ذاتی مصرف د پاره کومه بجی درکړی وه، هغه تاسو چرګانو کی د چا په اجازت بلوی؟

جواب: د کور په چهت یوبلب د مخکی څخه لګیدلی وو او تقریبا د لس یوولس بجوپوری د شپی موږ پخپل مضرف کی بلوله، په دی بلب سره د چرګانو ځای او د باندی کار به موتری اخستلو او تریوکاله پوری دابلب همداسی بلیدی، په ذهن کی می داخبره هم نه وه چي داسی کول ښه نه دی، اوس چي کله په دی کال د درو بلفونو بلولو نوبت رالی نو ستاسو د اعتراض څخه مخکی ماحساب کوی چي که یوبلب (۲۰) واټ هره ورځ بل سی نو په میاشت کی څومره خرڅ کیږی چي هغه رقم جومات کی جمع کړم، خومخکی د دی څخه چي زه حساب وکړم او جمع یی کړم ستاسو د اړخه سوال وسو تیر کال چي کوم یوبلب لګیدی، که کمیټي وغواړی نوپریږدی دی، او که وغواړی نو حساب کولو سره دی زما څخه رقم وصول کړی.

سوال: د ګیس پخی ښنتی یوسړی مدرسی ته ورکړی وی تاسو د خپلو چرګانو په ځای ولی ولګولی؟

جواب: د مدرسی د یومدرس د پاره زما په نګرانی کی کمره جوړه سوه کله چي د هغه بنیادونه وکښل سول نو د بدقسمتی څخه د ګلکار د خولی څخه ووتل چي د کنکر

خښته چي پرته ده که هغه په بنیادونو کی ولګه یی نو د دی کمری بنیاد به مضبوط وی، هغه کنکر خښته ما د چرګانو د ځای خوړلو د پاره راغوښتی وه، ماپه هغه وخت کی د مدرسی فائده په نظر کی ساتلو سره مستری ته ووئیل چي زما د خښتو څخه داکنکر خښته په بنیادونو کی ولګوه او د مدرسی د خښتو څخه دومره تعداد زما په خښتو کی واچوه په هغه وخت کی می د مدرسی فائده په ذهن کی وه، د مسئلی حقیقت می ذهن ته رانه لی، چي زه په دی طریقه د مدرسی د پاره نه خپلی ښنتی لګولی سم او نه داسی اخستلی سم، کله چي اعتراض پورته سو بیاراته داحقیقت ښکاره سو چي ماغلط قدم اخستی دی، خوزما په دی کارسره مدرسی ته فائده رسیدلی ده څه نقصان نه دی سوی.

سوال: د مدرسی د تعمیر په سلسله کی چي کومه وسپنه، شګه، سمنټ اوغیره راغلی دی داتا د خپلو چرګانو په ځای ولی مصرف کړل او د چاپه اجازت سره دی راوړل؟

جواب: ښنتی ما په خپل رقم د مدرسی په اډر سره راغوښتی دی، رسید زماسره دی (چي وښوول سو) سمنټ د دی کار د پاره ماخپل اخستی دی، د هغه رسید هم راسره موجود دی (چي وښوول سو) خوزما د مزدورانو او ګلکارنه په یوه موقعه باندی داغلطی وسوه، هغه داچي زه په کورکی موجود نه وم او کارکولو سره سمنټ ختم سول، نو ګلکار او مزدورانو د خپلی دیاړی دیری د وجی یی د مدرسی سمنټ لوړ کړی دی او وړی یی دی، چي داکار هم امام صاحب کوی هغه به یی اداء کړی. کله چي زه ماښام بیرته راغلم، نو هغوی ماته ووئیل چي زه په هغه باندی د هغوی څخه خوابدی سوم، د هغه سمنټو چي څومره قیمت جوړیدو د هغه وخت د نرخ په حساب سره ما هغه رقم د مدرسی په فنډ کی جمع کی او رسید می کټ کی، د هغه رقم رسید او کومو مزدورانو چي سمنټ لوړ کړی وو د هغوی حلفیه بیان زماسره موجود دی (چي وښوول سو) د شیخ کومی ردی تکړی چي به بچ کیدی موذن ته به ماوئیل: چي که څوك کباړی راسی نوهغه ته یی ورکوه، په یوه موقعه لږ ماته ضرورت وو ما واخستی او په اندازی سره می د هغه قیمت اداء کی (خوغلطی دا وسوه چي په تول می وانه خستی)

سوال: په مدرسه کی چي کوم رقم د زکوٰة او فطر، او د قربانی د څرمنو وصول سوی هغه د مدرسی اکاونټ کی اوس نسته هغه د مدرسی په کوم مصرف کی استعمال سوی دی؟

جواب: د مدرسی رقم په بینك کی جمع دی، ماخو د تعمیری اخراجاتو بل جوړولوسره به می صدر صاحب ته حواله کوی، صدر صاحب به هغه پاس کوی او د خازن صاحب سره چك بُك وو، هغه به چیك جوړولو چی په هغه باندی به د صدر صاحب او د درو کسانو کی د دوو کسانو دستخط ضروری ووو زه خو پخپله یو تیږی هم د بینك ځخه نسم رااېستی، داسوال خو د هغه خلګو ځخه کول پکار دی، معلومیږی داسی چی تاسو خلګو خیال نه دی کړی چی د چاذمه داری وه، او نه ما د بینك ځخه معلوم سول او په ظاهره اوس هغه رقم د تعمیری رقم سره د مدرسی په تعمیر کی خرڅ کیږی په دی کی زما څه قصور دی، اوس چی د مدرسی د تعمیر د پاره کوم رقم راځی د هغه ځخه مذکوره رقم راکښلوسره دافنډ پوره کړئ، پورتنی ذکرسوی سوالونه او جوابونه ملاحظه کړئ او د شریعت مطهره په رڼا کی مو د جواب ځخه خبر کړئ چی د ذکر سوی الزاماتو د جوابونو ویلو ځخه وروسته امام صاحب څومره قدری مجرم دی، آیا د دی امام ساتل پکار دی او که نه؟ او لمونځ ورپسی صحیح کیږی او که نه؟

نوټ: په چهت باندی د چرګانو د پاره د ځای جوړولو په سلسله کی چی کوم خرڅ وسو په هغه باندی ټولی ..... روپی د امام صاحب خرڅ سوی هغه ټول د تعمیری ملبی سره د تعمیر ځخه امام صاحب جومات او مدرسی ته وقف کړی دی اویو کال وسو چی کمیټی په هغه باندی رضاء کیدلو سره متفقه فیصله وکړله خو اوس بیافتوىٰ نمبر ۱ د څلورو سوالونو سره د تیرو دوو کالو په الزامونو کی د شاملولو سره په حقیقت کی د مفتی صاحب په مخکی د امام صاحب د جرمونو په سنګین شکل کی د پیش کولو کوشش کیږی. فقط والسلام

جواب: د برنی ذکرسوی سوالونو کوم جوابونه چی امام صاحب ورکړی دی که هغه صحیح وی نوامام صاحب بالکل بری الذمه دی، په هغه باندی هیڅ قسم اعتراض نه واقع کیږی، ترڅو چی د مخکنی دوو سوالونو تعلق دی هغه سوالونه نامعقول او غیر منصفانه دی، کوم مکان چی د امام صاحب د اوسیدلو د پاره ورکول سوی دی که هغه په هغه کی د خپل معاش د پاره څه کار وکی نو په دی کی شرعاً څه خبره نسته، دغه شان د بجلی استعمال د خپل ضرورت د پاره کولی سی، کمیټی والا د دی په باره کی د جواب طلبی کولو سره زیات کړی دی باقی سوالونه خو صحیح دی، خو جوابونه هم معقول دی که د دی صحت ثابت سی نو په امام صاحب باندی په هیڅ قسم اعتراض درست نه دی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۳۹۹/۹/۲۹

(فتوىٰ نمبر ۱۷۱۴/ ۳۰ و)

دیو امام د امامت متعلق تفصیلي استفتاء او د هغه جواب

سوال: څه فرمائی د دین عالمان او د شرع متین مفتیان د لاندینیو مسئلو په باره کی: داچی زموږ په جومات کی چی کوم امام صاحب دی، او ورسره د جومات سره ملحق مدرسی مهتمم هم دی، موصوف ته د کمیټی د اړخه دوی تنخواګانی درکول کیږی، (۲۳۵) روپی د جومات د امامت او (۱۲۵) روپی د مهتمم کیدو په وجه چی ټولی ورته (۳۶۰) روپی تنخواه ورکول کیږی، تیره میاشت د انتظامیی د طرفه امام صاحب ته د یوی وجهی په ښکاره کیدو سره نوټس راکول سوی دی چی هغه په لاندی عبارت سره دی او ورسره جوابات هم درج دی:

سوالونه د کمیټي د اړخه

۱: د تیرو درو میاشتو ځخه د محلی د خلګو مسلسل درخواستونه راروان دی چی: تاسو هره ورځ په یو نه یولمونځ کی غیر حاضریی لمونځ ګذار انتظار کوی او بیابل څوك لمونځ ورکړی په دی باندی تاسو متوجه سواست خوتراوسه پوری اثر نه دی سوی.

۲: د منع کولو باوجود تاسو د جومات پوړی په کرایه باندی ورکړی وه اورقم دی وصول کړی دی دنوټس په پیداکیدو باندی موغلط بیانی لیکلی ده.

۳: تاسوته د مدرسی د معلم په غیر موجودګی کی د لږ سبق ښوولو د پاره ووئیل سول، خو تاسو صفا انکار وکی.

۴: د کمیټی د صدر د منع کولو باوجود تا د خپل کور (د جومات ملکیت چی امام صاحب ته ورکول سوی) باندی بیان بیت الخلاء جوړه کړی ده.

د امام صاحب د اړخه جوابونه

۱: د تیرو دوو میاشتو ځخه یعنی اپریل او می کی د څه وختونو په لمونځونو کی زما د غیر حاضری وجه داده چی اپریل سنه ۱۹۷۸ء کی دوی ورځینی د ختم نبوت کانفرنس وسو (چونکی زه دلته د حیدر اباد مجلس ختم نبوت ضلعی ناظم یم) د هغه د انتظام په سلسله کی ما ډیری هلی ځلی وکړی چی د هغه په وجه به اکثره لمونځونو کی

غیر حاضر کیدم (خو په خپل ځای باندی به می قایم مقام مقرر کوی، الا ماشآء الله، خو
د صدر منتظم ته مازبانی وئیلی وو چی د کانفرنس د انتظاماتو په سلسله کی به اکثره
لمونځونو کی زماغیر حاضریانو کیږی زما په ...ر موجودګی کی به مدرس قرآن قاری
صاحب یا د مسجد موذن صاحب لم...نځ ورکوی، صدر صاحب وفرمائیل: چی الله مالك
دی فکرمه کوه او یوه ورځ د خپل ځ... ضروری ک ... د پاره کراچی ته ولاړم د هغه اطلاع
می هم صدر صاحب ته زبانی وکړله او هغه په شرع کی د یوی کورنی جګړی د ختمولو
د پاره بیایوه ورځ کراچی ته ولاړم د هغه اطلاع می هم صدر صاحب ته زبانی وکړه او
صدر صاحب اجازت راکی اوبیاهم ... دی میاشت کی زموږ حضرت مولانا غلام حبیب
صاحب حلوائی ناڅاپی کراچی ته ...شریف راوړی او د هغه سره د ملاقات د پاره
بیاکراچی ته ولاړم، او کله چی حضرت مولانا حیدر آباد ته تشریف راوړی، دوی ورځی
حضرت پاته سو، زه هم وسره وم، خو د صدرصاحب څخه می پوښتنه کړی تللی وم، د
ذکرسوو وجهو څخه په هفته کی یو دوه غیر حاضریانی خو کیږی چی د لطیف آباد څخه
ښارته ولاړم په بیرته راتلو باندی په وخت می راتلل غوښتل خوسورلی نه پیداکیږی
یاپه لاره کی سورلی خرابه سی، د چاپه غم ښادی کی تلل وی، د بچو د علاج معالجی د
پاره ډاکترته تلل وی د ډاکټر د مصروفیت د وجی ناوخته سی وغیره وغیره.
دغه شان غیر حاضریانی څوك قصداً نه کوی بلکی د هریومسجد د امام څخه داسی
غیر حاضریانی کیږی آینده د پاره وعده کوم چی عمداً به هیڅ غیرحاضری نه کوم، خو
ذکرسوی دوهم قسم غیرحاضری خو کیږی.
۲: د کله چی زه منع سوی یم ماپخپله د مدرسی یا د جومات پوړی چاته په کرایه باندی
نه ده ورکړی او ماشومان می هم منع کړی دی چی چاته یی مه ورکوئ، خو بیادی اته ۸
نه ۹ میاشتو کی دری واره زما په غیر موجودګی کی خلګو پوړی وړی ده، او
ماشومانوته یی دروغ وئیلی دی او داکښل اوپریښوول زما په غیرموجودګی کی سوی
دی، ماته د هغه هیڅ کرایه وغیره نه ده راکول سوی، د هغوی نومونه لیکلی درکوم، چی
فلانی فلانی دی د یووار کرایه زما غیر موجودګی کی یوسړی زماپه کورکی ورکړه هغه
ماجمع کړه د مدرسی په رسیدونو کی یی کتلی سی، پوړی هروخت په جومات کی وی
که څوك یی یوسی یابی راوړی ماته د دی څه معلومات کیږی؟ تاسو خلګ په معمولی
خبره په امام باندی بدګمانی کوی اور ورپسی لمونځونه هم کوی تعجب دی.

۳: د دی جواب ماجنرل سکرټری ډاکټرصاحب ته زبانی ورکی، او هغه په هغه ورځ او
وخت زما عذر قبول کی، هغه عذر داوو چی زما په ذمه د لس، اتوکسانو اهل خانه د
کفالت بوجه دی، د دی ګرانی په دور کی اته نه سوه روپی خرڅ کیږی او د جومات او
مدرسی څخه بحیثیت امام او مهتمم ماته ټولی دری سوه شپیته روپی د میاشتی
راکول کیږی.
نور اخراجات داسی پوره کوم چی په سهار کی یوسکول ته ځم ۲۷۵ روپی هلته راکول
کیږی او د ماپښین لمانځه څخه وروسته لږ غوندی آرام کولو څخه سکول بورډنګ کی
د قرائت ښوولو د پاره ځم دوه سوه روپی هلته راکول کیږی، داشان د کور خرچه پوره
کوم، نو سهار ماشومانو ته سبق ښایم نوسکول نه چهټی پیداکیږی او ماښام که بورډنګ
ته تلل بند کړم نو ټیوشن می ځی، تاسو زما داعذر قبول کړی او مامعاف کړی نو
احسان به وی، په دی باندی ډاکټر صاحب ووئیل: که څه وخت وباسی نو ښه به وی خیر
څه خبره نه ده، ماورته ووئیل: اوښ څوك عارضی مدرس وساتی داصل مدرس به زه هم
درك لګوم او تاسوهم ولګوی دومره خبره کیدو څخه وروسته زه مطمئن سوم چی ډاکټر
صاحب زما عذر قبول کړی دی.
۴: د جومات په کوم کورکی چی زه پاته کیږم د هغه د فرش وغیره او په چت باندی د
بیت الخلاء څومره قدر مرمت وغیره چی سوی دی د کمیټی د صدر څخه می اجازت
اخستی دی او کړی می دی په خپله مرضی می یوه خښته هم نه ده لګولی د دی په
مرمت او چهت باندی بیت الخلاء وغیره جوړولو، چی د هغه اوس صدر صاحب انکار
وکی، زه د هغه تاوان ورکولو ته تیاریم.
د مذکوره سوالونو او جوابونو څخه د اول نمبر سوال په سلسله کی صدر صاحب
وفرمائیل: چی زما څخه باقاعده چهټی نه ده اخستل سوی صرف زبانی کلامی سره زما
څخه به یی کله کله پوښتنه کوله.
د دریم نمبر سوال په سلسله کی جنرل سکرټری صاحب وفرمائیل:
چی زه بلکل مطمئن سوی نه وم بلکی د مدرسی د مهتمم کیدو او د مهتممی د تنخواه
اخستلو سره د مهتمم دافرض دی چی هرکله کوم مدرش غیر حاضر وی یاکمیټی هغه
وباسی نو د هغه په ځای دی هغه ماشومانو ته سبق ښایی، لهذا مهتمم په خپلو فرائضو
کی کوتاهی کړی ده، دا کښل پکار دی.

د ځلورم نمبر سوال په سلسله کی صدر صاحب وفرمائیل: چی د فرش د مرمت اجازت ماورکړی وو، خو د بیت الخلاء اجازت میٔ نه وو ورکړی، او کله وایی چی زه بار بار مجبوره سوم نو مابه مجبوراً هَوْ نه کول نو څه به می کول؟ د بیت الخلاء په جوړیدو تولی (۱۵۰) یونیم سل روپی خرڅ سوی دی.

اوس د مذکوره سوالونو جوابونه غور او فکر سره ووایه او د شریعت مطهره په رڼا کی جوابونه ژر راکړه، عند الله به مأجوریی. یعنیٔ گ

۱: مذکوره امام صاحب د امامت قابل دی او په ده پسی لمونځ کیږی او که نه؟ او یا بیاغیر ذمه دارکیدوسره دوی د امامت څخه برطرفه سی؟ هرکله چی ۹۵ % فیصده لمونځگذارو په خپلو دستخطونو سره یو یادانبت د کمیټی په نوم لیږلی دی چی موږ د خپل امام صاحب څخه رضا مند یو او د هغوی خلاف فیصله کول به زموږ د جذباتو مجروح کول وی.

۲: د مهتمم کیدو باوجود مهتمم صاحب ماشومانو ته د سبق د ښوولو څخه انکار وکی، په دی صورت کی هغه د مهتممی څخه اخواکول پکار دی او که نه؟

۳: د صدر صاحب په انکار باندی یا د بل چا په خبره باندی امام صاحب دروغجن او خائن گرځولو سره ایسته کول جائز دی یا د صدر صاحب هیره ګڼلو سره د امام صاحب سره څه تعارض نه دی کول پکار؟

جواب: په صورت مسئوله کی امام صاحب په خپل ځان باندی عائد کرده الزاماتو چی کوم جواب ورکړی دی که هغه د واقعی مطابق وی، نو په امام صاحب باندی په دی باره کی څه اعتراض نه لازمیږی او د دغه الزاماتو په وجه هغه د امامت یا د مدرسی د اهتمام څخه اخواکول صحیح نه دی، د کمیټی افرادو لره پکار دی چی هغوی د امام صاحب کماحقه عزت وکړی او داشان الزامات عائد کولو سره دی هغه نه پریشانه کوی، او د امام صاحب فرض دی چی هغه خپل مفوضه فرائض په دیانت داری سره اداء کړی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۹/ ۹/ ۱۳۹۹ ھ

فصل في المسبوق واللاحق

د مسبوق او لاحق د مسائلو بیان

مسبوق دی د سجده سهوی د پاره د امام په سلام کي شرکت نه کوی

سوال: مسبوق د امام سجده سهوی د پاره په سلام کی شرکت وکړی او که نه؟

جواب: د کوم سړی چی څه رکعتونه د امام سره پاته سوی وی هغه ته د سجده سهوی په وخت د امام سره سلام نه دی گرځول پکار، خو د امام سره سجده کول ضروری دی.

کذافی ردالمختار (۱) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۹/ ۱۰/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۳۲۵/ ۱۸ الف)

د مسبوق د لمانځه طریقه

سوال: یوسړی په څلور رکعاته لمانځه کی په دوهم یا دریم رکعت کی د امام سره شرکت وکی باقی لمونځ دی څنګ اداء کړی؟ یوصاحب ووئیل چی په باقی رکعتونو کی دی صرف په فاتحی اکفتاء وکړی، په مانبام کی یورکعت وی نو په باقی کی دی سورة یوځای کړی یادی صرف په سورة فاتحه اکتفأ وسی د دی لمانځه په باره کی هم هغه صاحب راته ووئیل چی په یورکعت کی خو دی سورة ووایی او باقی په دوهم رکعت کی دی په فاتحه اکتفاء وسی.

---

(۱) وفی بدایع الصنایع فصل فی بیان من یجب علیه سجود السهو ج: ۱ ص: ۱۷۲ (طبع سعید) ثم المسبوق انما یتابع الامام (ای فی سجدة السهو بان سجد هو) دون السلام بل ینتظر الامام حق یسلم فیسجد فیتابعه فی سجود السهو لافی سلامه وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۸۲ (طبع ایچ ایم سعید) والمسبوق یسجد مع امامه مطلقًا وفی الشامیة (قوله والمسبوق یسجد مع امامه) قید بالسجود لانه لایتابعه فی السلام.

وفی بحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۰۰ (طبع ایچ ایم سعید) ثم المسبوق انما یتابع الامام فی السهو لافی السلام فیسجد معه ویتشهد ...... الخ، وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۹۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویته).

جواب: د چا څخه چی یو یادوه رکعته پاته سوی وی هغه ته مسبوق وایی، د قرائت په باره کی حکم دادی چی کله د امام د فارغه کیدو څخه وروسته هغه خپل لمونځ پوره کوی نو د قرائت په لحاظ سره به دا د هغه مخکنی رکعت څخه شمیرل کیږی، لهذا په دی رکعت کی د سورة فاتحی سره د قرآنکریم دوهم آیت هم ووایه، او که د هغه څخه دوه رکعته تیرسوی وی نو په دوهم رکعت کی دی هم د سورة فاتحی څخه وروسته د بل سورة وئیل د هغه د پاره ضرور دی، که دری یاځلور رکعاته ځنی تیرسوی وی نو په اولو دوو رکعتونو کی دی د سورة فاتحی سره بل صورت هم ووایی خو په وروستنی رکعتونو کی به سورة نه وایی. [1] والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۹/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

(فتوٰی نمبر ۲۱۴/ ۱۹ الف)

مسبوق به خپل لمونځ څنګه پوره کوی؟

سوال: د چا څخه چی په ځلور رکعته لمانځه کی یورکعت تیرسی هغه بقیه لمونځ څنګه باید پوره کړی؟

جواب: د امام لمونځ ختمولو څخه وروسته دی خپل پاته رکعت پوره کړی او په دی کی د سورة فاتحی سره بل سورة ویل هم ضروری دی. [2] والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ ھ

(فتوٰی نمبر ۱۴۰۰/ ۱۸ الف)

---

[1] ایضاً.

[2] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۹۶ (باب الامامت) (والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد) حتٰی یثنی ویتعوذ ویقرأ، وان قرأ مع الاما بعدم الاعتداد بها الکراهتها مفتاح السعادة (فیما یقضیه) ای بعد متابعته لامام فلوقبلها فالاظهر الفساد ویقضی اول صلاته فی حقر قرأة وآخرها فی حق تشهد، فمدرك رکعة من غیر فجر یأتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ولایقعد قبلها وفی رد المختار، قوله حتٰی ثنٰی ...... الخ، تفریع علی قوله: منفرد فیمایقضیه بعد فراغ امامه فیأتی بالثناء، والتعوذ، لانه للقرأة ویقرأ لانه یقضی اول صلاته فی حتٰی القرأة کمایأتی وکذا فی الفتاوٰی الهندیة ج: ۱ ص: ۹۱، ۹۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) او همدارنګه وګورئ د یوبند د دار العلوم فتاوٰی ج: ۳ ص: ۳۷۷، او عزیز الفتاوٰی ص: ۲۲۵.

د مسبوق د ثنا متعلق د شرح وقایه د یو عبارت تحقیق

سوال: شرح وقایه باب صفة الصلوٰة عبارت دادی: ان المسبوق یقرأ ولایثنٰی فیتعوذ، په دی عبارت کی د ولایثنٰی څه مطلب دی؟ او که لفظ (لا) غلط دی؟ ځکه چی تعوذ ویل او ثناء پریښوول په هیڅ کتاب کی په نظر نه دی راغلی؟

جواب: د شرح وقایه په موجوده نسخو کی عبارت همداشان دی [1]، او په دی باندی ستاسو اعتراض درست دی چی مسبوق ته ثناوئیل پکار دی په ټولو معتبرو متنونو کی مسئله هم داسی لیکل سوی ده:

قال فی غنیة المستملی: والمسبوق یأتی بالثناء اذا ادرك الامام حالة المخافة ثم اذاقام الی قضاء ماسبق یأتی به ایضاً کذا ذکره فی الملتقط ووجهه ان القیام الی قضاء ماسبق کتحریمة اخری للخروج به من حکم الاقتداء الی حکم الانفراد.

(کبیری ص: ۲۹۷ فصل صفة الصلوٰة) [2]

وقال فی الدر المختار: وهو (ای المسبوق) منفرد حتٰی یثنی ویتعوذ ویقرأ.

(شامیه ج: ۱ ص: ۱۰۴ او آخر باب الامامة) [3]

د دی څخه معلومه سوه چی مسبوق کله په جمع کی شامل وی (او امام قرأت نه وایی) په هغه وخت کی دی هم ثناء ووایی او کله چی د خپل لمانځه پوره کولو د پاره ولاړسی په هغه وخت کی هم، خو په اوله موقعه باندی به د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله دقول مطابق به تعوذ نه وایی ځکه چی د دوی په نزد تعوذ قرأة تابع دی او د امام ابویوسف په نزد به دواړه واره تعوذ هم وایی ځکه چی د دوی په نزد تعوذ ثناء تابع دی، اوفتوٰی د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په قول باندی دی: لما فی ردالمختار لکن مختار قاضی خان والهدایة وشروحها والکافی والاختیار واکثر الکتب هوقولهما انه تبع للقرأة وبه نأخذ.

(شامی ج: ۱ ص: ۳۲۹ باب صفة الصلوٰة) [4]

---

[1] شرح الوقایه ج: ۱ ص: ۱۴۴ (طبع ایچ ایم سعید) محمد زبیر حقنواز.

[2] غنیة المصلی ص: ۳۰۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) فتاوٰی شامیه ج: ۱ ص: ۵۹۰ (طبع ایچ ایم سعید.

[3] شامیه ج: ۱ ص ۴۹۰ (طبع ایچ ایم سعید).

[4] شامیه ج: ۱ ص: ۴۹۰ (طبع ایچ ایم سعید)

به هرحال په شرح وقایه کی د ثناء نفی د متنونو خلاف ده، لهذا یاخو د کتابت د غلطی څخه لفظ (لا) زیات سوی دی یا د شرح وقایی د مصنف تسامح ده.

والله سبحانه اعلم

۲۳/ ۱/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۵۳/ ۲۵ الف)

د امام د سلام په صورت کي به مسبوق تشهد پوره کوی او که نه؟ (عالمګیری او شامي او امداد الفتاوی کي د تعارض تحقیق)

سوال: که کوم مسبوق په آخری قعده کی شریك سو او د تشهد پوره کولو څخه مخکی امام سلام وګرځوی نو هغه مسبوق خپل تشهد پوره کولو څخه بغیر د خپل لمونځ ادا کولو د پاره دریدی سی او که تشهد پوره کول ضروری دی؟ او د امداد الفتاوی څخه په حواله د شامی معلومیږی چی د تشهد پوره کول ضروری د جواب څخه می مطمئن کړئ؟

جواب: عالمګیری، شامی او امداد الفتاوی کی هیڅ تعارض نسته د ټولو منشاء داده چی د مسبوق د پاره د تشهد پوره کولو څخه وروسته ولاړیدل افضل دی خو که هغه د پوره کولو څخه بغیر ولاړیږی نو لمونځ د ټولو په نزد بغیر د کراهت څخه کیږی، علامه شامی رحمه الله دامسئله نقل کولو سره لیکی: ومقتضاه انه یتم التشهد ثم یقوم ولم أره صریحا ثم رأیته فی الذخیرة ناقلاً عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهد وان لم یفعل اجزاه. ولله الحمد

(ج اول باب صفة الصلوٰة بیان الرکوع) (۱)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۲/ ۱۱/ ۱۳۸۸ هـ

(۱) فتاوی شامیه ج: ۱ ص: ۴۹۲ وفتاوی عالمګیری الفصل السادس فیما یتابع الامام وفیما یتابعه ج: ۱ ص: ۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۳۹ وکذافی امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۵۵۱ وعزیز الفتاوی ص: ۲۲۵ وفتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۳ ص: ۳۷۹.

فصل فیما یفسد الصلوٰة ومایکره فیها

د لمانځه د مفسداتو او مکروهاتو بیان

په مخکي صف کي نابالغه ماشوم دریدل

سوال: که نابالغ ماشوم په مخکی صف کی ودریږی نو لمونځ صحیح کیږی او که مکروه به وی؟

جواب: لمونځ خو کیږی خو داسی کول مکروه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۰/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۲۵/ ۲۸ ج)

په نیم لستوڼي والا قمیص کي لمونځ کول

سوال: دنیم لستوڼی والاقمیص اچولو سره یانیم لستوڼی پورته کولو سره به لمونځ کول درست سی او که نه؟ بغیر د څه مجبوری څخه؟

جواب: لمونځ مکروه دی (۱). والله سبحانه اعلم

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۷۱ (طبع ایچ ایم سعید) (ویصف) الرجال ظاهره یعم العبید ثم الصبیان ثم الخناثی ثم النساء، وفی الشامیة تحته (قوله ظاهره یعم العبید) اشاربه الی ان البلوغ مقدم علی الحریة لقوله ﷺ لیلینی منکم اولو الاحلام والنهی، وفی الدر المختار ایضاً ج: ۱ ص: ۶۵۶، ۶۵۷ (طبع ایچ ایم سعید) ویحرم ادخال صبیان ومجانین حیث غلب تنجیسهم والا فیکره وفی الشامیة .... والمراد بالحرمة کراهة التحریم ..... والا فیکره ای تنزیها.

د دی مسئلی د تحقیق د پاره د حضرت والا دامت برکاتهم مصدقه د راقم د مرتبی فتوی لاندی ملاحظه کړئ.

سوال: که څوك سړی لستوڼی لوړ کړی او لمونځ وکړی نو آیا داجائز دی چی څنګلی یی لڅی وی یا لڅی نه وی په دواړو صورتونو کی څه حکم دی؟

جواب: که څنګلی یی لڅی وی نو داشان لمونځ کول مکروه دی او که د دی څخه کم وی نو په دی کی اختلاف دی د بعضو په نزد مکروه نه دی ځکه چی په فقهی دلائلو کی د (مرفقین) یعنی ترڅنګلو پوری الفاظ راغلی دی چی د هغه څخه معلومیږی چی که د دی څخه کم وی نو مکروه نه دی: وفی

الجواب الصحیح بنده محمد اشرف غفرالله له
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۳۲ / ۱۹ الف)

د تصویر والا کمره کي د لمانځه کولو حکم

سوال: په کومه کمره کی چی د یوسړی یا ښځی تصویر (فوټو) راځړیدلی وی نو په هغه ځای کی لمونځ کیدی سی او که نه؟

جواب: په کوم مکان کی چی د یوذی روح تصویر لګیدلی یا ځړیدلی وی په هغه کی لمونځ کول مکروه تحریمی دی، او د ټولو څخه زیات کراهت په هغه تصویر کی دی، چی د لمونځ ګذار مخ ته قبلی طرف ته وی، بیا هغه چی د لمونځ ګذار په سرباندی

الدر المختار: ج: ۱ ص: ۶۴۰ (طبع ایچ ایم سعید) وکره کفه ای رفعه ولولتراب کمشمرکم او ذیل وفی الشامیة وقید الکراهة فی الخلاصة والمنیة بان یکون رافعا کمیه الی المرفقین وظاهره ان لایکره الی مادونهما، او د بعضو حضراتو په نزد داصورت هم مکروه ځکه چی د دی حضراتو په نزد لستونی لوړه ول او لمونځ کول مطلقًا مکروه دی: وفی الشامیة وقید الکراهة فی الخلاصة والمنیة بان یکون رافعًا کمیه الی المرفقین وظاهره ان لایکره الی مادونهما، قال فی الحبر والظاهر الاطلاق لصدق کف الثوب علی الکل ونحوه فی الحلیة وکذا قال فی الشرح المنیة الکبیر ان التقیید بالمرفقین اتفاقی وقال هذا لوشمرهما خارج الصلوٰة ثم شرع فیها کذالك وراجع ایضًا خلاصة الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۵۸ همدارنګه وګورئ کفایة المفتی ج: ۳ ص: ۴۲۸ (طبع جدید دار الاشاعت وامداد الاحکام، ج: ۱ ص: ۵۲۱، ۵۲۳، امداد المفتین ص: ۳۴۱، ۳۴۲.

لهذا احتیاط هم په دی کی دی چی بغیر د ضرورت څخه لستونی لوړ کولو سره لمونځ کول نه دی پکار، د مخکی څخه یی د اودس د پاره یی لستونی لوړه ول نو ښه داده چی په علی قلیل سره لمونځ کی لستونی کښته کی مثلاً څه په رکوع کی څه په قومه کی او څه دی په سجده کی کښته کړی. والله تعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۲۵/ ۷/ ۱۴۲۳ هـ

الجواب الصحیح بنده محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲۴/ ۷/ ۱۴۲۳ هـ
الجواب الصحیح بنده عبد الروف سکهروی ۲۲/ ۷/ ۱۴۲۳ هـ
محمد زبیر حقنواز
دار الافتاء دار العلوم کراچی
۲۳/ ۷/ ۱۴۲۳ هـ

ځړیدلی وی، بیا هغه تصویر چی راسته طرف ته وی، بیا هغه چپه طرفته یی وی او د ټولو څخه کم کراهت په هغه کی دی چی د لمونځ ګذار وروسته په کوم دیوال کی وی او که تصویر د قدمونو لاندی وی نوپه دی کی هم د بعضو فقهاوو په نزد کراهت دی او د بعضو په نزد نسته لهذا د دی څخه هم پرهیز پکار دی.

کذا فی رد المختار ج: ۱ ص: ۴۳۵ باب مایفسد الصلوٰة ویکره فیها [1].

والله اعلم
۲۲/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۵۹۲/ ۲۷ و)
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

د محاذات د دوو صورتونو تفصیل او حکم

سوال: مرسله فتویٰ نمبر ۴۵/ ۳۵۱ محرره مفتی محمد صابر صاحب مدظلهم بتاریخ ۲۲/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ کی آنجانب په دوهم نمبر جواب کی لیکلی دی چی که ښځه اتفاقیه طور د خاوند سره لمونځ وکړی او د سړی ګټی او پنډۍ سره خپل دا اعضاء لږ وروسته کولو سره ودریږی نو د چالمونځ به هم فاسد نه وی یعنی یعنی وبه سی، خو په بهشتی زیورکی یی دالیکلی دی: که ښځه په خاوند پسی لمونځ کوی نو بالکل دی وروسته (د یوصف په فاصلی باندی) دی ودریږی، او که نه نو بیابه د هغه لمونځ نه کیږی، او د سړی لمونځ به هم بربادسی.

د دوارو صورتونو ځانته ځانته څه نوعیت دی چی په مخکنی صورت کی یوه ښځه (د یومقتدی په شان) صرف د سړی د ګیټی او پنډۍ څخه لږ وروسته کیدو سره لمونځ کولی سی او د بهشتی زیور په رو سره هغه ته کم ترکمه د یوصف فاصله پریښوولو سره دریدل پکار دی؟

---

[1] وفی التنویر وشرحه الدر المختار ج: ۱ ص: ۶۴۸ و (کره) ان یکون فوق رأسه اوبین یدیه او بحذائه یمنةً او یسرةً او محل سجوده (تمثال) ... واختلف فیما اذاکان التماثل خلفه والا ظهر الکراهة وفی الشامیة (الاظهر الکراهة) لکنها فیه ایسر لانه لاتعظیم فیه ولاتشبع معراج وفی الدر المختار ایضًا ج: ۱ ص: ۶۵۲ (لایکره صلوة) علی بساط فیه تماثیل أن لم یسجد علیها لمامر، وفی الشامیة تحته (قوله لمامر) علة لعدم الکراهةُ وهو کونها مهانة ح.

جواب: د محاذات صحيح تفسير هم هغه دی چی ښځی ګټی او پنډی د سړی د يو عضو برابر وی، لهذا که کومه ښځه د سړی څخه دومره وروسته ولاړه چی د دواړو ګټی او پنډی بالکل برابری کی نه وی نوبرابره خبره ده که د ښځی د پښی څه حصه د سړی د پښی د څه حصی سره برابره وی او که نه وی نو د اصح قول په بناء به لمونځ خاسر نه وی چی د هغه صورت دادی .... ښځه سړی.

داصورت د اصح قول په بناء باندی مفسد نه دی، البته بعضی فقهاوو د ګيتی او پنډی په ځای د پوره قدم د مجاذات په اعتبار کړی دی، لهذا د دوی په نزد مذکور صورت مفسد دی او د جواز صورت د دوی په نزد باندی دادی: ښځه سړی.

په بهشتی زيور کی د احتياط په طور دا آخری قول اختيارولو سره بالکل وروسته د دريدلو لويی وئيلی دی، چی د هغه مطلب يوصف وروسته دريدل نه دی بلکی دومره وروسته دريدل پکار دی چی د ښځی د قدم هيڅ حصه د سړی د قدم د هيڅ حصی سره برابر نه وی.

قال الشامی عن الزيلعی: المعتبر فی المحاذات الساق والکعب فی الاصح وبعضهم اعتبر القدم اه، فعلی قول البعض لوتأخرت عن الرجل ببعض القدم تفسد وان کان ساقها وکعبها متأخراً عن ساقه وکعبه وعلی الاصح لاتفسدو ان کان بعض قدمها محاذيًا لبعض قدمه بأن کان اصابع قدمهما عند کعبة مثلاً تأمل (ثم قال بعد اسطر) ..... المانع لس محاذات ای عضومنها لای عضومنه، ولامحاذاة قدمه لای عضومنا بل المانع محاذات قدمها فقط لای عضو منه [1].

احتياط به هرحال د بهشتی زيور په يوقول باندی په عمل کولو کی دی چی په اتفاق سره لمونځ صحيح سی، خو چی څرنګه عرض وسو، د بهشتی زيور په قول باندی د عمل کولو مطلب دانه دی چی ښځه دی يوصف وروسته ولاړه وی، بلکی د هغه مطلب دومره وروسته دريدل دی چی د هغه د قدم هيڅ حصه د سړی د کوم عضو په مقابل کی رانسی، المرأة اذا صلت مع زوجها فی البيت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لاتجوز صلاتها بالجماعة، وان کان قدمها خلف قدم الزوج الا انه طويلة تقع رأس المرأة فی

[1] فتاوىٰ شاميه ج: ۱ ص: ۵۷۲، وکذا فی التاتار خانيه ج: ۱ ص: ۲۲۲، ۲۲۳.

سجود قبل رأس الزوج جازة صلاتهما لان العبرة للقدم. (شامی ج: ۱ ص: ۵۳۵) [1] والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۸/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوىٰ نمبر ۳۲۷/ ۱۹ الف)

په برانډه کي لمونځ کولو کي څه کراهت نسته

سوال: د جومات څخه د باندی برق پکښی لګيدلی دی يعنی په برانډه کی د ګرمی په ورځوکی امام صاحب د باندی لمونځ ورکوی، ماسوا د جمعی د ورځی څخه، جمعه په محراب کی دننه په جومات کی لمونځ ورکوی آيا په دی کی څه کراهت سته او که نه؟

جواب: په دی کی هيڅ کراهت نسته.

الجواب الصحيح بنده محمد عاشق الهی

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۲۰/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۰۶/ ۱۹ الف)

بغير دستری څخه د لمونځګذار مخ ته د تيريدو تفصيل

سوال: د لمونځګذار د مخه څخه د تيريدو لکه څنګه چی په حديث کی سخت ممانعت راغلی دی، په لاندی ډول او صورتونو کی د تيريدونکی د پاره څه حکم دی؟

الف: که لمونځ ګذار د قيام په حالت ياقومه، سجده ګاه باندی نظرلګولی وی نو ضرورتمند څومره فاصله پريښوولو سره تيريدلی سی؟

ب: که د هغه نظر په ذکرسوی حالت کی د سجدی د ځای څخه مخکی لګی.

ج: که لمونځګذار په رکوع ياسجده کی دی.

د: په دی مسئله کی د کوشنی او غټ جومات ځانته ځانته حکم دی؟ او کم ترکمه څومره لوی جومات ته (مسجد کبير) وئيلی سی؟

[1] فتاوىٰ شاميه ج: ۱ ص: ۵۷۲ (طبع ايچ ايم سعيد)

جواب: که جومات کوشنی دی نو د لمونځګذار مخ ته بغیر دستری څخه بلکل تیریدل نه دی پکار، او که جومات غټ دی یا ب، ج: په فراخه ځای کی لمونځ کوی نو دومره د مخکی څخه تیریدل جائزکوة دی چی که لمونځ ګذار د سجدی په ځای نظر وساتی نو تیریدونکی ورته په نظر نه راځی چی تقریبًا د سجدی د ځای څخه د دوو ګزو په فاصله باندی وی، د کروع، سجدی، قیام اوقومی د ټولو یوحکم دی، او که د قیام په حالت کی لمونځ ګذار د سجدی د ځای څخه مخکی ګوری بیا هم د تیریدونکی د پاره دومره فاصله معتبره وی چی پورته یی ذکر وسو، لمافی ردالمختار: ومقابله ماصحح التمر تاشی وصاحب البدایع واختاره فخر الاسلام ورجحه فی النهایة والفتح انه قدر مایقع بصره علی المار لوصلی بخشوع ای رامیًا ببصره الی موضع سجوده. (شامی) (۱)

د: تقریبا د څلویښت لاسه څخه کمی رتبی والاجومات به کوشنی ورته وئیلی سی، او د دی څخه زیات لوی، قال الشامی: رحمه الله قوله ومسجد صغیر هو اقل من ستین ذراعًا، وقیل: من اربعین هو المختار کما أشار الیه فی الجواهر. (قهستانی شامی) (۲)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۸ / ۲ / ۱۳۸۸ هـ

دولو پوری اوږده وریښته ساتونکي لمونځ کیږی او که نه؟

سوال: کومو خلګو چی وریښته ترولو پوری اوږده ساتلی وی ایا د هغوی لمونځ کیږی؟

جواب: لمونځ خوکیږی خو داسی وریښته ساتل چی په هغه سره د غیر مسلموسره یا د فاسقانو سره مشابهت پیداکیږی جائز نه دی (۳).

والله اعلم

۱۵ / ۱ / ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۸ / ۲۸ الف)

(۱) ایضًا.

(۲) رد المختار باب مایفسد الصلوٰة .... الخ ج: ۱ ص: ۲۳۴ (طبع سعید)

(۳) وفی سنن ابی داود باب لبس الشهرة ج: ۲ ص: ۲۰۳ (طبع ایچ ایم سعید) عن ابن عمر قال: قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

فصل في القرائت ومسائل زلة القاری

په لمانځه کي قرأة او د ویونکي د غلطیانو سره د متعلق مسائلو بیان

د سورة فاتحي څخه وروسته «رب اغفرلي» وئیل

سوال: د (ولا الضالین) ویلو څخه وروسته (رب اغفرلی) وئیل څنګه دی؟

جواب: د ولاالضالین څخه وروسته د (آمین) (۱) څخه ماسوا بله جمله د نصوصو څخه ثابته نه ده، ځکه د امین څخه ماسوا بله جمله وئیل نه دی پکار. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الٰی بلند شهری

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۶ / ۱۲ / ۱۳۸۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۲۷ / ۱۸ الف)

د بیماری د وجي په لمانځه کي الفاظ اداء نسي نو څه حکم دی؟

سوال: که یوسړی د داسی ناجوړی یاکمزوری په حالت کی په ناسته خو لمونځ اداء کولی سی خو په ژبه باندی د الفاظو اداء کولو څخه یی په سینه کی درد کیږی نو په داسی حالت کی به څنګ الفاظ اداء کړی؟

جواب: د لمانځه د پاره ضروری ده چی ترڅو پوری شونډو او ژبی ته حرکت ورکی قدرت وی د هغه څخه دی الفاظ اداء سی خواه که هغه د معذورتیا د وجی دومره په مزه وی چی پخپله یی هم وانه وری (۲) او دومره په مزه وئیلو سره امید دی چی څه معتد به

(۱) وفی الصحیح للامام مسلم ج: ۱ ص: ۱۷۶ باب السمیع والتحمید والتامین (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: اذا امن الامام فأمنوا فانه من وافق تأمین الملئکة غفرله ماتقدم من ذنبه قال ابن شهاب: کان رسول الله ﷺ یقول: امین.

(۲) وفی مجمع الانهر ج: ص: ۱۵۷ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) وادنی المخافتة اسماع نفسه وهو القول الهندوانی وعلیه اکثره المشائخ (فی الصحیح) احتراز عما قیل: ان ادنی الجهر اسماع نفسه وادنی المخافتة تصحیح الحروف وهو قول الکرخی وصححه فی البدائع ...... الخ، وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۳۴ وادنی المخافتة اسماع نفسه فی الشامیه فشرط الهندوانی والفضلی لوجودها خروج صوت یصل الی اذنه وبه قال الشافعی وشرط بشر المریسی واحمد خروج الصوت من الفم وان لم یصل الی اذنه لکن بشرط کونه مسموعًا فی الجملة حتی لوادنی احمد صماخه الی فیه

جواب: که جومات کوشنی دی نو د لمونځګذار مخ ته بغیر دستری ځخه بلکل تیریدل نه دی پکار، او که جومات غټ دی یا ب، ج: په فراخه ځای کی لمونځ کوی نودومره د مخکی ځخه تیریدل جائزکوۃ دی چی که لمونځ ګذار د سجدی په ځای نظر وساتی نو تیریدونکی ورته په نظر نه راځی چی تقریباً د سجدی د ځای ځخه د دوو ګزو په فاصله باندی وی، د کروع، سجدی، قیام اوقومی د ټولو یوحکم دی، او که د قیام په حالت کی لمونځ ګذار د سجدی د ځای ځخه مخکی ګوری بیا هم د تیریدونکی د پاره دومره فاصله معتبره وی چی پورته یی ذکر وسو، لمافی ردالمختار: ومقابله ماصحح التمر تاشی وصاحب البدایع واختاره فخر الاسلام ورجحه فی النهایة والفتح انه قدر مایقع بصره علی المار لوصلی بخشوع ای رامیاً ببصره الی موضع سجوده. (شامی) [1]

د: تقریبا د څلوېښت لاسه ځخه کمی رتبی والاجومات به کوشنی ورته وئیلی سی، او د دی ځخه زیات لوی، قال الشامی: رحمه الله قوله ومسجد صغیر هو اقل من ستین ذراعاً، وقیل: من اربعین هو المختار کما أشار الیه فی الجواهر. (قهستانی شامی) [2]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۸ / ۲ / ۱۳۸۸ هـ

دولو پوری اوږده وریښته ساتونکي لمونځ کیږی او که نه؟

سوال: کومو خلکو چی وریښته ترلو پوری اوږده ساتلی وی ایا د هغوی لمونځ کیږی؟

جواب: لمونځ خوکیږی خو داسی وریښته ساتل چی په هغه سره د غیر مسلموسره یا د فاسقانو سره مشابهت پیداکیږی جائز نه دی [3].

والله اعلم

۱۵ / ۱ / ۱۳۹۷ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۰۸ / ۲۸ الف)

---

(1) ایضاً.

(2) رد المختار باب مایفسد الصلوة .... الخ ج: ۱ ص: ۲۳۴ (طبع سعید)

(3) وفی سنن ابی داود باب لبس الشهرة ج: ۲ ص: ۲۰۳ (طبع ایچ ایم سعید) عن ابن عمر قال: قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهومنهم.

فصل في القرائت ومسائل زلة القاری

په لمانځه کي قرأة او د ویونکي د غلطیانو سره د متعلق مسائلو بیان

د سورة فاتحي ځخه وروسته «رب اغفرلي» وئیل

سوال: د (ولا الضالین) ویلو ځخه وروسته (رب اغفرلی) وئیل څنګه دی؟

جواب: د ولاالضالین ځخه وروسته د (آمین) [1] ځخه ماسوا بله جمله د نصوصو ثابته نه ده، ځکه د امین ځخه ماسوا بله جمله وئیل نه دی پکار. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الٰی بلند شهری

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۶ / ۱۲ / ۱۳۸۷ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۴۲۷ / ۱۸ الف)

د بیماری د وجي په لمانځه کي الفاظ اداء نسي نو څه حکم دی؟

سوال: که یوسړی د داسی ناجوړی یاکمزوری په حالت کی په ناسته خو لمونځ اداء کولی سی خو په ژبه باندی د الفاظو اداء کولو ځخه یی په سینه کی درد کیږی نو په داسی حالت کی به څنګ الفاظ اداء کړی؟

جواب: د لمانځه د پاره ضروری ده چی ترڅو پوری شونډو او ژبی ته حرکت ورکړی قدرت وی د هغه ځخه دی الفاظ اداء سی خواه که هغه د معذورتیا د وجی دومره په مزه وی چی پخپله یی هم وانه وری [2] او دومره په مزه وئیلو سره امید دی چی څه معتد به

---

(1) وفی الصحیح للامام مسلم ج: ۱ ص: ۱۷۲ باب السمیع والتحمید والتامین (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: اذا امن الامام فأمنوا فانه من وافق تأمین الملئکة غفرله ماتقدم من ذنبه قال ابن شهاب: کان رسول الله ﷺ یقول: امین.

(2) وفی مجمع الانهر ج: ص: ۱۵۷ وهو القول الهند [illegible] علیه [illegible] نفسه و [illegible] ت) وادنی المخافتة اسماع نفسه [illegible] ل: ان ادنی الجهر اسماع [illegible] بدائع ...... الخ، وفی الدر [illegible] یه فشرط الهندوانی والفضلی [illegible] ی واحمد خروج الصوت [illegible]

تکلیف به هم نه وی معمولی درد برداشت کول پکار دی، البته عام ذکر د اذکار په زړه کی هم اداء کولی سی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۳۰/ ۱۲ ۱۳۸۸ هـ
(فتویٰ نمبر ۳/ ۱۹ الف)

د فاتحي خلف الامام حکم

سوال: ایا په امام پسی د الحمدلله نه وئیلو سره لمونځ کیږی؟

جواب: حنفی مسلك کی امام پسی هرقسم قرآن کول خواه که هغه سورة فاتحه وی یا وروسته سورة جائز نه دی، که په غلطی سره چا ووئیله نو د هغه لمونځ کیږی، نه فاسدیږی (۱). والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۳/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۲۳/ ۱۹ الف)

یسمع ولم یشترط الکرخی وابوبکر البلغی السماع واکتفیا بتصحیح الحروف .... ثم انه اختار فی الفتح ان قول الهندوانی وبشر متحدان بناء علی ان الظاهر سماعه .... بعد وجود الصوت اذا لم یکن مانع .... وذمر ان کلامن قولی الهندوانی والکرخی مصححان وان ماقاله الهندوانی اصح وارجح لاعتماد اکثر علمائنا علیه وفی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۳۲ (طبع ایچ ایم سعید) فذهب الکرخی الی ان ادنی الجهر ان یسمع نفسه وادنی المخافتة تصحیح الحروف وفی البدائع ماقاله الکرخی اقیس واضح، او همدارنگه وګورئ: منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۳۲ او کوم سړی امام کرخی د قول مطابق که صرف د حروفو صحیح ادائیګی وکړی که څه هم پخپله یی هم وانه وری بیابه هم د هغه لمونځ وسی، د تفصیل د پاره وګورئ امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۱۵۵

(۱) د دی مسئلی د مکمل تفصیل د پاره لاندینی کتابونه وګورئ. ۱: امام الکلام فی القرأة خلف الامام له علامه لکهنوی رحمه الله ۲: الدلیل المحکم فی ترک القرأة للموتم له حضرت مولانا نوتوی قدس سره. ۳: هدیة المعتدی فی قرأة المقتدی (تالیفات رشیدیه اسلامیات) حضرت ګنګوهی رحمه الله. ۴: الدلیل القوی علی ترک قرأة للمقتدی د محدث احمد علی سهارنپوری رحمه الله قدس الله سره. ۵: فاتحة الکلام فی قرأة خلف الامام (د حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی قدسره سره). ۶: احسن الکلام فی ترک القرائة خلف الامام (د حضرت مولان سرفراز خان صفدر دامت برکاتهم)

د ض مخرج

سوال: د (ض) حرف بعضی خلک د دال سره مشابه ووایی او بعضی یی د ظأسره مشابه اوبعضی ډال وایی، کوم یوصحیح دی؟

جواب: ضاد یومستقل حرف دی، د دی مخرج د دال او ذال یاظأ د ټولو څخه جلادی. کوم سړی چی ضاد د خپل مخرج څخه په اداء کولو باندی قادر وی د هغه د پاره دال، ذال یاظاء ویل جائز نه دی، او کوم سړی چی په دی قادر نه دی هغه ته د کوم پوه قاری څخه دمشق کولو کوشش پکار دی او ترڅو چی په دی کوشش کی کامیاب نسی هغه ته د ظاء سره مشابه ویل د دال سره د مشابه ویلو څخه بهتر دی، خو لمونځ به په دواړو صورتونو کی وسی. (۱) والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۲/ ۱۲/ ۱۳۹۰ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۸/ ۲۱ الف)

د ض مخرج

سوال: ولاالضالین، چی د هغه مخرج د ژبی اړخ او دواړوسره دی، ایا ولاالضالین مشابه یی ویلی سی یا ولاالضالین پیر کولو سره یی ویلی سی؟

جواب: د ضاد مخرج د دال او ظاء دواړو څخه جلادی او هغه داچی د ژبی اړخ رسته او چپه طرف د دواړو واړهرسره ولګی، د دی اواز هم د دال او ظأ څخه جلادی خو د ظأسره یی مشابهت د دال په نسبت (۲) زیات دی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱/ ۱۰/ ۱۳۹۹ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۲۸۰/ ۳۰ و)

---

(۱) ایضاً.

(۲) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۷۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) وان کان لایمکن الفصل بین الحرفین الا بمشقة کالظامع الضاد ...... اختلف المشائخ، قال اکثرهم لاتفسد صلاته، هکذا فی فتاویٰ قاضی خان وکثیر من المشائخ افتوابه، اوهمدارنګه د ضاد د مخرج متعلق د تفصیل د پاره د مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رساله رفع التضاد عن حکم الضاد، جواهر الفقه ج: ۱ ص: ۳۲۵، وګورئ.

ولا المشركين په والمشركين د ويلو حكم

سوال: زيد په لمانځه کی قرأة ووايه او په قرأة کی آيت. مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ (پاره نمبر ۱، آيت نمبر ۱۰۴، سورة بقره) کی زيد د وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ په ځای وَالْمُشْرِكِيْنَ ويلو ايا په دی سره به لمونځ وسی او که نه؟

جواب: په ذکرسوی صورت کی لمونځ وسو (۱) د راګرځولو ضرورت يی نسته.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۷۹/۲/۲۴ ه

(فتویٰ نمبر ۲۸/۲۵۳ ب)

د درو کوشنيو آيتونو برابر نيم آيت ويلو سره به لمونځ وسي؟

سوال: په لمانځه کی د قرآنکريم داسی لوی نيم آيت چی د درو کوشنيو آيتونو برابر وی، د هغه ويلو سره به لمونځ وسی او که نه؟ که ونسی نو اعاده به کول وی؟

جواب: په ذکرسوی صورت کی لمونځ وسو د اعادی ضرورت يی نسته: لان نصف الاية الطويلة اذاكان يزيد على ثلاث ايات قصار يصح على فونهما نعلى قول ابی حنفية المكتفى بالاية الاولى كذا فی ردالمحتار (۲).

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۲۶

(فتویٰ نمبر ۲۸/۹۹۵ ج)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

---

(۱) وفی الهندية ج: ۱ ص: ۷۹ (طبع مكتبه رشيديه كويته) ومنها حذف حرف ان كان الحذف على سبيل الايجاز والترخيم فان وجد شرائطه .... لاتفسد صلاته وان لم يكن على وجه الايجاز والترخيم فان كان لايغير المعنى لاتفسد صلاته ... الخ.

(۲) ردالمختار ج: ۱ ص: ۵۳۷ (طبع سعيد) وفی الشامية ايضاً ج: ۱ ص: ۵۳۸ لوقرأ اية طويلة فی الركعتين كاية الكرسی او اية المداينة البعض فی ركعة وعامتهم على انه يجوز، وكذا فی الهندية ج: ۱ ص: ۷۸ (طبع رشيديه كويته) او همدارنګه وګورئ امداد الاحكام ج: ۱ ص: ۵۹۰.

په لمانځه کي مجهول قرائت کول

سوال: د لورلائی په يوجامع مسجد کی امام مجهول ووايی د چا لمونځ هم نه کيږی؟ شرعاً څه حکم دی؟ د (ض) په ځای (ډ) ووايی د دی څه حکم دی او په دی مسئله کی که چا امام صاحب غلطه مسئله وښووله نو په هغه پسی به لمونځ جائزوی او که نه؟

جواب: مجهول ويل غلط دی، د دی د اصلاح کوشش ضروری دی خو په دی سره لمونځ نه فاسديږی که بل څوک حافظ نه پيداکيږی نو مجبوراً هغه پسی يی کوی.

۲: د ض د صحيح مخرج څخه د راکښلو کوشش هم واجب دی بياهم چی د کوم سړی څخه د کوشش باوجود صحيح مخرج نه وځی د هغه لمونځ د صحيح قول په بناء باندی کيږی (۱) کوم امام صاحب چی د دی خلاف مسئله ښوولی ده هغوی غلط وئيلی دی خو محض په دی بناء باندی په هغه پسی لمونځ نه فاسديږی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۱/۹/۱۸ ه

(فتویٰ نمبر ۲۸/۹۲۹ ج)

په مينځ کي کوشني صورت پريښوول او قرائت ويل

سوال: امام صاحب په وتروکی د رمضان المبارک په مخکی رکعت کی، قُلْ يَآ اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، دوهم رکعت کی اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ او په دريم رکعت کی سورة اخلاص ووايی او تَبَّتْ يَدَآ، پريږدی دا ترکومه صحيح دی؟

جواب: داشان په مينځ کی کوم صورت پريښوول او قرائت کول مکروه دی خو په دی شرط چی قصداً يی داسی کړی وی که سهواً وی نو کراهت هم نسته او لمونځ په هرصورت کی وسو نه سجده سهوه واجب ده او نه اعاده.

---

(۱) وفی غنية المتملی شرح المنية ص: ۴۷۶ وان لم يكن الا بمشقة كالظاء مع الضياد، والصاد مع السين والطاء مع التاء فقد اختلفوا فاكثرهم على عدم الفساد لعموم البلوىٰ وكذا فی الهندية ج: ۱ ص: ۷۹، او ورسره وګورئ عزيز الفتاویٰ ص: ۲۳۷، او ورسره د ض صحيح مخرج سره د متعلق تفصيل د پاره وګورئ جواهر الفقه ج: ۱ ص: ۳۲۵. (محمد زبير)

لمافی الدر المختار: ویکره الفصل بسورة قصیرة [1]

وفی ردالمختار: الفصل بالقصیرة انمایکره اذاکان عن قصد فلو سهواً فلا، کمافی شرح المنیة (شامی قبیل باب الامامت ج: ۱ ص: ۳۶۷) [2]

والله سبحانه اعلم

۲۴/ ۱۰/ ۱۳۹۶ هـ

(فتوی نمبر ۲۴ ۴۸/ ۲۷ هـ)

د سهار اولنی رکعت د دوهم رکعت څخه اوږدول

۲: په قرائت کي د متعددو غلطیو حکم

سوال: د مسجد امام د سهار په جمعه کی په اول رکعت کی شپږ ایتونه د (یَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ، الی (فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰی رَبِّهٖ سَبِیْلاً) ووایه په دوهم رکعت کی یی دوهمه رکوع چی د پورتنی ذکر سوی سورة یو اوږد ایت دی ووایه سجده یی وکړله، آیا لمونځ صحیح سو؟ خلګ وایی چی د اولنی رکعت څخه په دوهم رکعت کی اوږد سورة ویل نه دی پکار، د دی څه حقیقت دی؟

۲: امام صاحب په مخکنی رکعت کی سورة العصر ویلو سره د وَتَوَاصَوْا بالحق، وتواصو بالصبر، په ځای سهواً فَلَهُمْ اَجْرٌ غیر ممنون، ووایه او کله چی ورته خیال رالی نو اَلَمْ تَرَکَیْفَ ویل یی شروع کړل بیا په دوهم رکعت کی یی د سورة قریش تلاوت وکی او سجده سهوه کولو سره یی ټول لمونځ ختم کی، دالمونځ صحیح سو او که نه؟

جواب: د سهار په لمانځه کی اولنی رکعت د دوهم رکعت څخه زیات اوږدول مستحب دی او د دی برعکس مکروه تنزیهی دی لهذا په صورة مسئوله کی چی امام صاحب اولنی رکعت کی مختصر او په دوهم رکعت کی یی د هغه په مقابله کی په اوږد قرائت کړی دی په دی سره د مکروه تنزیهی ارتکاب وسو، خو لمونځ صحیح سو.

لمافی الدر المختار (وتطال اولی الفجر علی ثانیتها) واطالة الثانیة علی الاولی یکره تنزیها (اجماعًا ان بثلاث ایات) ان تقاربت طولاً وقصراً والاعتبر الحروف والکلمٰت واعتبر الحلبی فحش الطول لاعدد الایات. (شامی ج: ۱ ص: ۳۶۴) [1]

---

[1] الدر المختارج: ۱ ص: ۱۴۶ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] شامیه ج: ۱ ص: ۷۴۵ (طبع سعید)

۲: لمونځ خو صحیح سو خو امام څو غلطیانی وکړی یو خو چی کله هغه ته را یاد سول نو د سورة العصر تکمیل کول پکار وو، هغه دا نیمګړی پریښوولو دوهم د سورة العصر څخه وروسته یی سورة الفیل شروع کی او دا شان یو سورة یعنی سورة همزه یی په مینځ کی پریښووی او قرأت یی ووایه دا هم مکروه دی.

امافی رکعة فیکره الجمع بین الصورتین بینهما سور او سورة. (شامی جلد ۱ ص ۳۶۷) [2]

دریم په دی غلطیانو یی سجده سهوه وکړله حالانکی په دی صورتونو کی سجده سهوه نسته، به هر حال لمونځ وسو.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۸ / ۹ / ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۷۲/ ۲۸ ج)

---

[1] الدر المختارج: ۱ ص: ۵۴۱، ۵۴۲ (طبع ایچ ایم سعید) وفی ملتقی الابحر مع مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۱۵۹ (طبع دار الکتب العلمیة بیروت) وتطال الاولی علی الثانیة فی الفجر فقط، وعند محمد فی الکل وفی مجمع الانهر تحته السنة وهذا یعنی اطالة القرأة فی رکعة الاولی علی الثانیة فی الفجر متفق علیه للتوارث.

ولمافیه من اعانته المومنین علی ادراک فضیله الجماعة لانه وقت نوم وغفلة وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۷۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) واطالة القرأة فی الرکعة الاولی علی الثامیة من الفجر مسنونة بالاجماع.

[2] شامیه ج: ۱ ص: ۵۴۶ (طبع ایچ ایم سعید) وفی مراقی الفلاح ج: ۱ ص: ۴۷۵، ۴۷۷ (طبع مکتبه علم الحدیث دمشق) ویکره تکرار السورة فی رکعة واحدة من الفرض .... والجمع بین السورتین ..... الخ ای فی رکعة واحدة لمافیه من شبهة التفضیل والحجر (قوله لایکره هذا فی النوافل) یعنی القرأة منکوسًا والفصل والجمع وهذا کله فی الفرائض ص: ۲۱۲، وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۷۸ (مکتبه رشیدیه کویته) واذا جمع بین سورتین بینهما سور او سورة واحدة فی رکعة واحدة یکره ...... الخ.

فصل في السنن والنوافل

د سنت او نفلي لمونځونو په بيان کي

د اشراق او څاښت لمونځ دوه دوه رکعته کولی سي

سوال: د اشراق او څاښت لمونځ دوه دوه رکعته کولی سی او که نه؟

جواب: دوه رکعته کولی سی خو د څاښت لمونځ څلور رکعته کول ښه دی. والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

٢/ ٧/ ١٣٨٨ هـ

(فتوى نمبر ٧٢٢/ ٢٩ الف)

تحية المسجد واجب دی که مستحب؟

سوال: د بخاری شريف يو حديث حواله ورکولو سره د تحية المسجد دوه رکعته لمونځ د کښی نستلو څخه مخکی په اداء کولو باندی زور ورکولو سره مطالبه کول کيږی چی په نه اداء کولو باندی به د سختی ګناه مرتکب وګرځی يعنی تقريبًا د واجب درجه ورکول کيږی د اهل سنت والجماعت په دی څه عمل او فتوىٰ ده؟

جواب: تحية المسجد کول مستحب دی او د دی پرېښوونکی ته ګنهګار نه سی وئيل کيدی، د حديث شريف په مطلب باندی د صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه زيات ښوك پوهيدی سی؟ او صحابه کرامو رضی الله عنهم به تحية المسجد واجب نه ګڼل د بخاری شريفی په حديث کی امر د استحباب د پاره دی، قال ابن بطال: اتفق ائمة الفتوىٰ على انه محمول على الندب والارشاد مع استحبابهم الركوع لكل من دخل المسجد لماروى ان كبار اصحاب رسول الله ﷺ يدخلون المسجد ثم يخرجون ولايصلون. (حاشيه بخاری ج: ١ ص: ٦٣)[١] والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

٧/ ١/ ١٣٨٨ هـ

---

(١) (طبع قديمى كتب خانه) وفى التنوير مع شرحه باب الوتر مطلب تحية المسجد ج: ٢ ص: ١٨ (طبع ايچ ايم سعيد) (ويسن تحية) رب المسجد وهى ركعتان ..... الخ، وفى الشامية .... والحاصل ان المطلوب من دخل المسجد ان يُصلى فيه ليكون ذالك تحية لربه تعالى ..... الخ.

(فتوى نمبر ٢٩٥/ ١٩/ الف)

موكد سنت پرېښوول

سوال: سنت لمونځونو کی سنت موکده قصدًا عمدًا نه اداء کولو باندی د عذاب او سزا سره متعلق احاديث يا د هغه حواله وليکئ؟

جواب: د حضور ﷺ په دی باندی هميشه والی کول د دی د پرېښوولو ناجائزه کيدلو کافی دليل دی او د سنت په پرېښوولو باندی چی کوم عذابونه په حديث کی راغلی هغه ټول د دی دليل دی (١). والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١٧/ ٢/ ١٣٨٨ هـ

(فتوى نمبر ٢٩٥ / ٩ الف)

د جمعي د سنتو تعداد

سوال: د ماپښين او جمعی ټول څومره رکعتونه دی؟ آيا د دی په تعداد کی د امامانو اختلاف دی؟

جواب: ترڅو چی د فرض لمونځ د رکعتونو تعلق دی د هغه په تعداد کی هيڅ اختلاف نسته، د ټولو په نزد د ماپښين څلور رکعته او د جمعی دوه رکعته دی، د ماپښين د سنتو په باره کی هم د احنافو په نزد دومره خبره متفق عليه ده چی د دی تعداد شپږ دی، څلور د فرضو څخه مخکی او دوه د فرضو څخه وروسته، اوس د جمعی معامله پاته کيږی د امام ابوحنيفه رحمه الله مشهور مذهب په دی معامله کی دادی چی په جمعه

---

(١) وفى جامع الترمذى باب ماجاء فيمن صلى فى يوم وليلة الثنتى عشرة ركعة من السنة ج: ١ ص: ٩۴ (طبع ايچ ايم سعيد) عن عائشه رضى الله تعالى عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: من ثابر على ثنتى عشر ركعة من الفجر السنة بنى الله له بيتًا فى الجنة: اربع ركعات قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل الفجر، وفى الشامية كتاب الطهارة مطلب فى السنة وتعريفها ج: ١ ص: ١٠۴ (طبع ايچ ايم سعيد) الذى يظهر من الكلام اهل المذهب ان الاثم منوط بترك الواجب او النسة الموكدة على الصحيح لتصريحهم بان من ترك سنن الصلوٰة الخمس قيل لا يأثم والصحيح ان يأثم وفى البحر الرائق ج: ٢ ص: ۴۵۴ (طبع ايچ ايم سعيد) رجل ترك سنن الصلوات الخمس ان لم يرالسن حقا فقد كفر لانه ترك استخفافًا وان رأى حقا منهم من قال لايأثم والصحيح انه يأثم لانه جاء الوعيد بالترك اه، همدا رنګه وګورئ امداد الاحكام ج: ١ ص: ٦٠٩.

کی څلور رکعته د فرض لمونځ څخه مخکی او څلور رکعته د فرض لمونځ څخه وروسته سنت موکده وی (١) د ابن وغیره بعضی احادیث د دی تائید کوی، (رد المختار ج: ١ ص: ۶۳۰ استنبول) (٢) خو د احنافو د بعضو مشائخو داویناده چی د فرضو څخه وروسته د ماپښین په شان دوه رکعته مسنون دی. (فتح القدیر ج: ١ ص: ۳۱۶) (٣) امام ابویوسف د جمعی څخه وروسته شپږ رکعته سنت ګرځوی (۴) د حضرت علی رضی الله عنه څخه هم داسی منقول دی (۵) په همدی وجه متاخرینو علماوو په دی فتویٰ ورکړی ده،

(١) عن سهیل عن ابیه عن ابی هریرة قال رسول الله ﷺ: اذا صلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها اربعًا رواه مسلم ج: ١ ص: ۲۸۸ وفی الجامع للامام الترمذی وروی عن عبد الله بن مسعود انه کان یصلی قبل الجمعة اربعًا وبعدها اربعًا ... الخ ج: ١ ص: ۶۹ وفی شرح الکبیر ص: ۳۸۸ السنة قبل الجمعة اربع وبعدها اربع اما الاربع بعدها فلماروی مسلم عن ابی هریرة قال: قال رسول الله ﷺ: اذا صلیتم بعد الجمعة فصلوا الربعا وفی روایة للجماعة لا البخاری: اذا صلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها اربعًا، وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ باب النوافل والدلیل علی استنان الاربع قبل الجمعة ماروواه مسلم مرفوعًا من کان مصلیا قبل الجمعة فلیصل اربعًا، مع ماروواه ابن ماجه عن ابن عباس قال: کان رسول الله ﷺ یرکع من قبل الجمعة اربعًا لایفصل فی شیئ منهن وعلی استنان الاربع بعدها مافی صحیح ومسلم وفی بدایع والصنائع ج: ١ ص: ۳۸۵ (الصلوٰة المسنونة) واما السنة قبل الجمعة وبعدها فقد ذکر فی الاصل واربع قبل الجمعة واربع بعدها.

(٢) فتاوی شامیه ج: ۲ ص: ١٢، ١٣ (طبع ایچ ایم سعید).

(٣) فتح القدیر ج: ١ ص: ۳۸۶ (مکتبه رشیدیه)

(۴) وفی غنیة المتملی ص: ۳۸۹ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) وعند ابی یوسف السنة بعد الجمعة ستت رکعات وهومروی عن علی رضی الله عنه، وفی البحر الرائق ج: ۲ص: ۴۹ باب النوافل وعن ابی یوسف انه ینبغی ان یصلی اربعًا ثم رکعتین وفی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ (قوله وعن ابی یوسف) قال فی الذخیرة وعن علی رضی الله عنه یصلی ستًا رکعتین ثم اربعا. وعنه روایة اخریٰ انه یصلی بعدها ستا اربعا ثم رکعتین وبه اخذ ابویوسف والطحاوی ..... الخ. وفی فتح القدیر ج: ۲ ص: ۳۹ قبیل باب الصلوٰة العیدین ... ان السنة بعدها ست وهوقول ابی یوسف ..... الخ.

(۵) عن ابی عبد الرحمٰن عن علی رضی الله عنه انه قال: من کان مصلیا بعد الجمعة فلیصل ستا اخرجه الطحاوی (کتاب الصلوٰة بعد التطوع بعد الجمعة ج: ۲ ص: ۲۳۳) وفیه ایضًا، وعن ابی عبد الرحمٰن قال: علم ان یصلوا بعد الجمعة اربعًا فلما جاء علی ابن ابی طالب رضی الله عنه علمهم ان یصلوا ستًا اه، وفی الجامع للامام الترمذی ج: ١ ص: ۶۹ وروی عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه انه کان یصلی قبل الجمعة اربعًا وبعدها اربعًا، وروی عن علی بن ابی طالب امر ان یصلی بعد الجمعة رکعتین ثم اربعًا، وعن ابی عبدالرحمٰن السلمی قال: قدم علینا عبدالله رضی الله عنه نکان یصلی بعد الجمعة اربعا فقدم بعده علی

چی د جمعی شپږ رکعته کول پکار دی اول څلور بیا دوه، چی د ټولو فقهاوو د مذهب مطابق سنت اداء سی، شیخ ابراهیم حلبی شرح منیه، کی فرمائی: والافضل ان یصلی اربعا ثم رکعتین للخروج عن الخلاف.

بهتر دادی چی اول څلور رکعته وسی بیا دوه رکعته چی اختلاف باقی پاته نسی، (غنیة المتملی ص: ۳۷۳ مجتبائی ۱۳۳۳ هـ) (١)

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ربیع الاول ۱۳۸۷ هـ (٢)

١: د جمعي د سنتونو شمیر

٢: د سنت موکده د کولو طریقه

سوال: ١ د جمعی څخه وروسته څو سنتونه کول پکار دی؟

٢: سنت غیر موکده څنګه کول پکار دی او په دی کی څه ویل پکار دی؟

جواب: ١ د جمعی څخه وروسته شپږ رکعته مسنون دی (٣) اول دی څلور او بیادی دوه رکعته وکړی نو ښه دی (۴) او د دی برعکس هم جائز دی.

رضی الله عنه فکان اذا صلی الجمعة صلی بعدها رکعتین واربعًا فعجبنا فعل علی رضی الله عنه فاخترناه رواه الطحاوی باب التطوع. بعد الجمعة ج: ١ ص: ۲۳۳. وفی اثار السنن اسناده صحیح ص: ۳۰۳.

(١) وفی عتنیة المستملی ص: ۳۸۹ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) والافضل ان یصلی اربعًا ثم رکعتین للخروج عن الخلاف وفر البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ باب النوافل. وفی الذخیرة والتجنیس وکثیر من مشائخنا علی قول ابی یوسف وفی منیة المصلی والافضل عندنا ان یصلی اربعا ثم رکعتین، ومنحة الخالق علی الهامش البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ (قوله وعن ابی یوسف) قال فی الذخیرة وعن علی رضی الله عنه انه یصلی ستًا، ثم رکعتین ثم اربعًا وعنه روایة اخری انه یصلی بعدها ستًا. اربعًا ثم رکعتین وبه اخذ ابویوسف والطحاوی وکثیر من المشائخ رحمهم الله، وعلی هذا قال شمس الائمة الحلوانی الاصل ان یصلی اربعًا ثم رکعتین فقد اشار الی انه مخیر بین التقدیم الاربع وبین تقدیم الثمنی، ولکن الافضل تقدیم الاربع کیلا یصیر متطوعا بعد الفرض مثلها وفی فتح القدیر ج: ۲ ص: ۳۹ قبیل باب الصلوٰة العیدین .... فهذا البحث یفید أن السنة بعدها ست وهو قول ابی یوسف وقیل قولهما.

(٢) دافتویٰ د البلاغ، شماره ربیع الثانی ۱۳۸۷ هـ څخه اخستل سوی ده.

(٣) ایضًا.

(۴) د تفصیل د پاره سابقه فتویٰ او د هغی حاشیه وګورئ

۲: د سنت غیر موکده څه جلاطریقه نه ده او نه ورته څه خاص قرأة مقرر دی بلکی د نورو لمونځونو په شان یی کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۱/۲۲ ه

(فتوی نمبر ۲۸/۱۵۶ الف)

د صبح صادق او د سهار څخه وروسته د نفلونو کولو حکم

سوال: یوصاحب وایی چی د صبح صادق څخه وروسته د سهار سنتونه او فرضو پوری په دی وخت کی هیڅ نفل لمونځ وغیره نسی کولی. ترڅو چی ماته معلومه ده چی د سهار د لمانځه څخه وروسته د نور راختلو پوری او د مازیګر او مابنام په مینځ کی یا د لمر راختلو په وخت پوری او د نصف النهار په وخت لمونځ جائز نه دی او باقی اوقاتو کی جائز دی؟

جواب: دغه صاحب درست وئیلی دی د سهار د لمانځه څخه وروسته خو نوافل کول ناجائز دی، د صبح صادق څخه وروسته د سهار د دوو رکعتونو څخه علاوه نور نفل کول هم جائز نه دی.

کمافی الدر المختار: وکذا الحکم من کراهة نفل وواجب لغیره لافرض وواجب لعینه بعد طلوع فجر سوی سنته لشغل الوقت به تقدیرا (شامی ج: ۱ ص: ۲۵۱) (۱)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۶/۱۲/۲۱ ه

بغیر د عذر څخه سنت موکد پریښوول

سوال: عمر وایی چی د ورځی د پنځو لمونځونو فرائض پوره کړئ نو همدا کافی دی باقی سنت موکده نه اداء کولو سره څه فرق نه راځی ایا د عمر داخیال درست دی؟

جواب: د عُمر وینا غلطه ده، سنت موکده مستقل پریښوول سخته ګناه ده (۱).

---

(۱) الدر المختار کتاب الصلوٰة ج: ۱ ص: ۳۷۵ (طبع ایچ ایم سعید) همدا رنګه وګوری کفایت المفتی ج: ۳ ص: ۳۲۴ (جدید ایډیشن دار الاشاعت) مرتب عفی عنه.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۹/۱/۳۰ ه

(فتوی نمبر ۴۰/۲۲۴ الف)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

د زوال څخه مخکي د جمعي سنتونه کول

سوال: مسئله فتوی نمبر ۲۲۰ جلد ۲۸ الف متعلق داعرض دی که حنفی ملسک والا د زوال د انتهاء څخه مخکی څلور رکعته د جمعی وکړی چی ټول یی کوی نو آیا د دوی سنت به اداء سی؟ دوهمه خبره داهم واضحه کړئ که داسنتونه وروسته اداء سی نو د فرضو سره دی متصل وسی یا د بقیه لمونځ ترتیب قائم ساتلو سره دادی وروسته اداء سی.

جواب: د زوال څخه مخکی به د جمعی سنتونه نه اداء کیږی د فرضو څخه وروسته به اداء سی (۲)، او په دی کی ښه داده چی اول د جمعی څخه وروسته شپږ سنتونه وکړی، د دی څخه وروسته دی بیا مخکنی سنتونه اداء سی (۳) که د دی برعکس یی وکړل نو هم جائز دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۱۶ ه

---

(۱) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۱۲ رجل ترک سنن الصلوٰة ان لم یرالسنن حقا فقد کفر، لانه ترکها استخفافًا وان راها حقًا فالصحیح انه یأثم، لانه جاء الوعید بالترک کذا فی محیط السرخسی وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ (طبع ایچ ایم سعید) رجل ترک سنن الصلوٰة الخمس ان لم یرالسنن حقا فقد کفر لانه ترک استخفافا، وان رای حقا منهم من قال لایأثم والصحیح انه یأثم لانه جاء الوعید بالترک، وکذا فی الشامیة ج: ۱ ص: ۱۰۴ (طبع ایچ ایم سعید).

(۲) فی الدر المختار باب ادراک الفریضة ج: ۲ ص: ۵۸ (طبع سعید) ... بخلاف سنة الظهر، وکذا الجمعة فانه ان خاف فوت رکعة بترکها ویقتدی، ثم یاتی بها علی انها سنة فی وقته ای الظهر قبل شفعه عند محمد وبه یفتی.

(۳) وفی الشامیة باب ادراک الفریضة ج: ۲ ص: ۵۹ (طبع سعید) اقول وعلیه المتون لکن رجح الفتح تقدیم الرکعتین قال فی الامداد وفی الفتاوی العتابی انه المختار وفی مبسوط شیخ الاسلام انه الاصح لحدیث عائشة رضی الله تعالی عنها انه علیه السلام کان اذا فاتته الاربع قبل الظهر یصلین بعد الرکعتین وهوقول ابی حنیفة وکذا فی جامع قاضی خان وکذا فی غنیة المتملی ص: ۳۹۸ (طبع سهیل اکیډمی لاهور).

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

د صلوٰة التسبیح د جماعت حُکم

سوال: صلوٰة التسبیح د شعبان پنځلسم شخه د جمعی سره کولو زموږ اراده ده داصحیح دی او که نه؟

جواب: صلوٰة تسبیح نفلی لمونځ دی او د دی جمعه د احنافو په مسلك کی مکروه ده لهذا دالمونځ ځانته کول پکار دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱۰/ ۱۳۹۵ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۷۰۸/ ۳۰ و)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

د تهجد نیت څنګه وکړو؟

سوال: د تهجد نیت به د نفلو وی او که د سنتو؟

جواب: د تهجد په لمانځه کی دی د نفلو نیت وسی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۷/ ۱۳۸۸ ھ

(فتویٰ نمبر ۷۶۳/ ۱۹ الف)

د شب قدر د نوافلو طریقه

سوال: مودبانه ګذارش دی چی موږ ته تاسو نه د یوی مسئلی په باره کی فتویٰ حاصلول غواړو، په دی درخواست سره چی کومه پرچه منسلك ده په دی کی د لیلة القدر د نوافلو په باره کی زموږ د جومات (مسجد رحمانیه) امام صاحب وئیلی دی چی د نفلونو داطریقه غلطه دی او چیری په حدیث کی د لیلة القدر د نوافلو داطریقه نسته، لهذا موږ تاسوته التماس کوو، چی تاسو موږ ته د شریعت په رڼا کی د صحیح طریقی راهنمایی وکړئ عین نوازش به مووی.

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۸ (قبیل باب ادراك الفریضة) ولایصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذالك علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد کما فی الدر .... الخ، وفی المتملی ص: ۴۳۲ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) اعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی علی ماتقدم ماعدا التراویح ، اوهمدارنګه وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۴ ص: ۲۴۴.

جواب: منسلکه اشتهار (۱) کی د شب قدر د نوافلو چی کومه طریقه لیکلی ده هغه د فقهی او احادیثو مستند کتابونوکی د نظر شخه نه ده تیره سوی په اشتهار کی هم څه حواله د مستند کتاب حدیث نه ده ورکول سوی چی د هغه شخه تحقیق سوی وی په صحیح احادیثو کی په شب قدر کی د مطلق نوافلو فضیلت وارد دی د څه خاص طریقی ثخه (۲) والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۶/ ۹/ ۱۴۰۰ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۲۷۸/ ۳۱ د)

سنت او نوافل په کور کي کول پکار دی او که په جومات کي؟

سوال: ملفوظات کمالات اشرفیه ص: ۱۵۲ ملفوظ نمبر ۲۵۹ کی دی چی یو سړی پوښتنه وکړه چی ایا د سهار سنت په کورکی کوم او بیا جومات ته ځم نو په دی وخت کی د تحیة الوضوء، ورسره داسنت په جومات کی کول افضل دی. بلکی جمیع سنت موکده چی اتهام بالتشبه د اهل بدعت شخه محفوظ پاته سی چی د سنت تارکین دی، او موږ دا اوریدلی دی چی په کورکی د سهار سنت کول مسنون دی، د دی څه تطبیق دی؟

جواب: فی الدر المختار: والافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل عنها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص، وقال الشامی: وحیث کان هذا افضل یراعی مالم

(۱) دا اشتهار په ریکارډکی موجود نه دی په ظاهره په ذی اشتهار کی د جمعی سره د نوافلو څه مخصوص طریقه لیکل سوی وه.

(۲) وفی غنیة المتملی النوافل ج: ۱ ص: ۴۳۲ واعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی مکروه علی ماتقدم ماعد التراویح وصلوٰة الکسوف والاستسقاء فعلم ان کلامن صلاة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوٰة البرأة لیلة النصف من شعبان وصلوٰة القدر لیلة السابع والعشرین من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة، او همدارنګه وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۴ ص: ۲۲۴ و وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۵- ۲۶ (طبع ایچ ایم سعید) ومن المندوبات ... احیاء لیلة العیدیم والنصف من شعبان والعشر الاخیر من رمضان والاول من ذی الحجة، وفی الشامیة تحته علی الصفحة: ۲۶، بقوله فرادی الی ماذکره بعد فی متنه من قوله ویکره الاجتماع علی احیأ لیلة من هذه الیالی فی المساجد ..... وماروی من الصلوٰة فی هذه الاوقات یصلی فرادی غیر التراویح.

یلزم منه خوف شغل عنها لوذهب لبیته، او کان فی بیته مایشغل باله ویقلل خشوعه فیصلیها حینئذٍ فی المسجد (شامی ج: ۱ ص: ۴۵۸) (۱)

د دی څخه معلومه سوه چی اصل مسئله خو همدا ده چی ټول سنت او نوافل په کورکی کول افضل دی خو د څه عارض په وجه دا افضلیت منتقل کیدی سی، او عوارض مختلف کیدی سی، زموږ په زمانه کی سنت د کورونو د پاره پریښوولو کی داخطره وی چی چیری بالکل پاته نسی، ځکه متأخرینو سنت موکده په جومات کی د کولو حکم ورکړی دی، د حضرت تهانوی رحمه الله ذکر سوی فتویٰ هم اصلاً په همدی عارض باندی مبنی ده او د دی سره د اتمام بالتشبه باهل بدعت زیات علت شامل کړی دی او د حضرت تهانوی رحمه الله دافتویٰ امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۲۸۸ (۲) کی هم موجود ده.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۳/۲۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۳۵۷ ب)

د سهار سنت که پاته سي نو څه حکم دی؟

سوال: د سهار سنت پاته کیدو څخه وروسته څه کول پکار دی؟ ایا د دی قضأ کیدی سی؟

جواب: د لمر ختلو څخه وروسته او زوال څخه مخکی د امام محمد په نزد د سنتو قضاء کیدی سی، البته د شیخینو په نزد ځانته د سنتو قضاء نسته هو! که فرض لمونځ هم قضأ سوی وی نو د زوال څخه مخکی د فرض او سنت دواړو قضاکول پکار دی. (۳)

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

(۱) فتاوی شامیه باب الوتر والنوافل ج: ۲ ص: ۲۲ (طبع ایچ ایم سعید).

(۲) امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۳۸ سوال نمبر ۳۹۷ (طبع دار العلوم کراچی) همدارنګه وګورئ فتاویٰ دار العلوم دیوبند ج: ۴ ص: ۲۲۲.

(۳) وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۵۷ (طبع سعید) اذافاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لکراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فکذالك عندهما وقال محمد احب الی ان یقضیها الی الزوال کمافی الدرر قیل هذا قریب من الاتفاق .... الخ.

۱۳۸۷/۱۲/۴ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۸/۱۴۰۰ الف)

د سهار فرض شروع کیدو څخه وروسته سنت ترکوم وخت پوری اداء کیدی سي؟

سوال: د سهار په وخت چی جومات ته داخل سوم نو امام صاحب لمونځ ورکوی ماسنت کولو څخه بغیر په جمع کی شرکت وکی د دی څخه وروسته می د لمر راختلو څخه وروسته سنت اداء کړل نو زما داعمل صحیح دی او که نه؟

جواب: د سهار د سنتو په باره کی د ټولو څخه ښه طریقه داده چی په کورکی سنت اداء سی او بیا دی جومات ته ولاړسي (۱) او که په کورکی د سنت کولو څخه بغیر جومات ته ورسیدی نوترڅو چی د جمعی یورکعت بلکی تشهد نیوی سی، نو د سهار سنت لری په یوځای کی کول جائز دی خواه که جمع شروع وی، او که نه لیکن که کوم سړی په جمعی کی شریك سو نو بیا د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله د قول مطابق ځانته د سنتو قضاء نسته، تاچی د لمر ختلو څخه وروسته کوم دوه رکعته کړی دی هغه سنا د اړخه نفل سول.

فی الدر المختار باب ادراك الفریضة واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها لکون الجماعة اکمل والا بأن رجاء ادارك رکعةٍ فی ظاهر المذهب وقیل التشهد واعتمد المصنف والشرنبلالی تبعًا للبحر لکن ضعفه فی النهر وقال الشامی تحته لان المدار هنا علی ادراك فضل الجماعت وقد اتفقوا علی ادراکه بادراك التشهد فیأتی بالسنة اتفاقًا کما اوضحه فی الشرنبلالیة أیضًا وأقره فی شرح المنیة وشرح نظم الکنز (شامی ج: ۱ ص: ۳۴۹) (۲) وفی ردالمختار ایضًا قوله ولایقضیها الا بطریق التبعیة ای لایقضی سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفجر فیقضیها تبعا لقضائه لوقبل الزوال. (ایضًا ج: ۱ ص: ۷۵۰) (۳) والله اعلم

(۱) وفی غنیة المتملی ص: ۳۹۶ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) ثم النسة فی ستة الفجر ...... (ان یأتی بها اما فی بیته) وهو الافضل (او عند باب المسجد) اذ امکنه ذالك ..... الخ، او همدارنګه وګورئ سابقه فتویٰ ص: ۴۴۰ او د هغه نمبر ۱ حاشیه.

(۲) الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۵۶ (طبع سعید).

(۳) رد المختار ج: ۲ ص: ۵۷ (طبع سعید)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۵/ ۲/ ۱۳۹۱

(فتوی نمبر ۲۹۳/ ۲۲ الف)

موکد سنت بغیر د عذر څخه په ناسته باندی اداء کول

سوال: د موکد سنت قیام فرض دی او که سنت یامستحب؟

جواب: مؤکد سنت په ولاړه باندی کول افضل او مستحب دی او په ناسته باندی کول یی هم جائز دی: لمافی مراقی الفلاح (یجوز النفل) انما عبر به لیشمل السنن المؤکدة وغیرها فتصح اذا صلاها (قاعداً مع القدرة علی القیام) وقد حکی فیه اجماع العلماء ..... الخ، وقال الطحطاوی قوله (یجوز النفل قاعداً) مطلقا من غیر کراهة کمافی مجمع الانهر. (طحطاوی علی مراقی الفلاح باب النوافل ص: ۲۲۰) ([1])

خو د فقهاوو یوی ډلی د سهار سنت د دی څخه مستثنی کړی دی یعنی د دوی په نزد دابغیر د عذر څخه په ناسته باندی کول جائز نه دی او په دی کی قیام فرض دی (وخالفه الطحطاوی) ([2]) اوبعضی حضراتو د تراویحو هم دا حکم بنوولی دی، که څه هم د تراویحو په باره کی د قاضیخان او علامه شامی رحمه الله وغیره رجحان دی طرف ته دی چی هغه د سهارد سنتو په حکم کی نه دی خوبیاهم احتیاطًا حتی الامکان داهم په ولاړه باندی کول پکار دی.

لما فی الدر المختار ومنها (ای فرائض الصلوٰة) القیام فی فرض وملحق به کنذر وسنة فجر فی الاصح، وقال الشامی ناقلاً عن الحلیة وسنة الفجر لاتجوز قاعداً من غیر عذر باجماعهم کماهو روایة الحسن عن ابی حنیفة کما صرح بالخلاصة فکذا التراویح وقیل یجوز ..... قال قاضیخان وهو الصحیح. (شامی باب صفة الصلوٰة ج: ۱ ص: ۲۹۹) ([3])، (ومثله فی شرح المنیة الکبیر ص: ۲۶۷) ([4])

([1]) (طبع قدیمی کتب خانه)

([2]) طحطاوی علی المراقی ص: ۲۲۰ (طبع مذکور)

([3]) الدر المختار مع رد المختارج: ۱ ص: ۴۴۴- ۴۴۵ (طبع سعید)

([4]) غنیة المتملی ص: ۲۷۰، ص: ۲۱ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

به هرحال د سهار او تراویحو څخه علاوه نور سنت موکده کی د احنافو فقهاوو اتفاق دی چی قیام فرض نه دی مستحب دی ([1])، خو چونکی د سلفو تعامل سنن موکده په ولاړه باندی د کولو دی ځکه حتی الوسع داتعامل پریښوول نه دی پکار. والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۴/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۹۲/ ۲۹ ب)

مات سوی نفل لمونځ او د طواف او نذر په لمانځه کي د قیام حُکم

سوال: هغه نفل چی شروع سوی وی او مات یی کړی د دی په قضاء کی او د نذر په لمانځه کی او د طواف په لمانځه کی قیام فرض دی او که مستحب؟

جواب: قیام خو په هرفرض او واجب لمونځ کی فرض دی او په دی کی صلوٰة منذور او صلوٰة بعد الطواف هم داخل دی، کمامر فی عبارة در المختار فی الجواب الثانی ([2])،

([1]) وفی فتح باب العنایة بشرح نقایة ج: ۱ ص: ۳۳۷، ۳۳۸ (طبع بیروت) ویتنفل راکبًا ..... وقاعداً مع قدرت قیامه وفیه تحته والسنن الرواتب نوافل ..... وقال تحت قوله (مع قدرة قیامة) لماروی الجماعة الا مسلما عن عمران بن حصین قال: سألت رسول الله ﷺ عن الصلوٰة الرجل قاعداً فقال: من صلی قائما فهو افضل ومن صلی قاعداً فله نصف اجر القائم ومن صلی نائمًا او مضطجعًا فله نصف اجر القاعد .... وهذا فی صلوٰة النافلة، لان صلوٰة الفرض لایجوز فیها القعود مع القدرة علی القیام بالاجماعو وفی مجمعالانهر شرح ملتقی الابحرج: ۱ ص: ۲۰۰ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) وصح النفل قاعداً مع القدرة علی القیام، بلاکراهة لماروی انه علیه السلام کان یصلی رکعتین قاعداً بغیر عذر وفیه اشارة الی انه لاتجوز المکتوبة والواجبة والمذورة وسنة الفجر والتراویح بلار عذر والصحیح ان التراویح تجوز .... الخ وفی المبسوط السرخسی ج: ۲ ص: ۱۴۷ (طبع دار المعرفت بیروت) (الفصل السابع فی ادائها (التراویح) قاعداً من غیر عذر، اختلفوا فیه قال بعضهم لاینوب عن التراویح علی قیاس ماروی الحسن عن ابی حنیفة رحمهما الله تعالی فی رکعتی الفجر انه لو اداهما قاعداً من غیر عذر لم یجزه عن السنة وعلیه الاعتماد فکذا هذا لانها مثله والصحیح انها تجوز والفرق ظاهر فان رکعتی الفجر اکد واشهر وهذا الفرق ظاهر یوافق روایة ابی سلیمان عن ابی حنیفة وابی یوسف ومحمد ومع الفرق فانه لایستحب لمافیه من مخالفة السنة والسلف.

([2]) د دی څخه سابقه فتوی مراد ده.

خو د مات سوی نفل لمونځ په باره کی صریح جزئیه خو پیدا نه سوه، علامه شامی رحمه الله د طحطاوی رحمه الله او رحمتی رحمه الله په باره کی صرف دومره نقل کړی دی چی هغوی په دی مسئله کی توقف کړی دی. (ج: ۱ ص: ۲۹۹ صفة الصلوٰة) [1] او طحطاوی رحمه الله د مراقی د عبارت څخه وجوب استنباط کړی دی چنانچی لیکی:

قوله والواجبات ظاهره شمول قضاء النفل الذی أفسده (ص: ۱۲۲ طبع قدیمی کتبخانه)

خو د دی مشابه د یوی مسئلی څخه دامستنبط کیږی چی د مات سوی نفل لمونځ کی په قضاء کی قیام د صاحبینو په نزد واجب به وی او د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به واجب نه دی.

وذالك لما فی شرح المنية: اما القعود بغير عذر بعد الافتتاح قائماً فيجوز عند ابی حنيفة لكن مع الكراهة علی ما اختاره صاحب الهداية وبلاكراهة علی ما اختياره فخر الاسلام ..... واما عندهما فلايجوز اتمامها مع القعود بلاعذر بعد الافتتاح قائما اصلاً لان الشروع معتبر بالنذر ومن نذر صلوٰة ركعتين قائماً لايجوز له ان يصليهما قاعدا من غير هذر فكذا اذا شرع فيهما ولابی حنفة ان اللزوم بالشروع لضرورة صيانة المؤدی عن البطلان وصاينته عنه ليست موقوفه علی القيام الصحة بدونه والضرورة تتقدر بقدرها .... ولذا اتفقوا علی انه لونذر الحج ماشياً لزمه بصفة المشی ولوشرع فيه ماشيًا لايلزمه. (كبيری شرح منيه ص ۲۶۸ بعد فرائض الصلوٰة) [2]

په دی کی د امام ابوحنیفه رحمه الله تعلیل په صورت مسئوله باندی هم سم منطبق دی، لهذا د امام صاحب د قول په قیاس باندی صورت مسئوله کی قیام واجب نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

---

[1] رد المختارج: ۱ ص: ۴۴۴ (طبع سعید)

[2] غنية المتملی ص: ۲۷۱ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) وفی فتح باب العنایه ج: ۱ ص: ۳۳۹ (طبع بيروت) (وكره التنفل قاعدا! بقاء) بان يحرم قائماً ثم يقعد وقال ابويوسف ومحمد لايجوز لان الشروع ملزم لان يأتی علی صفة شرع فيها ، او باكمل منها، فاشبه النذر قائماً ولای حنيفة أن البقاء اسهل من الابتداء وقد جاز ترك القيام فی ابتداء النفل فيجوز فی اثنائه ...الخ، وفی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحرج: ۱ ص: ۲۰۱ (ولوقعد بعد ما افتحه قائماً جاز) عند الامام استحسانًا لانه اسهل من الابتداء (ويكره لوبلاعذر) عنده (وقال لايجوز الا بعذر) قياسا لان الشروع ملزم كالنذر ولونذر ان يصلی قائماً لم يجزان يصلی قاعداً فكذا هذا .... الخ.

۱۳۹۸/۲/۲۴ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۹۲/ ۲۹ ب)

د نوافلو په جمع کي د خلګو د شرکت اهتمام کول

سوال: یو سړی د څلورو پنځو کالو څخه د اول محرم څخه ترلسم محرم پوری د نوافلو بالجماعت اهتمام کوی او په دی لسو شپو کی قرآنکریم ختموی چی په هغه کی د لاوډ سپیکر انتظام وی آیا داجائز دی؟ او که بدعت دی؟ د داسی سړی په اقتداء کی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: د لاوډ سپیکر وغیره اهتمام کول او خلګوته د شرکت دعوت ورکول (تداعی) ده او د تداعی سره د نوافلو جمع مکروه تحریمی ده، [1] کوم سړی چی دا دثواب باعث ګنی هغه مرتکب د بدعت دی، ده لره د امام جوړولو څخه پرهیز کول پکار دی، خو که څوک صحیح العقیده امام نه وی نو په ده پسی لمونځ کول د ځانته لمونځ کولو څخه نبه دی، لمونځ به اوسی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۱/۱/۵ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۱۹/ ۲۲ الف)

په رمضان المبارک کي د نفلو جماعت

سوال: په سنه ۱۹۵۹ء کی یوصاحب (محمود حسن) د رمضان المبارک په میاشت کی د نفلو جماعت سره متعلق یوه استفتاء د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په خدمت کی رالیږلی وه او د استفتاء سره هم د دی مسئلی متعقل د حضرت مولانا حسین احمد مدنی رحمه الله لیکل سوی جواب هم راولیږی، حضرت مفتی صاحب رحمه الله دا استفتاء د جواب د پاره خپل فائق او لائق صاحبزاده حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ته وسپارله چی په دغه وخت یی په دوره حدیث کی داخله اخستله، ګوانکی که په دغه وخت د هغه د ضابطی طالب علمی دورهم لاختم سوی نه وو، حضرت مولانا مدظلهم د خپل پلار په ایماء باندی د دغه استفتاء تحریری جواب

---

[1] وفی الهندية ج: ۱ ص: ۸۳ (طبع مكتبه حقانيه) التطوع بالجماعة اذاكان علی سبيل التداعی يكره.

ولیکي چي پیش خدمت دی، داتفصیلي فتویٰ مخکښی د (فقهي مقالاتو) په دوهم جلد کي هم شائع سوی ده، اوس د حضرت د فتاویٰ دی مجموعه کي د نورو فتواوو سره هم متداول نسخو په تخریج سره شائع کیږي. (مرتب عفی عنه)

استفتاء

د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله په خدمت کي

سوال: د حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمه الله یوه فتویٰ (الجمعیة) شیخ الاسلام په نمبر کي شائع سوی ده، چي په هغه کي په رمضان کي د تهجد لمونځ تداعی سره هم افضل کیدل درج دی او حضرت گنگوهی قدس الله سره په فتاویٰ رشیدیه کي په رمضان کي د تهجد جماعت که بالتداعی وی نو مکروه تحریمي یی ښوولي دی، دا د تهجد لمونځ حضرت مدني رحمه الله په قول مرجوح باندي مبنی گرځولی دی، ماډیرو حضراتو ته ولیکل د چا د خوا څخه هم فیصله کن جواب موصول نسو ماسوا د حضرت والا د طرف څخه په دی وخت د دی متعلق چیري ماته د دی هم توقع نسته لوی لوی کار مفتیان صاحبان ولاړل مسئله زیر بحث ډیره مهمه ده، د دی په وجه یونوی باب د بدعت د خلاصیدو خطره ده، پخپله ماته هم تردد پیداسو، دلته په تیر رمضان کي پنځوس، شپیته کله کله د سلو څخه هم زیات خلک د تهجد لمونځ په جمعي سره اداء کوي، د دی اهتمام وسو، زه پخپله شریك سوی نه یم او نه می چاته د شریکیدو وئیلی دی او نه می څوك منع کړی دی، البته خپل احباب معلومات کوي، نو هغوی ته به می وئیل چي فقهاء خو مطلق طور باندی تداعی په نوافلو کي مکروه لیکی، زموږ په اکابرو کي د چاعمل هم د دی متعلق په اوریدلو کي نه دی راغلی، حضرت والا لږ مفصل طور باندی د حضرت مدني رحمه الله د دلائلو متعلق څه تحریر کړی که څه هم حضرت والاته به تکلیف وی خوڅه وسی؟ د هیڅ ځای څخه اطمنان بخش جواب پیدانه سو، د حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمه الله جواب منسلك دی، کمترین بنده محمد حسن عفی عنه کراچي.

جواب د حضرت مولانا سید حسین احمد مدني صاحب رحمه الله
منقول از شیخ الاسلام نمبر ص: ۵۴، روزنامه الجمعیة دهلي
سوال او جواب د جماعت نوافل په رمضان کي بغیر د تراویحو څخه

منقول از مکتوبات مخطوطه فتح القدیر ج: ۱ باب الاستفتاء ص: ۴۳۸ کي دی (۱)
وقدصرح الحاكم ایضاً في باب صلوٰة الكسوف من كافي بقوله، ویكره صلوٰة التطوع جماعة ماخلا قیام رمضان وصلوٰة الكسوف وهذا خلاف ماذكر شیخ الاسلام.

اورد المختار ج: ۱ ص: ۵۲۳ کي دی: (۲) قلت ویؤیده ایضا مافی البدائع من قوله ان الجماعة فی التطوع لیست بسنة الا فی قیام رمضان اه، وفیه النفل بالجماعة غیر مستحب لانه لم تفعله الصحابة فی غیر رمضان اه.

په مذکوره برنیو نصوصو کي یی د قیام رمضان تصریح فرمائیلی ده، د دی تخصیص یی د تراویحو سره نه دی کړی، چونکي د رسول الله ﷺ څخه تردریمي شپي پوري او د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه تراخري شپي پوري نوافل د جمع سره کول منقول دی، لکه موطأ امام مالك کي په کثرت سره مروی دی، ځکه هغه ټول نوافل چي د رمضان په شپوکي کول کیږي، برابره خبره ده که تراویح وی یا تهجد، د شپي په ابتداء کي وی یا د شپي په اخره کي د جمع اجازت به وی. (مؤطاء امام مالك ص: ۱۱) کي دی (۳).

قال محمد: وبهذا كله نأخذ لابأس بالصلوٰة فی شهر رمضان ان یصلی الناس تطوعا بامام لان المسلمین فقد اجمعوا علی ذالك اه.

فتح الباری ج: ۴ ص: ۲۱۵ باب (فصل من قام رمضان) کي دی: (۴)
ای قیام لیالیه مصلیا، والمراد من قیام اللیل مایحصل به مطلق القیام كما قدمناه فی التهجد سواء (كان قلیلا او كثیراً) وذكر النووی ان المراد بقیام رمضان، صلوٰة التراویح یعنی انه یحصل بها المطلوب من القیام لان قیام رمضان لایكون الابها واغرب الكرمانی فقال: اتفقوا علی ان المراد بقیام رمضان صلوٰة التراویح اه، قلت: قال

---

(۱) فتح القدیر ج: ۲ ص: ۵۹ (طبع مکتبه رشیده کویټه).
(۲) رد المختار ج: ۲ ص: ۴۸، ۴۹ (طبع ایچ ایم سعید)
(۳) مؤطاء امام مالك: ص: ۱۴۳ (طبع بیروت بوهړ گیټ ملتان)
(۴) فتح الباری ج: ۴ ص: ۲۵۱ (طبع دار النشر الکتب الاسلامیه لاهور).

النووی: المراد بقیام رمضان صلوٰة التراویح ولکن اتفاق من أین أخذه بل المراد من قیام الیل مایحصل به مطلق القیام، سواء کان قلیلاً او کثیراً اه، وقال العینی فی جزء الاول ص ۲۸۱ من کتاب الایمان (۱) من عمدة القاری مانصه. ومعنی من قام رمضان من قام بالطاعة فی لیالی رمضان ویقال یرید الصلوٰة التراویح، وقال بعضهم: لایختص ذالك بصلوٰة التراویح، بل فی ای وقت صلی تطوعا حصل له ذالك الفضل. اه

د برنی مذکوره نصوصو څخه دا لاندی امور معلومیږي:

۱: هرنفل لمونځ د جمعی سره مطلقًا مکروه نه دی بلکی د دی څخه مستثنیات هم دی.

۲: په مستثنیاتو کی یی لفظ د قیام رمضان او کسوف ذکر کړی دی.

۳: امام محمد او حاکم او صاحب بدائع وغیره متقدمینو (رحمهم الله تعالی) فقط قیام رمضان د تراویحو سره خاص کول مرجوح قول دی چی د علامه کرمانی او علامه نووی رحمهم الله تعالی قول دی، د دی په خلاف حافظ ابن حجر عسقلانی او امام عینی رحمهما لله تعالی د قیام رمضان څخه ټول نوافل مراد اخلی برابره خبره ده که تراویح وی یا تهجد وی یا نور نوافل، او د امام نووی رحمه الله قول موول ګرځولو سره یی د خپل قول طرفته راګرځولی دی، او د کرمانی رحمه الله قول ته غریب او مخدوش وایی او همداد امر مدلول مطابقی دی.

بنا په دی باندی د فتاوٰی رشیدیه په تصریح جلد ثانی ص: ۵۹ او جلد اول صفحه (۴۹) چی په هغه کی مستثنیات په تراویحو سره مختصر سوی دی په قول مرجوح باندی مبنی دی، وروسته د رمضان د ټولو نوافل جماعت برابره خبره ده که بالتداعی وی یا بلاتداعی ټول مأذون فیه بلکی مستحب به وی او د من قام د لاندی به داخل وی، او په دی باندی به نکیر کول غیر صحیح وی، بلکی ټول طاعات طواف نفل یاعمره نافله وغیره به هم په دی کی محسوب او مرغوب فیه وګرځول سی، کماذکر العینی رحمه الله تعالی:

موږ د قطب العالم حاجی امداد الله صاحب قدس سره العزیز عملی هم مکه معظمه کی په همدی پیداکړی دی، او د شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب قدس الله سره العزیز همدا معمولو، او په حرمینو شریفینو کی د پخوا څخه عمل د سنت عشربه وغیره چی بالخصوص شوافع او د څلویښتو رکعتو عمل چی د موالکو معمول

(۱) عمدة القاری باب تطوع قیام رمضان من الایمان ج: ۱ ص: ۳۳۳ (طبع دار الفکر).

به وو، او د اهل مکه قدیمی عمل په هره ترویحه باندی اسبوع طواف هم د دی مؤئد دی.

والله اعلم

ننګ اسلاف

حسین احمد غفرله

دارالعلوم دیوبند

۱۹/ ذی الحجه ۱۳۷۲ هـ

د خط جواب د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله

مکرم بنده! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

دامعامله د نفس مسئلی په حیثیت سره خو څه اهمه نه وه خو د حضرت مولانا مدنی رحمه الله په فتوی باندی د تنقید په حیثیت سره یی دا دومره مهمه جوړه کړله چی په دی کی د کافی بحث او تحقیق څخه بغیر قلم لوړه ول مشکل وو، په رمضان کی زما څخه دا بالکل نه کیږی، ځکه می خپل کشر ځوی محمد تقی سلمه ته چی په دی کال کی دوره حدیث کی شریکیدونکی دی، دامسئله می ورته حواله کړله خیال می دا وو چی هغه ته به مشق وسی او د کتابونو حوالی به را وباسی او پیش به یی کړی، نو بیابه زه څه ولیکم، خو ماشاء الله داهلك ذهین دی، ځکه د ټولو کتابونو حواله هم زما د امداد څخه بغیر یی را وکښل، بیایی د هغه اقتباسات را کښلو سره پخپله یوتحریر ولیکی، اوس چی می کوم تحریر ولیدی نو زما په نظر کی بالکل کافی وافی وو، ځکه می په همدی تصدیق ولیکی هغه درلیږم. والسلام

بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۴ شوال ۱۳۷۸ هـ

د خط جواب د حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني دامت برکاتهم

د تراویحو، استسقاء او کسوف څخه علاوه نور د نفلو جمع که بالتداعی وی نو په هرصورت کی مکروه تحریمی ده برابره خبره ده که هغه نفلونه په رمضان کی وسی او که په غیر رمضان کی، همدا مسلك د عام فقهاوو او محدثینو دی او په همدی باندی د سلف صالحینو فتوی او تعامل پاته دی.

۱: بدائع او صنائع کی دی:

اذا صلوا التراویح ثم ارادوا ان یصلوها ثانیا یصلون فرادی لابجماعة لان الثانیة تطوع مطلق والتطوع المطلق بجماعة مکروه. بدایع ج: ۱ ص: ۲۹۰ (۱)

علامه ابن نجیم فرمائی: ولوصلوا التراویح، ثم ارادوا ان یصلوا ثانیا یصلون فرادی اه. البحر الرائق ج: ۲ ص: ۷۴ (۲)

په فتاوی عالمگیریه کی دی:

ولوصلوا التراویح ثم ارادوا ان یصلوا ثانیا یصلون فرادی، کذا فی التاتار خانیة. (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۱۲۳) (۳)

فتاوی بزازیه کی دی:

صلوا بجماعة ثم ارادوا اعادتها بالجماعة یکره لان النفل بجماعة علی التداعی یکره الا بالنص. اه (بزازیه علی هامش الهندیة ج: ۴ ص: ۳۱) (۴)

مذکورة الصدر د نصوصو څخه معلومه سوه چی د تراویحو اعاده د جمعی سره جائز نه ده او په بدائع او فتاوی بزازیه کی د دی د علت تصریح هم فرمائل سوی ده چی په دوهم وار باندی کوونکی تراویح نفل مطلق (یعنی هغه نفل چی په هغه کی د جمعی نص نه پیداکیږی) او نفل مطلق د جمعی سره مکروه تحریمی دی نو معلومه سول چی د فقهاوو حضراتو په نزد د نفل جماعت (علی التداعی) په هرصورت کی مکروه دی، برابره خبره ده که په رمضان کی وی یا په غیر رمضان کی، ځکه که د رمضان نفلونه علی الاطلاق د دی حکم څخه مستثنی وی، نو د تراویحو اعاده به د جمعی سره ناجائزه نه وی، کماهوظاهر.

۲: علامه طاهر بن عبدالرشید بخاری رحمه الله په خلاصة الفتاوی کی لیکی:

ولوزاد علی العشرین بالجماعة یکره عندنا بناء علی ان صلوة التطوع بالجماعة مکروه. (خلاصة الفتاوی ج: ۱ ص: ۲۳) (۵)

---

(۱) طبع ایچ ایم سعید.

(۲) البحر الرائق ج: ۲ ص: ۲۸ (طبع ایچ ایم سعید)

(۳) الفتاوی الهندیة فصل التراویح ج: ۱ ص: ۱۱۲ (طبع مکتبه حقانیه پشاور)

(۴) الفتاوی البزازیه علی هامش الهندیة (الباب الثالث فی التراویح، ج: ۴ ص: ۲۹) (طبع مکتبه رشیدیه کویته).

(۵) (طبع مکتبه رشیدیه کویته).

که د رمضان نفلونه د جماعت سره علی الاطلاق جائز وی نو د شلو څخه زیات رکعتونه په بالجماعت مکروه نه وی.

۳: په درمختار کی دی:

ولایصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذالك علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد، کمافی الدرر. (شامی ج: ۱ ص: ۲۲۳) (۱)

علامه ابن عابدین رحمه الله فرمائی:

والنفل بالجماعة غیر مستحب، لانه لم تفعله الصحابة فی غیر رمضان، ردالمختار ج: ۱ ص: ۲۲۴) (۲)

علامه کاسانی رحمه الله تحریر فرمائی: الجماعة فی التطوع لیست بسنة الا فی قیام رمضان وفی الفرض واجبة اوسنة موکدة. (بدایع الصنائع ج: ۱ ص: ۲۹۸) (۳)

محقق ابن همام رحمه الله فرمائی: وقد صرح الحاکم ایضا فی باب الصلوة الکسوف من الکافی بقوله، ویکره صلوة، التطوع جماعة ماخلا قیام رمضان وصلوة الکسوف. (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۴۳۸) (۴)

په پورته ذکرسوی اصولو کی صلوة الفضل بالجماعة د کراهت حکم څخه قیام د رمضان مستثنی سوی دی او د تراویحو په ځای یی د قیام رمضان لفظ استعمال کړی دی چی د هغه د عموم څخه داشبهه کیدی سی چی داحکم صرف د غیر رمضان د پاره مخصوص دی، خو په اصل کی د قیام رمضان دالفظ (د فقهاوو د عرف په لحاظ سره بالخصوص د جماعت په مسئله کی) عام نه دی بلکی د تراویحو سره مخصوص دی، لکه چی انشاء الله مورږ به یی عنقریب بالتفصیل بیان کی. والله الموفق.

۴: حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد ذکریا صاحب په شرح موطأ کی فرمائی:

قال الزرقانی رحمه الله ظاهره (ای حدیث افضل الصلوة صلوتکم فی بیوتکم الا المکتوبة) یشمل کل نفل، لکنه محمول علی مالایشرع له التجمیع کالتراویح والعیدین. اه (اوجز المسالك ج: ۲ ص: ۷) (۱)

---

(۱) الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۸ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) ردالمختار ج: ۲ ص: ۴۹ (طبع ایچ ایم سعید)

(۳) (طبع ایچ ایم سعید).

(۴) فتح القدیر باب الاستفتاء ج: ۲ ص: ۵۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویته).

حضرت الشیخ مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله په شرح ابوداود کی لیکی:
فان خیر صلوة المرء وهذا عام لجمیع النوافل والسنة الا النوافل التی من شعائر الاسلام کالعید والکسوف والاستسقاء، قلت: وهذا یدل علی ان صلوة التراویح فی البیت افضل، والجواب عن الذین قالوا بافضلیتها فی المسجد جماعة ان رسول الله ﷺ قال ذالك لخوف الافتراض، فاذا ذال الخوف بوفاته ﷺ ارتفع المانع وصار فعله فی المسجد افضل..... فاشبه صلوة العید. (بذل المجهود ج: ۲ ص: ۳۳۶) ([2])
په دی نصوصو کی لفظ د تراویحو استعمال سوی دی، قیام رمضان ځخه چی د دی د عموم ځخه د عموم حکم شبه وی.
۵: عنایه شرح هدایه کی دی: (فضل فی قیام شهر رمضان) ذکر التراویح فی فصل علی حدة لاختصاصها بمالیس لمطلق النوافل. (عنایة علی هامش الفتح ج: ۱ ص: ۳۳۳) ([3]).
په البحر الرائق کی دی: (تحت قول الکنز) (وسنن فی رمضان عشرون رکعة .... الخ) بیان الصلوة التراویح وانما لم یذکرها مع السنن المؤکدة قبل النوافل المطلقة لکثرة شعبها ولاختصاصها بحکم من بین سائر السنن والنوافل وهوالاداء بجماعة (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۷۱) ([4])
د دی ځخه معلومه سول چی تراویح په جمعی سره اداء کول د تمامو سنتو او نوافلو په مقابله کی د دی خصوصیت دی.
۶: فتاوی قاضیخان کی دی:
ویستحب ادائها (ای التراویح) بالجماعة وقال مالك والشافعی رحمهما الله تعالی فی القدیم: الانفراد افضل کسائر السنن، انتهی وفیه بعد ذالك: والصحیح ان ادائها بالجماعة فی المسجد افضل لانه فیه تکثیر الجماعة وکذالك فی المکتوبات ([5]) (خانیة علی هامش الهندیة ج: ۱ ص: ۲۱۳)

([1]) (طبع مکتبه حقانیه ملتان)
([2]) طبع معهد الخلیل الاسلامی کراچی.
([3]) عنایة علی هامش فتح القدیر ج: ۱ ص: ۴۰۶ (طبع مکتبه رشیدیه کویته)
([4]) البحر الرائق ج: ۲ ص: ۶۶ [illegible]
([5]) الفتاوی الخا[illegible] ۲۳۳ (طبع مکتبه حقانیه پشاور)

په اولنی نص کی اشاره وفرمائیل سوه چی د تراویحو او د یو څو نورو منصوص سنتونه علاوه په ټولو سنتونو کی موږ هم د شوافعو وغیره د پخوانی قول سره متفق یو چی په دی کی انفراد افضل دی په دوهم نص کی وفرمائیل سول چی تراویح په دی حکم کی د مکتوباتو سره شریکی دی که د رمضان په بقیه نفلونو کی هم جماعت جائز وی نو تصریح به یی سوی وه.
حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس سره العزیز لیکی چی:
۷: د نوافلو جماعت ځخه ماسوا د هغه مواقعو ځخه چی د حدیث ځخه ثابت دی مکروه تحریمی دی، په فقه کی لیکلی دی که تداعی وی او مراد د تداعی ځخه د څلورو کسانو کیدل وی، وروسته جماعت د صلوة کسوف، استسقاء او د تراویحو درست او باقی نور ټول مکروه دی، کذافی کتب الفقه. (فتاوی رشیدیه ص: ۲۸۹) ([1])
حضرت حکیم الامت مولانا تهانوی رحمه الله د شبینی مفاسد بیانوی او فرمائی:
مثلاً که د تراویحو ځخه وروسته داعمل وی نو د نفلو جماعت د ډیرو خلگو سره کول دی کوم چی مکروه دی. (امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۰۰) ([2])
دی حضراتو بالکل تصریح وکړه، په وضاحت سره یی بیان وکی چی د نفل جماعت (د تراویحو ځخه ماسوا) رمضان کی هم داشان ناجائز دی څنګه چی په غیر رمضان کی
۸: د دی روایاتو ځخه علاوه درایت هم د دی مقتضی دی چی نفل د جمع سره په رمضان کی هم جائز نه دی، ځکه چی د تراویحو جماعت خلاف قیاس دی ځکه چی تراویح په تطوعاتو کی دی، او په تطوعاتو کی اخفاء مقصود ده په خلاف د فرائضو ځکه تطوعات خو نه صرف بلاجماعته بلکی په کورکی کول ښه دی لکه چی حضور ﷺ په یوحدیث کی ارشاد وفرمائیلو:
(صلوة المرء فی بیته افضل من صلوته فی مسجدی هذا الا المکتوبة) ([3]) نو ثابت سول چی د تراویحو جماعت خلاف قیاس دی او د اصولو دامسلمه قاعده ده چی (امر خلاف قیاس په خپل مورد باندی منحصر وی) په دی باندی قیاس کولو سره نور مسائل په دی

([1]) تالیفات رشیدیه مع فتاوی رشیدیه ص: ۲۹۶ (اداره اسلامیات لاهور)
([2]) امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۴۲۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)
([3]) سنن ابی داود باب صلوة الرجل التطوع فی بیته حدیث رقم: ۱۰۴۴ ج: ۱ ص: ۲۷۴ (طبع دار الفکر)

حکم کې ګرځول جائز نه دي، اوس کتل دادي چې په نوافلو کې د جماعت مود څه څه دي؟ په نوافلو کې د جماعت مورد صلوٰة الکسوف، صلوٰة الاستسقاء او صلوٰة العيدين (علىٰ قول من عدهما من النوافل) او صلوٰة التراويح دي، د رمضان يوبل نفل مثلاً تهجد وغيره کې چيرې هم د چا څخه جماعت منقول نه دي، البته يو دوه روايتونه داشان پيداکيږي خو هلته جماعت لاعلى السبيل التداعي، دي چې اتفاقًا په هرصورت کې جائز دي، مثلاً د حضرت ابن عباس ﷺ هغه مشهوره واقعه چې په هغه کې هغه فرمائي چې حضور ﷺ په تهجدو کې مشغول وو، نو زه د هغوی سرې طرف ته ودريدم د حضور ﷺ زه (د يوروايت مطابق) د لاس څخه ونيولم او راسته طرف ته يې راتاوکړم، په دې کې مقتدي صرف حضرت ابن عباس ﷺ دي چنانچې د حضرت شيخ مولانا انورشاه کشميري ﷫ ترمذي په تقرير کې دي چې:

وبين التراويح والتهجد فى عهده ﷺ لم يكن فرق فى الركعات بل فى الوقت والصفة اى التراويح تكون بالجماعة فى المسجد بخلاف التهجد. (العرف الشذى ج: ۱ ص: ۲۳۰)

او حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي ليکي چي:

او رسول الله ﷺ به تهجد هميشه منفرداً کول، هيڅکله يې په تداعي سره جماعت نه دی کړی که څوك به دريدل نو څه خبره به نه وه، لکه چې حضرت ابن عباس ﷺ يووار پخپله د حضور ﷺ پسې ولاړ وو، په خلاف د ترويحه چې دايې څو واره په تداعي سره په جمع اداء کړی دی. (فتاوىٰ رشيديه ص: ۳۰۷)

کله چې دامعلوم سول چې د نفلو جماعت صرف د تراويحو، کسوف، استسقاء اوعيدين کې مشروع دی نوپه حکم د مقدمې ثانيه نور نوافل مثلاً: تهجد وغيره کې به داحکم نسې متعدي کولې، ځکه چې په دې کې جماعت منقول او مأثور نه دی، لهذا د منصوصه نوافلو څخه علاوه په ټولو نوافلو کې برابره خبره ده که هغه په رمضان کې وي يا په غير رمضان کې جماعت بالتداعي به مکروه تحريمي وي.

د رمضان د قيام تحقيق

حضرت شيخ مولانا سيد حسين احمد مدني ﷫ پخپل استدلال کې هغه نصوص پيش کړي دي چې په لوړ په دريم نمبر کې تيرسول او د هغه څخه علاوه د مؤطاء امام

مالك ﷫ يوعبارت يې پيش کړی دی په دې ټولوکې په مستثنياتو کې د (قيام رمضان) لفظ استعمال سوی دی، چې د هغه څخه ثابتيږي چې د قيام رمضان څخه مراد صرف تراويح نه دي بلکې (مايحصل به القيام) مطلقا مراد دي، او بيا دواړو لره يوځای کولو سره يې دانتيجه را ووتله چې فقهاوو د قيام رمضان لفظ استعمال کړی دی او د عيني او عسقلاني د عبارتونو څخه د هغه عموم معلوميږي، لهذا د رمضان په هرنفل کې جماعت جائز دی، خو د قيام رمضان لفظ په لغوي اعتبار سره خو بيشکه عام دی خو د عامو فقهاوو او عام محدثينو عرف دادی چې داصرف په تراويحو کې خاص کوي، او د تراويحو څخه وروسته د قيام رمضان د لفظ استعمالولو وجه د هدايې په شرحه کې علامه بابرتي ﷫ داسې نقل کړې ده:

وترجم بقيام رمضان اتباعا لفظ الحديث قال ﷺ ان الله تعالى فرض عليكم صيامه وسننت لكم قيامه. (عناية على هامش الفتح) (ج: ۱ ص: ۳۳۳) ([1])

۱: د فقهاوو رحمهم الله د دې قول مطلب (چې د قيام څخه علاوه د نورو نوافلو جماعت مکروه دی) عمدة القاری او فتح الباری څخه د اخذ کولو په ځای بهتر او انسب دادی چې پخپله د فقهاوو د عبارتونو څخه اخذ سي چې په زير بحث سند زير مسئله کې د نص درجه لري، په خلاف د عمدة القاری او فتح الباری چې د هغوی پيش نظر په دې مقام کې د جماعت بحث نه دی بلکې د حديث (من قام رمضان ايماناً) تشريح ده، ځکه موږ دلته د فقهاوو هغه يوڅو عبارتونه پيش نظر کوو چې د جماعت په مسئله کې نص دی او د هغه څخه معلوميږي چې د هغوی په نزد د قيام رمضان څخه مراد تراويح دي.

الف: علامه مرغي ناني ﷫ په هدايه کې (فصل فى التراويح) په ځای فصل فى قيام رمضان په عنوان لګولو سره د تراويحو مسائل ذکر کړی دی، او د هدايې شارحينو مثلاً محقق ابن همام د دې عنوان لاندې د قيام رمضان تشريح کولو په ځای د تراويحو تفسير شروع کړی دی:

(فصل فى قيام رمضان) التراويح جمع ترويحة. (فتح القدير ج: ۱ ص: ۳۳۳) ([2])

او علامه بابرتي ﷫ هم د دې عنوان لګولوسره تراويح د سنن او نوافلو څخه ځانته د

---

[1] عناية على هامش فتح القدير فصل فى قيام شهر رمضان ج: ۱ ص: ۴۰۲ (طبع مکتبه رشيديه کويټه)

[2] فتح القدير فصل فى قيام رمضان ج: ۱ ص: ۳۰۲ (طبع مکتبه رشيديه کويټه).

ذکرکولو وجه بیانول شروع کړی دی (لکه چی لوړ په پنځمه شماره کی تیرسول) (عنایه په ذکرسوی حوالی سره)

ب: ملك العلماء علامه کاسانی رحمه الله په بدائع کی چیری چی یی د قیام رمضان لفظ استعمال کړی دی هم هلته لږ مخکی یی دلالة د هغه تشریح بیان کړی ده چی مراد یی تراویح دی، دوی د فرائضو او نوافلو په مینځ کی مابه الفرق امتیازات بیانولو سره لیکلی دی:

ومنها ان الـ ماعة فی التطوع لیست بسنة الا فی قیام رمضان وفی الفرض واجبة او سنة مؤكدة.

بیایی دوی کرښی وروسته د دی فرق وجه بیانولو سره یی وفرمائیل:

وانما عرفنا الجماعة سنة فی التراویح بفعل رسول الله ﷺ واجماع الصحابة. (بدایع الصنائع ج: ۱ ص: ۲۹۸) [1]

د دی څخه علاوه هغه مسئله چی د تراویحو اعاده د جماعت سره ناجائز ده د دی څخه هم ثابتیږی چی صاحب بدائع د قیام څخه مراد تراویح اخستی دی او هغه د نفلو جماعت په رمضان او غیر رمضان دواړوکی ناجائز ګرځوی وهو الظاهر.

ج: علامه شمس الائمه حضرت سرخسی رحمه الله فرمائی:

الفصل الخامس فی کیفیة النیة واختلفوا فیها، والصحیح ان ینوی التراویح او السنة او قیام اللیل. (مبسوط للسرخسی ج: ۲ ص: ۱۴۵) [2].

د: په فتاوی قاضیخان کی دی: ان نوی التراویح او سنة الوقت او قیام اللیل فی رمضان جاز (خانیة علی هامش عالمګیریه ج: ۱ ص: ۲۱۲) [3]

ګوانکی قیام اللیل فی رمضان او تراویح دواړه هم معنٰی لفظونه دی د تراویح د نیت کولو په وخت د تراویح لفظ استعمال کړی یا د قیام رمضان برابردی.

(جواب نمبر ۲): په احادیثو او اثارو کی هم چی چیری د قیام رمضان لفظ استعمال سوی دی، هلته د دی څخه تراویح مراد اخستی سی، د دی څخه علاوه نه.

---

[1] (طبع ایچ ایم سعید)

[2] (طبع دار المعرفت بیروت)

[3] الفتاوی الخانیة علی هامش الهندیة فصل فی نیت التراویح ج: ۱ ص: ۲۳۶ (طبع مکتبه حقانیه پشاور)

الف: عن سلمان الفارسی رضی الله عنه قال: خطبنا رسول الله ﷺ فی آخر یوم من شعبان، فقال: یا ایها الناس! قد اظللکم شهر عظیم، شهر مبارك، شهر فیه لیلة خیر من الف شهر، جعل الله صیامة فریضة وقیامه تطوعا. (مشکوٰة بحواله بیهقی ص: ۱۷۳) [1].

او د سنن نسائی په روایت کی دی: (افترض الله علیکم صیامه سننت لکم قیامه) دلته د قیام څخه مراد د (د تراویح) څخه علاوه بل څه کیدی نسی، ځکه که د قیام څخه تهجد مراد واخستل سی، نو د قیامه تطوعًا، داجمله به بېکاره سی، ځکه چی د تهجدو د تطوع کیدو په رمضان کی څه تخصیص دی؟ هغه خو په غیر رمضان کی هم تطوع دی، معلومه سول چی دلته د قیام څخه مراد تراویح دی او د دی قیام څخه د تراویح مراد اخستلو تائید د دی څخه هم کیږی چی فقهاء رحمهم الله داحدیث د تراویحو په اثبات کی نقل کوی.

کمافی الفتح ج: ۱ ص: ۳۳۳، [2] والبزازیة ص: ۳۱ [3] ومراقی الفلاح علی هامش الطحاوی علی المراقی صـ ۲۳۴) [4]

ب: عن السائب بن یزید الصحابی قال: کانوا یقومون علی عهد عمر رضی الله عنه بعشرین رکعة وعلی عهد عثمان رضی الله عنه وعلی رضی الله عنه عنهما مثله. (عمدة القاری بحواله بیهقی ج: ۵ ص: ۲۶۷) [5]

د دی حدیث سیاق او سباق په واضح طور باندی دلالت کوی چی دلته د قیام څخه مراد تراویح دی او احناف داحدیث د شل رکعتو تراویحو په استدلال کی پیش کوی. کمافی العمدة.

۳: عام طور د احادیثو شارحین هم د قیام رمضان څخه مراد تراویح اخلی.

الف: چنانچی په صحیح مسلم کی داشان عوان قائم سوی دی: (که څه هم هغه تراجم د امام مسلم قائم کرده نه دی بیاهم داتراجم مستند محدثینو لګولی دی)

باب الترغیب فی قیام رمضان وهو التراویح. (صحیح مسلم ج: ۱ ص: ۲۵۹) [1]

---

[1] (طبع قدیمی کتب خانه)

[2] فتح القدیر ج: ۱ ص: ۴۱۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه).

[3] البزازیة علی هامش الهندیه ج: ۴ ص: ۲۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

[4] حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ۲۲۴، ۲۲۵ (طبع نور محمد کتبخانه)

[5] عمدة القاری (طبع دار الفکر)

ب: حضرت شیخ مولانا انورشاه کشمیری قدس الله سره العزیز په تقریر ترمذی کی لیکی:

باب ماجاء فی قیام شهر رمضان ای التراویح. (العرف الشذی ج: ۱ ص: ۳۲۹) (۲).

ج: حضرت شیخ مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په تقریر ترمذی کی نص فرمائی:

باب فی قیام رمضان، هذا القیام کان عاما ثم اختص بالتراویح فمطلقه یرادبه التراویح (الکوکب الدری ج: ۱ ص: ۲۶۷) (۳).

د: موطاء امام محمد هغه عبارت چی د حضرت شیخ مدنی رحمه الله په جواب کی تحریر سوی دی د هغه د سیاق او سباق څخه هم داظاهریږی چی دلته چی د امام محمد رحمه الله د قیام شهر رمضان لفظ استعمال کړی دی د هغه څخه مراد هم تراویح دی عبارت دادی:

قال محمد: وبهذا کله نأخذ، لابأس بالصلوٰة فی شهر رمضان ان یصلی الناس تطوعا بامام لان المسلمین قد اجمعوا علی ذالک. (۴)

د دی مسئلی چی کوم دلیل پیش سوی دی (یعنی د مسلمانانو اجماع) هغه صرف په تراویحو باندی صادق راځی، نه په غیر تراویح باندی، ځکه چی غیر تراویح باندی اجماع خو یوی خواته کړه، د دی نفس ثبوت هم منقول نه دی، ځکه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ادوار مبارکه کی چیری هم غیر تراویح کی بالتداعی د نفلو د جماعت ثبوت نه پیدا کیږی.

به هرحال! د دی ټولو نصوصو څخه چی موږ تراوسه په دی سلسله کی پیش کړل کم ترکمه دومره خبره خو په هرصورت ثابتیږی چی چیری فقهاوو وغیره قیام رمضان یی د کراهت جماعت څخه مستثنیٰ ګرځولی دی هم هلته تراویح مراد دی، که څه هم فی نفسه، د قیام رمضان لفظ چی په حدیث، من قام رمضان .... الخ کی موجود دی، هغه هرلمونځ او فعل اطاعت ته عام او شامل دی.

(۱) (طبع قدیمی کتب خانه)

(۲) العرف الشذی علی جامع الترمذی ص: ۳۰۸ (طبع قدیم مکتبه رحیمیه سهارنپور).

(۳) (طبع ایچ ایم سعید)

(۴) الموطا للامام محمد رحمه الله ص: ۱۴۳ (طبع قدیمی کتب خانه).

زیر بحث مسئله او علامه عیني رحمه الله

لوړ عبارتونه وغیره خو په دی باره کی وو چی قیام اللیل فی رمضان، چی په هغه کی یی جماعت ګرځولی دی د هغه څخه مراد تراویح دی، خو یوځو د حدیث شارحینو قیام رمضان عام ګرځولی دی لکه چی شارح بخاری علامه بدرالدین عینی رحمه الله چی د هغوی د عبارت حواله د حضرت مولانا مدنی رحمه الله په جواب کی ورکول سوی ده، د دی څخه معلومیږی چی د علامه بدر الدین عینی رحمه الله مسلک دادی چی قیام اللیل فی رمضان عام دی تراویح اوغیر تراویح ټولوته (مایحصل به القیام مطلقًا) د لاندی په قیام رمضان کی به داخل منل کیږی، خو که غور وسی نو په وضاحت سره به داخبره مخ ته راسی چی د علامه بدرالدین عینی رحمه الله داقول حدیث (من قام رمضان ایمانا واحتسابا غفر) د تشریح لاندی راغلی دی، ځکه چی د دی حاصل دادی چی په قیام رمضان باندی کوم ثواب په دی حدیث کی موجود دی هغه صرف په تراویحو باندی نه دی بلکی مطلق هرلمونځ باندی چی د رمضان په شپه کی اداء سی ثواب به باندی حاصلیږی، په دی ځای کی د دی بحث سره هیڅ تعلق نسته چی هغه د جماعت سره اداء سی یا بغیر د جماعت څخه، هم داوجه ده چی دلته علامه عینی رحمه الله د جماعت د مسئلی څه ذکر نه دی کړی بلکی د دی مسئلی ذکر علامه عینی رحمه الله (باب صلوٰة اللیل) کی کړی دی، په دی کی د هغوی عبارت دادی:

(حدیث: صلوا ایها الناس فی بیوتکم. فان افضل الصلوٰة المرء فی بیته. لاندی فرمائی: واستثنی من عموم الحدیث عدة من النوافل ففعلها فی غیر البیت اکمل وهی ماتشرع فیه الجماعة، کالعیدین والاستسقاء والکسوف.

بیا دیوځو کرښو څخه وروسته فرمائی:

قال الامام حمید الدین الضریر: نفس التراویح سنة اما ادائها بالجماعة فمستحب.

بیا دیوی د یوی کرښی څخه وروسته دی:

وفی جوامع الفقه: التراویح سنة مؤکدة والجماعة فیها واجبة وفی الروضة لاصحابنا ان الجماعة فضیلة، وفی الذخیرة لاصحابنا عن اکثر المشائخ ان اقامتها بالجماعة سنة علی الکفایة. (عمدة القاری ج: ۵ ص: ۲۶۷) (۱)

(۱) مذکوره ټول عبارتونه عمدة القاری (طبع دار الاحیاء التراث بیروت) هم په دی صفحه ج: ۵ ص: ۲۶۷ باندی موجود دی.

خلاصه داده چی د علامه بدرالدین عینی رحمه الله چی چیری د قیام رمضان عموم ذکر کړی دی، هلته یی د جماعت مسئله نه ده ذکرکړی او چیری چی یی د جماعت مسئله بیان فرمائیلی ده هلته یی په مستثنیاتو کی قیام رمضان نه دی ذکر کړی بلکی لفظ د تراویحو څخه سو نور نوافل رمضان د جماعت په جائز کیدو باندی استدلال غیر صحیح دی.

د دی تفصیل څخه داهم معلومه سول چی په دی بحث کی په حقیقت کی د فقهاوو علیهم الرحمه ترمینځ څه اختلاف نسته، د ټولو په نزد جماعت صرف د تراویحو جائزدی، خو کلام په دی کی دی چی حدیث (من قام رمضان ایمانًا کی چی کوم فضیلت موجود دی هغه صرف د تراویحو د اپاره مخوص دی یامطلق صلوٰة باندی به هغه فضیلت حاصلیږی؟ په دی کی علامه عینی رحمه الله د عموم قول اختیار کړی دی، او علامه نووی او علاکرمانی رحمهم الله دوهم (علی ماذکره العینی) د دی تفصیل څخه داهم واضحه سوه چی حضرت مولانا ګنګوهی رحمة الله علیه چی د دیوبند په جماعت کی د وخت ابوحنیفه لقب درلودی، د هغوی فتویٰ مرجوح باندی عمل ګرځول دفهم عاجز څخه پورته دی، پاته سوه د حضرت حاجی امداد الله صاحب مهاجر مکی رحمة الله علیه او د حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن قدس الله سره العزیز عمل نو د حضرت حاجی صاحب عمل خو معلوم نه دی، خو د حضرت شیخ الهند مولا محمود الحسن قدس الله سره متعلق دومره خبره د یقین په درجه کی معلومه ده چی دوی په شروع کی د تهجدو جماعت لاعلی سبیل الله التداعی یو د دوو افرادو سره کړی وو خوکله چی خلک زیات راغلل نو د همدی کراهت د وجی دوی ټولو شپه د تراویحو معمول جوړه کړی وه، عمومًا اتلس سپاری به یی په تراویحو کی په جماعت سره ویل کیدی، او تراویح به یی د پیشلمی په وخت باندی ختمولی، چی د هغه شاهدان به نن هم په دیوبند کی په سلونو حضرات وی. والله اعلم بحقیقه الحال.

یوضروری ګذارش

په آخره کی ګذارش دی چی د حضرت مولانا حسین احمد مدنی رحمه الله عظمت شان جلالت قدر او د علمی تبحر پیش نظر خو په دی مسئله باندی د قلم لوړولو جرأت خوکوم لوی عالم ته هم نه دی پکار چی جایی چی زما په شان طفل مکتب په دی باندی څه ووئیل سی، خو الحمدلله د دیوبند د جماعت خصوصیت، او هم د دی بنده ګانو تعلیم او تلقین موږ ته داسیده لاره ښوولی ده چی په شرعی مسائلو کی آزادانه رایه

اظهار ترک ادب نه دی، بلکی د شاګردانو اظهار خیال هم د دِی بزرګانو معنوی فیض وی ځکه د الله په نامه سره څه چی په دی کی په تحقیق سره ماته واضح سول هغه می ولیکل، او د الله څخه پناه غواړم چی د بزرګانو په شان کی د ادنی ترک ادب څخه مامحفوظ وساتی آمین.

اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه، وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه واخردعوانا ان الحمدلله رب العالمین.

احقر العباد

محمد تقی عثمانی عفی عنه

متعلم دار العلوم کراچی نمبر ۱۴

۳ شوال ۱۳۷۸ ه، ۱۳ / اپریل ۱۹۵۹ ء

لله درالمجیب حیث اصاب فیما اجاب وأجاد فیما افاد مع ملاحظة ادب الاکابر، وفقه الله تعالی لما یجب ویرضی.

بنده محمد شفیع عفا الله عنه

صدر دارالعلوم کراچی نمبر ۱۴

۸/ شوال ۱۳۷۸ ه

فصل في التراويح

د تراویحو او شپینې متعلق مسائل

د څلورو تراویحو څخه وروسته په وقفه کې څه وئیل پکار دی؟

سوال: د تراویحو د هرو څلورو رکعتونو څخه وروسته څه وئیل کیږی؟ داسنت دی که واجب او که مستحب؟ او دا آیتونه صرف امام صاحب ووایی یامقتدی هم؟ که زبانی ورته یاد نه وی نو په کتلو سره وئیلی سی؟

جواب: په تراویحو کی د هرو څلورو رکعتونو څخه وروسته د عام رکعتونو په مقدار ناسته مستحب ده، په دی وقفه کی څه خاص ذکر واجب یا مسنون نه دی، فقهاوو لیکلی دی: که په دی کی څه تسبیحات او وایی برابره خبره ده که ځانته نفلونه پکښی

وکړی او که خاموش پکښی اوسی (۱)، او د مشائخو معمول دادی چی په دی کی داتسبیح ووایی:

سبحان ذی الملك والملکوت، سبحان ذی العزة والعظمة ولقدرة والکبریاء والجبروت، سبحان الملك الحی الذی لاینام ولایموت، سبوح قدوس رب الملئکة والروح لااله الا الله نستغفرالله نسألك الجنة ونعوذ بك من النار (کذافی ردالمختار من القهستانی) (۲)

او داتسبیح په مزه ویل پکار دی، امام ته هم او مقتدی ته هم.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ۹/ ۱۳۹۷ ه

په تراویحو باندي د اجرت مسئله

سوال: زه زیات په بهر کی اوسیږم او پاکستان ته کله کله راځم په دی کال دلته د تراویحو کولو اتفاق وسو، سوال دادی چی یوځوان حافظ چی د هغه عمر ۲۵ کالو ته قریب دی، مستند حافظ دی، قرأت یی هم قابل د اعتراض نه دی پخپله خپل تجارت کوی بلکی اکثره او بیشتر پخپله د جومات امدادهم کوی او د جومات څخه هیڅ قسم اجرت نه اخلی، خوځه کسان د ده څخه خوشحاله نه دی، او د بهر څخه د رمضان د پاره حافظ راوستل غواړی او هغه ته د قرآن په ختم باندی پیسی هم ورکول وی آیا داجائز دی؟

جواب: په اجرت باندی د تراویحو ورکولو د پاره کوم حافظ سره معامله کول قطعا ناجائزده (۳) او کله چی د جومات حافظ صاحب بغیر د اجرت څخه لمونځ ورکوی او

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۶ یجلس ندبابین کل اربعة بقدرها ..... ویخیرون بین تسبیح وقرأة وسکوت وصلوة فرادی.

(۲) وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۴۶ (طبع ایچ ایم سعید) قوله بین تسبیح، قال القهستانی: فیقاله ثلاث مراة: سبحان ذی الملك والملکوت ... الخ.

(۳) وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۵۶ ویمنع القاری للدنیا، والاخذ والمعطی اثمان. فالحاصل ان ماشاع فی زماننا من قرأة الاجزاء بالاجرة لایجوز، لانه فیه الامر بالقرأة واعطاء الثواب للامر والقرأة لاجل المال، فاذا لم یکن للقاری ثواب لعدم النیة الصحیحة فاین یصل الثواب الی المستأجر، ولولاالاجرة ماقرأ احد لاحد فی هذا الزمان جعلو القرآن العظیم مکسبا ووسیلة الی جمع الدنیا انا لله وانا الیه راجعون.

خلګ هم د هغه څخه خوشحاله دی نو خامخا د بهر څخه په اجرت باندی حافظ راغوښتل بالکل درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ ه

(فتوٰی نمبر ۲۸/۹۷۸ ج)

په تراویحو باندی اُجرت اخستل

سوال: په رمضان کی د حافظ قرآن د پاره خلګ چنده جمع کوی هغه ته کپړی وغیره هم ورکوی یا د اول څخه پیسی مقرر کولو سره حافظ راولی آیا دا جائز دی؟

جواب: د تراویحو ورکولو د پاره اجرت مقرر کول بالکل ناجائز دی، (۱) که بغیر د اجرت څخه حافظ نه پیداکیږی نو په الم ترکیف .... سره دی تراویح وسی هو! که د څه اجرت څخه بغیر کوم حافظ تراویح وکړی او بیاکوم سړی په خپله خوښه د هدیی په طور هغه ته څه پیش کړی نو د هغه اخستل او ورکول بیاجائز دی، خو اول نن صبا د دی دومره التزام کول کیږی چی هغه هم یوقسم طی شده اجرت جوړیږی، د داسی التزام څخه پرهیز لازم دی، دوهم د دی غرض د پاره په چنده کولو کی ډیر مفاسد دی، د دی څخه پرهیز کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ۱۰/ ۱۴۰۱ ه

(فتوٰی نمبر ۱۲۰۰/ ۳۲ ج)

په تراویحو باندی د اُجرت اخستو حکم

سوال: احقر د قرآن مجید د حفظ کولو څخه وروسته د خپل ملکی رواج مطابق په تراویحو کی د قرآن مجید اوریدلو او رقم به یی اخستی، د څو کالو څخه می توبه کاړلی ده او رقم اخستل می پریښوولی، اخستل سوی رقم خوبه په حقوق العباد کی

---

(۱) او همدارنګه وګورئ امداد المفتین ص: ۳۲۵ وفتاوٰی دار العلوم دیوبند ج: ۴، ص: ۲۲۲، ۲۹۸ وامداد الاحکام ج: ۱ ص: ۲۵۴.

(۱) سابقه حواله وګورئ.

داخل نه وی؟ آيا صرف د الله ﷻ څخه توبه کافی ده؟ واضح دی وی چې احقر په دی دوران کی صاحب د نصاب نه وو، ورسره د ختم والاشپی څخه مخکی به اشرفِ نفس هم موجود وو؟

٢: په دی کال رمضان المبارك کی ختم والا شپی م د رقم اخستلو څخه انکار وکی نو د هغه څخه وروسته څه کسان مخفی طور باندی د احقر خواته راغلل، او وی وئيل چې موږ ستا خدمت په دی وجه نه کوو چې تاموږ ته قرآن مجيد ويلی دی، بلکی طالبعلم ګڼلو سره بطور هديه ياصدقه ورکوو، احقر د هغوی په اصرار باندی څه رقم قبول کی ځکه چې د دی څخه مخکی څه قسم اشراف او انتظار د دی رقم نه وو، ايا هغه رقم خوبه زما د پاره حرام نه وو؟ که حرام وو نو د هغه څخه د خلاصيدو څه صورت دی؟

جواب: په تراويحو اوريدو باندی اجرت اخستل ناجائزدی (١) لهذا دارقم د هغه اصلي مالکانو ته بيرته ورکول ضروری دی کومو کومو خلکو ته چې يې رسول په وس کی وی هغوی ته دی ورسول سی يادی د هغوی د طرفه معاف سی او چاته چې رسول د وس څخه بهر وی د هغه د پاره توبه او استغفار وسی.

٢: صورت مسئوله کی چې کوم رقم اخستل سوی دی هغه اجرت نه دی هديه ده چې د هغه اخستل جائز دی. والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

١/ ١١/ ١٣٨٧ هـ

(فتوی نمبر ١٣٣٧/ ١٨ الف)

د شبيني حُکم

سوال: يوسړی د شبينی انتظام کوی يعنی د قرآن شريف ګنو حافظانو ته دعوت ورکوی چې په يوه شپه کی قرآن شريف ختمولی سی، بعضی په نوافلو کی تلاوت کوی او نور د هغه اقتداء کوی او بعضی بغير د اقتداء څخه تلاوت کوی آيا داجائز دی؟

جواب: د کوم قِسم شعبيني ذکر چې په سوال کی وسو نو د هغه اهتمام مکروه دی ځکه چې هغه د نوافلو جماعت او په يوه شپه کی د قرآنکريم په ختمولو باندی مشتمل دی او دا دواړه مکروه دی. والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه — احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

---

(١) وګورئ سابقه حواله ص: ٤٢٠ او د هغې حاشيه نمبر ١.

٥/ ٢/ ١٣٩٩ هـ

(فتوی نمبر ٢١٩/ ١٢ الف)

١: په تراويحو باندی د اجرت مسئله

٢: د جمعي سره فرض نه کوونکي په تراويحو کي امام جوړيدی سي او که نه؟

سوال: د تراويحو د پاره پيسی ټړل خو حرام دی، خو مولانا تهانوی صاحب اونور حضرات دا وايي، که ونه ټړل سی او خلګ يې په خوشحالی ورکړی بياهم جائزنه دی چې د هغه د بعضو اصحابو څخه دلائل ورکوی، خو هغه حافظ چې ټړلی يې نه خو چې په خوشحالی يې ورکوی، اخلی يې، هغه وايي چې داهديه ده او د هديې اخستل سنت دی نو د دی شرعی حيثيت څه دی؟ آيا حافظ پيسی، جوړه، څپلی په خوشحالی ورکول سوی اخستی سی او که ناجائز وی؟ که ناجائز دی نو ولی؟

٢: يوحافظ د کور څخه ناوخته رالی او په جومات کی جمع سوی ده هغه ځانته لمونځ وکی آيا هغه تراويح يا وتر ورکولی سی؟

جواب: تراويحو باندی اجرت اخستل، ټړل هم حرام دی (١) او که زبانی طور باندی ونه ټړل سی خو عرف او رواج داسی وی چې زبانی طی کولو څخه بغير هم اخستل ورکول ټړل ګڼل کيږی، نو په دی صورت کی هم ناجائز دی (٢) خو که نه يې زبانی ټړلی وی او نه عرفًا ټړل ګڼل کيږی او نه د حافظ په زړه کی د تراويحو ورکولو محرك داوی چې څه به راکول کيږی، د دی څخه وروسته که د جومات والا پخپله خوشحالی څه ورکړی نو د اخستو ګنجايش دی.

٢: ورکولی سی. (٣) — والله اعلم

---

(١) وګوری تيره سوی حواله.

(٢) وفی الشامية ج: ٣ ص: ١٣٠ (طبع سعيد) المعروف كالمشروط.

(٣) وفی الشامية مبحث التراويح ج: ٢ ص: ٤٨ (طبع سعيد) لوصليت بجماعة الفرض وكان رجل قدصلی الفرض وحده له ان يصليها مع ذالك الامام لان جماعتهم مشروعة. فله الدخول فيها معهم لعدم المحذور، وفی الهندية ج: ١ ص: ١١٧ صلی العشاء وحده فله ان يصلی التراويح مع الامام ..... الخ، وفی غنية المتملی ص: ٤١٠ (طبع سهيل اكيډمی لاهور) لوصلی العشاء وحده. فله ان يصلی

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۰/۱۰/۱۳۹۹ هـ
(فتوىٰ نمبر ۱۲۸۰/ ۳۰ و)

۲۳ شپه د سورة عنکبوت او روم ويل

سوال: زموږ په علاقه کی د رمضان دروېشتمه شپه د تراويحو څخه وروسته سورة عنکبوت او سورة روم نمبر ۲۰، نمبر ۳۱ د ويلو رواج دی آيا د دی سورتونو ويلو ثبوت سته او که نه؟

جواب: زموږ په علم کی د دی ثبوت نشته او نه د دی د پابندی څه شرعی بنياد سته.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۰/ ۱۲/ ۱۳۹۷ هـ

د شبيني حُکم

سوال: رمضان المبارك کی شبينه اوريدل يا بل ته وئيل جائز دی او که نه؟

جواب: قرآن شريف چی څومره زيات تلاوت سی هغونده موجب د ثواب او د خير او برکت دی، برابره خبره ده که په لمانځه کی وی يا بغير د لمانځه څخه، په لمانځه کی نورزيات ثواب دی خو د نفلی لمونځ جماعت د دوو يا درو سړو څخه زيات مکروه دی (۱)، د جماعت څخه بغير ځانته يا د دوو درو سړو جماعت کی ټول قرآن شريف درو يازياتو شپو کی ختمول ډير غټ د ثواب کار دی کوم رنګ چی د شبينی اوس رواج سوی دی چی د نفلی جماعت د پاره خلګوته چی په لمانځه کی شامل نه وی هغوی خبری کوی يا د متهيانو وغيره په انتظام کی لګياوی د قرآن شريف اوريدلوته فکر نه کوی داناجائز دی. والله اعلم

التراويح مع الامام وهو الصحيح ...... الخ، او همدارنګه وګورئ کفايت المفتی ج: ۳ ص: ۳۹۳ (جديد ايډيشن دار الاشاعت)

(۱) وفی غنية المتملی ج: ۱ ص: ۴۱۱ واعلم ان النفل بالجماعة علی سبيل التداعی مکروه علی ماتقدم اعدا التراويح ..... الخ، وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۸ (قبيل باب ادراك الفريضة) ولايصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای يکره ذالك علی سبيل التداعی بان يقتدی اربعة بواحد کما فی الدرر، وکذافی فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند ج: ۴ ص: ۲۲۴ وص: ۲۲۸.

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۰/ ۱۲/ ۱۳۹۷هـ
(فتوىٰ نمبر ۱۰۴۹/ ۲۸ ج)

د شبيني حکم

سوال: ۱ د شعبان ۱۳، ۱۴، ۱۵ باندی شبينه کول کيږی په دی کی حافظان سپاری وايی په داسی شبينه کی د نيت تړلو سره د امام په اقتداء کی د قرآن اوريدو څه حکم دی؟ آيا داشان قرآنکريم اوريدل جائز دی؟

۲: په شبينه کی د قرآنکريم ويل او په دی کی حصه اخستل څه حکم لری؟

۳: په هغه جومات کی حاضر اوسيدل او د شبينی په کارونو کی د تعاون او امداد کولو څه حکم دی؟

جواب: ۱ تر۳: په حنفی مسلك کی د نفلونو جماعت مکروه تحريمی دی (۱) لهذا مذکوره شبينه جائز نه ده، د داسی شبينی انتظام او اهتمام په دی کی امامت يا اقتداء يا په دی کی خلګوته دعوت ورکول داټولی خبری شرعًا جائز نه دی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۹ / ۸/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوىٰ نمبر ۸۸۲/ ۲۸ ج)

د شبيني حکم، جائز شبينه څنګه کيدی سي؟

سوال: ۱ نن صبا چی په رمضان شريف کی شبينه وی اکثره حافظان يی په نفلونو کی وايی او بعضی په نابالغه ماشومانو باندی وايی، هرکله چی مقتديان بالغان وی او لاوډ سپيکر هم استعماليږی چی د هغه په وجه د محلی خلګ خوبونو نسی کولی او دريډونکی يوڅوکسان وی او اکثره په اوبو اوچای کی مشغول وی او د شور شغب بازار ګرم وی، ورسره د دی شبينو په سرپرستی باندی مو علماء هم ليدلی دی ايا مروجه شبينه جائزده؟

۲: د شبينی مسنون طريقه څه ده؟

(۱) وګورئ د وروسته ص حاشيه نمبر ۲.

۳: آیا په جهری لمانځه کی لاوډ سپیکر باندی ویل زیات ثواب لری هرکله چی آواز ترلری لری پوری ځی.

جواب: د کوم قسم شبینی ذکر چی تاسو کړی دی هغه بلاشبهه مکره تحریمی دی او په هغه کی د ثواب په ځای الټه ګناه ده، اول خو د نفلو جماعت مکروه دی ۱ بیا د نابالغه اقتداء (۱) بغیر د ضرورت څخه د لاوډ سپیکر استعمال او د شور او شغب په ذریعه د قرآنکریم بی ادبی داټول کارونه سخت منکرات دی او د دی څخه پرهیز لازم دی.

۲: جائز شبینه داشان کیدی سی چی د تراویحو جماعت ټوله شپه جاری وی او په هغه کی امام بالغ او متشرع وی د درو ورځو څخه کم وخت کی قرآن کریم ختم نه سی ټول خلګ په ذوق، شوق. خشوع او خضوع سره قرآنکریم اوری زیاته رڼا او ځراغان څخه پرهیز وسی بغیر د ضرورت څخه د لوډسپیکر استعمال نه وی او نام او نمود څخه مکمل پرهیز وسی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۹/۹

(فتویٰ نمبر ۲۸/۹۲۲ ج)

د شبیني د جواز شرائط

سوال: په جوماتونو کی په رمضان المبارك کی شبینه کیږی بعضی ورته ناجائز وایی او بعضی جائز، شرعًا د دی څه حیثیت دی؟ براه کرم د شبینی د جواز شرائط وښایی؟

جواب: شبینه په تراویحو کی وی، نفلونو کی نه وی، فضول خرڅ، شور او شغب او نام ونمود نه دی پکښی احتراز وسی او د دی د فرائضو او واجباتو په شان پابندی دی ونسی جائز ده او که په دی کی یو شرط هم نه وو نو ناجائز ده. (۲) والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۸/۹/۲۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۹/۲۰۰۱ ج)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۷۷، ۵۷۸ ولایصح اقتداء رجل بامراة وخنثی وصبی مطلقًا ولوفی جنازة ونفل علی الاصح، وفی الشامیة تحته والمختار انه لایجوز فی الصلوٰة کلها ..... الخ.

(۲) وګوری سابقه حواله ص: ۴۲۳ حاشیه نمبر ۱.

په تراویحو کي دری واره سوة اخلاص ویل

سوال: ۱ د یو جومات امام صاحب فرمائی چی په تراویحو کی اٰخری سپاره کی سورة اخلاص دری واره ویل درست دی، هرکله چی زید وایی چی د سورة اخلاص دری واره ویل بدعت دي، (سند بهشتی زیور یوولسم جلد)

۲: امام د تراویحو د دوو رکعتو نیت وتړی خو په دوهم رکعت کی التحیات ویلو څخه بغیر د دریدو تقریبًا پنځه سکنډه څخه وروسته امام صاحب بیاکښی نستی او حسب معمول دواړه رکعتونه یی پوره کړل او سلامی یی وګرځوی، د زید دا اعتراض دی چی د امام صاحب زنګنونه او ملا سیده سوی وه، لهذا څلور رکعته پوره کولوسره د سجده سهوه په کولو څلور رکعته پوره کول پکار وو، صحیح مسئله څه ده؟

جواب: ۱ د جمع په لمانځه کی کوم اٰیت یاسورة بار بار ویل فقهاوو مکروه لیکلی دی (۱) او نن صبا چی په تراویحو کی د سورة اخلاص دری واره د ویلو چی کوم التزام سوی دی چی داسنت ګڼی د دی څخه د دی د بدعت کیدو هم اندیښنه ده لهذا د دی عمل څخه پرهیزکول پکار دی، بهشتی ګوهر کی مسئله صحیح ده او امداد الفتاویٰ جلد اول ص: ۳۰۴ کی هم په دی فتویٰ ده (۲).

۲: امام صاحب چی کوم عمل کړی دی، هغه درست دی، دوه رکعته په فرض لمانځه کی او په سنتو او نفلونو کی د پوره د دریدو څخه وروسته هم کښی نستی سی، زید چی کومه مسئله بیان کړی ده، هغه د څلورو رکعتو لمونځ د قعده اولی سره متعلق ده، د صورت مسئوله سره د هغه تعلق نسته.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۱۰/۹۰ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۱۰۲۸ ج)

---

(۱) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۰۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) اذا کرر اٰیة واحدة مرارا .... ان کان فی صلوٰة المفروضة فهو مکروه فی حالة الاختیار واما فی حالة العذر والنسیان فلابأس، هکذا فی المحیط وکذا فی غنیة المتملی ص: ۴۹۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) همدارنګه وګورئ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۲۶۵ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

(۲) امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۳۲۷، ۳۲۸ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

په تراویحو کي قرآن ویلو باوجود ځانته (الم ترکیف) سره تراویح کول

سوال: په یوجومات کی په تراویحو کی باقاعده قرآن ختم کیږی او بغیر د اجرت څخه هم په دی جومات کی څه خلک (الم ترکیف) سره تراویح کوی آیا داجائز دی او که نه؟

جواب: کله چی یوجومات کی یوحافظ صاحب قاعدی کی په تراویحو بغیر د عذر څخه کول نه دی پکار هو که عذر وی نو هغه په تفصیل سره ولیکه او مسئله دوباره معلومه کړه.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۹/۱۲ ھ

تراویح ضروری نه ګڼل او بلاعذره تراویح ترک کول

سوال: یوصاحب وایی چی تراویح سنت دی که یی وکړی یایی ونه کړی څه ګناه نسته، د داسی سړی په باره کی شریعت مطهره څه حکم کوی؟

جواب: تراویح سنت موکده دی او د دی په باره کی داوئیل چی که یی وکړی او که یی ونه کړی څه ګناه نسته بالکل غلطه ده، کوم صاحب چی داسی وائی هغه په غلطی باندی دی. [1]

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۶/۱۱/۴ ھ

[1] وفی الهندیه ج: ۱ ص: ۱۱۲ رجل ترک سنن الصلوٰة ان لم یرالسنن حقًا فقد کفر لانه ترکها استخفافًا وان راها حقا فالصحیح انه یأثم لانه جاء الوعید بالترک، وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۹ (طبع ایچ ایم سعید) رجل ترک سنن الصلوٰة الخمس ان لم یرالسنن حقا فقد کفر لانه ترک استخفافًا وان رای حقامنهم من قال لایأثم والصحیح انه یأثم لانه جاء الوعید بالترک اه. وراجع ایضًا الشامیة ج: ۱ ص: ۱۰۴

په تراووکي یووار د قرآن ختم سنت دی

سوال: په یوجومات کی دوه ځایه تراویح په یووخت کیږی د هغه دواړو قرائتونه مختلط کیدو سره د سهوی وجه جوړیږی په دی دواړو امامانو کی یو امام الحی دی چی (الم ترکیف سره اختصار کوی د قوم اکثریت د امام الحی سره دی، دوهم د قرآن حافظ دی هغه ختم کوی خپل خپلوان پوه کولو سره هغه د خپل ځان سره شریکوی او قوم ته دا وایی چی دا مختصر تراویح نه کیږی، امام الحی وایی چی کله په قوم باندی د قرآن ختم ثقیل وی نو د هغه ترک افضل دی، (الافضل فی زماننا قدر مالایثقل علی القوم) او وایی: د قرآن ختم د دین ذ ضرورت څخه نه دی او کله چی د دین د ضروریاتو څخه نه دی نو هغه ترک کیدی سی:

جواب: قال فی الدر: والختم مرة سنة ومرتین فضیلة وثلاثًا: افضل ولایترک الختم لکسل القوم لکن فی الاختیار الافضل فی زماننا قدر مالایثقل علیهم واقره المصنف وغیره وفی المجتبیٰ عن الامام لوقرأ ثلاثًا قصارًا، او اٰیةً طویلةً فی الفرض فقد احسن ولم یسیئ فماظنك بالتراویح ؟ (الی) من لم یکن عالمًا باهل زمانه فهو جاهل وأقره الشامی ج:۱ ص: ۴۷۵) [1]

د ذکر سوی عبارت څخه معلوم سول چی په تراویحوکی یووار د قرآنکریم ختمول سنت دی او فقهاوو چی دالیکلی دی چی کله په مقتدیانو باندی طویل قرأة ثقیل وی نو په هغه وخت په کوشنیو سورتونو سره تراویح کول پکار دی دابالکل د مجبوری په صورت کی دی، دامجبوری زموږ په زمانه کی داسی نه ده چی د دی په وجه په جوماتونو کی داسنت پریښوول سی بلکی په ټولو جوماتونو کی قرآنکریم ختم کیږی او مقتدیان یی په ذوق او شوق سره کوی لهذا داسنت په جوماتونوکی بغیر د مجبوری څخه ترک کول نه دی پکار، خاصکر چی د قرآنکریم د اوریدو د پاره حافظ موجود دی نو امام الحی ته پکار دی چی تراویح په هغه باندی وکړی او پخپله په (الم ترکیف) سره ویلو باندی دی اصرار نه کوی، معامله د دین ده په دی کی خامخا انتشار پیداکول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

[1] الدر المختار: ج: ۲ ص: ۴۷ (طبع ایچ ایم سعید)

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۳۶۹/۹/۲۹ هـ
(فتوی نمبر ۲۹۹۷/ ۲۷ هـ)

د تراویحو سره متعدد مسائل

۱: د اول څخه طی کولو څخه بغیر د تراویحو په اختتام باندی څه ورکول.
۲: ماشوم سامع جوړول.
۳: د حافظ صاحب لقمه نه قبلول.
۴: په اختتام باندی په اولی رکعت کی سورة الناس او په دوهم رکعت کی د سورة بقری ابتدائی حصه ویل.

سوال: په رمضان کی چی کوم حافظ صاحب تراویح ورکوی هغه رقم مقررولو سره کوی نو آیا لمونځ به اوسی؟ که رقم مقرر سوی نه وی او د تراویحو په ختمیدو باندی څه رقم ورکول سی نو هغه لمونځ به جائز وی او که نه؟

۲: حافظ صاحب د ځان سره خپل یوسامع راولی چی یوماشوم وی او په تراویحو کی بیده سی یاداسی حرکات وکړی چی په هغه سره لمونځ ماتیږی او لقمه هم ورنکړی نو په دغه حافظ پسی لمونځ کول جائز دی؟

۳: که حافظ صاحب لقمه قبوله نکړه او متکبرانه الفاظ استعمال کړی چی زه یی صحیح وایم که غلط هم ووایی نو لقمه وانخلی نو آیا دالمونځ به جائز وی؟

۴: که سورة الناس په اول رکعت کی وویل سی او سورة بقره په دوهم رکعت کی نو په دی سره به لمونځ صحیح وی او که نه؟

۵: که پیش امام په لمانځه کی فتح قبول نه کړه نو په هغه پسی لمونځ جائز دی؟ هرکله چی هغه بار بار غلطی کوی؟

جواب: ۱ اجرت ترلو سره تراویح ورکول بالکل ناجائز دی (۱) د دی څخه ښه دادی چی خلګ په عام امام پسی (الم ترکیف) سره تراویح وکړی او کوم حافظ چی اجرت اخستلو سره تراویح ورکوی په هغه پسی لمونځ مکروه دی خو چی کوم لمونځ یی په هغه پسی وکی هغه وسو اعاده واجب نه ده، د اول څخه څه ترلو څخه بغیر د تراویحو په اختتام

---

(۱) وګورئ تیره سوی حواله ص: ۴۲۰ حاشیه نمبر ۱.

باندی څه ورکول جائز دی په دی شرط چی داخبره دومره معروف او مشهوره سوی نه وی، چی د ترلو څخه بغیر به هم ترل ګڼل کیږی.

۲: ماشوم سامع جوړولو سره په اول صف کی د دریدلو ضرورتاً ګنجائش سته، که د دغه ماشوم څخه کله غلطی وسی نو معاف کول یی پکار دی او پوه کول یی پکار دی محض په دی وجه د امام یاحافظ خلاف فتنه درول درست نه دی.

۳: حافظ صاحب ته صحیح فتحه قبلول پکار دی او د خپل ذاتی عزت او وقار مسئله جوړول پکار نه دی، خو په دی سره په لمانځه کی خلل نه راځی ترڅو پوری چی حافظ صاحب څه د مفسد صلوٰة غلطی نه وی کړی.

۴: صحیح ده په دی کی څه ګناه نسته، خو د ختم قرآن څخه علاوه په نورو لمنځونو کی بهتره داده چی په اول رکعت کی سورة الناس ونه وایی (۱).

۵: د لمانځه صحیح کیدل یانه کیدل د غلطیانو په نوعیت باندی منحصر ده، په بعضی غلطیانو سره لمونځ فاسدیږی او په بعضو سره نه فاسد کیږی لهذا د هری غلطی حکم ځانته جلا پوښتنه کول پکار دی، او کوم حافظ صاحب چی په کثرت سره غلطیانی کوی او صحیح فتحه هم نه قبلوی د هغه په ځای، چیری بل ښه حافظ تلاش کول پکار دی، ځکه چی کیدی سی بعضی غلطیانی مفسد الصلوٰة وکړی.

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۳۹۷/۱۹/۹ هـ
(فتوی نمبر ۹۲۷/ ۲۸ ج)

د ږیره خریونکي په اقتداء کي تراویح کول

سوال: په رمضان کی اکثره حافظان چی په جوماتونو کی قرآن شریف وایی ږیری نه ساتی یا د هغوی ږیری شرعی نه وی نو آیا داشان په حافظانو پسی لمونځ کیدی سی؟ فرض لمونځ او د تراویحو لمونځ د دواړو د پاره د حنفی فقهی په رو سره څه حکم دی؟

---

(۱) وفی غنیة المتملی شرح المنیة ص: ۴۹۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) وفی الواجیة: من یختم القرآن فی الصلوٰة اذا فرغ من المعوذتین فی الرکعة الاولی یرکع ثم یقوم فی الرکعة الثانیة ویقرأ بفاتحة الکتاب وشی من سورة البقرة لان النبی ﷺ قال: خیر الناس الحال المرتحل ای الخاتم المفتتح.

جواب: کوم سړی چی ډېره خربی یابی د شرعی مقدار څخه کمه ساتی په هغه پسی لمونځ مکروه دی [۱]، د تراویحو او فرض لمونځ یو حکم دی خو کوم لمونځ چی داسی سړی پسی وسو هغه اداء سو. [۲]

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۲۳۸/ ۳۹ ھ)

په ولاړه تراویح کولو څخه وروسته د عذر د وجې په ناسته باندی کول

سوال: اوریدلی می دی که څوك بوډاوی یاځوان که هغه د تراویحو لمونځ د شروع څخه په ولاړه باندی شروع کړی نو ټولی تراویح به په ولاړه اداء کوی په هیڅ حالت کی په ناسته باندی پوره کول جائز نه دی او زه داوایم چی داسی نه ده، که عذروی نو کښی نستی سی؟

جواب: ته صحیح پوه سوی یی او کوم خلګ چی داوایی چی تراویح په ولاړه شروع کولو څخه وروسته په هیڅ حالت کی په ناسته پورته کول جائز نه دی هغوی صحیح نه وایی، واقعه داده چی په ناسته باندی لمونځ کول په عذر باندی موقوف دی که عذر د شروع نه وی نو د شروع څخه په ناسته باندی لمونځ وکړه او که په مینځ کی پیښ سی نو په مینځ کی کښی نستل هم جائز دی [۳]. والله اعلم

---

[۱] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۵۹، ۵۲۰ (طبع ایچ ایم سعید) ویکره امامة عبد .... وفاسق وفی الشامیة (قوله وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر وکذا فی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۸ واما الاخذ منها وهی دون ذالك کمایفعله بعض المغاربة وخنثة الرجال فلم یبیحه احد، واحد کلها فعل یهود الهنود ومجوس الاعاجم .... الخ.

[۲] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۲۲ (طبع ایچ ایم سعید) صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة .... الخ.

[۳] وفی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج: ۱ ص: ۲۲۹ (ولومرض فی اثناء الصلوٰة بنی بماقدر) یعنی لوشرع فی الصلوٰة صحیحا قائماً فحدث به مرض یمنعه عن القیام صلی مابقی اقاعدا یرکع ویسجد، ولوافتتحها قاعدا للعجز یرکع ویسجد فقدر علی القیام بنی قایماً عند الشیخین وفیه ایضاً ج: ۱

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتویٰ نمبر ۹۷۱/ ۲۸ ج)

د تراویح د رکعتونو تعداد

سوال: حضور ﷺ اته تراویح کړی دی او که شل او دشلو تراویحو شرعی حیثیت څه دی؟

جواب: د حضور ﷺ څخه د تراویحو په باره کی مختلف روایات دی د صحابه کرامو (رضی الله عنهم) په دی باندی اتفاق دی چی تراویح دی شل رکعته وسی د حضور ﷺ عمل لره د صحابه کرامو (رضی الله عنهم) څخه زیات څوك پیژندونکی نسی کیدی ځکه شل رکعته تراویح کول پکار دی [۱]. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۳/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

ص: ۲۰۱ ولوقعد بعدها افتتحه قائماً جاز عند الامام استحسان لانه اسهل من الابتداء ویکره لوبلاعذر عنده. الخ.

[۱] وفی مصنف ابن ابی شیبه ج: ۲ ص: ۳۹۴ عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ کان یصلی فی رمضان عشرین رکعةً وکذا فی التعلیق الحسن ص: ۵۲، وفی تلخیص الجبیر فی احادیث الرافعی الکبیر ج: ۲ ص: ۵۰۹ (حدیث) انه ﷺ صلی بالناس عشرین رکعة لیلتین فلما کان فی اللیلة الثالثة اجتمع الناس فلم یخرج الیهم ثم قال من الغد خشیت ان تفرض علیکم فلاتطیقوها، وفی کنز العمال فصلی بهم عشرین رکعة ص: ۲۸۴، وفی السنن للبیهقی ج: ۲ ص: ۴۹۲ عن یزید بن خصیفة عن سائب ابن یزید قال: کانوا یقومون علی عهد عمر (رضی الله عنه) بن الخطاب فی شهر رمضان بعشرین رکعة، وفی اثار السنن ج: ۲ ص: ۵۵ عن عبد العزیز بن رفیع وفی مؤطاء امام مالك ص: ۴۰ عن یزید بن رومان انه قال: کان الناس یقومون فی زمان عمر بن الخطاب بثلاث وعشرین رکعة، وفی عمدة القاری ج: ۱۱ ص: ۳۷ ان عبد الله بن مسعود کان یصلی عرین رکعة، وراجع ایضاً فتح الباری ج: ۴ ص: ۲۱۹ واثار السنن ج: ۱ ص: ۵۵ والشامیة ج: ۲ ص: ۴۵ وغنیة المتملی ص: ۴۰۲ (طبع سهیل اکیډمی لاهور) وغنیة الطالبین ص: ۴۲۴، والجوهر النفی ج: ۲ ص: ۴۹۲ والمفاتیح الابواب التراویح، امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۲۳۷. (مولوي نوراحمد حقاني)

په تراویحو کي د شرکت د پاره د ښځو جومات ته تلل

سوال: دلته د ښځو خیال دی چی جومات ته ولاړی سی د حافظ صاحب په تراویحو کی قرآن واوری هلته به د پردی انتظام وی د سړو د صفونو څخه وروسته د ښځو د پاره به د پردی انتظام وی آیا داجائز دی؟

جواب: د ښځو جومات ته تلل او په جمع کی شریك کیدل مکروه تحریمی دی او د دی څخه هیڅ لمونځ مستثنی نه دی، خاص طور د سړو د قرآن د تلاوت اوریدو مقصد په موجوده حالاتو کی زیاد ترښائسته آواز وی چی نور زیات موجب د فتنی دی، وکره لهن حضور الا للعجوز فی الفجر والمغرب والعشاء والفتوی الیوم علی الکراهة فی کل صلوة لظهور الفساد، کذافی الکافی عالمگیریه ج: ۱ ص: ۹۳.(۱) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۱/ ۲/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۲۴۲/ ۲۲ الف)

فصل في الوتر

د وترو متعلق مسائل

د وترو وخت او طریقه

سوال: وتر څنگه او کله اداء کیږی؟ د دی څورکعته دی او د دی ټولو خبرو دلائل څه دی؟

جواب: د وترو وخت د ماخستن لمانځه پسی فوراً شروع کیږی او د سهار څخه مخکی هروخت کی یی کولی سی، (۲) د دی دری کعتو څخه دی، په دوو رکعتو قاعده کولو سره التحیات ووایه او ودریږه بیا په دریم رکعت کی هم د سورة فاتحی څخه وروسته

(۱) الهندیه ج: ۱ ص: ۹۸ (طبع مکتبه حقانیه پشاور) وکذافی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۲۵، ۵۲۲.

(۲) وفی الدر المختار کتاب الصلوة ج: ۱ ص: ۳۲۱ (طبع سعید) (و) وقت العشاء والوتر منه الی الصبح ولکن لایصح ان (یقدم علیها الوتر)

کوم سورة ورسره یوځای کړه (۱) د دی څخه وروسته غوږونو پوری لاسونه لوړ کړه بیا د قنوط دعاء ووایه (۲).

او د وترو څخه مخکی دوه رکعته موکد سنت دی (۳) او وروسته دوه رکعته نفل دی، او کوم سړی چی تهجدو ته د ولاړیدو عادی وی د هغه د پاره افضل دادی چی وتر د تهجدو په وخت کی وکړی (۴) او د دی ټولو خبرو دلائل په مفصلو کتابونو کی موجود دی، دا په فتوی کی د پوښتنی خبره نه ده.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

(فتوی نمبر ۱۵۲/ ۲۸ الف)

په شافعي امام پسي د حنفي وترکولو حکم

سوال: په شافعی امام پسی وترکول جائز دی او که نه؟ که جائز وی نو د کومو شرطونو لاندی براه کرم په تفصیلی طور می خبر کړئ؟

جواب: شافعی امام پسی د حنفی اقتداء په یوځو شرطونو جائزده.

۱: د حنفی مذهب مطابق د شافعی المذهب په لمانځه کی د لمونځ مفسد څه فعل نه وی.

(۱) وفی الاتنویر مع شرحه ج: ۲ ص: ۵ (طبع سعید) وهو ثلاث رکعات بتسلیمة ویقراء فی کل رکعة منه فاتحة الکتاب وسورة .... الخ.

(۲) وفی اثار السنن باب رفع الیدین عند قنوت الوتر ص: ۱۲۹ (مکتبه امدایه ملتان) عن عبد الله انه کان یقرأ فی اخر رکعت من الوتر قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ثم یرفع یدیه فیقنت قبل الرکعة، رواه البخاری، وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲ باب الوتر والنوافل (طبع ایچ ایم سعید) ویکبر قبل رکوع ثالثة رافعا یدیه کمامر ...... وقنت فیه.

(۳) وفی الدر المختار باب الوتر والنوافل ج: ۲ ص: ۱۲، ۱۳ (طبع سعید) (وسن) موکداً اربع قبل الشهر ...... ورکعتان ...... بعد العشاء.

(۴) (والمستحب) ... تأخیر الی اخر اللیل لواثق بالانتباه ولا فقبل النوم، الدر المختار کتاب الصلوة ج: ۱ ص: ۳۶۹ (طبع سعید) وفی الشامیة تحته ای یستحب تأخیره لقوله ﷺ من خاف ان لایوتر من اخر اللیل فلیوتر اوله ومن طمع ان یقوم اخره فلیوتر اخر اللیل فان صلوة اخر اللیل مشهودة وذالك افضل رواه مسلم والترمذی وغیرهما وتمامه فی الحلیة وفی الصحیحین (اجعلوا) اخر صلوتکم وترا (والا مر الندب بدلیل ماقبله بحر.

۲: حنفی مقتدی ته یقین وی چی شافعی امام جائز او ناجائز اهم مختلف فیه مسائلو کی د احتیاط څخه کار اخلی مثلاً د بهیدونکی وینی په وجه اودس کوی او که د هغه دایقین وی چی امام احتیاط نه کوی نو لمونځ به یې صحیح نه وی او که په دې سلسله کی ورته څه معلوم نه وی چی احتیاط کوی او که نه نو لمونځ به یې مکروه وی.

۳: په وترو کی د اقتداء کولو یوشرط داهم دی چی دری سره رکعتونه په دوو سلامونو ونه کړی (لکه چی د هغوی مذهب دی) اوپه دی کی مقتدی ته خپل قنوت (اللهم انا نستعینک .... الخ، د رکوع څخه وروسته وئیل پکار دی د مخکی څخه، ځکه چی شافعی امام به هم د رکوع څخه وروسته وایی اوپه دی مسئله کی د هغه متابعت کول ضروری دی، د دی ټولو مسائلو دلایل د فقه د کتابونو څخه په لاندی ډول دی:

۱: درمختار کی دی: ومخالف کشافعی (یعنی یکره الاقتداء به) لاکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره او عدمها لم یصح وان شك کره، او علامه شامی رحمه الله د دی لاندی لیکی: هذا هوالمعتمد: لان المحققین جنحوا الیه وقواعد المذهب شاهدة علیه، وقال کثیر من المشائخ: ان کان عادته مراعات مواضع الخلاف جاز والا فلا، ذکره السندی. (شامی ج: ۱ ص: ۵۲۲) (۱)

(ومثله فی شرح الکنز للعینی ج: اول ص: ۴۶) (۲)

۲: درمختار کی دی: (وصح الاقتداء فیه) (یعنی الوتر) ففی غیره اولی ان لم یتحقق منه مایفسدها فی اعتقاده فی الاصح کما بسطه فی البحر (بشافعی) مثلاً (لم یفصله) بسلام لا ان فصله (علی الاصح) فیهما للاتحاد وان اختلف الاعتقاد.

(ردالمختار ج: اول ص: ۲۲۵) (۳)

۳: فی الدر المختار: ویأتی المأموم بقنوت الوتر ولوبشافعی یقنت بعد الرکوع لانه مجتهد فیه وقال الشامی رحمه الله تحت قوله (ولوبشافعی ..... الخ) ای ویقنت بدعا

---

(۱) شامی ج: ۱ ص: ۵۲۲، ۵۲۳ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) (برمزالحقائق) شرح العینی علی کنز الدقایق باب الوتر والنوافل ج: ۱ ص: ۴۵ (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۳) الدر المختار باب الوتر والنوافل ج: ۱ ص: ۷۷۸ (طبع سعید)

الاستعانة لادعاء الهدایة: وقال تحت قوله: (لانه مجتهد فیه .... الخ) والظاهر ان المراد من وجوب المتابعة فی القیام فیه لافی الدعاء (شامی ج: ۱ ص: ۲۲۶) (۱)

تنبیه: کوم شرط چی زموږ په نزد په شافعی المذهب پسی د اقتداء د پاره دی چی څه مفسد لمونځ لازم نسی هم هغه شرط د شافعی المذهب حضراتو په نزد حنفی المذهب پسی د لمونځ کولو د پاره دی، لکه چی علامه عینی رحمه الله د کنز په شرح کی لیکلی دی:

الشافعی ایضا یقول بمثله فی حق الحنفی فیقول: لایجوز اقتداء الشافعی، الحنفی الا اذاکان یحتاط فی موضع الخلاف.

بیا د ځو کرښو څخه وروسته دی: یجوز اقتداء الحنفی بالشافعی والشافعی بالحنفی وکذا بالمالکی والحنبلی مالم یتحقق من امامه مایفسد صلوته فی اعتقاده. (عینی ج: ۱ ص: ۴۶) (۲) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه   احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۷/۱۲/۲۰ هـ

(۱۴/ جون/ ۱۹۶۰) (۳)

په شافعي پسي د حنفي وتر کول

سوال: مولانا تقی صاحب! یوه مسئله معلول دی چی افریقی کی اکثره شافعی جوماتونه دی هلته د حنفی مسلك خلگ لمونځ کوی کله چی د وترو مسئله راځی نو حنفی که د شافعی مسلك امام پسی تراویح بغیر د وترو څخه وکړی نو صحیح دی او که ځانته جماعت کول ضروری دی، مهربانی وکړئ د دی مسئلی جواب په لاندینی پته باندی راکړه د تکټ پیسی می په لفافه کی د ننه درونه لیږلی ځکه چی داقانوناً جرم دی. احمد رحمت الله

(دار السلام تانزانیه)

---

(۱) شامی ج: ۲ ص: ۹۷۸ (طبع سعید)

(۲) شرح العینی علی الکنز المسمی برمزالحقائق باب الوتر والنوافل ج: ۱ ص: ۴۵ (طبع ادارة القرآن کراچی)

(۳) دافتوی حضرت والا دامت برکاتهم د تمرین افتاء (درجه تخصص) دکاپی څخه اخستل سوی دی.

جواب: شافعي حضرات چونکې وتر په دوو سلامونو سره کوي او حنفي مسلك کې داشان لمونځ نه کیږي، (۱) ځکه حنفیانو ته پکار دي چې هغوی دې په وترو کې د هغوی سره نه شامليږي، بلکې خپل لمونځ دې ځانته وکړي او تراويح دې هم د هغوی سره اداء کوي او د وترو په وخت دې ځنې جلاکیږي.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۵/ ۹/ ۱۳۹۹ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۲۰۹/ ۳۱ ج)

په جومات کې دوه ځایه د وتر کیدو په وجه د وترو د دوو جماعتونو حکم

سوال: په جومات کی دوه ځایه تراويح د ننه او په چت باندی کیږی ټول لمونځګذار د دننه والا امام پسی په اقتداء کی فرض لمونځ کوی خو د وترو جماعتونه دننه او په چت باندی کیږی، ځکه چی د تراويحو دواړه جماعتونه په جلا جلا وخت باندی ختمیږی، ایا داشان د وترو دوه جماعتونه کول جائز دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی ځانته ځانته د وترو جماعتونه جائز دی.

والله سبحانه اعلم

۱۹/ ۱۰/ ۱۴۰۱ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۲۴۷/ ۳۲ ج)

که په وترو کې دعائي قنوت هیرسي نو څه حکم دی؟

سوال: که په وترو کی د یوسړی څخه دعائی قنوت هیرسی نو څه حکم دی؟

(۱) فی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۳۹، ۴۰ وظهر بهذا ان المذهب الصحيح صحة الاقتداء بالشافعي في الوتر ان لم يسلم على رأس الركعتين وعدمها ان سلم، والله الموفق للصواب. وفي الدر المختار، ج: ۲ ص: ۸۰۷ وصح الاقتداء فيه بشافعي مثلاً (لم يفصله بسلام) لا ان فصله (على الاصح فيهما) للاتحاد وان اختلف الاعتقاد، وفي رد المختار (قوله على الاصح فيهما) اى فى جواز الاصل الاقتداء فيه بشافعي، وفي اشتراط عدم فصله خلافاً لما في الارشاد من انه لايجوز اصلا باجماع اصحابنا ..... الخ.

جواب: دعائی قنوت واجب دی که په هیره باندی پاته سی نو سجده سهوه به واجب وی (۱). والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه   احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۴۰۰/ ۱۸ الف)

فصل في قضاء الفوائت

د قضاء لمونځونو متعلق د مسائلو بيان

د حيض مخصوص صورتونو په وجه د لمونځونو قضاء

سوال: یوی ښځی ته د حیض وینه دوی نیمی ورځی مسلسل راځی د دی څخه وروسته معمولی غوندی راځی، د درو ورځو څخه بالکل بندیږی بیا په څلورمه ورځ بالکل وینه په نظر باندی نه راځی په پنځمه ورځ د غرمی لږ غوندی راسی او بیابنده سی ښځه لمونځ او روژی څنګه وکړی؟

جواب: په صورت مسئوله کی به داپنځه ورځی په حیض کی شمیرل کیږي، د دی لمونځونه معاف دی او د روژو قضاء فرض ده او که د دی همیشه عادت همداسی دی نو بیا خو په وخت موقوف کی هغه ته نه لمونځ کول پکار دی او نه روژه نیول پکار دی، او که همیشه یی عادت داسی نه دی اول وار داسی سوی دی، نوچونکی هغه ته دامعلوم نه دی چی د پاکی څخه وروسته به بیا وینه راځی، ځکه که هغه غسل کولو سره روژه ساتی نو ګناه به نه وی خو دا روژی به یی معتبر نه وی او د دی قضاء به لازمه وی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۰۲۱/ ۲۸ ج)

(۱) وفي الدر المختار باب الوتر والنوافل ج: ۲ ص: ۹ (ولونسيه) اى القنوت ... (سجد للسهو).

د فوت سوو لمونځونو قضاء لازمه ده

سوال: د ځوانی په عالم کی زه د دين ځخه غافله وم او ډير لمونځونه می قضاء سوی دی د هرلمونځ د اداء کولو سره د هغه وخت (قضاء عمری) په نيت سره فرض (او وتر) هم اداء کوم چی شايد د الله تبارك وتعالی خواته می ځټ بچ سی، ما په حال کی يوكتاب (مذهبی قصی او د هغه حقيقت) چی په ځلور جلده باندی مشتمل دی را ومی غوښتی او ومی وايه. مرحوم علامه حبيب الرحمٰن كاندهلوی د دی مولف دی، د مخکی جلد په مقدمه کی موضوع احاديثو د معرفت اصول کی تحرير سوی دی چی په كوم حديث کی د (قضائی عمری) په باره کی تذكره وی، هغه حديث به درواغجن وی، علامه حبيب الرحمٰن صاحب داخبره د شاه عبد العزيز دهلوی د كتاب (عجاله نافعه) ځخه نقل كړی ده، زه د مخکی جلد د مقدمی څه حصی فوټو سټيټ كاپی ستاسو خدمت ته درلېږم (ص ۳۱ كرښه نمبر ۵) كتاب ويلو ځخه وروسته ماقضائی عمری موقوف كړله چی داچيری د بعت په زمره کی رانسی، ستاسو د راهنمائی ضرورت دی.

جواب: محترم او مكرم! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

ستاسو خط ماته راكول سو په سفر باندی د كيدو د وجی جواب لږ تأخير سره دركوم ځكه معذرت خواه يم.

مولانا حبيب الرحمٰن صاحب كاندهلوی مرحوم اوس په دنيا کی نسته لهذا د هغوی په باره کی د څه وئيلو د پاره ډير زيات د احتياط ضرورت دی خو د دينی ضرورت په وجه دومره وئيلو ځخه بغير څه خلاصون نسته چی هغه غير متوازن او د انتها پسند ذهن حامل وو چی د هغه په وجه هغوی ته په خپلو انفرادی نظرياتو باندی دومره اصرار وو چی هغه د ټول امت علماء، فقهاء او په محدثينو کی ځوك په خاطر کی د راوستلو د پاره تيار نه وو، چنانچی هغوی په متعددو مسائلو کی د جمهور امت ځخه جلالاره اختيار كړله، د قضائی عمری په باره کی چی هغه څه خبره ليكلی ده هغه هم داسی ده، د امت جمهور فقهاء په دی باندی متفق دی چی كوم لمونځونه قضاء سوی وی حتی المقدور د هغه ادائيگی لازمه ده، په حديث کی قضاء سوی لمونځونو د قضاء راوړلو حكم دی او په هغه کی د كم يا زياتو څه تفصيل نسته. داخبره هم واضحه ده چی د وروسته گناهونو ځخه د توبی لازمی حصه داده چی د كومو غلطيانو تلافی ممكنه وی د هغه تلافی دی وسی، لهذا تاسو چی، كوم قضائی عمری كوی هغه درست ده او هغه بدعت گڼلو سره پرېښوول درست دی تاسو داعمل جاری وساتئ. والسلام

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۲۵/ ۵/ ۱۴۲۱ هـ
(فتوی نمبر ۴۳۴/ ۷۷) [1]

د قضائي عمری شرعي حيثيت

سوال: ډاكټر فرحت هاشمی صاحبه درس قرآن وركولو سره په دی خبره باندی زور وركوی چی د (قضاء عمری) كومه مسئله په خلكو کی مشهوره ده، كه كوم سړی د ډيری مودی پوری لمونځونه نه وی كړی بيا هغه لمونځ شروع كی نو هغه ته د قضائی عمری په طور هغه لمونځونه د قضاء په طور كول پكار دی چی په قرآن او سنت کی د دی هيڅ بنياد نسته، بلكی په تير ژوند کی چی كوم لمونځونی قضاء سوی دی د هغه تلافی صرف په توبی سره كيږی دومره ډيرو لمونځونو كولو ته ضرورت نسته، براه كرم دا واضح كړئ چی آيا په شريعت کی د تيرسوو لمونځونو قضاء واقعی ضروری نه ده؟ او آيا ائمه اربعه يا په فقهائی كرامو کی د چا مذهب دادی چی لمونځونه زيات قضاء سی نو د هغه تلافی صرف په توبی سره كيږی او د قضائی عمری كولو ضرورت نسته؟ كه د دی صاحبی ښوول سوی مسئله صحيح نه ده نو آيا د هغه په درس باندی اعتماد كولی سی؟ ورسره كه قضائی عمری ضروری ده نو د هغه صحيح طريقه څه ده؟

جواب: په صحيح بخاری کی د انس بن مالك رضی الله عنه ځخه د حضور صلی الله عليه وسلم دا ارشاد مروی دی:

من نسی صلوٰة فليصل اذا ذكرها، لاكفارة لها الا ذالك

د كوم سړی ځخه چی لمونځ كول هيرسی نو په هغه باندی لازم دی كه ورته راياد سی هغه لمونځ وكړی، د دی ځخه ماسوا د هغه څه كفاره نسته.

(صحيح بخاری كتاب المواقيت باب نمبر ۳۷ حديث نمبر ۵۹۷) [2]

په صحيح مسلم کی د حضور صلی الله عليه وسلم ارشاد په دی الفاظو سره مروی دی:

اذا رقد احدكم عن الصلوٰة او غفل عنها فليصلها اذا ذكرها فان الله جل جلاله يقول: اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِىْ.

---

[1] د قضای عمری متعلق د حضرت امت بركاتهم تفصيلی مضمون د دی ځخه وروسته وگورئ.

[2] ج: ۱ ص: ۸۴ (طبع قديمی كتب خانه)

کله چې ستاسو څخه يو سړی په لمانځه کی بيده سی يايی د غفلت د وجی پريږدی حضور ﷺ وفرمائيل: د هغه کفاره داده چې کله هم ورته هغه لمونځ راياد سی هغه لمونځ دی وکړی، الله ﷻ فرمائيلی دی (اقم الصلوة لِذِكرِي)
زما په ياد راتلو باندی لمونځ قائم کړی. (صحيح مسلم، اخری کتاب المساجد حديث نمبر: ۱۵۲۹) [۱]

او په سنن نسائی کی مروی دی:

سئل رسول الله ﷺ عن الرجل يرقد عن الصوة او يغفل عنها، قال: كفارتها ان يصليها اذا اذكرها.

(سنن النسائی، کتاب المواقيت، باب فيمن نام عن الصلوة ص: ۱۷۱) [۲]

د رسول الله ﷺ څخه د هغه سړی په باره کی پوښتنه وسوه چې څوک د لمانځه په وخت کی بيده سی يايی د غفلت په وجه پريږدی حضور ﷺ وفرمائيل: د هغه کفاره داده چې کله هم ورته هغه لمونځ راياد سی نو هغه لمونځ دی وکړی.

په دی احاديثو کی حضور ﷺ دا اصول بيان وفرمائيل چې کله يوانسان يولمونځ په خپل وخت باندی ونه کړی نو د هغه په ذمه باندی لازم دی چې تنبيه کيدو باندی د هغه قضاء وکړي، برابره خبره ده که دالمونځ څنی په هيره باندی پاته وی يا د بيده کيدو په وجه او ياهم د غفلت په وجه د صحيح مسلم او د سنن نسائی په روايتونو کی په دی موقعه باندی حضور ﷺ د قرآن ايت: وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكرِي. [۳] حواله ورکولو سره داهم واضح کړل چې دا آيت قرانی د لمونځ قضاء راګرځولو حکم ته هم شامل دی او د ايت مطلب دادی چې کله انسان ته د الله ﷻ دافريضه اداء کولو باندی تنبيه وسی نو هغه لمونځ اداء کول پکار دی.

د دی اصولو د بيائولو په وخت حضور ﷺ د لمونځونو څه تعداد نه دی مقرر کړی چې په دومره تعداد کی د لمونځونو قضاء واجب ده.

بلکی يوعام حکم يی بيان کی چې کوم لمونځ هم پاته سی د هغه قضاء واجب ده چنانچی کله د غزوه خندق په موقع باندی د حضور ﷺ څخه څو لمونځونه پاته سول

---

[۱] ج: ۱ ص: ۲۴۱) ايضاً.
[۲] ج: ۱ ص: ۱۰ (ايضاً)
[۳] سورة طه ايت: ۱۴.

حضور ﷺ د ټولو قضاء را وګرځوله چې د هغې واقعه د احاديثو په ټولو کتابونو کی راغلی دی، په دی موقعه هم حضور ﷺ دا ونه فرمائيل چې که د دی څخه زيات لمونځونه ولاړسی نو د هغه قضاء واجب نه ده دا يومسلم اصول دی چې د قرآن او سنت دا ړخه کله چې يوعام حکم راځی نو د هغه هرهر جزيی د بيل حکم نسی ورکولی او نه د دی ضرورت دی، مثلا قرآنکريم د رمضان د روژو د فرضيت د ذکر کولو څخه وروسته دافرمائيلی دی چې:

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْعَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَرَ. [۱]

چې په تاسوکی کوم سړی مريض وی ياپه سفر باندی وی نو په نورو ورځو کی همدومره شمار پوره کړي.

په دی آيت کی داعام حکم ورکول سوی دی چې کله روژی د بيماری يا د سفر د وجی ونه ساتل سی نو وروسته دی د هغه قضاء راوړل سی، په دی کی يی دانه دی ښوولی چې د دی دښوولو ضرورت وو چې د يوی مياشتی پاته روژی د پاته کيدلو داحکم دی يا د دوو رمضانونو د روژو پاته کيدو، بلکی يوعام حکم يی ورکړی دی چې د ټولو روژو پاته کيدو ته شامل دی، اوس که د يوسړی د دوو رمضانونو روژی پاته وی او هغه د دی دليل مطالبه وکړله چې د دوو رمضانونو روژی پاته کيدو د پاره ځانته حکم پکاری دی، خوڅنګه چې د هغه دامطالبه غلطه او جاهلانه مطالبه ده، همدغه شان د زياتی لمونځونو د قضاء د پاره جلادليل هم دومره غلطه مطالبه ده، حقيقت دادی: که يوسړی د عام حکم څخه د استثناء دعوی وکړی نودليل د هغه په ذمه باندی دی، چې هغه د قرآن او سنت د کوم دليل څخه مستثنیٰ کيدل ثابت کړی، ورنه ترڅو چې په قرآن او سنت کی څه استثناء ذکرسوی نه وی عام حکم به په خپل ځای باندی قائم وی.

چنانچی د لمونځونو د قضاء راګرځولو حکم چې حضور ﷺ په ذکرسوو پورتنيو احاديثو کی ورکړی دی د هغه په بنياد باندی ټولو فقهاء امت تصريح فرمائيلی ده چې پاته سوی لمونځونه چې څومره هم زيات وی د هغه قضاء ضروری ده، مشهور حنفی عالم علامه ابن نجيم رحمه الله د فقه حنفی وضاحت کولو سره تحرير فرمائی:

---

[۱] سورة البقره آيت: ۱۸۴.

فالاصل فیه ان کل صلوٰة فاتت عن الوقت بعد ثبوت وجوبها فیه فانه یلزم قضاؤها، سواء ترکها عمداً او سهوا او بسبب نوم، وسواء کانت الفوائت کثیرةً او قلیلة. (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۴۱) (طبع مکة المکرمة) [1]

په دی سلسله کی اصول دادی چی هرهغه لمونځ چی په کوم وخت واجب کیدو ځخه وروسته پاته سوی د هغه قضاء لازمه ده، برابره خبره ده که هغه انسان په قصداً او عمداً پریښی وی، یا په هیره باندی، یا د خوب په وجه او برابره خبره ده که لمونځونه کم وی او که زیات وی.

داموقوف صرف د حنفی علماوو نه دی بلکی د شافعی، مالکی، حنبلی ټول مکاتب فکر په دی متفق دی.

امام مالك رحمه الله فرمائی:

من نسی صلوٰة کثیرة او ترك صلواة کثیرة فلیصل علی قدر طاقته، ولیذهب الی حوائجه، فاذا فرغ من حوائجه صلی ایضا مابقی علیه حتی یأتی علی جمیع مانسی او ترك. (المدونة الکبری للامام مالك ج: ۱ ص: ۲۱۵) (طبع دار الکتب العلمیه بیروت)

د کوم سړی ځخه چی ډیر لمونځونه کول هیرسول، یا هغه ډیر لمونځونه پریښوول په هغه باندی لازم دی چی هغه د خپل طاقت مطابق هغه پریښوول سوی لمونځونه وکړی او د خپلو ضروریاتو د پاره ولاړسی خوچی کله د ضروریاتو ځخه فارغه سی نو بیادی باقی لمونځونه کوی تردی چی هغه ټول لمونځونه پوره کړی چی د هغه ځخه هیرسوی وو یایی پریښی وو.

د امام مالك رحمه الله د دی قول تشریح او د زیات تفصیل کولو سره مالکی عالم علامه د سوقی رحمه الله فرمائی:

فیکفی ان یقضی فی الیوم الواحد صلوٰة یومین فاکثر، ولایکفی قضاء، صلوٰة یوم فی یوم الا اذا خشی ضیاع عیاله ان قضی اکثر من یوم فی یوم وفی أجوبه ابن رشد انه انما أمر بتعجیل قضاء الفوائت خوف معالجة الموت، وحینئذ فیجوز التأخیر لمدة بحیث یغلب علی الظن وفاؤه بها فیها.

(حاشیه الدسوقی علی الشرح الکبیر ج: ۱ ص: ۲۶۳ طبع دار الفکر بیروت)

---

[1] باب قضاء الفوائط ج: ۲ ص: ۷۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه).

دومره کافی دی چی په یوه ورځ کی د دوو ورځو یا د زیاتو لمونځونو قضاء وکړځوی او داکافی نه دی چی په یوه ورځ کی صرف د یوی ورځی لمونځونه قضاً راوړی، مګر داچی د یوی ورځی ځخه زیات لمونځونه قضاء کولو په صورت کی د خپل عیال د ضائع کیدو خطره وی او د علامه ابن رشد په جواباتو کی داذکر سوی دی چی مرګ رانسی، لهذا دومره مودی پوری موخر کول جائز دی چی په هغه کی غالب ګمان داوی چی په هغه کی به لمونځونه پوره سی.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مذهب کی هم نژدی نژدی داخبره سوی ده علامه مردادی رحمه الله چی د امام احمد د مذهب قابل اعتماد ترین ناقل دی فرمائی:

(ومن فاتته الصلوٰة لزمه قضاؤها علی الفور) هذا المذهب نص علیه وعلیه جماهیر الاصحاب وقطع به کثیرمنهم قوله (لزمه قضاؤها علی الفور) مقید بما اذا لم یتضرر فی بدنه او معیشة یحتاجا، فان تضرر بسبب ذالك سقطت الفوریة. (الانصاف للمرادوی ج: ۱ ص: ۴۴۲ طبع احیاء التراث العربی بیروت)

او د کوم سړی ځخه چی ډیرلمونځونه پاته سوی وی په هغه باندی د هغه قضاء راګرځول فی الفور واجب ده، همدا مذهب دی چی د هغه تصریح سوی ده او د حنبلی اصحابو د ډیر دروند اکثریت همدا وینا ده، (قضاء لمونځونه فوراً ادا کول ضروری دی) او ډیرو په قطعی طور باندی همدا وئیلی دی.... خو البته فوری ادائیګی لازم کیدل دی شرط سره مقید دی چی د هغه په نتیحه کی هغه جسم یاضروری معیشت کی نقصان نه وی، که نقصان وی نو د فوری ادائیګی حکم به ساقط سی (بلکی په تأخیر سره اداء کول به جائز وی)

د امام شافعی رحمه الله په نزد دا افضل دی که لمونځونه د څه عذر په وجه ځنی تللی وی نو د فوری ادائیګی په ځای په تأخیر سره اداء کول جائز دی، خو که د څه عذر په وجه ځنی قضاء سوی وی، نوفوراً اداء کول ضروریْ دی:

(من فاتته) .... (مکتوبة) فاکثر (قضی) مافاته بعذر او غیره، نعم غیر المعذور یلزمه القضاء فوراً ویظهر انه یلزمه صرف جمیع زمنه القضاء ماعدا مایحتاج لصرفه فیما لابدمنه، (فتح الجواد ج: ۱ ص: ۲۲۳) (طبع شرکت مصطفی البابی مصر)

د کوم سړی چی یویازیات فرضی لمونځونه ځنی قضاسوی وی په هغه باندی ضروری دی چی کوم لمونځونه ځنی قضا سوی وی د هغه قضاء راوړی برابره خبره ده که هغه لمونځونه د [illegible] حه ځنی قضاسوی وی یا بغیر د عذر ځخه، هو! کوم سړی چی

بغیر د څه عذر څخه لمونځونه پریښی وی په هغه باندی قضاء فوری طور سره واجب ده، او ظاهره داده چی هغه ته پوره وخت په قضاء کولو کی صرف کول پکار دی ماسوا د دومره وخت څخه چی د هغه د خپلو لازمی ضروریاتو د پاره پکار وی.

علامه ابن تیمیه هم د فقهاء کرامو دامذاهب نقل کولو سره د هغوی سره اتفاق کړی دی فرمائی:

ومن علیه فائتة فعلیه ان یبادر الی قضائها علی الفور سواء فاتته عمداً او سهواً عند جمهور العلماء کمالك واحمد وابی حنیفة وغیرهم، وکذالك الراجح فی مذهب الشافعی انها اذافاتت عمداً کان قضاؤها واجبًا علی الفور. (فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیة ج: ۲۳ ص: ۲۵۹ مطابع الریاض)

د کوم سړی په ذمه چی پریښی لمونځ وی په هغه باندی واجب دی چی د هغه په په اداء کولو کی فوری طور باندی حلتی وکړی، برابره خبره ده که هغه لمونځ یی په قصداً سره پریښی وی او که په هیره باندی، همدا د جمهورو علماوو مثلاً امام مالك، امام احمد رحمه الله او د امام ابوحنیفه رحمه الله موقوف دی، او د امام شافعی رحمه الله په مذهب کی هم راجح دادی چی که قصداً یی لمونځ پریښی وی نو هغه ته فوراً اداء کول واجب دی.

د علامه ابن تیمیه رحمه الله څخه پوښتنه وسوه:

رجل علیه صلوة کثیرة فاتته، هل یصلیها بسنتها؟ ام الفریضة وحدها؟ د کوم سړی په ذمه چی ډیر لمونځونه قضاوی د هغه اداء کولو سره به سنت هم کوی یا به صرف فرض کوی؟

علامه ابن تیمیه جواب ورکی: المسارعة الی قضاء الفوائت الکثیرة اولی من الاشتغال عنها بالنوافل واما مع قلة الفوائت قضاء السنن معها حسن. (فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه ج: ۲۲ ص: ۱۰۴)

کله چی پریښی لمونځونه ډیروی نو هغه راګرځول په نفلوکی د مشغولیدو څخه ډیر ښه دی او که پریښی لمونځونه کم وی نو د هغه سره سنت، قضأ راګرځول ښه دی.

د دی تفصیل څخه داخبره ښه واضحه کیږی چی د فقهأ کرامو رضی الله عنهم په مینځ کی دامسئله خو د بحث لاندی راغلی دی چی د پاته سوی لمونځونو قضاء تنبیه کیدو سره فوراً واجب کیږی یا په دی کی تأخیر کولی سی او د تأخیر په صورت کی کی څومره لمونځونه روزانه قضاء کول ضروری دی؟ ورسره داچی صرف فرض لمونځونه قضاء وګرځول سی یاسنت هم؟ او د قضاء راګرځولو په وخت په لمونځونه کی د ترتیب لحاظ

مسائل ضروری دی او که نه؟ خو په دی مسئلی کی د معروف فقهاوو کرامو په مینځ کی څه اختلاف نسته چی لمونځونه څومره هم زیات وی د هغه قضاء د انسان په ذمه واجب ده او د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطابق د قرآنکریم آیت (واقم الصلوة لذکری) په مفهوم کی داخبره داخل ده چی په تنبیه کیدو باندی انسان د پریښی لمونځونو قضأ راګرځولو فکر وکړی او د قرآن او سنت هیڅ دلیل داسی نسته چی د زیاتو لمونځونو قضاء په نه راګرځولو باندی دِ لالت کوی، داسی هم داعجیب او غریب موقف دی چی کوم سړی لږ لمونځونه قضاء کړی نو په هغه باندی دی اداء کول خو واجب وی خو زیات لمونځونه پریښوونکی باندی دی څه واجب نه وی، بیاڅوك دی چی د کم اوزیات لمونځونو تعداد مقرر کولو سره دا ووایی چی د دومره لمونځونو څخه وروسته قضاء واجب نه ده.

دا خبره بالکل واضحه ده چی په هرانسان باندی بالغ کیدو څخه وروسته لمونځ کول فرض کیږی او دافریضه په ټولو شرعی فرائضو کی د ټولو څخه زیاته مؤکد او اهمه ده، او داهم یومسلم اصول دی که کومه فریضه د قطعی دلائلو څخه ثابته وی نو هغه د انسان د ذمی څخه د ساقط کولو د پاره کم ترکمه همدومره د مضبوطو دلائلو ضرورت وی او دلته خو قطعی دلائل پریږده، د کمزوری څخه کمزوری دلیل هم داسی نسته چی د هغه په بنیاد باندی دا وئیل سی چی کوم لمونځونه د انسان په ذمه فرض سوی وو، د هغه د غفلت اولا پرواهی په وجه د هغه فرضیت ختم سوی دی، لهذا داوئیل که فوت شده لمونځونه ډیر زیات سوی وی نو د هغه قضاء لازمه نه ده، د قرآن او سنت د واضح دلائلو څخه او په هغه باندی مبنی د فقهائی امت د اتفاق څخه بلکل خلاف یوه ګمراهانه خبره ده، او د لمانځه په شان اهمه فریضه محض د خپلی رایی په بنیاد باندی ختمولو مترادف دی او داوئیل بالکل غط دی، چی د فوت سوی لمونځونو د پاره صرف توبه کارټل کافی ده، ځکه چی د توبی د قبولیت لازمی شرط، دادی چی انسان د خپلی غلطی څومره تلافی چی یی په وس کی وی هغه تلافی هم وسره وکړی.

د قضائي عمری موضوع احادیث

دلته داواضح کول هم مناسب دی چی د أصول حدیث په بعضی کتابونو کی د موضوع احادیثو علامتونه بیانولو سره د قضائی عمری د حدیث مثال یی ورکړی دی، مثلا حضرت شاه عبد العزیز صاحب محدث دهلوی رحمه الله د موضوع احادیثو پنځم علامه بیانولو سره لیکی:

پنجم آنکه مخالف مقتضی عقل وشرع باشد و قواعد شرعیه آن را تکذیب نمایند مثل قضائی عمری

یعنی پنځمه علامه داده چې هغه حدیث د عقل او شریعت د تقاضو خلاف وی او شرعیه قواعد د هغه تکذیب کوی، مثلاً د قضائی عمری حدیث.

(عجاله نافعه ص: ۲۴ خاتمه، طبع نور محمد کتب خانه کراچی)

کیدی سی چې یوناواقف او جاهل سړی ته د دی څخه دامغالطه سوی وی چې د تیر عمر لمونځونه قضاء کول بی اصله دی او د دی په باره کی چې کوم احادیث راغلی دی هغه موضوع دی، ځکه دا وضاحت ضروری دی چې بعضی غیر مستند د وظائفو وغیره کتابونو کی څه داسی موضوع حدیثونه راغلی دی چې په هغه کی دا وئیل سوی دی، چې په یوه خاص ورځ کی صرف یولمونځ دی قضاء راوړی نو په دی د اویا ۷۰ کالو قضائی لمونځونه اداء کیږی محدثین داسی قسم روایتونو ته د (قضائی عمری) نوم ورکوی، او دی احادیثو لره هغوی موضوع ګرځولی ده، ملاعلی قاری په موضوعاتو باندی په خپل مشهور کتاب کی لیکی:

(حدیث) من قضٰی صلوٰة من الفرائض فی آخر جمعة من شهر رمضان کان ذالك جابراً لکل صلوٰة فائتة فی عمره الی سبعین سنة، باطل قطعًا لانه مناقض للاجماع علی ان شیئًا من العبادات لایقوم مقام فائتة سنوات.

داروایت چې کوم سړی د رمضان په آخری هفته کی یوفرض لمونځ قضاء وکړی نو دا د اویاوو ۷۰ کالو پوری د هغه په عمر کی چې څومره لمونځونه تری پاته وی د هغه ټولو تلافی کیږی، دا روایت په قطعی طور باندی باطل دی ځکه چې داحدیث د اجماع خلاف دی، اجماع په دی باندی ده چې هیڅ یو عبادت هم د کلونو پریښوول سوو لمونځونو قایم مقام نسی کیدلی.

(الموضوعات الکبرٰی ص: ۳۵۲) (طبع مکتبه اثریه شیخپوره)

او علامه شوکانی لیکی چې:

(حدیث) من صلی فی آخر جمعة من رمضان الخمس الصلوٰة المفروضة فی الیوم واللیة قضت عنه ما أخل به من صلوٰة سنته، هذا موضوع لا اشکال فیه.

داحدیث چې کوم سړی د رمضان په آخری جمعه کی د شپې ورځې پنځه لمونځونه وکړی په هغه سره د هغه د ټول کال په لمونځونو کی چې څومره خلل راغلی وی د هغه ټولو قضاء کیږي، د څه شك څخه بغیر موضوع دی (الفوائد المجموعة للشوکانی ج: ۱ ص: ۵۴ نمبر ۱۱۵) (مطبعه السنة المحمدیة قاهره)

د حضرت شاه عبد العزیز صاحب په ذکرسوی پورتنی عبارت کی د قضائی عمری کوم روایات موضوع ګرځولی دی د هغه څخه مراد د (قضائی عمری) په باره کی داقسم روایات دی چې یولمونځ یا څو لمونځونه د ټول عمر د لمونځونو، قایم مقام ګرځوی، د دی قسم روایاتو هیڅ سند نسته، د دی د موضوع کیدو وجه ملاعلی قاری داهم بیان فرمائیلی ده چې یویاڅو لمونځونه د لکونو فوت سوو لمونځونو تلافی نسی کولی او په دی باندی د امت اجماع ده، لهذا که چاته د دی احادیثو د موضوع ګرځولو څخه داغلط فهمی سوی وی چې د قضائی عمری تصور بی بنیاده دی، او د تیرسوو لمونځونو قضاء لازمه نه ده، نو د هغه منشاء د جهالت څخه ماسوا نورهیڅ هم نه ده.

د قضائي عمری صحیح طریقه

د قرآن او سنت او د فقهائی کرامو د اتفاق په رڼا کی داخبره د شك او شبهی څخه بالاترده چې کوم مسلمان د خپل عمر په شروع کی لمونځونه د غفلت یالاپرواهی په وجه نه دی کړی او وروسته ورته تنبیه او د توبی توفیق وسی، د هغه په ذمه داضروری ده چې د خپل پاته لمونځونو محتاط حساب لګولو سره د هغه د اداء کولو فکر وکړی، امام مالك، امام احمد او د امام شافعی رحمهم الله د درو سرو بزرګانو په دی خبره باندی اتفاق دی که لمونځونه یی بغیر د څه عذر څخه پریښی وی نو د تنبیه کیدلو څخه وروسته د هغه فرض دی چې هغه د دی لمونځونو ادائیګی فوراً وکړی او صرف د ضروری حاجتونو وخت به د دی څخه مستثنٰی وی، خو فقهاء حنفیه وئیلی دی چې انسان د خپل وس او طاقت ترحده پوری مکلف دی ځکه د قضاء لمونځونو په کولو کی دومره تأخیر جائز دی چې د انسان معاشی او نورو حاجتونو د پوره کولو د پاره پکار دی، درمختار کی دی:

(او یجوز تأخیر الفوائت) وان وجبت علی الفور (لعذر السعی علی العیال وفی الحوائج علی الاصح). (ابن عابدین ج: ۱ ص: ۵۴۳) ([1])

د پاته سوو لمونځونو په راګرځولو کی تأخیر جائز دی که څه هم د هغه وجوب علی الفور دی خو د عیال د معاش د انتظام او نورو حاجتونو د عذر، په وجه تأخیر کیدی سی. چنانچی علامه شامی لیکی:

[1] ایضًا

فیسعی ویقضی ماقدر بعد فراغه ثم وثم الی ان تتم (۱).

لهذا داسی سړی دی خپل کار کوی او فارغه کیدو څخه وروسته چی څومره لمونځونه کولی سی هغه دی قضاء راګرځوی تردی چی ټول لمونځونه پوره سی.

بعضی علماوو د مزید اسانتیا د پاره داطریقه ښوولی ده چی:

انسان دی روزانه د هرفرض لمانځه سره د هغه وخت یوقضاء لمونځ کوی، دا شان به په یوه ورځ کی پنځه لمونځونه اداء سی خو کله چی موقع پیداسی نو د دی څخه دی زیات هم کوی فرمائی:

وفوره مع کل فرض، اذ لم یجب فی الیوم اداء اکثر من خمس، فکذا القضاء فان زاد اوجمع الخمس فحسن، (البحر الزخار لاحمد ابن المرتضیٰ ج: ۱ ص: ۱۷۳ طبع صنعاء)

او د قضاء لمونځونو فوری د اداء کولو طریقه داده چی د هرفرض سره دی یوفرض وسی څکه چی په یوه ورځ کی د پنځو څخه زیات لمونځونه اداء کی ضروری نه وی، نو قضاء دی هم په دی قیاس سی خو که څوك زیات لمونځونه کوی یاپنځه یوځای کوی نو ډیرښه دی، خو قضاء کولو کی دی د نیت خیال وساتل سی یعنی واضح طور باندی د قضاء نیت وسی، مثلاً د سهار قضاء، کوی نو دانیت دی وکړی چی زما په ذمه د سهار د ټولو څخه مخکی لمونځ واجب دی د هغه قضاء ارګرځوم.

د لمنځونو فدیه

په قرآنکریم کی د روژو فدیه بیان سوی ده یعنی کوم خلګ چی د روژو نیولو بالکل طاقت نه لری نه په آینده کی د داسی طاقت پیداکیدو امید ورته وی د هغوی د پاره قرآنکریم حکم ورکړی دی چی هغوی دی د یوی روژی په عوض کی په یومسکین باندی خوراك وکړی نو د لمانځه د پاره په قرآن کریم یا د نبی کریم ﷺ په سنت کی داسی حکم ذکرسوی نه دی، البته امام محمد فرمائیلی دی چی د کوم سړی لمونځونه قضاء سوی وی او هغه هغه نه اداء کوی، هغه ته پکار دی چی داوصیت وکړی که ما دالمونځونه اداء نه سول او په همدی حالت کی زما انتقال وسو، نو زما د ترکی څخه دی د دی لمونځونو فدیه اداء سی او هغه فدیه هم د روژی د فدیی په حساب سره یعنی د یوه لمانځه فدیه د یومسکین خوراك (یعنی پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه د قیمت صدقه) اداء سی، امام احمد داحکم د احتیاط په طور سره ورکړی دی او وئیلی یی دی

(۱) الدر المختار مع رد المختار باب قضاء الفوائت ج: ۲ ص: ۷۴.

چی که څه هم د لمنځونو د فدیی ذکر په قرآن او سنت کی نسته خو په روژو باندی قیاس کولو سره داحکم را ایستل سوی دی، لهذا امید دی چی انشاء الله داسی به د انسان ذمه واری پوره سی. (وګورئ ردالمختار ج: ۱ ص: ۵۴۱) (۱)

خو یا د دی وی چی داوصیت به د ترکی په یوه حصه کی نافذ وی یعنی که د روژو یا د لمانځه ټوله فدیه د هغه د ټول مال یوه حصه یا د دی څخه کم وی نو بیا خو د وارثانو په ذمه به واجب وی چی هغه فدیه اداء کړی، که د فدیی مقدار د پوره حصی څخه زیات سو نو په زاید مقدار کی په وصیت باندی عمل کول به د وارثانو په ذمه لازم نه وی، همداشان که یوسړی د روژی یا د لمانځه د فدیی وصیت ونه کی نو د وارثانو په ذمه ضروری نه چی هغوی فدیه اداء کړی خو عاقل او بالغ وارثان دی د خپلی حصی څخه په رضاکارانه طور باندی فدیه اداء کړی نو دا به د هغوی احسان وی او د الله جل جلاله د رحمت څخه امید دی چی انشآء الله مرحوم به معاف کړی.

خلاصه

خلاصه داده چی د انسان څخه کوم لمونځونه پاته سوی وی د هغه قضأ د هغه په ذمه باندی لازمه ده او صرف توبه کولو سره هغه نه معاف کیږی خواه چی هرڅومره زیات وی، البته که هغه هره ورځ د پنځو لمونځونو قضاء راګرځول شروع کړی او کله چی ورته د زیاتو کولو موقع ورکول کیږی نو زیات دی کوی، او ورسره دی وصیت هم کوی چی کوم لمونځونه ما په خپل ژوند کی اداء نه کړل، د هغه فدیه دی زما د ترکی څخه اداء سی نو امید دی چی انشاء الله د هغه داعمل به الله جل جلاله قبول کړی او داکوتاهی به یی معاف کړی، د قضائی عمری صحیح طریقه داده او دا وئیل چی د قضائی عمری کولو هیڅ ضرورت نسته او صرف توبه کافی ده، د ګمراهی خبره ده، او کوم سړی چی د لمانځه په شان بنیادی فریضی کی محض په خپلی رایی سره د دلیل څخه بغیر داشان ګمراهانه خبری تلقین او په هغه باندی اصرار کوی د هغه په درس باندی هیڅکله اعتماد نسی کیدلی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳/ رجب/ ۱۴۲۲ هـ

(۱) ج: ۱ ص: ۷۲، ۷۳.

د حیض د ورځو د لمونځونو قضاً لازمه نه ده

سوال: ښځه د حیض او نفاس په حالت کی لمونځ نسی کولی نو آیا د حدیث د مخه یا د فقهی د مخی وروسته د پاکوالی د غسل د حیض او نفاس څخه په هغه ښځی باندی د لمونځ قضاء واجب ده؟ او که معاف به وی؟

جواب: د حیض او نفاس په حالت کی چی ښځه کوم لمونځونه پریږدی د هغه قضاء په هغه باندی واجب نه ده بلکی هغه لمونځونه ورته معاف دی البته په دی حالت کی چی کومی روژی ځنی پاته وی د هغه قضاء باندی واجب ده (۱).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۵/۸ ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۴۵۱ ب)

د قضائي لمونځونو ادائیگي ضروری ده

سوال: زید چی کله په هوش کی راغلی دی او د کله څخه چی بالغ سوی دی د هغه څخه وروسته اوس د هغه عمر تقریباً ځلویښت یاپنځه ځلویښت کاله دی، په دی دوران کی د فرائضو، واجباتو په ادائیگی کی د کوتاهی کیدو، داشان څه حقوق العباد هم د هغه په ذمه باندی دی اوس زید تلافی کول غواړی څه صورت دی؟

جواب: د حقوق العباد د کوتاهی تلافی خوصرف داشان کیدی سی! چی د چا چا حقوق یی تلف کړی وی د هغوی مالی حقوق خو دی یا هغوی ته اداء کړی یادی د هغوی څخه معاف کړی او د لمونځ او روژی طریقه داده چی خومره لمونځ او روژی پاته وی د هغه دی صحیح صحیح حساب ولگوی که صحیح حساب ممکن نه وی نو محتاط اندازه دی ولگوی او د هغه قضاء دی شروع کړی او ورسره دی دا وصیت وکړی که ما د دی قضاء ونسوه نو د هغه فدیه دی زما د ترکی څخه اداء سی، بیا که په ژوند کی د هغی

(۱) وفی الدر المختار: ج: ۱ ص: ۲۹۱ (ویمنع الصلوة) مطلقًا ولوسجدة شكر (وصومًا) وجماعًا (وتقضيه لزومًا دونها للجرح) وفی الشامية قوله صلوة ...... تسقط للجرح وقوله وتقضيه اى الصوم على التراخی فی الاصح.

ادائیگی مکمل سوه نو داوصیت دی کټ کړی (۱)، د زکوة دی هم همداشان حساب لگولو سره د هغه ادائیگی وکړی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۱۰/۱۳ ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۴۸ ج)

فصل في سجود السهو

د سجده سهوی د مسائلو بیان

د سورة فاتحي، سورة او رکعاونو کي د شک د دوو صورتونو حکم

سوال: مسئله داده چی د یوسړی عمر د اتایو کالو څخه زیات دی، د ډیری مودی څخه په مختلفو موضو او عوارضو کی مبتلاء دی، حرکت کولو څخه گرځیدو راگرځیدو څخه معذوره دی په ناسته باندی لمونځ اداء کوی او د غیر معمولی ضعف او نقاحت په وجه یی قوی ډیره کمزوری سوی ده، د حافظی او یاداشت قوت یی هم ډیر کمزوری سوی دی، په لمانځه کی ډیر سهوه کیږی او اکثره کیږی کله ورته د رکعتونو په تعداد کی شبه کیږی چی یوسوی دی که دوه؟ او یادری رکعته سوی دی یاڅلور؟ کله ورته داشبه وی چی سورة فاتحه یی ویلی ده او که نه؟ او بیایی ورسره سورة یوځای کړی دی او که نه؟ رکوع یی کړی ده او که نه؟ سجده یی یوه کړی ده او که دوی؟ سجده سهوه یی کړی ده او که نه؟

غرض داشان مختلف صورتونه پیښیږی امکانی سعی او د احتیاط باوجود حدیث النفس کی ابتلاء او د سهوی صورت پیښیږی، په دی باندی نه خو هغه داقسم اختستی سی چی داشان غلطی سویده، او نه داقسم اختستی سی چی نه ده سوی، نه یقین او ظن غالب وی، البته شبه او د ترک احتمال ضرور وی.

معلومول دادی چی آیا د شبهی او د احتمال د اړخه نظر واړول سی اومطلق التفات ونه سی؟ مثلاً: د ماپښین څلورو سنتوکی په اول رکعت کی داشپه وسوه چی اولنی رکعت

(۱) مکمل تفصیل په سابقه فتوی ص: ۴۷۷ څخه تر ۴۸۷ کی وگورئ.

دی او که دوهم؟ نو اول رکعت کی یی د دوهم په احتمال باندی او په دوهم رکعت کی هم د دوهم په شبه باندی او په دریم رکعت کی د څلورم رکعت په احتمال باندی او په څلورم رکعت کی، د څلورم په شبه باندی التحیاته ووایه غرض دادی چی احتیاطًا التحیات ووایی او په اخره کی سجده سهوه وکړی، اوهم داشبه کیدو باندی چی سورة فاتحه یی وویل اوسورة یی ورسره یوځای کړی دی او که نه؟

احتیاطًا سورة فاتحه ووایی او سورة ورسره یوځای کړی او د سجده سهوی کولو څخه وروسته د نه کولو شبه وی نو احتیاط دی سجده سهوه وکړی وغیره وغیره څه وسی.

۲: ایا داشان په ټولو صورتونو د اقل اعتبار کولو سره احتیاطًا دوباره سورة فاتحه ووایی، او سورة یوځای کولو او سجده سهوه کولو سره به لمونځ صحیح سی؟ او فاسد او واجب الاداء خو به نه کیږی؟

جواب: که شبه داسی وی چی دواړه احتماله په ذهن کی برابر معلومیږی نو په دی وخت کی دی د اقل اعتبار وکړی (۱) او په هرهغه رکعت کی دی قعده وکړی چی د هغه د اخری رکعت کیدو احتمال وی (۲) او په کوم رکعت کی چی د قعده اولی کیدلو محض احتمال وی، په هغه باندی ناسته ضروری نه ده مثلاً د ماپښین په اولنی رکعت کی شك پیداسو چی اول دی او که دوهم، نو په اول ګڼلو سره دی لمونځ جاری وساتی او په دی رکعت دی نه کښینی او په دریم رکعت دی څکه کښینی چی د دی د آخری رکعت کیدو احتمال دی (۳) بیادی په اخره کی سجده سهوه وکړی.

۲: احتیاطًا دوباره فاتحه وویله او سورة یوځای کولوسره لمونځ نه فاسدیږی خو په سجده سهوه کی داتفصیل دی، که په آخری دوو رکعتونو کی داسی وکړی نو سجده

---

(۱) ایضًا.

(۲) ایضًا.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۹۳ (طبع سعید) (وان کثر شکه (عمل بغالب ظنه ان کان) له ظن الجرح (والا اخذ بالاقل) لتیقنه وقعد فی کل موضعتوهم موضع قعوده، ولوواجبًا لئلا یصیر تاركًا فرض القعود او واجبه، وفی الشامیة (قوله والا) ای وان لم یغلب علی ظنه شی. فلوشك انها اولی الظهر او ثانية یجعلها الاولی ثم یعقد لاحتمال انها الثانية ثم یصلی رکعة ثم یقعد لاحتمال انها الثانية ثم یصلی رکعة ثم یقعد لما قلنا ثم یصلی رکعة ویقعد لاحتمال انها الرابعة ثم یصلی اخری ویقعد لما قلنا .... الخ وفی الهدایه: ج:۱ ص: ۴۵۲ وان لم یکن له رأی بنی علی الیقین لقوله ﷺ من شك فی صلوته فلم یدر اثلاثًا صلی ام اربعًا بنی علی الاقل .... الخ.

سهوه هم واجب نه ده، دغه شان که اولنو دوو رکعتوکی یی د سورة څخه وروسته فاتحه مکرره وویله نو بیاهم سجده سهوه واجب نه ده هو! که د سورة څخه مخکی یی سورة فاتحه مکرره وویله نو سجده سهوه به واجب وی او د سجده سهوی څخه وروسته به لمونځ درست سی، کذا فی رد المختار (۱) والعالمگیریه ج: ۱ ص: ۵۲۲ (۲)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۰۲/۱۱/۲۲ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۲۸۰/ ۳۷ هـ)

په قرائت کي د عدم ترتیب د وجي سجده سهوه لازمه نه ده

سوال: په لمانځه کی په قرائت کی ترتیب قایم پاته نسی نو ایا سجده سهوه به لازمه وی؟

جواب: په صورة مسئوله کی سجده سهوه واجب نه ده (۳).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۹۷/۱۰/۱۲ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۰۵۱/ ۲۸ ج)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۴۲۰، ۴۲۱ وکذاترك تکریرهای قبل سورة الاولیین، وفی الشامیة فلوقرأها فی رکعه من الاولیین مرتین وجب سجود السهو لتأخیر الواجب وهو السورة ... قال فی شرح المنية قید بالاولیین لان الاقتصار علی مرة فی الاخریین لیس بواجب حتی لایلزمه سجود السهو بتکرار الفاتحة فهما سهوًا، ولوتعمده لایکره.

(۲) وفی الهندية ج: ۱ ص: ۱۲۲ ولوکررها فی الاولیین یجب علیه سجود السهو بخلاف مالو اعادها بعد السورة وکررها فی الاخریي، وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۹۴ (طبع سعید) وذکر قاضی خان وجماعة انها ان قرأها مرتین علی الولاء وجب السجود وان فصل بینهما بالسورة لایجب وصححه الزاهدی للزوم تاخیر السورة فی الاول لافی الثانی .... الخ، همدارنګه وګورئ امداد الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۳۲۷، ۳۲۸).

(۳) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۸۰ (طبع سعید) (ویجب .... بترك واجب، وفی الشامية قوله بترك واجب ای من واجبات الصلوٰة الاصلیة لاکل واجب اذ لوترك ترتیب السورة لایلزمه شئ مع کونه واجبًا .... الخ، وکذا فی الهندیه ج: ۱ ص: ۱۲۲ (مولوی نوراحمد حقانی)

د تسميې په ترک سره سجده سهوه لازمه نه ده

سوال: د سورة فاتحی د ويلو څخه وروسته شك پيداكيږی چی پوره فاتحه می ويلی ده يا څه حصه پاته ده چی د هغه په وجه يی دوباره وايم چی د تأخير باعث وی څه حكم دی؟

جواب: يووار فاتحه په فكر سره دوباره ووايه! كه وروسته شك پيداسی نو د هغه پرواه مه كوه ترڅو چی د غلطی يقين كامل نه وی لمونځ به وسی.

سوال: د لمانځه په اول ركعت كی اكثره شبه كيږی چی بسم الله شريفه می د الحمدلله څخه مخكی وئيلی ده او كه نه؟ د بسم الله نه وئيلو په وجه به لمونځ فاسد سی؟ او د بسم الله شرعی حيثيت څه دی؟ سجده سهوه خو به واجب كيږی نه؟

جواب: كه بسم الله سهواً پاته سی نولمونځ كيږی او سجده سهوه نه واجب كيږی.[1]

والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۳/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د رکن د تأخير هغه مقدار چې په هغه سره سجده سهوه واجبيږی

سوال: (البلاغ) په شماره كی (د خپل لمونځ درست كړي) ترعنوان لاندی دی مسئله نمبر ۳، كه ته په غلطی سره په اول يا دريم ركعت كی كښنی نستی نو فوراً ودريږی كه كښنی نستی، دومره وخت چی په هغه كی دری واره سبحان الله وئيلی سی نو سجده سهوه كول به ضروری وی ورنه نه به وی، په حواله د كتابونو محقق وفرمايی چی تسلی وسی، ځكه چی په كبيری كی د دی خلاف تصريح ده يعنی دری واره د سبحان الله د مقدار د تأخير قيد نسته، عبارت دادی:

ولوقام فی الصلوٰة الرباعية الیٰ الركعة الخامسة او قعد بعد رفع رأسه من السجود فی الركعة الثالثة او قام الی الرابعة فی المغرب او الثالثة فيه او فی الفجر اوقعد بعد رفعه من الركعة الاولی فی جميع الصلوٰة يجب عليه سجود السهو بمجرد القيام فی

[1] وفی الدر مع الرد ويجب ..... بترك واجب سهواً، وفی الشامية ج: ۲ ص: ۸۰ واحترز بالواجب عن السنة كالثناء والتعوذ ونحوهما، وكذا فی الهندية ج: ۱ ص: ۱۲۶.

صورة وبمجرد القعود فی صورة التاخير الواجب وهو التشهد او السلام فی صورة القيام وتأخير الركن وهو القيام فی صورة القعود. اهل[1]

جواب: په دی مسئله كی احقرته هم شك وو ځكه يووار د دی تحقيق ليكلو سره والد ماجد حضرت مولانا محمد شفيع صاحب مدظلهم العالی ته ورښوولی وو، موصوف د دی د تصديف كولو سره هغه يی د امداد الفتاوی جلد اول (صـ ۳۵۲) طبع جديد كراچی جزء جوړكړی وو[2] د دی تحقيق حاصل هم دادی چی مجرد قعود سره سجده سهوه نه واجب كيږی، بلكی مقدار ركن په تأخير سره واجب كيږی چی د هغه تعين يی په درو تسبيحاتو سره كړی دی.

علامه طحاوی مراقی الفلاح په شرح كی تحرير فرمائی: وهو مقدر بثلاث تسبيحات، ج: ۱ ص: ۲۵۸ طبع نور محمد كتب خانه، او د دی مقدار يی دری واره سبحان الله وئيل مقرر كړی دی، د تفصيل د پاره خو د امداد الفتاوی ذكر سوی حاشيی طرف ته رجوع وكړی[3]، دلته د علامه شامی رحمه الله يوه تصريح ذكر كوم، په درمختار كی دی چی:

ويكبر للنهوض علی صدور قدميه بلا اعتماد وقعود استراحة ولوفعل لابأس.

د دی لاندی علامه شامی ليكی چی: قال شمس الائمة الحلوانی الخلاف فی الافضل حتی لوفعل كما هو مذهبنا لابأس به عند الشافعی ولوفعل كماهو مذهبه لابأس به عند الشافعی ولوفعل كما هو مذهبه لابأس به عندنا ... ولاينافی هذا ماقدمه الشارح فی الواجبات حيث ذكرمنها ترك قعود قبل ثانية ورابعة لأن ذاك محمول علی القعود الطويل، (رد المختار ص: ۴۷۳ مطبوعه استنبول)[4] لهذا څومره مقدار چی د شوافعو په نزد د جلسه استراحت مستحب دی په هغه سره زموږ په نزد سجده سهوه نه واجبيږی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

[1] غنية المتملی ص: ۴۵۸ (طبع سهيل اكيډمی لاهور)

[2] ايضاً.

[3] د سجده سهوی متعلق د حضرت دامت بركاتهم داتحقيق د دی فتوی څخه وروسته وكوری.

[4] الدر المختار مع رد المختار ج: ۱ ص: ۵۰۶ (طبع سعيد).

۱۹/ ۲/ ۱۳۸۸

د تأخیر د رکن په څومره مقدار سره سجده سهوه واجبیږی؟

(د یو رکن د مقدار په تأخیر سره سجده سهوه لازمیږی یا د یو تسبیح د مقدار په تأخیر سره؟ مفصل تحقیق)

لاندینی عبارت د بحث لاندی مسئله کی قابل د غور دی:

۱: قال فی ملتقی الا بحر ویجب ان قرأ فی رکوع او قعود اوقدم رکنا او اخّره او کرّره او غیّر واجبا او ترکه کرکوع قبل القرأة وتأخیر القیام الی الثالثة بزیادة علی التشهد. وقال شارحه العلامة شیخ زاده واختلفوا فیه قدر الزیادة فقال، بعضهم بزیادة حرف وکلام المصنف یشیر الی هذا وقال بعضهم بقدر رکن وهو الصحیح کما فی اکثر الکتب. (مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۱۴۸) [۱]

۲: وقال تحته شارحه العلامه ابن عابدین بقدر رکن. (بالحوالة المسطورة) [۲]

۳: قال الامام الظهیر الدین المرغینانی لایجب بقوله اللهم صل علی محمد وانما المعتبر مقدار مایؤدی فیه رکنًا کذا فی الظهیریة، (بجندی شرح وقایه ج: ۱ ص: ۱۴۹) [۳]

۴: قال ابن البزار الکردری سها فی صلوته انها الظهر أو العصر او غیر ذالك ان تفکر قدر مایؤدی فیه رکن کرکوع لزم وان قلیلاً فان شك فی صلوة صلاها ..... الخ. (الجامع الوجیز علی هامش الهندیه ج: ۴ ص: ۷۰) [۴]

د دی ټولو عبارتونو څخه په مشترکه طور باندی دانتیجه را وځی چی د تأخیر واجب مقدار اکثرو فقهاوو داګرځولی دی چی دومره تأخیر وسی چی په هغه کی د لمانځه کوم رکن مثلا رکوع یاسجده وغیره اداء سی، او هغه دری واره د سبحان الله وئیلو په وقفه کی کیږی، به صرح الطحطاوی فی حاسیتهٔ علی المراقی حیث قال ولم یبینوا قدر الرکن

---

[۱] ایضًا.

[۲] مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج: ۱ ص: ۲۲۰۱ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) راجع شرح الوقایه ج: ۱ ص: ۱۸۵ (طبع ایچ ایم سعید)

[۳] الجامع الوجیز علی هامش الهندیه ج: ۴ ص: ۲۳ (طبع مکتبهٔ رشیدیه کویټه)

[۴] طبع نور محمد کتبخانه.

وعلی قیاس ماتقدم ان یعتبر الرکن مع سنة وهو مقدر بثلاث تسبیحات. (طحطاوی ج: ۱ ص: ۲۵۸) [۱]

د دی قول څخه علاوه نور ډیر اقوال ذکر سوی دی چی په هغه کی خو یامرجوح دی یا هغه چی د هغه مال هم دا را وځی، صاحب د تنویر الابصار دامسئله دوه ځایه ذکر کړی ده او په دواړو کی په ظاهره تعارض معلومیږی، باب صفة الصلوة کی چی د هغه عبارت دادی: (فان زاد عامدًا) فتجب الاعادة (او ساهیا وجب علیه سجود السهو اذا قال اللهم صل علی محمد) فقط (علی المذهب المفتی به لالخصوص الصلوة بل لتأخیر القیام. (شامی ج: ۱ ص: ۴۷۷) [۲]

د دی لاندی علامه شامی د څو اقوالو ذکر کولو سره د بحر، زیلعی شرح منیه کبیری، وغیره څخه یی هم داصحیح ګرځولی دی، او د علامه رملی او شرح منیه صغیری څخه (وعلی آل محمد) زیادتی مرجح کیدل یی ذکر کړی دی، او باب سجود السهو کی صاحب د تنویر فرمائی: وتأخیرقیام الی الثالثة بزیادة علی التشهد بقدر رکن، صاحب درمختار لیکلی دی: وقیل بحرف وفی الزیلعی الاصح وجوبه باللهم صل علی محمد، علامه ابن عابدین د دی تعارض ذکر کوی او فرمائی: قوله وفی الزیلعی .... الخ، جزم به المصنف فی متنه فی فصل اذا اراد الشروع وقال انه المذهب واختاره فی البحر تبعًا للخلاصة والخانیة والظاهر انه لاینافی قول المصنف هنا بقدر رکن تأمل (شامی ج: ۱ ص: ۲۹۴) [۳]

چی د هغه څخه معلومه سوه چی د (اللهم صل علی محمد) او په قدر د رکن د دواړو اقوالو حاصل او مال یو را وځی نو ګوانکی چی چا او چا (اللهم صل علی محمد) یی د تأخیر مقدار ګرځولی دی هغه په قدر د رکن د قول څه منافی خبره نه ده کړی اوبالعکس.

پاته سو هغه عبارت چی منیة المصلی کی دی: که کوم سړی په اول یادریم رکعت په آخرکی کښېنستی نو د مطلق کښېنستو سره به سجده سهوه واجب سی برابره خبره ده که هغه د رکن په مقدار ناست وی او که نه، همداشان په هغه کی داهم دی چی په جلسه

---

[۱] الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۱۰ (طبع ایچ ایم سعید).

[۲] الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۱۰ (طبع ایچ ایم سعید)

[۳] الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۸۱ (طبع ایچ ایم سعید).

استراحت سره به سجده سهوه لازمه سی. (کبیری ص: ۴۳۲) نو د دی په باره کی تحقیق هغه دی چی په درمختار او ردمختار کی لیکل سوی دی، وهوهذا:

۱: قال العلامه الحصکفی رحمه الله فی واجبات الصلوٰة: وترک قعود قبل الثانیة او رابعة وکل زیادة تتخلل بین الفرضین (۱) وقال الشامی وکذا القعدة فی آخر، الرکة الاولی او الثالثة فیجب ترکها ویلزم من فعلها ایضاً تأخیر القیام الی الثانیة او الرابعة عن محله وهذا اذا کانت القعدة طویلة اما الجلسة الخفیفة التی استحبها الشافعی فترکها غیر واجب عندنا بل هو الافضل. (شامی ج: ۱ ص: ۴۳۸) (۲)

۲: قال فی الدر المختار ویکبر للنهوض علی صدور قدمیه بلا اعتماد وقعود استراحة ولوفعل لابأس، وقال الشامی تحته: قال الشمس الائمه الحلوانی الخلاف فی الافضل حتی لوفعل کماهو مذهبنا لابأس به عند الشافعی ولوفعل کماهو مذهبه لابأس به عندنا کذافی المحیط اه، قال فی الحلیه والاشبه انه سنة او مستحب عند عدم العذر ویکره فعله تنزیها لمن لیس به عذر اه وتبعه فی البحر .... اقول ولاینافی هذا ماقدمه الشارح فی الواجبات حیث ذکرمنها ترک قعود قبل ثانیة ورابعة لان ذاک محمول علی القعود الطویل، (رد المختار ج: ۱ ص: ۴۷۳) (۳)

ځکه د دی عبارتونو څخه معلومه سوه چی د دوو رکعتونو په مینځ کی جسله خفیفه عمداً جائز ده او د شامی د تصریح مطابق ترک قعود چی واجب دی هغه قعود طویل دی نه قصیر، د درایت مقتضاء هم داده ځکه چی دافعل عمداً جائز دی، نوسهواً په اولی جائز دی، ورسره داقول چونکی بقدر د رکن د تقدیر مطابق دی، ځکه دی ته ترجیح کیدل پکار دی او کله چی د دی درایت سره د شامی دارووایت پیداسو، نو په دی دعوٰی کی مزید قوت پیداسو او پخپله د علامه حلبی تصریح علامه شامی نقل کړی ده چی: عن شرح المنیة انه لاینبغی ان یعدل عن الدرایة ای الدلیل اذا وافقتها روایة.

خلاصه داچی کوم مقدار جلسه د استراحت د شوافعو په نزد مسنون ده ترهغه مقدار پوری په ناسته سره سجده سهوه لازمیدل نه دی پکارو هذا مابدالی.

والله سبحانه اعلم

---

(۱) الدر المختار ج: ۱ ص: ۴۷ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) ردالمختار ج: ۱ ص: ۴۶۹ (طبع ایچ ایم سعید)

(۳) الدر المختار مع رد المختار ج: ۱ ص: ۵۰۶ (طبع ایچ ایم سعید).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۱/ ۱/ ۱۳۹۰ هـ

الجواب الصحیح بنده محمد رشید احمد عفی عنه ۴/ ۱/ ۱۳۸۰ هـ

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۱/ محرم الحرم ۱۳۸۰ هـ

(از حاشیه امداد الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۳۵۲)

په هیره باندی د سلام ګرځولو څخه وروسته سجده سهوه ترڅو پوری کولی سي؟

سوال: په لمانځه کی معمولی غلطی وسوه او سجده سهوه کول ځنی هیر سول نو وروسته لمونځ څنګه وکړی؟ او د لمانځه څخه وروسته سجده سهوه کولی سی اوکه نه؟

جواب: که غلطی داسی ده چی د هغه د وجی څخه وروسته سجده سهوه کول واجب وو او د سلام ګرځولو څخه وروسته چی یی ترڅو څه مفسد فعل یی نه وی کړی، سجده سهوه کولی سی او د دی څخه وروسته لمونځ پوره کولی سی او که څه مفسد کاریی وکی مثلاً څه خبره یی وکړه یایی رُخ د قبلی څخه وګرځوی نو د لمانځه دی د سر څخه اعاده وسی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۷/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوٰی نمبر ۷۶۲/ ۱۹ الف)

څلور رکعته لمانځه کي په دوو رکعتونو باندی سلام ګرځولو په صورت کي د سجده سهوی د وجوب متعلق د فقهاوو په عبارتونو کي د تضاد تحقیق

سوال: حضرت تهانوی رحمه الله په جنتی کالبی کی لیکلی دی: په څلور رکعاته لمانځه کی په هیره باندی د دوو رکعتو څخه وروسته سلام وګرځوی نو اوس دی ولاړ سی دالمونځ دی پوره کړی په آخره کی د سجده سهوه کولو سره به لمونځ وسی؟ او بعضی فقهاوو لیکلی دی که دواړو طرفونو ته یی سلام وګرځوی نو سجده سهوه دی نه کوی، بلکی د لمانځه اعاده وکړی، ځکه چی مخکی سلام د لمانځه باهرکیدو او د قوم د تحیت د پاره دی او دوهم سلام صرف د باقی لمونځګذارو د تحیت د پاره دی او دا دوهم سلام به د

كلام په شان وي او كلام د لمانځه منافي دى ځكه سجده سهوه ساقطوى وروسته اعاده لازمه ده، په دى دواړو قولونو كى شديد اختلاف دى، مفتى به قول كوم يو دى؟

جواب: همدا د بهشتى زيور (۱) قول مفتى به دى (۲).

والله سبحانه اعلم
۲۴/ ۲/ ۱۳۹۸ هـ
(فتوىٰ نمبر ۲۹۲/ ۲۹ ب)

فصل في سجود التلاوت

د سجده تلاوت د مسائلو بيان

د امام د سجده تلاوت نه معلوميدو په وجه بندى مقتدى په ركوع كې ودريدى او ولاړ سو نو څه حكم دى؟

سوال: د سهار په لمانځه كى امام صاحب په مخكى ركعت كى د سجدى ايت تلاوت كى او سيده سجدى ته ولاړى زه د جومات په شپږم صف كى وم چى مين هال او براندى د باندى چت داز صحن كې دى، دلته لږشان تياره هم وه، زه او زما په خواكى څه نور لمونځوګذار ركوع ته ولاړو كله چى امام صاحب د سجدى څخه فارغيدلو سره قيام د پاره تكبير ووايه او پورته سو، هغه وخت معلومات وسو چى امام صاحب ركوع نه ده كړى بلكى د تلاوت سجده يى كړيده، زه هم د ركوع څخه پورته سوم او د امام صاحب

---

(۱) بهشتى زيور حصه دوم ص: ۱۴۱ (طبع اداره تأليفات اشرفيه)

(۲) وفى البحر الرائق آخر سجود السهو قبيل باب صلوٰة المريض ج: ۲ ص: ۱۱۱، (طبع مكتبه رشيديه كويته) وان توهم مصلى الظهر انه اتمها فسلم ثم علم انه صلى ركعتين اتهما وسجد للسهو لانه عليه السلام فعل كذالك فى حديث ذى اليدين ولان السلام ساهيا لايبطل الصلوٰة .... وحكمه انه ان كان فى المسجد ولم يتكلم وجب عليه ان يأتى به وان انصرف عن القبلة لان سلامه لم يخرجه عن الصلوٰة، وفى الدر المختار (باب مايفسد الصلوٰة ومايكره فيها ج: ۱ ص: ۷۱۵ (طبع سعيد) الا السلام ساهيا للتحليل اى للخروج من الصلوٰة قبل اتمامها على ظن اكمالها فلايفسد وكذا فى الفتاوىٰ دار العلوم ديوبند ج: ۴، ص: ۴۱۲ وكفايت المفتى ج: ۳ ص: ۳۷۳.

قرأت مى اوريدى د سجده تلاوت د فوت كيدلو په وجه لمونځ وسو او كه اعاده به كول دى؟

جواب: په صورت مسئوله كى ستاسو لمونځ وسو.

لمافى الخانيه: اذا قرأ الامام اٰية السجدة وبعض القوم كان فى الرحبة فكبر الامام لسجدة وحسب من كان فى الرحبة انه كبر للركوع فركعوا ثم قام الامام من السجدة وكبر فظن القوم انه رفع رأسه من الركوع فكبروا ورفعوا رووسهم ان لم يزيدوا على ذالك لم تفسد صلواتهم لانهم مازادوا الاركوعها وبزيادة الركوع لم تفسد الصلوٰة، فتاوىٰ قاضيخان على هامش الهندية ج: ۱ ص: ۱۲۰ (۱) ومثله فى خلاصة الفتاوىٰ ج: ۱ ص: ۱۸۷ (۲) والهندية ج: ۱ ص: ۱۳۴. (۳) خو كه په ركوع كى ورته علم وسو چى امام سجدى ته تللى دى نو ركوع پريښوولو سره سجدى ته تلل پكار دى، لمافى البحر ولوقرأ الامام السجدة فسجد فظن القوم انه ركع فبعضهم ركع وبعضهم ركع وسجد سجدة وبعضهم ركع وسجد سجدتين فمن ركع ولم يسجد يرفض ركوعه ويسجد للتلاوة. البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۲۲ (۴) ومثله فى الدر المختار مع الشامى (۵).

دلته داسوال كيدى سى چى په صورت مسئوله كى د مقتدى سجده د تلاوت اداء نه سوه ځكه چى په ركوع كى بغير د نيت څخه سجده تلاوت نه اداء كيږى، د دى جواب دادى: كه امام د سجده تلاوت څخه وروسته د درو اٰيتونو ويلو څخه مخكى ركوع وكړله نو بيا خو د مقتدى سجده د تلاوت د لمانځه په سجده كى بغير د نيت څخه اداء سوه او كه د درو اٰيتونو يا د دى څخه زيات قرأت كولو سره يى ركوع وكړله نو غايت مافى الباب د مقتدى د تلاوت سجده اداء نه سوه خو په دى سره لمونځ نه فاسديږى: لمافى الدر المختار ولوتلاها فى الصلاوٰة سجدها فيها لاخارجها لمامر، وفى البدايع واذالم يسج اثم فتلزمه التوبة (۶).

---

(۱) ايضاً.

(۲) ايضاً.

(۳) (طبع مكتبه حقانيه پشاور)

(۴) البحر الرائق باب سجود التلاوة ج: ۲ ص: ۱۲۱ (طبع ايچ ايم سعيد)

(۵) الدر المختار ص: ۱۱۲ ج: ۲ (طبع ايچ ايم سعيد)

(۶) الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۱۰ (طبع ايچ ايم سعيد).

او په صورت مسئوله کی سجده د تلاوت چونکی د عذر په وجه باندی پاته ده څکه امید دی چی انشآء الله ګناه به هم نه وی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۱۰/ ۱۴۰۱ ھ

(فتوی نمبر ۱۲۴۷/ ۳۲ ج)

په لاوډسپیکر باندی د سجدی ایت اوریدلو سره به د تلاوة سجده واجب وی

سوال: د تیز آواز والا مجلس د مایکروفون کی د سجدی آیتونه تلاوت کولو سره د مجلس څخه بهر یا د کور خلګو اوریدو سره به په هغوی باندی سجده کول واجب وی او که نه؟ په هرتقدیر اول که هغه خلګ سجده ونکړی نو تیز تلاوت کوونکی یا د مجلس بانی باندی به ګناه عاید کیږی او که نه؟

جواب: سجده واجبیږی او که هغوی سجده ونکړی نو د هغه سره د لاوډسپیکر په تیز آواز لګوونکی به هم د ګناه څخه خالی نه وی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۹/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

باب صلوٰة المریض والمسافر

د مریض او مسافر د لمانځه بیان

د قصر لمونځ د کوم ځای څخه شروع کیږی ایا پخپل ښار کي قصر کولی سي او که نه؟

سوال: ۱، زید د کراچی څخه حیدر آباد سکهرته تللو د پاره په سفر وځی زید د خپلی محلی او بلاك د حدودو څخه په وتلوسره قصر وکړی او که د کراچی د ښار د ټولو حدودو څخه په وتلو قصر وکړی؟

۲: زید په یوداسی لوی ښار کی وسیږی چی د هغه ښار اوږدوالی، تقریبًا پنځوس (۵۰) پنځه پنځوس (۵۵) میله دی، زید د دی ښار په یوسرکی پاته کیږی زید ته د دی ښار بل سرته تلل دی چی د درو ورځو په مسافت باندی دی، د پیدل تللو په صورت کی، لهذا زید قصر وکړی او که څلور رکعته پوره وکړي؟

جواب: ۱، د کراچی د ښار د حدودو څخه په وتلو سره دی قصر وکړی (۱)

۲: په صورت مسئوله کی قصر جائز نه دی، خپل ښار چی څومره هم طویل او عریض وی په هغه کی قصر جائز نه دی (۲).

والله سبحانه اعلم

۳/ ۲/ ۱۴۰۲ ھ

(فتوی نمبر ۳۰۴/ ۳۳ الف)

---

(۱) ایضًا.

(۲) وفی الدر المختار باب صلوٰة المسافر ج: ۲ ص: ۱۲۱ (من خرج من عمارة موضع اقامة) من جانب خروجه وان لم یجاوز من الجانب الاخر، وفی الشامیة تحته (قوله من خرج من عمارة موضعاقامة) اراد بالعمارة مایشمل بیوت الاخبیته لان بها عمارة موضعها قال فی الامداد، فیشترط مفارقتها ولومتفرقة ..... واشار الی انه یشترط مفارقة ماكان من توابع موضع الاقامة كربض المصر وهوماحول المدینة من بیوت ومساكن فانه فی حكم المصر كذا القری المتصلة بالربض فی الصحیح، وكذا فی البحر الرائق باب المسافر، الموضع الذی یبتدأ فیه القصر ج: ۲ ص: ۱۲۸ (طبع سعید) وغنیة المتملی فصل فی صلوٰة المسافر ص: ۵۳۶ (طبع سهیل اكیدمی لاهور)

ښځه او مځکه د وطنیت معیار جوړولو باندی د فتح القدیر او بحر الرائق د عبارتونو تحقیق

سوال: زید یو عالم دین دی د هغه دوی دینی مدرسی دی، یوه په قدیمی دیهاتو کی چی هلته د شل، ۲۰ دیرشو ۳۰ کالو څخه وسیږی، د هغه اهل او عیال هم هلته دی، د هغه نجی مکانات هم دی او مدرسه مع مالها او ماعلیها هم ده.

۲: د درو کالو څخه یی په ښار کی هم یوه مدرسه قائمه کړی ده چی په هغه کی د تعلیم سلسله جاری ده او د زید د اهتمام او سرپرستی لاندی چلیږی، د زید خپل نجی کور هم په ښار کی دی، چی په هغه کی هغه اوسیږی او د هغه د اهل او عیال بعضی افراد مثلا خامن، مرور وغیره هم دلته اوسیږی، پخپله زید د ضرورت موافق په دواړو ځایونو کی قیام کوی، د مدرسو د کارو په سلسله کی څومره ورځی په ښار کی د پاته کیدو ضرورت وی هلته پاته کیږی بیاپه دوهمه مدرسه کی څومره چی نجی یا د مدرسی کار وی هلته پاته کیږی، خو اکثره یی په سابقه او دیهاتی کور کی قیام وی، یا د دی وی چی د زید دواړه ولادت گاهونه نه دی ایا دا دواړه ځایونه به اصلی وطن شمیرل کیږی؟ او کله چی هم هلته اوسیږی نو مقیم به شمیر کیږی:

۱: لن بعضا من عیاله هنا وبعضا منه هنا.

۲: ولانه له عقاراً ودوراً فی کلیهما.

۳: ولان له توطنا بلاترجیح وامتیاز حسب الضرورة بکلیهما، یابه په دی کی یو وطن اصلی شماریږی په خلاف د اخرمکاناتو او په مځکه باندی د وطن اصلی مدار معتبر دی، یا د ښځی د اوسیدو ځای ته به ترجیح وی؟

د فقهاوو بعضی عبارتونه تنقیح طلب دی، مثلا شامی د اصلی وطن په تعریف کی لیکلی دی: هوموطن ولادته او تاهله او توطنه (یبطل بمثله) بیا هلته تشریح کوی او لیکی:

فان ماتت زوجته فی احدهما وبقی له فیها دور وعقار قیل لایبقی وطناً له اذا المعتبر الاهل دون الدار، بیا مخکی لیکی: وقیل تبقی، بیا مخکی لیکی: قال فی النهر ولونقل اهل ومتاعه وله فی دور فی البلاد لاتبقی وطنا له، چی د هغه څخه داسی مترشح کیږی چی اعتبار اهل وعیال ته دی، خو بیالیکی: وقیل تبقی کذا فی المحیط، چی د هغه څخه معلومیږی چی په کورونو او مځکی لره هم وطنیت اصل کی دخل دی.

به هر حال مسئله منقح کیږی نه د سوال په هر اړخ باندی غور کولو سره څه جواب چی دی مدلل او د حوالی سره یی ارشاد وفرمایه؟

(مولانا حسین احمد شرودی کویټه بلوچستان)

جواب: تاسو د رد المختار څخه د دُوَر او عقار په مسئله کی چی کوم عبارت نقل کړی دی د هغه مطابق د هغه په باره کی دوه قوله دی او همدا دوه قولونه په عالمگیریه (۱) او بحر (۲) کی هم نقل سوی دی، او هیڅ ترجیح یا تطبیق یی نه دی ورکړی، خو په امداد الفتاوی کی حضرت مولانا تهانوی قدس سره چی په دی مسئله باندی کومه گفتگو کړیده، د هغه څخه د مسئلی حقیقت واضح کیږی د هغوی عبارت دادی:

په ذکرسوی صورت کی دواړه قوله دی او همدا دواړه قولونه په فتح القدیر او بحر الرائق کی هم نقل سوی دی او په بحر کی یی د دواړو اقوالو د لیلونه هم نقل کړی دی او په فتح القدیر کی یی د دواړو د تطبیق طرفته هم اشاره کړی ده او زما په نزدهم تطبیق مختار دی، چنانچی په دی صورت کی د امام محمد قول: هذا حالی وانا اری القصر ان نوی ترک وطنه اه. (۳)

د تطبیق خلاصه داسوه که په دی دوهم ښار کی بیا بطور وطن د اوسیدو اراده نسته څنگه چی اول وسیدی، نو بیاخو یی وطن پاته نسو، هلته تللو سره به قصر کوی، کله چی د سفری مسافت طی کولو سره راسی، او که اوس یی همداشان د پاته کیدو اراده ولری، نو هغه هم وطن دی، نو د دی سری به دوه وطنونه سی.

(امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۲۴، ۴۹۴) (۴)

د دی مجموعی څخه چی د احقر په ذهن کی کومه خبره راځی هغه داده چی په دی مسئله کی اصل مدار د مبتلی د نیت ده او د ښځی کیدل یا د دُوَر او عقار کیدل د دی نیت علامات دی، د مسئلی اصلی مدار نه دی، لهذا په صورت مسئوله کی که تا دیهات د توطن پرینښووی بغیر ښار کی هم د وطن په طور د اوسیدلو داشان اراده

(۱) فتاوی عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۴۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

(۲) البحر الرائق باب المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۲ (طبع سعید) همدارنگه وگورئ غنیة المتملی ص: ۵۴۴ (طبع سهیل اکیدمی لاهور)

(۳) فتح القدیر باب صلوة المسافر ج: ۲ ص: ۱۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

(۴) امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۹۳.

وکړله چې کله به دلته توطن وی او کله هلته، نو دا دواړه مقامات ستا د پاره اصلی وطن دی او د بحر د یو عبارت څخه هم د دی تائید کیږی.

هذا جواب واقعة ابتلینابها وکثیر من المسلمین المتوطنین فی البلاد ولهم دور وعقار فی القری البعیدة، منها یصیفون بها باهلهم ومتاعهم، فلابد من حفظها انهما وطنان له لایبطل احدهما بالاخر. (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۴۷) ([1])

هو! که نیت د ښار کور د وطن جوړولو نه دی، بلکی مقصد دادی چې د کار د پاره به هلته تلل وی او د کار ختمیدو سره به خپل اصلی ځای ته بیرته راځم نوبیابه دیهات وطن اصلی اوښار به وطن د اقامت وی، هذا ماظهرلی والعلم عند الله العلیم الخبیر.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۱/۱۴ ھ

(فتوٰی نمبر ۲۵۳۵/ ۲۷ ھ)

دوطن اصلي او وطن اقامت اصلي معيار (فارسي)

سوال: چه میگویند اندر این مسئله کی در این دیار بوقت فصل خرماخوری اهالیان شهر د الف، که وطن اصلی ایشان است با اہل وخیال نقلِ مکانی کرده به شهر (ب) میروند وخاص غرض ومقصد ایشان خرماخوری است وعزم ایشان بعد از انقطاع فصل خرماکه مدت سه چهار ماه باشد ارتحال وکوچیدن باز به سوی وطن اصلی خود که شهر (الف) هست میباشد ولی حالا برای خرماخوری اہل وعیال خود را در شهر (ب) میگزارند وخود در شهر (ب) اراده سکونت کمتر از پانزده روز دارند پس اکنون قابل دریافت چند امور است اول آنکه اینجا شهر (ب) ہئت وطن اقامت صورت بندد یانه؟ دوم اینکه اینجا در شهر (ب) نمازهای چار گمانی قصر کنند یا اتمام؟ بینو وتؤجروا.

جواب: جواب صورت مسئوله نزد این حقیر آنست که اہل وعیال در شهر (ب) بحکم مقیم هستند واتمام صلوٰة برای شان واجب، زیرا که نیت قیام زاید از پانزده روز کرده اند، اما سرپرست آنها که نیت قیام کمتر از پانزده روز کرده است در آن شهر قصر خواهد کرد، پس شهر (ب) در حق اہل وعیال وطن اقامت است ودر حق

([1]) البحر الرائق باب المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۶ (طبع ایچ ایم سعید) وکذا فی فتح القدیر ج: ۲ ص: ۱۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

سرپرست وطن السفر واگر سرپرست هم نیت قیام پانزده روز کند او هم قصر نخواهد کرد وجوابی که منسلک به سوال آست، اگر مراد او این است که هر شهر که در آن اہل باشند خواه به نیت قیام عارضی، آن وطن اقامت نمیتواند شد این جواب درست نیست که از او لازم می آید که هر سفریکه در آن اہل وعیال همراه باشد در آن نیت اقامت درست نشود وہذا لم یقل به احد، وفقہاء بصراحت این مسئله را نوشته اند که (والمعتبر نیة المتبوع لانه الاصل لا التابع کامرأة .... مع زوج. (درمختار مع الشامی ج: ۱ ص: ۵۳۳، ۵۳۴) ([1])

پس معلوم شد که اگر شخصی در شهری همراه زوجه خود اقامت کند او وطن اقامت میگردد امام قول فقہاء که: وطن الاقامة ماینوی فیه الاقامة خمسة عشر یوما فصاعدا ولم یکن مولده له لاله به اہل کما فی الکبیری: ص: ۵۰۶) ([2]) پس مراد او مجرد وجود اہل نیست بلکی توطن اہل است، واز اینجا هست که بعض فقہاء در تعریف وطن اقامت (ولاله باہل) ذکر نمی کرده اند چنانکه علامه شامی گویند:

وهو ماخرج الیه بنیة اقامة نصف شهر سواء کانه بینه وبین الاصلی، مسیرة السفر اولا. (شامی ج: ۱ ص: ۵۳۲) ([3])

پس خلاصه این است که شهر (ب) در حق اهل وعیال وطن اقامت است ودرحق مرد اگرنیت اقامت کمتر از پانزده روز است منزل سفر هست وپیش از آن وطن قامت، هذا ماعندی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۲/۲۸ ھ

(فتوٰی نمبر ۷۱۲/ ۲۹ ب)

([1]) الدر المختار باب صلوٰة المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۳ (طبع ایچ ایم سعید)

([2]) غنیة المتملی ص: ۵۴۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

([3]) رد المختار باب صلوٰة المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۲ (طبع سعید).

د اصلي وطن څخه د مکمل منتقل کیدو څخه وروسته دوباره وطن ته د راتلو په صورت کي د قصر حکم

سوال: زید د کالاباغ د علاقی د کوټ چاند څخه د کلی اوسیدونکی دی، او دا د هغه آبایی وطن دی په څه وجه زید د خپل آبائی وطن څخه نقل مکانی کولو سره ریاست بهاولپور ضلع رحیم یارخان کی خپل تاهل جوړوی چی د هغه د آبائی وطن څخه تقریباً څلور سوه میله فاصله باندی واقع دی، د حضور ﷺ د ارشاد گرامی موافق: من تأهل فی بلد فلیصل صلوٰة المقیم، د لمونځ قصر دی نه کوی، خو که کله خپل آبائی وطن ته د هغه راتګ وی او هلته د څوارلسو ورځو څخه کم د پاته کیدو اراده وی نو هلته به لمونځ د مقیم اداء کوی او که قصر؟

۲: که زید خپل آبائی وطن ته رالی او هغه هلته د پنځلس ورځو د قیام اراده هم وکړله، نو اوس به هلته قصر نه کوی بلکی د مقیم لمونځ به اداء کوی د پنځلس ورځو څخه وروسته هغه نژدی دوه دری میله یا دولس دیارلس میله یعنی اته څلوېښت میلو کی دننه د دوو درو ورځو د پاره د سفر اراده کولو سره سفر هم کوی او د یو دوو شپو څخه وروسته بیا خپله قیامګاه یعنی خپل ابائی وطن ته د راتلو اراده لری نو هغه به د لاری لمونځونه او قیامګاه لمونځونه قصر کوی؟

جواب: په صورت مسئوله کی که ستا اراده خپل ابائی وطن (کوټ چاندنه) کی بطور وطن د پاته کیدو نه ده نو اوس داکلی ستا اصلی وطن پاته نسو، لهذا کله چی ته د سفر مسافت طی کولو سره دلته راسی قصر به کوی محض د جایداد اومکاناتو د کیدو په وجه باندی په دی صورت کی به هغه ته اصلي وطن نسی وئیلی، لمافی رد المختار ولونقل اهله ومتاعه وله دور فی البلد لاتبقی وطناً له وقیل تبقی (۱) ووجه القول الثانی فی فتح القدیر بانه محمول علی ما اذا عزم علی ابقائه وطناً، وهذا التوجیه اختاره الشیخ فی امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۶۴. (۲)

---

(۱) ردالمختار باب صلوٰة المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۲ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۹۲، ۳۹۳ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی) وفی الهدایه ج: ۱ ص: ۱۶۷ (طبع مکتبه شرکت عدمیه ملتان) ومن کان له وطن فانتقل منه واستوطن غیره ثم سافر فدخل وطنه الاول قصر لانه لم یبق وطنا له الایری انه ﷺ بعد الهجرة عند نفسه بمکة من المسافرین وهذا لان الاصل أن الوطن الاصلی تبطل بمثل دون السفر ووطن الاقامة تبطل بمثله وبالسفر والاصلی .... الخ.

۲: کله چی کوټ چاندنه اوس ستا اصلی وطن نه دی نو ته به صرف هغه وخت هلته اتمام کوی کله چی دی د څوارلس ورځو څخه زیات د قیام نیت وی، د هغه څخه وروسته که ته بل کلی ته ولاړسی نو که د غه کلی د هغه ځای څخه اته څلوېښت میله لری وی نو ته به هلته هم قصر کوی او بیرته کوټ چاندنه ته د یوی شپی د پاره راځی، نو هلته به هم قصر کوی او کوم کلی ته چی تللی یی که هغه د کوټ چاندنه څخه اته څلوېښت میله څخه کم دی نو بدستور اتمام کوه، لان وطن الاقامة یبطل بالسفر وقال فی ردالمختار: وحاصل انشاء السفر یبطل وطن الاقامة اذاکان منه اما لو انشاه من غیره فان لم یکن فیه مرور علی وطن الاقامة او کان ولکن بعد سیر ثلاثة ایام فکذالك ولوقبله لم یبطل الوطن ..... الخ. ج: ۱ ص: ۵۳۳. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۰/۹/۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۳۷/۲۸ ج)

د فوج د پوسټنګ د تبدیلي په وجه د قصر لمونځ سره متعلق د یوڅو سوالونو جوابونه

سوال: ښار ته نژدی د فوجیانو کیمپ دی کله چی په ښار کی د جمعی آذان کیږی نو هلته په هغه کیمپ کی آواز اوریدی سی خو د لوړو افسرانو د خوا حکم دی چی هیڅ فوجی دی د جمعی د پاره ښار ته نه ځی په دی صورت کی په هغه کیمپ کی د جمعی لمونځ صحیح دی؟ داخبره ده چی په دی کیمپ کی مستقل جومات نسته پنځه سره لمونځونه په یوه کمره کی کوو چی په وخت د ضرورت کی خالی کول هم وی آیا په داسی کمره کی نور لمونځونه د جمعی څخه علاوه کول جائز دی؟

جواب: داکیمپ د ښار څخه څومره لری دی؟ ایا د ښار عمارتونو او د دی کیمپ په مینځ کی څه غیر آباده علاقه ده چی د ښار حصه نه شمیر کیږی د دی جواب په راتلو باندی به د اصلی مسئلی جواب ورکول کیږی.

سوال: ۲، کوم افسران چی د خپل یوماتحت یونټو د خیال ساتلو د پاره لری ځی یعنی تقریباً اته ویشت ۲۸ میله مسافت طی کوی نو آیا داخلګ به قصر کوی؟

---

(۱) رد المختار باب صلوٰة المسافر ج: ۲ ص: ۱۳۲ (طبع ایچ ایم سعید)

جواب: که پوستې یعنی چی د هغه چیکنګ د پاره ځی د ښار د آخری حدودو ځخه اته څلویښت میله لری دی نو قصر کولی سی.

سوال: ۳، یوافسر فوجیان د ځان سره په اخستلو سره کله لری علاقوته ځی هلته د قیام هیڅ معلومات نه کیږی کله چی د یوافسر ځخه معلومه سی نو هغه هم د لاعلمی اظهار کوی، ځکه چی په فوج کی به قصر کولی سی او که نه؟

جواب: ۳، مذکوره صورت کی فوجیانو ته قصر کول پکار دی ترڅو چی یی د پنځلس ورځو د قیام عزم نه وی کړی نو هم قصر به کولی سی که څه هم په دی غیر یقینی حالت کی میاشتی هم تیری سی. (۱)

سوال: ۴، که د دی کوشنیو کوشنیو یونټو سپاهیان او نوکران وغیره هیډ کوارټر ته د پنځلسو ورځو ځخه کم وخت د پاره ولاړل نو آیا داسپائیان به قصر کوی او که اتمام؟

جواب: ۴، که د یونټ ځخه د هیډ کوارټر د ښار فاصله اته څلویښت میله وی نو قصر به کوی.

سوال: ۵، که یو امام مسافر وی او په یوځای کی جمعه ورکوی نو مقتدی په تینت کی او د امام په نیت کی به څه فرض وی او که نه؟ که امام هیډکوارټر ته ولاړسی نو هغه ته هم معلوم نه وی چی زه به څومره قیام کوم؟ که امام هلته لمونځ ورکوی نو ځنګه به ورکوی؟

جواب: ۵، مسافر امام به د دوو رکعتو نیت کوی او مقتدی به د څلورو رکعتو بیا چی کله امام په دوو رکعتونو سلام وګرځوی نو مقتدی دی ودریږی او خپل لمونځ دی پوره کړی (۲) نو په دی کی دی قرائت نه وایی بلکی په څومره وخت کی چی سورة فاتحه وئیل کیږی هغوندی ساعت دی خاموشه ودریږی او بیا دی رکوع ته ولاړسی د قصر مسئله هم هغه ده چی نمبر ۴ نمبر ۲ کی تیره سویده. فقط والله اعلم

---

(۱) وفی الدر المختارج: ۲ ص: ۱۳۴ (طبع سعید) (ولابد من علم التابع بنیة المتبوع فلونوی المتبوع الاقامة ولم یعلم التابع فهومسافر حتی یعلم علی الاصح، وفی الفیض وبه یفتی کمافی المحیط وغیره دفعا للضرر عنه.

(۲) وفی الدر المختارج: ۲ ص: ۱۲۹، ۱۳۰ وصح اقتدأ المقیم بالمسافر فی الوقت وبعده فاذا قام المقیم الی الاتمام ولایقرأ ولایسجد للسهو فی الاصح لانه کا للاحق والقعدتان فرض علیه وقیل لاقنیة وندب للامام ..... وفر شرح الارشاد ینبغی ان یخبرهم قبل شروعه والا فعبد سلامه (ان یقول بعد التسلیمتین فی الاصح: اتموا صلوٰتکم فانی مسافر ... الخ.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د شرعي معذور د لمانځه حکم

سوال: زموږ په جومات کی یوصاحب لمونځ کوی اودس، کولو سره لمونځ کی شریک کیږی، هغه وایی چی کله رکوع ته ځم نو هواخارجیږی په هرلمانځه کی همداحالت وی، ایا لمونځ کول پریږدی او که څه بل صورت اختیار کړی؟

جواب: که دغه صاحب ته څلور رکعته هم د اودس ماتیدلو ځخه بغیر کولو باندی قدرت نسته نو شرعا هغه معذور دی او د هغه د پاره داحکم دی چی هغه دی د هرلمانځه د شروع کیدو په وخت باندی اودس کوی او په دی اودس سره دی لمونځ کوی ترڅو چی د دغه لمانځه وخت باقی وی ترهغه وخته پوری به اودس د هوا د خارجیه وو سره نه ماتیږی، هو! چی وخت ختم سی او بل وخت شروع سی نو نوی اودس دی وکړی او په دی سره دی لمونځ کوی (۱) ترڅو چی داعذر باقی وی ترهغه وخته دی داسی کوی او کله چی عذر ختم سی نو حسب معمول دی اودس کوی.

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوٰی نمبر ۲/ ۲۸ الف)

د معذور د لمانځه حکم

سوال: کله کله ثقیل یا بادی شی خوړلو د وجی د مرض زور وی نو د رفع حاجت ځخه وروسته می زیاته متورم او سختیږی او څونفس کښی نستو او د زور ورکولو باوجود نه داخلیږی، په دی صورت کی مرهم په مسو باندی لګولو سره او پهایه مرهم ځخه لاندی ګندی کپړی ایښولو سره، لنګر تړل وی رطوبت او بعضی صرف یو یادوو ورځو ځخه وروسته اوبعضی اوقات د هفتی یاعشری ځخه وروسته سابقه حالت بحال کیږی،

---

(۱) وفی التنویر وشرحه ج: ۱ ص: ۳۰۵، ۳۰۶ وصاحب عذر من به سلسل بول لایمکنه امساکه او استطلاق بطن او انفلات ریح او استحاضة .... ان استوعب عذره تمام وقت صلوٰة مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلی فیه خالیا عن الحدث ولوحکما ... وحکمه الوضوع لکل فرض ..... ثم یصلی به فیه فرضًا او نفلا فاذا خرج الوقت بطل.

مجبوراً په دی حالتونو کی لمونځ اداء کول وی، آیا په دی حالاتو کی د لمانځه په ادائیګی کی څه نقص واقع کیږی؟ او که نقص وی نو د دی د ازالی څه صورت کیدی سی؟ خصوصاً که داحالت د حج په موقع باندی یا امام ته پیښ سی نو د مناسك حج د اداء کولو د پاره څه احکام دی؟ او څه تدابیر اختیار سی؟

جواب: که د وینی یارطوبت اخراج داسی تسلسل سره کیږی چی په اوداسه کی څلور رکعته لمونځ اداء کول د دی اخراج څخه بغیر نسی کیدی، نو بیا خو حکم دادی چی د هروخت په ابتداء کی دی اودس وسی او په دی سره دی فرض او نفل وغیره اداء سی، دا اودس به د مذکوره اخراج سره نه ماتیږی، بیاچی کله دوهم وخت اوسی نو نوی اودس دی وکړی (۱) او د کپړی معامله داده: که په دی باندی لګیدونکی نجاست د یوی ډبلی روپی برابر نه وی بلکی د دی څخه کم وی نو په دی حالت کی لمونځ کیږی او که نجاست د دی څخه زیات وی او داخطره وی که کپړه بیا ومینځل سی نو د لمانځه د فارغیدو څخه مخکی به کپړی ته د وینی څخه زیات نجاست ورسیږی نو مینځل یی واجب دی، په دی حالت کی به لمونځ وسی او که داخطره نه وی نو مینځل یی واجب دی، او که د رطوبت یا د وینی اخراج د امر تسلسل سره نه وی چی د هغه ذکر په مخکی کرښوکی وسو نو د هر اخراج څخه وروسته د لمانځه د پاره اودس کول هم ضروری ده او کپړه مینځل هم.

مناسك حج کی د طواف د پاره اودس ضروری دی (۲) ځکه د دی حکم د لمانځه په شان دی باقی ارکان د اودس کولو څخه بغیر هم اداء کیږی، بهتره داده چی دامسائل ته د کوم عالم څخه زبانی هم زده کړی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۳۰/ ۱۲/ ۱۳۸۷ ھ

(فتوی نمبر ۴۰/ ۱۹ الف)

د معذور د پاره د اودس حکم

سوال: زید ته د ډیری مودی څخه د قبض شکایت وو چی د هغه په وجه باندی ډاکټر اپریشن وکی او د قضائی حاجت قدرتی لاره یی بنده کړه او په بل ځای یی د قضائی

(۱) ایضاً.

(۲) د تیری صفحی حاشیه وګورئ.

حاجت لاره جوړه کړه په دی وجه زید ته په هوا اوقضأ حاجت باندی قابو نسته، په پوکامل لمانځه کی کم ترکمه دری څلور واره بی اختیار طور باندی هوا خارجیږی او زید ته بار بار د اودس کولو تکلیف لوړول وی په دی وجه زید په معذورینو کی شمار دی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که واقعتً یولمونځ هم بغیر د خروج ریح څخه نسی اداء کیدی او زید شرعًا معذور دی نو هغه دی د یو وخت په شروع کیدو کی اودس وکړی او په دی سره چی څومره لمونځونه غواړی او ودی کړی او د وخت په دوران کی خروج ریح سره به د هغه اودس نه ماتیږی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۲/ ۱۴۰۵ ھ

(فتوی نمبر ۱۹۲۲/ ۳۲ ھ)

د شرعي معذور تعریف او د عذر معیار

سوال: زماعمر ۴۹ کاله دی او د شلو کالو په عمر کی ما لمونځ کول شروع کړی دی، په کومو ورځو کی چی مالمونځ شروع کړی دی هغه زما د ګنو امراضو او بیمارو زمانه وه، په هغه وخت کی ماته یوتکلیف داهم وو چی زما هوابه نه ایساریدله یعنی تکلیف به راته کم وپیش لګیدلی وو چی دهغه متعلق می دعلماء وو حضراتو څخه پوښتنه وکړه زماپه ذهن کی دی چی هغوی به فرمایلی وی چی ته د هوا معذوره یې ته هر وخت اودس کوه لهذا ماهمداسی کول د اوس څخه یوه میاشت مخکی همداسی می کول اوزما په ذمه د شپږو کالو قضاء لمونځونه وه هغه می هم داسی اداء کړل اوپه یخنی کی می موزی هم په وخت کی دننه په پښو کولی یوه ورځ بهشتی زیور زما د مخه څخه تیرسو نوپه هغه کی مولانا صاحب لیکلی وه چی معذور سړی دی په هغه وخت کی موزه واغوندی کله چی په طهارت کامله کی وی نوچی موزی واچوی نوبیاهغه مسح کولی سی اوماداکنل چی په وخت کی دننه زه پاك یم داسی زماڅخه غلطی سویده او د څوکالو څخه داغلطی راڅخه کیږی بیا ما د خپل عذر ریاح تحقیق وکړی نوپه هغه کی دامعلوم سول چی زه په تکلیف طهارت سره لمونځ اداء کولی سم یعنی پریشانی خو وی خوساه ایسارولو سره لمونځ اداء کیږی ځکه چی تقریبًا د یوی میاشتی څخه صرف دوه

(۱) وګورئ د تیری صفحی حاشیه.

دری واره په لمونځونو کی دوه دوه اودسونه می وکړل اوس چی می کتاب نور الایضاح وغیره وکتله نوپه هغه کی چی د معذور متعلق څه حکم دی چی په اول وار هغه ته دومره وخت پیدانسی چی هغه لمونځ وسی نوزما داحالت نه وو تکلیف خو وو خودومره سخت نه وو په جبر اوتکلیف مالمونځ اداء کولی سوای اوس زه معذوریم او که نه؟

جواب: دمعذور کیدو د پاره داضروری وی چی په ابتداء کی د عذر کیفیت داوی چی یولمونځ هم په طهارت سره ونسی اوپه څومره وخت کی چی اودس کولو سره یوفرض لمونځ وسی دومره وخته پوری هواایساره نه سی (١) چونکه ستاداکیفیت نه وو لکه چی تابیان فرمایلی دی ځکه په تاباندی د معذور احکام جاری کیدی نسی اوس تاته پکاردی چی د تیرسوی کلونو لمونځونه ترکومه حده پوری چی تاته قدرت وی قضاء یې وکړه د باقی د پاره توبه او استغفار هم وکړه او وصیت هم ولیکه چی ستاڅخه وروسته ستا د ترکی څخه د پاته لمونځونو فدیه دی اداء سی چی کوم لمونځونه د عذر په وجه قضاء ونه کړل سول چی د هغه تلافی د فدیې په ذریعه وسی (٢).

په موزو باندی د مسح په باره کی دامسئله یاده ساته! که ته معذوره هم وی بیاهم یوه شپه او یوه ورځ مسح کول ستا د پاره ترهغه وخته پوری جائز وو، لکه چی تاحقیقی اودس کولو سره واقعاً د اوداسه په حالت کی اچولی وی او که کوم معذوړ د ریح خارجیدو څخه وروسته موزی واچوی نو هغه صرف د وخت ترخیمیدو پوری مسح کولی سی د دی څخه وروسته نسی، فی الدر المختار ومعذور فانه یمسح فی الوقت فقط الا اذاتوضأ ولیس علی الانقطاع الصحیح. (شامی ص: ۲۵۰) والتفصیل فی ردالمختار (٣)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۲۵ ص ۱۳۸۸ هـ

---

(١) دتیری صفحی حاشیه دی وکتل سی.

(٢) د لمانځه د فدیی متعلق د حضرت امت برکاتهم تفصیلی فتوی سابقه صـ کی وګورئ.

(٣) الدر المختار مع ردالمختار باب المسح علی الخفین ج: ۱ ص: ۲۷۱ (طبع سعید).

(فتوی نمبر ۱۲۴/ ۱۹ الف)

دقطری مریض که کپړه کتلو څخه بغیر لمونځ وکړی نو څه حکم دی؟

سوال: زید د قطری مریض دی په شبه یی چی کله وکتل نو بعضی وخت قطره راغلی وه او بعضی وخت نه وه راغلی، داشان مریض مریض کپړه کتلو څخه بغیر په سابقه اودس بی لمونځ وکی نو جائز دی؟ آیا اودس تازه کړی؟

جواب: که د قطری وتلو غالب ګمان وی نو که قطره په نظرراسی اوکه رانسی اودس کول واجب دی او که محض شبه یعنی یوطرفته هم غالب ګمان نه وی په کتلو سره اطمینان کول پکار دی او که په دی صورت کی قطره په نظر رانسی نو د نوی اودس کولو څخه بغیر هم لمونځ جائز دی، د شبه په صورت کی که د څه عذر په وجه د کتلو موقع پیدانسی نو بغیر د کتلو او بغیر د تازه اودس څخه لمونځ کولو سره به لمونځ وسی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۵/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۴/ ۱۹ الف)

اسلامي ګرافکس کویټه
کمپوز اداره
ګرځنده شمیره
۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱
ناشر
مکتبة العلوم الدینیه
کاسي روډ کویټه

فصل في الجُمعة

د جمعي متعلق د مسائلو بيان

د احنافو په نزد د جُمعي د پاره د ښار وجود ضروري دی

سوال: د جمعی لمانځه د پاره د احنافو په نزد د ښار وجود ضروري دی او که نه؟

جواب: داحنافو په نزد جمعه صرف په ښار قصبه يا داسی لوی کلی کی کیدی سی چی هلته د ژوند ضروريات عام پيداکيږی، بازار وی سړکونه وی او هغه د خپلو خصوصياتو په وجه د ښار سره مشابه وی چی کوشنی کلی کی جمعه جائز نه ده (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۱/ ۱۳۹۸ ھ

د خطبي په دوران کي د تشهد په هيئت کښي نستل او لاسونه تړل

سوال: زموږ په ټول ملک کی رواج دی چی د جمعی د لمانځه په خطبه کی په تشهد کی د ناستی په شان لاسونه تړی او کله چی خطيب د خطبی په مينځ کی په تشهد کی د ناستی په شان لاسونه تړی او کله چی خطيب د خطبی په مينځ کی کښيني او په آخری خطبه کی لاسونه په ورنو باندی ايږدی ايا داشان کول فرض، واجب او که سنت دی؟ څوک چی داسی ونه کړی آيا هغه ګنهګار دی؟

جواب: د جمعی په خطبه کی اصل دادی چی هغه ښه په غور سره اوريدل واجب دی او د خطبی په دوران کی څه خبره اتره ياداسی کار ممنوع دی چی د هغه په وجه په اوريدو کی خلل واقع سی (۲) خو د تشهد په هيئت کی کښي نستل او په خاص وخت کی

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۳۷ ويشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر .... وظاهر المذهب انه كل موضع له امير وقاض يقدر على اقامة الحدود، وفی الشاميه عن ابی حنيفة انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها اول يقدر على انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه او علم غيره يرجع الناس اليه فيما يقع من الحوادث وهذا هو الاصح ..... الخ، وكذا فی بحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۵۱ همدارنګه وګورئ امداد الاحكام ج: ۱ ص: ۷۵۶.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۵۲ (طبع ايچ ايم سعيد) وكل ماحرم فی الصلوٰة حرم فيها ای فی الخطبة خلاصة وغيرها، فيحرم اكل وشرب وكلام ولوتسبيحا اورد سلام او امرا بمعروف بل يجب عليه ان يستمع ويسكت.

لاسونه پريښودل سنت نه دی، د ادب په خيال سره د تشهد په صورت کی د کښي نستو څه حرج نسته بلکی بهتر دی (۱) خو که مذکوره التزامات واجب يا سنت ګڼلو سره وسی نو بدعت دی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۱/ ۱۳۹۶ ھ

(فتوی نمبر ۲۵۱۳/ ۲۷ ھ)

د خطبي په دوران کي د نفل لمونځ کولو حُکم

سوال: يوسړی د خطبی په دوران کی راڅی او کښي نستی، نبی اکرم ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ايا تا دوه رکعته لمونځ کړی دی؟ هغه ووئيل: چی نه، ورته يی وفرمائيل: چی ولاړ سه! اول دوه رکعته لمونځ وکړه، داشايد چی د بخاری حديث دی، د اهل سنت والجماعت عمل د خطبی په دوران کی د دی څخه مختلف دی؟

جواب: هم د بخاری شريف په حديث کی داهم دی چی حضور ﷺ د جمعی د خطبی په دوران کی د خبرو کولو څخه تردی بل څوک د خاموشه کولو څخه هم منع فرمائيلی دی، (بخاری ج: ۱ ص: ۱۲۷، ۱۲۸) (۲) ورسره په معجم طبرانی کی د حضور ﷺ دا ارشاد منقول دی چی د امام د خطبی وئيلو په وخت چی کله په تاسو کی يوسړی جومات ته داخل سی نو نه لمونځ جائز دی او نه خبری (بحواله اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۵۷) (۳) ورسره حضرت ابوبکر ؓ، حضرت عمر ؓ، او حضرت عثمان ؓ د خطبی شروع کيدو څخه وروسته لمونځ کوی. (عمدة القاری ج: ۶ ص: ۲۳۲) (۴) لهذا په بخاری شريف کی چی کومه واقعه د حضرت سليك غطفانی ؓ راغلی ده، هغه د حضرت مليك ؓ خصوصيت وو چنانچی په سنن دارقطنی او ابوبکر بن ابی شيبه هم د دی

(۱) وفی الهندية ج: ۱ ص: ۱۴۸ (طبع مکتبه رشيديه کويټه) اذا اشهد الرجل عند الخطبة ان شاء جلس محتبياً او متربعاً او كما تيسر لانه ليس بصلوٰة عملاً وحقيقةً كذا فی المضمرات ويستحب ان يقعد فيها كما يقعد فی الصلوٰة كذافی معراج الدراية.

(۲) طبع قديمی کتب خانه.

(۳) اعلاء السنن باب كراهة الصلوٰة والكلام اذا خرج الامام للخطبة يوم الجمعة لاسيما اذا شرع فيها ج: ۲ ص: ۶۷ (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۴) باب اذا رای الامام رجلا جآء وهو يخطب امره ان يصلی رکعتين (طبع دار الفکر)

فصل في الجُمعة

د جمعي متعلق د مسائلو بیان

د احنافو په نزد د جُمعي د پاره د ښار وجود ضروري دی

سوال: د جمعی لمانځه د پاره د احنافو په نزد د ښار وجود ضروری دی او که نه؟
جواب: د احنافو په نزد جمعه صرف په ښار قصبه یا داسی لوی کلی کی کیدی سی چی هلته د ژوند ضروریات عام پیداکیږی، بازار وی سړکونه وی او هغه د خپلو خصوصیاتو په وجه د ښار سره مشابه وی چی کوشنی کلی کی جمعه جائز نه ده [1].

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۱/ ۱۳۹۸ ھ

د خطبي په دوران کي د تشهد په هیئت کښي نستل او لاسونه تړل

سوال: زموږ په ټول ملك کی رواج دی چی د جمعی د لمانځه په خطبه کی په تشهد کی د ناستی په شان لاسونه تړی او کله چی خطیب د خطبی په مینځ کی په تشهد کی د ناستی په شان لاسونه تړی او کله چی خطیب د خطبی په مینځ کی کښینی او په آخری خطبه کی لاسونه په ورنو باندی ایږدی ایا داشان کول فرض، واجب او که سنت دی؟ څوك چی داسی ونه کړی آیا هغه ګنهګار دی؟

جواب: د جمعی په خطبه کی اصل دادی چی هغه ښه په غور سره اوریدل واجب دی او د خطبی په دوران کی څه خبره اتره یاداسی کار ممنوع دی چی د هغه په وجه په اوریدو کی خلل واقع سی [2] خو د تشهد په هیئت کی کښني نستل او په خاص وخت کی

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۳۷ ویشترط لصحتها سبعة اشیاء الاول المصر .... وظاهر المذهب انه کل موضع له امیر وقاض یقدر علی اقامة الحدود، وفی الشامیه عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکك واسواق ولها رساتیق وفیها اول یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه او علم غیره یرجع الناس الیه فیما یقع من الحوادث وهذا هو الاصح ..... الخ، وکذا فی بحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۵۱ همدارنګه وګورئ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۵۲.

[2] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۵۲ (طبع ایچ ایم سعید) وکل ماحرم فی الصلوٰة حرم فیها ای فی الخطبة خلاصة وغیرها، فیحرم اکل وشرب وکلام ولوتسبیحا اورد سلام او امراً بمعروف بل یجب علیه ان یستمع ویسکت.

لاسونه پریښودل سنت نه دی، د ادب په خیال سره د تشهد په صورت کی د کښی نستو څه حرج نسته بلکی بهتر دی [1] خو که مذکوره التزامات واجب یا سنت ګڼلو سره وسی نو بدعت دی.

والله سبحانه اعلم
۱۰/ ۱۱/ ۱۳۹۶ ھ
(فتوی نمبر ۲۵۱۳/ ۲۷ ھ)

د خطبي په دوران کي د نفل لمونځ کولو حُکم

سوال: یوسړی د خطبی په دوران کی رالی او کښی نسټی، نبی اکرم ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ایا تا دوه رکعته لمونځ کړی دی؟ هغه ووئیل: چی نه، ورته یی وفرمائیل: چی ولاړ سه! اول دوه رکعته لمونځ وکړه، داشاید چی د بخاری حدیث دی، د اهل سنت والجماعت عمل د خطبی په دوران کی د دی څخه مختلف دی؟
جواب: هم د بخاری شریف په حدیث کی داهم دی چی حضور ﷺ د جمعی د خطبی په دوران کی د خبرو کولو څخه تردی بل څوك د خاموشه کولو څخه هم منع فرمائیلی دی، (بخاری ج: ۱ ص: ۱۲۷، ۱۲۸) [2] ورسره په معجم طبرانی کی د حضور ﷺ دا ارشاد منقول دی چی د امام د خطبی وئیلو په وخت چی کله په تاسو کی یوسړی جومات ته داخل سی نو نه لمونځ جائز دی او نه خبری (بحواله اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۵۷) [3] ورسره حضرت ابوبکر رضی الله عنه، حضرت عمر رضی الله عنه، او حضرت عثمان رضی الله عنه د خطبی شروع کیدو څخه وروسته لمونځ کوی، (عمدة القاری ج: ۶ ص: ۲۳۲) [4] لهذا په بخاری شریف کی چی کومه واقعه د حضرت سلیك غطفانی رضی الله عنه راغلی ده، هغه د حضرت سلیك رضی الله عنه خصوصیت وو چنانچی په سنن دارقطنی او ابوبکر بن ابی شیبه هم د دی

---

[1] وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۴۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) اذا اشهد الرجل عند الخطبة ان شأ جلس محتبأ او متربعًا او کما تیسر لانه لیس بصلوٰة عملاً وحقیقةً کذا فی المضمرات ویستحب ان یقعد فیها کما یقعد فی الصلوٰة کذافی معراج الدرایة.

[2] طبع قدیمی کتب خانه.

[3] اعلاء السنن باب کراهة الصلوٰة والکلام اذا خرج الامام للخطبة یوم الجمعة لاسیما اذا شرع فیها ج: ۲ ص: ۶۷ (طبع ادارة القرآن کراچی).

[4] باب اذا رای الامام رجلا جآء وهو یخطب امره ان یصلی رکعتین (طبع دار الفکر)

واقعي تصریح کړی ده چی حضور ﷺ حضرت سلیك رضي الله عنه ته د لمانځه حکم ورکولو سره پخپله خاموشه سوی وو، او ترڅو چی هغه د لمانځه څخه فارغیدی، حضور ﷺ انتظار وو. امسك عن الخطبة حتی فرغ من رکعتیه ثم عاد الی خطبة (عمدة القاری ج: ۶ ص: ۲۳۲) [1] دلته د تفصیلی موقعه نه ده، د بعضی نورو دلائلو په رڼا کی هم دا د حضرت سلیك رضي الله عنه خصوصیت معلومیږی. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۱۷

(فتوی نمبر ۲۹۵/ ۱۹ الف)

د خطبي په دوران کي خاموش اُوسیدل واجب دی

سوال: خطب صاحب د خطبی په دوران کی دا آیت کریمه تلاوت کړی یَآاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ، نو درود شریف په لوړ آواز سره وئیل پکار دي او کہ نه؟

جواب: د خطبی په دوران کی بالکل خاموشه پاته کیدل واجب دی [2] او داچی حدیث کی دی: که یوسړي خبری کړی نو د هغه د چُپ کولو د پاره هم خبری کول ناجائز دی [3] لهذا چی امام آیت کریمه (اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِکَتَهٗ) الآیه [4] ووایی. نو مقتدیانو لره په زړه کی درود شریف وئیل پکار دی په ژبی سره وئیل صحیح نه دی. د خطبی په دوران کی لموسح هم ناجائزه کیږی خو درود شریف به په درجه اولی نادرسته وی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۱ ھ

(فتوی نمبر ۱۷۴/ ۱۹ الف)

---

[1] وګورئ حواله مذکوره حاشیه نمبر ۴.

[2] وفی الدر المختار ج: ۴ ص: ۱۵۹ (طبع سعید) وکل ماحرم فی الصلوٰة حرم فیها ای فی الخطبة خلاصة وغیرها فیحرم اکل وشرب وکلام ولوتسبیحًا او ردسلام او امرًا بمعروف بل یجب علیه ان یستمع ویسکت وکذافی امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۴۵۷، ۴۵۸ (طبع دار العلوم کراچی)

[3] وفی صحیح البخاری ج: ۱ ص: ۱۲۷، ۱۲۸ (طبع قدیمی کتب خانه) اَن رسول الله ﷺ قال اذا قلت لصاحبك یوم الجمعة انصت والامام یخطب فقد لغوت.

[4] سورة الاحزاب: ۵۶.

د جمعي دوهم اذان د امام او منبر مخامخ کول پکار دی

سوال: د جمعی د خطبی د پاره د جمعی په ورځ امام صاحب د رسول په منبر باندی کښینی خوموذن صاحب ته بالکل د هغه مخامخ اذان ورکول پکار دی؟ او که لږ رسته او چپه طرفته اخواکیدو سره ورکول پکار دی؟ او ایا داطریقه بدعت ده؟

جواب: د خطبی په وخت اذان بالکل د امام او منبر مخامخ کیدل پکار دی رسته او چپه طرف ته اخواکیدو سره نه او د اذان دی طریقی ته بدعت وئیل درست نه دی: کماصرح به الفقهاء [1] وتمام دلیلة فی امداد الفتاوی [2]

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۹۱ ھ

(فتوی نمبر ۹۸۴/ ۲۸ ج)

د جمعي په ورځ د لمانځه څخه مخکي د تقریر کولو حکم

سوال: د جمعی په ورځ د لمانځه څخه مخکی تقریر کول پکاردی او که وروسته؟ سنت طریقه کومه یوه ده؟ او آیا د خطبی څخه مخکی وعظ کول بدعت دی؟

جواب: د خطبی څخه مخکی او د جمعی څخه وروسته دواړه وختونه وعظ کول جائز دی، په کوم صورت کی چی د مسلمانانو زیاته فائده او اسانتیا وی هغه اختیارولی سی، او د خطبی څخه مخکی وعظ کولو ته بدعت وئیل غلط دی هو! هغه مباح دی خاصکر د هغه وخت په لحاظ سره هغه واجب یامسنون ګرځولو سره به بدعت سی [3].

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۲۱ ھ

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۶۱ ویؤذن ثانیا (بین یدیه) ای الخطیب. وفی الشامیة تحته (قوله ویوذن ثانیًا بین یدیه) ای علی سبیل السنیة کما یظهر من کلامهم وصلی .... الخ وکذا فی فتح القدیر ج: ۲ ص: ۳۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) وفتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۵ ص: ۱۵۸.

[2] وګورئ امداد الفتاوی ص: ۴۷۴ تر ۴۸۱ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

[3] وکذافی فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۵ ص: ۶۷ (سوال ۲۳۸۵) وامداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۷۲ او همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۴۳۸ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)

که د جمعي خطبه او لمونځ جلا جلا سړي وركړي نو څه حكم دى؟

سوال: زموږ د محلي د جومات امام صاحب حافظ نه دى تراويح يو بل حافظ ورکوی چی قاری هم دی په آخری جمعة الوداع باندی ما امام صاحب ته ووئیل چی تاسو خطبه ورکړئ حافظ صاحب به جمعه وکړی امام صاحب انکار وکی او وی وئیل: چی خطبه او جمعه هم یو سړی ورکولی سی د دی حیثیت څه دی؟

جواب: امام صاحب صحیح وئیلی دی د جمعی خطبی او لمونځ هم یو سړی ته ورکول پکار دی، افضل طریقه همداده او د دی خلاف کول مناسب نه دی مګر داچی څه عذروی بغیر د عذر څخه داسی کول خلاف د اولی دی.

لمافي الدر المختار لاینبغی ان یصلی غیر الخطیب لانهما کشیئ واحد فان فعل بان خَطبَ صبی باذن السلطان وصلی بالغ جاز. (شامی ص: ۵۵۲) ([1]).

ومثله فی امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۴۴۰ ([2]).

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ۱۰// ۱۳۹۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۴۴۸/ ۲۷ هـ)

په کلي کي د جمعي لمونځ فرض نه ګڼلو والا امام د پاره په يو بل سړي باندي د جمعي لمونځ کول

سوال: زید د یوجومات خطیب دی په سبب د عدم جواز جمعه فی القریٰ لمونځ نه کوی پخپله د جمعی تقریر کوی او بکر ته وایی چی ته لمونځ ورکوه زید د نفلو نیت ترلو سره په بکر پسی لمونځ کوی جمعه نه کوی آیا د زید دارویه د شرعی د مخه جائز ده او که نه؟

جواب: که هغه ځای فی الواقع داسی قریه وی چی د ښار په تعریف کی نه راځی نو د زید د پاره نه پخپله د جمعی امامت جائز دی او نه په بل چا باندی د جمعی لمونځ ورکول درست دی شرعی حکم د ټولو د پاره یوی وی ([1]).

([1]) الدر المختارج: ۲ ص: ۱۲۲ (طبع سعید)

([2]) امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۴۳۲ (طبع مکتبه دارالعلوم کراچی) همدارنګه وګورئ امداد الاحکام: ج: ۱ ص: ۷۳۵ (طبع مکتبه دار العلوم).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

فقط والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۵۷/ ۱۹ الف)

په لويه قريه کي د جمعي لمونځ

سوال: زموږ په کلی کی ډاکخانه او د یونین کونسل دفتر موجود دی او زموږ علاقه د ملیر ستی (ښار) څخه څوارلس میله لری ده سرکاری اعداد مردم شماری یی څلور زره دی د ژوند روزمره سامان هم پیداکیږی...... الخ. آیا په داسی ځای کی جمعه جائز ده؟

جواب: په سوال کی چی د کلی کوم حالات بیان سوی دی د هغه پیش نظر په دغه کلی کی د جمعی لمونځ صحیح دی ([2]).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۳/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتویٰ نمبر ۳۰۲/ ۱۹ الف)

([1]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۲۷ صلوٰۃ العید فی القریٰ تکره تحریما ای لانه اشتغال بمالا یصح لان المصر شرط الصحة وفی الشامیة تحته (قوله صلوٰۃ العید) ومثله الجمعة وکذافی فتاویٰ دار العلوم دیوبند ج: ۵ ص: ۳۷.

([2]) د تفصیل او دلائلو د پاره وګورئ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۱۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

په کوشني کلي کي د جمعي حکم (فارسي)

سوال: یک قریه است تقریباً بر هفت صد نفوس مشتمل است قاضی رسمی دارد وضروری احکام شرع نکاح، طلاق، تقسیم میراث وغیره رافیصله کند وضروریات زندگی مهیا می شوند تقریباً سه عدد دکان دارد که قبل از دوسال یکی هم نبود ویک مسجد دارد که پنج وقت نماز باجماعت گذاشته شود ودیگر یک مسجد و موضوع نخلها وباغات موجود است که باقاعده نماز باجماعت نمیشود، اکثر ادمیان فردی نماز میخوانند نه امام وارد ونه موذن. جامع مسجد هم موذن ندارد وتقریباً از بیست وپنج سال جمعه وعیدین قائم کردند بغیر از اذن سلطان اهل محله قبل از بیست وپنج سال جمعه نبود، چهار رکعات نماز احتیاطی هم میخوانند. ودیگر در اطراف دو جانب قبله یک میل انگریزی یک قریه واقع است مشتمل بر ۱۵۰۰ یک هزار ویکصد وپنجاه نفر نفوس وبجانب مشرق به فاصله دو قیل یک قریه مشتمل بر ۲۲۰ نفر نفوس ویک قریه در جانب مشتمل بر ۴۰۰ نفر نفوس هم موجود است درین صورت جمعه وعیدین جائز است یا خیر؟

جواب: احوال قریه که در سوال ذکر شدند دالت میکند که او در حکم مصر نیست وجمعه در آن جائز نیست زیرا که تعریف مصر یاقریه بحکم مصر آن است: بلدی کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من ظالم...... الخ(۱) کما حققه فی امداد الفتاوی ج: ا ص: ۳۸۸ (۲)، ودر قریه مسئول عنها اسواق موجود نیستند وموجودگی سه دکانها قریه را عرفاً بحکم مصر نمی گردانند وباید دانست که در جمعه عدد سکان مقرر نیست واصل این است که اگر آن قریه را در عرف شهر یا قصبه می فهمانند او بحکم مصر است ورنه بحکم قریه ونماز جمعه در آن جائز نیست.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۴/ ۵/ ۱۳۸۸ هـ (فتوی نمبر ۵۹۹/ ۱۹ الف)

---

(۱) ردالمختار باب الجمعة ج: ۲ ص: ۱۳۷ (طبع سعید)

(۲) وګورئ امداد الفتاوی ص: ۴۱۵، ۴۱۲.

د جمعي په دوران کي په لاس کي د امسأ اخستلو شرعي حکم

سوال: که یو امام په خطبه کی امساء وانخلی او خطبه ورکړی نو آیا داجائز ده او که نه؟

جواب: حضور ﷺ به اکثره عصاء یاکمان په لاس کی اخستی او خطبه به یی ورکوله. نو که یو سړی د حضور ﷺ په اقتداء کی داسی وکړی نو سنت دی خو دا د خطبی څه لازمی شرط نه دی، د عصاء اخستلو څخه بغیر هم بدون د کراهته خطبه صحیح ده او دا د خطبی لازمی شرط ګرځول د التزام مالا یلتزم په وجه بدعت دی. بعضی خلګ چونکی دا د خطبی لازمی شرط ګنی څکه بعضی علماوو د دی د پریښوولو اهتمام کړی دی. بلکی بعضو دی ته بدعت وئیلی دی. خو حقیقت هم هغه دی چی مخکی عرض سو. چی داعمل اصلا سنت دی خو په دی شرط چی دی ته واجب ونه وئیل سی. د واجب ګڼلو سره به بیا داعمل کول بدعت سی.

قال فی الدر المختار وفی الخلاصة ویکره ان یتکی علی قوس او عصاً وقال الشامی استشکله فی الحلیلة بانه فی روایة ابی داود انه ﷺ قام ای فی الخطبة متوکئا علی عصاء او قوس اه ونقل القهستانی عن عبد المحیط ان اخذ العصاء سنة کالقیام.

(شامی جلد ۱ ص: ۵۵۳ باب الجمعة) (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱۲/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۸۳۹/ ۲۷ وروسته)

امروټ شریف کي د جمعي د لمانځه حکم

سوال: د پاکستان په اکثرو کلوکی علماء برابره خبره ده که د دیوبند مکتب فکر سره تعلق ساتی او که بریلوی سره په قریه صغیر کی د جمعی لمونځ بغیر د څه خوف څخه ورکوی، حالانکی حنفی مسلك کی په کلو کی د جمعی لمونځ نه کیږی، مندرجه بالاحضرات داجواب ورکوی چی د امام مالك په نزد باندی قریه صغیر کی د جمعی لمونځ جائز دی او د هغوی مسلك قوی دی. د سند په لویو اکابرینو کی حضرت مولانا تاج محمود صاحب امروټی په امروټ شریف کی به یی د جمعی لمونځ ورکولو او د

---

(۱) الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۱۲۳ (طبع سعید) او همدارنګه وګورئ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۳۹، ۷۵۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)

جمعې اکثره شرائط به نه پوره کیدل، د هغوی د جانشین هم داعمل دی، دوهم حضرت مولانا حماد الله رحمة الله علیه هالیجی شریف دی، ځکه چې کوم علماء په حنفي مسلك باندې کاربند دی، هغوی په کلوکی درس او تدریس او خطابت د جمعې څخه بغیر فرائض نسی ورکولی، عوام خوصرف داوائی: چې یاخو اکابروته ووایې چې په ناحق باندې دی که په حقه باندې دی نو د هغوی په شان تاسوهم د جمعې لمونځ ورکوی، د یوکال څخه تدریسی خدمات ورکوم، خو زموږ کلی په اویا اتیا کورونو باندې مشتمل دی، شپږ اووه دکانونه هم پکښې دی، ډاکټر او نور ضروریات ترکافی حده پورې پکښې پوره کیږي، د ښار څخه اووه اته میله لرې دی، په کوم کلی کې چې زه اوسیږم هغه زموږ د خپلوانو کلی دی د هغه شاوخوا نور کلی هم دی چې د مختلفو مقاماتو څخه راغلی او دلته آباد دی او زموږ د کلی د چیرمین د نګرانی لاندې یوځای خوایکړه مځکه اختسل سوې ده، که په یوځای کې یې کور جوړوی نو ډیر خلګ به د خپلې مځکې څخه ډیر لرې سوي وي، ځکه هرچا د خپل سهولت د پاره خپلو خپلو مځکوته نژدې کورونه جوړکړل په هغوی کې چې کوم سرکرده خلګ وو د هغوی په نومونو هغه کلی مشهوره سول چیرمین د ټولو یودی د حنفي مسلك شرائط څه دي؟ او د هغوی مأخذ د قرآن او سنت نه څه دي؟ او د حنفي مسلك په مالکي مسلك باندې د ترجیح وجه څه ده؟ زموږ په دې کلي کې د جمعې لمونځ کیدی سي او که نه؟

جواب: عزیزم محترم سلم الله تعالی ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو سوال مې په غور سره ووایه او په ټولو حالاتو مې غور وکی، خو تاچې کوم حالات د خپل کلي لیکلي دي د هغه پیش نظر هغه ته قصبه، قریه کبیره یاښار وئیل مشکل دي، او د احنافو ټول کتابونه، متون، شروح او فتاویٰ د جمعې د پاره مصر یاقریه کبیره شرط ضرور ګرځوي، د مالکیه او شوافعو او مالکیانو قول اختسل اوباقی لمونځ د احنافو په طریقه کولو کې د (تلفیق) خطره ده، چې په اجماع د فقهاوو باطل ده، او په دې سره د چاپه نزد هم لمونځ نه صحیح کیږي. لهذا د مالکیانو یاشافعیانو په مسلك باندې عمل کولو سره جمعه اداء کول صحیح نه دي د احنافو په نزد په کلي کې د جمعې د جواز صرف یوصورت دی هغه داچې امام المسلمین هلته د جمعې کولو حکم ورکړي، داصورت هم زموږ په ملك کې مفقود دی، او داچې احقر عرض کړل چې ستاسو په کلي کې د قریه کبیره تعریف صادق نه راځي. د دې وجه داده: چې قریه کبیره هغه شی دی چې هغه ته زموږ په عرف کې قصبه وایي، د دې تعریف

جامع او مانع فقهاوو نه دی کړی، بلکې د دې مدار یې په عرف باندې پرینښی دی چې کوم کلی ته عرفًا قصبه وئیل کیږي په هغه کې جمع جائز ده، د هغه علامات دادي: چې په هغه کې داسې بازار وي چې روزمره ضروریات پکښې پیداکیږي، آبادي دومره وي چې هغه ته قصبه وئیل کیدی سي، یا چې په هغه کې سړکونه وي، او د حکومت د اړخه عدالت، تحصیل یاتهانړه وغیره وي ستاسو په کلي کې ټول اویا ۷۰، اتیا ۸۰ کورونه دي، چې د هغه ابادي به ډیر څخه ډیر اته سوه ته نژدې وي، دکانونه پکښې شپږ اووه دي چې هغه ته بازار وئیل مشکل دی، ډاکخانه تحصیل وغیره پکښې نسته، ځکه دې ته قصبه نسي وئیل کیدی هو! دې خواتاسو شاوخوا نورو کلو تذکره کړې ده که هغه داسې وي چې کتونکی هغه ټول یوګني او د هغه مجموعي نوم هم یووی نو د هغه مزید تفصیل لیکلو سره سول دوباره وکړه، فی الحال خو هلته د جمعې د جواز څه صورت په نظر نه راځي

او خوته خلګوته امداد الفتاویٰ دارالعلوم دیوبند، وغیره فتاویٰ کتابونه ورسره د موجوده مفتیانو فتاویٰ ښوولو سره یې په نرمی پوهه کړه، که داشان خبره جوړه سي، نو ډیر ښه ده، او که د فتنې خطره وي نو په بل چاباندې د جمعې لمونځ ورکړه، او پخپله مقتدي جوړسه او د نفلو په نیت لمونځ ورپسې کوه، بیا ځانته د ماپښین لمونځ وکړه، پاته سوه دامسئله چې د احنافو په دې مسلك باندې د قرآن او سنت څخه څه دلایل دي؟ نو دایوه طویل الذیل موضوع ده، اول خو داخبره د مجتهدینو د سوچ کولو سره زموږ د مقلدینو د سوچ کولو سره زموږ د مقلدینو د سوچ کولو څخه ده، دوهم په دې باندې مفصل رسالې احنافو لیکلي دي چې په هغه کې علامه نیموی رحمه الله، حضرت ګنګوهي، حضرت شیخ الهند رحمهم الله وغیره رسالې معروف او مشهورې دي، د حضرت شیخ الهند رساله، او ثق العریٰ فی تحقیق الجمعة فی القریٰ، د ټولو څخه زیاته مفصله ده. دریمه مختصره خبره داده چې د بخاری او او ابوداود وغیره د معروف حدیث مطابق د مدینې طیبې څخه وروسته مځکې جمعه (جواثی) نوی قلعه کې سوې دی [1] چې د بحرین تجارتي منډی دی، حالانکې د بحرین د فتحې څخه مځکې بې شماره کلي مسلمانان سوي وه، هلته هیڅ ځای کې جمعه کول ثابت نه دي، بلکې جمعه نه کول ثابت

[1] وګورئ صحیح بخاری ج: ۱ ص: ۱۲۲ (طبع قدیمي کتب خانه) ابوداود ج: ۱ ص: ۱۲۰ (طبع مکتبه حقانیه)

دی، ورسره صحیح بخاری کی مروی دی چی دعوالی کلو صحابه کرام به په نمبر نمبر د جمعی کولو د پاره مدینی طیبی ته راتلل (۱) که هلته جمعه جائز وی نو د دی به هیڅ ضرورت نه وی، د دی څخه علاوه حضور ﷺ د حجة الوداع په موقعه عرفات کی د جمعی په ورځ د ماپښین لمونځ ورکړی دی چی په هغه باندی ټول روایت متفق دی، داټول دلائل قوی امر دی چی د احنافو مسلك د ضعیف دلیل په بنیاد باندی د پرېښوولو سوال نه پیداکیږی. (۲)

ترڅو چی د امروټ شریف او هالیجی شریف تعلق دی ماته د هغه ځای د حالاتو علم نسته چی هغه څرنګه کلی دی؟ بهتره به وی چی ته د هغه ځای د بزرګانو ته هم په دی مسئله کی رجوع وکړی او د هغوی څخه معلومه کړی چی د هغوی د جمعی په کولو څه رایه ده؟

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۹۸۶/ ۲۸ ج)

د جمعي د صحت د پاره ښار یالویه قریه کیدل ضروری دی

سوال: د جمعی د لمانځه د پاره د احنافو په نزد د ښار وجود ضروری دی او که نه؟

جواب: د احنافو په نزد جمعه صرف په ښار، قصبه، یاداسی په لوی ښار کی کیدی سی چی هلته د ژوند ضروریات عام پیداکیږی، بازار وی او د خپلو خصوصیاتو په لحاظ سره مشابه وی، په کوشنی کلی کی جمعه جائز نه ده. (۳)

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۱/ ۱۳۹۸ ھ

(فتوی نمبر ۴۲/ ۲۹ الف)

په کور کي د جمعي لمانځه د ورکولو حکم

سوال: یوعالم صاحب په کوم جومات کی د یوی مودی څخه خطیب وو، د جومات انتظامیی سره د اختلاف په وجه جلاسو اوس هغه د جومات په مقابله کی په خپل کور

(۱) ایضاً ص: ۱۲۳.

(۲) د دلائلو د تفصیل د پاره امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۲۲ تر ۷۳۰، او ۷۴۹ وګورئ.

(۳) د تفصیل د پاره امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۲۲، ۷۳۰، او ص: ۷۴۹، وګورئ

کی د جمعی لمونځ ورکول شروع کړی دی او په هغه کلی کی ډیر جوماتونه دی آیا په داسی صورت کی جمعه په کور کی جائز ده؟

جواب: په کوم ځای کی چی د خلکو د راتګ د پاره عادم اجازت وی هلته خو جمعه اداء کیږی خو جومات پرېښوولو سره په کورکی جمعه کول مکروه او ډیر ناخوښ اقدام دی. په دی سره د جومات فضیلت هم نه حاصلیږی او داپه جوماتونو کی د تقلیل جماعت سبب هم دی، په کوشنیو کوشنیو جوماتونو کی هم علماوو جمعه کول نه دی خوښ کړی نو په کورونو کی خو په طریقه اولی ناخوښه دی

وفی الدر المختار فلو دخل امیر حصنًا او قصره واغلق بابه وصلی باصحابه لم تنعقد ولوفتحه واذن لناس بالدخول جاز وکره وقال الشامی لانه لم یقض حق المسجد الجامع (شامی) (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۸ ھ

(فتوی نمبر ۴۲/ ۲۹ الف)

د کراچي څخه اته ویشت ۲۸ میله لری قصبه . کاټهوراباد کي د جمعي حکم

سوال: د کراچی څخه په اته ویشت ۲۸ میله باندی یوه قصبه په نوم د کاټهوراباد ده، چی په هغه کی د میلو په شان باغونه دی او د ملحقه قریه جاتو هم آبادی تقریباً شپږ زره نفوسو باندی مشتمل ده. بازار او دوکانونه هم دی چی په هغه کی د ژوند د ضروریاتو مکمل اشاء پیداکیږی. اسکول، هسپتال، بینک، پوسټ افس او د بجلی او ټیلیفون لاین هم دی د بس سروس هم جاری دی، صرف تهانړه پښکی نسته. تفصیلات د قریه جاتو او دوکانونو په لاندی ډول دی:

د قریې نوم

۱: سراج احمد ګوټه

۲: کما ګوټه

۳: ابراهیم ګوټه

(۱) الدر المختار مع ردالمختار ج: ۱ ص: ۱۵۲ (طبع سعید)

۴: موریا گوټه
۵: کهوسه گوټه
۶: سوفن گوټه
۷: دین محمد گوټه
۸: دریاخان گوټه
۹: ماچهی گوټه
۱۰: کاچیلو گوټه
۱۱: میانداد گوټه
۱۲: رند گوټه
۱۳: علو گوټه
۱۴: نواز علی گوټه
۱۵: حسن لشکری گوټه
۱۶: روزی گوټه
۱۷: مراد گوټه
۱۸: نیک محمد گوټه
۱۹: فقیر گوټه
۲۰: هاشم گوټه
۲۱: گبول گوټه

د کورونو تعداد
یوسل او پنځه ویشت
۸۰ کورونه
۵۰ =
۵۰ =
۵۰ =
۵۰ =
۲۰ =
۲۵ =
۵۰ =

۲۰ =
۵ =
۶ =
۱۵ =
۲۰ =
۲۰ =
۲۰ =
۲۰ =
۱۰ =
۱۵ =
۱۰ =
۱۰ =

د دوکانونو تعداد
۳
۱
+
۱
+
۱
۱
۱
۱
۱
+
+
+
+
+

+

+

+

+

+

+

په دوکانونو کی راشن دی او د حجام دوکان، د لوهار دوکان او هوټلونه هم دی چی د هغه تعداد تقریبا پنځه ویشت جوړیږی ، دری هسپتالونه دی او (۱۷) اسکولونه دی.
آیا په مذکوره قصبه کی جمعه جائز ده او که نه؟
جوابونه که په اثبات کی وی او که په نفی کی په دواړو صورتونو کی دی د کتابونو حواله ضرور ولیکل سی.
۱: کالونی پنځوس دوکانونه، مکانات هیڅ نسته،
۲: سراج احمد ګوټه او پهلوان ګوټه ترمینځ فاصله څلور فرلانګه.

جواب د حضرت مولانا رشید احمد صاحب لدهیانوی رحمه الله

جواب: په سوال کی چی د کاټور د کومو کلو ذکر دی د هغه په صحیح صورت حال باندی د پوهیدو د پاره موږ د هغه مقاماتو مفصل معائنه وکړه د هغه معائنی په نتیجه کی چی کومه خبره مخ ته راله هغه داده چی کاټور د یوی قصبی یا یوکلی نوم نه دی بلکی دا په کوشنیو کوشنیو کلو باندی مشتمله یوه قصبه ده او په سوال کی د قصبی په نوم چی د هغه کوم اوصاف ذکر سوی دی هغه د یوکلی اوصاف نه وی بلکی د پوره علاقی کاټور او صاف دی او صورت حال دادی:
۱: مختلفو خلګو د خپلو سهولیاتو مطابق کوشنی کوشنی کلی آباد کړی دی چی په جلا جلا ګوټونو باندی موسم دی او د هرګوټه څخه بل ګوټه ته آبادی متصل نه ده، بلکی د دواړو ترمینځ چیری د پټو او چیری د ځنګلونو فاصله ده. څه ګوټونه داسی هم دی چی د هغه په یوسر ودریږی نو د دوهم ګوټه سر په نظر راځی خو زیات داسی دی چی د یوګوټه څخه بل ګوټه په نظر نه راځی او په مینځ کی د دوو میلو څخه واخله تر یو فرلانګه پوری فاصلی موجودی دی چی په زرعی مځکو یا ځنګلونو باندی مشتمل دی.

۲: په دغه ګوټه کی یوګوټه هم داسی نه دی چی په هغه باندی د مصر یا د لویی قریی اطلاق درست وی، چی په هغه کی د ښار علامت پیداکوی سی، عام طور سره آبادیانی په جومپړو یا په څه کورونو باندی مشتمل دی، څه کورونه پاخه دی، په دغه ګوټو کی د ټولو څخه لوی ګوټه سراج احمد ګوټه دی، چی تقریبًا پاوباندی سل ۱۰۰ کورونو باندی مشتمل دی، خو په دی کی هم کوڅی بازار وغیره نسته، خودری دوکانونه متفرق او دوه هوټلونه دی او نه پکښی د مصریت څه علامه پیداکیږی، کله چی د ټولو څخه د لوی ګوټه داحال دی نو د نورو کوشنیو ګوټونو معامله نوره هم زیاته واضحه ده.
۳: البته د دی ټولو ګوټونو په مینځ کی یوبازار واقع دی چی د یوګوټه جزء هم نه دی بلکی یوه مستقله علاقه ده، هغه ته کاټور کالونی بازار وایی، په هغه سړی سکك او سوق موجود دی او د ژوند ضروریات پکښی پیداکیږی، په هغه کی بینك، مډل سکول، هسپتال، داکخانه وغیره دی خو دلته راهایشی مکان صرف یو دی، د مختلف ګوټونو خلګ هم د ورځی دلته دوکانداری کوی او د شپی خپلو خپلو ګوټونو ته ځی، د ذکرسوی برنی تحقیقاتو څخه داخبره واضحه کیږی چی داټول کلی مستقل جلا جلا حیثیت لری او په هغه کی په د جمعی د جواز شرائط موجود نه دی او د هغه مجموعی نوم کاټور کیدلو سره د هغه مجموعی مصر یاقریه کبیره کیدل نه لازمیږی ځکه چی د دغه کلو په مینځ کی کافی انفصال دی، او ځرنګه چی د متعددو کلو په مجموعه باندی د ضلع اطلاق کول کیږی. دغه شان د دغه کلو مجموعی ته کاټور وایی
لهذا په مذکوره کلو کی په هیڅ کلی کی هم په شمول د سراج احمد ګوټه جمعه جائز نه ده، البته د کاټو په بازار کی جمعه د غور لاندی ده، او هغه چونکی خالص بازار دی او رهایشی کلی نه دی ځکه د هغه مصریت هم محل نظر دی البته که د علاقی حاکم یاډپټی کمشنر څخه د جمعی د قایم کولو اجازت واخستل سی نو بیابه سراج ګوټه کاټور کالونی بازار کی جمعه کول درست سی او په کومو کلو کی چی څلویښت یا د هغه څخه زیات مکانونه دی په هغه کی به هم جمعه جائز وی، لان هذا مجتهد فیه.
لمافی ردالمختار واذا اتصل به الحکم صار مجمعًا علیه. (شامی ج: ۱ ص: ۵۳۷) [1]

رشید احمد
دار الافتاء اشرف المدارس

---

[1] ج: ۲ ص: ۱۳۸ (طبع سعید)

ناظم اباد کراچی

۸/ ۱/ ۱۳۹۹ هـ

جواب د حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب دامت برکاتهم

ويشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر ... وظاهر المذهب انه كل موضع له امير وقاض يقدر على اقامة الحدود. (الدر المختار مع الشامي ج: ۱ ص: ۵۳۶) [۱]

وفي رد المختار عن ابى حنيفة انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه غيره يرجع الناس اليه فيما يقع من الحوادث وهذا هوالأصح. (شامي ج: ۱ ص: ۵۳۶)[۲]

وفي البحر الرائق فقال المصر فى ظاهر الرواية ان يكون فيه مفت وقاض يقيم الحدود وينفذ الاحكام وبلغت أبنيته أبنية منى. (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۵۱) [۳]

د پورتنيو حوالو په رڼا کی پورتنی جواب درست دی. والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد رفيع عثمانی عفا الله عنه ۱۱/ ۱/ ۱۳۹۹ هـ

الجواب الصحيح ولی حسن جامعة لعلوم اسلاميه کراچی

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۱/ ۱/ ۱۳۹۹ هـ

(فتوی نمبر ۹۴/ ۳۰ الف)

آيا په صحراء کي جمعه فرض ده؟

سوال: محترم المقام مفتی صاحب ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

باعث د تحرير داچی زموږ په علاقه کی يوسړی دی د هغه د جمعی په مسئله کی لاندی ډول نظريه ده:

۱: د جمعی لمونځ په هرځای کی تردی چی په صحراکی هم فرض دی.

۲: د جمعی ه بغير دا ځانته کول هم جائز دی.

---

[۱] ايضاً.

[۲] الدر المختار مع رد المختار باب الجمعة ج: ۲ ص: ۱۳۷، ۱۳۸.

[۳] البحر الرائق باب الصلوة الجمعة ج: ۲ ص: ۱۴۰ (طبع سعيد).

۳: د ائمه اربعه شرطونه د قرآن خلاف دی ځکه چی په قرآن کی جمعه مطلق او عام ده، د دی څه مقدار مختص موجود نه دی.

۴: کوم علماء چی د جمعی لمونځ په کوشنيو کلو او صحراګانو کی منع کوی هغوی خطاء کار او د مکروه او حرام مرتکب دی.

۵: داسړی خلک داسی کوشنيو کوشنيو کلو کی په جمعه جاری کولو باندی آماده کوی چی هلته څلور سرو مذهبونو کی جمعه ناجائز ده، چنانچی په بعضو ځايونو کی جاری سوی هم ده.

الغرض: الف، د محمدی شريعت د مخه د دی سړی څه حکم دی؟

ب: مسئله په جمعه کی حنفی صحيح مسلك څه دی؟

ج: د علاقی علماء د مذکوره سړی د کلو د جمعو متعلق څه موقف اختيارول پکار دی؟

جواب: الف، د مذکوره سړی نظريه د ائمه اربعه خلاف ده، په څلورو امامانو کی د چاهم هغه مسلك نه دی چی هغه يی بيانوی بالخصوص ائمه اربعه او د هغوی مقلدين په دی باره کی د مکروه يا حرام مرتکب ښوول سخته د ګمراهی خبره ده، د هغه خبره د اوريدو قابل نه ده.

ب: په حنفی مسلك کی جمعه صرف په هغه کلی کی رواده چی هغه ته عرفًا ښار وئيل کيږی او ګټل کيږی ياداسی لوی ښار ياقصبه چی په هغه کی کوڅی او بازار وغيره وی، او د ژوند ضروريات عام طور سره پيداکيږی په کوشنيو کلو کی جمعه جائز نه ده. [۱]

ج: خلګو ته په حنفی مسلك باندی عمل کول پکار دی او د مذکوره سړی په خبره باندی عمل کول هيڅکله جائز نه دی.

والله اعلم

۲۲/ ۹/ ۱۴۰۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۸۰/ ۳۱ و)

---

[۱] وفى الشامية ج: ۲ ص: ۱۳۷ ويشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر ..... وظاهر المذهب انه كل موضع له امير وقاض يقدر على اقامة الحدود وفى الشامية عن ابى حنيفة انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وان يقدر على انصاف المظلوم من الظالم بحشتمه وعلمه او علم غيره يرجع الناس اليه فىما يقع من الحوادث وهذا هوالاصح .... الخ، وكذافى البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۵۱، او همدارنګه وګوری امداد الاحكام ج: ۱ ص: ۷۵۲.

په یوه قصبه کې د جمعې د لمانځه حکم

سوال: د شاریان قصبه چې هغه ته خپل قرب او جوار کی مرکزی حیثیت حاصل دی، تجارتی مرکز په جبرنی سړک باندی واقع دی، د یونین کونسل سنیټر هم دی چې په هغه کی د میاشتی یو دوه اجلاسونه هم کیږی، یومډل سکول یوه ډسپنسری، ګرلز پرئمری سکول، ډاکخانه وغیره کیدو په وجه ښه شهرت او رونق دی، د ډیری مودی څخه دلته جمعه کیږی، اوس یی څه خلګ منع کوی چې دلته جمع نه کیږی، د جمعې په لمانځه کی د خلګو ښه تعداد جمع کیږی که خلګ منعه نه سی نو په ښه تعداد کی خلګ جمع کیږی، په دی کی جمعه صحیح ده او که نه؟

جواب: کوم حالات چې په سوال کی بیان سول که هغه درست دی نو بیا په دغه قصبه کی د جمعې لمونځ درست دی (١)، ډاکخانه، تجارتی مرکز، اوبیا د یونین کونسل دفتر کیدل دا د قریې د تعریف څخه را وباسی او د مصر په تعریف کی داخلولو د پاره کافی دی، کوم خلګ چې منع کوی که د هغوی وجه معلومه وی نو په هغه باندی څه وئیلی وی.

والله سبحانه اعلم

۲۳/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

چیلونو چهاونړو او په ایرپورټ باندی د جمعې لمونځ

(اهم وضاحت د حضرت دامت برکاتهم)

ما د خپل یمن په سفرنامه کی چې (البلاغ) ربیع الثانی ۱۴۲۲ اه په شماره کی شائع سوی ده، په سبیل تذکره د دوبی په ایرپورټ باندی د جمعې لمونځ اداء کولو ذکر کړی وو، او ورسره می دالیکلی وو چې (اذن عام) کوم شرط چې فقهاء کرامو د جمعې د صحت د پاره ضروری ګرځولی دی، د هغه صحیح مطلب دادی چې په کومی لویی علاقی کی لمونځ اداء کولی سی د هغه ځای خلګوته په جمعې کی د شریعت عام اجازت وی برابره خبره ده که هغه لوی علاقه کی د بهر خلګو څخه انتظامی یا دفاعی اسبابو په وجه باندی د داخلی عام اجازت نه وی، د دی سفر نامی شائع کیدو څخه وروسته بعضی حضراتو ماته خط ولیکی چې په د دی مسئلی تفصیلی وضاحت شائع

(١) وګوره صـ ۵۲۲ حاشیه.

کیدل پکار دی، ماځوکاله مخکی په دی موضوع یوه فتوی لیکلی وه، چې تراوسه شائع نه ده، په دی موقع راته مناسب معلوم سول چې هغه شائع سی څه ترمیم او اضافی سره چنانچې لاندی هغه فتوی شائع کول کیږی داخبره واضحه کیدل پکار دی، چې د دی فتوی اطلاق صرف په داسی ایرپورټ باندی کیدی سی چې په ښارکی دننه واقع وی چې په هغه کی د خلګو یوه لویه ډله هروخت موجوده وی، د دوبی ایرپورټ هم داسی دی.

سوال: څه فرمائی علمائی دین په دی مسئله کی چې په جیلخانو کی قیدیان د جمعې لمونځ اداء کولی سی او که نه؟ په دی مسئله کی متضاد خبری مخ ته راغلی دی، د دی مسئلی تفصیلی وضاحت مطلوب دی، بینوا وتؤجروا.

جواب: په جیل کی د جمعې په جواز او عدم جواز په باره کی د فقهائی متقدمینو په کتابونو کی تصریح جزئیه مذکور نه ده په همدی وجه په دی مسئله کی د علمائی عصر فتوی هم مختلفی دی، د اصل اشکال وجه داده چې فقهائی حنفیه د جمعې وجود په شرطونو کی اذن عام هم ذکر کړی دی او چونکی په جیل کی د داخلی عام اجازت نه وی، ځکه په ظاهره داسی ښکاری چې هلته جمعه جائز نه ده. زموږ په زمانه کی دامسئله د جیل نه ده بلکی د هغه ټولو فوجی چهاونړو، د صنعتی ابادیانو او ایرپورټونو هم ده چې هلته عام خلګوته د داخلی اجازت نه وی، ځکه داتحقیق ضروری دی چې د عام اجازت شرط د کومی د وجی دی؟ او د دی مفهوم څه دی؟ د بعضی حضراتو خیال دادی چې د اذن عام شرط په هغه وخت کی وو چې کله په پوره ښار کی جمعه په یوځای کی کیدله، او د هغه مقصد داوو چې د چا جمعه فوت نسی، خو کله چې په یوښار کی څو ځایونو کی د جمعې کولو جواز ثابت سو او عملا متعددو ځایونو کی جمعه کیدل شروع سول نو اوس چونکی د دی خبری خطره پاته نسوه چې د (اذن عام) د عدم موجودګی په وجه به د چا جمعه فوت سی، ځکه اوس داشرط باقی پاته نسو، داحضرات په دلیل کی د علامه شامی لاندی درج سوی عبارت پیش کوي:

وکذا السلطان اذا اراد ان یصلی بحشمه فی داره فان فتح بابها واذن لناس اذنًا عامًا جازت صلوته شهدتها العامة اولا وان لم یفتح ابواب الدار واغلق الابواب واجلس البوابین لیمنعوا من الدخول لم تجز لان اشتراط السلطان للتحرز عن تفویتها علی الناس وذا لایحصل الا بالاذن العام اه، قلت وینبغی ان یکون محل النزاع ما اذا کانت

لاتقام الا فی محل واحد، اما لوتعددت فلا لانه لایتحقق التفویت کما افاده التعلیل تأمل. (شامي ج: ۲ ص: ۱۵۲، طبع سعید)

خو په دی باندی دا اشکال کیږی که د اذان عام شرط په وجه صرف د جمعی د فوت کیدو خوف وی نو په کوم ښار کی چی په متعددو مقاماتو باندی جمعه کیږی هلته که کوم سړی خپل ذاتی کور کی دروازه بندولو سره د جمعی جماعت وکړی نو هغه هم جائز کیدل پکار دی او دا چی د کله څخه د تعدد جمعی رواج سوی دی د هغه وخت څخه د اذن عام شرط د فقه د کتابونو څخه بالکل خارجیدل پکار وو، یا که داشرط مذکور وی نو ورسره داتصریح ذکر کول هم پکار وو چی اوس داشرط واجب العمل نه دی، حالانکی فقهاوو د تعدد جمعه د رواج باوجود د دی شرط ذکر کولو سره راروان دی، دا اشکال ډیر قوی دی، خو د فقه کتابونو ته مراجعت کولو څخه وروسته چی کوم صورت حال په نظر باندی راځی هغه مندرجه ذیل دی:

۱: د اذن عام شرط په ظاهر الروایت کی موجود نه دی چنانچی علامه کاسانی تحریر فرمائی: وذکر فی النوادر شرطا آخر لم یذکره فی ظاهر الروایة وهو اداء الجمعة بطریق الاشتهار حتی ان أمیراً لوجمع جیشه فی الحصن واغلق الابواب وصلی بهم الجمعة لاتجزءهم. (بدایع الصنایع ج: ۱ ص: ۲۶۹ طبع مکتبه رشیدیه کویته)

چنانچی صاحب د هدایی هم اذن عام د شرط په طور نه دی ذکرکړی داشان متعددو فقهاوو داشرط نه دی ذکر کړی چی په هغه کی د شمس الائمه سرخسی استاذ علامه سعدی هم داخل دی (وګورئ: النتف فی الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۹۰ مطبعة الارشاد بغداد)

۲: د نوادر د دی روایت مطابق فقهای متأخرینو داشرط په خپلو کتابونو کی ذکر کړی دی خو داسی معلومیږی چی د اذن عام په مفهوم کی د فقهای کرامو څخه اختلاف پاته سوی دی، بعضی حضراتو خو د دی دامطلب بیان کړی دی چی هرهغه سړی چی په هغه باندی جمعه فرض وی هغه ته هغه مقام ته د تللو د پاره اجازت ضروری دی، چنانچی علامه شامی رحمه الله د برجندی وغیره څخه نقل کوی: ای ان یأذن للناس اذنًا عامًا بأن لایمنع احداً ممن تصح من الجمعة عن دخول الموضع الذی تصلی فیه وهذا مراد من فسر الاذن العام بالاشتهار.

(شامی ج: ۲ ص: ۱۵۱ طبع سعید)

بل طرفته د بعضی فقهاء حضراتو د کلام څخه دامعلومیږی چی د اذن عام د پاره داخبره کافی ده چی په کمه ابادی کی جمعه کیږی، د هغی آبادی خلګوته هلته د راتلو

پوره اجازت وی که څه هم د باندی خلګوته د راتلو پوره اجازت نه وی چنانچی علامه بحر العلوم فرمائی:

وفی فتح القدیر ان اغلق باب المدینة لم یجز وفیه تأمل فانه لاینافی الاذن العام لمن فی البلد واما من فی خارج البلد فالظاهر انهم لایجیئون لاقامه الجمعة بل ربما یجیئون للشر والفساد.

رسائل الارکان ص: ۱۱۵ طبع قدیم مطبعه یوسفی فرنګی مع لکهنوی او ورسره درمختار کی وئیل سوی دی:

فلایضر غلق الباب القلعة لعدو او لعادة قدیمة لان الاذن العام مقرر لاهله وغلقه لمنع العد ولا المصلی نعم لولم یغلق لکان احسن کمافی مجمع الانهر.

(الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۵۲، طبع سعید)

په مجمع الانهر کی دی:

ومایقع فی بعض القلاع من غلق ابوابه خوفا من الاعداء او کانت له عادة، قدیمة عند حضور الوقت فلابأس به لان الاذن العام مقرر لاهله ولکن لولم یکن لکان احسن کمافی شرح عیون المذهب وفی البحر والمنح خلافه لکن ماقررناه اولی لان الاذن العام یحصل بفتح الباب الجامع وعدم المنع ولامدخل فی غلق باب القلعة وفتحه ولأن غلق بابها المنع العدو لا لمنع غیره تدبر.

(مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۲۴۲ طبع بیروت)

داسی معلومیږی چی کومو حضرات فقهاء کرامو (د اذن العام شرط) د تفویت جمعه په خوف باندی مبنی ګرځولی دی، د هغوی مراد دادی چی د (اذن عام) مخکی عام مفهوم دی علت سره معلومول وو چی د تعداد جمعی په صورت کی باقی پاته نسو، خو دوهم مفهوم اوس هم کافی دی، ځکه چی هغه په دی علت باندی مبنی نه وو بلکی په قول د صاحب بدائع: اِذَا نُوْدِیَ لِصَّلٰوۃِ مِنْ یَوْمِ الْجُمُعَۃِ ..... الخ، اشارة النص باندی مبنی وو،، چنانچی علامه شرنبلالی رحمه الله تحریر فرمائی:

قلت علی رسالة للعلامة ابن الشحنة وقدقال فیها بعدم صحة الجمعة فی قلعة القاهرة لانها تقفل وقت الصلوٰة الامام بقفله قصره اختصاصه بها دون العامة والعلة مفقودة فی هذه القضیة فان القلعة وان قفلت لم یختص الحاکم فیها بال[illegible] عندنا باب القلعة عدة جوامع فی کل منها خط[illegible] منع من [illegible] عه با[illegible]
القلعة مفتوحة لایرغب ف[illegible]

بالصعودلها وفی کل محلة من المصر عدة من الخطب فلا وجه لمنع صحة الجمعة بالقلعة عند قفلها.

(مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص: ۲۷۸، قدیمی کتبخانه)

که څه هم علامه طحطاوی د دی لاندی د علامه شرنبلالی په دی خبره باندی اعتراض کړی دی، خو د علامه شرنبلالی رحمه الله مقصد په ظاهره دامعلومیږی چی د تعدد جمعی په صورت کی (د اذن عام) د هغه عام مفهوم د اخستلو ضرورت نسته چی د هغه د لاندی هرهغه سړی چی په هغه باندی جمعه واجب وی هغه ته هلته د راتلو اجازت وی، بلکی که څه داسی ابادی موجوده وی چی په هغه کی د کورونو یا د اوسیدونکو قابل د لحاظ تعداد موجود وی او د هغه ابادی ټولو خلګو ته هلته د جمعی راتلو اجازت وی نو دا خبره د اذن عام د تحقیق د پاره کافی ده، په دی شرط چی د ابادی څخه د باندی خلګو لره د راتګ څخه د منع کولو وجه لمانځه څخه منع کول نه وی بلکی د څه دفاعی یا انتظامی په وجه مجرد داخلی څخه منع کول وی.

که د علامه شرنبلالی د پورتنی ذکرسوی عبارت دامفهوم واخستل سی نو په دی باندی به هغه اعتراض نه واردیږی کوم چی علامه طحطاوی رحمه الله وارد کړی دی.

د دی تفصیل څخه داخبر په پوهه کی راځی چی د تعدد جمعی په صورت کی د ، اذن عام شرط د فقهائی حنفیه په نزد خو بالکلیه ختم سوی نه دی بلکی د دی مفهوم داسو چی په کومه ابادی کی (نه په کوم انفرادی کور کی) جمع کیږی، د هغی ابادی خلګوته هلته د راتلو اجازت وی، که د ابادی څخه د باندی خلګ د دفاعی یا انتظام په وجه باندی په دی ابادی کی د داخلی څخه منع سوی وی نو دا د (اذن عام) منافی نه ده خو په دی شرط چی د ایسارولو اصل محرك د لمانځه څخه ایسارول نه وی بلکی څه دفاعی یا انتظامی ضرورت وی او د دی ابادی څخه وتلی خلګ د دی پابندی په وجه د جمعی څخه نه محرومه کیږی، په دی باندی صرف دا اشکال باقی پاته کیږی چی فقهائی کرامو دامسئله ذکر کړی ده چی د مسجدنو د پاره د جمعی په ورځ خپل ځانته جلا د ماپښین جمعه کول مکروه دی. (هدایه مع فتح القدیر ج: ۲ ص: ۳۵ طبع مکتبه رشیدیه کویټه) د دی څخه معلومیږی چی د قیدیانو د پاره جمعه جائز نه ده ورنه هغوی ته به د ماپښین د جمعی هیڅ حاجت نه وو.

خو د دی جواب دا ورکولی سی چی د علامه شامی او علامه شرنبلالی رحمه الله د عبارتونو په رڼا کی داحکم د هغه دور دی، کله چی به جمعه په یوځای کی د سلطان په

قیادت کی کیدله، او د سلطان د اړخه په دوهم ځای کی د جمعی د اقامت اجازت نه وو، د دی څخه علاوه به قید خانی هم د مختلفو نو علتونو وی، ممکنه ده چی د دی څخه مراد قیدخانه وی چی په یو کور یا یوی احاطی باندی مشتمل وی او په هغه باندی د کومی مستقلی ابادی اطلاق نسی کیدی، یوبل اشکال داهم کیدی سی چی بدایع کی دامسئله لیکلی ده چی:

السلطان اذا صلی فی فهندرة والقوم مع أمراء السلطان فی المسجد الجامع قال: ان فتح باب داره واذن للعامة بالدخول فی فهندرة جاز وتکون الصلوٰة فی موضعین ولولم یأذن للعامة وصلی مع جیشه لاتجوز صلوٰة السلطان وتجوز صلوٰة العام. (بدایع الصنائع ج: ۱ ص: ۲۶۹ طبع رشیدیه کویټه)

دامسئله د تعدد جمعی په صورت کی مفروض ده، د دی باوجود د سلطان اذن عام نه ورکولو په صورت کی د جمعی لمونځ غیر منعقد ګرځول سوی دی.

خو په ظاهره د دی صورت څخه مراد دادی چی سلطان په خپل محل کی صرف د خپلو لښکرو او سپاهیانو سره لمونځ وکړی او باقی خلګوته هلته د راتلو اجازه نه وی کوی، چنانچی په مذکوره عبارت کی (ان افتح الباب داره .... الخ) لفظ په دی باندی دلالت لهذا دلته د ممانعت وجه داده چی د سلطان محل د هغه انفرادی ځای دی او مخکی تیر سوی دی چی په انفرادی مقاماتو کی باندی ترهغه وخته پوری جمعه نه جائز کیږی ترڅو چی هغه د عامو خلګو د پاره خلاصه سوی نه وی، خوکه څه داسی ابادی ده چی په هغه کی معتدبه خلګ اوسیږی نو دا په جزئیه باندی نسی قیاس کولی.

خلاصه د کلام داسوله چی:

۱: که په ښار کی د جمعی اجازت د حاکم د طرفه صرف په یوځای کی د کولو وی نو د جمعی د صحت د پاره ضروری ده چی هرهغه سړی چی په هغه باندی جمعه ده هغه ته هلته د راتلو او جمعی کولو عام اجازت وی، د داسی عام اجازت څخه بغیر به جمعه صحیح نه وی.

۲: دغه شان که د چا انفرادی کور، محل یادوکان وی نو په هغه کی به هم جمعه کول ترهغه وخته پوری جائز نه وی ترڅو چی په هغه کور، محل یادوکان کی عامو خلګوته د راتلو اجازت ورنکړل سی، برابره خبره ده که هغه په ښار کی یاکوم بل ځای کی هم جمعه کیږی.

۳: او که څه داسی ابادی وی چی په هغه کی متعدد خلګ اوسیږی او په ښار کی دننه هم وی خو د دفاعی: انتظامی یانورو وجوهاتو په وجه هغه آبادی هرسړی ته د راتلو اجازه نسته بلکی هلته داخله د دی وجهی په سبب د څه خاصو قواعدو پابندی ده، نو د هغه ابادی په داسی حصه کی داسی ځای کی جمع کول جائز دی چی هلته د هغه ابادی د خلګ راتګ او جمعه کولو اجازت وی، مثلا لوی جیل، فوجی چهاونړی، لوی فکټریانی داسی غټ ایرپورټ چی په ښار کی ددنه وی او په هغه کی هروخت په سوونو خلګ موجود وی، خو په هغه کی د داخلی اجازت د مخصوصو قواعدو پابنده وی نو په دی ټولو ځایو کی به جمعه جائز وی، په دی شرط چی په هغه ښار کی داخل وی او د هغه جیل، چهاونړی، لو فیکټری، ایرپورټ یاریلوی اسټیشن ټولو افرادو ته د لمونځ ځای ته د راتلو او جمع کولو اجازت وی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۲/ ۵/ ۱۴۲۲ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۷/ ۴۹۲ ھ)

دائمه حرمینو په اقتداء کي په خلاص میدانونو کي سوی د جمعي د لمونځونو حکم

سوال: د مسجد نبوی امام پسی د پاکستان ډیرو خلګو د جمعة المبارك لمونځ کړی دی د هغوی لمونځ وسو او که نه؟ بعضی خلګ وایی چی په هغوی پسی لمونځ نه کیږی.

جواب: د حرمینو شریفینو امامانو پسی په خلاص میدانونو کی کوم لمونځونه چی سوی دی هغه بلاشبهه وسول، کوم حضرات چی دا رایی چی د هغوی پسی لمونځ نه کیږی هغوی بالکل غلط وایی الله ﷻ دی هغوی ته هدایت وکړی.

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱۰/ ۱۳۹۶

(فتویٰ نمبر ۲۴۲۳/ ۵۰۲۷)

د جمعي په خطبه کي د کوم بزرګ مقوله شاملول

سوال: مسئله داده چی د سکر د ښار د یوبزرګ په حال کی انتقال، سوی دی د هغوی د انتقال څخه وروسته د هغوی د جومات امام د جمعی په خطبه کی داطرز اختیار کړی دی چی اوله خطبه کی تحمید، تسبیح او یو احادیث ویلو څخه وروسته د هغه بزرګ څخه ملفوظات په عربی کی ترجمه کولو سره، قال شفیق الله عنوان سره وایی، په دی کی خلجان دادی چی د دی څخه مخکی هم زموږ د اکابرو انتقال سوی دی خو څه صورت د مذکوره صورت حال په شان منظور او مسموع سوی نه دی، شاید چی د جواز څه صورت را وځی، خوفی نفسه په مذکوره طرف عمل باندی زړه مضطرب دی چی کیدی سی دافعل په راروانه زمانه کی د غلوفی الدین ذریعه جوړه سی، او داطریقه د سلفو څخه اخواکیدو سره د بدعت ذریعه جوړه نسی، څکه برائی کرم د دی قابل اطمینان حیثیت مدلل طور باندی متعین کولو سره مواحسانمند کړه، او ورسره داهم وضاحت وکړئ چی داطرز عمل لائق د اتباع او عمل دی او که نه؟

جواب: که څه هم په خطبه کی د کوم بزرګ مفیده مقوله بیانول شرعًا جائز دی خو په هره خطبه کی هم د یوسړی د ملفوظاتو بیانولو د التزام کولو سره به یقینًا د غلو خطره وی، لهذا داپه حکمت او نرمی سره بندول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۴/ ۱۴۲۱ ھ

(فتویٰ نمبر ۶/ ۴۲۸)

د پنځه وخته لمانځه د پاره جوړ سوی ځای کي د جمعي حکم

سوال: د کومو مقتدیانو چی د جنازی لمونځ امام نه کوی هغه خلګو ځانته یوجلا ځای جوړ کړی دی چی په هغه کی پنځه وخته لمونځ کوی او جمعه په بل ځای کی کوی آیا په دغه جومات کی به د هغوی د پاره د جمعی لمونځ جائز وی او که نه؟

جواب: هرهغه جومات چی چیری د جمعی لمونځ د شرعی شرطونو مطابق کیږی هلته د جمعی لمونځ کیدی سی، لهذا د دغه حضراتو په بل جومات کی جمع کول درست دی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ

(فتویٰ نمبر ۱۲۰/ ۱۹ الف)

د ترکي سعي د ګناه څخه بچ کیدو د پاره اول اذان د تقریر څخه د مؤخر کولو حکم

(د ټولو څخه اول د دی موضوع متعلق حافظ صغیر احمد صاحب د یوسوال په جواب کی د دار الافتاء دار العلوم کراچی څخه لاندینی درج سوی فتوٰی جاری سوی ده)

د جمعي د اول اذان متعلق یوه استفتاء او د هغه جواب

سوال: څه فرمائی حضرات علمائی دین او د شریعت مبین مفتیان د دی مسئلی په باره کی چی:

۱: د جمعی په ورځ د اول اذان څخه وروسته فقهائی کرامو په نزد (سعی الی الجمعۃ) واجب ده چی د هغه مطلب د ټولو په نزد دادی چی لمونځ ګذار جومات طرف ته روان سی او جومات ته په تلوکی څه شی مانع کیدل نه دی پکار مګر داچی د جمعی په تیاری کی مشغول وی یعنی غسل کوی، کپړی بدلوی، تیل، رانجه یا عطر لګوی او بیا د دی نه فارغیدو سره جومات ته روان سی ورسره کله کله د اذان اول څخه مخکی چی د جمعی مذکوره تیاری څخه فارغه سوی نه وی یایی تیاری شروع کړی نه وی نو په اذان اول باندی فوراً دی په تیاری کی مشغول سی په دی شرط چی د خطبی د اذان څخه دومره مخکی فارغیدو سره جومات ته ورسیږی چی په اسانتیا سره سنت اداء سی که داسی ممکن نه وی نو بیا د جمعی تیاری (غسل وغیره) سنت موقوف کړی واجب (جومات) طرف ته دی روان سی.

ورسره د لمونځګذار د پاره ضروری دی چی هغه د جمعی مذکوره تیاری د اذان اول سره شروع کول دی عادت نه جوړوی او په دی دی پوه سی چی داتیاری صرف د اذان اول څخه وروسته اجازت دی او اصل هم داده چی د اذان اول څخه وروسته (سعی الی الجمعۃ) لاندی دی فوراً جومات ته روان سی چی دا عمل واجب دی او په تأخیر سره د واجب ادائیګی د تأخیر ګناه بهٔ وی.

۲: داخبره هم د ټولو فقهائی کرامو په نزد متفق علیه ده چی د اذان اول څخه مخکی یا د اذان اول سره کوم متصل تیاری نه فارغیدو سره جومات ته د راتلو په ځای هم په کورکی صلوٰۃ تسبیح نوافل اداء کوی یا په تلاوت کی مشغولیږی یا درود شریف یا په نورو اورادو او وظائفو کی یا په مطالعه کی مشغولیږی یا د کور په کار کی مشغولیږی نو دامشغولتیا ناجائزده اوس جواب طلب ام دادی چی اکثره جوماتونو

کی د اذان اول او اذان خطبه په مینځ کی د نیمی ګینتی څخه تر یوی ګینتی پوری وقفه وی، چی د هغه په دوران کی زموږ ملا د خپل دننه اوریدونکو د پاره د خوښی او ناخوښی ډیر وجوه لری هم په دی وجه د تقریرونو په اوریدلو او نه اوریدو کی د لمونځګذارو ذوق او مزاج مختلف وی، ځکه اکثره لمونځګذاره د تقریر کیدو په وخت د نورو اعمالو تیرولو ته) ترجیح ورکوی، او ډیر خلګ دا وخت د خرید او فروخت څخه علاوه نور خپل نجی کارونو پوره کولو کی صرف کولو ته ترجیح ورکوی.

ایا په صورۃ مذکوره کی د دی خبری ګنجائش سته؟ چی لمونځ ګذاره د جمعی د تیاری نه فارغیدو سره هم په کورکی صلوٰۃ تسبیح وغیره کی مشغول اوسی؟

(ب): د کور یا په نجی کارونو کی شامل وی او سنت هم په کورکی اداء کړی او د خطبی د اذان څخه مخکی یا د خطبی د اذان سره سره جومات ته ورسیږی؟ که د دی ګنجائش نو داسی کوونکی به د کومی درجی ګنهګار وی؟ د جواب څخه می خبر کړئ، احسانمند می کړئ.

المستفتی صَغیر احمد

احسان منزل امیر معاویه روډ، راج ګړه

چی برجی لاهور ۴۰۰۰ ھ

۱۹/ بیع الاول ۱۴۱۰ ھ

(د دی استفتاء دار الافتاء دار العلوم کراچی د اړخه داجواب درکول سو چی په ماهنامه (البلاغ) کراچی د شوال **۱۴۱۵** ھ په شماره کی هم شائع سوی دی.

جواب: په کومو خلګو چی د جمعی لمونځ فرض دی د هغوی د پاره د جمعی په ورځ د جمعی د مخکی اذان څخه واخله ترجمعی د لمانځه څخه د فارغیدو پوری د مفتٰی به قول مطابق اخستل، خرخول، بیده کیدل، د چاسره په خبروکی مشغولیدل تردی چی په ناسته باندی د قرآن مجید تلاوت کول وغیر ذالك، غرض هغه ټول کارونه او شاغل چی د جمعی طرف ته د تللو په اهتمام کی مخل وی ټول په ټوله مکروه تحریمی یعنی ناجائز دی صرف د خوراك په مسئلی کی داتفصیل دی چی که خوراك طرف ته رغبت دومره غالب وی چی د لمانځه په دوران زړه په هغه کی د اخته کیدو خطره وی او د لمانځه څخه ترفراغته پوری د خوراك بی خونده کیدو خطره وی نو خوراك کولی سی په دی شرط چی جمعی د خطبی د فوت کیدو خطره نه وی، د دی څخه علاوه چی د جمعی

د تیاری متعلق کوم کار چی دی هغه کیدی سی، لکه غسل کول، اودس کول، لباس اغوندل وغیره خو قصداً داکارونه اول اذان پوری مؤخر کول نه دی پکار.

البته یوه اهمه خبره چی د توجه وړده هغه داچی په احادیثو مبارکه کی راځی چی حضور ﷺ د زوال شمس څخه زر به یی د جمعی لمونځ کوی او هم داسی د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کی بشمبول خلفائی راشدین د جمعی لمونځ به د زوال څخه وروسته ژر کیدی، لهذا کله چی د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کی اول اذان شروع سو نو د دی اول اذان او د خطبی د اذان په مینځ کی به زیاته وقفه نه وه، خو نن صبا د جمعی لمونځ د زوال څخه وروسته په تاخیر سره اَداء کیږی، نو بیا د جمعی د خطبی څخه مخکی د تقریر دستور کیدو په وجه خطبه او د جمعی په لمانځه کی زیات تأخیر کیږی او د اذان اول او د خطبی په مینځ کی ډیره وقفه کیږی چی د هغه په نتیجه کی خلګو کی داغفلت پیداکیږی چی خلګ د اول اذان څخه وروسته د (سعی الی الجمعه) اهتمام نه کوی چی اوس لاخطبه کی ډیر وخت دی د خلګو په دی ګناه کی د اخته کیدو یوسبب د هغوی د خپلی کوتاهی او سستی څخه علاوه د جوماتونو منتظمین هم دی، ځکه منتظمینو ته پکار دی چی هغوی د اول اذان څخه وروسته ژر د جمعی اداء کولو اهتمام وکړی، ځکه چی د جمعی د لمانځه اصل وخت (یعنی د ابتداء او انتهاء په لحاظ سره) د ماپښین والا وخت دی، خو د ماپښین په شان په جمعه کی ابراد کول اولی نه دی بلکی په جمعه کی تعجیل افضل دی چنانچی فتاوٰی رشیدیه کی دی:

چی د جمعی او ماپښین وخت پوری خو جمعه لږ مخکی کول ښه دی ځکه چی خلګ د سهار څخه راغلی دی چی هغوی ته ژر فراغت وسی نو بهتره ده فقط.

(فتاوٰی رشیدیه ص: ۲۵۳)

دغه شان مفتی اعظم مولانا عزیز الرحمٰن صاحب قدس الله سِرّہ په خپلی عزیز الفتاوٰی کی د دی سوال په جواب کی چی په پاو باندی یوه بجه جمعه کوونکی په افضلیت باندی دی بل په دوی نیمی بجی کوونکی په افضلیت باندی دی؟ لیکی چی:

په جمعه کی تعجیل افضل دی، یوه بجه او پاو باندی یوه بجه کوونکی باندی کوونکی فه افضلیت کی دی. (عزیز الفتاوٰی ص: ۲۷۴)

او په دوهم ځای کی تحریر فرمائی:

چی د احنافو صحیح مذهب دادی چی، په جمعه کی تعجیل مستحب دی ابراد یعنی تاخیر چی د ماپښین په لمانځه کی د ګرمی په موسم کی مستحب دی هغه په جمعه کی

نه دی، بلکی جمعه ژر اداء کول مستحب دی، او د احادیثو څخه هم د جمعی تعجیل ثابتیږی، وروسته د زوال څخه وروسته مثلاً دولس نیمی بجی د جمعی اذان کیدل پکار دی بیالس پنځلس منټه وروسته خطبه او د هغه څخه وروسته لمونځ کیدل پکار دی مثلا یوی بجی پوری داټول کارونه وسی یا څه لږ کم او زیات.

(عزیز الفتاوٰی ص: ۲۹۸)

لهذا منتظمینو ته پکار دی چی هغوی د زوال څخه وروسته ژر جمعه اداء کړی او ورسره د اول اذان او د خطبی په مینځ کی دی زیاته وقفه نه کوی او د دی صورت دادی چی د اول اذان څخه ډیر ساعت وروسته د تقریر شروع کولو په ځای د اول اذان څخه فوراً وروسته دی تقریر شروع کی او د مختصر تقریر څخه وروسته دی د خطبی د پاره اذان وسی او بیا دی خطبه او لمونځ وسی، یادی اول اذان د تقریر څخه فوراً وروسته وی او د هغه څخه وروسته دی صرف دومره وخت وی چی کوم خلګ لاتراوسه جومات ته نه دی راغلی چی هغوی جومات ته راسی، او سنت وکړی او د دی څخه وروسته دوهم اذان او خطبه او لمونځ وی.

خو داطریقه نن صبا معروفه نه ده، ځکه داشروع کولو څخه مخکی خلګوته مسئله ښوولو سره په ذهنی طور باندی تیار سی چی په وخت باندی خلګوته تشویش نه وی، خو به هرحال د اول اذان څخه وروسته د کور په کار کی یا په کور کی پاته کیدو سره تلاوت یاصلوٰة تسبیح وغیره کی مشغولیدل جائز نه دی، او داسی کوونکی به د مکروه تحریمی مرتکب وی.

قال الله تعالی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوْا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ. (۱)

وفی تنویر الابصار ج: ۲ ص: ۱۶۱ (طبع سعید) ووجب السعی الیها وترك البیع بالاذان الاول وفی الشامیة تحت (قول وترك البیع) اراد به کل عمل ینافی السعی وحصه اتباعا للایة نهر.

وفی بدایع الصنایع ج: ۱ ص: ۴۲۵ (طبع ایچ ایم سعید) لماروی عن عمر رضی الله عنه انه کان یخطب یوم الجمعة فدخل علیه عثمان رضی الله عنه فقال له ایة ساعة هذه؟ فقال:

(۱) سورة الجمعه: ۹.

مازدت حین سمعت النداء یا امیر المؤمنین ! علی ان توضأت، فقال: والوضوء ایضاً وقد علمت ان رسول الله امر بالاغتسال.

وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۲۳ (طبع سعید) سمع النداء وهو یأکل ترکه ان خاف فوت جمعة او مکتوبة لاجماعة رستاقی، وفی الشامیة والاکل الذی تمیل الیه نفسه ویخاف ذهاب لذته عذر فی ترك الجماعة کمامرّ فی بابها لکن یشکل مامرّ من وجوب السعی الی الجمعة بالاذان الاول وترك البیع ولو ماشیا والمراد به کل عمل ینافی السعی فتأمل.

وفی تقریرات الرافعی بتقیید مامر بماهنا یندفع الاشکال وذالك لان حضور الاکل المذکور حیث کان عذرا فی سقوط واجب الجماعة لشغل بال، المصلی یکون عذراً فی سقوط واجب السعی اذ لافرق بین واجب وواجب بخلاف ما اذا خاف فوت الجمعة او الوقت الفوات الفرض لا لواجب. انتهٰی.

وفی صحیح البخاری ج: ۱ ص: ۱۲۳ (طبع قدیمی کتب خانه) عن انس بن مالك ان رسول الله ﷺ کان یصلی الجمعة حین تمیل الشمس، وعنه ایضاً قال: کنا نبکر بالجمعة ونقیل بعد الجمعة.

وفی مصنف العبد الرازق (ج: ۳ ص: ۱۸۵ رقم الحدیث ۵۲۱۲) [۱] عن عطاء قال: بلغنی أن عثمان کان یجمع ثم یقیل الناس بعد الصلوٰة

وفی مصنف لابن ابی شیبه رحمه الله (۲: ۲: ۱) [۲] اخبرنا محمد بن سعد الانصاری عن ابیه قال: کنا نجمع مع عثمان بن عفان ثم نرجع فنقیل.

وفیه ایضاً (۲: ۸: ۱) [۳] عن ابی رزین قال: کنا نصلی مع علی الجماعة فاحیانا نجد فشیئًا واحیانا لانجده.

وفی الدر المختار: (ج: ۱ ص: ۳۹۷) [۴] (وجمعة کظهر اصلا واستحبابا) فی الزمانین لانها خلفة.

---

[۱] مصنف عبد الرزاق، باب وقت الجمعة ج: ۳ ص: ۱۵۷ (طبع المکتب الاسلامی بیروت)

[۲] مصنف ابن ابی شیبه باب من کان یقیل بعد الجمعة ویقول هی اول النهار رقم الحدیث: ۵۱۲۳، ج: ۱ ص: ۴۴۴ (طبع مکتبة الرشید، ریاض).

[۳] مصنف ابن ابی شیبد باب من کان یقول وقتها زوال الشمس وقت الظهر رقم الحدیث: ۵۱۴۴، ج: ۱ ص: ۴۴۵ (طبع مکتبة الرشید ریاض)

[۴] (طبع ایچ ایم سعید).

وفی الشامیة (قوله اصلا) ای من جهة اصل وقت جواز وماوقع فی اٰخره من الخلاف (وقوله استحبابا فی الزمانین) ای الشتاء والصیف ج، لکن جزم فی الشاهٔ من فن الاحکام انه لایسن لها الا براد وفی جامع الفتاوٰی لقاری الهدایة: قیل انه مشروع لانها تؤدی فی وقت الظهر وتقوم مقامه وقال الجمهور: لیس بمشروع لانها تقام بجمع عظیم فتأخیرها مفض الی الحرج ولاکذالك الظهر وموافقة الخلف لاصله من کل وجه لس بشرط اه. والله اعلم بالصواب

الجواب الصحیح بنده محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه

الجواب الصحیح بنده محمد اشرف غفرالله له

الجواب الصحیح بنده محمد تقی عثمانی عفی عنه

الجواب الصحیح بنده عبد الرؤف سکهروی

الجواب الصحیح بنده محمد سبحان محمود

الجواب الصحیح بنده محمد عبد المنان عفی عنه

عبید الله انور میرپوری دار الافتاء دار العلوم کراچی

الجواب الصحیح بنده اصغر علی ربانی

هم په دی ورځو کی د دی مسئلی متعلق د یوی استفتاء په جواب کی جناب مولانا ډاکټر عبد الواحد صاحب یوه فتوٰی ولیکله چی رجب ۱۴۱۵ په رساله (انوار مدینه) کی شائع سوه دافتوٰی په لاندی ډول ده.

د جمعي د اول اذان څخه وروسته د بیع او شرأ وغیره ممنوع کارونو ارتکاب څخه د خلګو بچ کولو د پاره د اول اذان موخر کول جائز دی

سوال: د جمعی د اول اذان څخه وروسته خرید او فروخت او د لمانځه هرمنافی کار پریښوول او جومات ته راتلل واجب دی، خو په خلګو کی د دی اهتمام ډیر کم دی چی د اول اذان په وخت کی جومات ته راسی نو د ترك واجب مرتکب کیږی، خلګ د دی مصیبت څخه بچ سی که داصورت اختیار سی چی اول اذان په تأخیر سره وسی او د دواړو اذانونو په مینځ کی دومره وقفه وسی چی خلګ سنت وکړی، نو ایا داسی کول جائز دی؟ مګر دوهم اذان پاوباندی یوه بجه وی او اول اذان یوه بجه یا پنځه مینته بالا وسی او د زوال وخت پاؤباندی دولس بجی دی، په اردو کی تقریر د اول اذان څخه

مخکی وسی داشان به ډیر خلګ د اول اذان په وخت کی په جوماتو کی موجود وی په
بعضی جوماتونو کی په دی طریقی عمل کیږی.

جواب: د جمعی د اذان اول وخت د زوال څخه متصل وروسته دی هم په دی باندی عملی توارث رواروان دی، په کتب حدیثیه او فقهیه کی هم د دی امر تصریح ده.

۱: په المغنی لابن قدامه کی دی:

ویبدأ وجوب السعی الیها ... وعند الحنیفة بالاذان الاول عند الزوال (بحواله الفقه الاسلامی وادلته ج: ۲ ص: ۲۲۲) (۱)

ترجمه: د احنافو په نزد د جمعی د پاره د سعی وجوب د زوال په وخت اذان اول سره شروع کیږی.

۲: په معارف السنن کی مولانا یوسف نبوری رحمه الله لیکی چی:

وبالجملة فهذا الاذان قبل التأذین بین یدی الخطیب وکان فی اول وقت الظهر متصلاً بعد الزوال (ج: ۳ ص: ۳۹۲) (۲)

ترجمه: اذان اول د خطیب په مخکی اذان څخه مخکی وی او د ماپښین اول وخت کی د زوال سره متصل وی.

۳: مجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر کی دی:

ویجب السعی وترک البیع بالاذان الاول عقب الزوال. (ج: ۱ ص: ۱۷۱) (۳)

ترجمه: د جمعی د پاره سعی او ترک بیع د زوال څخه وروسته د اول اذان سره واجبیږی.

۴: په عمدة القاری کی علامه عینی رحمه الله لیکی:

قوله زاد النداء الثالث انما سما ثالثًا باعتبار کونه مزیداً لان الاول هو الاذان عند جلوس الامام علی المنبر والثانی هو الاقامة لصلوٰة عند نزوله والثالث عند دخول وقت الظهر. (ج: ۶ ص: ۲۱۱) (۴)

---

(۱) (طبع دار الفکر)

(۲) (ایچ ایم سعید)

(۳) مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج: ۱ ص: ۲۵۳ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت)

(۴) (طبع دار الفکر)

ترجمه: مخکی اذان ته چی دریم اذان وئیل سوی دی نو په دی اعتبار سره چی دازیات سوی وو، ځکه چی اول اذان هغه دی چی د امام په مخکی کیږی ځکه چی هغه په منبرباندی ناست وی او دوهم اذان.

۵: په فتح الباری کی علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی:

وتبین بما مضی ان عثمان احدثه لاعلام الناس بدخول وقت الصلوٰة .... الخ. (ج: ۲ ص: ۳۹۴) (۱)

ترجمه: د سابقه کلام څخه ظاهر سول چی حضرت عثمان رضی الله عنه اول اذان ځکه شروع کی چی خلګوته د لمانځه د شروع کیدلو اطلاع وسی.

۶: په تبیین الحقائق کی علامه زیلعی رحمه الله لیکی:

وقال بعض العلماء یجب السعی وترک البیع بدخول الوقت لان التوجه الی الجمعة یجب بدخول الوقت وان لم یؤذن لها احد ولهذا لایعتبر الاذان قبل الوقت. (ج: ۱ ص: ۲۲۳) (۲)

ترجمه: بعضی علماوو وئیلی دی چی سعی او د ترک بیع وجوب د جمعی د وخت په شروع کیدو سره کیږی ځکه چی د جمعی طرفته توجه د وجوب د وخت شروع کیدو سره کیږی، که څه هم د دی د پاره اذان نه وی کړی، ځکه چی د وخت څخه مخکی د اذان اعتبار نسی کولی.

۷: په تفسیرات احمدیه کی حضرت ملاجیون رحمه الله لیکی:

وقال الامام الزاهد المراد بالنداء دخول الوقت اذ به یحرم البیع دون الاذان نفسه. (ص: ۴۷۵) (۳)

ترجمه: امام زاهد ووئیل: چی د نداء څخه مراد وخت شروع کیدل دی چی په دی سره بیعه حرامیږی او عین اذان مراد نه دی.

۸: احکام القرآن کی مولانا ادریس کاندهلوی رحمه الله لیکی چی:

قوله تعالی: وَذَرُوا الْبَيْعَ، اختلف السلف فی وقت النهی عن بیع فروی عن مسروق والضحاک ومسلم بن یسار ان البیع یحرم بزوال الشمس وقال مجاهد الزهری یجرم

---

(۱) (طبع دار النشر الکتب الاسلامیه لاهور)

(۲) (طبع مکتبه امدادیه ملتان)

(۳) تفسیرات احمدیه سورة الجمعة ص: ۷۰۵، ۷۰۶ (مطبعه الکریمی بمبی)

بالنداء وقد قيل ان اعتبار الوقت فى ذلك اولى اذاكان عليهم حضور عند دخول الوقت فلايسقط ذالك عنهم تأخير النداء ولما يكن للنداء قبل زوال معنى دل ذالك على ان النداء الذى بعد الزوال انما هو بعدما قدوجب اتيان الصلوٰة . (ج: ۵ ص: ۲۳) [۱]

ترجمه: ارشاد باری تعالی (وَذَرُوا الْبَيْعَ) د بیع څخه ممانعت د وخت په باره کی په سلفو کی اختلاف پاته سوی دی، د مسروق رضی الله عنه، ضحاک رضی الله عنه او مسلم بن یسار رحمه الله څخه روایت دی چی د لمر د زوال څخه بیع حرامیږی د مجاهد رحمه الله او زهری رحمه الله قول دی چی په اذان سره حرامیږی، داهم وئیل سوی دی چی د دی په باره کی د وخت اعتبار کول اولی دی، ځکه چی د وخت په شروع کیدو سره د خلګو په ذمه د جمعی د پاره حاضری واجبیږی، لهذا اذان موخر کول په دی سره به دا واجب نه ساقطوی ..... الخ.

د دی عبارت څخه لاندی درج سوی خبری مخ ته راځی:

الف: د جمعی اذان د اول وخت زوال څخه متصل وروسته دی.

ب: د بعضی علماوو په نزد د بیع او شراء د حرمت تعلق وخت او زوال سره دی یواځی اذان سره نه دی که د زوال په وخت سره اذان وی نو بیاخو وخت او اذان دواړو سره د ممانعت د حکم تعلق سو او که اول اذان په تاخیر سره وسو نو د ممانعت د حکم تعلق به د زوال سره ثابت وی د اذان وئیلو پوری به موخر نه وی دا دواړی خبری پیش نظر وساته! نو داپوهیدل به ګران نه وی چی د اصلاح احوالو د پاره د کوم صورت ذکر سوال کی سوی دی ډیر غیر مناسب دی، چی په دی کی د ترك واجب د ارتکاب څخه د بچ کیدل خو لاڅه؟ چی عمل توارث او د یوحکم خلاف ورزی لګیاده کیږی. یعنی اول اذان د خپل اصل وخت څخه موخر کول.

په کومو جوماتونو کی چی د اول اذان موخر کولو طریقه اختیار سوی ده، ضروری ده چی هلته داطریقه ختمه سی.

د اصلاح احوال متبادل صورت داکیدی سی چی اول اذان په خپل وخت ساتلو سره اذان ثانی چی څومره کیدی سی مقدم سی خو په دی کی هم دومره وقفه ضرور وساتل سی، چی خلګ اول اذان واوری او جوماتِ ته راجع سی، او د فرضو څخه مخکی سنت وکړی، ځکه چی په یوروایت کی دی:

---

[۱] (طبع ادارة القرآن کراچی).

فاحدث عثمان التأذينة الثانية على الزوراء ليجتمع الناس (عمدة القاری ج: ۶ ص: ۲۱۱) [۱]

(حضرت عثمان رضی الله عنه په زوراء باندی دریم اذان شروع کی چی خلګ جمع سی)

او په یوروایت کی دی:

فاذن بالزوراء قبل خروجه ليعلم الناس ان الجمعة قد حضرت.

(فتح الباری ج: ۲ ص: ۳۹۴) [۲]

ترجمه: (د خپلو تلو څخه مخکی یی په زوراء باندی اذان وکی چی خلګوته معلومه سی چی د جمعی وخت سوی دی.

موده حالاتو ته کتلو سره زموږ په رایه داوقفه نیمه ګینټه خو ضرور پکار ده، یعنی اول اذان خو زوال سره وسی او نیمه ګینټه وروسته دوهم اذان وسی. فقط والله تعالی اعلم

الجواب الصحيح بند محمد قاسم الجواب الصحيح بنده عبد الحميد عبد الواحد غفرله جامعه مدینه لاهر

(د دی فتوی د اشاعت څخه وروسته د حافظ صغیر احمد صاحب د اړخه ډاکټر عبد الواحد صاحب ته لاندی لیکل سوی تحریر واستول سی)

محترم او مکرم حضرت مولانا عبد الواجد صاحب زید مجده! سلام مسنون!

عرض دادی چی د جناب په علم کی دی چی بنده په یوکوشش کی مشغول دی چی د جمعی د لمونځ اداء کوونکی مسلمانان (بالعموم) اول اذان او دوهم اذان په مینځمی وقفی باندی د (سعی الی الجمعة) به منافی امورو کی مشغول وسیږی، چی د هغه په وجه د ترك واجب د ګناه مرتکب کیږی په همدی سلسله کی یوه استفتاء مرتب کولو سره د پاکستان اهم اهم مدارسو څخه می جواب طلب کی او ستاسو څخه هم جواب موصول سوی وو، خو د (انوار مدینه) جلد ۳ شماره ۳ ماه رجب الموجب ۱۴۱۵ هـ د دسمبر سنه ۱۹۹۴ کی هم د دی لاندی یومضمون (استفتاء او د هغه جواب) ولیدی چی د هغه په کتلو سره ماته داخیال پیداسو چی حضرات مفتیان کرام په خدمت کی لیږلو سره د هغوی څخه راهنمائی وغواړم، او د دی تیاری می هم وکړله (د تیاری یوه صفحه هم لف ده) خو یومشفق او محب عالم داراهنمائی وکړله چی د خپل اشکال د حل د پاره

---

[۱] (طبع دار الفكر.

[۲] (طبع دار نشر الکتب الاسلامیه لاهور).

ستاسو په خدمت کې عرض وکړم خدای دې وکړي چې هم جناب توجه کولو سره حل یې
کړئ. اشکال دادی:
داخبره خو متفق علیه ده چې د زوال څخه د جمعې د لمانځه وخت شروع کیږي او
فضیلت هم په دې کې دی چې د دې څخه یعنی زوال څخه هم مخکې یازوال سره تیاری
کول شروع کړي خو فتوی په څه باندې ده د وجوب سعی الی الجمعة اطلاق د زوال
څخه وروسته فوراً وي، او که چیرې (کوم جومات کې) کوم لمونځ کوونکي لمونځ کړي
دی، وجوب اطلاق په هغه لمونځ کوونکي باندې د هغه جومات په اول اذان سره کیږي؟
که د وجوب اطلاق په د زوال سره کیږي، نو بیا د ټول عالم مسلمانانو لره د دې کبیره
ګناه څخه د بچ کولو کوشش به څه وي.

امید دی چې جناب والا د مفتی به قوله په رڼا کې راهنمائی کولو سره به مې احسان
مند کړئ. جزاکم الله تعالی (صغیر احمد)

جواب: (د مفتی عبد الواحد صاحب)

د جناب د اړخه اول چې کومه سوالنامه راغلې ده د هغه او د جواب حاصل داوو چې د
اول اذان څخه وروسته سعی الی الجمعه واجب او په دنیوی کارونو کې اخته کیدل
یاپه داسې شغل کې مشغولیدل چې د هغه په وجه سعی الی الجمعه کې خلل راځي
ناجائز دی، خو یوه خبره د غور قابل ده او هغه داچې د اول اذان وخت څه دی؟ آیا زوال
کیدو سره وسی یاچې کله مناسب خیال وکړي نو ودی سی؟ برابره خبره ده که د زوال
څخه پنځلس منټه وروسته یایوه ګینټه وروسته یا د دې هم زیات تأخیر سره؟

دې خبرې سره خو نه د جناب والا په سوالنامه کې څه تعرض وو او نه د هغه په جواب
کې د دې څخه څه بحث سوی وو (انوار مدینه) کې هم د دې خبرې په باره کې تحقیق
پیش سوی وه، د حوالجاتو څخه داخبره بالکل واضحه ده چې د اول اذان وخت د زوال
کیدو سره دی (لهذا د اول اذان د وخت په باره کې همدا مفتی به قول دی) د فتح الباری
په حواله سره معلوم سول، چې حضرت عثمان رضی الله عنه مخکې اذان ځکه شروع کې چې
خلګوته د جمعې د وخت شروع کیدلو اطلاع وسی، د معارف السنن په حوالی سره
معلوم سول چې د سلفو په دور کې هم هغه وخت اذان کیی او په همدی عملی تواړث
راروان دی.

یومتوارث عمل بدلول کله چې:

۱: اذان اول ځکه شروع سو چې خلګوته د جمعې د وخت شروع کیدو علم وسی.

۲: د اول اذان وخت د زوال سره دی.

۳: د بعضی حضراتو په نزد د بیع وغیره حرمت د زوال شمس سره دی (او د دې قول د
نوی کیدو علم د دې څخه کیږي چې علامه زیلعی رحمه الله په تبیین کې (۱) او مولانا
ادریس کاندهلوی رحمه الله په احکام القرآن کې (۲) داقول نقل کولو سره یې نه خو د دې
تضعیف کړی دی او نه یې د دې خلاف کړی دی).

۴: کوم مصلحت چې د جناب د نظر لاندې دی د هغه د تفصیل متبادله طریقه موجوده
ده چې په (انوار مدینه) کې ذکر سوی ده یوه غیر مناسب او قابل ترک بلکې واجب
الترک او واجب الاحتراز طریقه ده.

دا خو یوه اتفاقیه (Accidental) خبره ده چې اذان اول د زوال کیدو سره نه دی سوی
بلکې څه تأخیر سره به وئیل سوی وي، په هغه وخت دا اختلاف مخ ته راغی چې وجوب
سعی د زوال سره وي یا د اذان سره خو دا اتفاقیه خبره موږ عملی معمول نسو جوړولی،
عملی معمول به هم هغه وي چې د حوالجاتو څخه ثابت سو چې د زوال کیدو سره باید
اول اذان وسی او داشان عملاً (Pyctically) په وجوب د سعی د زوال او اذان دواړو سره
مقترن وي.

فقط والله تعالی اعلم

عبد الواحد غفرله

۲۰/ شعبان/ ۱۴۱۵ هـ

(د دې څخه وروسته ماهنامه (البلاغ) او ماهنامه (انوار مدینه) کې شائع کیدونکې
تحریرات د یوسوال سره حضرت مولانا مفتی عبد الشکور ترمذی صاحب په خدمت
کې پیش سول نو حضرت موصوف د هغه جواب په لاندې ډول تحریر کې.

جواب: د حضرت مولانا مفتی عبد الشکور ترمذی رحمه الله:

د جمعې د خطبې څخه مخکې داتقریر د ګنو صحابه کرامو څخه رضی الله عنهم ثبوت پیداکیږي
لکه چې مستدرك حاکم کې [illegible] دی، چې حضرت ابوهریره رضی الله عنه د جمعې په ورځ د خطبې
څخه مخکې په [illegible] حضو[illegible] [illegible]ث بیانول، کله چې به امام د

(۱) تبیین الحقائ[illegible]
(۲) احک[illegible]

خطبی د پاره راتلی نو هغه به خپل تقریر موقوف کوی. (مستدرك حاكم ج: ۱ ص: ۱۰۸، ج: ۱۲ ص: ۵۱۲) [1]

قال الحاكم والذهبی صحيح [2] (ازاره سنت مولانا محمد سرفراز خان صاحب) [3]

دغه شان په مستدرك كی د حضرت عبد الله بن بسر رضی الله عنه د جمعی په ورځ د خطبی څخه مخکی وعظ کول منقول دی [4] (واصابه فی تذکرة الصحابه ج: ۱ ص: ۱۸۴) [5] کی دی چی د حضرت تمیم داری رضی الله عنه په اصرار باندی به حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته اجازت ورکړی وو چی د جمعی په ورځ مخکی د دی څخه چی زه د خطبی د پاره راسم تقریر کولی سی، مستدرك حاكم او اصابه کی ذکر سوی د دی واقعانو څخه ثابتیږی چی د هغه بعضی صحابه کرامو رضی الله عنهم معمول : جمعی د خطبی څخه مخکی تقریر او وعظ کول وو، او داهم د صحیح احادیث مباركه څخه ثابت دی چی حضور صلی الله علیه وسلم به د زوال شمس څخه وروسته ژر د جمعی لمونځ اداء کوی، اوهمدا طریقه د خلفائے راشدینو هم وه، چی د جمعی لمونځ به یی د زوال څخه وروسته ژر کوی. په صحیح بخاری کی دی:

عن انس بن مالك ان رسول الله صلی الله علیه وسلم كان يصلی الجمعه حين الشمس وعنه ايضاً قال: نبكو بالجمعة ونقيل بعد الجمعة (ج: ۱ ص: ۱۲۳) [6] وفی مصنف لعبد الرزاق (ج: ۳ ص: ۱۸۵) [7]

---

[1] وفی المستدرك على الصحيحين، كتاب معرفة الصحابه ج: ۳ ص: ۵۸۶ (طبع دار الكتب العلميه بيروت) عن عاصم بن محمد عن ابيه قال: رأيت اباهريره يخرج يوم الجمعة فيقبض على زمانتى المنبر قائماً ويقول: حدثنا ابوالقاسم ان رسول الله الصادق المصدوق صلی الله علیه وسلم فلايزال يحدث حتى اذاسمع فتح باب المقصورة لخروج الامام لصلوٰة جلس، هذا حديث صحيح الاسناد ..... الخ.

[2] وګورئ حاشيه نمبر ۱.

[3] راه سنت ص: ۳۰۱ (طبع نصرت العلوم گوجرانواله)

[4] وګورئ مستدرك حاكم، كتاب الجمعة ج: ۱ ص: ۴۲۴، ۴۲۵ (طبع دار الكتب العلميه بيروت)

[5] د دی روایاتو د تفصیل او حوالی د پاره راه سنت ص: ۳۰۱ (طبع نصرة العلوم گوجرانواله) مولفه حضرت مولانا سرفراز خان صفدر دامت بركاتهم ملاحظه کړئ.

[6] (طبع قديمی كتب خانه)

[7] مصنف عبذ الرزاق باب وقت الجمعة ج: ۳ ص: ۱۷۵ (طبع المكتب الاسلامی بيروت).

عن عطاء قال: بلغنی ان عثمان كان يجمع ثم يقيل الناس بعد الصلوٰة وفی مصنف لابن ابی شيبه (ج: ۲ ص: ۱۰۶) [1] اخبرنا محمد بن سعد الانصاری عن ابيه قال: كنا نجمع مع عثمان بن عفان ثم نرجع فنقيل، وفيه ايضاً (ج: ۲ ص: ۱۰۸) [2] عن ابی رزين قال: كنا نصلی مع علی رضی الله عنه الجمعة فاحياناً نجد فيئًا واحيانا لانجده

او د فقهائی کرامو د عبارتونو څخه هم داراجح معلومیږي:

وفی الشامية لكن جزم فی الاشباه من فن الاحكام انه لايسن لها الابراد وفی جامع الفتاوی الهداية قبل انه مشروع لانها تؤدی فی وقت الظهر وتقوم مقامه وقال الجمهور ليس بمشروع لانها تقام بجمع عظيم فتأخيرها مفض الى الحرج ولا كذالك الظهر وموافقة الخلف لاصله من كل وجه ليس بشرط (ج: ۱ ص: ۳۶۷) [3]

اوس خو داظاهره ده چی ترڅو اول اذان چی د هغه ابتداء د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کی سوی ده، ترهغه وخته خو داتقریر او وعظ یقیناً د اذان او خطبی څخه مخکی به وو، ځکه چی د اذان شافعی او خطبی په مینځ کی د تقریر او وعظ نفی صراحتاً د برنی روایاتو څخه کیږی، په هغه کی تصریح ده چی کله به امام د خطبی د پاره راتلی نو کی د تبکیر لحاظ هم ډیر وو، اکثره خلګو به په جمعه کی د تبکیر د فضیلت حاصلولو د پاره د سهار څخه جومات ته راتلل، نو د هغوی د پاره وعظ او تقریر د اذان څخه مخکی مناسب وو، خوکله چی په خلګو کی سستی پیداسوه نو اول اذان د زوال په وخت خلګو ته د جمعی د وخت ښوولو د پاره شروع سو، نو اوس کله چی د زوال په وخت د اول اذان ابتداء په زوراء باندی وسوه، او دوهم اذان عند المنبر د خطبی څخه مخکی وسوه نو معلومه نه ده چی دغه وخت د تقریر او وعظ به د اذان على الزوراء څخه مخکی کیدی او که وروسته؟

د خلګو په تکاسل او سستی باندی نظر کولو سره په ظاهره خو هم دامعلومیږی چی داتقریر او وعظ د اذان على الزوراء څخه وروسته وو، چی اوس خلګ د تبکیر فضیلت

---

[1] مصنف ابن ابی شيبة باب من كان يقيل بعد الجمعة ويقول هی اول النهار رقم الحديث ۱۲۳ ج: ۱ ص: ۴۴۴ (طبع مكتبة الرشد رياض)

[2] مصنف ابن ابی شيبع باب من كان يقول وقتها زوال، الشمس وقت الظهور رقم الحديث: ۵۱۴۴ ج: ۱ ص: ۴۴۵ (طبة مكتبة الرشد الرياض).

[3] (طبع ايچ ايم سعيد).

په حاصلولو باندی دومره حریص پاته نسولو چی د اذان څخه مخکی خود بخود پخپله جمع کیږی ځکه د دوی د جمع کولو او د جمعی د وخت خبرتیا د پاره خو دا اذان علی الزوراء مشروع سو.

کله چی د خلګو اجتماع د اذان څخه وروسته کیږی نو بیا د اجتماع څخه مخکی د تقریر او وعظ څخه څه فائده متصور نه ده او د اذان څخه مخکی د اجتماع معمول کله چی په زمانه خیر القرون کی کم سوی وو، نو اوس د دی د پاره خلګ تیارول به د یوګران کار مترادف وی.

ځکه د (البلاغ) همدا تجویز متعین او د سلفو د عمل موافق دی چی د اول اذان څخه فوراً بعد تقریر شروع سی او د مختصر تقریر څخه وروسته د خطبی د پاره اذان وسی او بیا خطبه او لمونځ وسی (۵۳)

دوهم تجویز چی اول اذان د تقریر څخه فوراً وروسته وی او د هغه څخه وروسته صرف دومره وخت وی چی کوم خلګ جومات ته نه وی راغلی چی هغوی راسی او سنت وکړی او د هغه څخه وروسته دوهم اذان، خطبه او لمونځ وکړی، داطریقه علاوه د دی څخه چی معروفه نه ده او په دی باندی د هرځای او هرجومات خلګ جمع کول مشکل دی، د اول اذان څخه مخکی د خلګو جومات ته راتلل په دی حرص او دنیا کی د انهماك په زمانه کی ډیر ګران دی او د سلفو د معمول څخه هم خلاف معلومیږی.

د جمعی د پاره اصل داعی هم اذان دی (وَاِذَانُوْدِیَ لِصَّلٰوۃِ) باندی دی (فَاسْعَوْ اِلٰی ذِکْرِ اللهِ) مرتب دی، په دی دوهم تجویز کی به اصل داعی وعظ او تقریر وی، خلګ به د هغه د پاره جمع کیږی بیابه په دی صورت کی داتقریر او وعظ د اول اذان سره په اتصال کی وی چی د سلفو د معمول خلاف دی، د هغوی معمول تقریر او وعظ د خطبی د اذان څخه مخکی او په دی سره اتصال وو، بیا په دی صورت کی اذان د خپل وخت څخه موخر کول دی، ځکه چی د دی اصل وخت، عند الزوال دی په دی تجویز کی به اول تقریر وی، د دی څخه وروسته به اول اذان وی، او اول اذان پخپل وخت زوال باندی وئیل پکار دی، او دا ؛ خپل ځای څخه ایسته کول پکار نه دی، د جمعی د اذان اول وخت د زوال سره متصل وروسته دی او هم په دی باندی د توارث عمل راروان دی، د احادیثو په کتابونو کی هم د دی صراحت موجود دی.

الغنی لابن قدامه کی دی:

۱: ویبدأ وجوب السعی الیها .... عند الحنیفة بالاذان الاول عند الزوال. (بحواله الفقه الاسلامی وادلة ج: ۲ ص: ۲۶۲) [۱]

د احنافو په نزد د جمعی د پاره د سعی وجوب د زوال د وخت د اول اذان څخه شروع کیږی.

۲: مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر کی دی: ویجب السعی وترك البیع بالاذان الاول فی عقب الزوال (ج: ۱ ص: ۱۷۱) [۲]

د جمعی د پاره سعی او ترك البیع د زوال او اذان اول څخه شروع کیږی.

۳: په فتح الباری کی علامه ابن حجر فرمائی:

وتبین بمامضیٰ ان عثمان احدثه لاعلام الناس بدخول وقت الصلوٰة (ج: ۲ ص: ۳۹۴) [۳]

د سابقه کلام څخه ظاهره سوه چی حضرت عثمان رضی الله عنه اول اذان د دی د پاره شروع کړی وو چی خلګوته د لمانځه د وخت شروع کیدلو اطلاع وسی.

۴: معارف السنن کی مولانا محمد یوسف بنوری رحمه الله لکی چی:

وبالجملة فهذا الاذان کان قبل التأذین بین یدی الخطیب وکان فی اول وقت الظهر، متصلا بالزوال. (ج: ۴ ص: ۳۹۲) [۴] چ

اول اذان د خطیب د مخکی اذان مخکی او د ماپښین په اول وخت کی د زوال سره متصل کیږی. (از انوار مدینه لاهور)

د پورتنیو ذکر سوو حواله جاتو کی د فتح الباری د عبارت څخه واضح دی چی د اذان د مشروعیت غرض د!بنوول سوی دی چی خلګو ته د جمعی د لمانځه د وخت داخلیدلو اطلاع وسی، اوپه نورو حوالو کی هم دا اذان (عند الزوال) عقب الزوال سره مقید سوی دی چی د هغه څخه داواضحه کیږی چی د دی اذان اصل وخت د زوال څخه فوراً وروسته هم متصل دی، ځکه چی په عرف کی (عند) او (عقب) د ګینتی څخه وروسته دپاره نه استعمالیږی، او علامه بنوری رحمه الله خو (فی اول وقت الظهر متصلا بالزوال) لیکلو سره د دوهم احتمال ګنجایش پرینښی نه ښووی، نو په کومو جوماتونو کی اول

---

[۱] (طبع دار الفکر)

[۲] (مجمع النهر ج: ۱ ص: ۱۵۳) طبع دار الکتب العمیه بیروت.

[۳] (طبع دار نشر الکتب الاسلامیه لاهور)

[۴] (طبع ایچ ایم سعید).

اذان د وخت څخه موخر کولو سره د کولو طریقه اختیار سوی ده، داختمول ضروری دی، ځکه داعمل توارث او د سلفو د تصریحاتو خلاف کیدو سره د هغه اذان د مشروعیت د غرض هم خلاف دی کمامرّ.

نو په اول تجویز باندی عمل کول پکار دی، چی اول اذان باید د ماپښین د وخت شروع کیدلو سره ووئل سی، او پنځلس شل منټه وقفه د لمونځ کوونکو جومات ته د راتلو او اودس وغیره د پاره د مختص کولو اعلان وسی د دی څخه وروسته نیمه ګینټه مختصر ضروری وقتی مسائلو باندی مشتمل وعظ کیږی، بیا دوهم اذان او لمونځ کیږی، د اودو تقریرونو او بی ضرورته مضامینو بیانولو چی کوم رواج شروع سوی دی د دی د اصلاح کولو طرف ته توجه کولو او توجه ورکولو ضرورت دی نه داچی اصلاً وعظ او تقریر بند سی یاعمل توارث د سلف څخه اخواکیدو سره نوی طریقه جاری سی.

نن صبا تعلیم یافته طبه او د مغربی تهذیب دلداده ډله غواړی چی په هره هفته کی د خیر کلمه د ټولو مسلمانانو په غوږونو کی د جمعی د خطبی څخه مخکی پریوځی، د هغه موقع پاته نسی، حالانکی په دی موعظو سره د یوی لویی طبقی، اصلاح کیږی او په کثرت سره مسلمانان د دی څخه په استفاده کولو د خپلو اعمالو او عقائدو اصلاح کوی، او داهم هفته وار تبلیغ عام او د عوامی اصلاح پروګرام دی خو په هرخیر کی د شریعت د حدودو پابندی او د اعتدال لحاظ ساتل ضروری دی او د غلو څخه احتیاط کول لازم دی، خطباء او مبلغینو او واعظینو ته د خپل منصب خیال ساتل ضروری دی.

که زموږ خطیبان د شریعت په حدودوکی د ننه په دی عمل وکړی نو دابه(یتخولنا بالموعظة) باندی د عمل کولو ذریعه کیدی سی ، آزاده طبقه داختمول غواړی او په څو قسمه اعتراضونو سره په دی عمل خیر باندی قدغن لګول غواړي اصل دادی چی هغوی د علمائی کرامو او خطبائی عظامو خبره اوریدل نه سی برداشت کولی، الله ﷻ دی فهم سلیم ورکړی او موږ ته دی د خپلی اصلاح توفیق نصیب کړی. امین والله اعلم

سید عبد الشکور ترمذی عفی عنه

جامعه حقانیه ساهیوال سرګودها

۱۲/ شوال / ۱۴۱۵ ھ

(داټول تحریرات حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی دامت برکاتهم په خدمت کی پیش سول، حضرت دامت برکاتهم د دی ټولو تحریراتو مطالعی کولو څخه وروسته درج ذیل جواب تحریر کی چی په هغه باندی شیخ الحدیث حضرت مولانا سبحان

محمود صاحب رحمه الله علیه او مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب هم تائیدی دستخطی وکړی.

جواب: (د حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم)

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد!

احقر په دی موضوع باندی مرسله د ټولو تحریرونو مطالعه وکړله په دی ټولو تحریرونو کی احقر د دی تحریر سره حرف په حرف متفق دی چی د دار العلوم کراچی څخه جاری سوی دی او په (البلاغ) کی شایع سوی دی.

اصل خرابی د دغه ځای څخه پیداسوی ده چی جمعی یی د خپل وخت مستحبه (تعجیل) څخه ډیره موخر سوی ده، اولاً د دی خبری د ترغیب ضرورت دی چی د تعجیل جمعی سنت ژوندی سی.

دوهم د اذان اول او ثانی په مینځ کی طویل فصل نه وی چی د هغه صورت یاخو دادی چی تقریر دی د زوال حضرت مخکی وسی او د زوال څخه وروسته متصل اول اذان او لس پنځلس منټهٔ وروسته دوهم اذان وی، یا بیاتقریر د دواړو اذانونو په مینځ کی وی، نو چی هغه د پنځلس ، شل منټو څخه زیات نه وی، او مفصل تقریر د جمعی څخه وروسته یا د زوال څخه مخکی وی، د اول اذان څخه مخکی د اردو تقریر په باره کی داخطره ده چی خلګ به د تقریر اوریدلو د پاره نه راځی، د تجربی څخه وروسته ثابته نه سوه.

کوم خلګ چی تقریر اوریدل غواړی هم هغوی مخکی هم راځی او څوك چی یی اوریدل نه غواړی هغوی یی محض د اول اذان د وجی عموماً نه راځی، بلکی د دوهم اذان انتظار کوی او ګنهګاریږی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۲/ ۱۲/ ۱۴۱۵ ھ

(فتوی نمبر ۳۳/ ۱۷۸)

پورته ذکر سوی تحریر د ناچیز په رایه کی درست دی او د دار العلوم کراچی د دار الافتاء څخه چی دغه فتوی جاری سوه او په (البلاغ) کی شائع سوی ده، هغه هم درسته ده، البته د احقر په نزد د دواړو اذانونو په مینځ کی وقفه که نیمه ګینټه هم وسی نو څه خبره نه ده چی په هغه کی شل پنځه ویشت منټه د سنتو پیداکیدی سی، او د خلګو د

پاره به انشاء الله په دی کی به څه تکلیف هم نه وی، او څوك چی د ګناه څخه بچ کیدل غواړی هغوی به د تکلیف څخه بغیر بچ سی. سحبان محمود.

والله سبحانه اعلم

تاچیز محمد رفیع عثمانی عفی عنه

۱۴۱۵/۱۲/۲۳ ه

فصل في العيدين

د اخترونو متعلق د مسائلو بیان

د اختر د لمانځه څخه وروسته باید دعاء وسي یا د خطبي څخه وروسته؟

سوال: د اختر لمونځ پسی که متصل دعاء ونسی د پاره د دی چی یوه دعاء په تأخیر سره د خطبی څخه وروسته دعاء وغوښتل سی نو آیا داجائز دی؟ د خطبی څخه وروسته بیا د څه وعظ کولو څخه وروسته دعاء وسی نو څه قباحت خو به نه وی؟

جواب: دعاء د لمانځه څخه وروسته متصل مسنونه ده، د خطبی څخه وروسته اجتماعی طور دعاء کول یوځای هم ثابته نه ده [1]. فقط

والله سبحانه اعلم

۱۳۸۷/۱۲/۱۴ ه

(فتوی نمبر ۱۴۵۷/ ۱۸ الف)

د تکبیرات تشریق په باره کي د امام اعظم او صاحبینو کي د اختلاف تحقیق

سوال: مسئله داده چی د تکبیرات تشریق په سلسله کی حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او صاحبینو په مینځ کی اختلاف دی په دی مسئله کی مفتی به قول د امام صاحب دی او که د صاحبینو؟

[1] د دلائلو او تفصیل د پاره په همدی فصل کی ص ۵۹۲ فتوی او د هغه نمبر ۳ حاشیه وګورئ.

جواب: په اصل کی د تکبیر تشریق په سلسله کی د امام صاحب او د صاحبینو په مینځ کی په دوو مسئلو کی اختلاف دی، مخکی مسئله داده چی تکبیر تشریف به ترڅو جاری وی؟ په دی کی د امام صاحب مسلك دادی چی د یوم عرفی د فجر څخه د یوم النحر تر مازیګر پوری او صاحبین د ایام تشریق اخری ورځ (یعنی ۱۳/ ذی الحجه) ترمازیګره پوری تشریف واجب وایی، په دی مسئله کی احنافو فقها وو یودروند اکثریت د صاحبینو په قول باندی فتوی ورکړی ده [1]، او شیاد علامه ابن همام [2] او د صاحب بدائع څخه ماسوا [3] معروف فقهاء حنفیه کی چاهم په دی مسئله باندی د امام صاحب په قول فتوی نه ده ورکړی او پخپله حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی رحمه الله هم په دی مسئله کی د جمهور فقهاء حنیفیه مطابق هم د دی قائل دی چی په دی مسئله کی فتوی د صاحبینو په قول باندی ده [4]، او چونکی دامت متوارث عمل هم په دی راروان دی او ائمه ثلاثه هم د دی قائل دی، نو په دی مسئله کی عمل د صاحبینو په قول باندی کول پکار دی.

البته دوهمه مسئله داده: چی تکبیر تشریق په کومو خلکو باندی واجبیږی په دی کی د صاحبینو قول دادی چی داپه هرهغه سړی باندی واجب دی چی په چالمونځ فرض دی، لهذا منفرد سړی، ښځه، مسافر او کلیووالو باندی په ټولو تکبیر واجب دی، لهذا په منفرد سړی، ښځه باندی، د ښځو په جمع باندی په مسافرو باندی (کله چی د هغوی سره څوك مقیم نه وی) اوپه کلی والو باندی تکبیر واجب نه دی، په دی مسئله کی د فقهائی حنفیه ترجیحات مختلف دی، بعضی فقهاء مثلاً: صاحب بحر، صاحب سراج وهاج او صاحب جوهره په دی مسئله کی د صاحبینو په قول باندی فتوی ورکړی ده. (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۶۲)

[1] وفی الدر المختار قبیل باب الکسوف ج: ۲ ص: ۱۸۰ ... الی عصر الیوم الخامس اخر ایام التشریق وعلیه الاعتماد وفی الشامیة قوله وعلیه الاعتماد) هذا بناءً علی انه اذا اختلف الامام وصاحباه فالعبرة لقوة الدلیل وهو الاصح ... وبه اندفع مافی الفتح من ترجیح قوله هنا ورد فتوی المشائخ بقولهما بحر.

[2] وګورئ فتح القدیر ج: ۲ ص: ۴۸، ۴۹.

[3] وګورئ بدایع الصنائع ج: ۱ ص: ۱۹۵، ۱۹۶. (طبع ایچ ایم سعید)

[4] وګورئ اعلاء السنن ج: ۸ ص: ۱۲۴، ۱۲۵. (طبع ادارة القرآن کراچی)

او بعضو په دی مسئله کی د امام صاحب قول اختیار کړی دی او د بعضی فقهاوو عبارتونه دواړو ته مشتمل دی، په دی معامله کی د حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله تحقیق دادی چی فتوٰی د امام صاحب په قول باندی ده [1] ځکه چی هغه روایتاً او درایتاً اقوی دی، بهشتی ګوهر هم دا اختیار کړی دی، او ورسره یی داهم وئیلی دی: که مسافر او ښځه یی هم ووایی نو ښه دی، په دی کی شك نسته چی د حضرت مولانا عثمانی دلائل قوی دی، بالخصوص د حضرت علی رضی الله عنه حدیث: لاجمعة ولاتشریق ولاصلوٰة الفطر الافی مصر جامع [2] سره د دی تائید کیږی خو دوهم اړخ ته هم دلائل سته او بعضی فقهاوو هم دی ته ترجیح ورکړی ده، خو که څوك په دی عمل وکړی نو په هغه باندی نکیر هم درست نه دی، خاصکر بهشتی ګوهر د عدم وجوب په تقدیر باندی هم دی ته بهتر وئیلی دی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۲/۱۱/۳۰ هـ

(فتوٰی نمبر ۱۷۲۲/ ۳۷ هـ)

۱: عرب امارات کي اختر لمونځ کوونکي د پاره پاکستان کي دوباره د اختر لمونځ کولو حکم

۲: داسي سړی د شوال نفلي روژی د کله څخه شروع کړی؟

سوال: جناب ګرامی قدر ... السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

مشکور به یم که دلاندی درج سوو سوالونو مو د اسلامی تعلیماتو په رڼا کی جواب راکی، جواب لفافه شامل هذا ده.

۱: سائل د رمضان میاشت کی عرب امارات ته تللی وو، هلته د اختر میاشت یوه ورځ مخکی په نظر راغله (یا اختر یوه ورځ مخکی وسو) د اختر لمونځ کولو سره د شپی کراچی ته راورسیدم (په ذریعه دهوائی جهاز) کراچی، کښی په صباباندی اختر وو، پوښتنه داکول دی چی سائل ته دلته د اختر لمونځ کول ضروری وو او که نه؟

[1] راجع اعلاء السنن ابواب العیدین. باب تکبیرات التشریق وانها لاتجب علی اهل المصر ج: ۸ ص: ۱۲۸، ۱۲۹ (طبع ادارة القرآن کراچی).

[2] اعلاء السنن ج: ۸ ص: ۱۲۷ (طبع ادارة القرآن کراچی)

۲: دوهمه خبره داده چی وئیل کیږی چی د رمضان ختمیدو څخه وروسته شپږ روژی وساتل سی نو د دی ډیر ثواب دی او د پوره کال روژو نیولو ثواب ورکول کیږی، پوښتنه داکول دی چی سائل د اختر لمونځ په امارات کی اداء کړی وه، اوس په کراچی کی ماته داشپږ ورځی روژی د اختر د ورځی څخه نیول پکار دی؟ یاپه کراچی کی د اختر ورځ تیرولو سره ابتداء وکړم؟ وئیل کیږی چی د اختر په ورځ صرف د شیطان روژه وی؟

جواب: ۱: په صورت مسئوله کی سائل ته کراچی ته د رارسیدلو سره هم د اختر لمونځ کی شاملیدل پکار دی، او هم د اختر د لمونځ نیت کول پکار دی ځکه چی په دی صورت کی خو څه صریح حکم د فقه په کتابونو کی پیدانه سو، خو اصول دادی چی سړی په کوم ملك یابنار کی وی، هم د هغه احکامو اعتبار وی لهذا کراچی ته رارسیدو څخه وروسته ستا د پاره هم دا د اختر ورځ ده، که د دی خبری لحاظ وسی، نو د اختر لمونځ هم ستا د پاره ضروری دی، خوبل طرفته تایووار د اختر لمونځ کړی دی، که د دی لحاظ وسی نو ضروری نه دی، دواړو احتمالاتو باندی د عمل محتاط شکل همدادی چی هغه دی د اختر په لمانځه کی په نیت د اختر شامل سی چی د واجب کیدو په صورت کی واجب اداء سی، ورنه هغه به نفل جوړسی.

۲: د شپږو روژو د اختر متصل کیدل ضروری نه دی [1] لهذا هغه روژی د کراچی په لحاظ سره، دوهم شوال څخه شروع کړه په دی کی څه شبه نسته.

والله سبحانه اعلم

۱۴۲۲/۴/۴ هـ

(فتوٰی نمبر ۷۳/ ۴۸۳)

د احنافو د غیر مقلد په اقتداء کي د اختر لمونځ کولو حکم

سوال: په یومیدان کی اول څخه مغربی اړخ ته اهل حدیث د اختر لمونځ کولو اوس احناف هم مشرقی اړخ کوی، اوس احناف وایی چی په موږ پسی لمونځ کوئ او هغوی وایی چی موږ چونکی دولس تکبیرونه وویل او تاسو شپږ تکبیره ووایاست، لهذا په

[1] وفی البحر الرائق کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۲۵۸ (طبع سعید) ومنه ایضاً صوم ستة من شوال عند ابی حنیفة متفرقًا کان اومتتابعًا وعن ابی یوسف کراهته متتابعًا لامتفرقًا، لکن عامة المتأخرین لم یردا به بأسا .... الخ.

تاسو پسی لمونځ نه صحیح کیږی ایا احناف په هغوی پسی لمونځ کولی سی؟ هرکله
چی خپل مینځ کی جن
هم ختم سی؟

جواب: د اختر په لمانځه کی چی د کوم تعارض ذکر وسو هغه واقعتًا مناسب نه دی چونکی اهل حدیث حضرات د ډیری مودی څخه هلته لمونځ گوونکی راروان دی نو احنافو حضراتو ته پکار ده چی هغوی بل ځای کی لمونځ وکړی، یاځه وقفه ورکولو سره هم د هغه میدان یوی بلی حصی کی لمونځ ادای کړی، او که داصورت ممکن نه وی نو په خپل مینځ کی د جنګ څخه بچ کیدو د پاره دی د اختر لمونځ دولس تکبیرونه اداء کړی، که څه هم د احنافو په نزد خلاف اولی دی.

ولوزاد تابعه الی ستة عشر لانه مأثور، وقال الشامی فی آخر، مطلب تحب طاعة الامام فیما لیس بمعصیة، وذکر فی البحر ان الخلاف فی الاولولیة ونحوه فی الحلیة. (الدر المختار) (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی بلند شهری
والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۷/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ
(فتویٰ نمبر ۱۴۳۳/ ۱۸ الف)

په یو قمام باندی د اختر د دوو جمعو کولو د دوو صورتونو حکم

سوال: څه فرمائی علمائی دین او مفتیان د شرع متین په دی مسئله کی چی موږ خلګ پاکستان سټیل ملز کراچی لیبر شفټ کی کار کوو او یوشفټ د ډیوټی څخه د فراغت څخه نیمه ګینته وروسته دوهم شفټ په ډیوټی حاضریږی، په دی مناسبت سره زموږ خواته د اخترونو لمونځونه هم دوه واره یوځای کی اداء کیږی چی د هغه صورت مندرجه ذیل دی:

(۱) الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۱۷۲، ۱۷۳. (طبع سعید) وفی الهندیة الباب السابع العشر فی صلوٰة العیدین ج: ۱ ص: ۱۵۱ (طبع رشیده کویته) قال محمد رحمه الله فی الجامع اذ ادخل الرجل مع الامام فی صلوٰة العید وهذا الرجل یریٰ تکبیر ابن مسعود رضی الله عنه فکبر الامام غیر ذالك اتبع الامام الا اذ اکبر الامام تکبیرا لم یکبره احد منها الفقهاء وحینئذٍ لایتابعه کذافی المحیط.

۱: یوځای کی یوجومات کی دوه واره صلوٰة عید نیمی ګینتی او وقفی څخه وروسته د یو امام په اقتداء کی اداء کیږی، امام یو دی او مقتدیان په اول صف کی د یوشفټ خلګ وی.

۲: هم په یوځای کی او یوجومات کی دوه واره د اخترونو جماعت داشان کیږی چی اول وار په مخکی شفټ کی د یو امام په اقتداء کی او دوهم شفټ د دوهم امام په اقتداء کی اداء کوی، اوس سوال دادی چی یوځای او یومقام کی د صلوٰة عیدین جماعت اول او جماعت ثانیه هم د یو امام په اقتداء کی جائز دی او که ناجائز؟

په اول صورت کی مقتدیان بدل سول خو امام هم یودی، او په دوهم صورت کی امام هم مختلف او مقتدیان هم مختلف دی، خو عیدگاه او د لمانځه ځای یو دی نو آیا په یوه عیدگاه کی جماعت ثانیه صلوٰة عیدین به جائز وی او که نه؟ او په دی دواړو کی به کوم یولمونځ صحیح وی؟

جواب: مسئوله د دوو صورتونو کی مخکی صورت یعنی هم د یوامام پسی دوه جلا جلا جماعتونه خو بلکل جائز نه دی، او په دی صورت کی به دوهم جماعت د خلګو لمونځ به هم نه کیږی (۱) او دوهم صورت هم بغیر د شدیدی او سختی مجبوری څخه اختیارول درست نه دی (۲) لهذا یاخو دی هم یوامام پسی د ټولو خلګو په یووخت د لمونځ اداء کولو انتظام وسی، او یاکه دوه جمعی د څه وجی ضروری وی نو د دوو جلا جوماتونو یاعیدګاهونو د دوو جلاجلا امامانو پسی دی اداء سی.

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۱۳/ ۱۴۰۲ هـ
(فتویٰ نمبر ۷۸۷/ ۵۰۳۷)

(۱) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۵۷۹، ۵۸۰ (ولایصح اقتداء) ... مفترض بمتنفل .... الخ همدارنګه وګوری فتاویٰ دار العلوم دیوبند ج: ۵ ص: ۲۲۴ (سوال نمبر ۲۲۸۷/ ۱).

(۲) ځکه چی په یوځای کی تعدد الصلوٰة عید درست نه دی، وفی البحر الرائق باب العیدین ج: ۲ ص: ۱۷۲ فاذا فاتت مع امام وامکنه ان یذهب الی امام اخر فانه یذبه الیه لانه یجوز تعددها فی مصر واحد فی موضعین واکثره اتفاقًا، او همدارنګه وګورئ امداد الاحکام ج: ۱ ص: ۷۴۳.

د ځای د تنګوالي په وجه په یو ځای کي د اختر د دوو جمعو حکم

سوال: په یو جومات کی د عیدینو په موقعه باندی د ځای د تنګوالی په وجه او مستقل ځلا ځای د نستوالی په وجه د اختر لمونځ هم په هغه جومات کی چیری چی مخکی جمع کیږی دوهمه جمعه د مذکوره شکایت په وجه جائز ده او که نه؟

جواب: د ځای د تنګوالی په وجه که هم په یو ځای دوی جمعی وسی نو د عدم جواز هیڅ وجه نسته، حضرت مولانا عبد الحی لکهنوی رحمه الله د یو سوال په جواب کی تحریر فرمائی: د فقهی د ظاهری عبارتونو څخه معلومیږی، چی تعدد د اختر د لمانځه مطلقاً جائز دی یو ځای کی یا دوو ځایونو کی لکه چی طحطاوی حواشی مراقی الفلاح کی لیکی: ولوقدر بعد الفوات مع الامام علی ادراکها مع غیره فعل، للاتفاق علی جواز تعددها (۱) (مجموعة الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۴۳۹) (۲) والله اعلم

۱۴۰۲/۵/۶ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۷۰/ ۳۷ ب)

د اختر د لمانځه څخه وروسته دعاء پکار ده او که د خطبي څخه وروسته؟

سوال: د عید الفطر په ورځ یو امام صاحب چی عالم هم دی د تقریر په دوران کی یی ووئیل: چی د اخترونو په لمونځونو کی سلام ګرځولو سره دعاء کول سنت دی، د دی خبری په تحقیق کی می علم الفقه وکتله په هغه کی دا عبارت درج وو، د اخترونو د لمانځه څخه وروسته یا د خطبی څخه وروسته دعاء غوښتل د نبی ﷺ او د هغه د اصحابو څخه منقول نه ده، که دی حضراتو چیری دعاء غوښتلی وی نو ضرور به نقل سوی وه، لهذا د اتباع په غرض نه کول بهتر دی (ص: ۴۹۰) دا عبارت د مولوی صاحب د تغلیط د پاره کافی دی، په بهشتی زیور کی د دی برعکس عبارت موجود دی، یعنی د اصحاب کرامو رضی الله عنهم او تابعینو څخه منقول نه دی، مګر د هرلمانځه څخه وروسته دعاء مسنون ده، ځکه په اخترونو کی به هم دعاء مسنونه وی، د دی وضاحت وکړئ چی اطمینان راته وسی.

جواب: دغه مولوی صاحب چی کومه خبره کړی ده هغه صحیح ده په اخترونو کی د لمانځه څخه وروسته اجتماعی دعاء مسنون ده، د خطبی څخه وروسته مسنون نه ده،

(۱) حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ۳۹۲ (طبع نور محمد کتبخانه)

(۲) مجموعة الفتاویٰ عدب الحی رحمه الله ج: ۱ ص: ۳۲۷ (طبع ایچ ایم سعید)

حقیقت هم هغه دی چی بهشتی زیور لیکلی دی چی که څه هم خاص اخترونو کی لمونځ څخه وروسته دعاء غوښتل روایاتو څخه ثابت نه دی (۱) خو چونکی د هرلمانځه څخه دعاء کول ثابت دی، ځکه په دی کی عیدین هم شامل دی او د خطبی څخه وروسته دعاء کولو ثبوت هیڅ چیری هم نسته او د یوبند د اکابرو هم دامعمول پاته سوی دی او بهشتی زیور په فقهی اعتبار سره د علم الفقه په مقابله کی زیات مستند او معتبر کتاب دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۳/۲۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۳۵۷/ ۲۸ ب)

د اختر په لمانځه کي امام تکبیرونه پریښوولو سره فاتحه شروع کړی نو څه حکم دی؟

سوال: د کوشنی اختر په لمانځه کی امام صاحب نیت وتړی ثناء ووئیلو څخه وروسته یی الحمدلله شریفی ویل شروع کړل د دی څخه وروسته چا فتحه ورکړه په فتحه ورکولو باندی امام صاحب الحمد شریف بنده کړل دوه زائد تکبیرونه یی ووئیل او بیایی الحمد شریف شروع کړل یو تکبیر بیاهم پاته سو ایا په دی صورت کی لمونځ وسو او که نه؟

جواب: د اختر تکبیرات زواید واجب دی که د امام څخه هیرسی او هغه پریږدی او سورة فاتحه شروع کړی نو ترڅو چی قرأت مکمل سوی نه وی نو په یاد کی راتلو یا د چافتحه ورکولو باندی تکبیرونه وئیل پکار دی او د تکبیرونو څخه وروسته بیا قرأت د سره ویل پکار دی، لهذا امام صاحب خو داکار صحیح کړی دی چی سورة فاتحه یی بنده کړه او تکبیرونه یی ووئیل خو یو تکبیر یی پریښووی د قاعدی مطابق په دی

(۱) د اختر په اجتماع کی د دعاء ذکر بخاری شریف ج: ۱ ص: ۱۳۴ په دی روایت کی پیداکیږی: قالت ام عطیة امرنا ان نخرج فیخرج الحیض والعواتق وذوات الخدود فیشهدن جماة المسلمین ودعوتهم ویعتزلن مصلاهم خو د لمانځه یاخطبی ه وروسته هیڅ تعین روایات نه پیداکیږی لهذا په نورو لمونځونو باندی قیاس کولو سره د اختر د لمانځه څخه وروسته د دعاء موقع معلومیږی لکه چی نور حضرات اکابرو هم لیکلی دی وګورئ امداد الفتاویٰ ج: ۱ ص: ۴۰۵ تر ۴۰۷ پوری او امداد المفتیین ص: ۴۰۸ (طبع دار الاشاعت اوفتاویٰ دار العلوم ج: ۸ ص: ۲۳۱، ج: ۵ ص: ۲۳۱.

باندی سجده سهوه لازمیدل پکار وو، خو په اخترونو کی سجده سهوه نه لازمیږی ځکه
نو مذکوره لمونځ وسو، فی رد المختار: ان بدأ الامام بالقراۃ سهوا فتذکر بعد الفاتحة
والسورة، یمضی فی صلوته وان لم یقرأ الا الفاتحة کبر واعاد القرأة لزوماً. (۱)
وفیه ایضاً: ان العود الی التکبیر قبل اتمام القرأة لیس لاجل المستحب الذی هو
الموالات بل لاجل استدراك الواجب الذی هو التکبیر. (شامی باب العیدین) (۲)
وفی الدر المختار (والسهو فی صلوٰة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء
والمختار عند المتأخرین عدمه فی الاولیین لدفع الفتنة کما فی جمعة البحر واقره
المصنف وبه جزم فی الدر (شامی باب سجود السهو.

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۰/ ۱۳۹۶ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۳۵۳/ ۲۷ ھ)

فصل في المسائل الجديدة والمتفرقة المتعلقة بالصلوٰة

د لمانځه سره متعلق جدید او متفرقو مسائلو بیان

په لمانځه کي د سپیکر استعمال

سوال: د احقر په جومات کی د جمعی په ورځ نژدی خطیب څخه سخت اواز د تقریر ډیر
مشوش کوونکی دی د احباب خصوصی رایه ده که صرف د دننه جومات هارن استعمال
سی نو د ټولو لمونځگذارو لمونځ به سکون سره وسی که نه یی ټول لمونځگذار به د
خطیب صاحب د تقریر څخه پریشانه وی بعضو د دین بزرگانو په لمانځه او خذبی کی د
دننه جومات هارن استعمال هم نه خوښوی ځکه به احقر هم لمانځه او خطبی کی د دننه
جومات هارن استعمال نه کوئ خو د ټولو لمونځ گذارو د اضطراب او تشویش پیش
نظر تاسوته مراجعت دی که د جومات د ننه هارن سره خطبه او د جمعی لمونځ اداء سی
نو آیا څه شرعی قباحت سته؟ ورسره احتیاطا د مکبیرینو انتظام هم وسی، که خدای

(۱) ردالمختار: ۲ ص ۱۷۳ (طبع سعید)
(۲) رد المختار: ۲ ص: ۹۲ (طبع سیعد).

ناخواسته بجلی فیل سی نو په لمانځه کی به خلل نه وی، او اله مکبر الصوت هغه ده
چی بټن سره لگولی سی. والسلام

(المستفتی مولانا) حکیم محمد اختر (صاحب مدظلهم)
خانقاه امدادیه اشرفیه، گلشن اقبال کراچی

جواب: په لمانځه کی د مکبر الصوت د الی استعمال جائز دی او په دی سره لمونځ هم
نه فاسدیږی بیاهم که څوك د بعضی علماوو د اختلاف په وجه احتیاط وکړی نو بنه
دی، خو استعمال کوونکو باندی تکبر نه دی پکار په دی شرط چی هغه یی حدودو کی
د ننه استعمالوی، د مسئلی علمی تحقیق حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب
قدس سره کتاب آلات جدیده، کی موجود دی (۱) لهذا صورت مسئوله کی د ننه مکبر
الصوت خلاصوولو کی څه شرعی قباحت نسته.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ۵/ ۱۴۰۵ ھ

(فتویٰ نمبر ۸۰۹/ ۳۸ ج)

ایا په لاوډ سپیکر باندی لمونځ صحیح کیږی؟

سوال: اله مکبر الصوت (لاوډ سپیکر) باندی فرض لمونځ جائز دی؟ او که نه که جائز
وی نو ولی، کریم اباد بلاك نمبر ۴ په جومات کی دی مسئلی ډیر سخت نزاعی حیثیت
اختیار کړی دی، دوو ډلو کی ډیر سخت جنگ دی.

جواب: لاوډ سپیکر باندی فرض لمونځ جائز دی او بغیر د کراهت څخه کیږی خو بنه
داده چی بغیر د ضرورت څخه لاوډسپیکر استعمال نسی، د دی مسئلی تفصیلی دلائل
مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد رفیع صاحب رحمه الله په رساله کی / آله مکبر
الصوت، کی موجود دی دارساله په الات جدیده کی چاپ سوی ده، تفصیل د پاره دی
هغه وکتل سی (۲)

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۹۰/ ۱۳۹۶ ھ

(۱) او پخپله د حضرت امت برکاتهم تفصیلی فتویٰ مخکی را روانه ده. (مرتب عفی عنه)
(۲) او پخپله د حضرت امت برکاتهم تفصیلی فتویٰ مخکی راروانه ده.

(فتوی نمبر ۲۴۲۱/ ۲۷ هـ)

ایا په لاوډسپیکر لمونځ کولو کي زیات ثواب دی؟

سوال: آیا جهری لمونځونه لاوډسپیکر باندی کولو کی ډیر ثواب دی، آواز ترلری پوری ځی.

جواب: ترڅوچی ضرورت نه وی لمونځ بغیر د لاوډ سپیکر څخه کول پکار دی په لاوډ سپیکر باندی د لمانځه جواز خو د ضرورت په حالاتو کی دی بغیر د وجی څخه د لاوډ سپیکر استعمال ښه نه دی خاصکر کله چی لری لری پوری آواز ځی چیری چی خلک په وب یانورو کارونو مشغول نو د دی د استعمال کراهت نورهم زیاتیږی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۱۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۲۲/ ۲۸ ج)

په جوماتو کي د خانه کعبي او مسجد نبوی تصویرونه زړیدلي وی نو په دی صورت کي د لمانځه حکم

ال: په اکثرو جوماتونو کی د کعبی شریفی او مدینی منوری تصویرونه زړیدلی وی دی حالت کی خو به په لمانځه کی څه نقص نه وی؟

ب: لمونځ خو کیږی خو د دی تصویرونو د لمونځ کوونکی مخ ته کیدل څه بهتر نه

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

په جوماتونو کي د لاوډسپیکر شرعي احکام

ل: څه فرمائی علمائی دین چی آله مکبر الصوت (لاوډسپیکر) د تراویحو د پاره ه تیز استعمالیږی چی ټولی محلی ته د هغه آواز رسیږی چی په هغه کی په لاندی قباحتونه معلومیږی.

محلی ښځو ته د لمونځ اداء کول مشکل کیږی.

۲: د محلی مریضان او ضعیفان چی د هغوی د علاج د پاره زر بیده کیدل ضروری وی، نسی بیده کیدل.

۳: تلاوت په ادب سره، د سماعت اهتمام د محلی والاو څخه نسی کیدلی.

۴: د سجده تلاوت وجوب که لاوډ سپیکر سره کیږی نو د محلی ضعیفانو او ښځو باندی سجده تلاوت واجب کول او د هغوی د اړخه د هغه ادائیګی اهتمام فقدان یا مشکل کیږی.

په دی سلسله کی د شریعت د احکامو څخه مو ازراه کرم خبر کړئ. بینوا وتوجروا.

العارض

مولانا حکیم محمد اختر عفاالله عنه

(مدرسه اشرف المدارس، ګلشن اقبال کراچی)

جواب: په تراویحو کی دومره زیات په لوړ اواز سره لاوډ سپیکر استعمالول چی د هغه په وجه سوال کی مذکوره قباحتونه راځی نو جائز نه دی، چنانچی فقهاء کرامو د دی خبری صراحت کړی دی چی ذکر الله په دومره اواز سره کول چی په هغه سره د چا په عبادت یاخوب کی خلل راځی صحیح نه دی، مشکوٰة شریف کی د حضرت ابو قتاده ؓ څخه مروی دی چی: حضور ﷺ یوه شپه د باندی تشریف وی وړی، نو وی لیدل چی حضرت عمر ؓ په لمانځه کی دی او ډیر په لوړ اواز سره تلاوت کوی، بیاچی کله حضور ﷺ د حضرت ابوبکر ؓ خواته ورسیدی، نو وی لیدل چی هغه هم په لمانځه کی دی او په کرار اواز باندی تلاوت کوی، بیا چی کله دواړه حضرات د حضور ﷺ په خدمت کی حاضر سول، نو حضور ﷺ ابوبکر صدیق ؓ ته وفرمائیل: چی زه ستاخواته تیر سوم او ته په لمانځه وی او په کرار دی تلاوت کوی، حضرت ابوبکر صدیق ؓ عرض وکی ای د الله رسوله! ماهغه ذات ته رسوی د چاسره چی می سرګوسی کوله، بیا حضور ﷺ حضرت عمر ؓ ته وفرمائیل چی زه ستاخواته تیرسوم ته په لمانځه کی وی او په زوره دی تلاوت کوی، حضرت عمر ؓ عرض وکی چی ماخو بولی بیداره کول او شیطان می ترټی، نو حضور ﷺ وفرمائیل: ای ابوبکر! تاسو خپل آواز لږ لوړ کړئ او حضرت عمر ؓ ته یی وفرمائیل تاسو خپل اواز لږ ټیټ کړئ. (مشکوٰة شریف ج: ۱ص: ۱۷۰ باب مایقو[illegible]) (۱)

(۱) (طبع قدیمی کتب [illegible]

د دی حدیث څخه هم معلومه سوه چی په دومره لوړ آواز سره تلاوت کول چی په هغه سره د بیمارانو په آرام کی او د ښځو په لمانځه کی خلل واقع کیږی صحیح نه دی، د دی څخه اجتناب کول ضروری دی، او د لاوډ سپیکر استعمال په وخت د ضرورت او په قدر د ضرورت کول پکار دی.

قال الشامی: وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفًا وخلفًا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهورهم علی نائم او مصل او قاری اه. ج: ۱ ص: ۴۴۴) [۱]

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ ذی الحجه ۱۴۰۷ هـ [۲]

په تراویحو کي د لاوډ سپیکر د استعمال حکم او په سپیکر کي د تراویحو په دوران کي د سجدی ایت رواروان وی نو باید څه وسي؟

سوال: زه چی په کوم جومات کی قرآن کریم اورم هغه جومات کوشنی دی او د امام آواز مقتدیانو ته په اسانه رسیږی، د دی باوجود د اتو کالو څخه په دی جومات کی په لاوډسپیکر باندی تراویح کیږی او د اکثریت رایه هم داده چی : په لاوډ سپیکر باندی حسب سابق تراویح دی کیږی، خو یوسړی دوه د دی مخالف دی او هغوی بغیر د لاوډسپیکر څخه په تراویح کولو باندی زور ورکوی، هم په دی دوران کی یوه دوی ورځ اسپیکر خراب وو نو د متصل د کانونو او هوټل څخه د ریکاډنګ اوازونه دومره راتی چی تراویح کول ګران سول د منع کولو باوجود هغوی ونه منل، د دی څخه علاوه که په لاوډ سپیکر باندی لمونځ ونه سی نو د مسدجد د شاوخوا اوازونه هم خلل اندا کیږی چی د هغه د وجی پریشانی جوړیږی، که موږ په خپل جومات کی حسب سابق لاوډسپیکر باندی تراویح کوو، نو د دی خللونو څخه محفوظ پاته کیدی سی، خو یو

[۱] رد المختار فی رفع الصوت بالذکر ج: ۱ ص: ۲۲۰ (طبع سعید)

[۲] دافتوی د البلاغ شماره محرم الحرم ۱۴۰۷ هـ څخه اخستل سوی ده.

دوه کسان جګړه کوی چی بغیر د لاوډ سپیکر څخه تراویح کوه، پرون شپه خو په دی باندی د جګړی نوبت زیات رالی، په دی حالاتو کی شرعًا څه حکم دی؟

۲: د سجدی آیت که د تراویحو په رکعتونو کی راسی نو ایا لاوډ سپیکر به بندولو سره وئیل کیږی؟ او که حسب سابق د نورو رکعتونو، دابه هم لاوډ سپیکر باندی کول کیږی؟

جواب: په سوال کی چی تاسو کوم لیکلی دی د هغه پیش نظر لاوډ سپیکر باندی په تراویحو کی څه مضائقه نسته [۱] البته بهتره داده چی د لاوډ سپیکر اواز دومره کم سی چی د جومات څخه د باندی اواز ولاړ نسی.

۲: که د جومات څخه د باندی اواز نه ځی یا ډیر کم ځی نو بیا خو د سجدی ایت هم په لاوډسپیکر باندی وکړی ورنه د سجدی ایت په ویلوسره دی امام خپل آواز نسبتًا ټیټ کړی او که دا ممکنه نه وی نو چی په کومو دوو رکعتونو کی د سجدی ایت راروان وی نو لاوډسپیکر بند کړی.

والله سبحانه اعلم

۲۶/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۹۱/ ۲۸ ج)

په ریل کي د سفر په دوران کي څنګه لمونځ باید وسي؟

سوال: په ریل کی د سفر په دوران کی لمونځ څنګه وسی په ناسته یا په ولاړه؟ او ورسره داهم راته وښایی که د سفر په دوران کی قبلی طرف ته مخ صحیح نه وی نو ایا لمونځ به وسی؟

جواب: هم په ولاړه کول واجب دی [۲] او د قبلی طرف ته رُخ کیدل فرض دی د دی څخه بغیر لمونځ نه کیږی که رُخ معلوم نه وی نو معلومولو د پاره خپل پوره کوشش وکړه او کوم طرفته چی غالب ګمان وی هغه طرف ته مخ کولو سره لمونځ وکړه.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱/ ۱۴۲۱ هـ

[۱] تفصیل په سابقه فتوی وګوری.

[۲] وفی تنویر الابصار ج: ۱ ص: ۴۴۴، ۴۴۵ (طبع سعید) من فرائضها.... ومنها القیام فی فرض لقادر علیه.

(فتوىٰ نمبر ۲۵۱ / ۵۸)

په هوائي جهاز کي لمونځ اداء کول جائز دی؟

سوال: د سفر په دوران کی هوائی جهاز کی لمونځ کيږی او که نه؟ په جهاز کی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: جائز دی [1]؟

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱/ ۱۴۱۲هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۵/ ۵۸)

د بې لمانځه حکم

سوال: د بې لمانځه څه حکم دی؟ اوريدلی می دی چی بی لمانځه د سپی څخه هم بدتر دی؟ ايا د سپی جهوته جائز ده؟

جواب: بيلمانځه فاسق دی خو کوم مسلمان ته د سپی څخه بدترويل درست نه دی [2].

فقط والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

---

(1) د تفصيل د پاره وګورئ امداد الفتاوىٰ ج: ۱ ص: ۳۹۴ تر ۳۹۲ پورى.

(2) وفی مشكوٰة المصابيح، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم ج: ۲ ص: ۴۱۱ (طبع قديمى كتب خانه) سباب المسلم فسوق وقتاله كفر.

كتاب الجنائز

د جنازي لمونځ او د تجهيز او تکفين مسائل

۱: د جنازې لمونځ وركولو كي كوم امام بايد مقدم سي؟

۲: د سړي د نه موجوديت په صورت كي په ښځي باندې د جنازې لمونځ كول لازم دي؟

سوال: هل امام الجمعة مقدم على امام مصلى العيد لصلوٰة الجنازة ام امام مصلى العيد مقدم على امام الجمعة؟ مع الحوالة

جواب: لم ارمن صرح بهذا والذى ينبغى أن يقدم امام الجمعة لان الرضأبه اتم واكثر من امام مصلى العيد وهو العلة فى التقديم فى الصلوٰة الجنازة. والله اعلم.

سوال: اذا نقل الميت من موضعه الى موضعة أخرىٰ لضرورة فأيها أحق بالامامة؟ امام موضعة الميت ام امام موضعة الذى نقل فيها الميت؟

جواب: امام الحى الذى كان يسكنه الميت اولى من امام الحى الذى انتقل اليه لان علة تقدم امام الحى ان الميت رضى بالصلوٰة خلفه حال حياته فينبغى ان يصلى عليه بعد وفاته كماصرح به الشامى وفى رد المختار [۱] والحلبى فى شرح المنية (ص: ۵۴۱) [۲] وهذه العلة انما توجد فى امام الحى الذى كان الميت يسكنه دون الحى الذى انتقل فيه.

سوال: اذامات الرجل فى نساء ليس فيها احد من الرجال فعلى المرأة صلوٰة الجنازة أم لا؟

جواب: نعم لامانع من وجوب صلوٰة الجنازة على النساء اذا لم يكن فى الحى رجل غير أنه لايجوز لهن غسله وانما عليهم التيمم، لما فى الدر المختار مات بين رجال او هوبين نساء يممه المحرم فان لم يكن فالاجنبى بخرقة. (شامى) [۳]

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقى عثماني عفى عنه

---

[۱] وفى الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۲۰ (طبع ايچ ايم سعيد) امام الحى وفى الشامية تحته ... وانما كان اولى لان الميت رضى بالصلوٰة خلفه فى حال حياته فينبغى ان يصلى عليه بعد وفاته ... الخ.

[۲] غنية المتملى ص: ۵۸۵ (طبع سهيل اكيڈمى لاهور)

[۳] الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۰۱ (طبع سعيد).

۱۳۸۸/۵/۲۳ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۱۳/ ۱۹ الف)

د جنازې د وړلو په وخت ځلوېښت قدمونه شمارلو سره ميت ته د ايصال ثواب كولو حكم

سوال: د مړي د جنازې لوړولو په وخت زموږ خواته په عوامو كي دا مروج ده چي ځلويښت قدمونه شميرلى سى او مړي ته د هغه ثواب رسول كيږي ايا شرعي طور باندي د دې څه جواز سته؟

جواب: داشان قدمونه شمارل او د هغه د ثواب رسولو شرعًا څه ثبوت نسته، دارسم واجب الترك دى.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۱/۱۰/۲۲ هـ

(فتوىٰ نمبر ۱۰۹۲/ ۳۲ ج)

مړي ته دوه واره د غسل وركولو رسم

سوال: زموږ خواته دا رواج دى چي مړي ته دوه واره غسل وركول كيږي يو غسل د مړكيدلو په وخت فوراً د قرآن شريف د وئيلو د پاره وركول كيږي او دوهم غسل جنازه اداء كولو په وخت كه اول غسل صحيح هم وى څه نجاست وغيره ظاهر هم نه وى نو بيا هم دوهم غسل ضرور وركوى شرعًا څه حكم دى؟

جواب: مړي ته صرف يووار غسل وركول مشروع دى او داكار د مرګ څخه وروسته ژر ژر نه كول پكار دى [۱] دوه واره غسل وركولو څه ثبوت په شريعت كى نسته، داطريقه واجب الترك ده.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۲/۱۲ هـ

(فتوىٰ نمبر ۵۹۱/ ۲۹ ب)

---

[۱] وفى الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۳۹ (طبع ايچ ايم سعيد) يندب دفنه فى جهة موته وتعجيله وفى الشامية تحته (قوله وتعجيله) اى تعجيل جهازه عقب تحقق موته .... الخ.

د ښځې د انتقال ځخه وروسته د خاوند د پاره د هغه مخ کتل څنګه دی؟

سوال: که د یوسړی د ښځې انتقال وسی نو آیا د هغه خاوند ته وروسته د مرګه د هغه د مخ کتلو اجازت سته او که نه؟ او جنازه هم پورته کولی سی او که نه؟ دغه شان ښځه د خپل خاوند مخ کتلی سی او که نه؟

جواب: د خاوند د پاره د خپلی ښځی مخ کتل د مرګ ځخه وروسته بالاتفاق جائز دی خو هغه ته غسل یالاس لګولو ځخه فقهائی حنفیه منع کړی ده، او ښځه د خپل خاوند د مړکیدو ځخه وروسته هغه کتلی هم سی او غسل هم ورکولی سی.

لما فی الدر المختار: ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح، وهی لاتمتع من ذالك. (شامی) [1]

والله سبحانه اعلم

۷/ ۲/ ۱۳۹۸ ھ

(فتوی نمبر ۱۴۷/ ۲۹ الف)

په جومات کې د جنازې لمونځ کولو حکم

سوال: د آدم جی نګردمکه مسجد ابادیدلو (۱۵) کاله وسول، د هغه وخت ځخه د جنازی لمونځ د جومات په میدان کی کیدی، د امام صاحب د امامت په آخری ورځو کی د محراب په منیځ کی کړکی ماتولوسره دروازه جوړه سوه او د محراب ځخه د باندی ځلور فته د نګه چوتره جوړه سوه اوس په چوتره باندی جنازه اینښوول کیږی او د محراب دروازه خلاصه سی، د جنازی لمونځ په جومات کی کولی سی، نوی امام صاحب د جنازی داطریقه بنده کړی ده او د اول په شان لمونځ په خلاص میدان کی شروع سو، مولانا مفتی محمد اسماعیل صاحب په ګجراتی کتاب کی چی د فتوی کتاب دی لیکلی دی چی د جنازی لمونځ په هرحالت کی په جومات کی کول په هرمذهب حنفی کی مکروه تحریمی دی، اوس کومه یوه طریقه صحیح ده؟ په بهشتی ګوهر کی یی څه مسئله لیکلی ده؟ او وئیل کیږی چی حرمینو کی په جومات کی د جنازی لمونځ کولی سی تاسو واضح کړی چی څه حکم دی؟

---

[1] الدر المختار: ۲ ص: ۱۹۸ (طبع ایچ ایم سعید)

جواب: که مړی د محراب ځخه د باندی اینښوولو سره د جنازی لمونځ په جومات کی د ننه وسی نو د راجح قول مطابق داصورت هم مکروه دی خو که شا اوخوا ته د جنازی لمونځ کولو څه بل ځای نه وی نو مجبوراً بیا فقهاوو د دی اجازت ورکړی دی، خو په صورت مسئوله کی د جومات سره هم د جومات خلاص میدان موجود دی، نو د کوم جومات په باره کی چی سوال دی هلته په جومات کی د ننه بغیر د عذر ځخه مکروه دی، د نوی امام صاحب طریقه درسته ده چی د جنازی لمونځ په خلاص میدان کی کوی، همداسی پکار دی.

لمافی الدر المختار: واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده او مع بعض القوم والمختار الکراهة مطلقًا خلاصة ..... وهو الموافق لاطلاق حدیث ابی داود من صلی علی میت فی المسجد فلاصلاة له (وقال الشامی انما تکره فی المسجد بلاعذر فان کان فلا، شامی) [1]

بهشتی ګوهر [2]، امداد الفتاوی [3] کی مسئله همداشان ده، او کله چی د جومات سره خلاص ځای موجود دی نو د مکروه تحریمی او تنزیهی په بحث کی غورځیدل نه دی پکار او د باندی لمونځ کول پکار دی، د حرمینو شریفینو امامان صاحبان په مذهب کی حنبلی دی او په مذهب حنبلی کی جومات کی د ننه د جنازی لمونځ جائز دی [4].

والله سبحانه اعلم

۲۰/ ۲/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۲۴۳/ ۲۸ ب)

---

[1] الدر المختار مع رد المختارج: ۲ ص: ۲۲۵، ۲۲۲ (طبع سعید

[2] بهشتی ګوهر ص: ۹۴ مسئله نمبر ۱۷ (طبع میر محمد کتبخانه

[3] امداد الفتاوی ج: ۱ ص: ۵۳۳، ۵۳۴)

[4] وفی المغنی لابن قدامة مع الشرح الکبیر ج: ۲ ص: ۳۵۸ (طبع دار الکتاب العربی بیروت) بالصلوة علی المیت فی المسجد اذالم یخف تلویثد .... الخ.

په جوماتِ کي د جنازې د لمانځه حکم (فارسي)

سوال: در صحن مسجد پنج وقتی یا در صحن مسجد جامع بصورت غیر معتاد نماز جنازه جائز بلا کراهت است یانه؟

جواب: نماز جنازه در مسجد جائز نیست کذافی کتب الفقه ([1]) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه　　احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۸ /۲/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۳۲۲/ ۱۹ الف)

د لحد غورځیدو په وجه دوباره د قبر جوړولو حکم

سوال: مړی په لحد کی کښی ښوول سو او ښخ سو او لحد په مړی باندی پریوتی اوس اکثره خلګ غواړی چی لحد صفا کړی یابل قبر کښی نستلو سره ښخ یی کړی د دی مړی په باره کی د غسل او دوباره کفن به څه حکم وی؟

جواب: غسل خوبه دوباره نسی ورکولی خو د لحد غورځیدو په وجه دوباره قبر جوړولو کی داتفصیل دی که په قبر باندی خاوره نه وی اچول سوی خو بیا خو د مړی راایستو سره دوباره د قبر جوړولو اجازت دی.

لانه لیس بنبش کما فی البدائع ولو وضع لغیر القبلة فان کان قبل اهالة التراب علیه وقد سردوا اللبن ازالوا ذالك لانه لیس بنبش وان اهیل علیه التراب ترك ذالك لان النبش حرام (بدائع ج: ۱ ص:۳۱۹) ([2])

او که خاوره اچول سوی وی نو مړی دی منتقل نسی بلکی هغه هم هغه ځای کی باقی اینښوولو سره د لحد مرتب کول دی وسی.

لمافی الدر المختار ولایخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق اٰدمی ([3]).

وفی رد المختار واما نقله بعد دفنه فلامطلقا (شامی ج: ۱ ص: ۲۰۲) ([4])

([1]) د حوالی د پاره وګورئ د تیری (ص) حاشیه نمبر ۲- ۴ پوری او امداد المفتیین ص: ۴۴۵.

([2]) (طبع ایچ ایم سعید)

([3]) الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۳۷، ۲۳۸ (طبع سعید)

([4]) شامی ج: ۲ ص: ۲۳۹ (طبع ایچ ایم سعید)

او د مرمت د پاره که څه قبر وکښل سی نو د دی اجازت سته.

لمافی تنقیح الحامدیة: سأل فی ما اذا قرر القاضی زیدا المعماری فی حفر قبور الموتی وتعمیرها واصلاحها للاحتیاج لذالك لاهلتیه واتقانه، ویرید بعض الحفارین منعه ذالك بلا وجه شرعی فهل یمنع المعارض (الجواب) نعم یمنع (تنقیح الحامدیة ج: ۱ ص: ۸) ([1]).

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۵۲/ ۲۸ الف)

مړی ته غسل ورکولو څخه وروسته د جسم څخه د وینې بهیدو په صورت کي شرعي حکم

سوال: مړی ته د غسل ورکولو څخه وروسته که د غوږ وینه را وځی نو د پمبو بوجه غوږ کی د وینی بندیدو د پاره اینښوول جائز دی؟ داشان د بدن په نورو اجزاوو کی هم؟

جواب: غسل ورکولو څخه وروسته که د جسم څه حصی څخه وینه ووځی نو چونکی د غسل دوباره ورکول واجب نه دی ([2]) ځکه صرف هغه ځای صفا کول کافی دی بیاهم د غوږ وغیره څخه وینه راځی نو په هغه ځای کی پمبه کښی ښوول سی بیاهم څه حرج نسته ولابأس بجعل القطن علی وجهه وفی مخارقة کدبر وقبل وأذن رقم (الدر المختار علی هامش الشامی ج: ۱ ص: ۸۵۳) ([3]) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه　　احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۹/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۱۷۳/ ۱۹ الف)

([1]) (طبع المکتبة الحبیبیه کویته) وفی التاتار خانیه ج: ۲ ص: ۱۷۰ اذا خربت القبور فلابأس بتطیینها الماروی ان النبی ﷺ مربقبر ابنه ابراهیم فرای فیه حجرا سقط منه فسده واصلحه ثم قال من عمل عمل فلیتقنه وفی حاشیة اعلاء السنن ج: ۸ ص: ۲۲۲ (طبع ادارة القرآن) نقلا عن المغنی لابن قدامة عن ابن عمر انه کان یتعاهد قبر عاصم ابن عمر، قال نافع توفی ابن له، وهو غائب فقدم فسألنا عنه فدللنا علیه فکان یتعاهدُ القبر ویأمر باصلاحه.

([2]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۹۷ (طبع ایچ ایم سعید) ولایعاد غسله ولاوضوء بالخارج منه.

([3]) الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۹۸ (طبع مذکور).

د يوځای څخه بل ځای ته د مړي د وړلو حکم

سوال: د ډېر سختو او مشکلاتو پيش نظر د هری علاقی سره تعلق لرونکو خپل انجمنونه او رفاهی اجتماع ګانی جوړی کړی دی او د انجمن يا اجتماع په هرعضو په باقاعدګی سره ماهوار چنده مقرر ده چی باقاعدګی سره اخستل او ورکولی سی او د هر انجمن سالانه انتخابات کيږی چی په هغه کی د انتظاميی ممبران ټاکلی سی وغيره وغيره،

اوس د ټولو کلو سوسائټيانو او انجمنونو د رايوځای کولو سره د پوری علاقی په نوم سره دلته په کراچی کی يوفډريشن جوړ سوی دی چی د هغه نوم يونائيټډ ستی ويلفير فيډريشن دی د فيډريشن چلولو د پاره د هری يوی سوسائټی څخه ممبران اخستل کيږی، چی د هغوی باقاعده کوټه مقرر ده او هره سوسائټی فډريشن ته ماهانه مقرره چنده ورکوی او داشان د فډريشن نظام په احسن طريقی سره چليږی بعضی اوقات فډريشن د متعلقه سوسائټيانو څخه هنګامی چنده يارقوم وصولوی.

اوس مندرجه ذيل دوی مسئلی د دی په رڼا کی عنايت کړئ؟

١: زموږ د فډريشن د نګرانی لاندی او اخراجاتو باندی که خدای ناخواسته زموږ د علاقی کوم سړی دلته کراچی کی حادثاتی ياطبعی مړګ باندی مړسی او فډريشن کی شامل چی هری سوسائټی باقاعده ممبر او رکن وی او متعلقه سوسائټی د هغه تصديق وکړی نو د داسی سړی لاس مړی زموږ فډريشن پوره کفن او ضروری شيانو سره اهتمام کولو سره د هوائی جهاز په ذريعه کورته د رسولو انتظام کوی، او د هغه سره يوبل سړی هم د مړی د خيال ساتلو د پاره او د هغه کورته د ميت د رسولو د پاره ليږل کيږی چی مړی د هغه لواحقينو ته په حفاظت سره ورسوی، يا د دی وی چی زموږ د علاقی د دی ځای څخه فاصله کم ترکمه يو زرميله ده مسئله داپيدا کيږی چی:

الف: ايا دلته د کراچی څخه دومره لری د متوفی پلار نيکه کلی کی د هغه لواحقينو ته مړی رسول شرعًا جائز دی او که نه؟

ب: که جائز دی نو شرعًا د دی څه حيثيت دی؟

ج: که جائز نه وی نو هم شرعًا يی څه حيثيت دی؟

د جواب ورکولو په وخت د مړی د ليږلو اهميت او د هغه ضرورت دی مدنظر کښی ښوول سی چونکی بعضی اوقات د علاقی او د قوم څوك سړی دلته طبيعی ياحادثاتی مړګ باندی مړسی نو د خپل کوم سړی يا د علاقی سړی سره د رابطه نه کيدلو په وجه

هغه مړی لاوارث ګرځولی سی او لا وارث ګڼلو سره يی هم دلته دفن کوی او د هغو لواحقينو ته هيڅ خبر نه وی، ورسره د علاقی متعلق ډېر نوی خلګ د روزګار په سلسله کی دلته کراچی ته راځی، خو د تعلق څوك سړی پيدانه سو يا ملازمت پيدانه سو، نو ډيره پريشانی وی، خپل سړی ياکومه رفاهی اداره نه موجوديت په وجه داسی خلګوته ډېر تکليف وی، پوښتنه کول دادی: چی دومره لری خپلی علاقی کی د خپل کلی بی وسه او غريبو خلګو مدد په دی طريقی سره شرعا جائز دی؟

جواب: مړی د دفن کولو څخه مخکی د مړګ د ځای څخه لوړول او بل ښار ته وړل مکروه دی، البته بعضی فقهاوو دی ته جائز وئيلی دی، لهذا داعمل عام جوړيدل درست نه دی چی فتوىٰ هم په کراهت باندی ده خو په څه خاص واقعه کی څه شديد ضرورت داعی وی نو بعضو نورو فقهاوو په قول باندی عمل کولو سره د مړی د منتقل کولو ګنجائش معلوميږی، قال فی شرح المنية: ويستحبّ فی القتيل والميت دفنه فی المکان الذی مات فيه فی مقابر اولئك القوم وان نقل قبل الدفن قدر ميل او ميلين فلابأس به، قيل هذا التقدير من محمد يدل علی ان نقله من بلد الی بلد لايجوز او مکروه ولأن مقابر بعض البلدان ربما بلغت هذاه المسافة ففيه ضرورة ولاضرورة فی النقل الی بلد آخر وقيل يجوز ذالك مادون السفر ...... ولايکره فی مدة السفر ايضًا (کبيری جنائز متفرقات) [1] وقال الشامی (قوله ولابأس بنقله قبل دفنه) قيل مطلقا وقيل الی مادون مدة السفر وقيده محمد بقدر ميل او ميلين لان مقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فيکره فيمازاد، قال فی النهر عن عقد الفوائد وهو الظاهر (شامی [2])

والله سبحانه اعلم

٩/ ٨/ ١٣٨٩ هـ

(فتوىٰ نمبر ٩١٧/ ٢٨ ج)

---

[1] غنية المتملی ص: ٢٠٧ (طبع سهيل اکيډمی لاهور)

[2] فتاوىٰ شاميه ج: ٢ ص: ٣٣٩ (طبع ايچ ايم سعيد) د مړی د يوځای څخه بل ځای ته د منتقل کولو متعلق د حضرت امت برکاتهم مفصل او مدلل فتوىٰ په ص: (٥٧١) باندی وګورئ.

د جنازی لمونځ شروع کولو څخه مخکي د امام نیت وغیره ښوول

(د دار الافتاء دارالعلوم کراچي د یوصاحب په فتویٰ باندی د مستفتي اشکال او د هغه جواب

سوال: ستاسو فتویٰ ۱۴/ ذی القعده ۱۳۹۲ ھ باندی پیداسوه چی په هغه کی یی دالیکلی وو چی:

که دافعل سنت ګڼلو سره وسی نو واقعًا بدعت دی ځکه چی په خیر القرون کی د دی ثبوت نه دی پیداسوی، خو په دی زمانه کی دین طرفته رغبت بالکل نسته، خلګوته د جنازی د لمونځ نیت او د اخترونو وغیره نیت پوری نه ورځی، ځکه هغوی ته ښوولو کی څه حرج نسته، که چاته د مسئلی ښوولو د پاره یی تیمم د کولو سره ور وښووی نو پخپله یی په زړه کی پخپله د تیمم کولو نیت نسته، بلکی د هغه صرف وښووی مقصود دی، د هغه تیمم به نه کیږی، ځکه چی د تیمم په کولوکی د تیمم اراده ضروری ده، کله چی یی اراده نه وی او صرف ښوول مقصود وی نو تیمم به نه وی، سائل لیکلی وو چی د امام نیت د اخترونو د لمانځه او د جنازی ښوولو تلقین من الخارج دی ځکه لمونځ فاسدیږی او نیت د لمونځ شروع کولو څخه مخکی ښوول کیږی که نیت ښوول د جهالت د وجی څه حرج نه لری نو پنځه وخته کی هم ښوول پکار دی هرکله چی خیر القرون او د صحابه ﷺ څخه د دی ثبوت نسته، چی په اخترونو او د جنازی په لمانځه کی مسلمانانو ته امام نیت جهرًا او په لوړ آواز سره یی ویلی وی، بلکی د نیت الفاظ خود حدیث څخه ثابت نه دی، ماته ستاسو جواب تسلی بخش په نظر رانه لی (خلاصه د مستفتی د سوال او جواب څخه

جواب: ستاسو تحریر می په غور سره د قبلولو په نیت ووایه خو چی په مخکنی فتویٰ کی کومه خبره لیکل سوی ده په هغه کی تبدیلی ونه سوه ترڅوچی د حضور ﷺ او صحابه کرامو ﷺ د ثابت کیدو تعلق دی ثابت خو په ژبی سره د نیت الفاظ اداء کول هم نه دی، د دی باوجود د فقهاوو تلفظ بالنیت نه صرف جائز بلکی بهتر یی ګرځولی دی:

في الدر المختار (۱): والتلفظ بها مستحب هو المختار وقیل سنة یعنی احبه السلف او سنة علمائنا اذلم ینقل عن المصطفی ولا الصحابة ولا التابعین بل قیل بدعة.

د دی لاندی علامه شامی لیکی:

وقد استفاض ظهور العمل به فی کثیر من الاعصار فی عامة الامصار فلاجرم انه ذهب فی المبسوط والهدایة والکافی الی انه ان فعله لجمیع عزیمة قلبه فحسن فیندفع ماقیل انه یکره (شامی ج: ۱ ص: ۲۷۸) (۲) او کله چی تلفظ بالنیت ته یی ښه وروسته،ئیل سول نو که امام مقتدیانو ته نیت وښایی نو په دی کی شرعًا څه د منع امر نسته، مګر داچی داسنت نبویه یاواجب اولازم وګڼل سی نو بدعت به سی، خومحض په دی خیال سره چی خلګوته د نیت الفاظ معلوم سی که امام یی وښایی نو څه حرج پکښی نسته او امام چی کله د نیت الفاظ ښایی نو په دی الفاظو سره به د امام نیت نه متحقق کیږی، بلکی د لمانځه په وخت کی به هغه ته باقاعده نیت کول وی، لهذا د تیمم کوم مثال چی تا ورکړی دی، هغه په دی صورت صادق نه راځی، هذا ماعندی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۱۰ ھ

(فتویٰ نمبر ۲۲۳/ ۲۸ الف)

د مړی د یوځای څخه بل ځای ته د منتقل کولو حکم

سوال: که د یوسړی په کراچی کی انتقال وسی نومیت پنجات ته لیږل جائز دی او که نه؟

جواب: دفن کولو څخه مخکی میت د یوښار څخه بل ښار ته د منتقل کولو په باره کی د فقهائی حنفیه اختلاف دی بعضی حضرات دی ته جائز وایی او بعضی یی مکروه

---

(۱) ج: ۱ ص: ۴۱۵، ۴۱۲ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) شامی بحث النیة (ج: ۱ ص: ۴۱۲) (طبع سعید) وفی اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۴۹ (طبع ادارة القرآن کراچی) واباحه بعض لمافیه من تحقیق عمل القلب وقطع الوسوسة وماروی عن عمر انه من فعله فهو محمول علی انه انما زجر من جهربه فاما المخافتة فلابأس بها فمن قال من مشائخنا ان التلفظ بالنیة سنة لم یرد بها سنة النبی ﷺ بل سنة المشائخ لاختلاف الزمان وکثرت الشواغل علی القلوب، وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۵ ولاعبرة لذکر باللسان فان فعله لتجتمع عزیمة قلبه فهو حسن کذا فی الکافی.

تحريمی بنايی لهذا د سخت ضرورت څخه بغير د داسی کولو څخه پرهيز کول پکار دی.

قال فی شرح المنية: ويستحب فی القتيل والميت دفنه فی المکان الذی ماته فيه فی مقابر أولئك القوم وان نقل قبل الدفن قدر ميل او ميلين فلابأس به قيل هذا التقدير من محمد يدل على ان نقله من بلد الی بلد لايجوز او مکروه ولان مقابر بعض البلدان ربما بلغت هذا المسافة ففيه ضرورة ولاضرورة فی النقل الی بلد اٰخر وقيل يجوز ذالك مادون السفر لماروی ان سعد بن ابی وقاص ماة فی قرية على اربعة فراسخ من المدينة فحمل على اعناق الرجال اليها وقيل لايكره فی مدة السفر ايضاً. (كبيری ج: ۵۲۳ مسائل متفرقة من الجنائز) (۱)

والله اعلم

(۵/ ۷/ ۱۳۸۹ ھ)

د مړي د يو ښار څخه بل ښار د منتقل کولو حکم او په مجتهد فيه امورو کي د نکير درجات

(حضرت مولانا صديق احمد باندوی رحمه الله د تدفين متعلق تفصيلي فتویٰ)

باسمه سبحانه وتعالی

بقية السلف عارف بالله محی السنة، بركت العصر محترم المقام واجب الاحترام حضرت والا هردوئی دامت بركاتهم، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

بعده: عرض کوونکی په خدمت اقدس کی ډير عاجزانه او د خلوص څخه ډك ګذارش دادی: چی حضرت د هرانسان مقدر د نياته د راتلو څخه مخکی ليکل سوی دی تردی چی د اهل علم حضراتو څخه می ډير اوريدلی دی چی د روح د قبض کيدلو په وخت او مقام او چيری چی انسان دفن کيږی د هغه ځای خاوره هم مقرره ده، برابره خبره ده که انسان د دنيا په هرګوټ کی وی د هغه مرګ به هغه، هغه ځای ته راکاږی او هلته به يی ورسوی، چيری چی دفن کيدل دی د هغه ځای خاوره به هغه هلته راکاږی، د دی تائيد

(۱) غنية المتملی ص: ۷۰۲ (طبع سهيل اکيډمی لاهور) د تفصيل د پاره راتلونکی مفصله فتویٰ وګورئ.

او تصديق د حضرت مولانا لکهنوو ته د وړلو فيصله وسوه نو حضرت انکار وفرمائيلو، او وی فرمائيل چی دا د مړګ تکليف دی، مخکی يی وفرمائيل چی زما سلام ټولو ليدونکو ته وايه! او ټول په شريکه د مدرسی خيال ساتئ، دومره فرمائيلو سره په ذکرکی مشغول سو، تردی چی دوی لکهنووته بوتلل سول هلته د لږ وخت څخه وروسته روح د خپل پيداکوونکی ته وسپارل سو، (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ) بيا د هغه څخه حضرت دهټوره والاته د وړلو تياری شروع سوه، په دی موقع باندی حضرت مولانا سيد ابو الحسن علی صاحب ندوی دامت بركاتهم انکار وکی چی نه همدلته دی دفن سی، د زرهاکوشش باوجود داسی ونه سول، د دی څخه صفا ظاهره ده چی مړګ او خاوری ته خپل مقام باندی د راکښلو دخل دی، د دی ټولو خبرو باندی د يقين باوجود يوسړی په خپل ضد ټينګ سی چی چيری روح قبض سوی دی هلته دی دفن سی نو زه به په جنازه شريکيږ ورنه نو نه به شريکيږم، او په دی خبره باندی قسم اخستل چی زه به هغه ځای ته هيڅکله نه ځم چيری چی يی هغه دفن کړی دی، په دی ضد باندی آيا ټينګيدل صحيح دی؟

د حضرت والا څخه مؤدبانه، عاجزانه التماس دی چی د قرآن او حديث په رڼا کی زموږ د خلګو رهبری وکړی عين نوازش به وی، خداحافظ ګستاخی معاف. (محتاج د دعاء مولوی نوراحمد حقانی بلوچستان کويټه)

د هردوئي د مدرسي اشرف المدارس د اړخه جواب

جواب: هرمسلمان ته لکه څنګه چی په تقديری امورو باندی ايمان راوړل ضروری دی دغه تشريحی امورو باندی ايمان راوړل هم ضروری دی خو بنده ګان يی د رسول الله ﷺ د بعثت په ذريعه صرف د تشريعی امورو مکلف جوړ کړی دی د تکوينی امورو مکلف يی نه دی جوړکړی: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا (۱) لهذا د کوم مسلمان مړګ چی چيری وسو او چيری کيدل پکار دی مسلمان د دی مکلف نه دی، خو د مړګ واقع کيدو څخه وروسته مړی سره څه معامله کيدل پکار دی، دا د علمائی کرامو څخه د معلومولو څخه وروسته د هغه موافق معامله کول پکار دی، چنانچی فتاوٰی محموديه ج: ۲ ص: ۴۰۳ (طبع کتبخانه مظهری) يعنی په فتاوٰی حضرت فقيه الامت مفتی محمود الحسن صاحب ګنګوهی عليه الرحمة کی دی: اصل داده چی د سړی په کوم

(۱) سورة القمر: اٰيت ۲۸۲.

کلی کی انتقال وسی هم هغه کلی کی دفن کړی نو په هغه وصیت باندی عمل کول لازم نه دی داوصیت باطل دی: (یندب دفنه فی جهة موته ای فی مقابر اهل المکان الذی مات فیه او قتل) شامی ج: ١ ص: ٢٠٢) (١)

حضرت عبد الرحمن بن ابی بکر ﷺ د انتقال ځخه وروسته په بل ځای کی دفن سو چیری چی مړسوی وو هلته نه کړو، نو حضرت عائشه رضی الله عنها په سفر باندی روانه وه، کله چی د هغه په قبر باندی تیره سوه نو وی فرمائیل: که زماوس وی نو ته به دلته نه دفن کیدی، بیاهم په دی مسئله کی دومره تنگی نشته، امام محمد رحمه الله دوه میله د مرگ دځای ځخه حسب مصالح لری وړل اودفن کولو گنجائش هم ښوولی دی ولاباس بنقله قبل دفنه قیل مطلقا وقیل الی مادون مدة السفر وقیده محمد بقدر میل اومیلین لان مقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فیکره فیمازاد قال فی النهر عن عقد الفرائد وهو الظاهر فتاوی شامی ج:١ ص:٢٠٢) (٢)

ورسره فتاوی دارالعلوم کی حضرت مفتی عزیز الرحمن صاحب مفتی اعظم علیه الرحمة ددی سوال په جواب کی چی ایا د مړی نقل کول حرام دی او که مکروه تحریمی اوکه تنزیهی دی د فقهاوو عبارتونه نقل کولو سره لیکلی دی چی ددی عبارتونوځخه واضح کیږی چی مخکی ددفن ځخه دمړی په نقل کولوکی اختلاف دی بعضی ورته جائز وایی اوبعضی ناجائز اومکروه اوظاهر د مکروه ځخه مراد د هغوی مکروه تحریمی دی او د صاحب النهر دی ته هو الظاهر ویل ددی ترجیح ته مقتضی دی فتاوی دارالعلوم دیوبند ج: ٥ ص: ٣٨٠ (طبع دارالاشاعت کراچی).

اوپه احسن الفتاوی یعنی فتاوی فقیه العصر حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب کراچی کی تصریح ده چی د مړی نقل کول مکروه تحریمی دی ورسره مخکی ځه ارشاد دی وقال الشمس الائمة السرخسی وقول محمد فی الکتاب لاباس ان ینقل المیت قدر میل اومیلین بیان ان النقل من بلد الی بلد مکروه (٣) قاله قاضیخان وقال العلامه

---

(١) فتاوی شامیه مطلب فی دفن المیت ج: ٢ ص: ٢٣٩ (طبع سعید)

(٢) فتاوی شامیه مطلب فی دفن المیت ج:٢ ص: ٢٣٩ (طبع سعید)

(٣) شرح السیر الکبیر رقم ٣٠٤ ج: ١ص: ٢٣٦ (طابع مولانا نصر الله منصور).

طحطاوی مکروه ای تحریما (١) وقد جزم فی التاجیة بالکراهة وفی التجنیس وذکر انه اذامات فی بلدة یکره نقله الی اخری لانه اشتغال بما لایفید وفیه تاخیر دفنه وکفی بذالك کراهة البحر الرائق ج:٢ ج: ١٩٥) (٢)

د مړی په نقل کولوکی په تدفین کی تاخیر او د مړی د فاسد کیدلو ځخه علاوه نن صبا لاندینی مفاسد هم پیداسوی دی:

١: ددی التزام شروع سوی دی.

٢: د مصارف کثیره او د مشقت تحمل.

٣: اباپی ادیره کی په دفن کولو باندی التزام اوپه دی باندی اصرارنه داعقیده ثابتیږی چی په یوځای کی دفن کیدونکی مړی په خپل مینځ کی ملاقات کیږی حالانکه داعقیده غلطه ده.

٤: جنازه منتقل کول عموما د جنازی د تکرار سبب جوړیږی چی ناجائز دی احسن الفتاوی ج:٤ ص: ٢١٨) (٣).

اوپه بهشتی زیورکی مذکور دی چی د دفن ځخه مخکی مړی د یومقام ځخه بل مقام ته د دفن کولو د پاره وړل خلاف اولی دی هرکله چی بل مقام د یو دوه میلونه زیات لری نه وی اوکه د دی ځخه زیات وی نوجائز نه دی بهشتی زیور ج:١١ ص: ١٠٢.

اوهمدارنگه په مشکوة شریف کی دی من جابر قال لما کان یوم احد جات عمتی بابی لتدفنه فی مقابرنا فنادی منادی رسول الله ﷺ ردوا القتلی الی مضاجعهم. (٤)

اودغه شان په سنن ابی داؤد شریف کی ج:٢ ص: ١٠٢ باندی دی (٥) وقال فی شرح هذا الحدیث وکذامن مات فی موضع لاینقل الی بلد اخر قاله بعض علمائنا وقال فی الازهار الامر فی قوله ﷺ ردوا القتلی للوجوب مرقاة شرح مشکوة شریف ج:٢ ص:

---

(١) حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ج: ٣٣٧ (طبع نور محمد کتبخانه).

(٢) منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج:٢ ص:٩٥ (طبع ایچ ایم سعید).

(٣) احسن الفتاوی باب الجنائز ج:٤ ص: ٢٠٨. ٢٠٩ (طبع ایچ ایم سعید).

(٤) مشکوة المصابیح باب دفن المیت الفصل الثانی ج:١ ص:١٤٨ (طبع قدیمی کتبخانه).

(٥) سنن ابی داؤد ج:٢ ص: ٩٥ (طبع مکتبه حقانیه ملتان).

۳۷۴ (۱) اوبذل المجهود ج: ۴ ص: ۱۹۷ (۲) ددی پورتنی ذکر سوی کتابونوڅخه واضحه سول چی دیوځای څخه بل ځای ته د مړی منتقل کول ناجائز اومنکر شرعی دی د دی د اصلاح کوشش د هریو په ذمه باندی په شرط د قدرت سره چی د هغه توضیح هم فقهاء حضراتو کړی ده که عام سړی دی نوپه شرط د قدرت دی کوی اوصبر دی کوی که مقتداء دی نونکیر سره دی څنی جدایې اختیار کړی د اصلاح په خاطر ترك كلام اوترك تعلق هم کولی سی اوپه دی باندی قسم هم اخستی سی عربی بخاری شریف کی دی : چی حضرت نبی کریم ﷺ ازواج مطهراتو سره د هغوی د اصلاح په خاطر یووار یوه میاشت ترك تعلق ساتلی وو (۳) او ابوداؤد شریف جلد دوم ج: ۱۳۳۱ (۴) کی دی چی د حضرت زینب رضی الله عنها حضرت صفیه رضی الله عنها یوی سختی جملی د ویلو په وجه د هغه د اصلاح په خاطر ددوو میاشتوڅخه زیات هم ترك تعلق کړی وو اوبخاری شریف جلد ۲ ص: ۸۹۷ (۵) کی دی چی دحضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دیوی جملی دویلو په وجه حضرت عایشی رضی الله عنها دتول ژوند دخبروڅخه کولو قسم اخستلی وواوبیا حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دهغه ډیری خوشامندی وکړی اوپه نورو حضراتو سفارش وکړی نوهلته حضرت عایشی رضی الله تعالی عنها هغه معاف کی اودقسم خلاف کولوپه وجه یې څلوېښت غلامان ازاد کړل .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه خپل ځوی سره د یوی جملی په وجه چی دهغه څخه د حدیث سره دمخالفت وهم کیدلو ترك تعلق وکړو اوبیایې ترژونده پوری هغه سره خبری

---

(۱) مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح رقم الحدیث : ۱۷۰۴ ج:۴ ص: ۱۸۳ (طبع مکتبه حبیبیه کویټه).

(۲) بذل المجهود کتاب الجنائز ج: ۱۴ ج: ۱۳۲ (طبع دارالریان للتراث قاهره).

(۳) الصحیح البخاری باب قول النبی ﷺ اذارئیتم الهلال فصوموا الخ رقم الحدیث ۱۱۸۱، ۱۲۱۸ ج:۲ ص ۲۷۵ (طبع ذارابن کثیر امامة بیروت).

(۴) اوبوداؤد باب ترك السلام علی اهل الاهواء ج:۴ ص ۱۰۰ ، بذع دارالفکر .

(۵) صحیح بخاری شریف باب الجهرة ج:۲ ص: ۸۰۷ (طبع قدیمی کتبخانه).

ونکړی (مشکوة شریف ج:۱ ص:۹۸) (۱)

وروسته په چاباندی شرعی نکیر کول او د هغوی سره ترك تعلق کول یا د دی قسم اخستل کله چی هغه دده په عقد کی هم وی اوامیدیې وی چی هغه به خپله اصلاح وکړی بغیر دشبهی څخه درست دی بلکی په بعضو صورتونوکی ضروری اولازم دی کما لایخفی اوقسم اخستل بیا د مصلحتونو په وجه دهغه ماتول اودهغه کفاره اداء کولو اختیار هم حاصل دی اودادحدیث مذکوره څخه ثابت دی .

تنبیه : ضدوایې په ناحقه باندی ټینګیدلوته اوپه یوی دینی مسئلی باندی ټینګیدل ضدنه دی بلکی عین اتباع دشریعت ده .

الجواب الصحیح ابرار الحق ۱۸ شعبان ۱۴۱۴ هـ .

الجواب الصحیح منظر احمد المظاهری مفتی مدرسه جامعة العلوم کانپور.

والله اعلم بالصواب العبد شفقت الله ۱۷ شعبان ۱۴۱۸ هـ .

الجواب الصحیح بلا ارتیاب محمد حنیف غفرله .

الجواب الصحیح محمد انعام الله مفتی مدرسه امدادیه مراد اباد والصاحب المجیب فیما اجاب الجواب صواب محمد عبدالله پهولپوری.

الجواب الصحیح سبیل احمد غفرله .

الجوابالصحیح فهیم احمدنګینوی نائب مفتی مدرسه اشرف المدارس .

الجواب الصحیح محمد فاروق غفرله مفتی دارالعلوم میرټهه.

احقر دی جواب حرف حرف سره اتفاق دی العبد نظام الدین مفتی دارالعلوم دیوبند د بنده د دی جواب د جزء جزء سره اتفاق دی مقصود احمد انبیټهوی مظاهر العلوم سهار نپوری .

د جامعه علوم اسلامیه علامه بنوری ټاون فتوی

حامداً ومصلیًا ومسلمًا امابعد داچی جواب د استفتاء امر منکر باندی دنکیر کولو ترحده پوری مدلل اواقرب الی التحقیق دی خومیت دفن کولوڅخه وروسته دهغه ځای ته دنه تللو قسم کول ددلیل محتاج دی ځکه چی دمنکر سبب میت نه دی دمیت دتدفین کولوڅخه وروسته مقام دفن ته دنه تللو قسم دضد مشابه کیدی سی .

---

(۱) مشکوة المصابیح قبیل باب تسویة الصفوف ج:۱ ص: ۹۷ (طبع مذکور).

الجواب الصحيح محمد عبدالسلام عفا الله عنه .

كتبه محمد عبد المجيد دين پوری عفی عنه دارالافتاء جامعه علوم اسلاميه بنوری ټاون كراچی ۱۴۱۸۱۱۱۲۲(هـ).

د دارالافتاء والارشاد ناظم اباد فتوٰی

الجواب باسم ملهم الصواب دهردويې ليكلى سوى جواب صحيح دى د بنوری ټاون په جواب كې چې كومه دضدشائبه ظاهره سوى ده هغه صحيح نه معلوميږی ځكه چې د حالف مقصد د مړی سره دښمنی او د هغه دمدفن سره ضدنه دی بلكی اهل ميت ته ددی منكرپه ارتكاب باندی تلبيه كول دی اودهغه په غم كی دنه شريكيدو اظهار دی.

والله سبحانه وتعالى اعلم

الجواب الصحيح احمد

الجواب الصحيح موسىٰ عبد الواحد

دارالافتاء والارشاد ناظم اباد ۱۳ ذوالحجه ۱۴۱۸هـ.

د حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب دامت بركاتهم فتوٰی

پورته ذكر سوی ټولی فتاوی د استاد محترم حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت بركاتهم په خدمت كی پيش كړی سوی حضرت دامت بركاتهم چی كوم جواب وليكلو هغه په لاندی ډول دی مرتب)

جواب. د ټولوڅخه اول خوپه دی پوهيدل پكار دی چی موږ په حيث دمسلمان دتكيونی امورو مكلف نه يو بلكی د احكام شريعت مكلف يو. لهذا كه دكوم سړی په باره كی دامقداروی چی هغه به په فلانی ځای كی دفن كيږی نو د دی څخه دانه لازميږی چی په هغه ځای كی دفن كول شرعًا جائز يامناسب وو لهذا په صورت مسؤله كی د استدلال درست نه دی چی چونكه حضرت مولانا صديق احمد باندوی په هغه ښاركی دفن نه سو چی چيری هغه مړسوی وو بلكی بل ښارته وی وړل سو لهذا شرعًا همداسی كيدل پكارو البته اصل دارومدار په دی خبره باندی دی چی شرعًا مړی د يوښار څخه بل ښارته وړل اودفن كول څه حيثيت لري ؟

واقعه داده چی په دی مسئله كی د فقهاء كرامو اختلاف دی پخپله د فقهايې حنفيه هم په دی كی مختلف اقوال دی بعضی حضرات دی ته جائزوايې استشناء، بعضی مكروه چی په هغه كی بعضودی ته مكروه تحريمی پوری تصريح كړيده لهذا داخبره واضحه ده چی مړی د هغه ښار په اديره كی دفن كول پكاردی چيری چی دهغه انتقال سوی دی اوبغير د عذر څخه بل ښار طرف ته منتقل كول نه دی پكار لهذا كه كوم بزرګ په دی شرعی مسئلی باندی د عمل كولو د پاره ميت دويم ښارته دوړلو څخه منع وكړله اوزموږ په زمانه كی په دی نقل مكانی باندی نورهم ډير مفاسد مرتب كيږی نود امور د طعن جوړول هيڅكله درست نه دی بالخصوص چی كله د هغه بزرګ حيثيت د يومقتداء وی اوهغه دخلګو د اصلاح اوتربيت په خاطر داسی وكړل داجلاخبره ده چی په شريعت كی د نكير هم مختلف درجات وی اوپه كومه غلطه خبره باندی نكير د هغه د نكارت اومفاسد په قدر پكاردی .

په صورت مسؤله كی د نكير د پاره چی د جنازی د لمانځه څخه انكار اودمړی قبر ته د نه تلو قسم اخستل مذكور دی په دی كی څه خبره شرعًا ناجائزنه ده ځكه چی دجنازی لمونځ فرض كفائيه دی نود چا د جنازی په لمانځه كی شركت نه كول هركله چی نورو خلګو د هغه لمونځ كړی وی ناجائز ورته نسی ويل كيدی دغه شان د چاقبرته تلل واجب نه دی نوهلته د نه تللو غرم ښكاره كول ياپه هغه باندی قسم اخستو داسی امردی چی ناجائز ورته نسی ويل كيدی پاته سوه داخبره چی په دی مسئله كی چی نكير د كومی درجی سوی دی هغه زيات مناسب وو يا د دی څخه د كمی درجی نكيرهم كيدی سو؟ نو په دی كی مختلف نظريات كيدی سی په مختلفو حالاتو كی د دی مختلف جواب كيدی سی لهذا د كومی درجی نسبتًا سخت نكير د سوال په مخكی جواب كی مذكور دی هغه ته هم شرعًا ناجائز نسی ويل كيدی اودهغه نرمی درجی نكيرهم اصولا جائز اوكافی دی لكه چی دلاندی ليكل سوو دلائلو څخه واضحه ده .

يوښار څخه بل ښار ته دوړلو شرعي حکم اوپه مجتهد فيه مسائلو کي د نکير درجات

ورائنا هذا مبنی علی مایاتی:

۱: ان المسئله فیها اقوال مختلفة للفقهاء الحنفیة فضلاعن غیرهم من المالکیة والحنابلة کماهو ظاهر من العبارت المحلقة.

۲: من ذهب الی الکراهة فالظاهر من عبارات القوم انه اراد التنزیهیة ولم یصرح بکونها تحریمیة الا الطحطاوی فی حاشیة علی مراقی الفلاح ولعله اخذ ذالک باطلاق الکراهة وقد صرح من هو اقدم منه بکونه خلاف المستحب کما یظهر من العبارات الملحقة.

۳: ولئن سلم ان الکراهة تحریمیة ولاشك ان العمل به احوط فلا اقل من ان المسئله محل خلاف بین الفقهاء الحنفیة ومثل هذه الامور المجتهد فیها لاتستحق التشدد فی الانکار کما تستحقه المحرمات القطعیة.

الانکار ینبغی ان یکون علی من یرتکب المنکر وینبغی ان یتوجه التادیب الیه ولاشك ان فی الصورة المسؤله انما نقل المیت اهله فلا انکار علی المیت فترك الصلوة علیه اوالحلف علی عدم الذهاب الی قبره متوجه الی المیت الذی المعروف ان الحلف لایصار الیه الاعند الضرورة قال فی المحیط الافضل فی الیمین بالله تعالی تقلیلها وفی تکثیر الیمین المضافة الی المستقبل تعریض اسم الله تعالی طحطاوی علی الدرج :۲ ص۳۲۴ (طبع مکتبه عربیه کویته وبهشتی زیور ج:۳ ص: ۲۶۷).

۵: وقد انکرت عائشه علی نقل اخیها عبدالرحمن بن ابی بکر الی غیر المکان الذی توفی فیه لکنها زارت قبره ولم تترك الزیارة لاجل نقله الی ذالک المکان والله سبحانه اعلم.

الجواب الصحیح محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه

الجواب الصحیح سحبان محمود احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴۱۹۱۲۱۵هـ

(فتوی نمبر ۳۰۹۱۲۳)

اختلاف العلماء في جواز نقل الميت

المالکیة الحنابلة صرحوا بجواز نقل المیت من بلد الی اخر قال الدر یرد فی شرح المختصر خلیل الشرح الصغیر وجاز نقله ای المیت منمکان الی اخروان من بلد لاخر قبل دفنه اوبعده لمصلحة کان یخاف علیه ان یاکله البحر او السبع وکرجاء برکته للمکان المنقول الیه اوزیارة اهله اولدفنه بین اهله ونحو ذالک ان لم تنتهك حرمته بانفجاره اونتانته (ج:۱ ص: ۵۶۲ طبع دارالمعارف مصر) وقال ابن قدامة فی المغنی:

وقال احمد ماعلم بنقل الرجل یموت فی بلده الی بلد اخرباسا وسئل الزهری عن ذالک فقال قد عمل سعد بن ابی وقاص وسعید بن زید من العقیق الی المدینه وقال ابن عینیة مات ابن عمر هنا فاوصی ان لایدفن ههنا وان یدفن بسرف (ج:۲ ج: ۳۹۰) (۱).

واما مذهب الشافعیة فماجاء فی شرح الاقناع :

ویحرمنقل المیت قبل دفنه من محل موته الی محل ابعد من مقبره محل موته لیدفن فیه الاان یکون بقرب مکة اوالمدینة اوبیت المقدس وفی حاشیة:

المراد بالقرب مسافة لایتغیر المیت فیها قبل وصوله والمراد بمکة جمیع الحرم ولاینبغی التخصیص بالثلاثة بل لوکان بقرب مقابر اهل الصلاح والخیر فالحکم کذالك لان الشخص یقصد الجار الحسن اوجز المسالك ج:۴ ص صـ ۲۰۲، ۲۰۳).

اختلاف الاقوال في مابين الحنفية

قال فی الدرالمختار : لاباس بنقله قبل دفنه وقال ابن عابدین تحته قول ولاباس بنقله قبل دفنه) قیل مطلقا وقیل الی مادون مدة السفر وقیده محمد بقدر میل اومیلین لان

(۱) المغنی لابن قدامة ج:۳ ص: ۴۴۳ (طبع دارعالم الکتب . ریاض).

مقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فيكره فی مازاد قال فی النهر عن عقد الفوائد وهو ظاهر (ج:۲ ص: ۲۳۹ طبع سعید).

تحقیق کراهة النقل

قدمر عن ردالمختار انه يكره نقل الميت قبل الدفن وذكر الطحطاوی فی حاشیة علی المراقی الفلاح (ص: ۳۳۷ نور محمد کتبخانه) انها تحريمية ولكن الظاهر انه فهم التحريم من اطلاق لفظ الكراهة ولكن يظهر ذلك من عبارات الاتية: قال العلامه بحر العلوم فی رسائل الاركان:

النقل بعد بنش القبر كماهو المتعارف اليوم مكروه تحريما اشد الكراهة لان نبش القبر واخراج الميت لايجوز لانه قد سلم الى الله تعالى واما قبل النبش فمكروه والافضل ان لاينقل. (رسائل الاركان ص: ۱۵۹ طبع قديم مطلع يوسفي فرنگي محل لكهنؤ)

فصرح العلامة رحمه الله بان النقل بعد الدفن مكروه تحريماً ثم ذكر مسالة النقل قبل الدفن فاطلق الكراهة ولم يقيدها بالتحريم فظهر انه اراد به ما هودون الكراهة التحريمية ولذلك اعقبه بقوله: (الافضل ان لاينقل)

وانما ذكروه من انه حيث اطلق الكراهة فالمراد به التحكيمية ليست بكلية قال ابن عابدين نقلا عن البحر:

المكروه في هذا الباب نوعان احدهما ماكره تحريماً وهو المحمل عند اطلاقهم الكراهة.... ثانيهما المكروه تنزيها ومرجعه الى ماتركه اولى وكثيرا ما يطلقونه كما في شرح المنية فحينئذ اذا ذكروا مكروها فلابد من النظر في دليله فان كان نهيا ظنيا يحكم بكراهة التحريم الا لصارف للنهى عن التحريم الى الندب فان لم يكن الدليل نهيا بل كان مفيداً للترك الغير الجازم فهي تنزيهية.

(ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۳۳ طبع سعید، قبیل مطلوب في الاسراف في الوضوء) وانما استدل على كراهة النقل اولا بما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال في شهداء احد: (ردوا القتلى الى مضاجعهم) ورواه احمد والترمذي وابوداود والنسائی) ولكن قال الامام السرخسي رحمه الله في شرح هذا الحديث:

وهذا حسن ليس بواجب وانما صنع هذا رسول الله صلى الله عليه وسلم لانه كره الملحقة عليهم بالنقل مع ما اصابهم من القرح. وشرح السير الكبيرة: اصل:۳۳۳ فقره نمبر

۳۰۱) والدليل الثاني للكراهة هو حديث عائشة حيث قالت عند زيارة قبر اخيها عبدالرحمن ابن ابی بکر الذي نقل من الحبش الى مكة: (والله لو حضرتك ما دفنت الا حيث مت) وقد علق عليه الامام السرخسي بقوله:

وفيه د ليل ان الاولى ان يدفن القتيل والميت في المكان الذي مات فيه في مقابر اولئك القوم. (شرح السير الكبير ج: ۱ ص: ۳۳۲ رقم:۳۰۳) واستدل الامام السر خسی بحديث عائشة على ان الاولى عدم النقل والنقل خلافه فهو مكروه تنزيها، وانما اخذ الفقهاء الحنفية الكراهة من قول الامام محمد في السير الكبير ولو نقل ميلا او ميلين او نحو ذالك فلا باس به فاستنبطوا من هذا القول ان النقل الى مازاد مكروه ولذلك قال السرخسی رحمه الله:

وفی هذا بيان ان النقل من بلد الى بلد مكروه لانه.قدر المسافة التي لايكره النقل فيها بميل او ميلين وهذا لانه الاشغال بما لا يفيد فالارض فكلها كفات للميت قال الله تعالى: الَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا اَحْيَاءً وَّ اَمْوَاتًا،الا ان الحل ينتقل من موضع الى موضع لغرض له في ذالك وذالك لايوجد في حق الميت ولو لم يكن في نقله الا تاخير دفنه ايا ما كان كافيا في الكراهة. (شرح السير الكبيرة: ص: ۲۳۲، و۲۳۷ فقره نمبر ۳۰۴)

وقد سبق ان الامام السرخسي جعل كدم النقل اولى فظاهر ان مراده من الكراهة هنا التنزيهية وما يدل على كون الكراهة تنزيهية ان كثيرا من الفقهاء صرحوا بعدم الاثم في النقل ومن مقدمتهم صاحب الهداية كما ذكره ابن الهمام رحمه الله عنه فقال:

قال المصنف في التجنيس: في النقل من بلد الى بلد لا اثم، ثم ذكر عن صاحب الهداية نفسه انه قال: اذا مات في بلدة يكره نقله الى اخرى لانه اشتغال بما لا يفيد.

(فتح القديرة ج: ۲ ص: ۱۰۱، ۱۰۲ طبع مكتبه رشيدية كوئته)

فيظهر بهذا ان المراد بالكراهة مايجتمع مع عدم الاثم وهو الكراهة التنزيهية لذلك ذكر كثير من الفقهاء عدم الاثم بدون التصريح بالكراهة وانما ذكروا ان المستحب ان يدفن في المكان الذي مات فيه.

قال ابن نجيب:

ولم يتكلم المصنف على نقل الميت من مكان الى اخر قبل دفنه قال في الواقعات والتجنيس: القتيل او الميت يستحب لهما ان يدفنا في المكان الذي قتل او مات فيه في مقابر اولئك القوم لماروى عن عائشة رضى الله عنها انها زارت قبر اخيها عبدالرحمٰن بن ابی بکر رضي الله عنه وكان مات بالشام وحمل من هناك فقالت: لوكان الامر فيه

بيدي ما نقلتك ولدفنتك حيث مت، لكن مع هذا اذا نقل ميلا او ميلين او نحو ذالك
فلا باس وان نقل من بلد الى بلد فلا اثم فيه.
(البحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۹۵ طبع رشيديه كوئټه)

وقال العلامة الافندى في مجمع الانهر:
ويستحب في القتيل والميت دفنه في المكان الذي مات في مقابر اولئك المسلمين
وان نقل قبل الدفن الى قدر ميل او ميلين فلا باس به وكذا لومات في غير بلده
يستحب تركه فان نقل الى مصر اٰخر فلاباس به. (مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۱۸۷) ([1]).
وراجع ايضا فتاوى تاتارخانية ج: ۲ ص: ۱۷۵ (طبع ادارة القران وتعليق الشيخ ابى
الوفاء الافغاني على كتاب الاثار ج:۳ ص: ۲۰۳ ([2]).
ولقد اطال الشيخ على القارى رحمه الله واحسن في التوفيق بين العبارات بعبارة
نوردها بتمامها:
اما اذا ارادوا نقله قبلل الدفن او تسوية اللبن فلا باس بنقله نحو ميل او ميلين قال
في التجنيس لان المسافة الى المقابر قد تبلغ هذا المقدار وقال السرخسي قول محمد
بن سلمه ذلك في دليل على ان نقله من بلد الى بلد مكروه والمستحب ان يدفن كل في
مقبرة البلدة التي مات بها، ونقل عن عائشه رضي الله تعالى عنها انها قالت حين زارت قبر اخيها
عبدالرحمٰن وكان مات بالشام وحمل منها: ولو كان الامر فيه الى ما نقلته ولدفنت حيث
مات، ثم قال في التجنيس في النقل من بلد الى بلد لا اثم لما نقل ان يعقوب عليه السلام مات
بمصر ونقل عنه الى الشام وموسى عليه السلام نقل تابوت يوسف عليه السلام بعد ما اتى عليه زمان
من مصر الى الشام ليكون مع اٰبائه ولا يخفى ان هذا شرع من قبلنا ولم تتوفر فيه شك
شرط كونه شرفا لنا الا انه نقل عن سعد بن ابى وقاص انه مات في ضيعة على اربعة
فراسخ من المدينة فحمل على اعناق الرجال اليها وفيه انه نقل حين موته لا بعد دفنه
فلا في خل له في القضية ويمكن ان يحمل نقل يعقوب ويوسف عن عذر وايضا
فلاتنافى بين الاثم والكراهة اذا الكراهة محمولة على التنزيه وهو خلاف الاولى الا
لعارض قال صاحب الهداية وذكر ان من مات في بلدة يكره نقله الى اخرٰى لانه اشتغال
بما لا يفيد بما فيه تاخير في فنه وكفى بذلك كراهة قلت ماذا كالت يترتب عليه فائدة

---

[1] مجمع الأنهر شرح ملتقى الابحر ج: ۱ ص: ۲۷۶ (طبع دار الكتب العلمية بيروت).
[2] (طبع مذكور)

من نقله الى احد الحرمين او الى قرب قبر احد من الانبياء او الاولياء او ليزوره اقاربه
من ذالك البلد وغير ذالك فلا كراهة الا مانص عليه من شهداء احد او من في معناهم
من مطلق الشهداء والله اعلم. (مرقات ج: ۴ ص:۴۷. ([1])

مسالة النكير علي الامور المجتهد فيها

قد صرح غير واحد من الفقهاء والمحدثين بانه لا ينبغي التشدد في النكير على
الامور التي اختلف فيها الفقهاء فى الاحكام السلطانية لماوردي ص: ۳۱۵ ([2]).
اما المعاملات المنكرة كالزنا والبيوع الفاسدة ومامنع الشرع منه مع تراضى
المتعاقدين به اذا كان متفقًا على حظره فعلى والى الحسبة انكاره والمنع منه والزجر
عليه وامره في التاديب مختلف بحساب الاحوال وشدة الحظر واما مااختلف الفقهاء
في حظره واباحته فلا مدخل له في انكاره الا ان يكون مما ضعف الخلاف فيه وكان
ذريعة الى محظور متفق عليه كربا النقد فالخلاف فيه ضعيف وهو ذريعة الى ربا
النساء المتفق على تحريمه فهل يدخل في انكاره بحكم ولايته اولا؟ على ما قدمناه من
الوجهين وفى معنى المعاملات وان لم تكن منها عقود المناكب المحرمة ينكرها ان
اتفق العلماء على حظرها ولايتعرض لانكارها ان اختلف الفقهاء فيها الا ان يكون مما
ضعف الخلاف فيه وكان ذريعة الى محظور متفق عليه كالمتعة فربما صارت ذريعة
الى استباحة الزنا.
وفى المرقاة ج: ۸ ص:۸۲۳ (طبع مكتبه حقانيه پشاور): وما يتعلق بالاجتهاد لم يكن
للعوام مدخل فيه لان انكاره على ذالك للعلماء ثم العلماء انما ينكرون ما اجمع عليه
الائمة واما المختلف فيه فلا انكار فيه لان على احد المذهبين كل مجتهد مصيب
وينبغي للامر والناهى ان يرفق ليكون اقرب الى تحصيل المطلوب.
وفى شرح مسلم للنووي رحمه الله ج: ۱ ص: ۵۱ (طبع قديمي كتب خانه): ثم انه انما يامر
وينهى من كان عالمًا بما يامر به وينهى عنه وذالك يختلف باختلاف الشر فان كان من
الواجبات، المظاهرة والمحرمات المشهورة كالصلاة والصيايام والزنا والخمر ونحوها
فكل المسلمين علماء بها وان كان من دقائق الافعال والاقوال ومما يتعلق بالاجتهاد
ولم يكن للعوام مدخل فيه ولالهم انكاره بل ذالك للعلماء ثم العلماء انما ينكرون ما

---

[1] مرقاة شرح مشكوٰة ج: ۴ ص: ۱۸۳، ۱۸۴ (طبع مكتبه حقانيه پشاور).
[2] ص: ۲۵۳ (طبع دفتر تبليغات اسلامى جوزه علميه قم).

اجمع عليه اما المختلف فيه فلا انكار فيه لان على احد المذهبين كل مجتهد مصيب وهذا هو المختار عند كثير من المحققين او اكثرهم وعلى المذهب الاخر المصيب واحد والمخطئ غير متعين لنا والاثم مرفوع عنه لكن ان مذهبه على جهة النصيحة الى الخروج من الخلاف فهو حسن محبوب مندوب الى فعله برفق فان العلماء متفقون على الحث على الخروج من الخلاف اذا لم يلزم منه اخلال بسنة او وقوع في خلاف اٰخر وذكر اقضى القضاة ابو الحسن الماوردى البصري الشافعى في كتابه الاحكام السلطانية خلافا بين العلماء في ان من قلده السلطان الحسبة هل له ان يحمل الناس على مذهبه فيما اختلف فيه الفقهاء اذا كان المحتسب من اهل الاجتهاد ام لا يغير ما كان على مذهب غيره والاصح انه لا يغير لما ذكرناه ولم يزل الخلاف في الفروع بيان الخط بين الصحابة ﷺ والتابعين فمن بعدهم رضى الله عنهم اجمعين ولاينكر محتسب ولا غيره على غيره وكذلك قالوا ليس للمفتي ولا للقاضي ان يعترض على من خالفه اذالم يخالف نقدا او اجماعًا او قياسا جليا، والله تعالى اعلم.

وفى اكمال اكمال المعلم ج: ۱ ص:۱۵۳ (طبع دار الكتب العلمية بيروت): ثم ما اشتهر حكمه كالصلاة وحرمة الزنا يستوي في القيام به العلماء وغيرهم ومادق من الافعال والاقوال فانما يقوم به العلماء ثم العلماء لا يغيرون الا ما اتفق عليه ولايغيرون في مسائل الخلاف لان ان كان كل مجتهد مصيبا فواضح وكذلك على ان المصيب واحد لان المخطئ غير اثم نعم يندب الى الخروج من الخلاف للاتفاق على رجحان الخروج منه.

وفى اصول الفقه الاسلامى للزحيلى ج: ۲ ص: ۱۰۹۲ (طبع دار احسان دمشق) قد اجمع الصحابة على ترك النكير على من خالف منهم في المسائل الفقهية كارث الجد مع الاخوة ومسالة الحول ونحوها من مسائل الفرائض وغيرها فكانوا يتشاورون ويتفرقون مختلفين ولايعترض بعضهم على بعض ولايمنع احدهم الاخر من افتاء العامة ولايمنع العامة من تقليده ولايمنعه من الحكم باجتهاده وهذا كما قال الغزالي: متواتر تواتر الاثم فيه مع انهم كانوا فيما قام عليه الدليل القاطع يبالغون في التاثيم والتشديد كما فعلوا في تخطئة الخوارج.

وفى الهندية ج: ۵ ص:۳۵۳ (طبع مكتبه رشيدية كوئټه) ويقال الامر بالمعروف باليدعلى الامراء وباللسان على العلماء وبالقلب لعوام الناس وهو اختيار الزندويسى كذا في الظهيرية الامر بالمعروف يحتاج الى خمسة اشياء، اولها العلم لان الجاهل لا

يحسن الامر بالمعروف، والثاني ان يقصد وجه الله تعالى واعلاء كلمته العليا، والثالث الشفقة على المامور فيامر باللين والشفقة، والرابع ان يكون صبورا حليما، والخامسة ان يكون عاملا بما يامره كيلا يدخل تحت قوله تعالى: لِمَ تَقُولُونَ مَا لَاتَفْعَلُونَ، ولايجوز للرجل من العوام ان يامر بالمعروف للقاضي والمفتي والعالم الذي اشتهر لانه الساءة في الادب ولانه ربما كان به ضرره في ذالك والعامة لايفهم ذالك كذا في الغرائب.

دغه شان په منكر كى هغه ټولى بدياني اومفاسد داخل دي چې دهغه درسول الله ﷺ د اړخه ناجائز ګرځول معلوم اومعروف دى په دې مقام باندې واجبات او د معاصى په ځاى د معروف اومنكر عنوان په اختيار ولو كى شايد داحكمت هم وى چې د منع كولو معامله به صرف هغه مسائلو كى وى چې په امت كى مشهور اومعروف دى او د ټولوپه نزد متفق عليه دى او اجتهادى مسائل چې په هغه كى دشرعيه اصولو لاندى مختلفى رايې كيدى سى په هغه كى د منع كولو داسلسله نه ده پكار افسوس دى چې عام طور باندى د دى حكيمانه تعليم څخه غفلت كول كيږى اواجتهادى مسائلو لره دجدال ميدان جوړولو سره د مسلمانانو جماعت ټكړى ټكړى كيږى اودا د ټولو څخه لويه نيكى ګرځولى سى او د دى بالمقابل متفق عليه معاصى اوګناهونه څخه د ايسارولو طرف ته توجه ډيره كمه وركول كيږى . (د معارف القران ج:۲ ص: ۱۴۱ څخه) والله سبحانه اعلم .

د پيدايش څخه فورا بعد مړ كيدونكي ماشوم نوم ايښوول

د جنازى لمونځ اوتكفين احكام

سوال: د يوى ښځى د پنځو مياشتو حمل ساقط سو د پيدايش څخه وروسته دا وايې چې ساه يې اخستى ده اوفوراً مړسو د ماشوم اعضاء درست وو چې په هغه سره د مذكر اومؤنث شناخت كيدو خوډير كمزوى وو زيد وايې چې دى ماشوم دنياكى ساه اخستى ده لهذا د ده دى ټول كارونه وسى مثلاً غسل كفن د جنازى لمونځ او قبردى هم جوړسى .

كله چې د غسل د پاره سړى راغلى نوهغه د خپلى تجربى په بناء باندى وويل چې ده هيڅكله ساه نه ده اخستى د ده هيئت اوحالت داسى نه دى چې په ده كى ساه وى كه د ده موټول كارونه وكړل نوتاسوبه ګنهګار يې لهذا دابچى بغير د غسل اوبغير د لمانځه څخه د اديرى په يوكونج كى دى په يوى كندى كى پټ سى.

که داټول کارونه ضروري وه نواوس چونکه دهغه دجنازې لمونځ يې نه دی کړی نوايا دهغه غائبانه لمونځ دی وسی هرکله چې دجنازې په لمانځه کی د مړی ږخ ته کيدل شرط دی او اورو چې د لويو خلګو د جنازې لمونځ غائبانه کول کيږی او د دی سلسلې يوه برخه داده چې دداسی ماشومانو نوم اينبودل ضروری دی ځکه چې په حشرکی به ورته په کوم نوم اواز کيږی ؟ برابره خبره ده که ژوندی يامړ پيداوی نوم اينبودل يې ضروری دی تاسو د دی ټولو خبرو باره کی مونږته احکام بيان کړی ؟

جواب ماشوم که ساه اخستی وی اوکه نه وی کله چې د هغه ټول اعضاء جوړسوی وه نوهغه ته په هرحالت کی غسل ورکول پکاروو او د هغه نوم هم اينبودل پکار وو خو د ساه ځخه اخستو په صورت کی لمونځ ضروری نه وو خوچې کله قابل اعتماد دا ګواهی ورکوی چې ماشوم ساه اخستی ده نو د هغه ګواهی معتبره ده او د هغه ځخه وروسته هغه ته غسل ورکول نوم اينبوول کفن ورکول د جنازې لمونځ کول ټول ضروری وو اوقبر هم په هرحالت کی ضرور جوړول پکار وو کمافی ردالمختار ولوشهدت القابلة او الام علی الاستهلال تقبل فی حق الغسل والصلوٰة عليه لان خبر الواحد فی الديانات مقبول اذكان عدلا (شامی ج:۱ ص: ۵۹۴) وفی الدرمختار ومن ولد فمات يغسل ويصلی عليه [1]

۲: که دايې قابل د اعتمادوه نو د هغه په مقابله دغسل ورکونکی قول معتبر نه دی.

که ددفن کولو ډيره موده نه وی تيره اوتجربه کار خلګ داوايې چې غالب ګمان دادی چې مړی پړسيدلی ياشليدلی نه وی نو د هغه په قبرباندی دجنازې لمونځ کول واجب دی قبر باندی دی داسی لمونځ وکړی ځنکه چې مړی مخ ته اينبودلو سره لمونځ کول کيږی اوکه زياته موده کيږی اوغالب ګمان داوی چې مړی به شليدلی وی نوبيا لمونځ ورباندی مه کوی لما فی الدرمختار وان دفن واهيل عليه التراب بغير صلوٰة اوبها بلا غسل اوممکن لاولاية له (صلی علی قبره) اتسحسانا مالم يغلب علی الظن تفسخه من

[1] للدرالمختار ج:۲ ص: ۲۲۷، ۲۲۸ (طبع ايچ ايم سعيد).

غير تقدير هوالاصح [1] وفی ردالمختار (قوله صلی علی قبره) ای افتراضا فی الاولیين وجوازا فی الثالثة .

هوجی! نوم اينبودل ضروری دی لکه چې په نمبرکی تير سول

والله اعلم

۱۳۹۸\۱۲\۶ھ

(فتوی نمبر ۱۲۵۹\۲۹ الف)

دارالحرب کې مړکيدونکې انسان باندی شرعې احکام جاری کيږی

سوال: يوسړی په دارالحرب کی اسلام قبول کی خوهغه هلته څوك داسی نه کی پيدا چې هغه ته قران ووايې اوفرائض او واجبات ووايې هم په دی حالت کی د شپږ مياشتو تيريدلو څخه وروسته هغه مړکيږی ايا په ده باندی به ددين احکام جاری کيږی اوکه نه ؟ اوکه جاری کيږی هغه به څنکه اداء کوی ؟

جواب: په دی صورت کی دی سړی ته پکاروو چې هغه د دارالحرب ځخه هجرت کړی وی اوپه داسی ځای کی يې د اقامت اختيارولو کوشش کړی وی چيری چې دينی معلومات حاصليدی سول به هرحال هغه مسلمان دی او اسلامی احکام به ورباندی جاری وی اوس چې د دغه نوی مسلمان انتقال سوی دی هغه سره همدردی ساتونکوته پکاردی چې څومره کيدی سی هغه ته دی ايصال ثواب کوی والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸\۱۱\۱۹ھ

(فتوی نمبر ۱۴۳\۱۰ الف)

[1] الدرالمختار مع ردالمختار ج:۲ ص: ۲۲۴، وفی الهندية ج:۱ ص: ۱۲۵ (طبع مکتبه ماجديه) الفصل الخامس کتاب الجنائز ولودفن الميت قبل صلوٰة اوقبل الغسل فانه يصلی علی قبره الی ثلاثه ايام والصحيح ان هذا ليس بتقدير لازم بل يصلی عليه مالم يعلم انه قد تمزقی الخ (مرتب).

د دفن کولو په وخت د کفن د غوټې خلاصولو حکمت کې د شرح وقایه حاشیه او دنورو فقهاؤ په عبارتونو کې د تضاد تحقیق

سوال: دشرح وقايه په حاشيه كى ليكلى دى چى د كفن غوټه خلاصيدو كى دافائده كيږى چى دسوال اوجواب په وخت كى به اسانتيا سره مړى كښينى هغه كى ممكن نه ده تاسويې واضح كړى؟

جواب: دشرح وقايه دحاشيه (۱) ددى بيان ماخذ معلوم نسو ټول فقهايې كرام ددى حكم وجه داليكى چى غوټه كول دانتشار د بيرى وو اوس داخوف پاته نسو لهذا خلاصه دى سى.

كذافى شرح الوقايه (۲) والهدايه (۳) والدرالمختار (۴) والله اعلم

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه احقرُ محمد تقى عثمانى عفى عنه

۱۳۸۸/۱۱/۱۹هـ

(فتوى نمبر ۱۹/۱۴۳ الف)

---

(۱) عنها) لانها تعقد لخوف الانتشار عند الحمل.

(۲) وفى حاشية شرح الوقايه ج:۱ ص: ۲۱۰ (طبع ايچ ايم سعيد) ويحل للاستغناء فانه انما عقد خيفة انتشار الكفن ليسهل عليه الجلوس فى القبر عند سؤال الملكين.

(۳) وفى شرح الوقاية ج:۱ ص: ۲۱۰ طبع سعيد) ويحلل عقدة العقدة التى على الكفن خيفة الانتشار.

(۴) وفى الهداية فصل فى الدفن ج:۱ ص: ۱۸۲ (ذبع مكتبه شركت علميه) ويحل العقدة) لوقوع الامن من الانتشار وفى الدرمختار ج:۲ صـ ۲۳۲ (طبع سعيد) وتحل العقدة للاستفناء عنها وفى الشامية قوله للاستفناء.

فصل في ايصال الثواب

دايصال ثواب متعلق د مسائلو بيان

سوال: كوم خلگ چى په كورونوكى ايصال ثواب كوى هغوى ته به دقران ثواب وركول كړى اوكه نه ؟ بياهغه مړى ته چى دچا د پاره يې قران خوانى كړى ده هغه ته به ثواب وركول كيږى اوكه نه ؟

كه دالله تعالى په نامه باندى كپړه ياپيسه وركول سى زموږ په نيت د هغه مړى روح ته ثواب رسول وى نواياهغه ته به ثواب وركول كيږى اوكه نه ؟ موږ روزانه دقران پاك تلاوت يادرود شريف كلمه طيبه ويلو سره دحضرت ادم عليه السلام څخه واخله ټولو انبياؤ پورى اوټولو مسلمانانوته چى وفات سوى دى دهغوى دپاره ايصال ثواب كوو نواياهغوى ته به ثواب وركول كيږى اوكه نه ؟

۲: كه ديوسړى ذاتى كاروبار يا د كور كرايه راځى اوهغه هغه پريږدى اومړسى نو د هغه سړى دپاره دغه اثاثه چى دهغه اولاديې استعمالوى اياصدقه جاريه به وى اوكه نه ؟

جواب: نفلى عبادات خواه كه دقران تلاوت وى يانفلى لمونځ وى يا د صدقه وى د هغه ثواب كوم مړى ته رسولى سى اوهغه ته ثواب هم رسيږى (۱) اوپخپله ايصال ثواب كوونكى ته هم ثواب وركول كيږى (۲) خو د دى د پاره داسى طريقه اختيارول پكاردى چى په هغه كى نوم اونمود اوښودنه وغيره نه وى نن صبا په پاخه كورونوكى باقاعده خلگ جمع كولو سره قران خوانى كول كيږى په هغه كى اكثرنام اونمود كول كيږى اوپه هغه كى اكثر نام اونمود اوناجائز رسمونه پكښى وى دهغه څخه پرهيز كولوسره ميت ته ثواب ورسوى روزانه چى كوم تلاوت ياتسبيح وايې دهغه ثواب ټولو وفات سوو

---

(۱) ايضًا.

(۲) ايضًا

مسلمانانوته رسولی سی (۱) په دی کی هیڅ حرج نسته بلکی انشاء الله موجب دثواب بد وی.

---

(۱) دايصال ثواب د ثبوت د پاره څو قرآنی ایتونه دادی (فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ) (سورة محمد : ۱۹) وفی سورة الحشر : (وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ) وفی سورة نوح: ۲۸ (رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ)

(د تفاسيرو په كتابونو كی لاندینی کتابونه وګوری: وفي مشكوة المصابيح ج: ۱ ص: ۱۴۱ (طبع قديمي كتب خانه) عن معقل بن يسار قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اقرؤا سورة يٰسين على موتاكم، رواه احمد وابوداود، وفي شرح الصدور للسيوطى ص: ۱۳۵ (مطابع الرشيد مدينة المنوره) اخرج ابو القاسم سعدى على الزنجاني في فوائده عن ابى هريره قال: لا ان رسول الله ﷺ من دخل المقابر ثم قرأة فاتحة الكتاب وقُلْ هُوَاللهُ اَحَدٌ وَاَلْهٰكُمُ التَّكَاثُر، ثم قال: اللهم انى قدجعت ثواب ماقرأة او من كلامه لاهل المقابر من المؤمنات والمؤمنات كانت اشفعآء له الى الله تعالى وفيه ايضا ص:۱۳۵ عن انس ان رسول الله ﷺ قال: من دخل المقابر فقرأ سورة يٰسين خفف الله عنهم وكان له بعدد من فيها حسنات. وفيه ايضا ص: ۱۳۲ اخرج الطبراني في الاوسط والبيهقي في سننه عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله ليرفع الدرجة للعبد الصالح في الجنة فيقول: يا ربى انى لى هذه؟ يقول: باستغفار ولدت لك.

ولفظ البيهقي: دعاء ولدك له واخرجه البخاري في الادب عن ابى هريرة موقوفا. وفيه ايضا ص:۱۳۵ عن احمد بن حنبل قال: اذا دخلتم المقابر فاقرؤا بفاتحة الكتاب والمعوذتين وقل هو الله احد وجعلوا ذالك لاهل المقابر فانه يصل اليهم.

في الصحيح للامام مسلم باب ما يلحق الانسان من الثواب بعد وفاته رقم: ۱۶۳۱ ج:۳ ص: ۱۳۵ (طبع دار احياء التراث العربي بيروت) عن ابى هريره ان رسول الله ﷺ لا ان تم اذا ات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة الامن صدقة جارية او علم ينتفع بها او ولد صالح عو له وراجع ايضا مرقاة المفاتيح ج:۳ ص: ۸۲ (طبع مكتبه امداديه ملتان).

۲: کویوسړی په دی نیت ګنلی وی چی دابه زمادبچو اوخپلوانو په کار باندی راځی نوانشاء الله په دی باندی به ورته دصدقه جاریه ثواب ورکیدو امید دی.

والله اعلم

۲۲/۱۰/۱۴۰۱ھ

(فتوى نمبر ۳۲۱/۱۲۰۳ ج)

وفي شرح العقائد ص: ۱۷۲ (طبع قديمي كتب خانه) وفي دعاء الاشياء للاموات و صدقتهم اي صدقة الاحياء عنهم اي عن الاموات نفع لهم اي للاموات ولم لا للمعتزلة.

د دی قرآنی آیتونو او احادیثو او د عقاید د کتابونو د عباراتو په بناء باندی حضرات فقهائی کرامو ﷺ دغه د ایصال ثواب عقیده صحیح ګنلی ده، یواځی دانه چی د دی اثبات یی فرمائیلی دی بلکی دایی بنه ګنلی ده، چنانچی د فقه په کتابونو کی دی:

وفي الهداية، باب الحج عن الغيرة: ج:۱ ص: ۳۹۲ (طبع مكتبه شركت علميه) ان الانسان له ان يجعل ثواب عمله لغيره صلبة او صوفا او صدقة او غيرها عند احل السنة والجماعة.

وفي الشامية ج: ۲ص ۲۴۳ مطلب في القراءة للميت واهداء توالها له، صرح علمائنا في باب الحسن عن الغير بان للانسان ان يجعل ثواب عمله لغيره صلبة او صومًا او صدقة او غيرها كذا في الهداية.... الافضل لما يتصدق نفلاً ان ينسى لجميع المؤمنين والمؤمنات لانها تصل اليهم و لاينقص من اجره لثمن وهو مذهب لها السنة والجماعة (وفيه بعد السطر) وفي البحر ما صام او حتى او تصدق رجعا ثوابت لغيره من الاموات والاحياء لا جاز ويصل ثوابها اليهم عند اهل السنة والجماعة، كذا في البدايع:

وفي معارف السنن ج: ۵ ص: ۳۸۲ (طبع ايج ايم سعيد) وقد تعرض في الهداية الى مسالة الاثابة واهداء الجواب فقال الاصل في هذا الباب ان الانسان له ان يجعل ثواب عامد لغيره صلوٰة او صوتها او صدقة وغيرها عند اهل السنة والجماعة. وفيه ايضاف ج: ۵ ص: ۳۹۱ ثم ام الشافعى لا يجوز اهداء ثواب تلاوة القرن ان ولا يصح عنده الاثابة فيما اهدا الدعاء والصدقة ولكن الشافعية افتوا بايصال ثواب التلاوة ويجوز عندنا اهداء الثواب كل شئ.. وتبين ان مذهب ابى حنيفة في هذا الصدد اوسط المذاهب.... الخ.

دایصال ثواب د پاره په صدقه جاریه کې کوم شي بهتر دی ؟

سوال: صدقه جاریه دپاره په لاندینی شاینوکی کوم شی بهتر دی ؟

الف : دجومات په تعمیر کی حصه اخستل (ب) د دینی مدرسی امداد کول

(ت) کوهی جوړول

ج: یابل څه کار چی په هغه سره مرحوم ته ثواب داریز حاصل سی.

خلگ وایي دانسان څخه گناه کبیره اوصغیره سرز د سی نو ۹۰ زره واره کلمه شریف یعنی (کلمه) ووایي مرحوم ته د هغه ثواب ورکړی یابي ور وبخښی نو د هغه ټول گناهونه الله تعالی معاف کوی اوهغه ته د دوږخ د عذاب څخه نجات ورکوی ایا دا صحیح دی؟

د ثواب څخه څه مراد دی ؟ قران ویلو سره ثواب مرحوم یامرحومی ته رسولو سره عذاب ختمیږی ؟

ماته دویلو دپاره داسی شیان ووایه چی هغه زه وایم او د قبر دعذاب څخه محفوظ سم.

که کلام پاک یادیرش سپاری-په جومات کی کښیږدی نوایا مرحومی ته به ثواب رسیږی؟

زما اهلیه دهارټ فیل له وجی مړه سوه دتهجد دلمونځ اداء کولوڅخه وروسته دسحر دلمانځه په وخت دلمانځه په انتظار کی ناسته وه چی دهغه انتقال وسو دداسی ښځی متعلق څه حکم دی ؟

جواب: داټول د خیر اموردی اوصدقه جاریه دپاره دداسی کار انتخاب کول بهتردی چی دهغه ضرورت هم زیات وی اوخلگ ترډیره وخته پوری د هغه څخه فائده اخلی دځپلو حالاتو په لحاظ سره ددی فیصله هرسړی ته پخپله پکارده .

دټولوگناهونو معاف کیدو خوهیڅ ضمانت نسته خوکلمه طیبه اوقران شریف ویلو سره

خومره زیات څخه زیات ثواب مړی ته رسولی سی نوبهتره ده (۱) ددی جواب هم هغه دی دقران تلاوت ایصال ثواب دی وسی نوپه حرف باندی به لس نیکیانی مړی ته ورکول کیږی لهذا خومره چی زیات څخه زیات ایصال ثواب وسی د مړی په عملنامه کی به اضافه کیږی (۲) اوپه عذاب کی به کمی کیږی خو د عذاب څخه دخلاصون مکمل ضمانت هیڅوک نسی درکولی .

دقران مجید تلاوت چی څومره زیات ممکن وی کوه یې خاص طور سره سورة الملك یعنی (ایت) روزانه وایه حدیث کی دی چی داسورة انسان د عذاب قبرڅخه محفوظ کولو سره مددگاروی ورسره (ایت) اواستغفار په کثرت سره وایه ددی سره گناهونه معاف کیږی دوارو سره به ثواب حاصلیږی (۳) ستاداهلیی وفات چی په کوم انداز کی سوی دی هغه د پسخیدو قابل دی دالله تعالی درحمت څخه هم دامید ساتل پکاردی چی انشاء الله هغه جنتی ده ورسره په ایصال ثواب کی کوتاهی کول نه دی پکار .

والله اعلم

۱۳۹۷۱۱۱۹

(فتوی نمبر ۲۹۱۲۱ الف)

د ایصال ثواب عقیده

سوال: په قران پاك کی د دی خبری وضاحت دی چی د هرانسان د نیك عمل کوم ثواب به وی دهغه به صرف کوونکی حقداروی هغه به بل چاته نسی ورکولی خومسلمانان ایصال ثواب کوی تردی چی حج بدل هم کوی یابې په بل چاباندی کوی ایا ایصال ثواب کولی سی؟

جواب قرانکریم دافرمایلی دی چی انسان دحق بطور صرف د هغه عمل اجر در کول کیږی چی انسان پخپله کړی وی (۴) خوالله تعالی پخپل رحمت سره د هغه داستحقاق

(۱) ددلائلو اوحوالی دپاره تیره فتوی اودهغه حاشیه وگوری.

(۲) دتیری دهغه حاشیه وگوری.

(۳) د ص حاشیه وگوری

(۴) (وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى) سورة نجم ۳۹.

چنانچې په احاديثو دايصال ثواب خلاف نه ده (۱) ځخه زيات اجر ورکوی نودا د دی خلاف نه ده (۱) چنانچي په احاديثو دايصال ثواب ثبوت دی هغه دالله تعالی د دی رحمت په بنياد باندی دی، احاديث چونکه د قرانکريم تغيردی اودقرانکريم حضورﷺمعلم جوړولو سره رالیږل سوی وو ځکه دحضورﷺبيان سوی تفسير مستند ترين تفسير دی.

والله اعلم

۱۴۲۲/۸/۲ھ

(فتوی نمبر ۵۰۵/۱۰)

تمت بالخير

اسلامي گرافکس کويټه بلوچستان

رابطه ګر ځنده شمیره

کمپوز اداره

هرقم

(فارسی) (عربی) (اردو) (پښتو)

کتاب تاسی فه کمپيوټر باندي لاسته راوړی سي

03218000671

(۱) وفی شرح صدور للسيوطی باب فی قرأة القران للميت اوعلی القبر ص: ۱۳۴ (طبع مطالع الرشيد مدينة منورة) ليس للانسان الاماسعی من طريق العدل فاما من باب الفضل فجائز ان يزيده الله تعالی ماشاء قاله الحسين بن الفضل وكذافی مرقاة المفاتيح ج:۴ ص ۸۲ طبع مكتبه امداديه ملتان) اوهمداسی د ايصال ثواب متعلق د نور تفصيل د پاره اوخاص طور د مذکور دايت دمفهوم په خاطر کتاب شرح الصدور للسيوطی باب قراة للميت اوعلی القبر ص ۱۳۴ اوسابقه فتوی اودهغه حاشيه وګوری (مولوی نوراحمد حقانی).

د علمائي دیوبند د عقائدو سره جزوی اختلاف ساتونکي دیو امام امامت متعلق تفصیلي فتویٰ

(د ژوب بلوچستان څه علمائی کرام د خپل یومقامی امام د عقائدو او په لمانځه کی د هغه اقتداء متعلق د تنازعی د تصفیی د پاره د حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم خواته راغلل حضرت دامت برکاتهم فریقینوته د یومتفقه استفتاء د مرتب کولو هدایت وکی چی د هغه حضرت دامت برکاتهم تفصیلی جواب ولیکی او د دری ځخه مخکی په ریکارډ کی د وضاحت او یاداشت د پاره یی یوتحریر هم مرتب کی د ریکارډ ځخه دا وضاحتی تحریر د هغه ځخه وروسته د فریقینو متفقه استفتاء او د حضرت دامت برکاتهم د اړخه د هغه جواب په لاندی ډول دی، د حضرت دامت برکاتهم په دی جواب د بعضی حضراتو د اړخه دوباره استفتاء وسوه هغه استفتاء او د هغه جواب هم په اٰخره کی درج دی) محمد زبیر عفی عنه.

د حضرت دامت برکاتهم وضاحتی تحریر

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه عرض ګذار دی چی د علاقه ژوب بلوچستانفریقه د احقر خواته د خپلی یوی تنازعی په سلسله کی د تحکیم د پاره تشریف راوړی په هغه کی یوفریق مولانا محمد شیرانی صاحب د خپلو څوملګرو سره مخکی تشریف راوړی، بیادوهم فریق یعنی مولانا صبغة الله صاحب د خپلو څوملګرو سره په بله ورځ کی تشریف راوړی، دواړو د احقرسره جلاجلا خبری هم وکړی او اجتماعی طور باندی هم د دواړو داخواهش وو چی حضرت د هغوی په مینځ کی حاکم جوړیدوسره د هغوی د تنازعی فیصله وکړی، چونکی د احقر د پاره د واقعاتو چان بین او تفتیش ممکن نه وو، ځکه احقر د تحکیم ځخه معذوری ظاهره کړله او داعرض یی وکی که دواړه فریقین څه متفقه استفتاء مرتب کړی نو احقر به د هغه جواب ولیکی او دربه یی کړی.

تنازعه په دی خبره باندی ده چی مولانا صبغت الله صاحب د خپلو عقائدو او نظریاتو په لحاظ سره د امامت مستحق دی او که نه؟ ځکه احقر تجویز پیش کی چی د دی متنازعه عقائدو لیکلو سره متفقه طور استفتاء دی وسی، په دی باندی مولانا شیرانی صاحب ته دا اعتراض وو چی په دی وخت مولانا صبغت الله صاحب کوم عقائد او نظریات لیکلو سره چی به ورکوی هغه به د ده د حقیقی عقائدو او نظریاتو ځخه ډیر کم او پټ به وی، کوم چی هغه علاقی کی بیانوی. ځکه به د استفتاء ځخه صحیح صورت

حال معلوم نسی خو بالاخره هغوی په دی شرط استفتاء مرتب کول قبول کړل چی هغه به کم ترکمه هغه امور چی د هغه هغوی اعتراف کړی دی په دی استفتاء کی درج سی او نور امور چونکی په متفقه استفتاء جلا حق محفوظ ولرو، د دی ځخه وروسته یی متفقه استفتاء مرتب سوه او په هغه باندی دواړو فریقینو دست خطی وکړه دا استفتاء او په دی باندی د احقر جواب د دی تحریر سره منسلك دی.

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه
۱۴۱۴/۸/۱۷ هـ
(فتویٰ نمبر ۳/ ۱۱۰۳/ ۳۱)

د فریقینو د اړخه پیش سوی استفتاء او د هغه جواب

سوال: څه فرمائی علمائی دین په دی مسئله کی چی زموږ په علاقه کی د یوصاحب د عقائدو په باره کی داتنازعه ده چی د ده عقائد د جمهور اهلسنت والجماعت بالخصوص د مسلك علمائی دیوبند مطابق دی او که نه؟ ورسره د دوی د عقایدو پیش نظر دوی لره امام جوړول شرعًا درست دی او که نه؟ او کوم لمونځونه چی په ده پسی اداء سوی دی د هغه څه حکم دی؟ چنانچی د دغه صاحب ځخه د هغه د عقیدی په سلسله کی څه سوالات هم وسول چی د هغه جواب هغه په تحریری شکل کی ورکړی دی تاسو د دی جواباتو په غور سره مطالعه وکړئ (۱) او ولیکی چی د علمائی دیوبند د مسلك مطابق داجوابات څه حیثیت لری؟ او د مذکوره صاحب د امامت په باره کی د شرعی استفتاء سره په اوو پاڼوکی منسلك دی.

جواب: د استفتاء سره منسلك د مولانا صبغت الله صاحب د لیکل سوی څوارلسو سوالونو جوابونه (۲) احقر په غور سره مطالعه کړل او په هغه امورو کی د مولانا موصوف ځخه زبانی وضاحتونه هم طلب کړل په هغه کی په بعضو امورو کی بعضی جوابونه په واضح طور باندی د علمائی دیوبند د مسلك مطابق دی مثلاً اوقات مکروه

---

(۱) ایضاً.

(۲) د امام صاحب د اړخه اهل علاقی ته د خپلو عقائدو متعلقد د ورکول سوو د هغه وضاحتی جواباتو تحریر په ریکارډ کی موجود نه دی بیاهم مخکی حضرت دامت برکاتهم د اړخه په ورکول سوی فتوی کی چونکی د هغه د عقائدو جائزه اخستل سوی ده لهذا د هغه ځخه د امام صاحب عقائد هم واضح کیږی. (محمد زبیر عفی عنه)

او منهیه کی تحیة المسجد ممنوع کیدل یا د سوال نمبر ۶ په جواب کی دعاء، په وخت کی فی الجمله رفع الیدین ته د سنتو موافق وئیل خو بعضی جوابونه مجمل دی، مثلاً شیخ محمد بن عبد الوهاب نجدی او د علامه ابن تیمیه په باره کی هغوی دا واضحه نه کړل چی په کومو مسائلو کی د علمائی دیوبند د دوی سره اختلاف دی، په هغه مسائلوکی د مولانا یی موصوف څه موقف دی؟ ورسره د څلورم نمبر سوال په جواب کی داخبره نه واضحه کیږی چی د دری ورځو څخه وروسته د مړی کورته تلل او تعزیت کولو ته مولانا موصوف علی الاطلاق بدعت او ناجائز وای یا د دی څه خاص هیئت ته؟ خو د مولانایی موصوف په جوابونو کی څلور امور داسی دی چی صراحتاً د علمائی دیوبند د مسلك خلاف دی او هغه لاندی دی:

۱: مولانا د حدیث مبارك: لاتشد الرحال الا الی ثلاثة مساجد د هغه د تشریح طرف ته یی خپل رجحان ظاهر کړی دی، کومه چی د علامه ابن تیمیه څخه منقول ده، چنانچی هغه د زیارت قبور د پاره سفر د ذکرسوی حدیث په نهی کی شامل گڼی تردی چی د حضور ﷺ د روضة اقدس د زیارت په نیت سره سفر کول هم درست نه گڼی، بلکی د دوی په نزد د سفر مقصد د مسجد نبوی ﷺ زیارت کیدل پکار دی، او که ضمناً پکښی د روضه اقدس زیارت هم وسی نو څه خبره نه ده، هغوی احقرته زبانی هم دابیان کړل چی تراوسه ماته د څه نقلی دلیل د روضه اقدس د زیارت د استحباب نه دی پیداسوی، ځکه زما داعمل دی چی ما د مسجد نبوی ﷺ په قصد سره د مدینی طیبی سفر وکی او هلته د رسیدو سره د روضه اقدس زیارت هم وسو، او آینده هم داسی اراده ده.

د مولانا دانظریه د علمائی دیوبند د مسلك صراحتاً مخالف ده، د دی په باره کی ډیر تحریرونه موجود دی خو خاص طور (المهند علی المفند) چی د حضرت خلیل احمد صاحب سهارنپوری مرتب سوی کتاب دی، او په هغه باندی په دی وخت کی د ټولو اکابرو علمائی دیوبند دستخط دی، د هغه عبارت دادی چی:

زموږ په نزد او زموږ د مشائخو په نزد د سید المرسلین د قبر زیارت د اعلی درجی قرب دی او نهایت ثواب او سبب د حصول نصیب دی، او د سفر په وخت د حضور ﷺ د زیارت نیت وکړه او ورسره د مسجد نبوی ﷺ اونورو مقاماتو او متبرکه زیارتونو نیت هم وکړه، کله چی بیاهلته حاضر سی نو د مسجد نبوی ﷺ زیارت به هم اوسی

پاته سوه داخبره دوهابیت چی د مدینی منوری اړخ ته سفر کوونکی ته صرف د مسجد نبوی ﷺ نیت کول پکار دی او په دی قول باندی حدیث دلیل راوړی: چی کجاوی دی ونه تړل سی خو د درو جوماتونو طرف ته، نو داقول رد سوی دی ...... الخ. (عقاید علمائی دیوبند ص: ۶)

۲: دغه شان مولانا یی موصوف په خپل جواب کی د تعویذ هرقسم ته یی کم ترکمه مکروه وئیلی دی، ترڅو چی د داسی تعویذونو تعلق دی چی په هغه کی استمداد بغیر الله وی یا غیر معلوم المعنٰی وی نو د هغه په جرامیدلو کی چانه هم اختلاف نسته خو چی د کمو نقوشو او هندسو معنٰی معلومه وی هغه ته حرام وئیل یا د قرآن د آیتونو او اسمائی حسنٰی په ذریعه سره تعویذ مکروه گرځول د علمائی دیوبند د مسلك څخه خلاف دی چی د هغه تصریحات د علمائی دیوبند په فتاوٰی کی موجود دی، مثلاً ملاحظه دی وی فتاوٰی رشیدیه ص: ۲۱۸، عزیز الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۲۵۱ د ټولو علمائی دیوبند عمل په دی پاته سوی دی، او د حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله یومستقل کتاب (اعمال قرانی) هم د همدی مقصد د پاره تالیف سوی دی، لهذا دی عمل ته مکروه وئیل د دیوبند د علماوو د مسلك بالکل خلاف دی [1].

۳: د فرض لمونځونو څخه وروسته په هیئت اجتماعی باندی لاس لوړولو سره د دعاء غوښتلو استحباب واضح دی که دا مستحب گڼلوسره په دی باندی عمل وسی نو د علمائی دیوبند د مسلك مطابق دا درست دی خو مولانا په خپل اول نمبر جواب کی چی کوم شدت او عموم سره په دی باندی نکیر کړی دی او دی ته یی بدعت او واجب الترك وئیلی دی هغه د علمائی دیوبند د مسلك خلاف دی، د حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب یوه پوره رساله په دی موضوع باندی ده په هغه کی هغه د حدیث او فقه مفصل دلائل بیانولو څخه وروسته فرمائی:

دا روایات فقهیه دی چی د دی څخه واضحه او صراحتاً ثابتیږی، چی د فرض لمونځ څخه وروسته امام او مقتدی ټول په یوځای دعاء وغواړی او د دعاء فارغیدو سره دی په مخ لاس راکش کړی. (کفایة المفتی ج: ۳ ص: ۹۷) [2]

---

[1] د تفصیل دلائلو د پاره لاندینی کتابونه ملاحظه کړئ (ابوداود ج: ۲ ص: ۱۸۲) مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۳۸۸، (طبع قدیمی کتب خانه) شامیه ج: ۶ ص: ۳۶۳ (طبع ایچ ایم سعید) وتکملة فتح الملهم ج: ۴ ص: ۳۱۷

[2] کفایة المفتی ج: ۳ ص: ۳۴۵، ۳۴۶ (جدید ایډیشن ۲۰۰۱، دار الاشاعت)

او حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی په اعلاء السنن کی په دی مسئله باندی شل صفحات بحث کړی دی او په آخره کی یی لیکلی دی: نثبت ان الدعاء مستحب بعد کل صلوة مکتوبة متصلا بها برفع الیدین کماهو شایع فی دیارنا ودیار المسلمین قاطبة (اعلاء السنن ج: ۳ ص: ۲۱۱، ۲۱۲) (۱) دغه شان حضرت مولانا سید محمد یوسف بنوری رحمه الله په معارف السنن کی په دی مسئلی باندی د مفصل بحث کولو څخه وروسته لیکلی دی:

فهٰذه وماشاء کلها من الروایات فی الباب تکاد تکفی حجة لما اعتاده الناس فی البلاد من الدعوات الاجتماعیة د برالصلوة، ولذا ذکره فقهاؤنا ایضًا کمافی نورالایضاح (معارف السنن ج: ۳ ص: ۱۲۳ باب مایقول اذاسلم)

او د عرف الشذی نقل د دی په مقابله کی موقوف نه دی په هرصورت د علمائی دیوبند په مسلك کی د فرضو څخه وروسته دعاء مع رفع الیدین مستحب دی بدعت نه دی.

۴: مولانا د نیت تلفظ هم بدعت ګرځولی دی حالانکی د احضار نیت په خیال سره داسنت نبوی واجب ګڼلو څخه بغیر تلفظ د نیت که وسی نو هغه د علمائی دیوبند په نزد بدعت نه دی، حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله قدس سره تحریر فرمائی: واباحه بعض لمافیه من تحقیق عمل القلب وقطع الوسوسة، وماروی عن عمر رضی الله عنه انه ادب من فعله فهو محمول علی انه انما زجر من جهر به. (فاما المخافتة به) فلابأس بها فمن قال من مشائخنا: ان التلفظ بالنیة سنة لم یردبها سنة النبی صلی الله علیه وسلم بل سنة المشائخ لاختلاف الزمان وکثرة الشواغل علی القلوب ...... الخ (اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۳۴) (۲)

په هرکیف په مذکوره څلورو مسائلو کی مولانا صبغت الله صاحب چی خپل کوم موقف بیان کی هغه د علمائی دیوبند د موقف څخه مختلف دی او مجموعی طور باندی داخبره واضحه کیږی چی مولانا یی موصوف د علمائی دیوبند د مسلك په کی طور باندی پابند نه دی بلکی په بعضی مسئلو کی د هغه خپل تحقیقات دی چی زیادتر د

---

(۱) اعلاء السنن باب الانحراف بعد السلام وکیفیة وسنیة الدعاء والذکر بعد الصلوة ج: ۳ ص: ۱۲۷، (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۲) اعلاء السنن ج: ۲ ص: ۱۴۹ (طبع ادارة القرآن کراچی) د دی مسئلی متعلق مزید تفصیلی دلائلو د پاره وګورئ الدر المختار مع رد المختار ج: ۱ ص: ۴۱۵ (طبع ایچ ایم سعید) او فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۶۵ (مکتبه رشیدیه کویټه) او فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۲ ص: ۱۴۷.

علامه ابن تیمیه او علامه ابن قیم په تحقیقاتو باندی مبنی دی، لهذا په کوم مقام کی مقتدیان حضرات د علمائی دیوبند سره وابسته وی هلته داسی سړی امام مقررول پکار دی چی په کلی طور باندی د علمائی دیوبند د مسلك قائل وی، او که هلته څوك داسی سړی د امامت د پاره موجود وی نو په داسی مقام باندی مولانایی موصوف د امامت مستحق نه دی بیاهم چی کوم لمونځونه یی په ده پسی کړی دی هغه اداء سول. هذاماعندی. والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱۴۰۰/۸/۱۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۹۱/ ۳۱ وروسته)

د ذکرسوی جواب د یوڅو خبرو د مزید وضاحت د پاره دوهمه استفتاء او د هغه جواب

سوال: حضرت علامه محمد تقی عثمانی صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ګذارش کول کیږی چی جناب والا د کوم حکم په باره کی د فیصلی د فریقینو یعنی مولوی محمد خان او د هغه ملګرو او صبغت الله او د هغه د ملګرو ورکړی وو، په هغه کی تاسو دالیکلی وه چی که چیری مقتدیان د حضرات علمائی دیوبند سره وابسته وی هلته داسی سړی مقررول پکار دی چی په کلی طور باندی د علمائی د یوبند د مسلك قائل وی او که هلته څوك داسی سړی د امامت د پاره موجود وی نو په داسی مقام باندی مولانایی موصوف د امامت مستحق نه دی، په دی کی سخت اجمال دی، ځکه چی د دی دامطلب هم اخستلی سی، چی ځکه مستحق نه دی چی هغه په دائره اسلام کی نه دی او دا احتمال هم لری چی د اهل السنت والجماعت څخه خارج دی، بیابه داسوال پیداکیږی چی د دی مذکوره فی الفتوی څلور مسائلو قائل آیا اهلسنت والجماعت کی شامل نه پاته کیږی؟

او دا امکان هم لری چی د دی مسائلو والا متبع مذهب جنفی نه ګڼل کیږی نو بیابه داشبه پیداکیږی چی آیا څلور مذهبونه چی ټول اهلسنت والجماعت دی، د دوی په یوبل پسی لمونځ صحیح نه دی او فاسد دی؟ حالانکی داوئیل به څومره خراب نتائج پیداکوی به هرحال دا اجمال د ازالی محتاج دی واضحه کولو سره می مطمئن کړئ، ځکه چی موصوف د امامت مستحق نه دی نو بیابه هیڅ څوك په ده پسی هیچری لمونځ

کول جائز نه ګڼی بلکی نه به د هغه ځخه تعلیم حاصلوی نه به د هغه د وعظ او نصیحت
اوریدلو د پاره څوك تیاریږی، حاصل داچی په ده باندی او د ده په همخیاله ملګرو
باندی به د دین د خدمت ټولی دروازی بندی سی او د هغه ټول ژوند به په تکلیف کی
وی، خپلوان او اقارب او اغیار به همیشه هغه ته د شك او اشتباه په نظر سره ګوري، که
واقعی هغه د دلیل د مخه مستحق دی نو صحیح ده او که نه د هغه عذر به خدای ﷻ
په نزد باندی جوړسی او د مخالفینو سره به د خدای ﷻ حساب ځنګه وی؟ برائی
مهربانی د اصل حقیقت ځخه مو په واضح الفاظو کی خبر کړی الله ﷻ دی جزائی خیر
درکړی.

جواب: د کومی استفتاء او د هغه جواب چی تاسو حواله ورکړی ده په هغه کی مولانا
صبغت الله صاحب لره په هغه محله کی غیر مستحق د امامت ګرځولو دامطلب هیڅکله
نه دی چی معاذ الله هغه د اسلام د دائری ځخه خارج دی یا په هغه پسی لمونځ
فاسدیږی، بلکی د هغه بنیاد په دی خبره باندی وو چی ته پخپلو بعضو تحقیقاتو
باندی اصرار دی چی د علمائی دیوبند د عام مسلك ځخه مختلف دی ځکه چی چیری د
علمائی دیوبند سره ابسته خلګ آبادوی هلته د هغه امامت د فتنی موجب جوړیدلی
سی دغه د کومو څلورو نظریاتو په بناء باندی چی مذکوره فتوی ورکول سویده هغه
نظریات د علمائی دیوبند د مسلك خلاف دی خو محض د دی څلورو نظریاتو په وجه نه
کوم سړی د اسلام د دائرې وځی او نه د اهل السنت والجماعت د دائری ځخه خارج
کیدی سی او نه په هغه پسی لمونځ فاسدیږی چنانچی په مذکوره فتوی کی داهم لیکل
سوی وه چی کوم لمونځونه په هغه پسی سوی دی هغه اداء سوی دی، البته د هغه فتوی
حاصل صرف دادی چی چیری داسی امام موجود وی چی کلی طور باندی د علمائی
دیوبند د مسلك مطابق وی هلته د داسی متفردو نظریاتو حامل د امامت مستحق نه
دی، لهذا د دی فتوی په وجه باندی مولانا یی موصوف د اسلام د دائری ځخه، یا د
اهل السنت والجماعت ځخه خارج ګڼلو باندی د هغه سره د کافرانو یا د غیر اهلسنت
په شان برتاؤ کول.هیڅکله درست نه دی، په اخره کی عرض دی چی د خدای د پاره
هرفریق دی د خپل آخرت فکر وکړی په یوبل باندی د طعن او تشدد ځخه پرهیز وکړی
او مسلمانان په هرقیمت د فتنی ځخه بچ کړئ.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲۱/ شعبان / ۱۴۰۰ ھ

(فتوی نمبر ۱۱۳۲/ ۳۱ د)

حضور ﷺ حاضر ناظر منونکي په افتائي کي د لمانځه کولو حکم

سوال: د خپلی محلی په جومات کی د دوو میاشتو ځخه د جومات کمیټی یو پمفلیټ
ورکړی دی چی په هغه کی د حضور ﷺ د حاضر ناظر کیدو بیان دی په داسی امام
پسی چی د هغه عقیده داوی چی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: کوم سړی چی د الله ﷻ ځخه ماسوا کوم نبی یاولی د پاره د حاضر او ناظر
عقیده ساتی، داسی سړی امام جوړول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۲/ ۱۱/ ۱۳۹۶ ھ

(فتوی نمبر ۲۴۴۲/ ۲۷ ھ)

ږیره خریونکی امام جوړول

سوال: کوم سړی چی ږیره خرئی یایی لنډوی په هغه پسی لمونځ کول ځنګه دی؟ او په
تراویحو کی داسی سړی امام جوړولی سی؟

جواب: داسی سړی لره په خپل اختیار سره امام جوړول جائز نه دی (۱) او صالح او
متقدین په امام پسی د لمونځ کولو کوشش ضروری دی، بیاهم که د هغه اقتداء نه
کولو په صورت کی د جمع بالکل فوت کیدو اندیښنه وی نو په هغه پسی لمونځ کول د
ځان د لمونځ کولو ځخه بهتردی، (۲) او په تراویحو کی هم داسی سړی امام جوړول جائز
نه دی، که بل څوك نه وی نو (الم ترکیف) سره ویل ښه دی.

---

(۱) ایضا.

(۲) وفی الدر المختار ج:۱ ص: ۵۵۹، ۵۲۰ ویکره امامة عبد .... وفاسق ، وفی رد المختار قوله (وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر ..... وفی المعراج قال اصحابنا لاینبغی ان یقتدی بالفاسق ...... الخ وفیه ایضا واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا وکذافی مراقی الفلاح ص: ۱۲۵ وفی البحر الرائق ج: ۱ ص: ۳۴۸ وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۱۸ واما الاخذمنها